فتاوی دارالعلوم دیوبند

پښتو

مکمل او مدلل

له افاداتو

حضرت مفتي عزیز الرحمن عثماني صاحب

تر هدایت لاندې

حکیم الاسلام حضرت مولانا محمد طیب صاحب

ترتیب

مولانا محمد ظفیر الدین صاحب

تخریج او نوې زیاتونه

مولانا محمد یامین صاحب

مکتبه رشیدیه
سرکي روډ کوټه
0812-662263
۳-شیش محل روډ نزد داتا دربار لاهور
042-37364516





په دار الافتاوو کې د رائج
الوقت نسخوله تخريج سره

فتاوی دارالعلوم دیوبند

له نوي اضافې سره

له افاداتو: حضرت مفتي عزيزالرحمن عثماني صاحب

تر هدايت لاندې: حکيم الاسلام حضرت مولانا محمد طيب صاحب

ترتيب: مولانا محمد ظفيرالدين صاحب

تخريج او نوي اضافه: مولانا محمد يامين صاحب

ژباړونکی: محمد ساجد

پنځلسم ټوک

مکتبه رشيديه کوئټه
شيش محل روډ لاهور

د کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم:	فتاوی دارالعلوم دیوبند (پنځلسم ټوک)
له افاداتو:	مولوي مفتي حضرت مولانا عزیز الرحمن عثماني صاحب
ترتیب کوونکی:	محمد امین پالن پوري صاحب
ژباړه:	مولانا مفتي محمد ابراهیم صاحب
کمپوز:	حبیب الرحمن "منیب" ۷۹۲۶۸۳۸-۰۳۰۷
خپرونکی:	مکتبهٔ رشیدیه کاسي روډ کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
چاپونکی:	محمد ساجد
د چاپ ځای:	لاهور
د چاپ کال:	۲۰۱۴ء

فهرست

د قضا او درېمګړي په بیان کي

د ګواهۍ بیان

د وکالت بیان

د دعوی بیان

د اقرار بیان

د صلح بیان

د ودیعت بیان

د عاریة بیان

د هبې بیان

د غصب بیان

د شفعي بیان

د مزارعت بیان

د ذبائح او ښکار بیان

د قرباني د غوښو او څرمنو مصارف او احکام

د عقیقې بیان

تنبیه

په دې جلد کې چې د کومو کتابو حوالې بیا بیا راغلې دي، د لاندې کتب خانو مطبوعات دي:

صحاح سته	مکتبه بلال دیوبند
موطین	مکتبه بلال دیوبند
شرح معانی آلآثار	مکتبه بلال دیوبند
مشکوة شریف	کتب خانه نعیمیه دیوبند
هدایه	الامین کتابستان دیوبند
فتاوی شامي	دار الکتاب دیوبند
فتاوی هندیه	دار الکتاب دیوبند
بدائع الصنائع	دار الکتاب دیوبند
شرح وقایه	دار الکتاب دیوبند
حلبی کبیري	دار الکتاب دیوبند
طحطاوي علی مراقی الفلاح	دار الکتاب دیوبند
البحر الرائق	زکریا بک ډپو دیوبند

باب القرض

د قرض بیان

د قرض حسن پېژندنه او په عارضه کولو قرض وصولول

سوال: (۱) (الف) قرض حسن څه ته وايي؟

(ب) آیا قرض ورکونکی له مقروض (پوروړي) څخه د خپل قرض غوښتنه یا په عارضه (دعوی او مقدمه) کولو وصولولای شي؟

(ج) که په غوښتنه یا عارضه باندي قرض ځني واخلي نو آیا ورکونکی بیا هم د ثواب حق لري؟ (۱۴۴/۱۳۴۰ھ)

ځواب: (الف — تر — ج) هر هغه قرض چي ببله کوم عوضه او ببله وربانديي سود اخیستلو و چاته ورکول شي هغه قرض حسن دی او قرض ورکونکی چي کله اړوي نو له مقروض څخه د خپل قرض غوښتنه کولای شي او که مقروض توان او قدرت درلودو سره سره بیا هم بهاني کوي او نن صبا کوي نو قرض ورکونکی ورباندي په عارضه کولو هم خپل قرض ځني اخیستلای شي او د غه غوښتنه او عارضه دی له قرض حسن کېدو څخه نه اوباسي او ثواب په نیت پوري اړه لري کله چي د قرض ورکونکي نیت د مقروض مرسته او مدد کول و نو ثواب ده ته ورکول کیږي. فقط

سوال: (۲) د قرض حسن شرعي تعریف څه دی؟ (۲۰۴۱/۱۳۳۷ھ)

ځواب: د قرض تعریف فقهاؤو داسي فرمایلی دی: هو. عقد مخصوص أی بلفظ القرض

و نحوه يرد على دفع مال مثلى الخ لآخر ليرد مثله الخ(۱) په در مختار او شامي کي راغلي دي چي د دين په لفظ سره د قرض عقد کيدلای شي.

قرض حسن په کومو شيانو کي صحيح دی؟
او په قرض کي موده ټاکلای شي او که نه؟

سؤال: (۳) مثلاً قرض حسن د نغدو روپيو وي نو د دې د ورکړي راکړي به څه صورت وي؟ که قرض حسن په نورو شيانو سره وي نو د هغه ورکړه راکړه به په کومه طريقه وي؟ شرعًا په قرض کي د رسيد يا يو ليک کيدل لازمي دي او کنه؟ په قرض کي موده ټاکلې وي او کنه؟ او له ټاکلي مودې مخکي مخکي غوښتنه کيدلای شي او کنه؟ او که مقروض قرض واخلي خو بيا يې نه ادا کوي نو د برطانيې د حکومت په وسيله څني اخيستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۹۲۳هـ)

ځواب: قرض په مثلياتو کي کيدلای شي په نامثلياتو کي نه شي کيدلای يعني په دنانيرو، دراهمو، مکيلي او موزوني او نورو کي صحيح دی او په قرض کي ټاکلې موده نه وي له دې نه مخکي هم د قرض غوښتنه کولای شي، رسيد يا کوم ليک ضروري نه دی که وليکل شي د باور لپاره نو څه پروا نلري او که مقروض قرض دا غسي نه ادا کوي نو د حکومت په وسيله يې څني اخيستلای شي. هذا كله من الدر المختار(۲). فقط

په قرض کي ټاکلې موده لازمي نه ده

سؤال: (۴) دلته د مسجد لپاره د څه ځمکي رانيولو ضرورت و نو څلورو مسلمانانو په قرض روپۍ راکړې چي وروسته به د مسجد له آمدنۍ څخه قرض را ادا کوي، دوه کاله وشول خو روپۍ زياتوب شوي نه دي اوس يو سړي عارضه کړې ده اوس د ده لپاره په زور قرض اخيستل روا دي او کنه؟ (۱۲۳۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) يعني قرض و چا ته داسي مال ورکول چي مثلي وي تر څو دی د دې په شان واپس کړي الدر المختار مع رد المحتار ۱۹۱/٤ ط رشيديه كتاب البيوع. باب المرابحة و التولية فصل ف القرض.

(۲) فيصح استقراض الدراهم و الدنانير و كذا كل ما يكال او يوزن او يعد متقاربا (الدر مع الرد ۱۹۱/٤ كتاب البيوع. باب المرابحه و التوليه، فصل ف القرض. ط رشيديه)

ځواب: په قرض حسن کي تاکلې موده لازمه نه وي د قرض ورکونکي خوښه ده هر وخت چي غوښتنه کوي نو که د مسجد مهتمم د مسجد د کارونو لپاره قرض واخیست نو له مهتمم څخه د قرض غوښتنه هر وخت کیدلای شي. فقط

سوال: (۵) قرض په آخیرت کي د خیر د بدلې د ورکولو په هیله ورکول کیږي آیا له مقروض څخه کله هم غوښتنه کیدلای شي؟ او آیا په دې صورت کي و قرض ورکونکیو ته په آخرت کي ثواب ورکول کیږي؟ او آیا په محکمه کي وربانديي عارضه کیدلای شي؟ (۱۳۳۷/۲۰۴۱هـ)

ځواب: د قرض حسن په ورکړه کي ثواب دی او غوښتنه د ده هر وخت کیدلای شي او کله چي مقروض (سره له قدرته) نه ادا کوي او نن صبا کوي نو پر ده باندي عارضه هم کیدلای شي، په حدیث شریف کي راغلي دي: مطل الغنی ظلم. الحدیث(۱)

په قرض کي کومه خبره په پام کي ساتل پکار ده؟ چي اختلاف رامنځ ته نشي

سوال: (۲) د قرض په ورکړه راکړه کي کومي خبري ته پام باید وشي ترڅو ستونزي او اختلاف رامنځ ته نشي؟ (۱۳۴۵/۷۸۴هـ)

ځواب: قرض چي د څومره ورځو په وعده باندي واخیستل شي باید هغه عملي شي سره له قدرته د چا قرض نه ادا کول ظلم دی. قال علیه الصلوة و السلام: مطل الغنی ظلم(۲) او بیله شرطه که د ادایني پر وخت څه زیاتي روپۍ د احسان په توګه ورکړي نو دا صحیح دي. (۳)

---

(۱) عن معمر عن همام بن منبه أخي وهب بن منبه أنه سمع أبا هريرة رضى الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مطل الغنى ظلم (صحيح البخارى ۳۲۳/۱ كتاب فى الاستقراض و أداء الديون و الحجر و التفليس، باب: مطل الغنى ظلم)

(۲) مخکنۍ حواله

(۳) یعني قرض اخیستونکی بیله شرطه پخپله خوښه زیاتي ورکړي نو دا سود نه دی لکه چي مخکي د (۲۰) سوال په جواب کي راغلي. عن جابر بن عبد الله رضى الله عنهما قال: أتيت النبى صلى الله عليه وسلم و هو فى المسجد قال مسعر: اراه قال: ضحى. فقال: صل ركعتين، و كان لى عليه دين فقضانى و زادنى (صحيح البخارى ۱/ ۳۲۲ كتاب فى الاستقراض و اداء الديون و الحجر و التفليس باب: حسن القضاء)

د سود ادا کونکي مقروض مرسته کول

سوال: (۷) یو سړی مقروض (پوروړی) دی او سود ادا کوي که مسلمانان د ده سره همکاري وکړي له سود څخه خلاص کړي نو د الله په دربار کې به د دغه خلکو لپاره څومره اجر وي؟ او دوی به د اجر څومره مستحقین وي؟ (۱۳۳۵/۱۴۵۱هـ)

ځواب: په دې کې د دغو خلکو لپاره لوی اجر او ثواب دی چې د دغه پوروړي د پور په ادائیه کې ورسره مرسته وکړي او ده ته دغه د قرض له باره او سود څخه خلاصون ورکړي، په حدیثو کې د یوه مقروض د قرض په ادا کولو کې مرسته کولو ډېر فضیلت راغلی دی (۱) د مسلمانانو لپاره د دغه بیچاره مدد او د ده سره کومک کول ډېر ضروري دي.

په حرامو روپیو قرض ادا کول

سوال: (۸) پر زید سل روپۍ قرض باندې دي ده د یوې رنډۍ سره نکاح وکړه د هغې سره درې سوه روپۍ د حرام کارۍ دي، زید په دغه روپیو خپل قرض ادا کوي او باته روپۍ پخپل ضرورت کې مصرفوي دا جائز او حلال دي کنه؟ (۱۳۴۳/۲۳۳هـ)

ځواب: په بیان شوي صورت کې په حرامو روپیو خپل قرض ادا کول او په هغه کې تصرف کول حرام دی د دې حکم دا دی چې مالکانو یا د هغوی د وارثانو ته بیرته ورکړي که دا سې نشي کیدلای نو مسکینانو ته ورکړي. کذا فی الدر المختار و الشامی (۲)

---

(۱) عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال... لیس من عبد مسلم یقضی عن اخیه دینه الا فک الله رهانه یوم القیامة. رواه فی شرح السنة (مشکاة المصابیح ص:۲۵۳ کتاب البیوع، باب الافلاس و الانظار)

(۲) په در مختار کې راغلي دي: و فی حظر الأشباه: الحرمة تتعدى مع العلم بها ا هـ و فی الشامی: لو رای المکاس مثلاً یأخذ من أحد شیئا من المکس، ثم یعطیه آخر، ثم یأخذ من ذلک الآخر آخر فهو حرام (الدر المختار و رد المحتار ۱٤٦/٤ کتاب البیوع، مطلب: الحرمة تتعدى. ط رشیدیه)

له چا څخه حرام مال په قرض اخیستلو وروسته تجارت او ګټه پر کول څه حکم لري؟

سوال: (۹) که زید له داسي چا څخه روپۍ په قرض واخلي چي د هغه مال شرعًا حرام وي مثلاً د سود یا وکالت روپۍ وي او په دغه روپیو تجارت کوي یا په دغه روپیو کوم هنر او کار زده کړي نو زید که په دغه تجارت او کار ګټه وکړي هغه به حلاله وي او کنه؟ یا زید له یو داسي چا څخه قرض واخلي چي په هغه څو شریکان وي او په هغوی کي یو یتیم نابالغ هم دی او هغه سړی بې د شریکانو له اجازې قرض ورکړي مګر شریکان داسي دي چي که له دوی څخه پوښتنه وشي نو دوی اجازه کوي نو په دې صورت چي زید کومه ګټه وکړي هغه به جائز وي او کنه؟ او که نوموړی و زید ته روپۍ په هبه کي ورکړي زید په داسي روپیو باندي ګټه وکړي نو دا به جائز وي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۱۹۹ھ)

ځواب: د بیان شوي سوال په صورتونو کي د زید لپاره هغه آمدني او ګټه چي د بیان شویو روپیو د تجارت په وسیله حاصله شي حلاله ده.

له حرامو روپیو څخه قرض اخیستل یا قرض وصولول

سوال: (۱۰) له ناروا روپیو څخه قرض اخیستل جائز دي او کنه؟ او له مقروض څخه ناجائزي روپۍ پخپل قرض کي اخیستل روا دي که ناروا؟ (۱۳۳۹/۵۸۰ھ)

ځواب: که هغه روپۍ له غصب شویو یا امانت څخه نه دي نو قرض اخیستل صحیح دي داغه راز مقروض چي د خپل قرض په اداینه کي کومي روپۍ و قرض ورکونکي ته ورکوي د قرض ورکونکي لپاره ځني اخیستل صحیح دي په دې شرط چي قرض ورکونکي ته معلوم نه وي چي له کوم مال څخه یې قرض ادا کړ که دا ورته معلوم شي چي له غصب شوي یا امانت له مال څخه ادا کوي نو بیا د قرض ورکونکي په هکله داسي حلال نه دي فقط.

له نامسلمان څخه د خنزیر قیمت پخپل قرض کي اخیستل

سوال: (۱۱) د مسلمان لپاره له نا مسلمان پوروړي څخه خپل قرض د خنزیر له قیمت څخه وصول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۳۱۲ھ)

ځواب: د کافر بیع او شراء په خمر او خنزیر کي صحیح دی. ځکه نو د مسلمان لپاره د خنزیر قیمت پخپل قرض کي وصولول صحیح دي په درمختار کي راغلي دي: و الذمی کالمسلم فی بیع... غیر الخمر و الخنزیر إلخ. (۱)

د هندو په قرض کي ترياق ورکول

سوال: (۱۲) که د مسلمان سره ترياق وي او هندو ته په قرض کي ورکړي نو غاړي خلاصيږي او کنه؟ او سود او رشوت هم ورکولای شي او کنه؟ (۳۵/۲۷۸ ـ ۱۳۳۲هـ)

ځواب: که څه ورسره نه وي نو د هندو په قرض کي دي ترياق ورکړي قرض ادا کيږي او سود او رشوت ورکول صحيح نه دي.

وريجي په قرض اخيستل صحيح دي

سوال: (۱۳) يو سړی يو سېر وريجي په دې شرط واخيستې چي صبا به يو سېر وريجي درکړم داسي جائز دي او کنه؟ که جائز دي نو د يو جنس په شيانو کي چي د يدًا بيدٍ کوم قيد دی د هغه څه مطلب دی؟ (۱۳۴۵/۱۱۷۹هـ)

ځواب: داسي جائز دي ځکه چي دا قرض دی بيع نه ده، اما که بيع وي نو په يو جنس کي مثلاً بمثل او يدًا بيدٍ بايد وي.

پر قرض ګټه اخيستل صحيح نه دي

سوال: (۱۴) ...(الف) و دکاندارانو او کنبت ګرو او نورو ته بې د تجارت له ګټي معلومولو روپۍ په قرض ورکول دا ډول چي په دغه روپۍ چي دي کوم مال مناسب وبولی يا د کوم د ګټي په جائز کاروبار کي چي دی وغواړي استعمال دي کړي او له ګټي څخه چي د ده خوښه وي څه دي وه روپۍ ورکونکي ته ورکړي، او په بيرته ورکولو کي ده ته اختيار دی چي که ټولي يو ځای ورکوي يا لږ لږ ورکوي، هره ورځ ورکوي که په هره هفته کي يا په هره مياشت کي که په قسطو وي او که يو ځای وي.

(۱) الدر مع الشامی ۲٤٠/٤ کتاب البيوع، باب المتفرقات، مطلب فی التداوی بالمحرم. ط رشيديه

(ب) کوم شی غوړي یا تیل یا غنم یا کوم بل شی و یو چا ته په ټاکلې قیمت په دې شرط ورکول چې څه موده وروسته به هم هغه شی په کم یا زیات قیمت و مالک ته بیرته ورکوي دا دواړه صورتونه جائز دي او کنه؟ (۲۳/۷۴۲ ۱۳۳۴ھ)

ځواب: (الف) پر قرض ګټه اخیستل صحیح نه دي لکه چې راغلي دي کل قرض جر نفعاً فهو ربا (۱) نو دا صورت صحیح نه دی. د جواز صورت دا دی چې د مضاربت په توګه روپۍ ورکړي او په ګټه کې نیمه یا دریمه برخه خپله مقرره کړي بې د ګټې له معلومولو مضاربت جائز نه دی او د مضارب سره چې کوم روپۍ د مالک وي هغه امانت وي قرض نه وي. لنډه دا چې د مضاربت قواعد او شرایط معلومول پکار دي (۲)

(ب) دوهم صورت هم چې په سوال کې یادونه شوې ده صحیح نه دی. که غوړي په قرض ورکړي نو څومره غوړي چې ورکړي هغومره دي ځیني واخلي او که هغه غوړي ورباندي خرڅ کړي دي نو د هغه قیمت دي ځني واخلي په قیمت اخیستلو کې دا اختیار دی چې د هغه قیمت په بدل په کومه بیه چې دی ورکړي غوړي دي واخلي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۵) ... (الف) سل روپۍ په دې شرط په قرض ورکول چې یو کال وروسته به ۹۵ روپۍ او د پنځو روپیو په عوض ۱۲ سېره غوړي راکړې داسې صحیح دي او کنه؟

(ب) فاروق و عمران ته سل روپۍ د یو کال په وعده په دې شرط ورکړې چې هره میاشت به یو من وریجې راکوې داسې صحیح دي او کنه؟ (۳۲/۹۸۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: (الف) په قرض کې دا شرط ناجائز او باطل دی د سلو روپیو په عوض بس سل روپۍ لازمېږي

---

(۱) عن عمارة الهمداني: سمعت عليا رضى الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل قرض جر منفعة فهو ربا (للحارث) المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية ٤١١/١ حديث: ١٣٧٣ و فيه سوار بن مصعب متروك الحديث. ضعفه البوصيري، و قال: له شاهد من حديث فضالة بن عبيد. رواه الحاكم و عنه البيهقي (من هامش المطالب العالية) و في فتح القدير ٣٥٥/٦ كتاب الحوالة. عند قول صاحب الهداية و يكره السفاتج و عن الحكم عن ابراهيم قال: كل قرض جر منفعة فهو ربا (مصنف ابن ابي شيبة ٣٣٣/٤ كتاب البيوع و الاقضية، باب من كره كل قرض جر منفعة: دار الكتب العلمية، بيروت. لبنان)

(۲) وګوره ! فتاوی دار العلوم دیوبند ۹۷/۳-۹۹ اوائل کتاب المضاربة

(ب) دا معامله هم ناجائز ده

پر قرض هر ډول ګټه اخیستل سود دی

سوال: (۱۶)... (الف) یو سړی د جامو ګنډلو فابریکه چلوي له یو سړي څخه دوه سوه روپۍ د مشین او نورو اړتیاوو لپاره قرض واخیستې په دې شرط باندې چې له ګټې څخه به شپږمه برخه ګټه زه تاته درکوم، داسې شرعًا جائز دي او کنه؟

(ب) که قرض ورکونکی پر ځای د شپږمې برخې په کرایه مشین د میاشتې په پنځه روپۍ ورکړي نو دا صورت به څنګه وي؟ (۱۳۴۲/۱۸۸۳هـ)

ځواب: (الف، ب) د قرض ورکولو په حالت کې و قرض ورکونکې ته هر ډول ګټه د روپیو خیستل که د کرایه په نوم وي که داغسې دا ټول ناجائز او سود دي. لحدیث کل قرض جر نفعا فهو ربا (۱) اما که د مضاربت په طریقه له چا څخه روپۍ واخلي او دا ورته ووایي چې زه په دغه روپیو تجارت کوم څومره ګټه چې وشي په هغه کي به نیمه یا دریمه یا شپږمه مثلاً ستا وي او نوره به زما وي او که نقصان وشي نو هغه ټول نقصان به د روپیو پر مالک وي نو داسې معامله کول صحیح دي او د دې نوم په شریعت کې مضاربت دی چې د یو سړي روپۍ او د بل محنت وي او په ګټه کې د ټاکلې برخې په اندازه ونډه لري (۲) فقط

سوال: (۱۷) زید له بکر څخه دوه سوه روپۍ په قرض واخیستې مثلاً لس ګزه ځمکه و بکر ته وسپارله چې بکر به د دې ګټه خوري، کله چې زید و بکر ته بیرته خپلې روپۍ ورکړي هغه وخت به بکر د زید ځمکه ورپرېږدي داسې معامله جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۰۳۰هـ)

ځواب: دا معامله شرعًا جائز نه ده ځکه چې بکر و زید ته روپۍ په قرض ورکړې د ده د ځمکې ګټه خوري او په حدیث شریف کې راغلي دي: کل قرض جر منفعة فهو ربا (الحدیث) (۳)

---

(۱) د دغه حدیث تخریج په باب القرض سوال (۱۴) په جواب کې وګورئ.

(۲) وګورئ فتاوی دار العلوم دیوبند ۹۷/۱۳-۹۹ اوائل کتاب المضاربة

(۳) د دغه حدیث تخریج په باب القرض سوال (۱۴) په جواب کې وګورئ.

وتاجر ته روپۍ په قرض ورکولو وروسته کېږه بې قیمته ځني اخیستل صحیح نه دي

سوال: (۱۸) یو سړي و چا ته د تجارت لپاره څه روپۍ په قرض ورکړي هغه کېږي په ز نبولي نو که هغه څخه کله نا کله روپۍ ورکونکي څه کېږه واخیستنه او بیه یې نه ده ورکړې دا څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۸۸۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: کل قرض جر نفعا فهو ربا او کما قال صلی الله علیه وسلم (۱) نو د قرض په وجه له پوروړي څخه بېله قیمته کېږي اخیستل صحیح نه دي په سود کي داخل دي.

بېله شرط ګرځولو او بېله ټاکلو که پوروړی څه روپۍ د شکریې په توګه ورکړي نو

سوال: (۱۹) زید زیاتره و خلګو ته قرض ورکوي ده ته زیاتره داسي پوروړي راځي چي روپۍ واخلي تجارت په کوي د تجارت له یو دوو پېرو کولو وروسته د تشکر په توګه و زید ته څه ورکوي نو د زید لپاره دغه د تشکر روپۍ اخیستل صحیح دي او که نه؟ (۱۳۳۷/۱۲۸۲هـ)

ځواب: بېله شرط ګرځولو او بېله ټاکلو د احسان او نیکۍ په توګه څه زیاتوب ورکول و قرض ورکونکي ته ښه او جائز دي. په حدیث شریف کي داسي راغلي دي(۲) الله رب العزت فرمایي: هل جزاء الاحسان الا الاحسان. (سورة رحمن، آیت ۶۰) فقط

پوروړی که په خوشحالي څه روپۍ زیاتوب ورکړي نو...

سوال: (۲۰) که یو مسلمان و بل مسلمان ته د تجارت په غرض یا د کور د خرخ لپاره د کومي ګټي په هیله بې د ګټي د مقدار له ټاکلو څخه څه روپۍ د څه وخت لپاره په قرض ورکړي. او مقروض د قرض د ادا کولو پر مهال پخپله خوښه و قرض ورکونکي ته څه زیاتوب روپۍ ورکړي نو جائز دي او که نه؟ روپۍ د تجارت لپاره په قرض ورکړي یا یې د کور د خرخ لپاره ورکړي په دواړو صورتونو کي زیاتوب ورکول به جائز وي او که نه؟ که د مسلمان او نامسلمان تر منځ داسي معامله وشي نو څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۳۵۲هـ)

---

(۱) د دغه حدیث تخریج په باب القرض د سوال (۱۴) په جواب کي وګورئ.

(۲) د دغه حدیث تخریج په باب القرض د سوال (۲) په جواب کي راغلی دی.

ځواب: دا راز بېله شرط کرځولو زیاتوب ورکول فقهاء جائز لیکلی دی (۱) ځکه نو په دواړو صورتونو کې زیاتوب صحیح دی او د مسلمان او نامسلمان تر منځ که معامله وي بیا هم بېله شرط کرځولو وروسته زیاتوب ورکول او اخیستل صحیح دي. فقط

سوال: (۲۱) زید له عمرو څخه څه قرض واخیست او د اخیستلو پر مهال یې څه ګټه یا سود نه دی مقرر کړی که د اداکولو پر وخت څه زیاتي ورکړي نو جائز دي او کنه؟ (۱۴۸۸/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: که د قرض اخیستلو پر وخت د سود یا ګټي ورکول نه دي شرط شوي نو بیا د قرض اداکولو پر وخت څه زیاتي ورکول جائز دي او په حدیث ثابت دي (۲) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۲۲) که له کوم هندو څخه څه روپۍ بې د سود له وعدې په قرض واخیستل شي او د اداکولو پر وخت د اصلو روپیو څخه پرته څه روپۍ د عوض په توګه یا پخپل شوق د احسان په توګه هغه ته ورکول شي نو جائز دي او کنه؟ (۱۱۸/۱۳۴۵هـ)

ځواب: بېله وعدې او د سود له شرط کرځولو که قرض واخیستل شي او بیا د اداکولو پر وخت څه زیاتوب د احسان او نیکۍ په توګه ورکول شي نو دا جائز دي بلکه ډېر ښه کار دی لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: ان خیارکم احسنکم قضاء. (۳) فقط

---

(۱) قال الکرخی: هذا اذا کانت المنفعة مشروطة فی العقد بان اقرض غلة لیرد علیه صحاحا او ما اشبه ذالک. فان لم تکن المنفعة مشروطة فی العقد. فاعطاه المستقرض اجود مما علیه فلا باس به (الفتاوی الهندیة ۳ /۲۰۲ کتاب البیوع. الباب التاسع عشر فی القرض و الاستقراض الخ) من استقرض شیئا، فرد احسن او اکثر منه من غیر شرطه. کان محسنا و یحل ذلک للمقرض و قال النووی: یجوز للمقرض اخذ الزیادة، سواء زاد فی الصفة او فی العدد: و مذهب مالک ان الزیادة فی العدد منهی عنها، و حجة اصحابنا قوله صلی الله علیه وسلم: فان خیر الناس احسنهم قضاء، و فی الحدیث دلیل علی ان رد الاجود فی القرض او الدین من السنة و مکارم الاخلاق و لیس هو من قرض جر منفعة، لان المنهی عنه ما کان مشروطا فی عقد القرض (مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ۹۹/۶ کتاب البیوع باب الافلاس و الإنظار، الفصل الاول)

(۲) دا حدیث اوس د سوال (۲۲) په جواب کې راځي.

(۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: کان لرجل علی النبی صلی الله علیه وسلم سن من الابل فجاءه یتقاضاه فقال أعطوه.. قال النبی صلی الله علیه وسلم : إن خیارکم أحسنکم قضاء (صحیح البخاری ۳۲۲/۱ کتاب فی الاستقراض و اداء الدیون و الحجر و التفلیس باب: حسن القضاء)

د قرض ورکونکي له ويري په جماعت کي شرکت نه کول

سوال: (۲۳) يو سړی پوروړی دی چي د هغه په وجه مسجد ته تګ او د جماعت لمونځ پرېښی دی او د قرض ادا کولو نيت هم نلري د داسي سړي په اړه څه حکم دی؟ (۱۵۷۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: بېله عذره جماعت پرېښودلو سړی فاسق ګرځي او د قرض ورکونکي وېره هغه وخت عذر دی چي مفلس وي قوله: او من غريم أی إذا كان معسرًا. (۱)

د قرض ورکونکي د مقروض په کوړ کي خوراک. څښاک او آرام کول

سوال: (۲۴) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرع متين د اهل سنت و الجماعت په دې مسئله کي چي د يو مسلمان پر بل مسلمان باندي د تجارت په اړه روپۍ پاته وي يعني د هغه سره تجارت کوي او د تجارت په وجه قرض راغلی وي او دی د سفر په حالات کي وي، د دې لپاره دی د مقروض کره د قرض د روپۍ غوښتني لپاره ورشي نو په داسي حالت کي د مقروض په کوړ کي خوراک، څښاک او آرام کول شرعًا جائز دی او کنه؟ خبر راکړئ (۲۲۰۸/۱۳۴۲ھ)

ځواب: څرنګه چي دغه خوراک څښاک او آرام کول عادةً په تجارت کي داخل دی، ځکه دا جائز دی او په ظاهره دا په هغه کي داخل نه دی چي منع په حديث شريف کي راغلي ده چي که يو څوک و چاته مثلاً قرض روپۍ ورکړي نو د هغه هديه دي نه قبلوي (۲) فقط و الله اعلم

نور احتياط په دې کي دی چي د ده د کور ډوډۍ و نه خوري او هلته هستوګنه ونکړي يعني که په دې کي

---

(۱) رد المحتار ۱/۴۱۱ كتاب الصلاة، باب الإمامة ط رشيديه.

(۲) عن انس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا أقرض أحدكم قرضا فاهدى إليه أو حمله على الدابة فلا يركبه و لا يقبلها إلا أن يكون جرى بينه و بينه قبل ذلک رواه ابن ماجة و البيهقی فی شعب الايمان و عنه رضى الله عنه عن النبی صلى الله عليه وسلم قال: إذا أقرض الرجل الرجل فلا يأخذ هدية رواه البخاری فی تاريخه هكذا فی المنتقى (مشكاة المصابيح ص: ۲۴۶ كتاب البيوع باب الربا. الفصل الثالث)

څه حرج نه وي او احتیاط کولای شي نو غوره دي کنې هلته سستو ګنه کول او خوراک کول جائز او صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

و چانه د قرض ورکولو لپاره له خلکو څخه روپۍ اخیستل او پر هغه ګټه اخیستل صحیح نه دي

سوال: (۲۵) زید عمر ته ورغلی او ورته وي ویل زما شپږ زره روپۍ ... کار دي نه پخپل ضمانت له بل چا څخه د څلورو میاشتو لپاره راواخله، زه به د دې په بدل کې درته پنځه سوه روپۍ د مرستې په توګه درکړم. عمر شپږ زره روپۍ له خلکو څخه په قرض راواخیستې او و زید ته د څلورو میاشتو لپاره ورکړې او زید و عمر ته د ده سره کړې وعده پوره کړه اوس پوښتنه دا ده چې دغه پنځه سوه روپۍ چې عمر واخیستې سود او ربا شوې کنه؟ (۱۳۴۳/۱۰۸۱هـ)

ځواب: د سوال په پای کې ښکاره بیان شوی دی چې عمر شپږ زره روپۍ له نورو خلکو څخه په قرض راواخیستې او و زید ته د څلورو میاشتو لپاره ورکړې نو له دې څخه معلوم شو چې و زید ته عمر قرض ورکړی ځکه نو شرط کړل شوی زیاتوب د ده په هکله حرام شو په حکم د کل قرض جر نفعا فهو ربا (۱) في الدر المختار: عن الخلاصة القرض بالشرط حرام و الشرط لغو إلخ و في الاشباه: کل قرض جر نفعا حرام إلخ. (۲)

له ناوسو کبنت ګرو څخه له قرض ورکولو وروسته کار اخیستل ښه نه دي

سوال: (۲۶) و مسکینانو کبنت ګرو ته قرض ورکړي بیا په دوی کار کوي، دا سې جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۷۲۰هـ)

ځواب: د قرض په وجه له دوی څخه کار اخیستل ښه نه دی، کما ورد: کل قرض جر نفعا فهو ربا (۳) که څه هم دغه بدني خدمت ځني اخیستل سود نه دی خو ځان ساتل له دې څخه ښه دي.

---

(۱) د دغه حدیث تخریج په باب القرض د سوال (۱۴) په ځواب کې وګورئ

(۲) الدر المختار مع الشامی ۱۹٤/٤ کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة: فصل في القرض: مطلب في شراء المستقرض القرض من المقرض ط رشیدیه.

(۳) د دغه حدیث تخریج په باب القرض د سوال (۱۴) په جواب کې وګورئ.

مقروض که پر وخت قرض ادا نکړي نو زياتوب څني اخيستل جائز نه دی

سوال: (۲۷) عمر له تاجر زيد څخه د پنځو سو روپيو کپړا رانيوله د قيمت د ورکوني لپاره د يوې مياشتي وعده ورسره وکړه. خو تر دوه کاله پوري روپۍ ادا نکړي چي د زيد ډېر تاوان دی په داسي صورت کي له عمر څخه سود يا ګټه اخيستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۴۲۰هـ)

ځواب: په دي صورت کي د زيد لپاره له عمر څخه تر پنځوس روپۍ زياتي اخيستل صحيح نه دي.

د مسکينانو د کومک لپاره د چندې کميټۍ جوړول

سوال: (۲۸) په دي سيمه کي د سود ډېر رواج دی، قرض څوک ورکوي نه، او که څوک ورکوي نو د هغه روپۍ ډېري په ګرانه ادا کيږي ځکه ما په زړه کي يو پلان جوړ کړی دی هغه دا چي د کلي له مسلمانانو څخه چنده راغونده کړم د ناوسو د مرستي لپاره يو کميټي جوړه کړم، کله چي له چندې څخه څه روپۍ جمع شوې دا وخت د قرض غوښتونکيو چي څومره روپۍ پکار وي په هغومره روپيو به د هغه د کښت ځمکه رانيسو قبضه به باندي کوو يا په بل مجلس کي و بائع ته وو ايو چي موږ د غه ځمکه له دومره مودې وروسته خرڅوو که تاسو رانيسئ نو پر تاسو باندي په هم هغه قيمت خرڅوو په کوم چي موږ ستا څخه اخيستې ده او د دې وعدې لپاره يو سند هم ده ته د کميټۍ له طرفه ورکول کيږي له دې وروسته به د غه ځمکه و ده ته په کښت ورکول کيږي د کښت چي کومه ګټه راځي هغه به په چنده کي ورجمع کوو کله چي له ټاکلي مودې وروسته بائع له موږ څخه د غه ځمکه رانيسي هغه وخت موږ د احسان په توګه و ده ته د يادي شوي ګټي څخه له خرڅو ايستلو وروسته څلورمه يا نيمه څنګه چي کميټۍ وال مناسب وبولي ورکوو او د دې ګټه به دا وي چي زموږ په چنده کي به هم زياتوب راځي او د ضرورت مند سړي به د دې چندې ګټه وي، يو د اړتيا پر وخت روپۍ، دوهم له سود څخه بچ شو. د رحيم د احسان په توګه هم څه ورکول شو، په دې اړه ستاسو څه رايه ده؟ (۱۳۴۵/۲۸۸هـ)

ځواب: دا صورت که داغه ډول موجود و نو جائز دی او د بيع الوفا چي کوم د ناجائز والي

صورت دی(۱) د بیرته ورکولو د شرط په سبب هغه هم په دې کې نشته. او که څه شک وي نو هغه د بیان شوي ضرورت په وجه قابل برداشت دی. فقط

و حکومت ته قرض په سود ورکول

سوال: (۲۹) حکومت د قرض اعلان کړی دی چې په سل کې شپږ روپۍ سود د کاله ورکوي مسلمانان په شک کې دي چې داسې سود به اخیستل جائز وي او کنه؟ که جائز نه وي نو بیا يي و مسلمان هم په دغه قرض کې نشي شریکېدلای. شرعًا څه حکم دی؟ (۱۲۰۰/۱۳۳۵هـ)

ځواب: سود اخیستل او ورکول خو بېشک حرام دی د دې د جائز کېدو خو شرعًا هیڅ صورت نشي کېدلای، نو د قرض ورکول څه پروا نلري، صرف دومره خبره ده چې د بیرته اخیستلو پر وخت سود ځني مه اخلئ یا که واخلئ و مسکینانو ته ورکړئ. فقط

کفیل که د سود سره قرض ادا کړي وي نو له مکفول عنه څخه هغه اخیستلای شي

سوال: (۳۰) د یو هندو پر یو مسلمان سودي قرض و د ده یو بل مسلمان کفیل (ضامن) شو هغه د دغه هندو قرضه د سود سره ادا کړه اوس دغه ادا کونکی کفیل دا حق لري چې هغه قرض سره د سود ده له مکفول عنه څخه واخلي او کنه؟

(۹۳۱-۴۴/۱۳۴۵هـ)

ځواب: کله چې امر شوی کفیل قرض سره د سود ده ادا کړو نو هغه له مکفول عنه څخه اخیستلای شي لکه چې د در مختار د روایت: و لو كفل بأمره إلخ رجع عليه بما أدى إن أدى بما ضمن إلخ (۱) (در مختار) له عموم څخه څرګند دي، و ایضا فیه: متى أدى بكفالة فاسدة رجع كصحيحه جامع الفصولين. (۲) فقط و الله تعالى أعلم

---

(۱) د بیع وفی د تعریف او د هغه د حکم د تفصیل لپاره وګورئ: فتاوی دار العلوم دیوبند ۳۲۳/۱۴.

(۲) الدر المختار مع الشامي ٤/ ۳۰۲ کتاب الکفالة، مطلب في ضمان المهر ط رشیدیه.

د ټاکلي وخت سره سم قرض ادا نه کولو په صورت د میاشتي لس روپۍ تاوان اخیستل

سوال: (۳۱) زید و بکر ته زر روپۍ په قرض ورکړې په دې شرط چې که بکر د ټاکلي وخت سره سمي را ادا نکړي نو بکر به لس روپۍ تاوان د میاشتي پر سر راکوي آیا دا ډول معامله صحیح ده؟ (۳۵۵۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: که بکر د مجبورۍ په وجه د ټاکلي وخت سره سمي د زید روپۍ ادا نکړې نو د بکر لپاره د میاشتي لس روپۍ د اصلو روپیو څخه پرته و زید ته ورکول سود دی. او پر بکر د دې ادا کول لازم نه دي او نه د زید لپاره د دې اخیستل جائز دي، که بکر د میاشتي لس روپۍ و زید ته ورکړي نو هغه په اصلو روپیو کي حسابل پکار دي. خو که بکر د زید روپۍ نه ورکوي او زید ورباندي عارضه وکړي نو د عارضي خرڅ له بکر څخه اخیستل جائز دي، له خرڅي څخه پرته زیاتي اخیستل جائز نه دي. فقط

د قرض تر ادا کولو پوري د ځمکي د ګټي خلورمه و قرض ورکونکي ته ورکول

سوال: (۳۲) زید یوه ټوټه ځمکه په خلور سوه روپۍ واخیسته او په حکومت کي پر خپل نامه کړه ده له بکر څخه سل روپۍ واخیستې هغه خلور سوه ادا کړې او د ده سره دا وعده وکړه چې د ترڅو پوري د ځمکي روپۍ ادا نکړم تر هغه وخته به د دې ګټه خلورمه برخه و تاته درکوم او وروسته به ستا د دې ځمکي سره هیڅ اړه نه وي په دې کي د اخیستونکي او ورکونکي لپاره څه حکم دی؟ (۳۱۰/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: ښکاره خبره ده چې له بکر څخه چي کومي سل روپۍ زید واخیستې هغه قرض دی نو د بکر لپاره جائز نه دي چې پر دغه قرض څه ګټه واخلي، د بکر لپاره د دغه ځمکي خلورمه برخه ګټه شرطول حرام او سود دی، ځکه چې په حدیث شریف کي راغلي دي: کل قرض جر نفعا فهو ربا او کما قال النبی صلی اللہ علیہ وسلم. (۱)

---

(۱) د دغه حدیث تخریج په باب القرض د سوال (۱۴) په جواب کي وګورئ.

که مقروض په ټاکلي ځای کي قرض ادا نکړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۳) که پر پورورې د پور ورکولو پر مهال شرط کښېښودل شي چي د قرض روپی به هم دلته راخي را ادا کوي به، او ده په خوښي سره وعده وکړه او وي ویل چي که زه دلته رانغلم قرض مي ادا نکړی نو د قرض راکونکي چي د دکان خوسره ښه وان او د تنګ راتګ کرایه او نور د قرض په وصولولو کي راشي هغه به هم زه مقروض ورکوم. اوس په یاد شوي صورت کي د قرض ورکونکي لپاره له مقروض څخه د دکان تاوان د سوارلۍ او نورو کرایه اخیستل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۵۸۹هـ)

ځواب: د قرض ورکونکي لپاره د دکان تاوان د سوارلۍ او نورو کرایه په دې صورت کي له مقروض څخه اخیستلو هیڅ حق نشته او بیان شوی شرط لغو دی؛ و فیها: القرض لا یتعلق بالجائز من الشروط فالفاسد منها لا یبطله و لکنه یلغو شرط رد شئ آخر إلخ.(۱)

د سود په قرض رانیولي ځمکي غله حلاله ده

سوال: (۳۴) زید له عمر څخه سل روپی په سود قرض واخیستې. په همدغه روپیو زید یوه ځمکه رانیوله، د دغه ځمکي پیداوار د زید لپاره حلال دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۳۳هـ)

ځواب: اقول و بالله التوفیق: په بیان شوي صورت کي چي کومي روپی په قرض واخیستې او په هغه چي کومه ځمکه رانیوله د هغه ځمکي غله حلاله ده، ځکه چي په دې کي اصلي روپی حلالي دي، ګناه د سود د شرط ده او هغه شرط د زیاتوب لغو او باطل دی سود نه لازمیږي او نه جائز دی، په در مختار کي راغلي دي: القرض لا یتعلق بالجائز من الشروط فالفاسد منها لا یبطله و لکنه یلغو شرط رد شئ آخر فلو استقرض الدراهم المکسورة علی أن یؤدي صحیحا کان باطلا. و کذا لو أقرضه طعاما بشرط رده فی مکان آخر و کان علیه مثل ما قبض الخ (۲) در مختار

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۹۴/۴ کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة، مطلب فی شراء المستقرض القرض من المقرض ط رشیدیه.

(۲) الدر مع الرد ۱۹۴/۴ کتاب البیوع. باب المرابحة و التولیة، فصل فی القرض، مطلب فی شراء المستقرض القرض من المقرض ط رشیدیه.

د سود له بوج څخه د ځان سپکولو لپاره د سود په قرض جوړ کړی کور خرڅول

سوال: (۳۵) زید په سود قرض واخیست یو سرای یې جوړ کړ اوس زید د دې له بوج څخه د ځان سپکولو په غرض او له تاوان څخه د بچ کیدو لپاره د دغه کور خرڅولای شي او کنه؟ تر څو دغه د سود له قرض څخه آزاد شي. که فرضًا د ده خپلوان نه رانیسي نو ایا دی یې پر بل چا باندي خرڅولای شي؟ ګنهکاریږي خو به نه؟ او که کوم مسلمان نه رانیسي نو پر کوم هندو یا بل چا باندي خرڅولای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۴۱۸ھ)

ځواب: په بیان شوي حالت کي کله چي د قرض ادا دیني کوم بل صورت نه وي نو زید دغه خپل مکان خرڅولای شي او که د ده خپلوان نه رانیسي نو بل چاته ورکولای شي او که کوم مسلمان رانیونکی نه وي نو پر کفارو باندي خرڅولای شي په دې کي پر ده شرعًا کومه مواخذه نشته. فقط

پنځه روپۍ په دې شرط په قرض اخیستل چي دوې میاشتي وروسته به یو من وریجي درکړم

سوال: (۳۶) زید له عمر څخه پنځه روپۍ په دې شرط به قرض واخیستي چي حالاً یې نه شم اداکولای دوې میاشتي وروسته به یو من وریجي درکړم دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۳۳ھ)

ځواب: په بیان شوي صورت کي د وریجي ورکولو شرط په قرض کي باطل دی هغومره پنځه روپۍ پر قرض اخیستونکي لازمي دي کما مر من الدر المختار: و کان علیه مثل ما قبض الخ.(۱) فقط

بې موسمه د لسو روپیو دوه منه غنم په قرض ورکول او په موسم کي د لسو روپیو درې منه غنم اخیستل

سوال: (۳۷) که نن صبا د لسو روپیو غنم د قرض په توګه دوه منه مثلاً ورکړو او په موسم کي د ارزانۍ په وجه د لسو روپیو درې منه غنم واخیستو دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۷۲۰ھ)

---

(۱) الدر مع الرد ۴/۱۹۴ کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة فصل فی القرض. مطلب فی شراء المستقرض القرض من المقرض ط رشیدیه.

ځواب: په دې کې د جائز کیدو ګنجائش شته. (۱)

په دې شرط غله په قرض ورکول چې شپږ میاشتې وروسته به پاؤ یا نیمه غله زیات غواړم

سوال: (۳۸) کومه غله چې و چاته په قرض ورکړله شي په دې وعده باندې چې په شپږ میاشتې کې به پاؤ باندې یا نیمه برخه زیاتوب غله راکوي داسې څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۴۳۱هـ)

ځواب: داسې صحیح نه دي کما ورد فی الحدیث. (۲)

د غنمو پور به څنګه ادا کوي؟

سوال: (۳۹) که یو سړي له یو چا څخه غنم په قرض واخلي نو کومه طریقه به کوي چې سود رانشي؟ (۱۸۰۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د درهمو، دینارو، د غنمو او نورو غلو او نغدو پیسو او نورو قرض صحیح دی نو له دغو شیانو څخه چې څوک کوم شی په قرض واخلي نو د هغه مثل به ادا کوي داسې شرعًا څه پروا نلري او دا سود نه دی اما د یو جنس تبادله که د بل جنس سره وشي نو په دې کې پور یعني نسیئه صحیح نه ده او تفاضل په دې کې صحیح دی. فقط

د ګنې (د سرو زرو سکه) په قرض کې به ګنې ورکوي

سوال: (۴۰) زید له عمر څخه دوې ګنې (۳) په قرض واخیستې او د قرض پر وخت یې دا وعده ورسره نه وه چې د ادا کولو پر وخت به ګنې راکوي که روپۍ او س د ګنې قیمت دیارلس روپۍ دی او د قرض پر وخت پنځلس روپۍ و او س ګنې

---

(۱) دا یو ډول حیله ده د غنمو د قرض اخیستلو پر ځای باندې لس روپۍ په قرض اخیستې دي بیا یې بیله روپیو اخیستلو غنم رانیولي دي، داغه راز یې د وصولولو پر وخت هم د روپۍ اخیستلو پر ځای غنم رانیولي دي ځکه د ګنجایش خبره کړې ده۱۲ سعید احمد پالنپوري.

(۲) حدیث: کل قرض جر نفعا فهو ربا مراد دی او د دې تخریج په باب القرض سوال (۱۴) په جواب کې وګورئ.

(۳) ګنې: (GUINEA) د سرو زرو یوه سکه چې د یو ویشتو شیلنګو وي(فیروز اللغات)

ورکړي که روپۍ، که نوټ او نور؟ (۱۳۴۵ ۴۴/۸۵۲ هـ)

ځواب: ګنې به ورکوي. فقط

خومره غله چې په قرض اخیستې ده هغومره به ورکوي

سوال: (۴۱) که یو سړي غنم په قرض ورکړو او بېله قیمت بیانولو یې ورکړو. شپږ میاشتې وروسته د هغه وخت په قیمت یو سړ کم شمیرې د هغه قیمت غواړي دا سې جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۴۷ هـ)

ځواب: په دې صورت کې چې خومره غنم ده په قرض اخیستې دي هغومره غنم باید بیرته ورکړي ګو دا د غنمو قرض دی لکه چې روپۍ په قرض اخیستل کیږي په دې صورت کې غله په قرض اخیستې ده ځکه نو خومره غله چې په قرض اخیستې ده هغومره دې بیرته ورکړي او که قیمت ورکړي نو دومره خومره چې اوس نرخ دی په دې بیه دې قیمت ته حساب وکړي ور دې کړي. فقط

د غلې کوم جنس چې په قرض ورکړي له هغه ځخه سیوا له بل جنس ځخه زیاتوب غله وصولول

سوال: (۴۲) دلته دا رواج دی چې تاجر خلګ و کښت ګرو ته له مني ځخه مخکې غله غنم یا جواري په قرض ورکړي او د هغه په عوض په مني کې غنم یا جواري زیاتوب غواړي او داغه راز د مني غله غنم یا جواري د پسرلي د موسم د غنمو یا اوربشو په پور ورکوي د جواریو په عوض په پسرلي کې زیاتوب غنم یا اوربشې غواړي؟
(۱۳۴۷-۴۲/۷۴۱ هـ)

ځواب: دا صورت جائز نه دی، ځکه که دا بیع وبلل شي نو که څه هم د غلې د جنس د بدلېدو په وجه کمی او زیاتوب جائز دی خو نسیئه په دې کې جائز نه ده او که قرض وبلل شي نو په قرض کې هم هغه جنس باید بیرته ورکړي چې د کوم قرض یې اخیستی دی. په دې کې د بل جنس اخیستلو شرط لګول باطل دی. اما د جواز صورت په دې کې دا کیدلای شي چې کومه غله غنم او نوردا وخت قرض ورکړي د هغه قیمت اوس معلوم کړي پر کښت ګرو باندې لازم کړي او په دغه قیمت چې د جواریو په کوم نرخ دوی دواړه راضي شول وادې خلي.

که د پور مقدار په یاد نه وي نو څنګه به ادا کوي؟

سوال: (۴۳) که پر چا پور باندي وي او د هغه د بېر وخت شوی وي د ده پور نه وي په یاد نو د ادا کولو به څه صورت وي؟ (۱۳۴۳/۲۰۳۱هـ)

ځواب: د ده په غالب ګمان چي روپۍ. ورته یادي وي هغو ومره دي و پور ورکونکي یا د هغه و وارثانو ته ورکړي یا دي په وبخښي یا دي کمښت او زیاتوب سره وبخښي.

و حاضر او غائب پوروړو ته قرض بخښل

سوال: (۴۴) یو سړی په حالت د صحت پخپله په دې مجلس کي چي د ده پوروړي هم ټول حاضر ؤ و ټولو ته داسي وویل چي زه سلیم العقل یم، که څه هم زما د زوی د ښخولو تیاري شروع دي، څرنګه پر ما زکوة او حج شرعًا واجب ؤ او ما ادا نکړای شو. ځکه زه خپل ټولو حاضرو او غایبو پوروړو ته چي د نصاب خاوندان نه وي خپل د پور حق یعني قرض بخښم بلکه زه که ژوندی وم خپل دري نژدې کلي د حکومت له قرضې یعني بینک څخه چي د ځمکي دي کوم قرض اخیستی دی خلاصوم به أوس دغه سړی ناجوړه شو مړ شو نو آیا پوروړي د ده له دغه قرضې څخه خلاص شوي که نه؟ که د ده له وارثانو څخه څوک دعوی وکړي شرعًا د اورېدلو وړ ده او که نه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۱۴هـ)

ځواب: و لذا لو وهب الدین من الغریم لم یفتقر الی القبول(۱) (رد المحتار) و کذا لو ابراه صح الابراء و بطل الشرط(۱) د و مختار نو معلوم شو چي پور ورکونکي چي کومو کسانو ته پور وبخښي هغه معاف شو او هغه پوروړي د الله په دربار کي خلاص شول. فقط

د ملازمت په شرط قرض ورکول

سوال: (۴۵) ـ (الف) زید و عمر ته په دې شرط باندي قرض ورکړی چي که دی زما دغه روپۍ د ذي الحجې میاشتي تر پایه رانکړي نو موږ به په زور تا دلته نوکر کړو دغه روپۍ به ستا له تنخوا اخلو نغدي

---

(۱) الدر المختار و حاشیة ابن عابدین ٥٦٧/٤ اوائل کتاب الهبة ط رشیدیه.

روپۍ به نه درخخه اخلو آیا دا شرط جائز دی؟

(ب) زید و عمر ته شل پنځویشت روپۍ په دې شرط په قرض ورکړې چې ته به زموږ سره ملازمت کوې د هغه په وسیله به دا روپۍ ادا کوې. نغدې روپۍ موږ درڅخه نه اخلو. آیا دا شرط جائز دی؟ (۲۹۲۱/۱۳۴۵ھ)

ځواب: (الف) په دغه صورت کې زید عمر په زور خپل نوکر نشي جوړولای او دا شرط باطل دی.

(ب) په قرض کې دا ډول شرط جائز نه دی، په در مختار کې راغلي دي: القرض لا يتعلق بالجائز من الشروط فالفاسد منها لا يبطله و لكنه يلغو شرط رد شـئ آخر الخ (۱) و في الخلاصة: القرض بالشرط حرام و الشرط لغو الخ. (۱) فقط

د قرض د ادا کولو تر تاریخ مخکې مقروض مړ شي نو په آخرت کې به ورسره څه کیږي؟

سوال: (۴۶) زید که له کوم کافر څخه قرض واخیستی او داسې ورته وویل چې په فلاني تاریخ به ستا روپۍ درکړم خو په دې منځ کې زید وفات شو نو په آخرت کې به دزید مؤاخذه کیږي او کنه؟ (۴۶/۲۱۴-۱۳۴۷ھ)

ځواب: که د زید څه ترکه پاته شوې ده نو دا روپۍ له هغه څخه ادا کړې او د دې ادا کول ضروري دي کنې پر ده د دې هیڅ گناه نشته او امید شته چې د زید د ادا کولو د نیت په وجه به له مؤاخذې خلاص شي او الله رب العزت به قرض ورکونکی خوشحاله کړي (۲) فقط

خپل قرض په هر ډول چې وي وصولول صحیح دي

سوال: (۴۷) که قرض ورکونکی له مقروض څخه خپل قرض په داسې ډول وصول کړي چې مقروض په خبر نشي نو جائز دي او کنه؟ (۴۲۸/۱۳۴۵ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۱۹٤/٤ كتاب البيوع، باب المرابحة و التولية. فصل في القرض، مطلب في شراء المستقرض القرض من المقرض ط رشيديه.

(۲) و في الفصول العلامية: لو لم يقدر على الاداء لفقره او لنسيانه او لعدم قدرته، قال شداد و الناطفي رحمهما الله تعالى: لا يؤاخذ به في الآخرة اذا كان العين ثمن متاع او قرضا الخ (رد المحتار ۳۵٤/۳ كتاب اللقطة قبيل مطلب فيمن عليه ديون و مظالم جهل اربابها ط رشيديه)

ځواب: خپل قرض په هر ډول چې وي وصولول صحیح دي. (۱)

د خپلو روپیو وصولولو لپاره د دروغو دعوی کول

سوال: (۴۸) زید د بکر روپۍ وخوړلې یا یې ځني غلا کړې آیا د زید لپاره په دروغو ویلو یا د دروغو په دعوی کولو خپلې روپۍ له بکر څخه اخیستل روا دي؟ (۱۳۳۹/۱۲۳هـ)

ځواب: د خپل قرض په اندازه چې په کومه طریقه وصولولای شي وصول دي کړي.(۲) فقط

د خپل قرض ولاس ته کولو لپاره درواغ ویل

سوال: (۴۹) دوه زره روپۍ زما پر کشر ورور زما باندې دي خو دی یو مخ انکار کوي زما په لاس صرف د ده درې سوه روپۍ راغلې که زه ده ته بیرته ورنکړم او پخپل قرض کې راوګرځوم نو زه به ګنهکار یم او کنه؟ او که زه دروغ ووایم پنځه سوه روپۍ له خپل کشر ورور څخه واخلم نو جائز دي او کنه؟ د ده زوی حکومتي مامور دی هغه هم راسره د قرض ادا کولو وعده کړې وه وروسته انکار وکړ نو پر پلار زوی دواړو باندې د قرض دعوی جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۳۳۷هـ)

ځواب: خپل حق له پوروړي څخه چې څرنګه کیدلای شي اخیستل صحیح دي نو دیرش روپۍ تاسو پخپل قرض کې راګرځولای شي او پنځه سوه روپۍ که مې په کومه طریقه لاس ته راشي هغه هم پخپل قرض کې اخیستل صحیح دي خو ښکاره دروغ ویل صحیح نه دي که د تعریف په شکل وي نو پروا نلري او د قرض دعوی پر پلار او زوی جائز ده. فقط

---

(۱) اصل مسئله دا ده چې د خپل حق له جنس څخه قرض وصولول جائز دي د جنس له خلاف څخه بېله رضا وصولول جائز نه دي مګر متاخرینو د جنس په خلاف کې د قرضې وصول. لو د جواز فتوی ورکړې ده په شامي کې راغلي دي: إن عدم جواز الأخذ من خلاف الجنس كان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقـوق و الفتوی الیوم علی جواز الاخذ عنه القدرة من ای مال كان لاسیما فی دیارنا لمداومتهم للعقوق (رد المختـار ۳: ۲۲۰ كتاب السرقة: مطلب: یعذر بالعمل بمذهب الغیر عند الضرورة ط رشیدیه)۱۲ پالنپوري

(۲) مګر یو مخ څرګند درواغ ویل صحیح نه دي لکه چې د راتلونکي سوال په جواب کې چې به راشي ۱۲ سعید احمد پالنپوري.

د مقروض روپۍ د ده بې اجازې و قرض ورکونکي ته ورکول

سوال: (۵۰) یو مقروض سړي د قرض په ادا کولو کې همیشه ببله کومي شرعي وجهې حیله حواله کوي چې ورځخه صفا د مقروض بدنیتي معلومیږي. په داسي صورت کې د نوموړي روپۍ چې د یو بل سړي سره پرتې دي اخیستل کیدلای شي او کنه؟ داغه راز چې د چا سره روپۍ ایښي دي د هغه لپاره په داسي حالت کې بې د مالک له اجازې روپۍ ورکول شرعًا کومه ګناه خو نلري؟ (۱۳۴۰/۱۳۲۹ھ)

ځواب: کله چې له مقروض ځخه د قرض اخیستلو کوم صورت نه وي نو قرض ورکونکی د خپل حق په اندازه له مقروض ځخه چې ځنګه کیدلای شي اخیستلای شي او د چا سره چې د مقروض روپۍ پرتې دي که هغه په دې وجه چې د یو مسلمان حق وهل کیږي روپۍ و قرض ورکونکي ته ورکړي او ده ته په دې باندي قدرت وي او ځه وېره او خوف نه وي نو دیٔ به هم انشاء الله ګنهکار نه وي. فقط

که قرض ورکونکی او د هغه په وارثانو کې ځوک ژوندي پاته نه وي نو...

سوال: (۵۱) یو مسلمان د یو هندو ځخه قرض اخیستی و د مرګ پر وخت یې و خپلو زامنو ته وویل چې فلاني هندو ته دومره روپۍ ورکړئ، ځه موده وروسته د هغه سړي زامن روپۍ ادا کول غواړي، خو هغه هندو او دهغه په وارثانو کې ځوک ژوندی پاتي نه دی چې روپۍ ورکړي اوس په دغه روپیو ځه وکړي؟ (۱۳۴۳/۹۳۵ھ)

ځواب: په داسي صورت کې فقهاء دا لیکلي دي چې دغه روپۍ و مسکینانو ته ورکړئ نو په اوس وخت هغه خلګ چې کورونه سیلاب وران کړي دي، حیران پریشان ګرځي، هغوی بهترین مصرف دی. فقط

سوال: (۵۲) زید و عمر ته مثلاً شل روپۍ د امانت یا قرض په توګه وسپارلې ځه موده وروسته زید وفات شو، کوم شرعي وارث یې هم نشته چې هغه مال ورته وسپارو اوس نوموړی عمر پوښتنه کوي چې شرعًا دا مال باید ځنګه مصرف شي؟

(۱۳۳۴-۳۳/۸۰۲ھ)

ځواب: د داسې مال شرعي حکم دا دی چې فقیرانو ته ورکړي. قال في رد المحتار: و ان لم يجد المديون و لا وارثه صاحب الدين و لا وارثه فتصدق المديون او وارثه عن صاحب الدين برئ في الآخرة إلخ. (۱) (۳۲۳/۳ كتاب اللقطة)

مدرس له مدرسې څخه قرض اخیستلو وروسته وفات شو نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۳) که استاذ له مدرسې څخه روپۍ په قرض واخیستې او بیا وفات شو، د ده وارثانو قرض ادا نکړو نو د مهتمم لپاره د دغه قرض ادا کول واجب دي او کنه؟ (۵۲۵، ۱۳۴۳هـ)

ځواب: د مدرسې استاذ چې کوم قرض واخیستی د ده له وفات وروسته باید د ده له ترکې څخه را واخیستل شي که وارثانو ادا نکړی نو متولي د دې ضامن نه دی. فقط

د ګناه د مرستې په نیت قرض ورکول

سوال: (۵۴) د ګناه کونکي ته په ګناه کې ورسره مرسته په نیت قرض ورکول څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۱۰۵۲هـ)

ځواب: په یاد شوي نیت مرسته ورسره کول هم ګناه ده.

حج ته تر تلو مخکې قرض ادا کول ضروري دي او کنه؟

سوال: (۵۵) که یو سړی حج ته ځي خو پوروړی وي نو د ده لپاره و حج ته تر تلو مخکې قرض ادا کول ضروري دي او کنه؟ او بیله قرض ادا کولو حج ته تللای شي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۱۸۸هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و غيرها سنن و آداب كأن يتوسع في النفقة و يحافظ على الطهارة و على صون لسانه و يتأذن أبويه و دائنه و كفيله الخ او په شامي کې راغلي دي: و كذا يكره بلا إذن دائنه و كفيله و الظاهر أنها تحريمية لإطلاقهم الكراهة، و يدل عليه قوله فيما مر في تمثيله للحج المكروه كالحج بلا إذن مما يجب استيذانه فلا ينبغي عده ذلك من السنن و الاداب إلخ. (۲) له دغو روایتونو څخه دا معلومیږي چې حج ته د تلو پر مهال له قرض ورکونکي څخه اجازه اخیستل یا

---

(۱) الشامی ۳۵۳/۳ کتاب اللقطة. ط رشیدیه.

(۲) الدر المختار و رد المحتار ۱۵۹/۲ کتاب الحج، مطلب في فروض الحج و واجباته ط رشیدیه.

مستحب دی یا واجب. د قرض ادا کولو ضروري کېدل ثابت نه دي. فقط

زه څوک پوروړی نه پرېږدم که څوک پوروړی وي نو وي دي به دې وینا قرض نه ساقطیږي

سوال: (۵۶) یو سړی چي د زید مقروض دی کله چي زید حج ته تلی نو دده ورته وویل چي ای زیده! ما هم پوروړی پرېږدې. زید وویل: زه څوک پوروړی نه پرېږدم که څوک پوروړی وي نو وي دي، دا وینا یې وکړه زید حج ته ولاړی په دې وینا له پوروړو څخه قرض ساقط شو او کنه؟ (۴۲/۷۷۴-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د زید په دغه وینا پوروړي له قرض خلاص نه شو او قرض معاف نه شو، دوی باید د زید قرض ور ادا کړي. فقط

د مشر ورور د ځمکي په روپیو یې د دواړو ورونو مشترک قرض ادا کړی نو مشر ورور له کشر ورور څخه د قرض حصه اخیستلای شي

سوال: (۵۷) دوه ورونه یو ځای او سیدل او قرض یو ځای پر باندي ؤ او هر څه ورکړه راکړه د دوی جامې یې یو ځای ؤ، او ځمکي جلا جلا وې، د یو هندو قرض ؤ هغه دعوی وکړه نو روپۍ پیدا نه شوې، ځمکي خرڅول وغوښت حکومت د کشر ورور د ځمکي د خرڅولو اجازه د ده د نابالغ په وجه ورنکړه صرف د مشر ورور ځمکه خرڅه شوه. حال دا چي کشر ورور بالغ ؤ، اوس مشر ورور له کشر ورور څخه نیمه ځمکه یا د قرض برخه اخیستلای شي او کنه؟ (۲۲۴۵/۱۳۴۳هـ)

ځواب: کله چي قرض پر دواړو ؤ نو مشر ورور له کشر ورور څخه د قرض حصه اخیستلای شي.

کوم زامن چي د پلار سره سوداګري کوي له هغوی څخه د دکان د قرض غوښتنه کول

سوال: (۵۸) زید دکاندار ؤ د ده څو زامنو د ده سره د دکان کار کاوی،

زید په تجارت کي تاواني شو او د خلکو پوروړی شو اوس قرض ورکونکی د غوښتني حق په زید لري چي ژوندی دی که د ده له زامنو څخه هم د پور غوښتلو شرعًا حق لري؟
(۱۳۳۷/۴۲۳ھ)

ځواب: کله چي زامو هم د دکان کار کاوی او د خلکو سره د ورکړي راکړي معاملې کولې، او د دکان سامان د دوی په حواله دی په هغه کي تصرف کوي نو د خلکو پورونه او غوښتني چي د دکان د سامان سره اړه لري د هغه مواخذه. غوښتنه او ضمان هم پر تولو دی مثلاً ځيني پورونه هغه دي چي له خلکو او تاجرانو يې سامانونه رانيولي دي د هغوی قيمت پر باندي دی نو ښکاره خبره ده چي د دغه پور د ادا کولو هغه خلک ضرور ذمه دار دي چي ورسره دا سامان دی او چي پکي راکړه ورکړه او تصرفات کوي. داغه راز که چا يو امانت ايښی وي او هغه يې استعمال کړی وي نو هغه هم پور دی او کله مثلاً په صورت د امانت څخه د انکار امانت په حکم د غصب ګرځي او په غصب کي د مودع الغاصب او غاصب الغاصب څخه هم د غوښتني حق حاصل دی. په در مختار کي راغلي دي: المغصوب منه مخير بين تضمين الغاصب و غاصب الغاصب الخ و في رد المحتار عن حاوی القدسي: الغاصب اذا اودع المغصوب عند إنسان فهلک فلصاحب أن يضمن أيهما شاء فإن ضمن المودع رجع به علی الغاصب و إن ضمن الغاصب لم يرجع بشيء إلخ. (۱) فقط

د ترکې له وېشلو مخکي قرض ادا کول ضروري دی

سوال: (۵۹) زید چي د بکر مقروض ؤ وفات شو يوه ښځه او يو نابالغ زوی يې پاته شو. په دې صورت کي ښځه د خپل خاوند له پاته شوي مال او اسبابو څخه د بکر قرض ادا کولای شي او بکر د هلک تر بالغېدو مخکي خپل قرض اخيستلای شي او کنه؟
(۱۳۳۷/۴۳۱ھ)

ځواب: په دغه صورت کي د زيد ښځه د زيد له ترکې څخه د هغه قرض ادا کولای شي. ځکه چي د قرض ادا کول د ترکې تر وېشلو مخکي دي.

---

(۱) الدر المختار و الشامی ۵/۱۲۶ کتاب الغصب ط رشيديه.

د مړي مکان چي د چا سره ګروي دی هغه خپل قرض له نورو قرض ورکونکيو څخه مخکي اخیستلای شي

سوال: (۲۰) زید وفات شو د ښځي پنځه سوه روپۍ مهر ورباندي پاته دی او د عمر پنځه سوه روپۍ پر زید باندي دي، د بکر هم پنځه سوه روپۍ پر زید باندي دي او د زید یو سرای د بکر سره ګرو دی نو لومړی به د مکان څخه د بکر قرض ادا کیږي که د ښځي او که د عمر؟(۱۳۴۷-۴۲/۱۳۴۱هـ)

ځواب: کله چي هغه مکان د بکر د قرض په عوض رهن دی او د بکر په قبضه کي دی. نو بکر خپل قرض له ټولو څخه مخکي اخیستلای شي او دعوی د ده صحیح ده کذا في الدر المختار په شامي کي راغلي دي: فإذا رهن شيئا و سلمه و لم يترك غيره فدين المرتهن مقدم على التجهيز الخ.(۱) فقط

په متروکه جائیداد کي ټول قرض ورکونکي یو ډول حق لري

سوال: (۲۱) محمد ابراهیم په ۱۲ مئی ۱۹۱۳ء له یو سړي څخه پنځه سوه روپۍ قرض واخیستي او د هغه سړي نکاح د لطیفي سره په ۲۹ مئی ۱۹۱۵ء په پنځه سوه مهر وشوه نژدي دوه کاله وروسته دی وفات شو پنځه سوه روپۍ جائیداد یې پاته شو په دغه جائیداد قرض ادا کړو که مهر؟(۱۳۴۲/۲۸۹هـ)

ځواب: دواړه قرض دی او د دواړو حکم برابر دی یعني د ده د ښځي د مهر قرض به هم له ترکي څخه ور اخیستل کیږي او کومي روپۍ چي په قرض اخیستي وي هغه به هم ادا کوي او دوی دواړه برابر دي د زماني د مخکي والي او وروسته والي په دي باندي هیڅ اثر نه لویږي نو یاد شوی جائیداد و دواړو ته نیم نیم ورکړی. فقط

خاوند چي د مهر په عوض و خپله ښځه ته کوم مکان ورکړی دی له هغه څخه نور قرض ورکونکی هیڅ نشي اخیستلای

سوال: (۲۲) زید خپل مکان و خپلي ښځي ته د مهر د پور په عوض په حالت د هوش او صحت خپل ورکړی د اقرار پانه هم ولیکله. آیا په دي صورت کي و زید ته قرض ورکونکی د غه ملکیت د زید د ښځي د زید قرضه

---

(۱) الشامی ۵۳۵/۵ أوائل كتاب الفرائض ط رشيديه.

وبولي تول یا یو څه ځني اخیستلای شي او کنه؟ که ښځه د دغه سرای مالکه شوه؟(۱۳۳۵/۷۹۸هـ)

ځواب: کله چي زید دغه مکان و خپله ښځه ته د مهر د پور په عوض په خپل ژوند او صحت کي ورکړی نو زید ته قرض ورکونکی له دغه سرای څخه تول یا څه نشي اخیستلای او د زید د اقرار سره سم له کوم تاریخ څخه چي زید دغه مکان و خپله ښځه ته ورکړ له هغه وخت څخه ښځه د هغه مالکه شوه. فقط

د قرض ورکونکي وارثان موجود وي نو د قرض روپۍ و مدرسه ته ورکول صحیح نه دي

سوال: (۲۳) په زید د یو هندو پور باندي و زید مړ شو وروسته هغه قرض ورکونکی هندو هم مړ شو د هغه خپلوان شته. د زید وارثان غواړي چي د زید قرضه ادا کړي، نو د قرض ورکونکي هندو پر وارثانو څه ډول هغه مال وویشي؟ که د زید وارثان دغه د قرض روپۍ و کومه اسلامي مدرسه ته ورکړي نو صحیح دي او کنه؟(۱۳۳۷/۱۱۷۳هـ)

ځواب: د زید وارثان باید دغه پر زید باندي د قرض روپۍ د قرض ورکونکي هندو و وارثانو ته د شرعي برخو سره سم ور وویشي، ځکه چي مورږ د شرعي برخو سره سم وېشلو باندي امر شوي یو کما هو مصرح فی کتب الفقه او سره د دې چي د قرض ورکونکي وارثان موجود وي و کومه مدرسه ته د دغه روپیو ورکول صحیح نه دي.

که قرض ورکونکی او د هغه وارثان نادرکه وي نو قرض به څنګه ادا کړو؟

سوال: (۲۴) زید له یو سړي څخه قرض واخیستی اوس هغه معلوم نه دی آیا د هغه له طرفه صدقه کړو؟(۱۳۳۵/۷۴۲هـ)

ځواب: د ده له طرفه پر فقیرانو صدقه کړي کله چي دی او د ده وارثان معلوم نه وي(۱)

سوال: (۲۵) زید له یو هندو دکاندار څخه اوړه، وریجي او نور شیان په قرض واخیستل څه ورځي وروسته زید وفات شو، د زید زوی بکر چي د خپل پلار د قرض ادا کولو وس یې نه درلودی نکړای شو ادا، څه ورځي وروسته هغه هندو هم مړ شو او بکر ایران ته ولاړی، څلور پنځه کاله وروسته چي کله بکر راغلی

---

(۱) و إن لم یجد المدیون و لا وارثه صاحب الدین و لا وارثه فتصدق المدیون او وارثه عن صاحب الدین برىء فی الآخرة (الشامی ۳۵۳/۳ کتاب اللقطة. قبیل مطلب فیمن علیه دیون و مظالم جهل أربابها. ط رشیدیه)

نو ده د هغه هندو بال بچ او خپلوان تلاش کړل خو معلوم یې نکړو. اوس به قرض څنګه ادا کوي؟ (۱۳۳۵/۱۰۲۲هـ)

ځواب: چې څومره کوښښ یې کیدای شي د هغه لري یا نژدې خپلوانو پلټنه دې وکړي که موندی هغوی ته دې ورکړي کنې بیا دې هغومره و مسکینانو ته ورکړي. دا حکم هغه وخت دی چې د بکر پلار دومره جائیداد پرې اېښی وي چې ټول قرض په ادا کړي او که هیڅ نه وي پرې اېښی یا یې دومره نه وي پرې اېښی چې ټول قرض په ادا شي نو په لومړي صورت کې پر بکر د هیڅ شي ادا کول نشته او په دوهم صورت کې چې څومره پرې اېښي دي د هم هغه ورکول لازم دي، زیاتوب ورکول لازم نه دي.

سوال: (۲۶) ما له شیخ دارو خان څخه څلور روپۍ په قرض اخیستي وې تر دوه درې کالو پورې مې د هغه سره ملاقات کیدی لیکن ادا یې نکړای شوی وروسته اتلس کاله تېر شول چې ملاقات مې ورسره نه شو وه او نه یې چا کوم درک په لاس راکړی دی او نه زما سره د ده د کور کومه نښه شته، دا مې یقین دی چې دی به مړ وي ځکه چې هغه وخت نژدې د اویا اتیا کالو ؤ، په دې صورت کې به قرض څنګه ادا شي؟ (۱۳۳۷/۱۹۰۸هـ)

ځواب: په دې صورت کې هغه څلور روپۍ د دارو خان وارثان پیدا کړي و هغوی ته ورکړي که هیڅ یو وارث معلوم نه شي نو و مسکینانو ته ورکړي په دې نیت چې ثواب به د دارو خان وي فقط

سوال: (۲۷) پر ما د یو سړي ۱۳ روپۍ باندي وې تر ادا کولو مخکې هغه سړی مړ شو د هغه بال بچ له دې ځایه په کډه ولاړو معلومه نه ده چې کوم ځای ولاړو، له پلټنې وروسته هم معلوم نه شول، شپاړلس کاله وشول له پور څخه د اوږو سپکولو به څه صورت وي؟ که د قرض ورکونکي له طرفه ۱۳ روپۍ د دار العلوم دیوبند ته ورکړم یا یې خیرات کړم نو زما اوږې سپکېدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۲۹هـ)

ځواب: په داسې حالت کې چې قرض ورکونکی او د هغه وارثان ملاؤ نه شي او د هغوی هیڅ درک نه لګیږي، شرعي حکم دا دی چې هغه روپۍ و فقیرانو مسکینانو ته ورکړي انشاء الله په دې سره به په آخرت کې د قرض د بوج مواخذه نه وي او د مدرسې مسکین طالبان هم د دې مصرف دی که د مدرسې مسکینانو او ناوسو طالبانو ته ورکړي نو هم صحیح دی فقط

سوال: (۲۸) یو سړي له دریو کسانو څخه پنځه روپۍ په قرض اخیستي وې پنځلس شل کاله

وشول کومو خلکو چي قرض ورکړی ؤ د هغوی هیڅ درک معلوم نه دی نو دغه روپۍ په مسجد کي لګول صحیح دي او کنه؟ لنډه دا چي په دغو روپیو څه وکړو؟
(۳۰۳۳ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: دغه روپۍ په مسجد او نورو کي مه لګوئ بلکه و فقیرانو او مسکینانو ته د خیرات په نیت ورکړئ چي مالک ته ثواب وي، بیا که چیري مالک پیدا شو او د هغه داسي خوښه شوه نو ښه خبره ده کني که هغه ضمان غواړي نو اخیستلای شي. فقط

د قرض ورکونکي او مقروض دا فیصله سره وشوه چي درې سوه روپۍ واخله نوري پرېږده خو مقروض د وعدې په خلاف وکړ نو څه حکم دی؟

سوال: (۶۹) د یو سړي پر بل باندي پنځه سوه روپۍ باندي وې دواړو دا وعده سره وکړه چي درې سوه روپۍ واخله نوري پرېږده خو مقروض د وعدې په خلاف وکړ. پر دې قرض ورکونکي و مقروض ته وویل چي زموږ فیصله و نه منل شوه اوس زه له تا څخه پنځه سوه روپۍ غواړم آیا شرعًا مخکنۍ فیصله قایمه ده او کنه؟ و قرض ورکونکي ته د ټولو روپیو اخیستلو حق شرعًا شته او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۸۱۴هـ)

ځواب: اوس مخکنۍ فیصله پر ځای پاته نه شوه د قرض ورکونکي خوښه ده چي که څه پرېږدي او که نه پرېږدي پنځه سوه روپۍ اخلي خو څه پرېښودل او د مخکنۍ وعدې سره سم درې سوه روپۍ اخیستل او نوري بخښل غوره دي مګر لازم نه دي. فقط

په وخت کي د عارضې له اصل قرض څخه د زیاتوب ښکاره کول او قرض سره د سوده اخیستل

سوال: (۷۰) .. (الف) زید که پر کوم مقروض عارضه کوي نو له اصلو روپیو څخه د زیاتوب کول جائز دي او کنه؟

(ب) زید پر مقروض په محکمه کي عارضه وکړه محکمې فیصله وروکړه اوس زید له مقروض څخه قرض سره د سود اخلي داسي جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۸هـ)

ځواب: (الف) له خپل اصل قرض څخه د زیاتوب ښکاره کول په وخت د عارضه کي ښکاره دروغ او ظلم دی داسي کول صحیح نه دي.

(ب) دا سود دی. جائز نه دی.

د قرض سره سود د محکمې د عارضې په خرچو کې شمېرل

سوال: (۷۱) پر زید د بکر قرض ؤ خو زید په ادا کولو کې ډېر زیات ځنډ وکړو چې له وجه بکر مجبور شو په محکمه کې عارضه ورباندې وکړه د محکمې سترپاوې او ستونزې وګالل، اوس که بکر اصلي روپۍ سره د سوده واخلي او سود د محکمې په شویو خرچو کې وشمېري نو به څنګه وي؟ (۱۳۴۲/۱۲۵۲هـ)

ځواب: احتیاط په دې کې دی چې بکر دې خپلې اصلي روپۍ ځني واخلي له هغه څخه دې زیاتې ځني نه اخلي. لیکن که زید سره د قدرته د بکر قرض نه ادا کاوی بکر د مجبورۍ ورباندې عارضه وکړه نو د محکمې د شویو خرچو په اندازه عند البعض له زید څخه زیاتوب اخیستی شي. فقط

د امانت روپۍ په قرض ورکونکی مړ شو اوس روپۍ چاته ورکړو؟

سوال: (۷۲) زید له عمر څخه سل روپۍ په قرض واخیستې، عمر مړ شو او دا خبره هم مشهوره ده چې د عمر سره سل روپۍ د بکر امانةً پرتې وې چې دا روپۍ د بکر امانت دې اوس پوښتنه دا ده چې زید دغه قرض چې د ده په ذمه دی د عمر و وارثانو ته ورکړي که د بکر و وارثانو ته؟ (۳۲/۱۰۷۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: زید دې دغه په قرض اخیستې روپۍ د عمر و وارثانو ته ورکړي د بکر که یو څه روپۍ د عمر سره وې نو د بکر وارثان به هغه ثابتوي که ثابتې کړې ځني وا به اخلي. مګر د زید لپاره دا جائز نه دي چې دا روپۍ د بکر و وارثانو ته ورکړي پر ده همدا لازمه ده چې د عمر و وارثانو ته ورکړي. فقط

د نکاح په وعده هندې له بکر څخه روپۍ واخیستې بیا یې وعده پوره نکړه نو څه حکم دی؟

سوال: (۷۳) که هندې له بکر څخه روپۍ د نکاح په وعده اخیستې وي نو آیا د وعدې پوره کولو لپاره بکر پر هنده

جبر کولای شي او کنه؟ (۴۱۲/۳۵ ۱۳۳۲هـ)

ځواب: که هندي د نکاح په وعده روپۍ ځني اخیستي وي نو هنده پر نشي مجبوریدلای او بکر پر هنده جبر نشي کولای خو د نکاح نه کولو په صورت پر هنده لازمه ده چي روپۍ بیرته ورکړي.

پلار چي د اولادو په ودونو کي کوم خرڅ کړی دی هغه پر اولادو قرض نه دی

سوال: (۷۴) یو سړي د یوې ښځي سره نکاح وکړه نوموړې ښځه وفات شوه یو زوی یې پاته شو وروسته دغه سړي بله نکاح وکړه، له دوهمي ښځي څخه دوه هلکوان دوې انجوني دي بیا دغه نوموړي دریمه نکاح وکړه له دریمي ښځي څخه دوې انجوني دي دغه سړي د لومړۍ ښځي د زوی په ملګري تر شپږ کاله تجارت کاوی په تجارت کي سرمایه اندازًا لس زره نه ورسیده. نوموړي د خپل زوی تول له آمدني پخپل حساب کي جمع کوله او د دغه زوی خرڅ یې هم له خپل حساب څخه کاوی د دغه زوی او د دریمي ښځي یوې لور نکاح ده پخپلو روپیو وکړه بل د چا دا پخپل اولاد کي نه ده کړې د لومړۍ ښځي د زوی او د دغه سړي د دوهمي ښځي سره دښمني وه د دغه دښمني په وجه د دوهمي ښځي دغه خپل خاوند خطا کړی د نوموړي زوی د خپل پلار له میراث څخه محرومولو لپاره کوښښ وکړ چي پخپل خاوند باندي د خپل زوی په واده کي مصرف کړې دوه زره روپۍ له خپل حسابه و ایستي پخپل زوی پسي قرض ولیکلې دري کاله وروسته دی وفات شو حال دا چي په دغه قرض لیکلو دا هلک راضي نهٔ په همدې وجه هلک تجارت وریبښودی ځان ته کاروبار کاوی. په دې صورت کي و دغه هلک ته نور وارثان دا وایي چي ستا پلار چي ستاسو په نوم کوم قرض لیکلی ؤ هغه ستاسو په ذمه دی او ستاسو کومه آمدني چي ستاسو پلار پخپل حساب کي لیکلې ده هغه تاسو ته نه درکؤ. قرض ځني اوباسو که نوره ستاسو څه برخه پاته شوه نو تاسو ته به درکړو کنې هیڅ نه درکؤ په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۲۲۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: اولاد چي د پلار سره په کاروبار کي کومک کوي هغه ټول د پلار ملک وي او پلار چي کوم مصرف د اولادو په واده یا نور کورني ژوند کي وکړ هغه پر اولاد

قرض نه وي. ځکه نو د نکاح خرڅ کوم چې پلار د لومړۍ ښځې د زوی په نوم قرض لیکلی دی دا قرض نه شو او له دغه هلک څخه د دې غوښتنه نشي کیدلای. دا غه راز کوم څه چې د دغه هلک په مرسته د شراکت په زمانه کې د تجارت مال حاصل شو او ګټه راغله هغه هم د پلار ده او د پلار په ترکه کې شمېرل کیږي نو د پلار په ټوله ترکه کې د لومړۍ ښځې زوی هم هغه رنګه وارث ګرځي څرنګه چې د نورو ښځو اولاد یعني نارینه ته دوې برخې او ښځې ته یوه برخه ورکول کیږي، نو د نورو وارثانو دا وینا چې پلار ستا په واده کې کوم مصرف کړی دی هغه به په تاسو پسې وي دا غلط دی پر ده باندې په واده کې د پلار مصرف کړی قرض نه دی هغه د پلار له طرفه تبرع او احسان دی لکه چې عمومًا پلرونه د خپلو بچیانو په ودونو کې روپۍ مصرفوي هغه هیڅکله قرض نشي کیدلای نور د ټولې ترکې د پلار پر کیدو باندې د شامي دا عبارت دلالت کونکی دی: ثم هذا فی غیر الابن مع ابیه لما فی القنیة الاب و ابنه یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهما شیء فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله، لکونه معینا له الا تری لو غرس شجرة تکون للاب الخ.(۱) (شامي: ۳۴۹/۳، فصل فی الشرکة الفاسدة) فقط

و مدرسه ته قرض ورکونکی قرض به څوک ورادا کوي؟

سوال: (۷۵) که کوم سړي د خیر د کارونو لپاره مثلاً د مدرسې او نور تعمیر، تعلیم او ترقۍ لپاره قرض ورکړي نو د داسې قرضې عارضه د مدرسې پر سکرتري باندې کیدلای شي؟ او آیا سکرتري د دې ادایني ذمه وار دی؟ (۲۰۴۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: عارضه کیدلای شي او نوموړی سکرتري د دغه قرض ذمه وار دی، لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: علی الید ما اخذت حتی تؤدی. (۲) فقط

---

(۱) رد المحتار ۳۸۳/۳ کتاب الشرکة. فصل فی الشرکة الفاسدة. مطلب: اجتمع فی دار واحدة و اکتسبا و لا یعلم التفاوت فهو بینهما بالسویة ط رشیدیه.

(۲) عن سمرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: علی الید ما اخذت حتی تؤدی رواه الترمذی و ابو داود و ابن ماجة (مشکوة المصابیح ص: ۲۵۵ کتاب البیوع. باب الغصب و العاریة)

د پوروړي د جنازې د لمانځه په اړه څو حدیثونه

سوال: (۷۲) دا حدیث په کوم ځای کې دی او صحیح دی کنه؟ هغه دا چې د نبي علیه الصلوٰة و السلام مخته یوه جنازه راوړل شوه، نبي علیه الصلاة و السلام پوښتنه وکړه چې پر ده خو به د چا قرض نه وي باندي؟ خلکو وویل چې دا پوروړی دی نو نبي علیه الصلاة و السلام وفرمایل: چې دا لمونځ تاسو وکړئ زه نه ورباندي کوم نو حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل چې د ده قرضه زما پر ذمه ده نو بیا نبي علیه الصلاة و السلام د جنازې لمونځ ورکړی او د حضرت علي ضی الله عنه لپاره دعا وکړه چې ای الله! څرنګه چې حضرت علي رضی الله عنه دی د پور له عذابه خلاص کړی د حضرت علي رضی الله عنه اوږې هم سپکي کړې. ځکه نو حضرت علي رضی الله عنه خپله دره خرڅه کړه د هغه مړي قرض یې ادا کړه او که کوم کافر سړی مقروض مړ شي نو د پور عذاب به ورکول کیږي او کنه؟ (۵۷۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: دا حدیث چې تاسو رانقل کړی دی په مشکوة شریف کې د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه په روایت راغلی دی په دا سي الفاظ باندي: عن ابی سعید الخدری قال: اتی النبی صلی الله علیه وسلم بجنازة لیصلی علیها فقال: هل علی صاحبکم دین؟ قالوا نعم، قال: هل ترک له من وفاء؟ قالوا: لا. قال: صلوا علی صاحبکم، قال علی بن ابی طالب رضی الله عنه علی دینه یا رسول الله! فتقدم فصلی علیه و فی روایة معناه، و قال: فک الله رهانک من النار کما فککت رهان اخیک المسلم، لیس من عبد مسلم یقضی عن اخیه دینه الا فک الله رهانه یوم القیامة رواه فی شرح السنة. (۱) په دې روایت کې هغه ټوله واقعه بیان شوې ده کومه چې تاسو په سوال کې بیان کړه او دومره په کې زیاتوب شته چې کوم مسلمان د خپل بل مسلمان ورور قرض ادا کړي الله رب العزت به هغه له دوزخ څخه بچ کړي او په مشکوة شریف کې یو بل حدیث له بخاري شریف څخه رانقل کړی دی چې له سلمه بن اکوع څخه روایت شوی دی په هغه کې دی چې حضرت ابو قتاده صحابي رضی الله عنه و نبي علیه الصلاة و السلام ته عرض وکړو کله چې نبي علیه الصلاة و السلام د مقروض د جنازې له لمانځه کولو څخه انکار وکړ چې یا رسول الله! د ده قرض زه ادا کوم تاسو ده ته د جنازې لمونځ ورکړئ نو بیا

---

(۱) مشکوة المصابیح ص: ۲۵۳ کتاب البیوع. باب الافلاس و الانظار.

نبي علیه الصلاة و السلام هغه ته د جنازې لمونځ ورکړی. رواه البخاری. (۱) او څرګندونه دي وي چي دا حکم په اول د اسلام کي و بیا چي کله ډیري فتحي وشوي نو نبي علیه الصلاة و السلام وفرمایل چي کوم څوک مقروض مړ شي د هغه قرض زه ادا کوم. (۲) او هغه ته د جنازې لمونځ ورکاوی او د کافر قرض هم حق العبد دی د هغه هم همدغه حکم دی. فقط

له نامسلمان څخه قرض اخیستونکی مسلمان که مړ شي نو پر وارثانو ادا کول ضروري دي او کنه؟

سوال: (۷۷) د کافر کوم مقروض مسلمان چي مړ شي او د هغه وارثان هم قرض نه ادا کوي نو د دې څه حکم دی؟ (۸۲۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: قرض که د مسلمان وي او که د کافر وي باید ادا کړل شي که بېله ادا کولو مړ شو نو د هغه دوه صورته دي چي ده د قرض په اندازه مال او جائیداد پرې ایښیی دی او کنه؟ که پرې ایښی وي نو وارثان باید د ده قرض ادا کړي که ادا نکړي نو د وارثانو مواخذه به کیږي. (۳) او که نه ؤ پرې ایښی نو که د مقروض نیت

---

(۱) عن سلمة بن اکوع ان النبی صلی الله علیه وسلم اتی بجنازة لیصلی علیها فقال: هل علیه من دین؟ قالوا: لا، فصلی علیه، ثم اتی بجنازة اخری فقال: هل علیه من دین؟ قالوا: نعم، قال: فصلوا علی صاحبکم، قال ابو قتادة: علی دینه یا رسول الله! فصلی علیه (مشکوة المصابیح ص:۲۵۲ کتاب البیوع، باب الافلاس و الانظار و صحیح البخاری ۳۰۶/۱ کتاب الکفالة، باب من تکفل عن میت دینا الخ)

(۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا توفی المؤمن و علیه دین، فیسال هل ترک لدینه من قضاء؟ فان قالوا: نعم، صلی علیه و ان قالوا: لا، قال: صلوا علی صاحبکم، فلما فتح الله عز و جل علی رسوله صلی الله علیه وسلم. قال: انا اولی بالمؤمنین من انفسهم، فمن توفی دو علیه دین فعلی قضاءه، و من ترک مالا فهو لورثته (سنن النسائی ۲۱۵/۱ کتاب الجنائز. الصلاة علی من علیه دین)

(۳) قال فی الشامی: و ان علم الوارث دین مورثه، والدین غصب او غیره، فعلیه ان یقضیه من الترکة، و ان لم یقض فهو مؤاخذ به فی الآخرة، و فیه قبیل اسطر: و هذا ان کان له مال (رد المحتار ۳۵۳/۳ کتاب اللقطة، قبیل مطلب فیمن علیه دیون و مظالم جهل اربابها ط رشیدیه)

د ادا کولو ؤ نو امکان لري چي الله رب العزت قرض ورکونکی راضي کړي او د مقروض مواخذه ونکړي. (۱) او امکان لري چي د مقروض مواخذه وکړي.

مقروض وويل چي: "زه د الله لپاره معافي غواړم" نو قرض معاف شو او کنه؟

سوال: (۷۸) عمر د زید مقروض دی زید د قرض غوښتنه ځني وکړه عمر په کومه وجه له ادا کولو انکار وکړ، حال دا چي عمر وس لري، زید ورته وویل چي: ته د الله لپاره معافي غواړې؟ نو عمر ورته وویل چي: زه د الله لپاره معافي غواړم د غه معافي الفاظ یې درې کرته وویل زید په عمر د معافي الفاظ وویل دوه دقیقې خاموش ؤ بیا یې عمر ته وویل چي ته وس لرې بیا هم معافي غواړې، معافي خو هغه چا ته کیږي چي ناوسه وي، عمر ورته وویل چي: تا کله په ما د معافی الفاظ وویل نو اوس ته له ما څخه د قرض د غوښتلو حق نلرې. (۱۳۳۸/۲۲۳۹هـ)

ځواب: په دې صورت کي د زید قرض چي پر عمر باندي دي معاف نه شو نو زید د خپل قرض غوښتنه له عمر څخه کولای شي. فقط

---

(۱) و فی فصول العلامیة: لو لم یقدر علی الاداء لفقره او لنسیانه او لعدم قدرته قال شداد و الناطفی رحمهما الله تعالی: لا یؤاخذ به فی الآخرة اذا کان الدین ثمن متاع او قرضا الخ. (رد المحتار ۳۵۳/۳ کتاب اللقطة قبیل مطلب فیمن علیه دیون و مظالم جهل اربابها ط رشیدیه)

كتاب القضاء و التحكيم

د قضا او د ربمګړي په بيان کي

د کافر پاچا له لوري د قضا ذمه واري قبلول

سوال: (۱) په فتاوی مولانا عبد الحی صاحب او در مختار کي د قضا قبلول د کافر پاچا له لوري صحيح ليکلي دي که د حق له نافذولو کافر پاچا منع کونکی نه وي، څکه نو ګزارش دی چي څرنګه چي نن صبا د رانيولو خرخولو، طلاق او نکاح احکام د شريعت سره سم نه فيصله کيږي نو د قضا قبلولو به څه حکم وي؟ (۱۳۴۱/۲۴۲هـ)

ځواب: دا سي فقهي روايتونه موجود دي چي د کافر پاچا له لوري قضا قبلول صحيح دي په در مختار کي راغلي دي: و يجوز تقلد القضاء من السلطان العادل و الجائر و لو كافرًا ذكره مسكين و غيره الا اذا كان يمنعه عن القضاء بالحق فيحرم و لو فقد وال لغلبة كفار وجب على المسلمين تعيين وال و اما للجمعة الخ و في رد المحتار: في التتارخانية: الاسلام ليس بشرط فيه اى في السلطان الذى يقلد (الى ان قال) و كل مصرفيه وال من جهتهم تجوز فيه اقامة الجمع و الاعياد و اخذ الخراج و تقليد القضاة و تزويج الايامى لا ستيلاء المسلم عليه، و اما اطاعة الكفر فذاك مخادعة و اما بلاد عليها ولاة كفار فيجوز المسلمين اقامة الجمع و العياد، و يصير القاضى قاضيا بتراضى المسلمين الخ. (۱) لنډه دا چي د ضرورت په وجه تقلد قضا في الوالى الكافر جائز دی. فقط

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار: ۴/۳۴۲ كتاب القضاء مطلب: ابو حنيفة رحمه الله دعى الى القضاء ثلاث مرات فابى ط رشيديه.

سوال: (۲) اذا ولی الکافر علیهم قاضیا و رضیه المسلمون صحت تولیته بلا شبهة.(۱) څخه څه مراد دی؟ (۱۷۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د زیاترو مسلمانانو خوښه بس ده.

سوال: (۳) زموږ د سیمي مشر یو راجه دی هغه قاضي وټاکی دا ورته وایي چي تاسو ته په مذهبي معاملو کي پوره اختیار دی په دې شرط چي ریاست د قانون په خلاف به نه وي آیا د داسي قاضي حکم به د شرعي قاضي په رنګه وي؟ (۳۷۳/۱۳۴۵هـ)

ځواب: ځیني فقهاؤ داسي فرمایلي دي چي د کافر حاکم له لوري هم ټاکل د قاضي صحیح دی. فی الشامی: و لکن اذا ولی الکافر علیهم قاضیا و رضیه المسلمون صحت تولیته بلا شبهة الخ . (۲) (شامی ص:۳۰۸ کتاب القضاء)

نن صبا به قاضي چاته ویل کیږي

سوال: (۴)... (الف) په کومو مسئلو کي چي قضا د قاضي شرط ده په هغوی کي نن صبا د عمل څه صورت دی؟ په اوس وخت قاضي باید څوک تسلیم کړل شي؟ که په لاندي لیکل شویو دلیلونو نن صبا و مسلمانو حکامو لکه اولسوال. دریمګړی. د محکمې مشر ته قاضیان وویل شي نو د منع کولو به کومه وجه وي؟ و یجوز تقلد القضاء من السلطان العادل و الجائر و لو کافرا ذکره مسکین.(۲) و اهله اهل الشهادة... و الفاسق اهلها فیکون اهله لکنه لا یقلد وجوبا و یاثم مقلده (الدر المختار) و فی الشامی فی الفتح: و الوجه تنفذ قضاء کل من و لاه سلطان ذو شوکة و ان کان جاهلا فاسقا و هو ظاهر المذهب عندنا و حینئذ فیحکم بفتوی غیره و فی الدر: و استثنی الثانی الفاسق ذا الجاه و المروءة فانه یجب قبول شهادته بزازیة. قال فی النهر: و علیه فلا یاثم ایضا بتولیته القضاء حیث کان کذلک(۳) (کذا فی الدر المختار و الشامی)

---

(۱) الشامی ۳٤۲/٤ کتاب القضاء مطلب فی حکم تولیة القضاء فی بلاد تغلب علیها الکفار. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار و رد المحتار ۳٤۲/٤ کتاب القضاء مطلب ابو حنیفة دعی الی القضاء ثلاث مرات فابی. ط رشیدیه

(۳) الدر و الرد ۳۳۳/٤ کتاب القضاء مطلب فی حکم القاضی الدرزی و النصرانی. ط رشیدیه

(ب) كل مصرفيه وال مسلم من جهتهم تجوز فيه اقامة الجمع و الاعياد و اخذ الخراج و تقليد القضاة و تزويج الايامى لاستيلاء المسلم عليه... و اما بلاد عليها ولاة كفار فيجوز للمسلمين اقامة الجمع و الاعياد و يصح القاضي قاضيا بتراضي المسلمين فيجب عليهم ان يلتمسوا واليا مسلما منهم. (۱) (شامي)

کله چي د کفارو ټاکلي واليان د شرعي واليانو په حکم کي دی چي په وجه د جمعې اخترونو لمونځونه د کونډو نکاحوي نور او نور صحيح دي نو څه وجه ده چي د قاضي اختيارات د جګړو ختمول او فيصلي کول او نور د کوم کس پر غاړه چي ور واړول شي هغه دي شرعي قاضي تسليم نکړل شي؟ د دغو مسلمانو حکامو د شرعي قاضي نه کيدو په هکله د در مختار له دغه لاندي ليکل شوي عبارت څخه استدلال کيدلای شي يجوز تقلد القضاء من السلطان العادل و الجائر و لو كافرا ذكره مسكين و غيره الا اذا كان يمنعه عن القضاء بالحق فيحرم انتهى. (۲)

د دې جواب دا په ذهن کي راځي چي که کافر له قضا بالحق څخه منع وکړي نو د قضا قبلول د دې سړي لپاره ناجائز دي ليکن که قبوله کړه نو قاضي ګرځي و في الفتح: و مقتضى الدليل ان لا يحل ان يقضى بها فان قضى جاز و نفذ. (۳)

ځواب: (الف) کوم دلائل چي تاسو رانقل کړي دي په دې باندي مسلمان حکام لکه اولسوال، دربمګړی، د محکمې مشر او نور په حکم د قاضيانو دي او د دوی په ذريعه هغه احکام چي پر قضا موقوف دي نافذېدلای شي له اکابرو علماؤ څخه د دې تصحيح رانقل شوې ده.

(ب) دغه تحقيق چي تاسو کړی دی دا هم صحيح دی او مسلمان والي چي د کافرو له لوري وي هغه تقليد د قضا او نور کارونه کولای شي او کوم جواب چي تاسو د الا اذا كان يمنعه عن القضاء بالحق فيحرم عبارت ورکړی دی هغه صحيح دی لنډه دا چي هغه قاضي ګرځي او په کومو کارونو کي چي قضا بالحق وکړي هغه نافذېږي او قضا بغير الحق شرعًا نه نافذېږي فقط

---

(۱) رد المحتار: ۴/۳۴۲ كتاب القضاء، مطلب: ابو حنيفة دعى الى القضاء ثلاث مرات فابى. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي: ۴/۳۴۲ كتاب القضاء مطلب: ابو حنيفة دعى الى القضاء ثلاث مرات فابى. ط رشيديه

(۳) الشامي: ۴/۳۳۳ كتاب القضاء مطلب في حكم القاضي الدرزى و النصرانى. ط رشيديه

د دربمګړي او واکمن مسلمان حاکم فیصله

سوال: (۵) په اوسني زمانه کي که د نکاح د ماتولو او نورو لپاره و قاضي ته ضرورت وي نو مسلمان حاکم یا عالم د قاضي ځای ناستی کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۹/۴۹۲هـ)

ځواب: د واکمن مسلمان حاکم فیصله د قاضي قائم مقام کیدلای شي او د دربمګړي حکم هم د قاضي په څېر دی. فقط

سوال: (۶) د دواړو فریقو ټاکلی دربمګړی او د حکومت له لوري مامور مسلمان حاکم فیصله شرعًا نافذ بدلای شي او کنه؟ (۸۷۰/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د دربمګړي فیصله د قاضي په رنګه نافذه ده او د مسلمان حاکم فیصله هم نافذه ده. فقط

سوال: (۷) فریقین چي کوم عالم خپل دربیم او قاضي وټاکي نو هغه نکاح ماتولای شي او کنه؟ (۴۰۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د دواړو ډلو منلی دربمګړی د قاضي په څېر دی. دربمګړی په دغه صورت کي نکاح ماتولای شي. فقط

سوال: (۸) دریں دیار چند اشخاص از علمائے مسلمین برائے فیصلہ مقدمہ مسلمین مقرر اند، آں علمائے مسلمین شرعًا شہادت از مدعی ومدعی علیہ گرفتہ در عقود و فسوخ وغیرہ حکم کنند، آں علماء شرعا قضاۃ خواہد شد وحکم او نافذ خواہد شد یانہ؟ (۱۴۷۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: از کتب فقہ معلوم شد کہ اوشاں بحکم قضاۃ می شوند وفیصلۂ شاں کہ مطابق شرع باشد نافذ می شود. (۱) فقط

سوال: (۸) ترجمه: زموږ په سیمه کي د مسلمانانو له علماء کرامو څخه څو کسان د مسلمانانو د جګړو او نورو د فیصلو لپاره ټاکل شوي دي دغه علماء شرعًا له مدعي او مدعی علیه څخه ګواهي واخلي په عقودو او فسوخو او نورو کي فیصلې کوي آیا دغه علماء کرام شرعًا قاضیان بلل کیږي؟ او د دوی فیصله به نافذه وي او کنه؟

---

(۱) حکما رجلا محکم بینهما بینة او اقرار او نکول و رضیا بحکمه (ای الی ان حکم) صح (الدر و الرد ۴/۳۸۷ کتاب القضاء باب التحکیم. مطلب: حکم بینهما قبل تحکیمه ثم اجازاه جاز. ط رشیدیه)

ځواب: د فقهي له کتابونو څخه معلومیږي چي دوی به د قاضیانو په حکم وي او د دوی فیصله چي د شریعت سره سمه وي نافذیږي به. فقط

سوال: (۹) دلته خو قاضي نشته، بیا په کومه مسئله کي چي د قاضي و حکم ته اړتیا وي باید څه وکول شي؟ مثلاً که انجلۍ بالغه شي خپله نکاح ماتول غواړي نو څنګه به کوي؟ او څوک قاضي جوړ کړي؟ او عالم قاضي ټاکل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۸۱هـ)

ځواب: عالم د قاضي ځای ناستی نشي کیدلای. اما څوک چي دواړي ډلي دربمګړی ومني هغه د قاضي قائم مقام په خیار فسخ او نورو کي کیدلای شي کذا فی الدر المختار و الشامی. (۱)

په موجوده زمانه کي د محکمې منصف شرعي قاضي دی او کنه؟

سوال: (۱۰) په موجوده زمانه کي د محکمې منصف د قاضي حکم لري او کنه او د ورکړي راکړي فیصلي کونکی محکمې فیصلې د عمل وړ دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۳۷۴هـ)

ځواب: منصف د قاضي حکم نلري او منصف چي کومه فیصله وکړي هغه د قاضي د فیصلې په ډول نه ده. فقط

د عیسائی سلطنت قاضي شرعي قاضي دی او کنه؟

سوال: (۱۱) د عیسائی سلطنت قاضي ته شرعي ویلای شو او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۵۸۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و یجوز تقلد القضاء من السلطان العادل و الجائر و لو کافراً ذکره مسکین وغیره الا اذا کان یمنعه عن القضاء بالحق فیحرم و لو فقد وال لغلبة کفار وجب علی المسلمین تعیین وال و اما للجمعة فتح، و فی الشامی: و لکن اذا ولی الکافر علیهم قاضیا و رضیه المسلمون صحت تولیته بلا شبهة الخ. (۲) نو په همدې وجه د دغو قاضیانو قضا من وجه تسلیم کړل شوې ده کوم چي د کفارو د سلاطینو له لوري قاضیان وټاکل شي خو له هر اړخ هغوی قاضیان نه دي.

---

(۱) مخکنی حواله

(۲) الدر و الرد ۳٤۲/٤ کتاب القضاء مطلب: ابو حنیفة دعی الی القضا ثلاث مرات فابی. ط رشیدیه

په شرعي جرګه کي و نوي مسلمان عالم ته د څه ویلو او فیصله کولو حق شته او کنه؟

سوال: (۱۲) د شرعي فیصلي په اړه کومه جرګه وي نو په هغه کي و نوي مسلمان عالم ته د څه ویلو او فیصله کولو حق شته او کنه؟ (۷۱۸/۱۳۴۲هـ)

ځواب: شرعي فیصله خو د عالم کار دی، ځکه نو په همدغه نوي مسلمان عالم باید فیصله وکړي او ده ته د څه ویلو حق شته الله رب العزت فرمايي: [ان اکرمکم عند الله اتقاکم] (سورة حجرات آیت:۱۳) یعني د الله رب العزت په نیزد زیات بزرګ هغه دی چي زیات پرهیزګار وي په دیني معامله کي د قوم هیڅ لحاظ نشته چاته چي کومه مسئله معلومه وي هغه بنودلای شي او فیصله کولای شي. فقط

له دربمګړي ټاکلو وروسته متنازع فیه جائیداد خرڅول

سوال: (۱۳) زید او عمر د اقرار پانه ولیکله دربمګړی وټاکي. عمر له فیصلي مخکي متنازع فیه جائیداد پر بکر خرڅ کړی بکر پر جائیداد باندي قبضه وکړه دربمګړي ته جواب ورکړی ایا دغه د اقرار پانه فسخ شوه او کنه؟ (۳۲/۱۰۱۴-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د دربمګړي د اقرار پانه په دې صورت کي فسخ شوه. (۱)

له فریقینو څخه د هري ډلي خپل دربمګړی ټاکل

سوال: (۱۴) حکم رجلان حکمین یعني حکم احدهما حکما علاحدة و حکم الآخر حکما علاحدة. هل یصح حکمهما ام لا؟ (۸۰۸/۱۳۴۵هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: حکما رجلین فلا بد من اجتماعهما علی المحکوم به الخ. قال فی رد المختار: قوله (فلا بد من اجتماعهما) فلو حکم احدهما او اختلفا لم یجز کما

---

(۱) و ینفرد احدهما بنقضه ای التحکیم بعد وقوعه ا هـ (الدر المختار) الاولی ان یبدله بقوله: قبل الحکم (الشامي: ۳۸۸/٤ کتاب القضاء باب التحکیم. ط رشیدیه) نو د عمر متنازع فیه جائیداد خرڅول د دربمګړي ختمول دي او په فریقینو کي و هري ډلي ته له فیصلي مخکي د دربمګړي ختمولو اختیار شته. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

فی البحر عن الولو الجیة و فیه عن الخصاف: لو قال لامراته: انت علی حرام و نوی الطلاق دون الثلاث فحکما رجلین فحکم احدهما بانها بائن و حکم الآخر بانها بائن بالثلاث لم یجز لانهما لم یجتمعا علی امر واجب انتهی. (۱) (شامی ۳٤۹/٤ کتاب القضاء) فعلم انه لم یجز حکم احد الحکمین فی هذه الصورة لانهما لم یجتمعا علی حکم واحد. فقط

سوال: (۱۴) ترجمه: دوو کسانو دوه سرې د ربمګړي وټاکل یعني په دوی دواړو کې هر یو و ځان ته د ربمګړی ونیوی نو آیا د دوو کسانو فیصله صحیح ده او کنه؟

ځواب: په در مختار کې راغلي دي چې دوو کسانو دوه سرې د ربمګړي ونیول نو د دواړو د ربمګړو اتفاق پر فیصله ضروري دی.

په شامي کې د ماتن تر قول "فلا بد من اجتماعهما" لاندې راغلي دي نو که په دواړو کې کوم یو فیصله وکړي (او بل یې ونکړي) یا په فیصله کولو کې دواړه اختلاف وکړي نو فیصله نه صحیح کیږي لکه چې له ولو الجیة څخه په بحر کې رانقل شوي دي او په بحر کې له خصاف څخه رانقل کړي دي چې که کوم سړي خپلې ښځې ته ووایې چې ته پر ما حرامه یې او په دې سره له دریو طلاقونو څخه د کم نیت وکړي بیا دواړه ښځه او خاوند دوه کسان د ربمګړي وټاکي یو په دوی دواړو کې د طلاق بائن فیصله وکړي او بل د دریو طلاقونو فیصله وکړي نو د یو فیصله هم نه صحیح کیږي ځکه چې د دواړو د ربمګړو پر یوه خبره اتفاق ونکړو. نو له دې څخه معلوم شو چې له دوو د ربمګړو څخه د یوو فیصله دغه وخت نه صحیح کیږي ځکه چې د دواړو پر حکم اتفاق رانغلی (او دا شی ضروري دی) فقط

د ربمګړی جوړېدل او فیصله کول صحیح دي

سوال: (۱۵) د ربمګړی جوړېدل او د معاملو فیصلې کول صحیح دي او کنه؟ (۱۲۳۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د ربمګړی جوړېدل څه پروا نلري کله چې په دې پوهیږي چې دا فیصله د شرعي سره سمه کولای شم، او که نیت سم وي نو ثواب هم شته خو ضروري ده چې فیصله به د شرعي سره سمه کوي کنې ګنهکاریږي.

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۳۸۸/٤ کتاب القضاء. باب التحکیم. ط رشیدیه

غیر مقلد دربمګړی تاکل او د اهل سنتو د ده له پیروي څخه مخ اړول

سوال: (۱۲) ... (الف) یو قوم چې پکې اهل سنت حنفیان هم شته او غیر مقلدین(سلفیان) هم شته ټولو یو غیر مقلد دربمګړی وټاکی غیر مقلد دربمګړی ټاکل شرعًا څنګه دي؟

(ب) که اهل سنت د دغه سړي له پیروي څخه مخ اړونه وکړي نو ګناه شته او کنه؟ (۱۴۲۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: (الف) غیر مقلد دربمګړی کیدلای شي شرعًا څه پروا نلري نور د خپلو ښیګړو دي فریقین پخپله خیال وساتي چې آیا د ده په دربمګړي جوړولو کي به خو دوی ته څه تاوان نه وي که تاوان وي نه دي جوړوي او غوره دا دي چې داسي سړی دربمګړی ونه ټاکي.

(ب) هیڅ ګناه پکې نشته.

کوم قاضي چې داسي ووايي چې زما د شریعت سره هیڅ کار نشته هغه د قضاء او امامت د منصب وړ نه دی

سوال: (۱۷) په کلي کي یو مولوي صاحب د یو سړي نکاح سره د دې چې ښځه ژوندۍ ده د خوښيني د لور سره وروکړه دا وخت د قاضي صاحب پلار موجود ؤ ده ته وویل شول چې قاضي صاحب تاسو د کلي قاضي او ملک یې ستاسو بې اجازې او د شرعي خلاف نکاحو تړل شوه پر دې باندي تاسو خپل حکم وکړئ او په حکومت کي وباندي عارضه وکړي مګر قاضي صاحب وویل چې زما د شریعت سره هیڅ کار نشته داسي سړی د قضاء د منصب وړ دی او کنه؟ آیا کلیوال د داسي قاضي پر ځای بل قاضي ټاکلای شي او کنه؟ کوم قاضي چې خپله د قضاء وظیفه نه اجراء کوي د هغه جائیداد او انعام حکومت ضبطولای شي او کنه؟ کله چې قاضي د جامع مسجد د امامت وظیفه هم نه ترسره کوي؟ (۲۳۵۱/۱۳۳۷هـ)

ځواب: څوک چې داسي الفاظ وکاروي چې "زما د شریعت سره هیڅ کار نشته" هغه سخت ګنهکار دی د داسي الفاظو څخه د کفر وېره ده توبه دي وباسي او کلیوالو ته پکار دي چې د حکومت څخه دا غوښتنه وکړي چې موجوده قاضي د دغه وظیفې وړ نه دی، دی لري کړئ او د ده پر ځای داسي څوک

قاضي وټاکئ چي ضروري اسلامي وظيفې اجراء کړي او د امامت او نورو بندوبست وکړي او ترڅو چي د حکومت له لوري کوم انتظام کيږي مسلمانان بايد د جامع مسجد امامت او نورو انتظام پخپله وکړي او کوم صالح او عالم سړی امام مقرر کړي او حکومت ته عارضه وکړي چي موجوده قاضي کله چي اسلامي وظيفه نه اجراء کوي نو دی له دغه وظيفې لري کړي يا دي هدايت ورته وکړي چي آئنده به د شريعت سره سمې فيصلې کوې او که دی داسي نه کوي نو بيا بل قاضي وټاکئ او جائيداد او انعام دي هغه ته ورکول شي لنډه دا چي موجوده قاضي خو د حکومت له لوري ټاکل شوی دی نو اوس هم له حکومت څخه غوښتنه کول پکار دي او عارضه کول پکار دي پخپله کوم بندوبست کول نه دي پکار. فقط

د شرعي په خلاف کارکونکي قاضي د قضا او امامت حکم

سوال: (۱۸) څه فرمايي علماء د دين په لاندي مسئلو کي د کلي قاضي که د شريعت خلاف کار کوي د هغه څه حکم دی؟ چي لاندي تفصيل ليکل شوی دی:

۱- يوه کونډه ښځه چي حامله وه کله چي و ميعاد ته لس، شل ورځي پاته وې ده د هغې د وفات شوي خاوند د کوچني ورور سره نکاح ور وکړه.

۲- يوه ښځه چي خاوند يې ژوندی دی او د کټي وټي لپاره دوه کاله کيږي چي لال پور ته تللی دی د ده له تګ وروسته د ده ښځه حامله شوه کله چي حمل د اتو مياشتو شو د دې نکاح يې د دې د خاوند د مشر ورور سره وروکړه او کله چي قاضي صاحب د خلکو مخکي را وغوښتل شو پوښتنه ځني وشوه نو ده دا وويل چي زه داسي کوم ځکه چي داسي نکاح کول څه پروا نلري.

۳- د يوې انجلۍ شرعي نکاح شوې وه بيا د کوروالو په دوکه په بل ځای کي قاضي نکاح وروکړه حال دا چي شرعي نکاح د ټولو خلکو مخکي شوې وه.

۴- د هندوانو دا رواج دی چي په څه خاصو ورځو کي د کلي ټولي هندوانې د کلي څخه دباندي په يو ميدان کي راجمع شي او ډيري ناوړه او بې کاره خبري اتري کوي چي مسلمانان يې واوري حيران شي چي د داسي قول او عمل کونکيو ښځو به څه انجام وي؟ ده

و خپلو بالغو لوڼو ته د هلته تللو اجازه کړې ده. یو خوا ده ښار قاضي او بلي خوا داسي کارونه کوي او په دونو کي د ښځو سره د ده لوڼي سندري وايي.

۵- د محرم په میاشت د ښځو سره د قاضي لوڼي د امامانو په نوم ماتم کوي او دی یو مخ منع نه ورته کوي دا کلی یو ډیر غټ کلی دی چي پکي هندوان او مسلمانان هم ډیر پکي او سیږي په دې کلي کي سږ کال په اختر کي قاضي صاحب یوه بله نادره پیښه کړه چي پکي ده په اسلام کي د اختلاف راوستلو کوښښ وکړو زموږ په کلي کي سره د دې چي ښه پوهه عالم او د تفسیر ښه زده کړه لرونکي شته همیشه خلک په هغه پسي لمنځونه کوي نو موږ قاضي د اختر په ورځ لس پنځلس کسان جلا کړو خپل جماعت یې شروع کړی قاضي د قرآن شریف له علم څخه یو مخ نابلده دی دوو څلورو کسانو ورته وویل چي لمونځ یو ځای وکړه خو قاضي یوه هم ونه منله او وې ویل زما په روزي کي فرق راځي ګو د ده د روزۍ وسیله همدغه ده د کوم سړي چي داسي حالات وي د هغه امامت جائز دی او کنه؟ (۱۹۰۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: داسي سړی چي د فعلونو یادونه پورته وشوه د امامت لایق نه دی او د نکاح تړلو شرعًا اهل نه دی او ناسته پاسته د داسي سړي سره هم ښه نه ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۹) که کوم قاضي په زور په یو سړي ښځه طلاقه کړي او د طلاقي شوي ښځي نکاح بې د عدې له تېرېدو د بل چا سره وروکړي په داسي صورت کي هغه د قاضي او متولي کیدو وړ دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۵۷۸)

ځواب: داسي سړی فاسق دی، د قاضي کېدو وړ نه دی او د متولي جوړولو هم لائق نه دی. فقط

د شیعه ګانو تعزیه جوړونکی قاضي جوړول

سوال: (۲۰) زموږ د ښار قاضي پخپل لاس تعزیه جوړوي د ده قاضي جوړول او نکاحوي په کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۴۳هـ)

ځواب: تعزیه جوړول حرام دي د دې ارتکاب کونکی فاسق او بدعتي دی له داسي سړي سره اړیکي ختمول

پکار دي د ی هیڅکله د دې ور نه دی چي نکاح تړلو او قاضي جوړېدو ته پرېښود ل شي خو که دی د چا نکاح وتړي نو هغه صحیح کیږي.

د قضاء منصب په میراث نه رسي بلکه اهلیت شرط دی

سوال: (۲۱) د اسلامي پاچاهی په زمانه کي چي کوم خلګ قاضیان وتاکل شول په هندوستان کي یو ځای ځای د دوی د نسل خلګ موجود دي نو آیا وراثة دا خلګ هم د قضاء د منصب حقداران دي که اهلیت د قضاء ضروري دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۴۸۰ھ)

ځواب: په دې کي وراثت نشته اما که مسلمانان په دوی نکاح وتړي او دوی ته د دوی حقوق ور ادا کړي نو دا صحیح دي نور د دوی څه لازم حق نه دی.

سوال: (۲۲) آیا هغه سړی قاضي کیدلای شي چي نه په عربي علم او نه په شرعي مسئلو پوهیږي که هغه سړی چي په عربي علم او شرعي مسائلو پوهه وي؟ آیا په قاضي کیدو کي میراث جاري کیږي که د شرعي علوم اهل کیدل ضروري دي؟ (۱۳۳۷/۲۱۸۳ھ)

ځواب: د امام او نکاح تړونکي لپاره دا ضروري دي چي د لمانځه په مسئلو پوهه وي نکاح تړنه او خطبه ویلای شي نیک او صالح وي د عربي علم ضروري نه دی که د اردو (پښتو) کتابونو څخه د لمانځه او د نکاح مسئلې زده کړي نو هغه هم امام او قاضي کیدلای شي او د امام او قاضي لپاره ضروري دي چي دی فاسق او غیر مقلد (سلفي) نه وي ځکه چي د فاسق سود خور او نورو امامت تحریمي مکروه دی او غیر مقلد د احنافو امام نشي کیدلای. فقط

د فاسق قاضي عزل

سوال: (۲۳) مسلمانانو د لمانځه او نکاح لپاره یو قاضي مقرر کړی وروسته معلوم شو چي هغه یو مخ جاهل او زاني دی مړی بېله لمونځ ورکولو ښخوي او د نامسلمانو سره زیاتره ناسته کوي او کور په کور سوالونه کوي نو څنګه قاضي باید وي؟ او داسي قاضي عزلول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۷۴۷ھ)

ځواب: داسي سړی فاسق دی لمونځ پسي مکروه دی دی د قاضي او مقتدا جوړولو وړ نه دی د ده معزولول او بل قاضي مقررول پر مسلمانانو ضروري دي اما که دی له حرامو او ناوړه حرکاتو څخه توبه وباسي نو بیا دی امام او قاضي جوړ کړي. فقط

آیا په غوږو روند قاضي کیدلای شي؟ او په اطرش او اصم کي فرق

سوال: (۲۴) یو سړی په غوږو دومره روند دی چي تر څو ده ته په غوږ کي په زوره ږغ ونکړي خبره دی نه اوري آیا داسي سړی د نکاح په فیصله کي دریمګړی یا قاضي جوړېدلای شي او په اطرش او اصم کي څه فرق دی؟ (۱۳۴۲/۱۳۱۵هـ)

ځواب: ظاهر دا دی چي نوموړی سړی دریمګړی او قاضي جوړېدلای شي لکه چي په درمختار کي راغلي دي: و اما الاطرش و هو من یسمع الصوت القوی فالاصح الصحة بخلاف الاصم الخ قوله فالاصح الصحة لانه یفرق بین المدعی و المدعی علیه و قیل: لا یجوز. لانه لا یسمع الاقرار فیضیع حقوق الناس بخلاف الاصم الخ(۱) و اطرش او اصم د فرق په اړه د درمختار له عبارت څخه دا څرګندیږي چي اطرش قوي صوت اوري او اصم یو مخ هیڅ نه اوري د قاموس له تحقیق څخه هم داسي معلومیږي په هغه کي لیکلي دي: الطرش أهون الصم(۲) او د لغت له ځینو کتابونو څخه دا معلومیږي چي طرش له صمم څخه زیات کوڼ والی دی او د شامي له عبارت څخه هم څه دا فهمیږي. په فرائد اللغة کي راغلي دي: (وقر) ثقل او ذهاب السمع. فاذا زاد فهو "صمم" فاذا زاد فهو "طرش" فاذا زاد حتی لا یسمع الرعد فهو صلخ(۳) لنډه دا چي په سوال کي کوم صورت دی چي په زوره آواز هغه سړی اوري نو له اورېدلو وروسته چي دی څه فیصله او حکم وکړي صحیح کیږي او ښکاره خبره ده چي کله دی دریمګړی یا قاضي

---

(۱) الدر و الشامی ۳۳۴/۴ کتاب القضاء مطلب فی قضاء العدو علی عدوه. ط رشیدیه

(۲) القاموس المحیط للشیخ محمد بن یعقوب الفیروز آبادی الشیرازی: ۵۷۴/۱ باب الشین فصل الطاء.

(۳) فرائد اللغة للاهنویکوس لامنس الیسوعی الجز الاول فی الفروق ص: ۱۶۴ باب الصاد ۶۱۷: صمم و وقر و طرش و صلخ المطبوعة: المطبعة الکاثو لیکیة للاباء الیسوعیین بیروت، سنة: ۱۸۸۹.

وتاکل شي نو د دواړو ډلو خبري اوريدو کوښښ به کوي او هغه صورت به خپل کړي چي د دواړو ډلو خبري پکي اوري او هره ډله به ځانته راغواړي په زوره خبري کولو حکم به ورته کوي دا وخت دی دروغو په خبر کړي. فقط

قاضي او دريمګړی که پر فيصله اجرت اخلي

سوال: (۲۵) در اکثر اطراف دستور است که چون متخاصمین برائے فیصل خصومت حکم سازند و به حکم او راضی شوند، حکم از وشان روپیه می گیرد والا بخانه او نمی رود ایں را بار برداری می گویند، ایں گرفت جائز است یا نه؟ (۱۳۴۳/۳۹۸ھ)

جواب: در کتب فقه مسطور است که اگر قاضی را از بیت المال چیزے وصول نه شود او را بقدر اجر مثل گرفتن جائز است، پس ہمیں حکم برائے محکم است. (۱)

سوال: (۲۵) ترجمه په زياتره سيمو کي دا رواج دی چي کله فريقين د جګړې د فيصلي لپاره څوک دريمګړی وټاکي او د هغه په فيصله منلو راضي شي نو دريمګړی له دوی څخه روپۍ اخلي کني د دوی کور ته نه ځي او دې ته باربرداري وايي دا روپۍ اخيستل جائز دي او کنه؟

جواب: د فقهي په کتابونو کي ليکل دي چي که قاضي ته له بيت المال څخه څه نه ورکول کيده نو د ده لپاره د اجر مثل په اندازه اخيستل جائز دي، ځکه نو دغه حکم د دريمګړي لپاره هم کيدلای شي.

پر فيصله کولو له فريقينو څخه روپۍ اخيستل

سوال: (۲۶) يو دريمګړی و فريقينو ته په سل روپۍ اخيستلو فيصله وکړه، دا اخيستل جائز دي او کنه؟ که نه دی جائز نو څه کول پکار دي؟ او دغه سړي ته يهودي او نصراني ويل صحيح دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۴۸۷ھ)

جواب: قال في الشامي: و يؤيد الاول مامر عن الفتح من ان تعليل النبي صلى الله

---

(۱) و ليس له اجر و ان كان قاسما و ان لم يكن من بيت مال مقرر
و رخص بعض لا نعدام مقرر و في عصرنا فالقول الاول ينصر
(الدر المختار مع الشامي ٤/٤١٠ كتاب القضاء قبيل كتاب الشهادات. ط رشيديه)

علیه وسلم دلیل علی تحریم الهدیة التی سببها الولایة و کذا قوله: و کل من عمل المسلمین عملاً حکمه فی الهدیة حکم القاضی(۱) و فی الدر المختار فی باب التحکیم: و ینبغی ان لا یجوز ان اهدی الیه وقت التحکیم.(۲) له دغو روایتونو څخه د قاضي او د ږمګړي لپاره د متخاصمینو څخه د هدیې اخیستلو حرمت ثابتیږي او په بیان شوي صورت کې چې د ږمګړي له فریقینو څخه کومې سل روپۍ اخیستي دي دا ښکاره رشوت دی د دې په حرام والي او ناجائز کېدو کې هیڅ شک نشته او په رشوت اخیستلو چې کوم سړی فیصله کوي د هغه فیصله نه نافذیږي او د رشوت واپسول لازم دي فی الدار المختار: او ارتشی... و حکم لا ینفذ حکمه و فی الشامی عن الفتح: ثم الرشوة علی اربعة اقسام: منها ماهو حرام علی الآخذ و المعطی و هو الرشوة علی تقلید القضاء و الامارة الثانی: ارتشاء القاضی لیحکم و هو کذلک و لو القضاء بحق لانه واجب علیه الخ و فی القنیة: الرشوة یجب ردها و لا تملک(۳) نو دغه د ږمګړي حتماً باید فریقینو روپۍ بیرته ورکړي کنې د حقوق عباد په مؤاخذه به ونیول شي نو رنو د یهودي او نصراني نسبت ده ته مه کوئ چې دا کار د ده باعث د فسق دی نه د کفر او ارتداد.(۴) فقط

د قاضي او مفتي هدیه قبلول او خاص میلمستیا قبلول او د قاضي او مفتي فرق

سوال: (۲۷) هل یجوز للقاضی او المفتی قبول الهدیة و اجابة الدعوة المخصوصة من المدعی او المدعی علیه لیقضی بینهما، و اخذ الرویة منهما بان یقال لاحدهما ان اعطیتنی کذا و کذا فاقضی لک و الا فلا، و ما الفرق بین القاضی و المفتی؟ (۱۳۴۵/۲۴۸۸هـ)

ځواب: لا یجوز للقاضی قبول الهدیة و الدعوة الخاصة(۵) و فی المفتی تفصیل

---

(۱) الشامی ۳۴۵/۴ کتاب القضاء مطلب فی هدیة القاضی. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۳۸۹/۴ کتاب القضاء آخر باب التحکیم. ط رشیدیه

(۳) الدر و الرد ۳۳۷/۴ کتاب القضاء مطلب فی الکلام علی الرشوة و الهدیة. ط رشیدیه

(۴) د ږمګړي چې له فریقینو څخه کومې روپۍ اخیستي دي که هغه اجرت و ګرځول شي، نو حکم بدلیږي لکه چې د مخکني سوال په جواب کې تیر شو. ځکه چې د ږمګړي ته د حکومت له لوري هیڅ نه ورکول کیږي په خلاف د قاضي ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۵) و یقضی فی المسجد... او فی داره و یاذن عموما. و یرد هدیة. التنکیر للتقلیل ابن کمال و هی ما یعطی بلا شرط اعانة. بخلاف الرشوة... و یرد اجابة دعوة خاصة و هی التی لا یتخذها صاحبها لو لا حضور القاضی(الدرمع الرد ۳۴۵/۴ کتاب القضاء مطلب فی هدیة القاضی. ط رشیدیه)

ذکره فی الشامی(۱) و لا یجوز اخذا الفلوس علی القضاء بالکیفیة المذکورة قال فی الدر المختار: المفتی یفتی بالدیانة و القاضی یقضی بالظاهر الخ و قال فی الشامی: قوله: (المفتی یفتی بالدیانة و القاضی یقضی بالظاهر الخ) مثلاً اذا قال رجل: قلت لزوجتی: انت طالق قاصدا بذلک الاخبار کاذبًا فان المفتی یفتیه بعدم الوقوع و القاضی یحکم علیه بالوقوع لانه یحکم بالظاهر. (۲) فقط

سوال: (۲۷) ترجمه: آیا د مدعی یا مدعی علیه هدیه یا خاص میلمستیا د قاضي او مفتي لپاره قبلول جائز دي؟ چې د دواړو تر منځ فیصله وکړي او د دواړو څخه روپۍ اخیستل څنګه دی؟ داغه راز که یو ته داسي وویل شي چې که ته ما ته دومره راکوي نو زه ستا په حق کې فیصله کوم کنې نه کوم، او بل دا چې د قاضي او مفتي فرق څه دی؟

ځواب: د قاضي لپاره هدیه او خاص میلمستیا قبلول جائز نه دي او د مفتي په اړه تفصیل دی چې په شامي کې راغلي دي او په پورته بیان شوي کیفیت سره فیصله کولو باندي روپۍ اخیستل جائز نه دي په در مختار کي راغلي دي چې مفتي پر دیانت فتوی ورکوي او قاضي پر ظاهر فیصله کوي او په شامي کې د ماتن تر قول المفتی یفتی بالدیانة و القاضی یقضی بالظاهر الخ لاندي فرمایلي دي: مثلاً یو سړي وویل: ما خپلې ښځې ته وویل: انت طالق په دې حال کې چې دی له دې څخه دروغو خبر ورکولو اراده لري نو مفتي به د طلاق نه واقع کیدو فتوی ورکوي او قاضي به د طلاق واقع کیدو فیصله کوي ځکه چې قاضي په ظاهر باندي فیصله کوي.

---

(۱) قال فی الدر المختار: و فیها (التتارخانیة): یجوز للامام و المفتی و الواعظ قبول الهدیة الخ و فی رد المختار: فی الخانیة: من انه یجوز للامام و المفتی قبول الهدیة و اجابة الدعوة الخاصة، ثم قال: الا ان یراد بالامام امام الجامع الخ... و الاولی فی حقهم ان کانت الهدیة لاجل ما یحصل منهم من الافتاء و الوعظ و التعلیم عدم القبول لیکون علمهم خالصا لله تعالی، و ان اهدی الیهم تحببا و تود دالعلمهم و صلاحهم فالاولی القبول الخ (الدر و الرد ۳۴۵/۴ کتاب القضاء مطلب فی حکم الهدیة للمفتی. ط رشیدیه)

(۲) الدر و الرد ۳۳۹/۴ کتاب القضاء مطلب فی الاجتهاد و شروطه. ط رشیدیه

د تنخوا لرونکي قاضي له خلکو څخه پر نکاح ترلو روپۍ اخیستل

سوال: (۲۸) د کوم قاضي لپاره چي د خدمت کولو په غرض د حکومت له لوري جائیداد او میاشتنۍ تنخواه مقرره وي د هغه قاضي لپاره له خلکو پر نکاح ترلو روپۍ اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۵۰۲/۱۳۳۷ھ)

ځواب: که پخپله خوښه خلک و ده ته څه هدیه ورکړي نو صحیح او حلال دي لاطلاق الحدیث تھادو اتحابوا(۱) او زور کول او په زور څه اخیستل د ده لپاره صحیح نه دي کما ورد: لا یحل مال امرىء مسلم الا بطیب نفس منه الحدیث(۲) فقط

د قاضي قضاء ماتېدلای شي او کنه؟

سوال: (۲۹) د قاضي قضاء ماتېدلای شي او کنه؟ (۳۲/۱۲۰۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: دا مسئله مشهوره ده چي قضاء د قاضي نشي ماتېدلای مګر کله چي هغه حکم د کتاب او سنت مشهوره او اجماع په خلاف وي یا دا چي په مسئله مجتهد فیها کي د خپل مذهب په خلاف حکم کړی وي: قضی فی مجتهد فیه بخلاف رایه ای مذهبه... لا ینفذ مطلقا الخ و به یفتی قضی من لیس مجتهدا کحنفیة زماننا بخلاف مذهبه عامدا لا ینفذ اتفاقا و کذا ناسیا عندهما و لو قیده السلطان بصحیح مذهبه کزماننا تقید بلاخلاف الخ. (۳) و فیه تفصیل.

سوال: (۳۰) په یوه پېښه کي قاضي قضاء وکړه او صحیح یې وکړه آیا له صحیح قضاء وروسته که کوم سړی د یو

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تھادوا تحابوا (شعب الایمان للبیهقی ٤٧٩/٦ الباب الحادی و الستون باب فی مقاربة اهل الدین و موادتهم الخ. فصل فی المصافحة و المعانقة عند الالتقاء المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت)

(۲) عن ابی حرة الرقاشي عن عمه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا یحل مال امری مسلم الابطیب نفس منه(شعب الایمان البیهقی ٤ .٣٨٧ الباب الثامن و الثلاثون: باب فی قبض الید عن الاحوال المحرمة و یدخل فیه تحریم السرقة و قطع الطریق، المطبوعة: دار الکتب العلمیة)

(۳) الدر المختار مع الشامی ٣٧١/٤ کتاب القضاء مطلب فی قضاء القاضی بغیر مذهبه. ط رشیدیه

مالدار په لحاظ کولو حکم مات کړی نو شرعًا جائز دی او کنه؟ او دا جمله چي په هدایه کي لیکلې ده "فان حکم بشهادتهم ثم رجعوا لم یفسخ الحکم" (۱) صحیح ده او کنه؟
(۱۱۳۰/۱۳۴۳ھ)

ځواب: که د قضاء د نفاذ شرطونه موجود شوي وي نو بیا دا قضاء نشي ماتېدلای و التفصیل یطلب من الشامی حیث قال: ثم اعلم انهم قسموا الحکم ثلاثة اقسام: قسم: یرد بکل حال الخ و قسم: یمضی بکل حال الخ و قسم: اختلفوا فیه الخ(۲) (کتاب القضاء جلد رابع شامی) فقط

قضاء علی الغائب په وخت د ضرورت نافذېدلای شي او کنه؟

سوال: (۳۱) څه فرمایي علماء د دین په دې مسئله کي د هندې نکاح د دې مور او پلار کله چي د نابالغه وه د زید سره کړې وه، کله چي هنده بالغه شوه نو د هندې مور او پلار وغوښت چي هنده واده کړي تر څو کلونو پوري خو زید او د ده پلار خبره مخ او شاته کوله آخر پای ته ووېل شول چي د رواج سره سم یا هنده در واده کړي یا طلاق ورکړي تر څو د طلاق وروسته د دې بل ځای بندوبست وشي خو دا هم دوی ونه منله چي طلاق ورکړي د واده په اړه ځنډ کاوی، آخر د ښځي له طرفه په محکمه کي ورباندي عارضه وشوه چي یا خو دي واده وکړي او نان و نفقه دي هنده ته ورکړي یا دي نکاح ماته کړي دوه کاله وشول چي زید او د ده پلار دواړه پټ دي په مختلفو ولایتونو کي مزدوري کوي خپله گزاره کوي چیري چي د دوی درک لګیدلی دی محکمې پرچې ورلیږلې ده خو په پرچې عمل نه کوي له یو ځای څخه بل ځای ته ځي آخر د مجبورۍ په وجه په محکمه کي مسلمان حاکم د نکاح د تنسیخ حکم په وجه د نه حاضرېدو و عدالت ته وکړی اوس پوښتنه دا ده چي د نکاح د فسخي حکم شرعًا نافذ دی؟ د محکمې د دغه حکم په وجه چي د مدعی علیه د نه حاضرېدو له امله ورکړي په حقیقت کي نکاح فسخ شوه اوس شرعًا و ښځي ته اختیار شته چي بل ځای نکاح وکړي که د مسلمان حاکم د نکاح د تنسیخ دغه حکم شرعًا نافذ نه وي نو په داسي صورت کي چي نه زوج نان و نفقه ورکوي نه حقوق

---

(۱) الهدایة: ۱۷۳/۳ کتاب الرجوع عن الشهادات.

(۲) الشامی: ۳۶۱/٤ کتاب القضاء مطلب: ما ینفذ من القضاء و مالا ینفذ. ط رشیدیه

د زوجیت اداکوي او نه محکمې ته راحاضرېږي خای پر ځای پټ کرځي په داسې صورت کي به د ښځې د خلاصون څه صورت وي چې له دې بې ځایه بنده ځان خلاص کړي په آئمه اربعه کي یو چا د ضرورت او مجبوري پر مهال قضاء علی الغائب جائز بللې ده؟ چي د ضرورت پر وخت د نورو مسئلو په رنګه په هغه هم عمل وشي؟ بینوا توجروا (۱۳۴۲/۴۱۵)

ځواب: اصل مذهب د احنافو دا دی چي قضاء علی الغائب جائز نه ده او په صورت د غایبوالي د زوج او د نفقې نه ورکولو په ښځه او خاوند کي جلاوالی نشي کیدلای په در مختار کي راغلی دی: و لا یفرق بینهما لعجزه عنها بانواعها الثلاثة و لا بعدم ایفانه لو غائبا حقها و لومو سرا و جوزه الشافعی باعسار الزوج و بتضررها بغیته و لو قضی به حنفی لم ینفذهم لو امر شافعیًا فقضی به نفذ الخ و فی الشامی بعد نقل الخلاف: نعم یصح الثانی عند احمد... و علیه یحمل ما فی فتاوی قارئ الهدایة حیث سئل عمن غاب زوجها و لم یترک لها نفقه فاجاب: اذ اقامت بینة علی ذلک و طلبت فسخ النکاح من قاض یراه ففسخ نفذ و هو قضاء علی الغالب و فی نفاذ القضاء علی الغائب روایتان عندنا فعلی القول بنفاذه یسوغ للحنفی ان یزوجها من الغیر بعد العدة و اذا حضر الزوج الاول و برهن علی خلاف ما ادعت من ترکها بلانفقة لا تقبل بینته لان البینة الاولی ترجحت بالقضاء فلا تبطل بالثانیة الخ(۱) (شامی، باب النفقة) و فی کتاب القضاء منه: و قال فی جامع الفصولین: قد اضطربت آراؤهم و بیانهم فی مسائل الحکم للغائب و علیه، و لم یصف و لم ینقل عنهم اصل قوی ظاهر یبنی علیه الفروع (الی ان قال) ففی مثل هذا لو برهن علی الغائب و غلب علی ظن القاضی انه حق لا تزویر و لا حیلة فیه، فینبغی ان یحکم علیه و له و کذا للمفتی ان یفتی بجوازه دفعا للحرج و الضرورات و صیانة للحقوق عن الضیاع مع انه مجتهد فیه، ذهب الیه الائمة الثلاثة و فیه روایتان عن اصحابنا و ینبغی ان ینصب عن الغائب و کیل یعرف انه

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۷۱۲/۲ کتاب الطلاق، باب النفقة، مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة و بالغیبة. ط رشیدیه

یراعی جانب الغائب و لا یفرط فی حقه اھـ و اقره فی نور العین قلت: و یؤیده مایـأتی قریبـا فی المسخر و کذا مافی الفتح من باب المفقود: لا یجوز القضاء علی الغائب الا اذا رای القاضی مصـلحة فی الحکم له و علیه محکم فانه ینفذ لانه مجتهد فیه اھـ قلت: و ظاهره و لو کان القاضی حنفیا و لـو فی زماننا و لا ینافی مامر لان تجویز هذا للمصـلحة و الضـرورة انتـهی. (۱) (شامی) له دوغو روایتونو څخه څرګند شو چې په پوښتل شوي صورت کې د نکاح فسخ کولو حکم صحیح شو او ښځې ته اختیار دی چې له عدې وروسته بله نکاح وکړي. فقط

د درېمګړي له فیصلې وروسته که یوه ډله انکار وکړي؟

سوال: (۳۲) عبدالرحیم او کریم بخش مدعیان جان بي بي د کریم بخش لور مدعی علیها د دواړو فریقینو تر منځ متنازع فیه عقد د نکاح دی عبد الرحیم وایي د جان بي بي سره زما نکاح شوې ده او جان بي بي د دغه نکاح څخه انکار کوي فریقینو مولوي محمد غازي صاحب چې یو مذهبي عالم دی درېمګړی او ثالث وټاکی نوموړی درېمګړی د مدعی د څلورو صحیح ګواهانو په ګواهي ورکولو دا فیصله وکړه چې دا نکاح ثابته شوه او د حکم تر ظاهرېدو پورې د دواړو ډلو څخه هیچا هم د مولوي محمد غازي صاحب د درېمګړتیا څخه انکار نه دی کړی لیکن تر حکم ظاهرېدو وروسته نوموړي مدعی علیها د خپل پلار کریم بخش په ولیت له دغه فیصلې انکار وکړ او س پوښتنه دا ده چې د نوموړي درېمګړي دغه حکم د فریقینو لپاره منل لازم دي که کوم صورت د دغه حکم د ماتولو کېدلای شي؟ (۹۰۷/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: (له مولوي مفتي غلام مرتضی میانوي ضلع شاه پور) دنوموړي درېمګړي فیصله د فریقینو لپاره منل لازم دي نو کوم څوک چې بې د عبد الرحیم له طلاق ورکولو یا مرګه د جان بي بي نکاح د بل چا سره ښېله حلال ګڼلو کوي هغه نکاح تړونکی فاسق دی او که دا نکاح تړونکی داسي نکاح حلاله بولي نو بیا هغه کافر دی.

ځواب: اقول و بالله التوفیق دا صحیح دی چې فریقینو که څوک درېمګړی تسلیم کړي او له حکم کولو مخکې د دې درېمګړي له درېمګړتیا څخه په دوی کې چا رجوع ونکـړه نـو حکـم د ده چـې بنـا وي پـر شـرعي قواعـدو نافـذ او صـحیح

---

(۱) رد المختار ۳۷۷/٤ کتاب القضاء فی اواخر مطلب: للمسائل التی یکون القضاء فیها علی الحاضر قضاء علی الغائب. ط رشیدیه

کبیري. قوله و رضيا بحكمه اى الى ان حكم كذا فى الفتح فافاد انه احترز عما لو رجعا عن تحكيمه قبل الحكم او عما لورضى احدهما فقط الخ(۱) (شامی) او و کوم حرام فعل ته حلال ویونکي ته کافر ویلو کي داسي تفصيل دی کوم چي په شامي کي له نور العين څخه رانقل کړی دی اذا لم تكن الآية او الخبر المتواتر قطعى الدلالة او لم يكن الخبر متواترًا او كان قطعيا لكن فيه شبهة او لم يكن الاجماع اجماع الجميع او كان و لم يكن الاجماع اجماع الصحابة او كان و لم يكن اجماع جميع الصحابة او كان اجماع جميع الصحابة و لم يكن قطعيا بان لم يثبت بطريق التواتر او كان قطعيا لكن كان اجماعا سكوتيا ففى كل من هذه الصور لا يكون الجحود كفرًا(الى ان قال) تنبيه: فى البحر و الاصل ان من اعتقد الحرام حلالا فان كان حراما لغيره كمال الغير لا يكفر و ان كان لعينه فان كان دليله قطعيا كفرو الا فلا الخ(۲) (شامی) فقط و الله تعالی اعلم

له فریقینو څخه د شهادت اخیستلو وروسته که دریمګړي فیصله و عالم ته وسپاري نو د دوی د دریمګړتیا څه حکم دی؟

سوال: (۳۳) زید او بکر متخاصمینو د خپلي روغي کولو لپاره څلور کسان دریمګړي وټاکل دوی ته لیکلي ورکړ چي تاسو کومه فیصله وکړه مونږ ته منظوره ده دریمګړیو له فریقینو څخه شهادت واخیستی فیصله یې و یو شرعي عالم ته وسپارله په دې صورت کي د دوی دریمګړتیا پر ځای پاته شوه که دوی پر شرعي فیصله یا کاغذونو د یوه لي په حق کي لاس لیک یا د نور څه لیکلو اجازه لري؟ (۱۳۴۵/۳۰۲)

ځواب: په درمختار کي راغلي دي: و ليس له اى للمحكم تفويض التحكيم الى غيره الخ قال فى الشامى: فلو فوض و حكم الثانى بلا رضاهما فاجازه القاضى لم يجز الا ان يجيزاه بعد الحكم و قيل: ينبغى ان يكون كالوكيل الاول اذا اجاز فعل الوكيل الثانى فتح. (۳)(شامی)

---

(۱) الشامی: ۳۸۷/٤ كتاب القضاء باب التحكيم مطلب: حكم بينهما قبل تحكيمه ثم اجازاه جاز. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۳۱۱/۳ كتاب الجهاد. باب المرتد. مطلب فى منكر الاجماع. ط رشيديه

(۳) الدر و الرد ۳۸۷/٤ كتاب القضاء باب التحكيم مطلب: حكم بينهما قبل تحكميه ثم اجازاه جاز ط رشيديه.

او په کتاب الوکالة کي دا لیکلي دي: الوكيل لا يوكل الا باذن آمره الخ فان وكل الوكيل غير بدونهما اى بدون اذن و تفويض ففعل الثانى بحضرته او غيبته فاجازه الوكيل الاول صح الخ(۱) له دې څخه ملعوم شو چي کوم عالم ته درېمګړیو د فریقینو په خوښه فیصله وسپارله که هغه د درېمګړیو په رضا او اجازه فیصله وکړه نو هغه صحیح او لازمه ده او درېمګړي د دې وجه معزول نه شول.

آیا قاضي یا درېمګړی بې د فریقینو له بیان او شهادته فیصله کولای شي؟

سوال: (۳۴) بې د فریقینو له حاضرېدو او بې له ګواهانو که قاضي قضاء وکړي نو جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۷۳ھ)

ځواب: دا قضاء نه صحیح کیږي و تفصیله فی کتب الفقه.(۲)

سوال: (۳۵) زید په یو جګړه کي درېمګړی وټاکل شو ده مدعی او مدعی علیه پخپله مخکي حاضر نه کړل او نه یې د ده په اړه بیان واورېدی او نه یې له ګواهانو څخه ګواهي اخیستې ده او نه یې د دوی عارضه ته وکتل بلکه همداسي جګړه فیصله کړه څه حکم دی؟ (۳۲/۲۴۵۹-۱۳۳۳ھ)

ځواب: دا ډول فیصله کول شرعًا صحیح نه ده او دا فیصله د درېمګړي د شرعي خلاف ده فقط

سوال: (۳۶) د فریقینو قبول کړی درېمګړی بې د فریقینو له بیان او شهادته فیصله کولای شي او کنه؟ (۳۲/۱۰۵-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د فریقینو قبول کړی درېمګړی بې د فریقینو له بیان او شهادته او یا بې له اقرار یا انکاره فیصله نه شي کولای.

بې له دعوی قاضي د چا حق پر بل چا ثابتولو حق نلري

سوال: (۳۷) قاضي بېله دعوی د یو چا حق پر بل چا ثابتولای شي او کنه؟ (۳۲/۱۰۵-۱۳۳۳ھ)

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ٤/٤٥٦ كتاب الوكالة قبيل باب الوكالة بالخصومة و القبض. ط رشيديه

(۲) راجع للتفصيل الى الشامى ٤/٣٣٢ كتاب القضاء مطلب الحكم الفعلى. ط رشيديه

ځواب: بېله دعوی او بې له بینه او نورو هیڅوک پر چا حق نشي ثابتولای قال: فی الدر المختار: حکما رجلا فحکم بینهما ببینة او اقرار او نکول و رضیا بحکمه(ای الی ان حکم) صح الخ(۱)

د یو قاضي فیصله بل قاضي ردولای شي او کنه؟

سوال: (۳۸) که په کومه مسئله کې یو ځای فیصله کړې وي نو بل قاضي هغه ردولای شي او کنه؟ (۳۵/۵۵۷-۱۳۳۶هـ)

ځواب: بل قاضي هغه نشي ردولای.

د قاضي او دربمګړي لپاره د کتاب حواله ورکول ضروري نه دي

سوال: (۳۹) له کوم کتاب څخه چې قاضي او دربمګړی شرعی فیصله کړې ده د کتاب عبارت رانقلول او د کتاب حواله ورکول ضروري دي او کنه؟ (۳۲/۱۰۵-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د عبارت رانقلول او کتاب ته حواله ورکول ضروري نه دي مګر دا ضروري دي چې حکم به د مذهب سره سم وي لنډه دا چې دربمګړی له څو مسئلو پرته د قاضي په رنګه ده، څرنګه او په کوم ځای کې چې د قاضي حکم نافذیږي د دربمګړي دا هم نافذیږي و لاحاصل انه کالقاضی الا فی مسائل الخ. (۲) (در مختار) فقط

د قضاء په وظیفه کې که اختلاف راشي نو ترجیح به چاته وي؟

سوال: (۴۰) زید او بکر د یوې سیمې د نکاح تړلو د استحقاق او د قضاء د وظیفې دعوی کونکی دی د زید دغه استحقاق د بکر په مقابله کې په لاندې وجو او چت او مرجح تسلیم کیږي.

۱-د زید پلرونه او نیکه ګان په یو بل پسې پر همدې وظیفه راغلي دي.

---

(۱) الدر و الرد ۳۸۷/٤ کتاب القضاء باب التحکیم، مطلب: حکم بینهما قبل تحکیمه ثم اجازاه جاز. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامی ۳۸۷/٤ کتاب القضاء باب التحکیم، مطلب: حکم بینهما قبل تحکیمه ثم اجازاه جاز. ط رشیدیه

۲- زید پرته له دې چې کورنی اسحقاق او خانداني عزت لري د ... ریفه او نجیب الطریفین تعلیم یافته او د شریعت متبع هم دی.

۳- د بکر په اړه مشهوره ده او عموماً باور هم داسي کیږي چې دی او د ده نور ورونه رنډی زاده، مخلوط النسل او حرامیان دي چې خالص جاهل لوفر، منافق او بدکار دي د خپلي ډلي په هڅونه او همکاري داغه راز د زید د کمزورتیا له امله د قضاء د وظیفی دعوی لرونکی دی او د زید د دومره پخراني او خانداني حق د غصبولو کوښښ کوي نو بکر او د ده ورونه شرعًا د مسلمانانو د نکاحو تړلو حق لري او په دوی پسي لمونځ جائز دی؟ او د مسلمانانو تاکنه د نوموړي زید په اړه شرعًا جائز او صحیح ده؟

(۱۳۴۷-۴۲/۳۴۲هـ)

ځواب: په دې صورت کي زید چي قوم د قضاء امامت او نکاح تړني د وظیفي لپاره تاکلی دی زیات حقدار دی، د ده په مقابل بکر چي په سوال کي د حالاتو یادونه شوې ده د قضاء نکاح تړني او امامت لائق نه دی. فقط

سوال: (۴۱) قاضي "الف" د یوې بدچلندي بدکاري ښځي سره نکاح وکړه او "ب" د څلور پنځه کلونو په عمر د خپلي مور سره راغلی. د "الف" اولادونه شو "الف" "ث" خپل سکه خور یې خپل زوی او ځای ناستي جوړ کړی د الف له وفات وروسته "ث" د ټولو مسلمانانو په خوښه د اخترونو، جمعي او پنځه وخته لمنځونه ورکول او نکاحوي تړلې او تر اوسه یې کوي او س "ب" د قضاء د وظیفي دعوی لري خو د ولد الزنا کیدو له وجهي عام مسلمانان له ده څخه ناراض دي په دې صورت کي د "ث" په موجودیت کي "ب" د قاضي او امام جوړېدو حق لري او دعوی د ده صحیح ده او کنه؟

(۱۳۴۷-۴۲/۱۵۰۱هـ)

ځواب: په دې صورت کي د "ب" د امامت نکاح تړني او نورو دعوی د "ث" په موجودیت کي چي د مسلمانانو منل شوي امام او قاضي جائز نه ده.

د قومي جرګه کونکي شرطونه

سوال: (۴۲) په اسلام کي د قومي جرګه کونکي لپاره کوم کوم شرطونه دي؟

(۱۳۴۵/۲۵۲هـ)

ځواب: د جرګې لپاره دې داسې خلک وټاکل شي چې د هغوی په دین داري، دیانت، تقوی، پوهنه او فراست د خلکو اطمینان وي او د دین او دنیا پوهنه الله رب العزت و دې ته ورکړې وي.

د دعوی تر سره کولو څه طریقې او د هغې حکم

سوال: (۴۳) قومي جرګه د مقدماتو کاروایي په لاندې لیکل شویو طریقو کوي شرعًا چې ځنګه حکم وي خبر راکړئ:

۱- د عارضې هر کاغذ به ټاپه شوی وي چې بیه یې معلومه ده او دا روپۍ به خلافت کامیټي ته ورکول کیږي.

۲- د عارضې پر هر کاغذ او لیک د بیانونو رانقلولو یو فیس مقرر دی چې لیکونکي ته ورکول ضروري دی.

۳- عارضه دې پخپله ولیکي یا په محرر چې د دې کار لپاره ټاکل شوی دی.

۴- د فریقینو د ګواهانو پر بیانو فیصله کیږي.

۵- له فریقینو څخه پر یو چاپ شوي کاغذ وعده اخیستل کیږي چې کومه فیصله وشوه مونږ ته منظوره ده.

۶- د فیس او ګواه محکمې ته رابللو لپاره هم مقرري روپۍ اخیستل کیږي.

۷- د ګناه پر کولو مثلاً شراب خوړلو، خمار کولو جرمانه اخیستل کیږي او هغه د کامیټي سره جمع کیږي.

۸- د خلافت کامیټي له آمدني څخه د محرر او نورو کارکونکیو تنخواوي او په کاغذ او نورو اړتیاوو کې صرفیږي لنډه دا چې جرګه وال یوه پیسه هم استفاده نه ځني کوي صرف د مذهبي او قومي خدمتونو لپاره خپل قیمتي وخت او مال لګوي.

۹- د بې لمانځو هم فیصله کیږي په دې کې جرمانه جائز ده او کنه؟ (۱۴۴۵/۱۳۴۰هـ)

ځواب: ۱- شرعًا دا څه پروا نلري.

۲- دا هم څه پروا نلري.

۳ صحیح دی.
۴ له مدعي څخه باید گواه واخلي او له مدعي علیه څخه قسم
۵-دا څه پروا نلري.
۶ د ضرورت او مصلحت په اندازه دي وکړل شي.
۷-په مالي جرمانه کي شرعًا خبره او تفصیل شته په دي کي احتیاط کول بکار دی.
۸-دا ډیر ښه او صحیح دی.
۹-له جرماني څخه پرته نوري طریقي لکه اړیکي ختمول او نور دي وکړل شي. فقط

له مدعي علیه څخه د عارضي مصرف اخیستل

سوال: (۴۴) ... (الف) له مدعی علیه څخه د مقدمي خرڅ اخیستل جائز دي او کنه؟
(ب) په حکومت کي د عارضي کولو پر مهال په روپۍ باندي څلور آني چي - بنګله په عرف کي ورته "کهیتي پرن" وایي اخیستل جائز دي او کنه؟ په دي وجه اخیستل کیږي چي په عارضه کي چي کوم بې ځایه مصرف کیږي په دې سره به د هغه جبران وشي
(۱۳۳۷/۱۵۵هـ)

ځواب: (الف) له متعنت مدعی علیه څخه خرڅ اخیستل صحیح دي. (۱)
(ب) دا د سود صورت دی دا راز زیاتوب اخیستل صحیح نه دي

سوال: (۴۵) مدعی علیه که د مدعی حق په هیڅ ډول نه ورکوي مدعی مجبور او لاچار شي عارضه وربانديي وکړي او په محکمه باندي د فیصلي لپاره مقدمه وړاندي کړي ته وسپاري نو د مقدمي مصرف به شرعًا پر مدعی علیه وي او کنه؟
(۱۳۴۳/۲۰۹هـ)

ځواب: کله چي د مدعی علیه سرکښي ثابته ده نو د حکومت مصرف پر ده دی. کما في الشامي: و في منية المفتي: مؤنة المشخص قبل في بيت المال، و في الاصح على المتمرد اهـ و هذا ما في الخانية و قال قبله و في البزازية: و يستعين باعوان الوالى على الحضار و اجرة الاشخاص في بيت المال، و قيل: على المتمرد الخ شامي. و في الدر المختار: و اجرة المحضر

---

(۱) د دې تفصیل د آئنده سوال (۴۵) په جواب کي دی

علی المدعی هو الاصح. بحر عن البزازیة و فی الخانیة: علی المتمرد و هو الصحیح(۱) لنډه دا چې په دې کې د تصحیح اختلاف او تفصیل دی لیکن ظاهره همدا ده چې د مدعی علیه د تمرد په صورت به حکومت مصرف پر ده اچوي. فقط

سوال: (۴۶) نن صبا چې کومې عارضې په محکمه کې کیږي په دې کې د مدعی مصرف د وکیل، ګواهانو او نورو په اړه ډیر کیږي نو له مدعی علیه څخه د اخیستلو ده ته سند ورکول کیږي نو د مدعی لپاره د اصل مصرف څخه سیوا چې کوم سند ورکول شي هغه د مدعی لپاره اخیستل جائز دي اکنه؟ (۱۵۴/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: دا مصرفونه اصلاً پر مدعی دی لیکن که د مدعی د تمرد په وجه عارضه کولو ته مجبور شو نو له مدعی علیه څخه اخیستل جائز دي کوم چې په رښتیا مصرف شوی وي هغه دي واخلي نو دي ډی بیرته ورکړي. فقط

په دربمګړي ترکه ویشل او له ویش وروسته د ځینو وارثانو ناراضه کیدل

سوال: (۴۷)... (الف) زید او هنده ښځه او خاوند دواړه وفات شو د مدري او پدري ترکې په هکله دوارثانو تر منځ اختلاف راغلی په دربمګړي یعني جرګه باندې فیصله کول ومنل او د اقرار پانه وارثانو پخپله منځ کې ولیکله په محکمه باندې تصدیق کړه چې عمر او بکر چې کومه فیصله وکړي زموږ به قبوله وي او په شرعي او دیواني او نورو هر ډول محکمو کې به قبوله وي اوس چې دربمګړي کوم څه او څومره برخه د شریعت سره سمه معلومه کړي هغه به په شرعي محکمه کې د شرعي حکمونو سره سمه د قبول وړوي او کنه؟

(ب) که دربمګړیو منقوله جائیداد په اندازه باندې او غیر منقوله جائیداد ته په کتو اندازه ولګوي و نارینه ته دوې برخې او ښځینه ته یوه برخه لکه چې د شریعت حکم دی په قبضه باندې ورکړي نو د تصدیق شوي د اقرار د پاڼې سره سم به د تسلیمولو وړوي او کنه؟

(ج) په دواړو بیان شویو صورتونو کې په یو ډول فیصله وشوه او له وارثانو څخه حامد او محمود خپله خپله برخه چې د جرګې په فیصله کې دوی ته ورکول شوي بیع یا چاته هبه کړي او له دې وروسته له فیصلې څخه خپله ناخوښي ښکاره کړي نو په دې صورت کې د دوی عذرونه د شرعي سره سم اوریدل

(۱) الدر و الرد ۳٤٥/٤ کتاب القضاء مطلب فی اجرة المحضر. ط رشیدیه

کیدلای او دغه د جرګې فیصله په دې صورت کې ردېدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۱ھ)

ځواب: (الف) که د ربمګړی د شریعت سره سمه فیصله کړې ده او کومې برخې چې د هر وارث د الهی قانون له مخه کیږي د هغه سره سمه فیصله کړې ده او برخې وېشلې دي او دا فیصله نافذه، صحیح او د تسلیمولو وړ ده پر دربمګړي لازم دي چې د ټولو وارثانو برخې ورمعلومې کړي.

(ب) دا قاعده صحیح او د شریعت سره سمه ده چې د مړي په اولاد کې نارینه ته دوې برخې او ښځې ته یوه برخه ورکول کیږي نور جائیداد باید په تحقیقي اندازه ووېشل شي که د جائیداد وېش صحیح و نه شو وه او کمښت او زیاتوب ښکاره شو نو وارثان عذر کولای شي او له نوي سره به وېش کیږي.

(ج) په در مختار کې راغلي دي چې که په وېش کې غبن فاحش ظاهر شو نو هغه وېش باطلیږي بیا به له نوي سره وېش کیږي. و لو ظهر غبن فاحش لا یدخل تحت التقویم فی القسمة فان کانت بقضاء بطلت اتفاقًا لان تصرف القاضی مقید بالعدل و لم یوجد و لو وقعت بالتراضی تبطل ایضا فی الاصح. (۱) فقط

آیا نائب قاضي له عزلېدو وروسته بیرته نائب جوړېدلای شي؟

سوال: (۴۸) یو نائب قاضي د فسخ نکاح په جرم کې د نیابت له خدمت څخه لرې کړل شو بیا همدغه سړی د نایب والي خدمت کولای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۸۹۰ھ)

ځواب: نوموړی نائب قاضي بیا د نائب قاضي په حیث خدمت کولای شي، شرعًا هیڅ پروا نلري. فقط

په هندوستان کې د قضاء د منصب په اړه د څو مهمو پوښتنو جوابونه

سوال: (۴۹) څه فرمایي علماء د دین د دې مسئلې په هکله چې نن صبا ځینې د کونسل مسلمان غړي

(۱) الدر المختار مع الشامي ۱۸۷/۵ کتاب القسمة، مطلب فی الرجوع عن القرعة. ط رشیدیه

و حکومت ته دا عارضه کونکي دي چي په هندوستان کي د مسلمانانو لپاره د قضاء منصب قایم کړي د دې په اړه د څو خبرو پوښتنه لرم:

(الف) آیا شرعًا د مسلمانانو لپاره نصب د قاضي ضروري دی؟

(ب) قاضي څه ته وايي او څوک قاضي جوړېدلای شي؟

(ج) په کومو کومو معاملو کي و قاضي ته اړتیا شته؟

(د) په کومو معاملو کي چي قاضي ته اړتیا شته په هغه کي د نامسلمان حاکم فیصله ته اعتبار شته او کنه؟

(ه) که د یو ځای مسلمان پخپل اتفاق د نکاح ماتولو او نورو لپاره قاضي وټاکي نو هغه شرعي قاضي کیدلای شي او کنه؟ او د نکاح ماتولو او نورو په اړه به د ده فیصلو ته اعتبار وي او کنه؟

(و) که حکومت له خپل طرفه په هندوستان کي کوم مسلمان د نکاح ماتولو او نورو لپاره قاضي وټاکي نو هغه به شرعي قاضي وي او کنه؟ او د ده فیصلي به د نکاح د فسخي او نورو په اړه معتبري وي او کنه؟

(ز) د کونسل مسلمان غړي چي کومه عارضه د مسلمان قاضي د ټاکلو لپاره و کونسل ته وکړي په دې کي عام مسلمانان باید اتفاق ورسره وکړي او کنه؟ او په دې معامله کي زموږ لپاره کوښښ ورسره کول پکار دی او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۳۱۷هـ)

ځواب: (الف) د شرعي قاضي یعني مسلمان حاکم قائمول پر مسلمانانو فرض دی چیري چي قدرت وي لکه په دار الاسلام کي او چیري چي قدرت نه وي لکه په هندوستان کي نو هلته د دې په اړه و حکومت ته عارضه کول ضروري دي قال فی البدائع: فنصب القاضی فرض لانه ینصب لاقامة امر مفروض و هو القضاء... قال تبارک و تعالی لنبینا المکرم علیه افضل الصلوة و السلام: فاحکم بینهم بما انزل الله و القضاء هو الحکم بین الناس بالحق و الحکم بما انزل الله عز و جل فکان نصب القاضی لاقامة الفرض فکان فرضا ضرورة... و قد سماه محمد رحمه الله فریضة محکمة لانه لایحتمل النسخ لکونه من الاحکام التی عرف و جوبها بالعقل و الحکم العقلی لایحتمل الانتساخ و الله تعالی اعلم(۱) ملخصا.

---

(۱) بدائع الصنائع ۴۳۸/۵ کتاب آداب القاضی

په بدائع کي دا بیان کړی دی چي د قاضي مقررول فرض دي ځکه چي قاضي د یو فرض کار یعني قضاء لپاره ټاکل کیږي الله رب العزت و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ارشاد فرمایلی دی چي د خلکو تر منځ په هغه حکمونو فیصلي کوه چي الله پر تاسو نازل کړی دی او قضاء و خلکو ته حق خبره او د ما انزل الله حکم کول دی نو د قاضي ټاکل د فرض قائمولو لپاره دی؛ ځکه فرض دی.. او امام محمد رحمه الله خو د قاضي مقررولو ته محکم ویلي دي چي د نسخ هم احتمال نلري ځکه چي د قاضي مقررول له هغو احکامو څخه دی چي د هغه ضروري کیدل د عقل څخه هم معلوم شوي دي او عقلي احکام د نسخ احتمال نلري. و الله اعلم

(ب) فی العالمغیریة: و القضاء فی الشرع: قول ملزم یصدر عن ولایة عامة کذا فی خزانة المفتین... و لا تصح ولایة القاضی حتی یجتمع فی المولی شرائط الشهادة کذا فی الهدایة: من الاسلام و التکلیف و الحرمة و کونه غیر اعمی و لا محدودا فی قذف و لا اصم و لا اخرس و أما الاطرش و هو الذی یسمع القوی من الاصوات فالاصح جواز تولیته کذا فی النهر الفائق اهـ (۱) (۲۰/۷)

په عالمګیري کي راغلي دي: په شریعت کي قضا یو داسي ملزم قول دی چي له داسي چا څخه صادریږي چي ورته ولایة عامه حاصل وي داغه رنګه په خزانة المفتیین کي راغلي دي او د قاضي ولایت تر هغه وخته نه صحیح کیږي تر څو چي په ده کي د شهادت شرطونه موجود نه وي داغه راز په هدایه کي راغلي دي (۱) اسلام (۲) مکلف کیدل (۳) آزاد به وي (۴) ړوند به نه وي (۵) د زنا په تور کي به سزا شوی نه وي (۶) او ګونګی کوڼ به نه وي لیکن هغه کوڼ چي په زوره ږغ اوري اصح مذهب دا دی چي د هغه تولیت جائز دی.

و فی الدر المختار: القضاء شرعًا: فصل الخصومات وقطع المنازعات... و ارکانه ستة... حکم و محکوم به و له و محکوم علیه و حاکم و طریق و اهله اهل الشهادة... و الفاسق اهلها فیکون اهله لکنه لا یقلد و جوبًا و یاثم مقلده کقابل شهادته به یفتی اهـ (۲) (۴۲۴/۴)

او په درمختار کي راغلي دي: قضاء په شرع کي د خصوماتو فیصله کولو او جګړو ماتولو نوم دی او

---

(۱) الفتاوی الهندیة ۳۰۶/۳-۳۰۷ کتاب ادب القاضی الباب الاول فی تفسیر معنی الادب و القضاء و اقسامه الخ.

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۳۳۰/٤ کتاب القضاء. ط رشیدیه

د دې شپږ رکنونه دي.. (۱) حکم (۲) محکوم به (۳) محکوم له یعنی مدعی (۴) محکوم علیه یعني مدعی علیه (۵) حاکم (۲) او د قضاء طریقه او د قضاء اهل اهل شهادت دی.. او فاسق که د شهادت اهل دی نو د قضاء به هم اهل وي یعني که قاضي وټاکل شي نو د ده حکم نافذیږي لیکن واجب دی چې فاسق قاضي ونه ټاکل شي او ټاکونکی ګنهکاریږي لکه چې د فاسق شهادت قبلونکی له دې څخه معلوم شو چې د قاضي یعني حاکم مسلمان لپاره د حکومت خاوند کیدل د قضاء رکن دی چې چیري دی قضاء کوي هلته د ده ولایت او حکومت عام وي که څه هم پر یو خاص فرقه وي او که څه هم په خاصو معاملو کې وي. قال فی رد المحتار: ثم القاضي تتقید ولایته بالزمان و المکان و الحوادث،، اهـ(۱) (۴۶۲/۴)

په رد المحتار کې وویل چې د قاضي ولایت د زمان، مکان او حوادثو سره مقید وي چې حکومت ورسره نه وي هغه قاضي نشي کیدلای او د قضا صحیح کیدو لپاره په قاضي کې د دغه صفتونو کیدل ضروري دی مسلمان به وي کافر به نه وي عاقل به وي بالغ به وي آزاد به وي مریی به نه وي ستر ګور به وي ړوند به نه وي محدود فی القذف به نه وي او کوڼ ګونګی به نه وي نور که په زوره اوري نو دا پروا نلري او ضروري ده چې قاضي به عالم هم وي که جاهل مسلمان قاضي وټاکل شي او هغه و علمّاء ته له استفتاء کولو وروسته فیصلې کوي دا هم ممکن دي خو ښه نه دي ځکه چې د علماء په جواب ښه ځان پوهه کولو کې له جاهل څخه کوتاهي کیږي او غلطیږي او د عالم په موجودیت کې په جاهل قاضي ټاکلو سره مسلمانان ګنهکاریږي کله چې د حکومت له طرفه دوی ته د ټاکني واک ورکول شي او که فاسق قاضي وټاکل شي نو هغه قاضي ګرځي مګر فاسق قاضي جوړول جائز نه دي او فاسق هغه څوک دی چې کبیره ګناه کوي او توبه نه کاږي یا پر صغیره دوام کوي نور په کومو مسئلو کې چې قضا د قاضي یعني د مسلمان حاکم کیدل شرط دی چې بیان بې راځي په داسي مسئلو کې د کافر حاکم فیصله هیڅکله کافي نه ده د کافر حاکم په فیصله نه نکاح فسخ کیدلای شي نه طلاق واقع کیدلای شي نه نسب ثابتېدلای شي نه مفقود ته مړی ویل کیدلای شي و غیر ذلک.

(ج-د) په شریعت محمدیه او ملت اسلامیه کې ځیني معاملات داسي دي چې پکې د شرعي قاضي یعني

---

(۱) الشامی: ۳۳۱/٤ کتاب القضاء مطلب: الحکم الفعلی. ط رشیدیه

د مسلمان حاکم فیصله معامله خلاصولای شي د نامسلمان حاکم فیصله په دغو معاملو کي په هیڅ وجه ګټه نشي کولای بلکه شرعًا د نامسلمان حاکم فیصله په دغو معاملو کي کالعدم او ناقابل اعتبار ده د نمونې لپاره زه یو څو مسئلې درته بیانوم چي پکي د هند مسلمانان و شرعي قاضي یعني مسلمان حاکم ته سخت اړ دي:

(۱) د یو انجلۍ نکاح د دې د پلار او نیکه څخه سیوا بل ولي وروکړه له بلوغ وروسته انجلۍ په دغه نکاح راضي نه ده نو دغه نکاح شرعي قاضي یعني مسلمان حاکم په یو څو شرطونو فسخ کولای شي نامسلمان حاکم که فسخ کړي نو هغه فسخ ته اعتبار نشته (۱) (شامی معه در مختار ۴۸۲/۲، هدایه ۲۹۷/۲)

(۲) یو بالغي ښځي خپله نکاح د خانداني مهر څخه په کمه اندازه یا د یو غیر کفو (ناسیال) سره بې د ولي له خوښي پخپله وکړه نو په اصل مذهب کي و خاندان والو ته حق ورکول شوی چي دوی د قاضي یعني مسلمان حاکم و مخته دعوی وکړي په لومړي صورت کي مهر ورپوره کړي او په دوهم صورت کي نکاح ورفسخ کړي (۲) (شامی معه در مختار ۴۸۲/۲، ۵۳۱/۲) فسخ کول د قاضي یعني مسلمان حاکم کار دی د بل چا نه دی.

(۳) یو سړي د خپل زوی د ښځي سره زنا وکړه یا بې په بد نیت لاس وروړی نو دا ښځه پر خپل خاوند حلاله نه شوه پاته مګر نکاح تر هغه وخته نه ده ماته تر څو قاضي یعني مسلمان حاکم نکاح نکړي فسخ

---

(۱) و حاصله انه اذا کان المزوج الصغیر و الصغیرة غیر الاب و الجد، فلهما الخیار بالبلوغ او العلم به فان اختار الفسخ لا یثبت الفسخ الا بشرط القضاء (شامی ۳۳۱/۲ کتاب النکاح مطلب مهم: هل للعصبة تزویج الصغیر امراة غیر کف له؟ ط رشیدیه) و ان زوجهما غیر الاب و الجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ، ان شاء اقام علی النکاح و ان شاء فسخ... و یشترط فیه القضاء (هدایة: ۳۱۷/۲ کتاب النکاح، باب فی الاولیاء و الاکفاء)

(۲) و له ای للولی اذا کان عصبة... و القاضی الاعتراض فی غیر الکفء فیفسخه القاضی و یتجدد بتجدد النکاح... و یفتی فی غیر الکفء بعدم جوازه اصلا و هو المختار للفتوی لفساد الزمان (الدر المختار) و فی الشامی: قوله: (و یفتی فی غیر الکفء الخ) قید بذلک... للاحتراز عما لو تزوجت بدون مهر المثل، فقد علمت ان للولی اعتراض ایضا، والظاهر انه لا خلاف فی صحة العقد و ان هذا القول المفتی به خاص بغیر الکف کما اشار الیه الشارح و لم ارمن ماجری هذا القول فی المسئالتین، والفرق امکان الاستدراک باتمام مهر المثل فلذا قالوا: له الاعتراض حتی یتم مهر المثل او یفرق القاضی فاذا اتم المهر زال سبب الاعتراض بخلاف عدم الکفاءة (الدر و الرد ۳۲۲/۲ کتاب النکاح باب الولی. ط رشیدیه)

یا ښځه او خاوند پخپله د یو بل سره اړیکي ختمي نکړي او نن صبا کله نا کله خاوند تعلق نه ختموي نو بیله شرعي قاضي یعني مسلمان حاکم و داسي ښځه ته سخت تکلیف وي. (۱) (شامی معه در مختار ۴۶۳/۲)

(۴) خاوند نامرد وي او ښځه طلاقه وي هم نه نو داسي نکاح تر یو کال مهلت ورکولو وروسته قاضي یعني مسلمان حاکم فسخ کولای شي. (۲) (عالمګیري ۱۵۷/۲) بیله قاضي یعني مسلمان حاکم په داسي صورت کي د عنین ښځه د سخت مصیبت سره مخ ده.

(۵) داغه راز خاوند مجنون شي نو د ده نکاح هم قاضي یعني مسلمان حاکم فسخ کولای شي. (۳) (عالمګیري ۱۵۷/۲)

(۶) د یو ښځي خاوند لادرکه شي نو د ده ښځه تر یوي خاص مودې وروسته چي د هغه تحقیق د مذهب په کتابونو کي راغلي دي شرعي قاضي یعني مسلمان حاکم د مفقود له نکاح څخه خارجولای شي. (۴) (عالمګیري ۱۷۲/۳)

---

(۱) و بحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لا یحل لها التزوج بآخر الا بعدالمتارکة و انقضاء العدة (الدر) و فی الشامي: قوله: (الا بعدالمتارکة) ای و ان مضی علیه سنون کما فی البزازیة، و عبارة الحاوی: الا بعد تفریق القاضی او بعد المتارکة اهـ (الدر و الرد ۳۰۷/۲ کتاب النکاح فصل فی المحرمات. ط رشیدیه)

(۲) و جاءت المراة الی القاضی بعد مضی الاجل و ادعت انه لم یصل الیها و ادعی الزوج بها الوصول فان کانت ثیبا فی الاصل کان القول قوله مع الیمین فانه حلف بطل حقها، و ان نکل خیرها القاضی ... ان اختارت الفرقة امر القاضی ان یطلقها طلقة بائنة، فان ابی فرق بینهما هکذا ذکر محمدر حمه الله تعالی فی الاصل کذا فی التبیین و الفرقة تطلیقة بائنة کذا فی الکافی (الفتاوی الهندیة ۵۲٤/۱ کتاب الطلاق الباب الثانی عشر فی العنین)

(۳) و اذا کان بالزوج جنون او برص او جذام فلا خیار لها کذا فی الکافی قال محمد رحمه الله تعالی ان کان الجنون حادثا، یؤجله سنة کالعنة، ثم یخیر المراة بعد الحول اذا لم یبراء و ان کان مطبقا، فهو کالجب، و به ناخذ کذا فی الحاوی القدسی (الفتاوی الهندیة ۵۲٦/۱ کتاب الطلاق، الباب الثانی عشر فی العنین)

(٤) لا یفرق بینه و بین امراته و حکم بموته بمضی تسعین سنة و علیه الفتوی و فی ظاهر الروایة یقدر بموت اقرانه، فاذا لم یبق احد من اقرانه حیا حکم بموته و یعتبر موت اقرانه فی اهل بلده کذا فی الکافی و المختار انه یفوض الی رای الامام کذا فی التبیین (الفتاوی الهندیه: ۲۰۰/۲ کتاب المفقود) =

(۷) که خاوند کله پر خپله ښځه د زنا تور ولګوي یا د دې د اولادو نسبت بل چا ته وکړي نو ښځه د قاضي په محکمه کې لعان وربانډې کولای شي او د خپلې بې عزتۍ بدله ځني اخیستلای شي چې نتیجه به دا وي چې یا خاوند ته که دی د روغ جن وي د دې تور لګولو سزا ورکولی شي یا نکاح فسخ کړلی شي. (۱) (عالمګیري ۱۵۱/۲-۱۵۲)

(۸) که کومه نابالغه انجلۍ ولي ونلري او د پالني لپاره و نکاح کولو ته عاجل ضرورت وي نو د داسي لا وارثه انجونو ولي قاضي یعنې مسلمان حاکم به وي (۲) (عالمګیري ۱۱/۲) د شرعي قاضي یعنې د مسلمان حاکم په دغه مسئلو کې د هند مسلمانان د ډیر مشکل سره مخ دي مور په عربي مدرسو کې د داسي سوالونو جوابونه ورکولو کې علماء پر همدې لیکلو لیدلي دي چې که قاضي یعنې مسلمان حاکم د مفقود د مرګ حکم وکړي یا د عنین نکاح ورفسخ کړي نو ښځه د بل سړي سره نکاح کولای شي او که شرعي قاضي یعنې مسلمان حاکم نه وي نو

= و لا یفرق بینه و بینها و لو بعد مضی اربع سنین خلافا لمالک (الدر) و فی الشامی: قوله: (خلافا لمالک) فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنین و هو مذهب الشافعی القدیم و اما المیراث فمذهبهما کمذهبنا فی التقدیر بتسعین سنة او الرجوع الی رای الحاکم و عند احمد: ان کان یغلب علی حاله الهلاک کمن فقد بین الصفین او فی مرکب قد انکسر او خرج لحاجة قریبة فلم یرجع و لم یعلم خبره فهذا بعد اربع سنین یقسم ماله و تعتد زوجته بخلاف ما اذا لم یغلب علیه الهلاک کالمسافر لتجارة او لسیاحة. فانه یفوض للحاکم فی روایة عنه و فی آخری: یقدر بتسعین من مولده... و قد قال فی البزازیة: الفتوی فی زماننا علی قول مالک رحمه الله الخ (الدر المختار و رد المحتار ۳۶۱/۳ کتاب المفقود مطلب فی الإفتاء بمذهب مالک رحمه الله فی زوجة المفقود. ط رشیدیه)

(۱) و ان قال لها: زنیت و هذا الحمل من الزنا، تلاعنا لوجود القذف حیث ذکر الزنا صریحا و لم ینف القاضی الحمل کذا فی الهدایة و فیه ایضا قبله: اذا التعنا فرق الحاکم بینهما و لا تقع الفرقة حتی یقضی بالفرقة علی الزوج فیفا رقها بالطلاق فان امتنع فرق القاضی بینهما و قبل ان یفرق الحاکم لا تقع الفرقة و الزوجیة قائمة الخ. (الفتاوی العالمغیریة: ۵۱۸/۱ و ۵۱۶ کتاب الطلاق، الباب الحادی عشر فی اللعان)

(۲) القاضی انما یملک انکاح من یحتاج الی الولی اذا کان ذلک فی عهده و منشوره (الفتاوی الهندیه ۲۸٤/۱ کتاب النکاح الباب الرابع فی الاولیاء)

ښځه بېله صبره بله هيڅ چاره نلري.

(۹)که يو سړی و خپله ښځه ته درې طلاقه ورکړي دا دعوی وکړي چي زه په هوښ کي نه وم بلکه زه بې هوښه يا مغلوب الغضب وم نو په دې صورت کي د ښځي لپاره د خاوند ذ دې قول تصديق کول جائز نه دي بلکه د دغه مقدمې مرافعه د قاضي يعني مسلمان په محکمه کي لازمه ده که هغه دا طلاق طلاق تسليم نکړي چي خاص شرطونه لري نو ښځه د خاوند سره هستوګنه کولای شي کنې نه شي کولای. (۱) (شامی معه الدر باب طلاق المدهوش ج:۲)

(۱۰)يو سړي فاسده نکاح وکړه نو قاضي يعني مسلمان حاکم دغه نکاح فسخ کولای شي يا خاوند پخپله ښځه پرېږدي. (۲) (عالمګيري ۴/۲) که دی نه پرېږدي نو بېله قاضي يعني مسلمان حاکم ښځي په دې حالت کي د سخت مصيبت سره مخ وي.

دا يو څو مسئلې صرف د نکاح د باب د نمونې په توګه بيان شوې د نورو بابونو لکه نسب، وقف، ميراث او نورو مسئلې چي د شرعي قاضي يعني مسلمان حاکم سره اړه لري هغه تر دې زياتي دي چي بېله قاضي يعني مسلمان حاکم د هندو مسلمانانو ته سخت تکليف دی او دا تکليف بې د حکومت له مرستي نشي لري کولای ځکه چي د قاضي يعني حاکم لپاره د مسلمان کيدلو سره حکومت وال کيدل هم ضروري دي که د کوم ځای مسلمانان پخپله قاضي جوړول غواړي نو هغه به قاضي نه وي صرف حکم او دربمګړی به وي د چا فيصله چي هغه وخت معتبره ده کله چي مدعی او مدعی عليه خپله معامله ده ته

(۱) و لا يقع طلاق المولى على المراة عبده و المجنون الصبي والمعتوه، و المغمى عليه و المدهوش و النائم لانتفاء الارادة (در مختار) و فی الشامی: و للحافظ ابن القيم الحنبلی رسالة فی طلاق الغضبان قال فيها: انه على ثلاثة اقسام، احدهما: ان يحصل له مبادی الغضب بحيث لا يتغير عقله و يعلم ما يقول و يقصده و هذا لا اشكال فيه الثانی: ان يبلغ النهاية فلا يعلم ما يقول و لا يريده فهذا لا ريب انه لا ينفذ شيء من اقواله الخ (الدر مع الرد ۴۶۳/۲ کتاب الطلاق مطلب فی طلاق المدهوش. ط رشيديه)

(۲) و اذا وقع النکاح فاسدا فرق القاضی بين الزوج و المراة... و المتارکة فی الفاسد بعدالدخول لا تکون الا بالقول کخليت سبيلک او ترکتک الخ (الفتاوی الهنديه ۳۳۰/۱ کتاب النکاح الباب الثامن فی النکاح الفاسد و احکامه)

وسپاري او که يوه ډله سپاري او بله نه سپاري نو په داسي صورت کي د دربمګړي او حکم فيصله په هيڅ درجه کي اعتبار نلري.

(هـ-و) قال فى العالمغيريه: و القضاء فى الشرع: قول ملزم يصدر عن ولاية عامة... و لا تصح و لاية القاضى حتى يجتمع فى المولى شرائط الشهادة كذا فى الهداية من الاسلام و التكليف و الحرية الخ.(۱)(۱۲۰/۴) و و فيه ايضا و اذا اجتمع اهل بلدة على رجل و جعلوه قاضيا يقضى فيما بينهم لا يصير قاضيا الخ.(۲)(۱۲۴/۴)

په عالمګيري کي راغلي دي: په شريعت کي قضاء د دوامي واجب العمل قول نوم ده چي له عام ولايت څخه صدور دی او د قاضي ولايت نه صحيح کيږي ترڅو چي په ده کي د شهادت شرطونه موجود نه وي لکه چي په هدايه کي راغلي دي اسلام، مکلف والی او حريت الخ (۱۰۴/۴) په همدي عالمګيري کي دي: کله چي يو ښاروالا پر يو سړي اتفاق وکړي هغه قاضي جوړ کړي چي د دوی ترمنځ فيصلي کوي نو په داسي کولو دی قاضي نه جوړيږي.

په دغو عبارتونو کي څرګندونه ده چي د قاضي لپاره مسلمان کيدل د حکومت وال کيدل شرط دی او دا چي که د کوم ځای مسلمانان پخپله قاضي وټاکي نو هغه قاضي نه ګرځي، او ښکاره ده چي د حکومت وال قاضي هم هغه کيدلای شي چي د پاچا له طرفه وټاکل شي ځکه د حکومت د مرستي په دغه مسئله کي د هند مسلمانان سخت محتاج دي، ځکه چي ببله قاضي يعني حاکم مسلمان فيصله لغو او کالعدم ده ځکه مسلمانان بايد په ډير قوت سره و حکومت ته عارضه وکړي چي دی په هندوستان کي د قضاء منصب قائم کړي خپل مسلمان هيواد وال له دغه مشکل څخه خلاص کړي او ترڅو چي د قضاء د منصب تجويز ترسره کيږي تر هغه وخته لړ تر لږه دي همدا قانون جوړ کړي چي په کومو مسئلو کي د قاضي و قضاء ته اړتيا شته د هغه فيصلي دي نامسلمان حاکمان نه کوي بلکه داسي فيصلي دي مسلمان حاکمانو ته ورسپارلی شي او مسلمان حاکمانو ته دي وويل شي چي په دغه مسئلو کي د علماء څخه شرعي حکم معلم کړي او د شرعي فتوی سره سمي فيصلي وکړي او د خپلي فيصلي سره د عالم فتوی هم ملګري کړي لکه چي د ميراث د ويش

---

(۱) الفتاوى الهندية: ۳۰۶/۳، ۳۰۷ كتاب ادب القاضى الباب الاول فى تفسير معنى الأدب و القضاء الخ.

(۲) الفتاوى العالمغيريه ۳۱۵/۳ كتاب أدب القاضى الباب الخامس فى التقليد و العزل.

په مقدمو کي چي کله داسي هم کیږي، که دا صورت هم وشي نو د هند د مسلمانانو په مشکلاتو کي به څه کمی راشي، زمونږ قوي امید دی چي حکومت به ضرور زمونږ د غه عارضي ته توجه ورکړي او خپلو هیوادوالو ته به د شکر او منني موقع ورکړي. و الله المستعان فی کل باب، هو المیسر لکل صعاب.

قال فی الدر: و یجوز تقلد القضاء من السلطان العادل و الجائر و لو کافرا ذکره مسکین و غیره الا اذا کان یمنعه عن القضاء بالحق فیحرم اهـ(۱) (۴۲۸/۴) و فی العالمغیریة: و الاسلام لیس بشرط فیه ای فی السلطان الذی یقلد کذا فی التتارخانیة اهـ(۲) (۱۲۰/۴)

په در مختار کي راغلي دي د ظالم او عادل هر ډول پاچا څخه د قضا ذمه داري قبلول جائز دي که څه هم هغه کافر ولي نه وي، ملا مسکین او نورو صراحة ذکر کړی دی مګر چي کله پاچا دی د حق فیصلي کولو څخه منع کوي نو بیا داسي منصب حرام دی په عالمګیري کي راغلي دي چي اسلام شرط نه دی د هغه پاچا لپاره چي څوک قاضي ټاکي، له دې څخه معلوم شو چي په هندوستان کي که حکومت له خپل طرفه کوم مسلمان قاضي وټاکي او په کومو مسئلو کي چي د قاضي و قضاء ته یعني د مسلمان حاکم و فیصلې ته ضرورت دی په هغو کي و ده ته اختیار ورکړی نو دی شرعي قاضي ګرځي او د ده فیصلې به د نکاح ماتولو، طلاق واقع کولو، نسب ثابتولو، د مفقود د مرګ حکم کولو او نورو کي نافذي وي په دې شرط چي فیصله کولو باندي مجبور نکړل شي.

قال فی العالمغیریة: و اذا اجتمع اهل بلدة علی رجل و جعلوه قاضیا یقضی فیما بینهم لا یصیر قاضیا(۳) (۱۲۴/۴)

په عالمګیري کي راغلي دي: کله چي د یو ښار خلک پر یو قاضي اتفاق وکړي او دی په خپل منځ د فیصلو کولو لپاره قاضي وټاکي نو په دې سره قاضي نه جوړیږي.

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۳٤۱/٤ کتاب القضاء، مطلب: ابو حنیفة دعی الی القضاء ثلاث مرات، فابی. ط رشیدیه

(۲) الفتاوی الهندیة ۳۰۷/۳ کتاب ادب القاضی الباب الاول فی تفسیر معنی الأدب و القضاء و اقسامه و شرائطه الخ.

(۳) الفتاوی العالمغیریة ۳۱۵/۳ کتاب ادب القاضي الباب الخامس فی التقلید و العزل.

له دې څخه معلوم شو چې په هندوستان کې د کوم ځای مسلمانان پخپله بې د حکومت له اجازې که څوک قاضي وټاکي نو هغه قاضي نه ګرځي ځکه چې د ده ولایت عامه نه دی اما حکم (دربیمګړی) جوړېدای شي چې فیصله هم هغه وخت معتبره ده کله چې مدعی او مدعی علیه دواړه په خوښه خپله معامله ده ته وسپاري او که یو وسپارله او بل ونه سپارله نو په دې صورت کې د حکم فیصله کالعدم ده او دواړه ډلې که پخپله خوښه څوک دربیم وټاکي او هغه د شرعي حکم سره سمه فیصله وکړي نو ده ته به هم د نکاح ماتولو او نورو اختیار وي او د ده په ماتولو هم نکاح ماتیږي یعني چې کله معامله سپارله شوې وي او تر فیصلې کیدو پورې له تحکم څخه کومې ډلې رجوع نه وي کړې نو اوس د حکم فیصله هم د قاضي د فیصلې په څېر لازمه او نافذیږي بیا یوه ډله هم دا نه شي ماتولای په دې شرط چې فیصله د شرعي حکم سره سمه وي

قال الشامی: اما المحکم فشرطه اهلیة القضاء، و یقضی فیما سوا الحدود و القصاص اهـ(۱) (۴۲۲/۴) و فیه ایضا: (التحکیم) عرفا: تولیة الخصمین حاکما یحکم بینهما... فحکم بینهما ببینة او اقرار او نکول و رضیا بحکمه (الدر) ای ابی ان حکم... فافاد انه احترز عما لو رجعا عن تحکیمه قبل الحکم او عما لو رضی احدهما فقط (شامي) صح لو فی غیر حد وقودودیة علی عاقلة، الاصل أن حکم المحکم بمنزلة الصلح و هذه لا تجوز بالصلح فلا تجوز بالتحکیم و ینفرد احدهما بنقضه ای التحکیم بعد وقوعه... فان حکم لزمهما و لا یبطل حکمه بعزلهما لصدوره عن ولایة شرعیة(۲) (۵۴۰/۴)

په شامي کې راغلي دي: د حکم لپاره شرط دی چې دی د قضاء اهل وي له حدودو او قصاص څخه سیوا کې قضا کوي په همدغه شامي کې راغلي دي د مدعی او مدعی علیه دریم ټاکل پر خپل ځان حاکم منل دي چې دغه دربمګړي د دوی تر منځ د بینه یا اقرار یا انکار پر اساس فیصله وکړي او دوی دواړه د ده په فیصله راضي وي که د دغه دربمګړي د فیصلې کولو څخه مخکې د ده د حکم کیدو څخه رجوع وکړه یا یو راضي ؤ بل نه ؤ راضي نو دا فیصله نه نافذیږي (شامي) د حکم فیصله له قصاص او دیت څخه پرته کې نافذیږي ځکه چې د دربمګړي حکم د صلح په رنګه دی په دغه امورو کې صلح جائز نه ده نو دربمګړی ټاکل هم نه روا کیږي او که یو سړی د دربمګړي

---

(۱) الشامي ٤/٣٣١، کتاب القضاء، مطلب الحکم الفعلي. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد ٤/٣٨٦ کتاب القضاء، الباب الاول: باب التحکیم. ط رشیدیه

تاکلو وروسته د ده دریم ګړتیا ختمه کړي نو په دې سره دریم ګړتیا ختمیږي. لیکن که له ختمولو مخکې ده فصله وکړه نو پر دواړو ډلو لازمیږي او اوس د ده په عزلولو د ده حکم نه باطلیږي ځکه چې دغه د شرعي ولایت څخه صادر شوی دی.

(ز) کله چې دا معلوم شو چې د شرعي قاضي یعني مسلمان حاکم تاکل د مسلمانانو ذمه واري ده او دا هم ثابته شوه چې په ځینو معاملو کې د نامسلمان حاکم فیصله شرعًا معتبره نه ده بلکه د مسلمان حاکم فیصله ضروري ده نو پر عامو مسلمانانو لازمه ده چې همدغه خپل شرعي ضرورت و حکومت ته وړاندي کړي عارضه ورته وکړي چې په هندوستان کې د قضاء منصب مقرر کړي خپل مسلمان هیواد وال له مشکلاتو خلاص کړي کله چې حکومت و خپلو هیواد والو ته اساني او په تیره بیا په مذهبي معاملو کې هر ډول آساني رسولو ذمه وار دی ځکه قوي امید دی چې دغه عارضه قبوله کړي. داغه راز کوم د ښاروال او نورو سره منسلک مسلمانان چې دغه مسئله پر مخ وړي د دوی سره باید ټول مسلمانانو اتفاق وکړي او دا ولسوالي د مسلمانانو لپاره جدا جدا د دغه مسئلې ضرورت ښکاره کول پکار دي ځکه چې د حکومت له طرفه چې کومه بې رخي تر اوسه پر دغه مسئله شوې ده د دې سبب صرف دا دی چې تر اوسه چا د دې د ضرورت اهمیت خبر ورکړی نه دی، که په ضرورت خبر شي نو هیله ده چې حکومت به ډیر زر د مسلمانانو وحال ته توجه وکړي فقط

کتبه الاحقر (مولانا) عبد الکریم ګم تهلوي کرنالي عفی عنه

هو الموفق: د مسلمانانو لپاره دغه تر خپل منځ جګړو ختمولو لپاره چې پکې د قاضي حکم کول شرط دی د قاضي یعني مسلمان حاکم مقررول ډیر ضروري دی او د قاضي لپاره ضروري دی چې صاحب د حکومت وي، نو مسلمانان چې ثوک په اتفاق سره قاضي وټاکي هغه نه قاضي نه ویل کیږي هو د حکومت ټاکلی مسلمان حاکم د شرعي قاضي په حکم دی او د ده احکام به شرعًا قابل نفاذ وي لیکن څرنګه چې د قاضي جوړېدلو هم هغه اهل دی چې شاهد د جوړېدو و صلاحیت لري بد مذهبه که وټاکل شي نو هغه په صحیح معنی قاضي نه دی. ځکه ډیره ضروري ده چې د دې ټاکنه د اهل السنة و الجماعت علماء په لاس کې وي تر څو دوی په خپل اتفاق سره داسي ثوک رامخته کړي چې د قاضي جوړېدو وړ وي

(مولانا) محمد مظهر الله غفر له امام مسجد فتح پوري دهلي ۲۳ صفر المظفر ۴۷هج

هو الموفق: په هندوستان کې د قاضي تاکلو مسئله ډيره مهمه ده او د قضاء د محکمې د نه قائمېدو له کبله مسلمانانو ته په ډيرو مذهبي او معاشرتي معاملو کې چې کوم مشکلات پيښيږي د هغوی شمير مشکل دی، په جوابونو کې د نمونې په توګه د څو شعبو يادونه شوې ده دا صحيح دی چې مسلمانانو هم په منظم توګه د قضاء د قيام لپاره کوښښ نه دی کړی مګر اوس ضروت دومره روښان شو چې د مسلمانانو لپاره و حکومت ته کلکه عارضه کولو او د حکومت له طرفه د هغې منظورولو کې د نور ځنډ هيڅ موقع پاته نه شو. په زړګونو ښځو ته خطر دی چې د هغه علاج بې د قضاء له محکمې قطعا نشي کيدلای.

(مولانا) محمد کفايت الله غفر له مدرسه امينيه دهلي ۲۲ صفر ۴۷هج

ښکه په هندوستان کې د مسلمان قاضي مقررېدل ډير ضروري دی، جمعيت علماء په اتفاق سره پخپلو اجلاسونو کې په کلکته او نورو کې د دې ضرورت څرګند کړی دی او څو ځله د دې و اجرا کولو ته حکومت متوجه کړی دی، پر مسلمانانو لازمه ده چې د دې کلکه غوښتنه وکړي د جمعية العلماء په ريکارډونو کې د دې تجويزونه موجود دي او د الجمعية په مضمونو کې د دې په اړه تفصيلي بحثونه راغلي دي و الله اعلم

ننګ اکابر (مولانا) حسين احمد غفرله

الجواب صحيح بنده (مولانا) محمد مرتضی حسن عفی عنه الجواب صحيح بنده (علامه) محمد ابراهيم عفی عنه په هندوستان کې د قضاء د محکمې د نه کيدو له امله چې مسلمانان د کومو ستونزو سره مخامخ دي هغه د دوی د مذهب د روح لپاره له مهلک څخه کم نه دی دا غلطه ده چې دوی د دغه ضرورت احساس نه دی کړی يا مشکلاتو دوی پريشانه کړي نه دي دوی په هره زمانه کې دغه مصيبت پريشانه کړي دي، د دې په دليل کې فتواوي شته چې په زرګونو ليکل شوي دي په کومو کې چې د مجبوری له امله همدا ليکل کيده چې مسلم رياستونو ته ورشئ خپله فيصله وکړئ، که پلټنه وشي نو دا ډول فتاواوي په زرګونو شته، هو دا خبره شته چې په دغه خاص طريقه مسلمانانو تر اوسه عارضه نه ده کړې نو ښکاره ده چې د کوم مصيبت وهلي تر يو زمانې پورې په مصيبت کې ژوند کول او د مصيبت ليرې کولو له طريقې څخه د ناخبرتيا يا په کومه بله وجه د مصيبت ليري کولو خاص تدبير نه کول

د دې دلیل نه دی چې د دوی د مصیبت ازاله دې هم نه وي. یا دوی په مصیبت راضي وبلل شي په همدې وجه زه له عامو مسلمانانو او په رائج الوقت قوانینو خبر ښاغلیو نه خواست کوم چې دوی حکومت دې ته متوجه کړي چې پر مسلمانانو د احسان په کولو کې پس و پیش نه کوي.

(مولانا) محمد اعزاز علی غفر له، مدرس دار العلوم دیوبند ۲ ربیع الاول ۴۷هج

د قاضي او والي غوښتنه او د قاضي اختیارات

سوال: (۵۰)... (الف) د مسلمانانو لپاره شرعًا د قاضي غوښتنه ضروري ده او کنه؟

(ب) طلب د والي کوم چې د کفارو د غلبې پر مهال واجب لیکلی دی د دې څه مفهوم دی او په هندوستان کې د والي د طلب څه صورت دی؟

(ج) قاضي چې له حکومت څخه وغوښتل شي نو هغه ته شاهد د حکومت له لوري پوره اختیارات نه وي حاصل بلکه د نکاح ماتولو، دعوت حکم، مفقود الخبر، تزویج ایامي و ایتام، تفریق زوجین او نور دا ډول اختیارات وي نو دا سړی به شرعي قاضي بلل کیږي او کنه؟

(د) ثم القاضي تتقید ولایته بالزمان و المکان و الحوادث الخ(۱) (شامی) څخه څه مراد دی؟ (۱۷۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: (الف) ضروري دی او زیات مفید دی که څه هم دا ضرورت داسي هم پوره کیدلای شي چې کومه معامله پیښه شي په هغه کې حکم مقرر شي.

(ب) طلب د والي ښکاره ده چې آسان کار نه دی لهذا د قاضي مقررول او مقررېدل کافي دي.

(ج،د) دا ډول تقیید د صحت قضاء لپاره مضر نه دی او د حوادثو له تقیید څخه همدا مراد دی چې د کومو احکامو د قضاء اختیار ورکول شي په هم هغه احکامو کې دی قاضي دی. فقط

له مشورې وروسته په فیصله کې د رایي د کثرت اتباع لازمه ده کنه؟

سوال: (۵۱) د امیر یا امام یا د قوم صدر لپاره شرعًا له مسلمانانو څخه د مشورې اخیستلو وروسته په امور شرعیه کې د رایي د ډیرښت اتباع

---

(۱) الشامي: ۳۳۱/٤ کتاب القضاء، مطلب: الحکم الفعلي. ط رشیدیه

لازمه ده او كنه؟ او په شرعي امورو كي د رائي كثرت او قلت ته څه اعتبار شته او كنه؟ او د مجلس د ممبرانو (غړيو) د رائي و كثرت ته اجماع ويل صحيح دي او كنه؟ (٣٢/٧٩١-١٣٣٣هـ)

ځواب: په شرعي امورو كي د شرعي حكم سره سم عمل كول لازم دي. په دې كي و كثرت او قلت رايه ته اعتبار نشته او په دنياوي امورو كي چي څرنګه مصلحت وي هغسي وكړي او د ممبرانو د دغه رايي و كثرت ته اجماع ويل غلط دي.

د قاضي د ځان لپاره قاضي القضاة، رفيع الدرجات كافي المهمات سلمه الله تعالى ليكل

سوال: (٥٢) يو قاضي د ځان لپاره داسي الفاظ ليكلي "قاضي القضاةو رفيع الدرجات كافي المهمات سلمه الله تعالى" څو ځله منع كړل شوى دى مګر نه منع كيږي د داسي سړي په هكله شرعًا څه حكم دى؟ (٣٥/٣٤٥-١٣٣٢هـ)

ځواب: داسي سړى جاهل او كبر جن دى پخپله به ذليل شي اسلامي حكومت نشته چي د ه ته تعزير او سزا وركوله شي د داسي سړي په اړه د څه پوښتني ضرورت نشته داسي متكبر او خپله لويي څرګندونكى پخپله رسوا كيږي، دا غنيمت دى چي په ښكاره د خداى دعوى نه كوه كه داسي هم وكړي نو په اوس زمانه كي دى څوك منع كولاى شي؟ فقط

قاضي شاهد جوړيدلاى شي او كنه؟

سوال: (٥٣) آيا شاهد قاضي كيدلاى شي؟ (١٢١٢/١٣٣٨هـ)

ځواب: قاضي چي د شهودو پر شهادت قضا كوي هغه پخپله په دغه معامله كي شاهد نشي كيدلاى. اما اهليت د شهادت په دې كي ضروري دى كما قالوا: اهله اهل الشهادة(١) او دا هم منل شوې ده چي قاضي پر خپل

(١) الدر المختار مع رد المحتار: ٣٣٢/٤ كتاب القضاء. ط رشيديه

علم فیصله کولای شي. کما بینه فی کتب الفقه(۱) فقط

د قوم سردار باید څنګه وي؟

سوال: (۵۴) د قوم د مشرتابه لپاره باید څنګه سړی سردار شي؟ زید وائي چې د هدایت او قامي سردار کیدو لپاره داسي سړی پکار دی چې په شرعي مسائلو خبر وي او بخپله د روژې او لمانځه پابند وي، انصاف کونکی، صرف د ځان غم ورسره نه وي، دروغجن نه وي، نجیب الطرفین وي د ضرورت پر وخت د عالم څخه په پوښتنه عمل کونکی وي، د رسم اور واج سره سمه کومه فیصله یا حکم نه کوي، بکر وائي چې داسي سړی د حال د زامني سره سم د قاضي په رنګه بلل کیږي، لهذا د داسي سړي لپاره لازم دی چې هغه د زید د قول سره سم د هري خبري پابند وي او په چا کي چې د دغه ټولي خبري نه وي هغه د سرداری ور نه دی ځکه چې هغه خو بخپله فاسق او ګمراه دی نو په دې اړه څه کول پکار دي؟ (۱۳۴۲/۱۱۳۵هـ)

ځواب: خبره دا ده چې دا ټول شیان دا ډول د جهالت او شریعت څخه د ناخبرتیا له کبله دي، ضروري ده چې کوم څوک مشر وټاکل شي راهنما وبلل شي چې د ده پر رایه فیصله کیږي هغه داسي وي چې د شریعت علم ولري، متقي وي، صالح او منصف مزاج وي او که بخپله د شرعي علم ماهر نه وي نو حقاني علماء ته رجوع کونکی وي تر څو چې د ده کومه فیصله وي هغه د شریعت سره سمه وي او ټولو مسلمانانو او ټولو کورنیو ته پکار دي چې خپلي فیصلې په شریعت وکړي او کومه مسئله چې ورپیښه شي هم هغه وخت له شریعت څخه و پوښتي او د هغه سره سمه فیصله وکړي، نو د دغه کلي حکم

---

(۱) طریق القاضی الی الحکم یختلف بحسب اختلاف المحکوم به، و الطریق فیما یرجع الی حقوق العباد المحضة عبارة عن الدعوی و الحجة: و هی إما البینة او الاقرار او الیمین او النکول عنه او القسامة او علم القاضی بما یرید ان یحکم به او القرائن الواضحة التی تصیر الأمر فی حیز المقطوع به (الشامی: ۳۳۱/٤ کتاب القضاء، مطلب الحکم الفعلی. ط رشیدیه) و اعلم ان الکتابة بعلمه کالقضاء. بعلمه فی الاصح "بحر" فمن جوزه جوزها و من لا فلا قوله: (فمن جوزه جوزها) و شرط جوازه عندالإمام أن یعلم فی حال قضاءه فی المصر الذی هو قاضیه بحق غیر حد خالص لله تعالی من قرض او بیع او غصب او تطلیق، او قتل عمدا و حد قذف الخ (الدر المختار و الرد: ۳۹٤/٤ کتاب القضاء مطلب، فی قضاء القاضی بعلمه. ط رشیدیه)

له معلومولو څخه وروسته د خاص جزئیاتو د بحث ضرورت نشته. قال الله [فلا و ربک لا یؤمنون حتی یحکموک فیما شجر بینهم ثم لا یجدوا فی انفسهم حرجا مما قضیت و یسلموا تسلیما] (سورة النساء، آیت: ۶۵) حاصل د دغه آیة شریف دا دی چي هیڅوک مؤمن نشي کیدلای ترڅو چي دی رسول الله صلی الله علیه وسلم او له ده وروسته د ده شریعت پخپلو جګړو اختلافاتو او معاملاتو کي د رهبرۍ او فیصله کونکی و نه مني او د زړه له کومي په راضي نه شي. فقط

د بنګو او تاریاقو تاجر د قوم مشر ټاکل

سوال: (۵۵) یو سړی د بنګو او افیونو تجارت کوني د جرګي لپاره د ده د قوم مشر ټاکل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۲۵ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي د افیونو او نورو بیع او شراء صحیح ده پرته له شرابو چي د شرابو بیع او شراء صحیح نه ده په شامي کي فرمایلي دي چي دغه د افیونو د بیع د جواز مذهب د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دی او صاحبین رحمهما الله ورته ناجائز وایي لیکن فتوی د امام صاحب پر قول ده چي د تاریاقو بیع جائز ده مګر مکروه ده و صح بیع غیر الخمر مما مرو مفاده: صحة بیع الحشیشة و الافیون (در مختار) ای عنده خلافا لهما الخ ثم ان البیع و ان صح لکنه یکره الخ(۱) (شامی) نو د افیونو د تجارت د جواز په صورت د دغه سړی د قوم مشر جوړولای شي. فقط

(۱) الدر و الرد: ۳۲۳/۵ کتاب الاشربة. ط رشیدیه

کتاب الشهادة

د ګواهۍ بيان

د ګواه لپاره عادل کيدل ضروري دي

سوال: (۱) په اوس زمانه کې د ګواه عدالت ضروري دی که به پر قسم د لفظ اشهد سره بسنه کيږي؟ (۱۳۳۵/۳۴۲هـ)

ځواب: د ګواهانو عدالت ضروري دی. (۱)

په عادل ګواه کې کومې خبرې ضروري دي؟

سوال: (۲) د شهودو په عدالت کې کومې کومې خبرې ضروري دي؟ (۱۳۳۸/۱۹۳هـ)

ځواب: کوم څوک چې کبيره ګناهونه نه کوي او پر صغيره ټينګار نه کوي او کوم عمل د مروت په خلاف نه کوي هغه عادل دی لکه چې په رد المحتار کې چې راغلي دي: العدالة ملكة تحمل على ملازمة التقوى و المروءة و الشرط أدناها و هو ترک الكبائر و الإصرار على الصغائر و ما يخل بالمروءة و يلزم ان يكون

(۱) و العدالة و هی شرط وجوب القبول على القاضی لا جوازه، كذا فی البحر الرائق (الفتاوی الهندية ۳ / ۴۵۰، كتاب الشهادات، الباب الاول فی تعريفها و ركنها و سبب ادائها و شرائطها و اقسامها)

مسلما، عاقلا، بالغا الخ.(۱) نو د دغه تفصیل لحاظ د شهودو په عدالت کي ضروري دي فقط

د دروغجن ګواهي ته اعتبار نشته

سوال: (۳) یو سړی قبالې لیکي او زیاتره په محکمو کي د دروغو شهادت ورکوي، د شریعت په مخه داسي کس عادل ګواه کیدلای شي؟ او په شرعت کي عادل ګواه و څه ته وايي؟ (۴۲/۵۳۵-۱۳۴۷ھ)

ځواب: د داسي سړي و ګواهي ته شرعًا اعتبار نشته، اتفقوا علی ان الاعلان بکبیرة یمنع الشهادة الخ (۲) (عالمګیریه) او کوم څوک چي پر صغیره ګناهونو مداومت نه کوي او له کبیره ګناهونو څخه ځان ګوري هغه شرعًا عادل دی په در مختار کي راغلي دي: و (تقبل) من مرتکب صغیرة بلا اصرار و ان اجتنب الکبائر کلها و غلب صوابه علی صغائره "درر" و غیرها قال: و هو معنی العدالة الخ(۳)

د ګواهانو تزکیه کله ضروري ده؟

سوال: (۴) د شهادت په اړه چي د شهودو تزکیه ته ضرورت دی د دې لحاظول هم پر قاضي لازم دي او کنه؟ (۳۲/۷۲۰-۱۳۳۳ھ)

ځواب: که قاضي ته د ګواهانو د حال علم نه وي نو و تزکیه ته ضرورت شته: و محل السئوال علی قولهما عند جهل القاضی بحالهم و لذا قال فی الملتقط: القاضی اذا عرف الشهود بجرح او عدالة (ای عن حال الشهود) لا یسئل عنهم(۴) شامي، کتاب الشهادات.

---

(۱) رد المحتار ۲/۹۵ کتاب الصوم، مبحث فی صوم یوم الشک. ط رشیدیه

(۲) الفتاوی الهندیة ۳/٤٦٦ کتاب الشهادات الباب الثالث: الفصل الثانی فی من لا تقبل شهادته لفسقه.

(۳) الدر المختار مع الشامی ٤/٤١٩ کتاب الشهادات باب القبول و عدمه. ط رشیدیه

(٤) الشامی ٤/٤١٤ اوائل کتاب الشهادات. ط رشیدیه

په ښکاره تزکیه بس نه ده پټه تزکیه ضروري ده

سوال: (۵) محکمې په یو نامعلوم سړي ښکاره تزکیه وکړه په دا سې صورت کې به دغه تزکیه د شاهدي لپاره بس وي کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۸۵هـ)

ځواب: قال فی رد المحتار: و به ظهر ان ما یفعل فی زماننا من الاکتفاء بالعلانیة خلاف المفتی به بل فی البحر: لا بد من تقدیم تزکیة السر علی العلانیة لما فی الملتقط عن ابی یوسف: لا اقبل تزکیة العلانیة حتی یزکی فی السر الخ(۱) څخه معلوم شو چې د تزکیې دغه طریقه چې په سوال کې لیکل شوې ده پر دې باید بسنه ونه شي پټه تزکیه ضروري ده. فقط و الله اعلم

په ګواهي کې لفظ د اشهد یا دې ته ورته کوم لفظ ویل ضروري دی

سوال: (۲) یو صاحب وایي چې له ګواهي څخه مخکې د ګواه لپاره لفظ د "اشهد" (یعني زه ګواهي ورکوم) ویل ضروري دی، که شرعًا دغه لفظ د "اشهد" ویل فرض یا واجب وي نو جواب له حوالې سره راکړئ او که ګواه لفظ د "اشهد" و نه وایي او په قسم سره د یو شي ګواهي ورکړي نو آیا ګواهي به شرعًا مقطوع او خارجه بلل کیږي او نه به قبلیږي؟ (۱۳۳۸/۷۲۹هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و رکنها لفظ اشهد لا غیر لتضمنه معنی مشاهدة و قسم و اخبار للحال فکانه یقول: اقسم بالله لقد اطلعت علی ذلک و انا اخبر به، و هذه المعانی مفقودة فی غیره فتعین الخ(۲) او په شامي کې راغلي دي: فلذا اقتصر علیه احتیاطا و اتباعا للماثور، و لا یخلو عن معنی التعبد اذ لم ینقل غیره کما بسطه فی البحر(۲) د شامي له دغه عبارت څخه ثرګند شو چې په حدیثو او آثارو کې د شهادت په اړه هم دغه لفظ راغلی دی او دا حکم تعبدي دی، ځکه نو هم دغه لفظ یا د دې ترجمه خپلول لازم دي ځکه چې په تعبدي احکامو کې تبدل او تغیر نه کیږي. فقط

---

(۱) الشامی ٤/٤١٤ کتاب الشهادات. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد ٤/٤١١ اوائل کتاب الشهادات. ط رشیدیه

سوال: (۷) آیا په شهادت کې لفظ د "اشهد" ویل ضروري دی؟ (۱۳۴۲/۱۸۴هـ)

ځواب: په شاهدي ورکولو کې لفظ د اشهد یا د هغه ترجمه یا دې ته په معنی کې ورته لفظ ویل ضروري دی کذا فی الدر المختار(۱) فقط

سوال: (۸) د ګواه لپاره د ګواهي لفظ ویل ضروري دی او کنه؟ او ګواهانو ته خو علم نه وي په دې وجه دوی ته دا ښودل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۳۴هـ)

ځواب: د ګواه لپاره د ګواهي لفظ ویل ضروري دی او ګواه ته دغه لفظ ورښودل جائز دي.

سوال: (۹) که د شاهدي ورکولو پر مهال د بې علمی له امله لفظ د "اشهد" و نه وايي مګر اصل واقعه په سترګو لیدلې بیان کړي، نو ګواهي به معتبره وي او کنه؟ او مدعی دوهم ځل د اشهد د لفظ راګرځولو لپاره د محکم و مخته شاهدي راګرځولای شي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۴۷۹هـ)

ځواب: د اشهد سره بیا شاهدي راګرځول پکار ده. و رکنها لفظ أشهد لا غیر الخ(۲) (در مختار) ځکه چې بې د لفظ اشهد یا د هغه د ترجمې له ویلو شاهدي معتبره نه وي. فقط

وګواه ته قسم څه ډول ورکړو؟

سوال: (۱۰) په اسلام کې و ګواه ته قسم او حلف څه ډول ورکول کېږي؟ (۱۳۴۲/۱۱۲۷هـ)

ځواب: په در مختار کتاب الشهادات کې راغلي دي: و رکنها لفظ اشهد لا غیر لتضمنه معنی مشاهدة و قسم و إخبار للحال فکأنه یقول: أقسم بالله لقد اطلعت علی ذلک و انا اخبر به.(۳)

ترجمه: ګو ګواه وايي چې زما دې د الله په نوم قسم وي په تحقیق سره ماته د دې خبري علم شته او خبر ورکوم زه د دې.

---

(۱) مخکنی حواله.

(۲) الدر مع الرد: ٤/٤١١ کتاب الشهادات. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الشامی: ٤/٤١١ اوائل کتاب الشهادات. ط رشیدیه

که ښځه د نکاح انکار کوي نو د فاسق او متهم په ګواهي نکاح ثابتیږي او کنه؟

سوال: (۱۱) یوې پیغلې او عاقلې انجلۍ چې کله د بکر سره د نکاح اراده وکړه نو دوه کسان وایي چې زید د مړ کیدو پر وخت د خپلې لمسۍ یعنې دغه انجلۍ نکاح زمونږ په مخ کې د عمر سره وکړه یو شاهد داسې دی چې لمونځ نه کوي. روژې خوري. ږیره خروي. دوهم شاهد لمونځ کوي لیکن د دروغو په ګواهي ورکولو سره متهم دی په داسې صورت کې به د دغه انجلۍ نکاح د عمر سره ثابته شي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۷۲۲ھ)

ځواب: د لمانځه او روژې پرېښودونکی فاسق دی د ښځې د انکار په صورت د دوی په ګواهي نکاح نه ثابتیږي او دوهم شاهد کوم چې لمونځ ګزاره دی خو د دروغو په ګواهي سره متهم دی نو د ده شاهدي ته هم اعتبار نشته او که بالفرض دغه تهمت پر ده صحیح نه وي او دی داسې نه وي نو بیا د یو کیدو له امله د ده په ګواهي نکاح نه ثابتیږي، ځکه چې نصاب د شهادت دوه نارینه یا یو نر دوې ښځې دي چې عادلان او ثقه وي کما قال الله تعالی: [و استشهدوا شهیدین من رجالکم] الآیة (سورة بقره، آیت ۲۸۲) فقط

د غزلو، سندرو او تماشو په مجلسونو کې ګډون کونکی عادل نه دی

سوال: (۱۲) کوم چا چې د تماشو، غزلو، سندرو په محفلونو کې ګډون کړی وي داسې کس عادل کیدلای شي او کنه؟ او دغه افعال صغیره دي که کبیره؟ (۱۳۳۸/۱۹۴ھ)

ځواب: داسې شخص عادل نه دی او دغه افعال له کبیره ګناهونو څخه دی. فقط

د چا و ګواهي ته اعتبار شته؟

سوال: (۱۳) شرعًا د چا ګواهي معتبره ده؟ (۱۳۴۷-۴۲/۹۲۳ھ)

ځواب: ګواهي د عادل معتبر لمونځ کونکی او متقي شرعًا معتبره وي. فقط

سوال: (۱۴) یو سړی دروغجن دی، د ده په شرعي امورو کې لکه نکاح او نورو کې وکیل او ګواه

تا کل خنګه دي؟ او د ده شاهدي ته اعتبار شته؟ او د ده پند او نصیحت د عمل قابل دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۹هـ)

ځواب: د ده په ګواهي نکاح منعقد یږي. لیکن د انکار په صورت د ده په شاهدي نکاح نه ثابتیږي

د نکاح د انعقاد لپاره د ګواهانو عدالت ضروري نه دی مګر د نکاح او طلاق د ثبوت لپاره د ګواهانو عدالت ضروري دی

سوال: (۱۵) زید او بکر د نکاح پر مهال ګوهان شول او د قاضي و مختنه ځني شاهدي واخیستل شوه او د طلاق پر مهال د دوی شاهدي رد کړله شوه د ږیري غوڅولو په وجه، حالانکه د نکاح پر وخت چي کوم صورت و هم هغه صورت د طلاق پرمهال و د مفتي لپاره شرعًا داسي کول جائز دي او کنه؟ او داسي فتوی عملي کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۵۳۵هـ)

ځواب: د فقهي په کتابونو کي بیان شوی دی چي د نکاح منعقد کیدل په فاسق ګواهانو هم کیږي لیکن د تجاحد (انکار) پر وخت د دوی ګواهي حجت نه ده، نو کوم خلک چي د نکاح د انعقاد شاهدان جوړ یدلای شي ضروري نه ده چي د طلاق د ثبوت د ګواهی هم اهل وي، د انقعاد پر وخت که څه هم د شاهدانو عدالت شرط نه دی مګر د نکاح د ثبوت لپاره (چي کله له یو طرفه انکار وي) د عادلانو شهادت شرط دی او هم دغه حال د طلاق د شاهدانو دی، په شامي کي راغلي دي: قوله و لو فاسقین اعلم ان النکاح له حکمان: حکم الانعقاد و حکم الاظهار فالاول ما ذکره و الثانی انما یکون عند التجاحد فلا یقبل فی الاظهار الاشهادة من تقبل شهادته فی سائر الاحکام کما فی شرح الطحاوی فلذا انعقد بحضور الفاسقین الخ و ان لم یقبل اداؤهم عند القاضی الخ(۱) لهذا د مفتی دغه فتوی صحیح او د شریعت سره سمه ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲) کوم څوک چي تارک الصلوة وي او ناوړه اعمال په ښکاره کوي لکه شراب څښل، زنا کول

---

(۱) رد المحتار ۲۹۶/۲ کتاب النکاح، قبیل مطلب فی عطف الخاص علی العام. ط رشیدیه

او د دروغو ګواهي ورکول د داسي چا ګواهي د نکاح او طلاق په هکله اعتبار لري او کنه؟ (۲۴۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د داسي سړي په ګواهي نکاح خو منعقد یږي لیکن د انکار په صورت د داسي خلکو په ګواهي نکاح نه ثابتیږي او طلاق هم د داسي خلکو په ګواهي نه ثابتیږي. و الله تعالی اعلم

د نفس پرستو ګواهي څنګه ده؟

سوال: (۱۷) د شاهدي لپاره مسلمان، نارینه، آزادي او بلوغ بې د ډلي له قیده ضروري دی او کنه؟ که د خاص ډلي کیدل ضروري دي؟ د نورو عقیدو لرونکیو مثلاً اهل قرآن، اهل حدیث، شیعه ګان او نورو شاهدي نه قبلیږي؟ (۱۴۰۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: په اهل سنت و الجماعت کي چي هره ډله هم وي د هغې شاهدي د فسق نه کیدو په صورت کي معتبره ده او په نفس پرستو کي مثلاً روافض، خوارج، اهل قرآن، اهل اعتزال، سلفیان او نورو ډلو څخه چي د کومو تکفیر نه دی شوی او په دوی کي فسق او بل کوم عمل له شهادت څخه مانع نه وي نو د هغه شاهدي هم قبلېدلای شي کذا فی الدر المختار (۱) فقط

د شاهدی د قبولیت لپاره د دقیقو یا غیر دقیقو مسئلو پوښتنه ضروري نه ده

سوال: (۱۸) د طلاق په یوه مقدمه کي دوه ګواهان مسلمانان نارینه بالغان او آزاد دي چي تر ننه پوري کوم دروغ څرګند شوي نه دي او دوی ځانونه لمونځ ګزاره وایي. محکمې د لمانځه په اړه ډیري پوښتني او مسئلې و پوښتې یو د هري دقیقي مسئلې ځواب ورکړو لیکن دوهم ګواه زیاتره د ضروري سوالونو جوابونه ورکړو مګر محکمې د څو دقیقو. فروعي او اختلافي مسئلو جواب کافي ونه بالی ځکه د دوی شهادت یې رد کړی او د طلاق واقعه یې غلطه وبلله نو آیا شرعًا د طلاق د دعوی په هکله

(۱) قال فی الدر المختار: تقبل من اهل الهواء ای اصحاب بدع لا تکفر کجبر و قدر و رفض و خروج و تشبیه و تعطیل و فی الشامی: فمن وجب اکفاره منهم فالاکثر علی عدم قبوله الخ (الدر و الرد المحتار ۴/۴۱۸ کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه. ط رشیدیه)

د داسي خلکو چي هيڅکله لمونځ ځني قضاء شوی نه وي او په شرعي علومو کي هم مهارت لري د همداسي خلکو ګواهي منله کيږي که څنګه؟ (۱۳۳۸/۱۴۰۱ھ)

ځواب: د شاهدی د قبوليت لپاره د دقيقو يا غير دقيقو مسئلو سوال او جواب ضروري نه دی او د جواب نه ورکولو په وجه د شهودو شاهدي نه رديږي اما تارک د لمانځه که څه هم د يو وخت د لمانځه وي فاسق دی د ده شاهدي مقبوله نه ده. فقط

ببله ليدني ګواهي ورکول

سوال: (۱۹) زيد ناڅاپه مړ شو خلکو وويل چي د کوم زهرجن شي له وجهي مړ دی په محکمه کي خلکو ګواهي ورکړه چي د ده ښځه بد چلنده ده د فلاني سړي سره آشنايي ده معلوميږي داسي چي د ده ښځي دا کار کړی دی او زهر يې ورکړي دي ښځه او سړی ونيول شول آيا بې له ليدو داسي ګواهي ورکونکيو لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۲۸۱۰ھ)

ځواب: ببله ليدني داسي ګواهي ورکول صحيح نه دي نور نو که داسي ثابت شي چي ښځه بد چلنده ده او د دې ناروا اړيکي د يو سړي سره دي چي دې ته ځي راځي نو تعزيرا او تنبيها و داسي چاته سزا ورکول صحيح دي تر څو له دغه وبال څخه کليوال خوندي شي. فقط

د اوريدو شاهدي ته اعتبار نشته

سوال: (۲۰) مرزا محمد سرور او نور د خپلي انا او نورو خپلوانو څخه په اوريدو دعوی کوي چي زمونږ نيکه (د مور پلار) د لومړي کور: سپينه ځمکه رانيوله پخپله کور پر جوړ کړی او نور محمد د خپلي خسرګنۍ ټوله مرسته ورادا کړه مګر د رانيولو پر وخت کاتب په غلطي سره د اصل مشتري پر ځای د بيع په پاڼه کي د ده د پلار خدايار نوم وليکي نور محمد د ادب په وجه څه ونه ويل د دې خبري دوه د اوريدو شاهدان او يو د ليدني شاهد شته محمد بخش د محمد الياس زوی د دغه کور په اړه وايي چي دا زما د نيکه (د پلار پلار) خدايار دی شرعًا دغه کور د نور محمد بلل کيږي که د ده د پلار خدايار؟ (۱۳۴۳/۲۰۹ھ)

ځواب: د اوربدني و شاهدي ته اعتبار نشته او د ليدني شاهد هم په دې وجه معتبر نه دی چې يو دی او اعتراض نه کول د چا حق نه باطلوي او کله چې محمد بخش د محمد الياس زوی دا مني چې دغه کور د نور محمد په روپيو رانيول شوی دی بلکه د ده خيال مثلاً همداسي دی چې دا د خدايار ترکه ده د چا په نوم چې د بيع پاڼه ليکل شوې ده نو شرعًا هم داسي بلل کيږي كما فى المجلة العدلية ص:۱٦۹: الكتاب كالخطاب(۱) و فيها الاقرار بالكتابة كالاقرار باللسان دفعه: ۱٦۰٦(۲) داغه راز په ظاهر د حال هم دا د خدايار ترکه بلل کيږي ځکه چې د بيع له پاڼي ښخه چې کوم ملکيت د خدايار معلوميږي د مخالفي ډلي سره د دې په خلاف کوم دليل نشته لهذا د خدايار د ملکيت ثبوت راجح دی. فقط

که نصاب د شاهدۍ پوره نه وي نو...

سوال: (۲۱) که نصاب د شهادت پوره نه وي نو داسي شاهدي به رديږي او کنه؟ (۷۲۰/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: که نصاب د شهادت پوره نه وي نو داسي شاهدي رديږي. (۳)

يوازي يوازي پر زنا ليدونکيو د ګواهي حکم

سوال: (۲۲) درې يا څلور کسان که د زنا ګواهي ورکړي مګر هر يو يواځي يواځي په بيلا بيلو ورځو او وختونو کي ليدلي وي په يو وار او يو ځای يې نه وي ليدلي يوه په يوه ورځ پر زنا ليدلی وي بل په بله ورځ دريم په بله ورځ څلورم بيا په بله ورځ په داسي

---

(۱) شرح المجلة ۱/۴۹ المقالة الثانية فى بيان القواعد الفقهية. المادة:۶۹ دار الكتب العلمية بيروت.

(۲) شرح المجلة ۲/۹۰۰ الباب الرابع فى بيان الاقرار بالكتابة، المادة: ۱۶۰۶.

(۳) و نصابها... رجلان... او رجل و امراتان و لايفرق بينهما لقوله تعالى: "فتذكر احداهما الاخرى و لاتقبل شهادة اربع بلا رجل الخ (الدر المختار مع الشامى ۴/۴۱۲ كتاب الشهادات. ط رشيديه)

حال کي به ګواهي د دوی قبليږي او کنه؟ (۹۹/۱۳۴۰هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و يثبت بشهادة اربعة رجال فى مجلس واحد فلو جاؤوا متفرقين حدوا الخ (۱) له دي ځخه معلوم شو چي د تنها تنها شخص په ګواهي زنا نه ثابتيږي او داسي ګواهانو ته به حد د قذف لګول کيږي. فقط

د مدعی ورور د مدعی عليه خلاف ګواهي ورکولای شي

سؤال: (۲۳) شهادت برادر مدعی مقبول است يا نه؟ (۱۳۳۷/۱۴۸۲هـ)

ځواب: شهادت برادر مدعی بر مدعی عليه مقبول است.

سؤال: (۲۳) ترجمه: د مدعی د ورور ګواهي قبوله ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۴۸۲هـ)

ځواب: د مدعی د ورور ګواهي د مدعی عليه په خلاف قبوله ده. (۲)

د ښځي لور په حق کي د مور ګواهي او د نابالغ ګواهي ته اعتبار نشته

سؤال: (۲۴) د ښځي او خاوند ترمنځ جګړه وشوه ښځه و خاوند ته وايي: چي تا ماته دري طلاقونه راکړو. خو خاوند يو مخ انکار کوي د ښځي ګواهان د دې مور ترور او د اکا او تروري نابالغه دوه زامنان دي د دوی ګواهي ته شرعًا اعتبار شته او کنه؟ که د خاوند و انکار ته د قسم سره اعتبار شته؟ لنډه دا چي په دغه صورت کي طلاق واقع او ثابت دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۴۷۷هـ)

ځواب: د مور ګواهي د خپلي لور لپاره شرعًا معتبره نه ده (۳) او نصاب د شهادت هم پوره نه دی لکه چي ښکاره دی ځکه چي د نابالغ و ګواهي ته اعتبار نشته (۴) او يوازي د ښځو په ګواهي هم طلاق

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۵۶/۳ كتاب الحدود، مطلب، الزنا شرعًا لا يختص بما يوجب الحد بل اعم. ط رشيديه

(۲) و تقبل شهادة الرجل لاخيه و عمه لانعدام التهمة (الهداية ۱۶۲/۳ كتاب الشهادة باب: من يقبل شهادته و من لا يقبل)

(۳) لا تقبل من... الفرع لاصله و بالعكس للتهمة (الدر مع الرد ٤۲۲/٤ كتاب الشهادات باب القبول و عدمه. ط رشيديه)

(٤) لا تقبل من اعمى مطلقا و مرتد و مملوک و صبی (الدر مع الرد ٤۲۱/٤ كتاب الشهادات. باب القبول و عدمه. ط رشيديه)

نه ثابتیږي(۱) لهذا په دې صورت کې چې خاوند له طلاق څخه منکر دی طلاق نه ثابتیږي فقط

د مور پلار او مامورو نوکر ګواهي ته اعتبار نشته

سوال: (۲۵) د کور کسان د طلاق شاهدان هم کیدلای شي او کنه؟ پلار یا ورور، مور یا خور او مامور و ملازم هم د قاضي مخته ګواهي ورکولای شي او کنه؟
(۱۳۳۲-۳۵/۳۴۱هـ)

ځواب: د مور او پلار ګواهي ته اعتبار نشته و الفرع لاصله و بالعکس للتهمة(۲) او د ورور او خور ګواهي ته اعتبار شته او د مامور او نوکر شهادت ته هم اعتبار نشته و الاجیر الخاص لمستاجره(۳) فقط

د شرابي زناکار او فاسق د شاهدۍ او امامت حکم

سوال: (۲۶) یو سړی څو ځله قصداً پرلپسې شراب خوړلي دي او تر څو زمانه یې غلاوي کولې او د یوې انجلۍ د حرام حمل دا سړی پخپله اقرار کوي چې دا حمل زما څخه دی او د بازاري بد چلنده ښځو سره شپې صبا کوي د داسې سړي امامت جائز او ګواهي ته اعتبار شته او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۴۹۳هـ)

ځواب: دا سړی فاسق دی د امام جوړولو او شاهدي لائق نه دی تر څو چې توبه و نه اوباسي مه یې امام جوړوئ او مه یې ګواهي اورئ ځکه چې د فاسق امامت تحریمي مکروه دی کما صرح به فی الشامی(۴) او د فاسق ګواهي ته هم اعتبار نشته.

---

(۱) و نصابها... رجلان... او رجل و امراتان و لا یفرق بینهما لقوله تعالی: "فتذکر احداهما الاخری" و لا تقبل شهادة اربع بلا رجل الخ (الدر مع الشامی ۴/۴۱۲ کتاب الشهادات. ط رشیدیه)

(۲) الدر مع الرد: ۴/۴۲۲ کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الرد ۴/۴۲۳ کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه. ط رشیدیه

(۴) و اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لامر دینه، و بان فی تقدیمه للامامة تعظیمه و قد وجب علیهم اهانته شرعًا و لا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فانه لا یؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة، فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال. بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا. (الشامی ۱/۴۱۴ کتاب الصلاة، باب الامامة، قبیل مطلب: البدعة خمسة اقسام. ط رشیدیه)

كما صرح به الفقهاء(۱) فقط

سوال: (۲۷) و فساق ګواه ته قسم ورکول ضروري دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۴۲هـ)

ځواب: د فاسق ګواه و ګواهي ته اعتبار هم نشته که قسم اخلي او که نه اخلي په هر صورت شاهدي د ده معتبره نه ده. (۲)

سوال: (۲۸) د زناکار، شراب خور او نورو فاسق او فاجرو ګواهي ته اعتبار شته او کنه؟ او د دوی په ګواهي د قاضي یا د ربیمګړي لپاره حکم کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۴۲هـ)

ځواب: د داسي خلګو و ګواهي ته اعتبار نشته او د قاضي او د ربیمګړي لپاره د ده په ګواهي حکم کول صحیح نه دی.

د رشوت ورکونکي ګواهي قبوله نه ده

سوال: (۲۹) د رشوت ورکونکي ګواهي د رشوت خور په حق کي صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۴۳۲هـ)

ځواب: د رشوت ورکونکي ګواهي د فسق په وجه قبوله نه ده.

د ږیري خریلي او ږیره لنډونکي ګواهي معتبره نه ده

سوال: (۳۰) یو سړی دعوی لري چي زما ښځه ماته وسپارئ ښځه وایي چي خاوند ماته طلاق راکړی او دري ګواهان پر دې خبره لري په هغو کي یو ږیرخریلی دی او د دوو ږیري د غنم او اوربشي په اندازه دي دواړه ږیري لنډوي د داسي خلګو ګواهي څنګه ده؟ او طلاق ثابتیږي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۳۵هـ)

ځواب: په سوال کي لیکل شویو ګواهانو ګواهي ته اعتبار نشته او د دوی په ګواهي طلاق نه ثابتیږي ځکه چي د شهودو عدالت ضروري دی یعني چي ګواهان به پرهیزګاره لمونځ کونکي او له حرامو کارونو څخه

---

(۱) اتفقوا على ان الاعلان بكبيرة يمنع الشهادة و في الصغائر ان كان معلنا بنوع فسق مستشنع يسميه الناس بذلك فاسقا مطلقا لا تقبل شهادته (الفتاوى الهندية: ۴۶۶/۳ كتاب الشهادات الباب الرابع فيمن تقبل شهادته و من لا تقبل الفصل الثاني فيمن لا تقبل شهادته لفسقه)

(۲) مخکنی حواله

ځان ساتونکي وي.(۱)

د ډیر پاخه دوست ګواهي ته هم اعتبار نشته

سوال: (۳۱) امید بي بي پر خپل دریو طلاقونو دعوی وکړه او دری ګواهان لري مګر دغه ګواهان د اختلاف په وجه رد کړل شول اوس یو سړی چي د دې میرمنې پالنه کړې دد د دې ګواه شو آیا د ده ګواهي د دې په حق کي قبلیږي او کنه؟(۱۴۴۴/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي د صدیق ګواهي قبلیږي مګر کله چي دوستي ډیره پخه وي: بحیث یتصرف کل فی مال الآخر و اما الصدیق لصدیقه فتقبل الا اذا کانت الصداقة متناهیة بحیث یتصرف کل فی مال الآخر الخ(۲) و فی الدر المختار: و من التهمة المانعة ان یجر الشاهد بشهادته الی نفسه نفعا او یدفع عن نفسه مغرما خانیة(۳) فقط

د دښمن او یتیم مال خوړونکي ګواهي قبوله نه ده

سوال: (۳۲) گواہی دشمن بر دشمن دنیاوی جائز است یانہ؟ مال یتیم خورندہ گواہی دادن جائز است یانہ؟ (۱۲۳۷/۱۳۴۵هـ)

ځواب: شہادت دشمن بر دشمن کہ مابین شان عداوت دنیاویہ باشد مقبول نیست(۴) (در مختار) وہم چنین شہادت آکل مال یتیم معتبر و مقبول نیست قال اللہ تعالی: [ان الذین یاکلون اموال الیتامی ظلما انما یاکلون فی بطونهم نارا و سیصلون سعیرا] (سورة نساء آیت:۱۰) فقط

---

(۱) قال فی الشامی: قال فی الذخیرة: و احسن ما قیل فی تفسیر العدالة ان یکون مجتنبا للکبائر. و لا یکون مصرا علی الصغائر، و یکون صلاحه اکثر من فساده و صوابه اکثر من خطئه (الشامی ۴۱۳/۴ کتاب الشهادات. ط رشیدیه)

(۲) الدر مع الشامی ۴۱۹/۴ کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه. ط رشیدیه

(۳) الشامی ۴۱۸/۴ کتاب الشهادات، اوائل باب القبول و عدمه. ط رشیدیه

(۴) و تقبل من عدو بسبب الدین، لانها من التدین بخلاف الدنیویة فانه لا یامن من التقول (الدر مع الرد ۴۱۹/۴ کتاب الشهادات باب القبول و عدمه. ط رشیدیه)

سوال:(۳۲) ترجمه: د دنیاوي دښمن ګواهي د دښمن په خلاف جائز ده او کنه؟ او د یتیم د مال خوړونکي ګواهي جائز ده او کنه؟

ګواب: د دنیاوي دښمن ګواهي د دښمن په خلاف مقبوله نه ده او داغه راز د یتیم د مال خوړونکي ګواهي معتبره او مقبوله نه ده.

په زور پخپله ښځه روژه ماتونکي ګواهي معتبره نه ده

سوال:(۳۳) یوي حاملي ښځي د رمضان د میاشتي روژي نیولي خاوند منع کوله و به وهله په زور به روژه په ماته کړه د داسي سړي ګواهي څنګه ده؟ (۱۳۴۰/۴۵۱هـ)

ګواب: داسي سړی چي خپله ښځه له فرضي روژو څخه منع کوي او روژه په ماتوي پخپله هم فرضي روژې نه نیسي فاسق دی او د فاسق و ګواهي ته شرعًا اعتبار نشته.(۱)

د غلا کونکي اقرار ته اعتبار شته مګر ګواهي ته اعتبار نشته

سوال:(۳۴) څلورو کسانو په ګډه غلا وکړه. په دوی کي دوه کسان پخپلو ځانو اقرار د غلا کوي او پر نورو دوو ملګرو ګواهي ورکوي دا ګواهي څنګه ده؟

(۱۳۳۵/۳۴۲هـ)

ګواب: د اقرار کونکیو اقرار پر خپلو ځانو معتبر دی او ګواهي ته د داسي خلګو اعتبار نشته.

د سزا شوي غله په ګواهي نکاح او طلاق ثابتیږي او کنه؟

سوال:(۳۵) پر زید باندي دوه درې ځله غلا ثابته شوه او سزا هم ورکوله شوه د ده په ګواهي نکاح او طلاق ثابتیږي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۹۸۴هـ)

ګواب: که دی توبه ګار نشي نو د ده په شهادت نکاح او طلاق نه ثابتیږي فقط

---

(۱) قال في الشامي: و الفاسق انما ترد شهادته بتهمة الكذب (رد المحتار ۱۸/٤ كتاب الشهادات. باب القبول و عدمه. ط رشيديه)

قصدًا د دروغو ګواهي ورکول کبیره ګناه ده

سوال: (۳۶) قصدًا د دروغو ګواهي ورکول څنګه دي؟ (۷۲۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د دروغو ګواهي ورکول کبیره ګناه ده په حدیث شریف کي راغلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: الکبائر الاشراک بالله، و عقوق الوالدین، و قتل النفس، و الیمین الغموس. رواه البخاری و فی روایة انس "و شهادة الزور" بدل "الیمین الغموس" (۱) فقط

د دروغو ګواهي ورکونکي څه سزا ده؟

سوال: (۳۷) د دروغو ګواهي ورکونکي لپاره څه سزا ده؟ (۱۱۲۷/۱۳۴۲هـ)

ځواب: څوک چي د دروغو ګواهي ورکوي هغه فاسق فاجر او سخت ګنهکار دی قال الله تعالی: [اجتنبوا قول الزور] (سورة حج، آیت: ۳۰-۳۱) داسي سړی چي تر څو توبه او نه باسي اړیکي ورسره ختمي کړي. فقط

سوال: (۳۸) هندوانو پر صوبه دار صاحب د دروغو دعوی وکړه او څو مسلمانانو روپۍ واخیستي د دروغو ګواهي یې د مسلمانانو په خلاف ورکړه شرعًا د دوی لپاره څه حکم دی؟ (۱۵۰۷/۱۳۴۲هـ)

ځواب: د دروغو ګواهي کبیره ګناه ده په قرآن شریف کي د شرک سره برابره بللې ده، قال الله تعالی: "اجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به" الآیة (سورة حج، آیت: ۳۰-۳۱) او په حدیث شریف کي راغلي دي: الکبائر الاشراک بالله و عقوق الوالدین، و قتل النفس، و الیمین الغموس، رواه البخاری و فی روایة انس: "و شهادة الزور" بدل "الیمین الغموس" الحدیث(۱) و فی روایة: عدلت شهادة الزور بالاشراک بالله ثلث مرات ثم قراء: فاجتنبوا الرجس من الاوثان و اجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به(۲) لنډه دا چي

---

(۱) مشکاة المصابیح ص: ۱۷ کتاب الایمان، باب الکبائر و علامات النفاق.

(۲) عن خریم بن فاتک رضی الله عنه قال: صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة الصبح فلما انصرف قام قائما فقال: عدلت شهادة الزور الحدیث (سنن ابی داؤد: ص ۵۰۶، ۵۰۷ کتاب القضاء باب فی شهادة الزور)

کوم خلګو دا عمل کړی دی هغه فاسقان او ګنهکاران دي، که دوی توبه او نه باسي نو د دوی څخه اړیکي ختمول پکار دي. فقط

سوال: (۳۹) کوم څوک چي د رښتیا ګواهي څخه ځان ګوري او د دروغو ګواهي ورکوي د هغه څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۹۸۸هـ)

ځواب: د دروغو ګواهي ورکول کبیره ګناه ده په حدیث شریف کي راغلي دي چي د دروغو ګواهي د شرک سره برابره ده(۱) کما قال الله تعالی: [و اجتنبوا قول الزور حنفاء لله غير مشركين به] الآية (سورة حج، آيت: ۳۰-۳۱) فقط

د دروغو ګواهي ورکونکی د رېیمګړی تاکل

سوال: (۴۰) د دروغو ګواهي ورکونکي څه حکم دی؟ او داسي څوک د رېیمګړی تاکل څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۹۴هـ)

ځواب: د دروغو ګواهي ورکونکی سخت ګنهکار او فاسق دی د ده و ګواهي ته په ائنده کي اعتبار نشته مګر که توبه او باسي او داسي سړی د دي ور نه دی چي د رېیمګړی و تاکل شي. فقط

د ظلم د مخ نیوي لپاره د دروغو ګواهي ورکول

سوال: (۴۱) د حق د اثبات او ظلم د رفع لپاره د دروغو ګواهي ورکول څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۷۸۷هـ)

ځواب: د حقدار د حق د اثبات او د ظلم د مخ نیوي لپاره داسي ګواهي ورکول چي په ظاهره دروغ وي او فی الواقع رښتیا وي صحیح دی.

د ګواهۍ د قبولیت لپاره دښمني مانع ده او کنه؟

سوال: (۴۲) دښمني که دیني وي او که دنیوي د شاهدي لپاره مانع ده او کنه؟ که مشهود علیه دعوی

---

(۱) عن خريم بن فاتک رضى الله عنه قال: صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم صلوة الصبح فلما انصرف قام قائما فقال: عدلت شهادة الزور بالاشراک بالله الحديث(سنن ابى داؤد: ۵۰۶، کتاب القضاء باب فى شهادة الزور)

وکړي چي ګواه زما سره عداوت لري نو د ده دعوی کافي ده که و ثبوت ته ضرورت شته؟ (۱۳۳۳/۱۲۳۴هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و تقبل من عدو بسبب الدين لأنها من التدين بخلاف الدنيوية الخ (۱) له دې څخه معلوم شو چي ديني عداوت د شهادت د قبوليت لپاره مانع نه دی اما دنيوي عداوت د قبوليت لپاره مانع دی او د عداوت ثابتول ضروري دي صرف په دعوی کولو عداوت نه ثابتيږي.

سوال: (۴۳) زما خور زما اخښی خطا کړه د دې د ولور د خوړلو په خاطر په دې باندي پرچه وليکله او د ولور په بدل ګرو ورکړی ځمکه ځني خلاصه کړه ځکه زما او د ده تر منځ ناراضګي ډېره ده دی زمونږ غم ته هم نه راځي د داسي سختو دښمنانو ګواهي شرعًا د اوريدو وړ ده او حجت دی کنه؟ (۱۳۴۵/۴۹۳هـ)

ځواب: د داسي دښمنانو شهادت مقبول نه دی. کما مر

د دښمن په ګواهي طلاق نه ثابتيږي

سوال: (۴۴) يو څو کسانو چي د ملا اسحاق سره کلکه دنيوي دښمني وه د ملا اسحاق په خلاف د طلاق ګواهي ورکړه د ده ښځه له ده څخه په مغلظ او حرام طلاق سره بيله کړه شرعًا د ملا اسحاق د دښمنانو ګواهي د ده په خلاف صحيح شوه او ښځه د ملا اسحاق پر ده حرامه شوه او کنه؟ (۱۳۴۵/۴۹۲هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و تقبل من عدو بسبب الدين لانها من التدين بخلاف الدنيوية، فانه لا يامن من التقول عليه الخ(۲) نو معلوم شو چي د دنياوي دښمن ګواهي ته اعتبار نشته او په دې سره طلاق نه ثابتيږي. فقط

که مدعی او مدعی عليه دواړه ګواهان ولري نو د چا ګواهانو ته اعتبار دی؟

سوال: (۴۵) يو سړی خپلي ښځي ته طلاق معلق بالشرط ورکړی بيا تقديرًا شرط موجود شو معلق کونکی وايي چي تعليق بالثلاث نهٔ د ده مخالفين وايي چي تا تعليق بالثلاث کړی

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۴۱۹/۴ کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۴۱۹/۴ کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه. ط رشيديه

دی دواړه ګواهان لري نو په دې صورت کې د چا ګواهانو ته اعتبار شته؟ (۱۸۰۳/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دې صورت کې کوم کس چې دا وايي چې خاوند په ثلاثه طلاق سره تعليق ورکړی دی هغه مدعي دی دی بايد پر خپله دعوی ګواهان پيش کړي او کله چې د ده سره دوه عادل او ثقه ګواهان شته نو د هغوی ګواهي ته اعتبار دی او دعوی ثابتيږي او د شرط د تحقق پر وخت درې طلاقه واقع کيږي په در مختار کې راغلي دي: و تنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقًا الخ(۱) او په حديث شريف کې راغلي دي: البينة على المدعى و اليمين على من انكر الحديث(۲) فقط

که مدعی علیه د ګواهانو فسق ثابت کړي نو د دوی ګواهي ته اعتبار نه پاتيږي

سوال: (۴۶) که مدعی علیه د مدعي د ګواهانو فسق او فجور ثابت کړي نو د دوی ګواهي ته به اعتبار وي او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۴۲هـ)

ځواب: که مدعی علیه د ګواهانو فسق ثابت کړي نو ګواهي ته د دغه ګواهانو اعتبار نه پاتيږي.

له دې اقرار وروسته چې زما سره ګواه نشته بيا ګواه پيشول

سوال: (۴۷) که د قاضي و مخته مدعيه اقرار وکړي چې زما کوم بل شاهد نشته، نو د شهادت له ردېدو وروسته بيا شاهد پيش کول معتبر دي او کنه؟ او په اوسني زمانه کې چې رواج دی څوک ږيره لنډوي څوک يې خريي او څوک د شرعي خلاف جامې اغوندي او څوک په مسجد کې يو مخ لمونځ نه کوي او شراب خور او نور شرعًا د داسې خلکو ګواهي معتبره او کنه؟ (۳۲/۷۲۰-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د مدعي له اقرار کولو وروسته چې زما کوم بل شاهد نشته که بيا ګواه پيش کړي نو معتبر دی قال: لا بينة لى و طلب يمينه فحلفه القاضى ثم برهن على دعواه بعد اليمين قبل ذلك

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵٤٤/۲ كتاب الطلاق، مطلب مهم: الاضافة للتعريف لا للتقييد فيما لو قال: لا تخرج امراتى من الدار. ط رشيديه

(۲) عن ابن عباس رضى الله عنهما مرفوعًا: لكن البينة على المدعى، واليمين على من انكر(مشكاة المصابيح ص: ۳۲٦ باب الاقضية و الشهادات الفصل الاول)

البرهان الخ(۱) (در مختار) او په سوال کي بیان شویو کسانو شهادت معتبر نه دی. هکذا فی عامة کتب الفقه(۲)

که ګواهان رد شي نو مدعی نور ګواه پیش کولای شي

سوال: (۴۸) مدعی پخپله دعوی کي ګواهان پیش کړل، هغه ګواهان د شرعي عذر له امله رد کړل شول او د شهادت وړ پاته نه شو اوس مدعی نور ګواهان پیش کول غواړي پوښتنه دا ده چي د مدعی دغه غوښتنه څنګه ده؟ (۱۳۳۵/۱۲۷هـ)

ځواب: نور ګواهان پیش کولای شي: کما فی الدر المختار: شهادة قاصرة یتمها غیرهم تقبل. کتاب الشهادات، باب القبول وعدمه(۳) (شامی ۳۸۸/٤) و فی کتاب الدعوی قال: لا بینة لی و طلب یمینه فحلفه القاضی ثم برهن علی دعواه بعد الیمین قبل ذلک البرهان عندالامام منه و کذا لو قال المدعی: کل بینة آتی بها فهی شهود زور او قال: اذا حلفت فانت بریٔ من المال، فحلف ثم برهن علی الحق قبل خانیة و به جزم فی السراج کما مر(۴) (در مختار ٤ کتاب الدعوی) (۵) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۴۷۵/٤ کتاب الدعوی قبل باب التحالف. ط رشیدیه

(۲) د کتاب الشهادت دریم سوال جواب وګورئ

(۳) الدر مع الرد ٤۳۱/٤ کتاب الشهادات قبیل باب الاختلاف فی الشهادة الخ. ط رشیدیه

(٤) الدر مع الرد ٤۷۵/٤ کتاب الدعوی قبل باب التحالف. ط رشیدیه

(۵) ترجمه: د در مختار کتاب الشهادات په باب القبول وعدمه کي راغلي دي چي شهادت قاصره که نورو ګواهانو مکمل کړی نو قبلیږي (مثلاً دوو کسانو بې د ملک له حدودو بیانولو ګواهي ورکړه او له دوی څخه سیوا نورو دوو ګواهانو د حدودو ګواهي ورکړه نو دواړه ګواهی په ګډه قبولي دي) او د در مختار په کتاب الدعوی کي راغلي دي: مدعی وویل چي زما سره ګواهان نشته او له مدعی علیه څخه د قسم غوښتنه وکړه، ځکه قاضي څني قسم واخیستی بیا له قسم وروسته مدعی پر خپله دعوی ګواهان پیش کړل نو دغه ګواهان د مدعی د امام ابو حنیفه رحمه الله په نیز مقبول دي او داغه راز که مدعی وویل: کوم ګواهان چي زه پیشوم هغه دروغجن ګواهان دي یا یې (مدعی علیه ته) وویل چي کله تا قسم واخیستی نو ته له مال څخه خلاص یې نو مدعی علیه قسم واخیستی بیا مدعی خپل ګوهان پیش کړو نو مقبول دي لکه چي په خانیه کي راغلي دي او په سراج کي پر همدې باندې یقین کړی دی لکه چي تېر شول

د هندو و ګواهي ته اعتبار نشته

سوال: (۴۹) يو سړي د سود د سودا په اړه خبري اتري وکړې چي ګواه يې يو هندو دی د دې څه حکم دی؟ (۱۹۹۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: بیشکه د هندو و ګواهي ته په شریعت کي اعتبار نشته او د يوه ګواه ګواهي هم معتبره نه ده او دغه سړی دي هم پوه کړل شي چي آئنده دي د سود د معاملې په اړه خبري هم نه کوي معامله خو لا ليري خبره ده له دې څخه سيوا بله کومه سختي پرده کول روا نه ده. فقط

د وفات شويو او ړندو ګواهانو ګواهي ته اعتبار نشته

سوال: (۵۰) د زيد نکاح په څلور سوه روپۍ مهر معجل وشوه څه موده وروسته له زيد څخه ښځي د مهر غوښتنه وکړه زيد ورته انکار وکړی د زيد ښځي سل روپۍ ورپرېښودې د دريو سوو روپيو دعوی يې ورباندي وکړه وکيل او ګواه د څلورو سوو روپيو د هر وخت غوښتني بيان وکړی زيد داسي ګواهان وښودل چي وفات شوی دی په هغوی کي يو ړوند ؤ او دري ګواهان وايي چي يو سل پنځه ويشت روپۍ مهر ؤ په دغه صورت کي څومره مهر ثابتيږي؟ او د ړانده ګواهي څنګه ده؟ (۱۳۴۲/۱۲۲۱هـ)

ځواب: کوم مهر چي د دوو عادلو ګواهانو په ګواهي ثابت شي د هغه ادا کول واجبيږي او د وفات شويو ګواهانو ګواهي ته اعتبار نشته(۱) او د ړانده و ګواهي ته هم اعتبار نشته(۲)

د حرمت مصاهرت د ثبوت لپاره دوه عادل ګواهان بس دي

سوال: (۵۱) يو سړی د خپل زوی د ښځي سره زنا وکړه صرف دري ګواهان دي د دريو ګواهانو

---

(۱) ځکه چي د ګواهي لپاره پخپله د ګواه د قاضي په مجلس کي حضور شرط دی او وفات شوی پر حاضري قدرت نلري و اما الذی یخص المکان فواحد و هو مجلس القاضی لان الشهادة لا تصیر حجة ملزمة الا بقضاء القاضی فتختص بمجلس القضاء و الله سبحانه و تعالی اعلم (بدائع الصنائع ۴۱۷/۵ کتاب الشهادة. الشرائط التی تخص بعض الشهادات دون البعض)

(۲) و لا تقبل شهادة الاعمی مطلقا. سواء عمی قبل التحمل او بعده فیما تجوز الشهادة فیه بالتسامع او لا تجوز (الهندية: ۴۶۴/۳ کتاب الشهادات الباب الرابع فیمن تقبل شهادته و من لا تقبل)

په ګواهي حرمت مصاهرت ثابتیږي او کنه؟ یو مولوي صاحب وایي چي د حد جاري کولو لپاره څلور ګواهان ضروري دي د حرمت د ثبوت لپاره صرف دوه ګواهان بس دي دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۴۰۲هـ)

ځواب: بیشکه حرمت مصاهرت د دوو عادلو ګواهانو په ګواهي ثابتیږي.(۱) فقط

د زنا د ثبوت لپاره څلور ګواهان ولي ضروري دي؟

سوال: (۵۲) د هر جرم د ثبوت لپاره د دوو کسانو ګواهي ضروري وي د زنا د ثبوت لپاره د څلورو کسانو ګواهي ولي ضروري ده؟ (۱۰۳۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: زنا خو ډېر لوی جرم دی او سزا یې هم ډېره سخته او شدیده ده یعني د محصن زنا کار سزا سنګسار دی او د نامحصن سزا سل درې. ځکه د الله رب العزت د حکمت تقاضا دا شوه چي د دې په ګواهي کي هم څه شدت وي تر څو اشاعت فاحشه بین المؤمنین کي کمي وي.

ګواهان د کنایې الفاظو ګواهي ورکوي او خاوند له دغو الفاظو څخه د طلاق د نیت انکار کوي

سوال: (۵۳) که څو کسان د داسي الفاظو ګواهي ورکړي چي د هغوی تعلق او فیصله د خاوند پر نیت بناء وي مثلاً دوی ووایي چي فلانی سړی خپلي ښځي ته زموږ په مخ کي داسي وویل: "ته پر ما مور او خور یې" او خاوند له دغو الفاظو څخه د طلاق د نیت کولو یو مخ انکار کوي په دې صورت کي طلاق واقع دی او کنه؟ او که یو ګواه دا ووایي چي زما په مخ کي فلانی سړی و خپله ښځه ته صریح طلاق ورکړي نو په داسي صورت د دغه یو سړي شهادت په کامل النصاب بللو سره د طلاق فیصله کیدلای شي او کنه؟ (۷۲۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کي طلاق نه دی واقع د خاوند قول معتبر دی او د صریح طلاق لپاره یو ګواه کافي

---

(۱) و نصابها للزنا اربعة رجال... و لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالاً او غیره کنکاح و طلاق و وکالة و وصیة و استهلال صبي و لو للارث رجلان او رجل و امراتان و لا یفرق بینهما لقوله تعالی: فتذکر احداهما الاخری(تنویر الابصار مع الدر المختار و الشامی ۴۱۲/۴ کتاب الشهادات. ط رشیدیه)

نه دی د ده په شاهدي طلاق نه ثابتیږي.

د یو سړي په ګواهي او قسم غلا نه ثابتیږي

سوال: (۵۴) د یو سړي په قسم یا ګواهي غلا ثابتیږي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۳۴هـ)

ځواب: د یو سړي په اقرار او قسم پر بل چا غلا نه ثابتیږي.

ځیني کسان د طلاق ورکولو او ځیني د نه ورکولو ګواهي ورکوي نو د چا ګواهي معتبره ده؟

سوال: (۵۵) دوه کسان ګواهي ورکوي چي زید زمونږ و مختنه مثلاً د مولوي اشرف علي په مجلس کي و خپله ښځه ته دري طلاقه ورکړو او زید انکار کوي او نومړی مولوي صاحب او نور حاضرین د مجلس یو مخ انکار کوي چي زمونږ و مختنه زید و خپله ښځه ته طلاق نه دی ورکړی او په واقع کي ګواهان د طلاق دروغجن وي نو په داسي صورت کي د ګواهانو قول ته شرعًا اعتبار دی که د نومړي مولوي صاحب او نورو ناستو خلکو قول معتبر دی؟ (۱۳۴۵/۹۰۳هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و نصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح و طلاق الخ رجلان الخ او رجل و امرأتان الخ و لزم فی الکل الخ لفظ اشهد لقبولها و العدالة لوجوبه الخ(۱) (در مختار ملخصا) و ذکر فی الهامش فی النوادر عن الثانی شهدا علیه بقوله او فعل یلزم علیه بذلک اجارة او بیع او کتابة او طلاق او عتاق او قتل او قصاص فی مکان او زمان و صفات فبرهن المشهود علیه انه لم یکن ثمه یومئذ لا تقبل الخ(۲) (رد المحتار ۳۸۸/٤) نو معلوم شو چي که د طلاق دوه ګواهان چي په ظاهره عادلان او ثقه دي او د دوی په شاهدي کي کوم شرعي نقص نه وي د دوی په ګواهي طلاق ثابتیږي او په کوم مجلس او

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ٤١٣/٤ کتاب الشهادات. ط رشیدیه

(۲) رد المحتار: ٤٣١/٤ کتاب الشهادات قبیل باب الاختلاف فی الشهادة الخ. ط رشیدیه

مکان کي چي ګواهان طلاق بیانوي که د مجلس ناست خلک دا وو ایي چي زموږ مخته طلاق نه دی ورکړی نو په دغه انکار سره د طلاق نفي نه کیږي ځکه نفي پر شهادت باندي معتبره نه وي. مګر کله چي متواتري شي شهادة النفي المتواتر مقبولة بخلاف غيره فلا يقبل سواء كان نفيا صورة او معنى و سواء احاط به علم الشاهد اولا كما مر في باب اليمين في البيع و الشراء الخ(۱) (رد المحتار) فقط

د قرآن په قسم سره ګواهي ورکول

سوال: (۵۶) دوو کسانو د یوې معاملې په اړه د قرآن په قسم سره ګواهي ورکړه ځوک چي د دوی ګواهي معتبره نه بولي هغه د قرآن شریف سپکاوی کونکی دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۴هـ)

ځواب: که دوی دواړه عادلان ګواهان دي او د قرآن په قسم سره ګواهي ورکړه نو شرعًا د دوی ګواهي معتبره ده د قاضي لپاره ضروري ده چي د دوی په ګواهي فیصله وکړي د چا بې له کومي شرعي وجهي د دوی ګواهي معتبره نه بلل هیڅ اثر نه کوي او سپکاوی په دې کي هیڅ نشته که له قسم اخیستلو وروسته کومه شرعي وجه د عدم سماعت او عدم قبول شهادت شرعًا موجوده شي نو داسي شاهدي نه او ریدل کیږي او نه قبلیږي که څه هم د قرآن په قسم سره ورکړې وي اما که کومه وجه د ردولو د ګواهي نه وي او بیا حاکم او قاضي دا رد کړي نو هغه ګنهکار دی. و تفصیله في کتب الفقه فقط

اقرار د اقرار کونکي تر ذاته وي مګر شهادت پر ټولو حجت وي

سوال: (۵۷) یوه نیکه ښځه په قسم سره وایي چي زما خسر زما سره دري ځلوږ ځله زنا وکړه ما د شرم په وجه چا ته و نه ویل او نه شوای د دې خسر په قسم سره وایي چي ما داسي کار هیڅ کله نه دی کړی د دغه ښځي خسر سود خوږ فاسق او بې لمانځه دی په دې صورت کي به د چا قول ته اعتبار وي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۴۵۲هـ)

ځواب: شرعًا د چا اقرار د ده تر ذات پوري دی او د ده د ذات په اړه به

---

(۱) شامي ۴ / ۴۳۱ الشهادات. قبيل باب الاختلاف في الشهادة. ط رشيديه

مقبول وي پر نورو حجت نه وي اما شهادت معتبره چي دی یعني چي کوم کار په شرعي شهادت ثابت شي هغه پر ټولو خلکو حجت وي لان الاقرار حجة قاصرة(۱) قال فی الدر المختار: لما تقرر ان اقراره مقبول فی حق نفسه فقط الخ(۲) (در مختار) نو په همدي وجه د دغه ښځي د اقرار اثر د دې پر خاوند او خسر نه پرېوزي یعني حرمت مصاهرت چي د خاوند لپاره ثابتیږي هغه نه ثابتیږي لهذا که د دغه ښځي خاوند د دغه ناوړه عمل تصدیق ونکړي پر ده د ده ښځه یعني دغه اقرار کونکی نه حرامیږي په شامي کي راغلي دي: و کذا اذا اقر بجماع امها قبل التزوج لا یصدق فی حقها الخ(۳) (شامي: ۲/۲۸۳) فقط.

که محکمه پر ګواهي ورکولو څه ورکوي د هغه اخیستل څنګه دي؟

سوال: (۵۸) د ګواهي پر ورکولو چي محکمه څه ورکوي د هغه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۵۳۱هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و کذا الکاتب اذا تعین لکن له اخذ الاجرة لا للشاهدحتی لو ارکبه بلا عذر لم تقبل و به تقبل لحدیث "اکرموا الشهود" و جوز الثانی الاکل مطلقا و به یفتی الخ(۴) نو معلوم شو چي د ضرورت پر مهال که ګواه ته څه ورکول شي د هغه اخیستل صحیح دي. فقط

---

(۱) رد المحتار ۵/۱۷۳ کتاب الشفعة، مطلب لا شفعة للمقر له بدار. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ٤/٥٢٠ کتاب الاقرار، آخر اقرار المریض. ط رشیدیه

(۳) رد المحتار ۲/۳۱۳ کتاب النکاح، فصل فی المحرمات، قبل مطلب مهم فی وطئ السراری اللاتی یوخذغنیمة فی زماننا. ط رشیدیه

(۴) ترجمه: په در مختار کي راغلي دي: او داغه ډول د کاتب حکم دی (یعني د معاملي لیکنه فرض ده) کله چي تعین د کاتب وشي (یعني له ده څخه سیوا بل څوک نه وي) لیکن د کاتب لپاره مزدوري اخیستل جائز دي نه د ګواه لپاره تر دې که مدعی بیله کوم عذر شاهد سپور کړی نو د ده ګواهي نه قبلیږي او که عذر وي نو ګواهي قبلیږي د حدیث په وجه چي: "د ګواهانو تعظیم کوئ" او امام ابو یوسف رحمه الله د ګواهانو خوراک مطلقا (که خوراک د دوی لپاره تیار شوي وي او که نه وي) جائز بللي دي پر همدې فتوی ورکول کیږي (الدر المختار مع رد المحتار ٤/٤١٢ کتاب الشهادات. ط رشیدیه)

که قابض او خارج دواړه ګواهان ولري نو د چا ګواهانو ته اعتبار دی؟

سوال: (۵۹) که د نتاج یا نورو دعؤو د هستوګنی یا کښت ځمکو فیصله وي او د قابض او خارج دواړو سره ګواهان وي نو د چا ګواهانو ته اعتبار دی؟ د ذو الید که د خارج؟ (۱۲۳۴/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په مطلق ملک کي بینه د خارج اولی ده او په ملک مقید بالنتاج کي بینه د ذو الید معتبره ده و بینة الخارج فی الملک المطلق و هو الذی لم یذکر له سبب احق من بینته ذی الید لانه المدعی و البینة له بالحدیث بخلاف المقید بسبب کنتاج و نکاح فالبینة لذی الید اجماعا کما سیجئ(۱) (در مختار)

(۱) الدرالمختار مع رد المحتار ٤/٤٧١ کتاب الدعوی. ط رشیدیه

كتاب الوكالة

د وكالت بيان

د وكالت پيښه جائز ده او كنه؟

سوال: (۱) زيد د وكالت پيښه كول غواړي ليكن په حلت او حرمت كي تذبذب او اشتباه لري، كه كوم وكيل پخپل علم د رښتني واقعا توپيروي وكړي نو شرعًا څه حكم دى؟ او د وكالت پيښه جائز ده او كنه؟ (۱۳۴۲/۲۷۸۰هـ)

ځواب: دا خو ښكاره ده چي وكالت يعني د يو جائز كار د كولو لپاره د چا وكيل جوړېدل جائز دي په دې كي هيڅ اختلاف نشته اما خبره په دې كي ده چي پيشه د وكالت كول چي په كي هر ډول دعواګاني او معاملې كول وي هغه جائز ده كنه؟ نو كه كوم وكيل احتياط كوي چي پخپل علم كي د رښتني معاملو څخه سيوا د كومي دروغجني معاملې او سودي معاملې پيروي نه كوي نو هغه جائز دي او كه د سودي معاملو يا د دروغو معاملو پيروي كوي يا ګواهانو ته د دروغو ويلو او نورو د شرعي په خلاف كارونو كولو امر كوي نو هغه ناجائز دي فقط

د حقداره خلګو وكالت كول او اجرت او هديه ځني اخيستل

سوال: (۲) د حقداره خلګو وكالت كول او د خپل محنت اجرت او هديه ځني اخيستل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۷۰۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کې وکیل جوړېدل او د خپل محنت اجرت او نور اخیستل جائز دي.

د وکالت د آمدني شرعي حکم

سوال: (۳) د وکالت آمدني خوړل څنګه دي؟ کله چې زیاتره مقدمې د دروغو وي. (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۲۸هـ)

ځواب: تقوی دا ده چې ځان ځني وساتي او د فتوی له لارې صحیح دی.

سوال: (۴)... (الف) د وکیل د آمدنی شرعًا څه حکم دی؟ کله چې دوی د دروغو او رښتیاؤ هر ډول مقدمو پیروي کوي.

(ب) له دغه آمدني څخه یو معلم صاحب ته تنخواه ورکول کیږي د ده لپاره تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۲۳۸هـ)

ځواب: (الف) و داسي آمدني ته قطعي حرام نشي ویل کیدلای اما شکمنه ضرور ده ځان ساتنه ورڅخه مناسبه ده.

(ب) د معلم صاحب لپاره تنخواه اخیستل جائز ده او ده ته حلاله ده.

سوال: (۵) د وکالت او مختارکاري پیشه څنګه ده؟ او د دې د آمدني څه حکم دی؟ دا ښکاره ده چې د مروج قانون له امله زیاتره سړی د دروغو او خیانة سره مخ شي او د حق په خلاف پیروي او مرسته راځي. (۱۳۴۳/۷۰۷هـ)

ځواب: احتیاط په دې کې دی چې وکالت او مختار کاري چې د مروج قانون مرسته په کیږي نه دي کول پکار. لیکن که کوم وکیل او مختار د خیانة دروغو او د ناحق له پیروی څخه ځان ساتنه کوي او د خپل وس سره سم داسي کومه مقدمه وانه اخلي چې د ده په علم کې د دروغو وي او د ناحق پیروي او طرف داري نه کوي او و حقدار ته د ده په حق ور اخیستلو کې کوشش کوي نو د ده په هکله داسي آمدني د وکالت او مختارکاری حلاله ده او پخپل ځان یې مصرفولای شي. فقط

د ناحقه سري پر وکالت کولو روپۍ اخیستل

سوال: (٦) که کوم څوک د دروغو دعوی د وکیل په وسیله په محکمه کې پېش کړي او د دغه وکیل په کوشش د دغه ناحقه مدعي په هکله فیصله وشي د دا سې دروغو پر دعوی روپۍ اخیستل جائز دي او کنه؟ (۹۲۲/۱۳۳۹هـ)

ځواب: جائز نه دي. فقط

موکل وکیل هر وخت عزلولای شي

سوال: (٧) موکل خپل وکیل تر څو وکیل جوړولای شي؟ وکیل دا یې چې تر یو کال پوري موکل ما نشي عزلولای دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۴۴/۱۳۷۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: هر کله چې موکل وغواړي خپل وکیل عزلولای شي(١) د وکیل دا خبره چې تر یو کال پوري موکل ما نشي عزلولای یو مخ بې اصل او لغو ده. فقط و الله تعالی اعلم

د سودي او ناسودي دعوو طرف داري کونکی وکیل آمدني شکمنه ده

سوال: (٨) دوه وکیلان له یوې مودې څخه په دې طریقه په وکالت کې سره شریکان ؤ چې بو ته به څومره مقدمو کې څومره آمدني راغله د هغه نیم به خپل شریک وکیل ته ورکړه او هغه بل وکیل ته چې به څومره آمدني راغله هغه به اول وکیل ته ورکړه دواړو وکیلانو د دیواني، فوجداري د مال او نورو په فیصلو کې برخه اخیسته چې په هغوی کې به ځیني د سود او کله د دروغو معاملې هم وې یو وکیل د دروغو معاملو او سودي دعوو اخیستلو څخه توبه وایسته دوهم وکیل صرف د دروغو له دعوو اخیستلو څخه پرهیز وکړی د سود...

---

(١) فللموکل العزل متی شاء ما لم یتعلق به حق الغیر... بشرط علم الوکیل (الدر المختار مع الشامي. ٤/٦٣ كتاب الوكالة باب عزل الوكيل. ط رشيديه)

معاملو د نه اخیستلو وعده یې نه ده کړې کوم وکیل چې سودي مقدمو کې برخه اخلي که هغه د مخکني وعدې سره سم نیمه آمدني و دوهم وکیل ته ورکړي نو شرعًا د ده لپاره حلال دي او کنه؟ (۱۵۲۴/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د سودي او ناسودي دعوو طرفداري کونکی وکیل آمدني شکمنه ده نو د دوهم نائب وکیل لپاره له دې څخه برخه اخیستل ښه نه دي او داسې شراکت ختمول غوره دي تر څو د توبه کړي په آمدني کې شکمنه آمدني ګډه نه شي. فقط

د سود د دعوو طرفداري د وکیلانو لپاره څنګه ده؟

سوال: (۹) په کومو دعوو کې چې د سود او نورو بیان وي د داسې دعوو طرفداري د وکیلانو لپاره جائز ده او کنه؟ (۲/۴۱۹/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د سود د دعوو طرفداري د وکیلانو لپاره جائز نه ده، د داسې دعوو طرفداري نه دي کول پکار.

کتاب الدعوی

د دعوی بیان

په یوه جګړه کي د مدعی او مدعی علیه تعین

سوال: (۱) زید، عمر، بکر او نور څو کسان د یو ځای مالکان او سره شریکان ؤ، ونډه لرونکي بکر د دغه سیمي مشر او سردار هم ؤ، چي د حکومتي مالیې د ادا کولو لپاره به له هر شریک څخه د روپۍ اخیستلو او هر شریک ته د خپلي برخي رسولو ذمه واري هم د ده پر سر وه، اوس زید او عمر پر بکر دعوی لري چي د یو کښت په روپیو کي زمونږ برخه ده مونږ ته نه ده راکړې، بکر په جواب کي ورته وایي: چي څومره اندازه تاسو بیانوي دا صحیح نه ده، او څومره روپۍ چي زما لاس ته راغلي له هغه څخه د مالیې او مصرفونو د ادا کولو وروسته و هر یوه ته خپله برخه ورکوله شوه، اوس په ما باندي د هیڅ شی نښته په دې صورت کي دوې خبري د پام وړ دي لومړی دا چي څومره روپۍ د ادا یني چي بیان کړي دي هغه کمي مني دوهمه دا چي څومره روپۍ د مدعی علیه بکر په نیزد واجب الاداء دي د هغه مدعی علیه ادا کول بیانوي، د اختلاف په دغه صورت کي د شریعت په رڼا کي مدعی څوک دی چي د هغه په ذمه ګواهان ضروري وي؟ او مدعی علیه څوک دی؟ چي په ذمه چي د ګواهانو د نه موجودیت په صورت قسم وي ښکاره ده که بکر د اصلو روپیو له وجوب څخه منکر وایي نو زید مدعی ؤ او بکر مدعی علیه لیکن کله چي

بکر د واجب الاداء روپیو بوه برخه ومنله د هغه ادا کول بیانوي او زید له ادا څخه انکار کوي نو آیا اوس به هم زید مدعی وي که به بکر د ادا مدعی وبولو زید چې په ظاهره مدعی ده په دې اړه به مدعی علیه او منکر وګرځول شي؟ او د کومې برخې وجوب چې بکر نه مني په هغه کې به زید مدعی وي لکه چې دی ؤ که به په دې کې هم بکر مدعی وي؟ (۲۳۸۷/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په دې صورت کې اصلاً د واجب الاداء روپیو په مقدار کې زید او عمر مدعیان دي پر دیو باندې د دغه مقدار په ګواهانو ثابتول لازم دي او که دوی سره ګواهان نه وي نو بکر چې کوم مقدار په قسم سره بیان کړی هغه به منل کیږي او کوم مقدار چې بکر و مني د هغه ادا کول او مدعیانو ته ورکول بیانوي په هغه کې بکر مدعی دی پر ده باندې د ادا ګواهان راوستل لازم دي که د ده سره د ادا ګواهان نه وي نو له اصلو مدعیانو څخه کوم چې په دې اړه مدعیان علیهم دي د شرعي قاعدې سره سم قسم اخیستل کیږي چې دوی قسم واخلي نو د مدعی علیه له لوري چې کومه دعوی د ادا وه هغه به باطله شي یعني د معلومو روپیو ادا کول به ثابت نشي او د هغه روپی ادا کول به پر ده واجب شي په در مختار کتاب الدعوی کې راغلي دي: ادعى المديون الايصال فانكر المدعى ذلك و لا بينة له على مدعاه فطلب يمينه فقال المدعى: اجعل حقى فى الختم ثم استحلفنى له ذلک او په شامي کې راغلي دي: قوله: (فانكر المدعى) اى مدعى الدين قوله: (و لا بينة له) اى لمدعى الايصال. قوله (فطلب يمينه) اى يمين الدائن قوله: (فقال المدعى) اى مدعى الدين. قوله(اجعل حقى فى الختم) اى الصک و معناه اكتب لى الصک بالبينة ثم استحلفنى مدنى، او المراد احضار نفس الحق فى شئ مختوم و هو الاظهر و فى حاشية الفتال عن الفتاوى الانقروية: يعني احضر حقى ثم استحلفنى الخ(۱) د در مختار له دغه عبارت او د علامه شامي له تشریح څخه دا څرګند شو چې پوروړی کوم چې مدعی علیه ؤ که د ادا کولو دعوی وکړي نو په دې کې دی مدعی دی او په ګواهانو د دې ثابتول پر ده لازم دي که ګواهان ورسره نه وي نو د پور د اصل مدعی چې د حق په رسونه کې مدعی علیه دی قسم بس دی او د ده له قسم اخیستلو وروسته پر مدعی علیه باندې کوم چې مدعی دی د پور د ادا کولو د دغه پور ادا کول لازمیږي ځکه چې د کوم شی ده دعوی کړې وه د پور د رسولو هغه یې ثابت نکړ. فقط

(۱) الدر و الرد ٤/٤٧٥ کتاب الدعوی. ط رشیدیه

بېله ثبوته په چا دعوى كول صحيح نه دي

سوال: (۲) زيد په بكر دعوى كوي چي څه زمانه مخكي تا له ما څخه څه روپۍ په قرض اخيستي وې چي دى يې مقدار هم بيانوي او دا هم وايي چي ستا ليک او د اخيستلو سند هم زما سره دى ليكن دغه نه وربنكاره كوي او بكر په قسم سره وايي چي زما قطعًا اخيستل په ياد نه دي او د خپل ليک له مدعى څخه غوښتنه كوي مگر مدعى ليک نه وربنكاره كوي په داسي صورت كي د زيد دعوى اورېدل كيږي؟ او د بكر لپاره دغه روپۍ ادا كول ضروري دي او كنه؟ او بكر ته غاصب ويل او د ده تذليل كول جائز دي او كنه؟(۱۰۸۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دې صورت كي چونكه زيد كوم ثبوت نه ښكاره كوي نو پر بكر باندي د دغه روپيو ادا كول لازم نه دي ځكه چي د حق د ثبوت او د دعوى د صحت دوه صورته كيدلاى شي چي يا مدعى گواه راولي يا مدعى عليه اقرار وكړي كنې و مدعى عليه ته د ياد نه راتلو او انكار په صورت د مدعى دعوى نه ثابتيږي د مشهور حديث "البينة على المدعى و اليمين على من انكر"(۱) په وجه، نو كله چي د مدعى سره گواهان نشته نو كه بكر ته د دغه ليک په ليدو وريه ياد شي او دى اقرار وكړي نو د: "المرء يؤخذ باقراره"(۲) د حكم په وجه پر بكر باندي د دغه روپيو ادا كول لازميږي. بېله دې نه د زيد دعوى صحيح ده او نه پر بكر باندي د دغه روپيو ادا كول لازميږي او په داسي حالت كي بكر ته غاصب او خاين ويل او د ده تذليل او سپكاوى كول جائز نه دى فقط

د دعوى په ثبوت كي د نامسلمانو گواهي ته اعتبار نشته

سوال: (۳) يوې نامسلماني نا محصني انجلۍ هندې په محكمه كي دعوى وكړه چي زيد مسلمان نامحصن زه تېروستم، زما سره د واده كولو لپاره زه د خالد او خالدې چي ښځه او خاوند دى او نامسلمان دى د دوى په كور كي كښېنولم دغه دوو ښځي او خاوند هم د هندې په موافقت گواهي

---

(۱) عن ابن عباس رضى الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لو يعطى الناس بدعواهم. لادعى رجال اموال قوم و دماؤهم و لكن البينة على المدعى و اليمين على من انكر (السنن الكبرى للبيهقى ۴۲۷/۱۰ كتاب الدعوى و البينات. باب: البينة على المدعى و اليمين على المدعى عليه المطبوعة: دار الكتب العلمية. بيروت لبنان)

(۲)قواعد الفقه ص: ۱۲۰ القاعدة: ۳۱۴ و لفظه: المرء مؤاخذ باقراره.

ورکړه، چي له امله قاضي د دریو میاشتو د قید حکم وکړی حالانکه زید بالکل منکر ؤ آیا شرعًا زید مجرم دی؟ (۱۳۴۱/۲۰۱۷هـ)

ځواب: د زید د انکار په صورت د کفارو له شاهدي څخه چي هغه هم نیمګړی ده پر زید د غه دعوی نه ثابتیږي او دی شرعي مجرم نه دی.(۱) فقط

د مدعی علیه مسلمان په مقابل د هندوانو ګواهي ته اعتبار نشته

سوال: (۴) مدعی او د ده ګواهان هندوان دي مدعی علیه مسلمان دی په دې صورت کي پر مسلمان مدعی علیه د هندو مدعی دعوی او شهادت د قبولیت وړ دی او کنه؟ ثالث باید څنګه فیصله وکړي؟ (۱۴۹۸/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د مسلمان مدعی علیه په مقابل د هندوانو په شاهدي فیصله نشي کیدلای په داسي صورت کي پر مدعی علیه قسم راځي مسلمان حَکم باید همداسي فیصله وکړي.

د مدعی په ناموجودیت کي له مدعی علیه څخه قسم اخیستل

سوال: (۵) قاضي په مجلس د قضاء کي له مدعی علیه څخه قسم واخیستی مګر مدعی یې نه راوغوښتی د مدعی په ناموجودیت کي د مدعی علیه قسم معتبر دی او کنه؟ (۱۳۹۹/۱۳۳۵هـ)

ځواب: پر مدعی علیه قسم د مدعی په غوښتنه لازمیږي کما فی الدر المختار: و الایبرهن حلفه الحاکم بعد طلبه اذ لا بد من طلبه الیمین فی جمیع الدعاوی الا عند الثانی فی اربع الخ(۲) نو کله چي طلب کول د مدعی شرط دی نو معلوم شو چي د مدعی یا د ده د وکیل موجودیت شرط دی.

---

(۱) شرطها العقل الکامل... و الضبط و الولایة فیشترط الاسلام لو المدعی علیه مسلما (الدر المختار مع رد المحتار: ۴/۴۱۱ کتاب الشهادات. ط رشیدیه)

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۴/۴۷۰ کتاب الدعوی. ط رشیدیه

که مدعی او مدعی علیه دواړه ګواهان ولري نو د چا ګواهانوته اعتبار دی؟

سوال: (۶) خارج مدعی د خپل مطلق ملک دعوی کوي او د خپلي دعوی تاریخ هم بیانوي او مدعی علیه قابض دی هغه دعوی د ملک د رانیولو په قید سره له بل چا څخه کوي او تاریخ هم له مدعی څخه مخکنی بیانوي نو د چا ګواهان اولی دي؟
(۱۰۸۵/ ۱۳۳۸هـ)

ځواب: په دغه صورت کي چي د چا ګواهان مخکنی تاریخ بیانوي هغه اولی دی یعني قابض چي تاریخ یې اقدم او اسبق دی ګواهان د ده په دغه صورت کي معتبر دی په در مختار کي راغلي دي: تقدم حجة خارج فی ملک مطلق... علی حجة ذی الید ان وقت احدهما (فقط) قال فی الشامی: قوله: فقط. قید بقوله: فقط لانه لو وقتا یعتبر السابق الخ(۱) و فی الهدایة... فان اقام الخارج البینة علی ملک مؤرخ و صاحب الید بینة علی ملک اقدم تاریخا کان اولی الخ(۲)

له ډېري مودې وروسته د خپل حق دعوی کول

سوال: (۷) زید د یو جائیداد وارث او قابض ؤ ده دغه جائیداد پخپل ژوند کي و عمرو ته ورکړی بکر چي د ده وارثان اوس دعوی کوي د دغه جائیداد د ورکړي پر وخت موجود ؤ او ده هیڅکله پخپل ژوند کي دعوی نه ده کړې او پر خرخ شوي او ورکړي جائیداد له ډېره وخته د عمرو قبضه را روانه وه آیا اوس د بکر د وارثانو دعوی چلیږي؟ په شرعي محکمه کي د داسي جائیداد عارضه کولو څومره موده ده؟ (۱۴۹/ ۱۳۳۵هـ)

ځواب: که د بکر ملکیت د ده وارثان ثابت کړي نو د وارثانو دعوی صحیح ده حق د ملک شرعًا په هیڅ موده کي نه ساقطیږي کما فی کتب الفقه: الحق لا یسقط بتقادم الزمان(۳) (شامي) او دا هم د فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي د دعوی د نه اورېدو د کومي ټاکلي مودې وروسته د حیلې او تزویر د مخ نیوي لپاره دی، د دې لپاره نه دی

---

(۱) الدر و الرد ۴/ ۴۸۶ کتاب الدعوی، الباب الثانی: باب دعوی الرجلین. ط رشیدیه

(۲) الهدایة: ۳/ ۲۲۱ کتاب الدعوی، باب ما یدعیه الرجلان.

(۳) الشامی: ۵/ ۵۲۴ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

چي له دغه موده ورورسته حق ساقطیږي(۱) (کذا فی الشامی جلد ۵ مسائل شتی) فقط و الله اعلم

سوال: (۸) په شرکت ملک کي که کوم شریک په مشترک دکان او مکان کي د هدم او بنا تصرف وکړي بل شریک د ده د زوروروالي له امله څه ویلای نشي له ډیري مودې تیرېدو وروسته که غوښتنه وکړي او دعوی وکړي نو اورېدل کیږي به او کنه؟ (۱۰۰۵/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د شریک په دعوی نه کولو که څه هم تر څه مودې پوري وي د ده حق نه ساقطیږي کما قالوا: ان الحق لا یسقط بتقادم الزمان(۲) و تفصیله ینظر فی الشامی: پنځم ټوک

سوال: (۹) د میراث یا د دین د دعوی لپاره کومه مقرره موده شته او کنه؟ په نور الهدایة کي راغلي دي چي تر پنځلسو کلونو که چا بیله شرعي عذر دعوی ونکړه نو بیا یې دعوی نه اورېدل کیږي د دعوی د سماعت لپاره کومه مقرره موده شته او کنه؟ (۳۴۲/۱۳۳۵هـ)

ځواب: اصل قاعده دا ده چي: الحق لا یسقط بتقادم الزمان یعني په کومه موده کي حق نه ساقطیږي او په کومه موده د دعوی نه اورېدل د کوم عارض په وجه وي تحقیق د دې د فقهي په کتابونو کي راغلی دی.

که جرګه د مدعی د ګواهانو ګواهي نه اوري

سوال: (۱۰) مدعی په مدعی علیه د یو سل پنځه اویا روپیو دعوی وکړه او س فیصله د درېیمانو مخته راغله مدعی علیه د شپږ څلویښت روپیو او د پنځلسو انو اقرار کوي او د درویشت روپیو یو لس نیمو آنو د تمادي عارض(۳) اقرار کوي مدعی د خپلو ټولو روپیو ثابتول غواړي درېمګړي له ثبوت اخیستلو څخه مخ اړونه کوي او قسم ورکول غواړي. (۲۸۳-۳۳/۱۳۳۴هـ)

---

(۱) ثم اعلم ان عدم سماعها لیس مبنیا علی بطلان الحق حتی یرد ان هذا قول مهجور لانه لیس ذلک حکما ببطلان الحق، و انما هو امتناع من القضاة عن سماعها خوفا من التزویر و لدلالة الحال کما دل علیه التعلیل و الا فقد قالوا: ان الحق لا یسقط بالتقادم کما فی قضاء الاشباه (الشامی ۵/۵۲٤ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

(۲) رد المحتار ۵/۵۲٤ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(۳) د تمادي عارض مطلب دا دی چي دومره موده تیره شي چي د دعوی کولو حق ورته پاته نشي (فیروز اللغات)

ځواب: د فقهي په کتابونو کي ليکلي دي چي "الحكم كالقاضي"(۱) يعني فيصله کونکی د ربیم کړی او جرګه د قاضي مثل دی د دوی باید د قاضي په رنګه په شرعي طريقه فيصله وکړي او شرعي طريقه د فيصلي دا ده چي که مدعی علیه د دعوی د ټولو روپیو اقرار ونکړي نو له مدعی څخه دي د شرعي ګواهانو غوښتنه وشي که د ده سره دوه عادل ګواهان د خپلي دعوی د ثبوت لپاره وي نو دعوی د ده ثابته شوه او که د ده سره عادل ګواهان د شرط سره سم نه ؤ نو بيا مدعی علیه ته قسم ورکول کيږي نو په بوښتل شوي صورت کي کله چي مدعی پر خپله دعوی ګواهان وړاندي کوي نو د ګواهي له اوریدو څخه د جرګي انکار کول صحیح نه دي. فقط

له سرکښ پوروړي څخه د عارضي مصرف اخیستل صحیح دي

سوال: (۱۱) زید و خالد ته روپۍ په قرض ورکړي خالد د وعدي د تېرېدو سره هم ادا نکړي کله چي زید د روپیو له اخیستني څخه مايوس شو مجبوره شو په انګریزي محکمه کي عارضه وکړه د انګریزي محکمي د قانون سره سم له ده څخه پر خپله دعوی روپۍ هم مصرف شوي محکمي و زید ته خپلي روپۍ د مصرف شويو روپیو سره له خالد څخه ور واخیستي نو د زید لپاره له خپلو روپیو څخه سیوا چي کومي روپۍ مصرف شوي وي محکمي له خالد څخه ور واخیستي دغه روپۍ اخیستل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۷۵ھ)

ځواب: په داسي صورت کي له سرکښ پوروړي څخه د عارضي مصرف اخیستل صحیح دي کما في الشامي: (۴/۳۱۰) و في منية المفتي مؤنة المشخص قيل في بيت المال و في الاصح على المتمرد الخ(۲) اقول: و المشخص بضم الميم و سكون الشين و كسر الخاء من الاشخاص بمعنى الاحضار و لما كان اجر المحضر على المتمرد فكل ما كان من نقصان المدعي فهو على المدعى عليه(۳) فقط

(۱) و الحاصل انه كالقاضي (الدر المختار مع رد المحتار: ۴/۳۸۸ كتاب القضا باب التحكيم. ط رشيديه)

(۲) الشامي: ۴ د ۳۴۵ كتاب القضاء مطلب في اجرة المحضر. ط رشيديه

(۳) لم نظفر بها و يمكن ان نكون هذه العبارة من فضيلة المفتي.

له قرض څخه د زیاتوب دعوی کول

سوال: (۱۲) پر یو سړي مثلاً لس روپۍ قرضه ده که په محکمه کې د لسو روپیو دعوی وکړي نو روپۍ دوې روپۍ زیاتوب مصرف راځي چې محکمه یې په مصرف نه شمیري ځکه نو که د لسو روپیو پر ځای د دوولسو روپیو عارضه وکړي صرف د خپل مصرف اخیستلو په نیت نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۷۸هـ)

ځواب: له قرض څخه زیاتوب دعوی کول صحیح نه دي او داسي دعوی دروغجنه ده.

سوال: (۱۳) په محکمه کې قسم هم ورکوي قاضي وايي چې په قسم سره ووایه چې ستا دعوی صحیح ده نو که روپۍ دوې روپۍ زیاتوب دعوی وکړي د غه قسم به رښتیا وي که دروغ؟ (۱۳۳۵/۲۷۸هـ)

ځواب: دا قسم به دروغ وي د زیاتوب دعوی نه ده کول پکار اما د پوروړي د تمرد او سرکښۍ په صورت چې د مصرف کومي روپۍ د محکمې له لوري ورکول شي هغه اخیستل صحیح دي چې سبب د دغه مصرف سرکښي پوروړی شوی دی او د ده د سرکښۍ او د پور نه ادا کول په وجه عارضه شوې ده. فقط

آیا په حساب پوهني دعوی صحیح دی؟

سوال: (۱۴) د شرکت د حساب پوهني دعوی، د شرعي دعوا په اقسام کې داخله ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۸۵۱هـ)

ځواب: کومو خلکو ته چې د حساب کولو اختیار دی دوی د دې خبري عارضه کولای شي چې مونږ ته دي د حساب پوهني اجازه وشي ځکه چې شرعًا که څه هم ودې ته ضرورت نشته مګر قانونًا شاید بیله اجازې دی داسي نشي کولای ځکه اجازه غواړي همدغه مطلب شاید د دغه دعوی وي.

که مدعی علیه حاضر وي نو په دعوی کې صرف د ده نوم اخیستل بس دی اشاره ضروري نه ده

سوال: (۱۵) *مردے دعوی کرد نزد قاضی ومدعی علیه حاضر بود، وبیان کرد آں مرد مدعی علیه را بذکر اسم او واشتباہے در تعین او نشد مگر اشارہ بطرف مدعی علیه نکرد، آیا دریں صورت دعوی مدعی مسموع خواہد شد یا نہ؟ یعنی عدم اشارہ مدعی را دعوی مدعی است یا نہ؟* (۱۳۳۹/۱۳۹۵هـ)

ځواب: ہرگاہ مدعی علیہ حاضر بود، و بعد ذکر اسم او اشتباہ نزد قاضی نماندہ پس در صحت دعوی مدعی و سماع آن تردّدے نیست. فقط

سوال: (۱۵) ترجمه: یو سړی د قاضي مخکې دعوی وکړه مدعی علیه حاضرؤ مدعی د مدعی علیه نوم واخیستی خپله دعوی یې بیان کړه د مدعی علیه په تعین کې هیڅ اشتباه نه شوه پاته لیکن و مدعی علیه ته اشاره ونکړه نو آیا په دغه صورت کې به د مدعی دعوی اوریدل کیږي او کنه؟ یعني د مدعی اشاره نه کول د ده دعوی ردوي او کنه؟

ځواب: کله چې مدعی علیه حاضر دی او د ده د نوم اخیستلو وروسته د قاضي په نیزد کومه اشتباه نه شوه پاته نو د مدعی د دعوی په صحیح کیدو او د ده د دعوی په اوریدو کې هیڅ شک نشته.

د اکا او وراره په مشترکه ګټه رانیولی جائیداد کې که اکا د ملکیت دعوی وکړي

سوال: (۱۶) شخصے با عم خود ہم طعام بودہ در کسب مال باوے شریک ماندہ بہ حسب قرار داد عرف بنام ہر دو جائداد خریدہ اکنون عمش دعوی می کند کہ ایں جائداد از کسب من است، پس دعوی او عند الشرع معتبر باشد یا نہ؟ و استحقاق ابن الاخ صحیح و درست باشد؟ در کاغذات سرکاری و تصرف ہر دو مشترک اند. (۷۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: دعوی عم بجمیع مکسوبہ غیر صحیح و باطل است، بلکہ ہر دو یعنی عم و ابن الاخ او شریک مساوی اند. قال فی الشامی: و كذلك لو اجتمع اخوة يعملون فی تركة ابيهم و نما المال فهو بينهم سوية و لو اختلفوا فی العمل و الرأی و فيه ايضا قبله:

تنبيه: يؤخذ من هذا ما افتی به فی الخيرية فی زوج امرأة و ابنها، اجتمعا فی دار واحدة و اخذ كل منهما يكتسب علی حدة و يجمعان كسبهما و لا يعلم التفاوت و لا التساوی و لا التمييز فاجاب بانه بينهما سوية الخ(۱) (الشامی جلد:۳ فصل فی الشركة الفاسدة)

---

(۱) الشامی ۳/۳۸۳ كتاب الشركة، مطلب اجتمعا فی دار واحدة و اكتسبا الخ. ط رشيديه

سوال: (۱۶) ترجمه: یو سړی د خپل اکا سره په ټولو شیانو کې شریک و د کاروبار او رسم د شریک و د عرف او رواج په موافقه د دواړو په نوم جائیداد رانیول شوی و او س اکا دعوی کوي چې دغه جائیداد زما د ګټې دی نو شرعًا د دې دعوی څه اعتبار شته او که نه؟ او د وراره استحقاق به صحیح وي؟ په حکومتي کاغذونو کې هم دواړه شریکان دي.

ځواب: د اکا د ټولي ګټې دعوی کول غلط او باطل دی بلکه دواړه یعني اکا او وراره په دې کې برابر شریکان دي لکه چې په شامي کې راغلي دي

د مسجد و شاته ځمکه باندي دعوی کول

سوال: (۱۷) د پرش کاله کیږي چې د مسجد و شاته یوه ټوټه ځمکه ده چا د خپل ملکیت دعوی نه ده پر کړي نه په ظاهره یې حکومت دعوی کوي تقریبًا له دیرشو کلونو راهیسي تاجران زیاتره خپل سامانونه کرسي او نور پر ږدي یا کومه جلسه او وعظ وي د هغه سامان هلته راوړي له دې ځخه سیوا نور هم زیاتره علامتونه د تاجرانو د قبضې معلومیږي وروسته داسي وشول چې د دغه ټوټې د ځمکي سره یو مکان دی د هغه مالک خپل مکان پر یو چا خرڅ کړی او س مشتري وایي چې دغه ځمکه هم په دغه رانیول شوي مکان کي داخله ده مګر مالک د مکان هیڅ کله د دغه ټوټې ځمکي دعوی نه ده کړې آیا د مشتري دغه دعوی صحیح کیدلای شي او آیا پر دغه ځمکه دیني مدرسه او مسافر خانه جوړېدلای شي؟ که په مسجد کي دغه ټوټه ورګډه کړو لمونځ به پر جائز وي او کنه؟ که له حکومت څخه په بیه واخلو نو په لمانځه او نورو کې څه کراهیت خو به نه وي؟ (۱۳۴۰/۱۱۵۱هـ)

ځواب: کله چې مالک د مکان هیڅ کله هم د دغه ځمکي د ملکیت دعوی نه ده کړې او نه یې د بیع په پاڼه کي د دې د بیع څرګندونه وکړه نو د دغه مکان د مشتري دعوی پر دغه ځمکه نه صحیح کیږي نو دغه ځمکه که د مسجد اړونده وبلل شي نو د دې په مسجد وګډول او لمونځ ورباندي کول صحیح دی که د مسجد ملک نه بلل کیږي نو د عامو مسلمانانو په رضا په دې کي مدرسه او مسافر خانه او نور جوړولای شي او که حکومت مدعي وي نو له هغه څخه له رانیولو وروسته په هر کار کي استعمالولای شي. فقط

د کوزدې په اړه د یوې ډلې دعوی او د بلې انکار کول

سوال: (۱۸) زید دعوی کوي چې عمر خپله خور هنده زما په نوم کړې ده د عمر وايي ما يې په نوم نه وه کړې زيد غلطه دعوی کوي شرعًا څه حکم دی؟ (۲۷۴۲/۱۳۴۲هـ)

ځواب: د زيد سره که پر خپله دعوی باندې دوه شرعي ګواهان نشته نو د عمر قول ته اعتبار دی او د کوزدې له ثبوت وروسته هم که د ده سره په نکاح کولو کې عمر مصلحت نه ويني او د انجلۍ لپاره دغه ځای ښه نه وي نو دی پر نکاح کولو نشي مجبورېدلای فقط

د ترکې له تقسیم څخه مخکې د يو ورور پر واده زیات او د بل پر واده کم مصرف راغلی

سوال: (۱۹) زید او عمر دواړه ورونه سره شریکان ؤ کاروبار يې هم سره شریک ؤ د پلار ترکه يې هم سره شريکه وه د زيد پر واده نهه زره څلور سوه روپۍ مصرف راغلې او د عمر پر واده درې زره څلور سوه روپۍ مصرف راغلې عمر وفات شو د ترکې د تقسيم پر مهال د ده د وارثانو دعوی ده چې د زید د واده درې زره څلور سوه روپۍ چې څښتني او باسې کومې چې زیاتوب شپږ زره مصرف شوي دي هغه مشترک مال ؤ په هغه کې درې زره روپۍ د عمر د برخې وې دغه درې زره روپۍ هم د عمر ترکه ده دا هم بايد وويشل شي آیا دغه دعوی صحیح ده؟ (۱۱۸۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: کله چې د عمر او زيد تر منځ هيڅ حساب نه ؤ شوی نو د دوی دواړو په ژوند کې چې کوم څه د دواړو په رضا مصرف شو که څه هم د چا دا زیات وي او د چا دا کم، اوس وارثان د دې حساب نشي کولای لهذا د عمر د وارثانو دغه دعوی نه صحیح کیږي بلکه له مصرف کولو وروسته چې کوم څه پاتنه شو هغه به برابر تقسیموي. فقط

بې د نکاح له ثبوته د ولي د نکاح د نه کیدو دعوی کول

سوال: (۲۰) زید د هندې سره د نکاح دعوی وکړه او د نکاح ګواهان هم ورسره شته

او خلګو ته هم نبه معلومه ده قاضي هم د نکاح دعوی ثابته وبلله د زيد په نکاح کي هنده پرېښوده څو مياشتي وروسته د هندې نيکه (د مور پلار) کوم چي ولي نهٔ دعوی يې وکړه چي د زيد نکاح د هندې سره نه ده شوې دا عارضه د ده منظوره شوه قاضي و دواړو ډلو ته وويل چي تاسو صلح وکړئ د هندې نيکه وويل چي زه قسم اخلم چي د زيد نکاح د هندې سره نه ده شوې زيد وويل چي که د هندې نيکه قسم واخيستی نو زه به عملي کونکی يم نو د زيد په دغه وينا "زه به عملي کونکی يم" هنده طلاقيږي او کنه؟ او د هندې د نيکه (کوم چي ولي نه دی) دعوی اورېدل کيږي او کنه؟ او هنده له زيد څخه سيوا يعني د عمر سره نکاح کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۳هـ)

ځواب: کله چي د زيد نکاح د هندې سره په دوو ګواهانو ثابته شوه نو له دې وروسته بې د زيد له طلاق ورکولو هنده د زيد له نکاح څخه نشي وتلای او د زيد په دې الفاظو "زه به عملي کونکی يم" طلاق نه واقع کيږي او د هندې ده نيکه (د مور پلار) دعوی نه اورېدل کيږي نو په موجود حالت کي د هندې نکاح د غير له زيد مثلاً د عمر سره نه صحيح کيږي قال فی الدر المختار: و شرط حضور شاهدين حرين... و لو فاسقين او محدودين فی قذف... قال فی رد المحتار: قوله (و لو فاسقين) اعلم ان النکاح له حکمان حکم الانعقاد و حکم الاظهار فالاول ما ذکرد و الثانی انما يکون عند التجاحد، فلا تقبل فی الاظهار الاشهادة من تقبل شهادته فی سائر الاحکام الخ(۱) و فی رد المحتار باب اليمين فی البيع و الشراء بل لا تقبل علی النفی مطلقًا الخ(۲) فقط

مشتري که له انکار وروسته د ملکيت دعوی وکړي؟

سوال: (۲۱) يو شخص باکړ و يو خپل عزيزنابه ته وويل چي ته ما ته څه ځمکه رواخله نابه ورسره ومنله د ځمکي بيه دواړو ډلو سره ومنله، دا خبره سره وشوه چي کله باکړ د ځمکي قيمت ورکړی نو نابه به ځمکه ورکوي لږ ورځي وروسته د باکړ په ټينګار نابه د ځمکي مالک په محکمه کي اقرار وکړی چي ده د ځمکي قيمت له باکړ رانيونکي څخه اخيستی دی پر نامه دي وروا ړول شي لېږ.

---

(۱) الدر و الرد ۲/۲۹۵ کتاب النکاح مطلب: الخصاف کبير فی العلم يجوز الاقتداء به. ط رشيديه

(۲) الشامی ۳/۱۳۷ کتاب الايمان. مطلب شهادة النفی لا تقبل الا فی الشروط. ط رشيديه

موده وروسته پر دغه ځمکه باندي د حکومت له لوري مالیه راغله چي له نابه څخه واخیستله شوه او له پنځو سو کلونو راهیسه تر ننه پوري مالیه نابه ادا کوله ځمکه شاړه وه ځکه باګړ د ځمکي قیمت سره د غوښتني ادا نکړ او په جواب کي ویل چي زه د ځمکي سره هیڅ مطلب نلرم اوس چي کله ځمکه آباده شوه نو باګړ د هغه نوم اړوني په وجه کوم چي ده نابه ته اطمینان ورکړی ؤ چي قیمت تاته درکوم په محکمه کي دعوی وکړه چي د ځمکي مالک نابه څخه قبضه راواخلي چونکه ځمکه آباده شوي ده ځکه نابه د دغه ځمکي ورکولو ته آماده نه دی اوس دی عذر لري چونکه د بیع او د نوم اړوني پر مهال رانیونکی قیمت نه ؤ ادا کړی لهذا دغه بیع او نوم اړونه شرعًا صحیح دی؟ چي د شریعت څنګه حکم وي پري خبر مو کړی. (۲۰۸۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: شرعًا چي کومه معامله د باګړ او نابه سره شوي وه هغه د باګړ د انکار په وجه فسخ شوه لهذا د باګړ دعوی د ځمکي د قبضي په اړه باطله او ناروا ده. فقط و الله تعالی اعلم

مشتري ته د نقصان رسوني لپاره دروغجنه دعوی کول

سوال: (۲۲) دوه کسان اکا او وراره د یوي تړتي ځمکي مالکان ؤ اکا خپله برخه خرڅه کړه اوس پنځه کاله وروسته پخپله وراره د استقرار حق دعوی وکړه چي زما اکا زما د حق وهلو لپاره دغه ځمکه خرڅه کړي ده حالانکه دا خبره غلطه ده صرف د مشتري د روپیو خوړلو په غرض یې دا کار کړی دی داسي دعوی شرعًا څنګه ده؟

(۹۸۲/۱۳۴۱ھ)

ځواب: دا دعوی شرعًا صحیح نه ده او دعوی کونکی او دعوی ته اماده کونکی و مشتري ته د نقصان رسولو په غرض ګنهکاران او ظالمان دي. فقط

د دروغو په دعوی له چا څخه روپۍ اخیستل

سوال: (۲۳) زید په یوه انجلۍ دعوی وکړه او د دروغو قسم یې واخیستی یو سل اتیا روپۍ یې له دغه انجلۍ څخه واخیستې د داسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی؟

(۱۷۹۳/۱۳۴۲ھ)

ځواب: دروغجنه دعوی کول او د دروغو قسم اخیستل او ناحقه له مدعی علیه څخه روپۍ اخیستل دا ټول

کارونه حرام او کبیره ګناه ده په حدیث شریف کې راغلي دي چې د دروغو قسم اخیستل په قرآن شریف کې د شرک برابر دی کما قال الله تعالی: [اجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به](۱) نو داسې سړی فاسق، غاصب او ظالم دی نو به پر ده لازمه ده او خومره روپۍ چې ده ناحقه او ظلمًا اخیستي دي د هغوی بیرته ورکول یا یې بخښل پر ده لازم دي او د ده د توبې قبلیدل پر دې موقوف دي. فقط

د ګدي نشین دعوی کول چې له ما څخه پرته بل څوک امام نشي کیدلای

سوال: (۲۴) که ګدي نشین دا دعوی وکړي چې زه د ګدۍ په وجه د متوفي د ټول جائیداد مالک یم. ځکه زما په موجودیت کې بل څوک امام نشي کیدلای دا دعوی صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۳۷۹هـ)

ځواب: دا دعوی د ده صحیح نه ده.

د نکاح نه کیدو په صورت وانجلۍ ته په کوزده کې ورکړی سامان دعوی کول

سوال: (۲۵) زید د خپل زوی په کوزده کې څه ګینه او جامې د بکر و لور ته ورکړې او پخپلوانو کې خوږې ووېشلې څه موده وروسته د دوی تر منځ د ناراضګۍ په وجه نکاح نه وشوه او بکر ګینه بیرته ورکړه زید د خپل زوی نکاح بل ځای وکړه او س زید د جامو بیه او تاوان غواړي آیا د خوږو او جامو د قیمت حق شرعًا لري او کنه؟ (۱۳۴۲/۴۱۰هـ)

ځواب: د ګېڼې او جامو کوم چې و انجلۍ ته ورکړې دي د دوی د بیرته اخیستنې حق زید ته شته او کومه بیه چې د خوږو پر وېشلو راغلې ده هغه نشي اخیستلای. فقط

د پوروړي پلار د قرض دعوی په پلار او زوی دواړو کول

سوال: (۲۶) که د چا پلار مقروض وي او پلار او زوی دواړه کار کوي زوی

(۱) د دغه حدیث تخریج په کتاب الشهادات د سوال: (۳۸) په جواب کې وګورئ

خپله ګټه و پلار ته ورکوي او رکو نکي په دوا ړو دعوی کولای شي که صرف په پلار وکړي؟(۴-۱۴۵۴-۱۳۴۰ھ)

ځواب: صرف په پلار دعوی کولای شي په زوی دعوی نشي کولای ځکه چې په حدیث شریف کې خو راغلي دي "انت و مالک لابیک"(۱) او په خپله زوی هم اجازه ورکړې ده او په پلار په کار کولو کې هم ورسره دی لهذا پلار خپل قرض له دې څخه ادا کولای شي

د ښځې له وفات کیدو وروسته که خسر په خاوند د مهر دعوی وکړي

سوال: (۲۷) د نذیر احمد کوروالا بي بي فاطمه مړه شوه د دې پلار مجیر الدین په نذیر احمد د مهر دعوی وکړه نذیر احمد وویل چې ماته کوروالا مهر رامعاف کړی ؤ لیکن د مهر پر معافي د ده سره دوه ګواهان نشته نو قسم ورباندي شته او که نه؟ په دغه معامله کې مدعی څوک دی او مدعی علیه څوک؟(۱۳۴۷-۴۲/۳۸۲ھ)

ځواب: په دې صورت کې دا قول صحیح دی چې د بي بي فاطمې خاوند نذیر احمد د مهر د معافی مدعی دی نو کله چې د مهر د معافی پوره ګواهان ورسره نشته دوه عادلان نارینه یا یو نر او دوې ښځې چې د مهر د معافی ګواهي ورکړي دا ورسره نشته نو پر مجیر الدین قسم راځي دی دې قسم واخلي مهر دې وصول کړي لقوله علیه الصلاة و السلام: البینة علی المدعی و الیمین علی من انکر(۲) او ښکاره ده چې مجیر الدین د مهر نه معافی څخه منکر دی ځکه قسم پر ده راځي هذا هو الصحیح فقط

د غلا د دعوی په صورت کې قسم پر چا راځي؟

سوال: (۲۸) یو سړی پر یو مشهور سارق دعوی وکړه چې ده له ما څخه غلا کړې ده په دا سې

---

(۱) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما ان رجلا قال: یا رسول الله! ان لی مالا و ولدا. و ان ابی یرید ان یحتاج مالی، فقال: انت و مالک لابیک (سنن ابن ماجه ص:۱۶۵ ابواب التجارات باب ما للرجل من مال ولده)

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لو یعطی الناس بدعواهم. لادعی رجال اموال قوم و دماءهم و لکن البینة علی المدعی و الیمین علی من انکر (السنن الکبری للبیهقی ۴۲۷/۱۰ کتاب الدعوی و البینات، باب البینة علی المدعی و الیمین علی المدعی علیه. المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت لبنان)

صورت کي قسم پر سارق راځي که پر مدعی؟ (۳۲/۵۱۲ ۱۳۳۳هـ)

ځواب: د البینة علی المدعی و الیمین علی من انکر د کلي قاعدې څخه دغه مدعی او سارق مستثنی نه دی نو پر مدعی ګواهان او پر سارق قسم راځي. فقط

مدعی دعوی کوي چي د بیع پاڼه فرضي ده

سوال: (۲۹) زید د بیع د پاڼي په وسیله یوه ټوټه ځمکه په سل روپۍ له یو سړي څخه رانیوله زید له خپل مرګ څخه مخکي خپل جائیداد د خپل زوی په نوم ولیکی مګر دغه ځمکه و نه لیکله مګر دا ډول یو بل جائیداد هم له لیکني څخه پاته شو د هغه یادونه نه ده شوې کوم چي د زید له مرګ وروسته د ده بچیانو خرڅ کړی او س نژدې دغه د بیع د پاڼي ۳۲ کاله کیږي نو د عمر بچیان او ښځه دا دعوی کوي چي دا جائیداد زمونږ دی عمر صرف په فرضي توګه د زید په نوم د یو مصلحت له وجهي لیکلي ؤ زید يې قیمت نه دی ادا کړی بلکه عمر يې شپیته روپۍ قیمت ادا کړی نن د زید د مرګ څورلس کاله کیږي نه عمر له زید څخه دغه د بیع پاڼه پخپل ژوند کي په نامه اړولې ده او نه د عمر بچیانو، حالانکه زید له عمر وروسته هم شپږ کاله ژوندی ؤ، د عمر بچیان او د ده خپلوان دا هم وايي چي یو وار د دغه ځمکي د رانیولو لپاره یو سړي خواهش وکړی هغه وخت هم زید دغه سړی منع کړی او دا يې ورته وویل چي ځمکه د عمر ده زما نه ده که د زید بچیان د زید په نوم شوي جائیداد بیله شرعي سنده نه کړي ور نو ګنهګاران خو به نه وي اوس نه ګواه ژوندی دی او نه بائع او مشتري او شرعًا اصل مالک څوک دی؟ بینوا توجروا (۱۳۴۵/۲۲۲هـ)

ځواب: کله چي د زید وارثان دا نه مني چي د بیع پاڼه فرضي ده او د عمر د وارثانو سره ګواهان نشته نو د ظاهر سره سم دغه ځمکه د زید د وارثانو ده او خرخول د دوی صحیح دي د عمر د وارثانو دعوی صحیح نه ده او د زید وارثان که دغه ځمکه یا د دې قیمت د عمر و وارثانو ته نه ورکوي نو دوی نه دي ګنهکاران. فقط

د مودع دا امانت د روپیو په اړه د وصیت دعوی کول

سوال: (۳۰) زید وفات شو یو سکه ورور يې پاته شو د ده نقدي روپۍ د بکر سره امانت پرتې وې

بکر وايي چي زيد ماته وصيت کړی ؤ چي پنځه سوه روپۍ ته واخله او څلور سوه روپۍ و عمر ته چي د زيد شاګرد دی سوکه سوکه يې ورکړه آيا د بکر د وصيت دعوی کول چي وارث علم او خبر ورباندي نشته شرعًا څنګه دی؟ (۱۳۴۲/۲۴۱۷هـ)

ځواب: که وارث د ده د دعوی تصديق ونکړي او دی وصي تسليم نکړي نو پر نوموړي مدعی د دوو ګواهانو حاضرول ضروري دي. فقط

د دوو ډلو د يوې ځمکي رانيولو دعوی کول

سوال: (۳۱) د يوې ښځي ځمکه وه کومه چي دې پر زيد خرڅه کړه قيمت يې د بيع په پانه کي ليکلی دی هغه ښځه مړه شوه د بيع د پاڼي په کتلو معلوميږي چي د دې د ليکلو شپږ ديرش کلونه کيږي اوس د عمر وارثان د نوموړي زيد له وارثانو څخه د دغه ځمکي غوښتنه کوي او وايي چي مونږ دغه ځمکه له هغي ښځي څخه په شپيته روپۍ رانيولې وه مګر د بيع پانه په دې وجه ونه ليکل شوه چي دغه ځمکه د زيد په نوم د کوم مصلحت له وجهي شوې وه ليکن د تعجب خبره دا ده چي عمر له زيد څخه نه پخپل ژوند کي پر خپل نامه را اړولې ده نه د عمر بچيانو د زيد په ژوند کي بيا نه پوهيږم چي هغه داسي کوم مصلحت ؤ چي د زيد په ژوند کي و نامه را اړولو ته خنډ ؤ اوس چي کله د زيد د وفات څورلس کلونه تېر شول نو د عمر بچيان په دغه ځمکه د خپل ملک دعوی کوي پوښتنه دا ده که بالفرض دا خبره ومنله شي چي عمر دغه ځمکه له هغي ښځي ڼه په شپيته روپۍ رانيولې وه نو آيا دغه بيع تامه ده کله چي د نوموړي زيد په نوم د بيع پانه ليکل شوې ده اوس د دوی صرف په دغو بيانونو چي د هغوی په خلاف ډير قرائن شته د زيد وارثان د دغه ځمکي شرعًا وارثان او مالکان شول که دا حق د عمر د وارثانو دی؟ (۱۳۴۵/۴۲۹هـ)

ځواب: شرعًا د هيڅا دعوی هم بيله معتبر شهادت نه اوريدل کيږي لکه چي په حديث شريف کي راغلي دي البينة على المدعي و اليمين على من انكر(۱) نو که د عمر د وارثانو سره معتبر شهادت د دې خبري شته چي قولي بيع د عمر سره د زيد سره تر بيع مخکي شوې وه يعني دوه عادلان نارينه يا

---

(۱) السنن الكبرى للبيهقي ۱۰/۴۲۷ كتاب الدعوى و البينات، باب: البينة على المدعي و اليمين على المدعى عليه، المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان

بو عادل نارینه او دوی عادلې ښځې د دغه بیع ګواهي ورکړي نو د عمر د وارثانو دعوی صحیح کیږي او د زید له وراثانو څخه به دغه ځمکه د عمر و وارثانو ته ور اخیستل کیږي او که دوه ګواهان د بیع ورسره نه وي نو د زید پر وارثانو قسم راځي چي د عمر سره بیع نه ده شوې که دوی له قسم څخه انکار وکړي نو د عمر د وارثانو دعوی صحیح کیږي او صرف له شپږ دیرشو کلونو راهیسي د زید یا د زید د وارثانو په قبضه کي کېدل د عمر د وارثانو د دعوی لپاره مانع نه ګرځي نو که دا ومنل شي چي عمر د دغه ځمکه نه هغې ښځې څخه په شپیته روپۍ د زید له رانیولو څخه مخکي رانیولې وه نو دا ځمکه به د عمر و وارثانو ته ور اخیستل کیږي او د عمر پخپل ژوند کي دعوی نه کول یا د ده د وارثانو تر اوس څخه مخکي دعوی نه کول د عمر د وارثانو حق نه ساقطوي لکه چي په شامي کي راغلي دي: ان الحق لا یسقط بتقادم الزمان(۱) فقط

کرایه دار په مکان د ملک دعوی وکړه

سوال: (۳۲) زید د یو سړي په سرای کي په کرایه او سیدی کله چي مالک د سرای خپل مکان خرخ کړی نو زید د خپل ملکیت دعوی په وکړه، مګر په محکمه کي زید کامیاب نه شو نو د غه دروغجنه دعوی څنګه ده؟ (۷۷۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: کبیره ګناه ده.

و مدعی علیه ته کله قسم ورکول کیږي؟

سوال: (۳۳) د یو سړي د خور بچندر دغه خپل بوډا ماما د علاج په حیله خپل کور ته راوستی او هلته بندي کړی، دا یې ورته وویل چي ته سپین ږیری شوې په څو ورځي کي به مړ شې ته خپل جائیداد زما په نوم کړه ما ورته انکار وکړی ده د وهلو او وژلو دهمکی ورکړه ماما وویریدي په همدې حال کي د بیع پاڼه ورکړه او له ماما څخه امضا وربندي واخیسته په حکومت کي رسمي کړه وروسته ماما په محکمه کي عارضه وکړه مدعی علیه وایي صرف له ما څخه قسم واخلئ وګواهانو ته هیڅ ضرورت نشته. شرعًا څه حکم دی؟ (۲۱۲۴/۱۳۴۲هـ)

(۱) الشامی ۵/۵۲٤ کتاب الخنثی. مسائل شتی. ط رشیدیه

ځواب: د "البينة على المدعي و اليمين على من انكر" (۱) په قاعده په داسې صورت کې که د مدعي سره ګواهان نه وي یا هغه معتبر نه دي نو پر مدعی علیه صرف قسم راځي که مدعي د اکراه مثلاً دوه ګواهان د جبر ولري نو د ده دعوی ثابتیږي په دې صورت کې له مدعی علیه څخه و قسم اخیستلو ته ضرورت نشته ځکه چې پر مدعی علیه قسم هغه وخت راځي چې د مدعي سره ګواهان نه وي. فقط

د خاوند له وفات څخه یو نیم کال وروسته ښځي بله نکاح وکړه او د ښځي وارثان دعوی کوي چي ښځه له وفات شوي خاوند څخه حامله ده

سوال: (۳۴) زید وفات شو د ده ښځي اوس نژدې یو نیم کال وروسته نکاح وکړه د ښځي وارثان اوس دعوی کوي چې د زید د وفات پر مهال د زید د ښځي حمل ؤ چې د ښځي په خیټه کې وچ شو او تر اوسه پوري شته، ځکه دغه دوهمه نکاح د ښځي صحیح نه شوه دا دعوی شرعًا څنګه ده؟ (۱۳۴۵/۱۲۵۰هـ)

ځواب: کله چي حمل ظاهر نه ؤ او ښځي د عدې د پوره کیدو اقرار وکړی نو د دې نکاح چې د عدې وروسته وشوه صحیح شوه د وارثانو دغه دعوی بیله کوم ثبوته باطله ده. فقط

په رانیولي ځمکه کي له ودانۍ جوړولو وروسته که څوک د شراکت دعوی وکړي

سوال: (۳۵) زید له عمر څخه ځمکه رانیوله او د هستوګنې لپاره کورورباندې جوړ کړی بکر دعوی په وکړه چې د عمر په ځمکه کې زما هم برخه شته د بکر دعوی ثابته شوه اوس به زید ته قاضي څه حکم کوي د کور نړولو که به د ځمکي قیمت ځني وراخلي؟ (۱۳۴۱/۲۵۳۰هـ)

ځواب: د "لا ضرر و لا ضرار" (۲) په حکم و بکر ته به د ځمکې قیمت وراخیستل کیږي او کور به نه نړول

---

(۱) السنن الكبرى للبيهقي ۴۲۷/۱۰ كتاب الدعوى و البينات.

(۲) عن عمرو بن يحيى المازني عن ابيه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا ضرر و لا ضرار (الموطا للامام مالک ص: ۳۱۱ كتاب الأقضية. القضاء في المرفق)

کیږي که قیمت د ځمکي کم وي او د تعمیر قیمت زیات وي او د مکان په نړولو کي د عمر زیات نقصان وي په در مختار کي راغلي دي: و من بنى او غرس في أرض غيره بغير إذنه أمر بقلعه و الرد لو قيمة الساحة أكثر الخ و في الشامي: و لو قيمتها أقل فللغاصب أن يضمن له قيمتها و ياخذها درر عن النهاية و هذا على قول الكرخي و قد منا الكلام عليه آنفا(۱) فقط

د نکاح د ګواهانو په بیان کي اختلاف وي نو نکاح نه ثابتیږي

سؤال: (۳۶) یو سړی دعوی کوي چي زما نکاح د فلانۍ ښځي سره د ډیرو خلکو په مخکي وشوه او ډیر ګواهان لري چي په بیانو کي ډیر اختلاف دی او ښځه له نکاح ځخه انکار کوي په دې صورت کي نکاح ثابتیږي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۹۷۵هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د نکاح په ګواهانو کي دومره اختلاف دی چي د داسي اختلاف په صورت کي شرعًا نکاح نه ثابتیږي ځکه چي تر څو د دوو ګواهانو تر منځ اتفاق نه وي تر هغو شرعًا نکاح نه ثابتیږي. فقط

نارینه په قسم سره د زنا دعوی کوي او ښځه په قسم سره انکار کوي د چا قسم معتبر دی؟

سؤال: (۳۷) د زید او یوې ښځي تر منځ جګړه ده زید په قسم سره وایي چي ما د دغه ښځي سره زنا کړې ده او د زنا پر ثبوت داسي ګواهان لري چي نامعتبره، نامذهبه او د پردې قوم دی او ښځه هم په قسم سره وایي چي زما د زید ناروا اړیکي نه وي او نه شته نو اوس شرعًا د چا و قسم ته اعتبار دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۸۳هـ)

ځواب: د زنا د ثبوت په هکله د معتبرو ګواهانو د نه موجودیت په صورت کي د ښځي قسم معتبر دی. فقط

---

(۱) الدر و الرد ۵/۱۳۱ كتاب الغصب، مطلب: شرى دار او سكنها فظهرت لو قف اويتيم وجب الاجر و هو المعتمد. ط رشيديه

پر ښځي د نکاح دعوی کول

سوال: (۳۸) پر یوه بالغه ښځه باندي په دو که سره چا د نکاح دعوی وکړه او تولي خبري له ځانه جوړي کړي په محکمه کي دعوی وکړه ښځه یو مخ ناخبره ده او انکار کوي په داسي صورت کي څه حکم دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۷۳۸هـ)

ځواب: د بالغي نکاح بې د دې له رضا او اجازې نه صحیح کیږي او د دې په انکار سره باطلیږي. فقط

ښځه دعوی کوي چي خاوند مي عنین دی او خاوند انکار کوي

سوال: (۳۹) که کومه ښځه دا دعوی وکړي چي زما خاوند عنین دی او خاوند انکار کوي او وايي چي ما د دې سره کوروالی کړی دی نو نر به کتل کیږي که ښځه؟ که کتونکی نامسلمان وي نو د هغه شهادت معتبر دی او کنه؟ او د یو سړي شهادت څنګه دی؟ که د نر عنین کیدل ثابت شي نو ده ته به مهلت ورکول کیږي او کنه؟ او که مهلت ورکول کیږي نو له کوم وخت څخه به وي؟ (۱۳۴۰/۹۹۵هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و لو ادعى الوطى و انكرته فان قالت: امرأة ثقة و الثنتان احوط هى بكر... خيرت فى مجلسها و ان قالت: هى ثيب او كانت ثيبا صدق بحلفه الخ(۱) و فيه قبيله: و يؤجل من وقت الخصومة الخ(۲) له دغه عبارت څخه څرګند دي چي ښځه به کتل کیږي او نا مسلمان ته اعتبار نشته او د یوې مسلماني ثقې ښځي قول معتبر دی او د خاوند د عنین کیدو د ثبوت په صورت و خاوند ته د یو کال مهلت ورکول کیږي او مهلت د جګړې له وخت څخه ورکول کیږي. فقط

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲/۶۴۶ كتاب الطلاق باب العنين وغيره، مطلب فى طائع فصول السنة الاربعة. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ۲/۶۴۶ كتاب الطلاق باب العنين وغيره مطلب فى طائع فصل السنة الاربعة. ط رشيديه

د مهر له ادا کولو وروسته په پاته جائیداد کې د ترکې د تقسیم دعوی کول

سوال: (۴۰) یو سړی د خپلې مور د مهر پنځوس زره روپیو او پنځه ویشت اشرفیو دعوی وکړه او د دې د نبناني په توګه د مهر د اخیستلو لپاره د خپل څلور پنځه پاخه او خام سرایونه وښودل او په دې دعوی کې دا وویل چې د پلار د ترکې دعوی په دې وجه نه ده شوې چې دغه جائیداد د مهر لپاره نشي بس کېدلای محکمې د پاؤ باندې سلو روپیو مهر د مدعی علیه د اقرار په وجه فیصله وکړه د زیاتوب مهر دعوی یې د نه ثبوت په وجه له مدعی علیه څخه قسم واخیستې خارجه کړه له دغه فیصلې وروسته مدعی په همدغه جائیداد کوم چې د مهر د نبناني په توګه ښودلی ؤ د پلار د ترکې دعوی وکړه چې دغه سرایونه راووېشي، مدعی علیه وايي چې د مدعی د ترکې دعوی صحیح نه ده ځکه چې مدعی له دغه دعوی څخه مخکې د پنځو سو زرو روپیو او پنځه ویشت اشرفیو دعوی په همدغه محکمه کې کړې وه هغه خو څرګند د دې خبرې اقرار دی چې په کوم چا د مهر دعوی ده د هغه مال د پنځو سو زرو روپیو او پنځه ویشت اشرفیو په اندازه د وارثانو تر منځ قابل د تقسیم نه دی همدغه اقرار مدعی بیان کړی دی نو له دغه اقرار وروسته تر څو چې د پنځوسو زرو روپیو او پنځه ویشت اشرفیو قیمت جائیداد څخه زیاتوب د مدیون ثابت نکړي تر هغو د مدعی لپاره د ترکې د تقسیم د دعوی حق نشته چې قابل د تقسیم کېدل او نه کېدل په دواړو قولونو کې تعارض او تخالف دی نو داسې دعوی قابله د سماعت ده او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۲۴هـ)

ځواب: په دغه صورت کې چې نوموړی د مهر له دعوی وروسته کومه دعوی د ترکې د تقسیم کړې ده هغه صحیح ده ځکه چې کله دین د مهر پاؤ باندې سل روپۍ شو نو اوس په پاته ترکه کې د شرعي برخو سره سم د ټولو وارثانو حق دی د مهر مدعی د ترکې د تقسیم د عامي دعوی وجه پخپله دا ښکاره کړې وه چې دغه متروکه جائداد خو پخپله د مهر د ادا کولو لپاره بس نه دی نو د ترکې د تقسیم دعوی بې ګټې ده لیکن اوس چې کله د متروکه جائیداد ډېره برخه باقي ده نو هیڅ وجه نشته چې د وارثانو تر منځ دې دا تقسیم نشي نو لوموړی خو د مدعی په قول کې کوم تعارض نشته او که بالفرض وايي هم بیا هم په دغه صورت کې د ده حق نشي ساقط کېدلای.

ښځه د وطي دعوی کوي او دوهم خاوند منکر دی نو...

سوال: (۴۱) زید و هنده ته دري طلاقه ورکړو د عدې له تېرېدو وروسته بکر ورسره نکاح وکړه څلور پنځه ورځي وروسته بکر هم طلاقه کړه زید له عدې تېرېدو وروسته بیا هنده په نکاح کړه تر دې یو کال وروسته بکر و خلګو ته وویل چې ما هیڅکله د هندې سره کوروالی نه دی کړی هنده د کوروالي مدعي ده د چا قول معتبر دی؟ (۱۳۴۲/۲۲۵هـ)

ځواب: في الشامي عن البزازية: ادعت ان الثاني جامعها و انكر الجماع حلت للاول الخ(۱) (ص:۵۴۲) له دې څخه معلوم شو چې په دې اړه د ښځي قول معتبر دی او د دغه طلاقي شوي نکاح دزید سره صحیح شوه. فقط

ښځه د څلورو طلاقونو دعوی کوي او خاوند انکار کوي

سوال: (۴۲) د خاوند او ښځي تر منځ جګړه وشوه ښځه د خپلوانو کره ولاړه دا دعوی کوي چې ماته خاوند څلور طلاقه راکړو او قسم اخلي خاوند انکار کوي د دې په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۲۳هـ)

ځواب: که ښځه د طلاق دعوی وکړي او خاوند د طلاق انکار وکړي نو د دوو ګواهانو په ګواهي طلاق ثابتیږي که د ښځي سره ګواهان نه وي نو د خاوند قول ته سره د قسمه اعتبار دی لهذا په دې صورت کله چې خاوند په قسم اخیستلو سره له طلاق څخه انکار کوي نو پر ده ښځه نه ده طلاقه شوې. فقط

---

(۱) الشامي ۵۸۸/۲ كتاب الطلاق، باب الرجعة مطلب: حيلة اسقاط التحليل بحكم شافعي بفساد النكاح الاول. ط رشيديه

كتاب الاقرار

د اقرار بيان

د فلج او شل سړي د خپل وارث لپاره اقرار کول

سوال: (۱) د کوم سړي پښې چې کار نه کوي يعني ګرځېدی راګرځېدی نشي فلج يا شل وي په همدې حال کې پر ده کال تېر شي نو دغه عوارض د ده په هکله مرض الموت دی او کنه؟ او په دې حالت کې که دی د کوم وارث لپاره اقرار وکړي نو داسي اقرار شرعًا څنګه دی؟ (۸۲۱/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: پر شتې، فلج او شل سړي که په همدې حال کې کال تيري شي نو دا مرض الموت نه دی مګر کله چې د ده په مرض کې زياتوب راشي او په حالت کې بدلون راشي او د همدې بدلون په حالت کې مړ شي نو اقرار د داسې حالت اقرار د مريض دی(۱) (او په مرض الموت کې اقرار کول) د وارث لپاره

---

(۱) و هبة مقعد و مفلوج و اشل و مسلول... من كل ماله ان طالت مدته سنة و لم يخف موته منه و الاتطل خيف موته فمن ثلثه، لانها امراض مزمنة لا قاتلة، قيل: مرض الموت ان لا يخرج لحوائج نفسه و عليه اعتمد فى التجريد بزازية، و المختار: انه ما كان الغالب منه الموت و ان لم يكن صاحب فراش، قهستانى عن هبة الذخيرة. و فى الشامى: سئل صاحب المنظومة عن حد مرض الموت: فقال: كثرت فيه اقوال المشائخ و اعتمادنا فى ذلك على قول الفضلى و هو ان لا يقدر ان يذهب فى حوائج نفسه خارج الدار و المراءة لحاجتها داخل الدار لصعود السطح=

جائز نه دی(۱) فقط

= ونحوه... اقول: و الظاهر انه مقيد بغير الامراض المزمنة التى طالت و لم يخف منها الموت كالفالج و نحوه و ان صيرته ذافراش و منعته عن الذهاب فى حائجه فلا يخالف ماجرى عليه اصاحب المتون و الشروح هنا(الدر و الرد ٤٦٧/٥ كتاب الوصايا. ط رشيديه)

(۱) و ان اقر المريض لوارثه بمفرده او مع اجنبى بعين او دين بطل خلافا للشافعى رحمه الله تعالى و لنا حديث "لا وصية لوارث و لا اقرار له بدين" الا ان يصدقه بقية الورثة (الدر المختار مع الشامى ٥١٥/٤ كتاب الاقرار الباب الثانى: اقرار المريض مطلب: الاقرار للوارث موقوف الا فى ثلاث. ط رشيديه)

کتاب الصلح

د صلح بیان

د یو شریک سره د هستوګنې ځمکه او د بل سره د صحرا ځمکه وي نو صلح کول غوره دي

سوال: (۱) زید او عمر د کښت او هستوګنې ځمکې سره شریکې دي د زید سره د هستوګنې ځمکه ده او د عمر په قبضه کې د کښت او کرنې ځمکه ده په دې صورت کې څه حکم دی؟ (۱۳۹۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: غوره دا دي چې صلح سره وکړي تر څو دواړه له ګناه څخه بچ شي او قبضه د هر یو جائز شي کنې بېله صلح او د یو بل له خوښې د هر یو قبضه د بل پر برخه ناجائز او حرامه ده.

د صلح کوونکیو اولاد صلح نشي باطلولای

سوال: (۲) زید وفات شو د ده درې زامن پاته شول له لومړۍ ښځې څخه دوه زامن او له دوهمې ښځې څخه یو زوی دی د دغه دریو زامنو تر منځ د تقسیم په اړه جګړه راغله بیا د دواړو ډلو په رضا داسې صلح وشوه چې د دوهمې ښځې و زوی ته به له آمدنۍ څخه په روپۍ کې نهه انې او د لومړۍ ښځې و زامنو ته به په روپۍ کې اووه انې ورکول کیږي اوس که د دواړو جانبو اولاد کله ناکله د دې په خلاف دعوی او تقاضا وکړي نو شرعًا څنګه دی؟ له ۱۲۷۸ څخه تر اوسه پورې بېله کوم حرکته همداسې عمل کیدی اوس

د صلح کونکیو له وفات کیدو څخه وروسته د دوی و اولاد ته د دغه تقسیم او رضا په خلاف شرعًا کوم حق شته او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۱۹۳هـ)

ځواب: د صلح کونکیو اولاد ته د صلح باطلولو او د تقسیم دردولو اختیار نشته فقط

مسلمان زوی که هندو پلار د سرکاري قانون په وسیله و صلح ته مجبور کړي

سوال: (۳) زمونږ په سیمه پنجاب کې نوي مسلمانانو د خپلو هندوانو پلرونو په جدي جائیداد د سرکاري قانون په مرسته میراث حاصل کړي دی څکه زید پر خپل هندو پلار (چي تر اوسه لا ژوندی دی او خپل هندو زوی مالک ول غواړي) زور کوي چي زه ستا له مرګ وروسته د قانون په وسیله ستا وارث ګرځم لهذا ته اوس ما ته پوره برخه مه راکوه څه کمه راکړه مثلاً د نصف پر ځای ثلث راکړه نو آیا داسي صلح جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۹۵هـ)

ځواب: دا صورت جائز دی. فقط

د شریکانو د جګړي صلح کول غوره دي

سوال: (۴) زید او عمر له څه مودې راهیسه کار سره کاوی اوس د دوی سره جګړه ده زید وایي چي زما روپۍ په عمر پسي راځي او عمر وایي چي زما روپۍ په زید پسي راځي اوس که دواړه پخپل منځ کي یا د دربمانو په مخ کي قسم واخلي او خپل خپل حق له یو بل څخه واخلي نو څنګه دی؟ څه ګناه خو به پکي نه وي؟ (۱۳۳۵/۴۹۱هـ)

ځواب: صلح غوره ده نو د هر یو چي حق په بل پسي ورشي پخپله دي صلح سره وکړي و یو بل ته دي ورکړي یا دي د دربمانو مخته یو بل ته غاړي خلاصي کړي شرعًا په دې کي څه ګناه نشته چي خپل حق له بل څخه واخلي. فقط

د ښځي له لوري د خاوند صلح کول او د ښځي نه منل

سوال: (۵) زید د عمر سره صلح وکړه چي تا چي کومه دعوی زما په ښځه کړې ده د هغه صلح وکړه عمر ورته وویل د ښځه ده زید ورته وویل چي له دعوی شوي ځمکي څخه څلور ګزه ځمکه یا د هغې بیه واخله عمر ورته وویل چي په محکمه کي زما څخه کوم مصرف شوی دی هغه به پر چا وي؟ زید ورته وویل پر ما به وي زید د غه صلح بې د خپلي ښځي له مشورې وکړه د زید ښځه دغه صلح نه مني نو پر زید د دغه ځمکي قیمت او د محکمې مصرف واجب دی او کنه؟ او د دغه صلح د نه عملي کیدو په وجه زید ګنهکار خو نه دی؟ (۱۸۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: کله چي د زید ښځه دغه نه مني نو دغه صلح صحیح نه ده او پر زید باندي هیڅ شی واجب نه دی او نه دی د وعدې په نه پوره کولو ګنهکار دی سیجئ فی البیوع توقف عقوده (ای الفضولی) کلها ان لها مجیز حالة العقد و الا تبطل(۱) در مختار. فقط

په دوو کسانو کي د هر یو سره د یو بل مال دی مګر یو حساب نه کوي

سوال: (۲)... (الف) د زید سره د عمر مال ګینه او جامې شته او د عمر سره د زید د کور څه سامان او یو څه ځمکه د صحراء ده عمر دغه د کور په سامان او ځمکه کي د زید سره شریک هم دی د عمر په کوشش سره چي دی ځمکه و کښت ګرو ته ورکوي د دغه ځمکي څه حاصل هم راځي عمر پوښتنه کوي چي سره د دې چي څو واره مي له زید څخه غوښتنه کړې ده خو زید فیصله نه کوي نو که زه دغه شیان استعمال کړم یا یې خرڅ کړم نو که بیا کله زید فیصله کول وغوښت او دغه استعمال شوي شیان د زید په برخه شو نو د دې د قیمت ادا کول به پر ما وي او کنه؟ بیا خو به زید دا حق نلري چي دی ووایي چي تا دا شی ارزانه خرڅ کړی دی.

---

(۱) الدر مع الرد ۳۵۲/۲ کتاب النکاح، باب الکفاءة، مطلب فی الوکیل و الفضولی فی النکاح. ط رشیدیه

(ب) او که ځمکه و زید ته په برخه کي ورغله نو د دې د آمدنۍ بیرته ورکول به پر عمر واجب وي او کنه؟

(ج) او کوم آمدني د دغه ځمکي چي د اسي وي چي هغه بیله کوششه د عمر لاس ته راغلی وي دا وخت به د دې بیرته ورکول هم واجب وي او کنه؟

(د) که عمر پر دغه ځمکه او د کور پر سامان په دې طریقه قبضه وکړه چي زه به د خپل واجب حق په عوض پر دغه مال قبضه وکړم او مالک به شم او له خپل حق څخه پر کم قبضه کوم او بیا کله زید فیصله کول وغوښت هغه وخت د غه شیان و زید ته په برخه ورغلو نو معافي او د آمدنۍ بیرته ورکول به واجبیږي او کنه؟

(هـ) عمر د خپلي ښځي د وصیت په وجه و بکر ته وویل چي ته پخپل کور کي د اوبو پایپ (ټاکی) ولګوه او دغه پمپ وقف دی نل مونږ درکړله دې څخه به کلیوال اوبه ډکوي خپل وخت ورته وټاکه په نورو وختونو کي قلفوه نو دغه ټاکی ولګیده او د عمر د وینا سره سم عمل کیدی او س له څو میاشتو راهیسي د دغه پمپ چوتره ماته شوې ده په داسي حالت کي که کلیوال اوبه ډکوي نو د اوبو د جذبولو په وجه د بکر و سرای ته تاوان رسي ځکه بکر پخپل کور کي یوول چي اوبه په احتیاط سره ډکوئ او کلیوال یې منع کړونو بکر ګنهکار دی او کنه؟ او عمر ته د چوترې د جوړولو وویل هغه ورته وویل چي اوبه ستاسي کره ډکیږي د خیر کار روان دی او س زه مصرف نه شم په کولای داغسي دي قلف وي په دې صورت کي ګنهکار څوک دی بکر که عمر؟ (۱۳۴۰/۱۰۵۱هـ)

ځواب: (الف-هـ) د احتیاط او اطمینان خبره دا ده چي لومړی خو هر رنګه چي وي عمر دي د زید سره صلح او روغه وکړي او حساب دي صفا کړي او که زید هیڅ نه کوي نو عمر دي د ځمکي د حاصل حساب په یاد لري څو مره برخه چي د زید جوړیږي هغه دي په یاد ساتي تر څو د فیصلي پر وخت حساب سره وکړي او د کمي زیاتوب راکړه ورکړه او معافي وشي او سامان د کور کوم چي د زید دی په هغه کي بیله فیصلي هیڅ تصرف نه دی کول پکار او که څه تصرف وکړل شو نو د هغه د اجازې او معافۍ ضرورت شته احتیاط په همدې کي دی که څه د ضرورت په وجه دا هم فتوی ورکړې ده چي که څوک د چا څه حق وګرځوي او نه ورکوي نو د هغه په بدل د ده مال اخیستل د خپل حق په اندازه صحیح دی او د ټاکۍ په اړه حکم دا دی چي کله د کلیوالو په اوبه ډکولو د بکر سرای ته تاوان رسي نو تر څو چي چوتره او نور سمیږي تر هغو دی قلف وساتي او کله چي عمر هم دا ورته وایي نو بکر نه دی ګنهکار. فقط

د صلح مع الانکار حکم

سوال: (۷) دزید غوا د عمر په دروازه کي مړه پرته وه عمر موجود نه ؤ او س زید د عمر په مزدور دعوی کوي چي تا زما غوا راوژلې ده هغه انکار کوي او قسمونه اخلي چي زه نه یم په خبر ما ولیده چي دلته غوا مړه پرته وه او د زید سره ګواهان نشته عمر د بدنامۍ په وجه و زید ته وویل چي ته عارضه مه کوه زه ستا د دې کار بندوبست کوم یعني دربمانو په وینا به تاته د غوا قیمت درکوم چي کورته راغلی خبر شو چي مزدور غوا نه ده وژلې ځکه چي قسم اخلي او د زید سره څوک ګواه نشته لیکن عمر صرف د وعدې پوره کولو او له بدنامي څخه ځان ساتلو په وجه د دربمانو د وینا سره سم دیرش روپۍ و زید ته د غوا قیمت ورکړی آیا په دې صورت کي د زید لپاره د عمر له مزدور څخه تاوان اخیستل جائز دی او کنه؟ او په زید پسي لمونځ جائز دی او کنه؟(۱۳۴۳/۱۳۵۷هـ)

ځواب: په دې صورت کي د زید پر عمر او د هغه پر مزدور بیله ګواهانو دعوی کول د اوربدو وړ نه ده و فی الخانية: وجد بهيمة او دابة مقتولة فلا شي فيها الخ(۱) لیکن د عمر او د هغه د مزدور د انکار کولو سره چي د دوی تر منځ کومه صلح وشوه او عمر د روغي له لاري څه روپۍ وزید ته ورکړې نو دا صلح جائز ده او د زید لپاره حلالي دي ځکه چي د صلح لپاره د دعوی صحیح کیدل شرط نه دی په درمختار کتاب الصلح کي راغلی دی: و حکمه وقوع البراءة عن الدعوی و وقوع الملک فی مصالح علیه و عنه لو مقرًا الخ و هو صحیح مع اقرار او سکوت او انکار الخ(۲) بیا پر مخ لیکي چي صلح مع الانکار د مدعی علیه په حق کي قطع د جګړې ده(۳) نو کله چي عمر و زید ته دیرش روپۍ د جګړې د قطع کولو لپاره او د یمین د فدیې په توګه ورکړي نو صلح صحیح شوه او زید د دغه روپیو مالک شو. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۴۵۲/۵ کتاب الدیات، اواخر باب القسمة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الشامی ۵۲۷/۴ کتاب الصلح. ط رشیدیه

(۳)و الاخیران ای الصلح بسکوت او انکار معاوضة فی حق المدعی و فداء و قطع نزاع فی حق الاخر(الدر مع الرد ۵۲۷/۴ کتاب الصلح. ط رشیدیه)

کتاب الودیعة

د ودیعت بیان

د چا امانت بل ته سپارل جائز نه دی

سوال: (۱) د زید امانت د زید د خوریي بکر سره پروت دی که بکر د غه امانت د خپلي مور په هغه حق کي ورکړځوي چي پر زید واجب دی یا یې کوم بل حقدار ته ورکړي نو جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۹۲۲ھ)

ځواب: په دې حالت کي د بکر لپاره د غه امانت راګرځول صحیح نه دی بکر باید دغه امانت و زید ته ورکړی بل چاته دي نه ورکوي. فقط

د امانت روپۍ که ادا کوی نشي نو په ودي بخښي

سوال: (۲) زید د عمر سره روپۍ امانت کښېښودی عمر په تجارت او نورو کي تاوان وکړی او غلا هم ځني وشوه مګر د زید روپۍ چي ورسره امانت وي هغه نه دی غلا شوي او څه روپۍ عمر و زید ته ورکړي هم وي پاته روپۍ عمر د خپل کور په اړتیاوکي ولګولی نو د دغه روپیو ادا کول پر عمر لازم دی او کنه؟ که ادا کولای نشي نو شرعًا به څه حکم وي؟ زید وفات شو وارثان یې شته (۱۳۴۵/۸۴۲ھ)

ځواب: په دې صورت کې شرعي حکم دا دی چې عمر دغه روپۍ چې د زید پر ده پاته شوې د زید و وارثانو ته ور ادا کړي که نشي ادا کولای نو په دوی دې وبخښي ځکه چې د کوم مسلمان کوم حق بیله دې نه ساقطیږي چې یا دې ور ادا کړي او یا دې په وبخښي.

د خوندي کولو سره بیا هم د امانت روپۍ غلا شوې نو تاوان نلري

سوال: (۳) له دې ځایه پنځه کسان، منیر، هدایت الله، وزیر ایتهٔا او فیضن حج ته ولاړو خپلي خپلي روپۍ یې په ډیلي کې و یو سوداګر ته ورکړې چې په مکه مکرمه کې به راکړي هلته چې ورسیدو ایتهٔا وفات شو د هغه روپۍ هغه نورو حاجیانو راواخیستې د منیر سره امانت کښیښنودی منیر د هدایت الله سره کښیښنودی هغه و فیضن ته ورکړې هغه د وزیر سره کښیښنودې وزیر دغه روپۍ تر ملا وتړلې او د خپلو روپیو په رنګه د دغه روپیو حفاظت کاوی چې بیرته راتلو د ډیلي پر استیشن (تم ځای) له وزیر څخه هغه روپۍ غلا شوې پر ده تاوان شته او کنه؟ که وي نو چا ته به ورکوي د مړي یو زوی یو لمسی دی. (۱۳۴۵/۲۹۰هـ)

ځواب: په دغه صورت کې د دغه روپیو ضمان پر هیچا نشته دغه ټول ملګري امانتداران دي او پر امین ضمان نه راځي(۱) او که دوی ټول یا ځیني هغه روپۍ ورکوي نو د مړي و زوی ته دې ورکړي. فقط

د امانت شی یې په دروازه کې کښیښنودی هغه ورک شو

سوال: (۴) د زید ښځي د بکر و مور ته یوه جوړه بنګړي د سرو زرو چې پنځه سوه بیه درلوده او پخواني جوړ شوي ؤ د یوې ښځې په شناخت ورولیږو تر څو دا په زرګر نوي بنګړي

---

(۱) الودیعة امانة فی یدالمودع، اذا هلکت لم یضمنها لقوله علیه السلام: لیس علی المستعیر غیر المغل ضمان و لا علی المستودع غیر المغل ضمان (الهدایة ۲۷۳/۳ کتاب الودیعة) و هی امانة فلا تضمن بالهلاک مطلقا (تنویر الابصار مع الشامی: ۵۵۱/۴ کتاب الایداع، و ایضا ۵۵۱/۴ کتاب الایداع. ط رشیدیه)

ورجوړ کړي د بکر مور څو ورځي هغه پخواني بنګړي د ځان سره کنبیښنودو پخپله نابالغه لمسۍ یې په دروازه کي کنبیښودو له هغه ځایه ورک شو په داسي صورت کي د بکر پر مور ضمان راځي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۵هـ)

ځواب: که د بکر مور و خپلي لمسۍ ته وویل چي دا یوسه د کور په دروازه کي کښېږده نو ښکاره ده چي په دې صورت کي پر دې ضمان واجب دی چي دا د امانت ضائع کول دي او که د بکر مور دا نه دی ورته ویلي چي په دروازه کي کښېږده بلکه دې خپلي لمسۍ ته د ایښودلو لپاره ورکړو هغې په دروازه کي کښیښودو نو په داسي صورت کي د بکر پر مور ضمان نشته في الدر المختار: و للمودع حفظها و بنفسه و عیاله کما له و هم من یسکن معه حقیقة او حکما الخ(۱) فقط

د امانت روپۍ پخپلو روپیو ګډولو وروسته ادا کول

سوال: (۵) زید د عمر سره روپۍ امانت کښیښودلې عمر هغه روپۍ پخپلو روپیو ګډي کړې وروسته نوري روپۍ له ځانه یا یې له دغه ګډو شویو روپیو څخه و زید ته ورکړي نو په دغه صورت کي د زید د روپیو په ګډولو خو به عمر خاین نه وي؟ (۱۳۳۵/۸۰۲هـ)

ځواب: کله چي عمر هغه روپۍ ادا کړي نو پر ده هیڅ مواخذه نشته فقط

د امانت روپۍ پخپلو روپیو ګډولو وروسته غلا شوې نو تاوان واجبیږي

سوال: (۶) د یو باوري سړي سره مسافرو خلکو خپلي روپۍ او نور امانت ایښودل ځینو خلکو خو به ده ته په لاس کي ورکړي او ځینو خلکو به خپله کنځونه هغسي ورسره کښیښودل ده ناڅاپه یوه شپه د دغه سړي له کوره غلا وشوه د کور وال او مسافر دواړو روپۍ غلا شوې په دغه صورت کي پر دغه امانت دار د غلا شویو روپیو ضمان شته او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۹هـ)

---

(۱) الدر مع الشامي ۵۵۱/٤ کتاب الایداع. ط رشیدیه

ځواب: په دغه روپیو کي ضمان واجب نه دی کومي چي د امانت ایښودونکي جدا پرتې وي که د امانت ایښودونکي په کنځونه کي وي او که باوري امانت دار پخپل لاس اخیستي وي ایښي وي او پخپلو روپیو یې نه وي ګډي کړي او کومي د امانت روپۍ چي امانت ایښودونکي پخپلو روپیو ګډي کړې او د ده د روپیو سره هغه هم غلا شوې د هغه ضمان واجیبږي.(۱) فقط

د امانت ګینه که ورکه شي نو تاوان نشته

سوال: (۷) هندې او خالدې خپله ګېڼه د زید په کور کي د زید د ښځي په وسیله امانت کښېښوده مګر هغه غلا شوه په دوی کي هنده مسکینه کونډه ښځه ده ځمکه زید د زړه له سویه و هنده ته د خپلي ګڼې (زیور) بیه ورکړه مګر خالده داسي نه ده ځکه زید و خالده ته څه ورنکړو د خالدې خاوند دعوی کوي چي زید کله و هندې ته قیمت ورکړي نو خالده ته به هم ورکوي آیا خالده شرعًا د خپل زیور بیه له زید څخه د اخیستلو حق لري او کنه؟(۱۸۲۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: کله چي دغه ګېڼه د زید له کوره غلا شوه نو پر زید یا ښځه د زید د دغه زیور ضمان واجب نه دی کما هو حکم الامانات(۲) نور نو که تبرعًا زید و هندې ته د ناوسۍ په وجه بیه ورکړه نو خالده دا حق نلري چي دا هم پر زید دعوی وکړي نور نو که زید دې ته هم تبرعًا ورکړي نو دا هم جائز دی. فقط

که د امانت روپۍ غلا شي نو...

سوال: (۸) پر زید د بکر څه روپۍ پاته وې بکر و زید ته وویل چي زما روپۍ و خالد ته ورکړه

---

(۱) و کذا لو خلطها المودع بجنسها او بغیره بماله او مال اخر... بغیر اذن المالک بحیث لا تتمیز الخ ضمنها الخ (الدر المختار مع الشامی ٥٥٤/٤ کتاب الایداع. ط رشیدیه)

(۲) الودیعة امانة فی ید المودع اذا هلکت لم یضمنها لقوله علیه الصلاة و السلام: لیس علی المستعیر غیر المغل ضمان و لا علی المستودع غیر المغل ضمان (الهدایة ۲۷۳/۳ کتاب الودیعة) و هی امانة فلا تضمن بالهلاک مطلقا (تنویر الابصار مع الشامی ٥٥١/٤ کتاب الایداع. ط رشیدیه)

ځکه زید ۳۵ روپۍ و خالد ته دوکان ته ورو ړي خالد نه ؤ هغه روپۍ په دوکان کي د خالد په انتظار پرتي وې په دې غرض چي خالد راشي و بکر ته ولیږي خالد لا تر او سه راغلی نه ؤ چي له دوکان څخه ۳۹ روپۍ او سره زر غلا شول چي یکي د بکر ۳۵ روپۍ هم وې تر یوه میاشته پوري حکومت پلټنه وکړه مګر څه معلومات یې ونه شو اوس بکر له خالد څخه ۳۵ روپۍ واخیستي دا جائز دي او کنه؟ (۳۲/۱۸۸۷-۱۳۳۳ھ)

ځواب: شرعًا د بکر لپاره له خالد څخه ۳۵ روپۍ اخیستل صحیح نه دي (۱)

د چا شی بیله اجازې استعمالولو وروسته ورکول ضمان لري

سوال: (۹) زید د عمر شی بې د ده له موجودیته بې د ده اجازې استعمال کړی په هغه کي نقصان راغلی زید بې د عمر له اجازې و جوړونکي ته ورکړی جوړونکي هغه شی ورک کړی په دغه صورت کي زید ضامنیږي او کنه؟ (۲۲۷/۱۳۴۵ھ)

ځواب: په دغه صورت کي چونکه زید امین نه دی ځکه ضامن دی. فقط

په امانت کي د خیانت د معافی به څه صورت وي؟

سوال: (۱۰) زید د یو سړي د امانت په روپیو کي خیانت وکړی اوس له هغه څخه معافي وغواړي او کنه؟ (۳۲/۲۲۲۴-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د چا په روپیو کي چي خیانت کړی دی و هغه ته ادا کول یا له هغه څخه معافي غوښتنل ضروري ده حقوق العباد دا ډول معافیږي او خومره چي ګناه کړې ده پر هغه دي توبه اوباسي.

د مدرسي په روپیو کي خیانت کول او د مهتمم ورباندي سترګي پټول

سوال: (۱۱) زید د کانپور په اسلامي مدرسه کي مدرس ؤ لکنووالو ده ته چنده ورکړه چي دا ده د آګرې په اسلامي مدرسه کي جمع کړه لیکن زید هغه چنده په مدرسه کي جمع نکړه

---

(۱) الوديعة امانة فى يد المودع، اذا هلكت لم يضمنها (الهداية ۲۷۳/۳ كتاب الوديعة)

اوس زید د آګرې په اسلامي مدرسه کي استاذ دی د آګرې د مدرسې چنده جمع کونکی چي کله لکنو ته راغلی نو لکنو والو ورته شکایت وکړی چي مونږ چنده د زید په لاس درلیږلې وه د هغې رسید نه دی راغلی په دې وجه د آګرې د اسلامي مدرسې مهتمم هم خبر شو او زید هم خبر شو زید وایي چي ما و فلاني طالب ته هغه روپۍ د چندې ورکړې چي په مدرسه کي جمع کړه چي تحقیق ځني وشو ده اقرار وکړی چي ډېري لږ روپۍ وې یعني چنده ورکونکی چي څومره روپۍ ښیي هغه زیاتي دي زید ډېري لږ روپۍ مني په دې صورت کي څومره روپۍ پر زید راځي او زید خائن دی کنه؟ او د مدرسې د مهتمم لپاره په دې اړه و زید ته څه نه ویل ښنګه دي؟(۴۸۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: زید په دغه صورت کي خائن دی او د ده و قول ته اعتبار نشته د ټولو روپیو ضمان د لکنو والو د بیان سره سم پر ده لازم دی د مدرسې د مهتمم لپاره د داسي خائن او فاسق مدرس پر فعل باندي سترګي پټول او ضمان ځني نه اخیستل ناجائز دی په دې سره پخپله د مدرسې د مهتمم خیانت او د اهتمام نه وړوالي ثابتیږي. فقط

د زید چي کله خیانت په شرعي ګواهانو ثابت شي یا لږ نه لږ د مدرسې مهتمم سره داسي قوي قرائن موجود شي نو په داسي صورت کي د زید عزل لازم دی کني صرف په اټکل او اندازه سره ګمان کول جائز نه دی امیر المؤمنین حضرت علي رضی الله عنه که "الحزم سؤ الظن"(۱) فرمایي نو [ان بعض الظن اثم] (سورة حجرات، آیت:۱۲) هم موجود دی و علی هذا پر لکنو والو او د مدرسې پر مهتمم پر دواړو تثبت او تحقق واجب دی صرف په اندازه کوم شرعي حکم نه ثابتیږي. کتبه محمد انور عفا الله عنه

د مهتمم یا متولي لپاره د چندې روپۍ د ځان لپاره استعمالول یا چاته په قرض ورکول

سوال: (۱۲) د مدرسې د مهتمم یا متولي سره چي کومه چنده د مسجد یا مدرسې جمع وي که د ضرورت پر مهال پخپل کار کي ولګوي او له ضرورت پوره کیدو وروسته بیرته جمع

(۱) کشف الخفاء ومزیل الالباس ۴۲۵/۱ حرف الحاء المهملة الرقم: ۱۱۲۹ المطبوعة مؤسسة الرسالة، بیروت

کړي نو شرعًا څنګه دی؟ او قرض ځني ورکول هم جائز دی او کنه؟ (۲۲۹/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: دا خو ضروري ده چي که مهتمم یا متولي یا مدرس د غه روپۍ مصرف کړي نو بیرته مدرسې ته ورکول ضروري دي پاته شوه دا خبره چي دا مصرفول صحیح دي او کنه؟ د فقهي له کتابونو څخه دا معلومیږي چي د دوی لپاره دا مصرفول صحیح دي او قرض ورکول او په تجارت کي لګول هم صحیح نه دي(۱) فقط

د مسجد له امانت څخه قرض ورکول صحیح نه دي

سوال: (۱۳) د مسجد د جوړولو لپاره که د مسجد د امام سره امانت روپۍ پرتې وي که څوک له امام څخه د قرض په توګه وغواړي او د مسجد امام یې د نه وصول کیدو په وجه نکړي ور هغه سړی د امام سره دښمني شروع کړي نو د داسي سړي لپاره څه حکم دی؟ (۴۷۹/۱۳۳۸هـ)

ځواب: چونکه د مسجد له امانت څخه قرض ورکول صحیح نه دی ځکه په دې اړه امام پر حق دی او له ده سره دښمني کونکی په دې وجه پر ناحق دی او ظالم دی.

د چندې روپۍ پرتې دي مصرف یې ختم شو څه کول پکار دي؟

سوال: (۱۴) ... (الف) د انګورې او نورو د چندې څه روپۍ پرتې دي هغه چیری مصرف کړو؟

(ب) یو سړي ته د فتوی سره سم د انګوره له روپیو څخه قرض ورکول شو اوس د غه ځني اخیستل ناممکن دي

---

(۱) ځکه چي مهتمم او متولي د چنده ورکونکیو له طرفه وکیلان وي او د وکیل لپاره دا جائز نه دي چي د کومو کارونو لپاره چنده جمع شوې ده له هغه څخه سیوا په نورو کارونو کي ولګوي و اما حکمها: فمنه قیام الوکیل مقام الموکل فی ما وکله به و لا یجبر الوکیل فی اتیان ما وکل به... و اما صفتها و منه انه امین فیما فی یده کالمودع الخ(الفتاوی الهندیة: ۵۶۶/۳-۵۶۷ کتاب الوکالة الباب الاول فی بیان معناها شرعًا و رکنها و شرطها و الفاظها و حکمها و صفتها و ما یتصل به)

نو د قرض ورکونکي څخه دغه روپۍ واخلو که معاف دي؟ (۱۳۴۲/۱۵۲۵هـ)

ځواب: (الف،ب) مسئله په داسې صورت کې دا ده چې د چنده ورکونکيو په اجازه دغه روپۍ په بل مصرف کې صرفېدلای شي ځکه چې دا ټول روپۍ چې تر څو د کوم مصرف لپاره چې درکړي دي په هغه کې ونه لګېږي تر هغو د خپل ورکونکي له ملک څخه نه خارجيږي ځکه د دوی اجازې ته ضرورت دی ليکن داسې متعذر وي لکه چې ظاهر دي نو پر فقيرانو او مسکينانو خيراتول پکار دي يا مثلاً د ارتداد د فتنې د مخ نيوي لپاره صرفول پکار دي(۱) او کوم ضرورتمند ته چې په قرض ورکول شوي دي او له هغه څخه و لاس ته کېدلای نشي نو د هغه ضمان پر قرض ورکونکي واجب نه دی هغه ساقط دی.(۲) فقط

د امانت په روپيو تجارت کولو په صورت ګټه د چا ده؟

سوال: (۱۵) د زيد سره د وارثانو د ترکې څه روپۍ امانت پرتې دي د وارثانو دا خيال دی چې زيد په دغه روپيو تجارت کوي ګټه پر اخلي اوس وارثان د ده څخه اصل روپۍ سره د ګټې اخيستلای شي که صرف د امانت روپۍ ځني واخلي؟

(۱۳۳۴-۳۳/۱۲۸۵هـ)

ځواب: په دغه صورت کې وارثان اصل روپۍ د امانت اخيستلای شي زياتوب نشي غوښتلای. فقط

که امانت اېښودونکی لا درکه شي

سوال: (۱۲) يو سړي څه روپۍ د امانت کښېښودې ولاړی لس کاله کېږي چې درک يې نشته دغه روپۍ څه په وکړو؟ (۱۳۴۲/۲۸۱۲هـ)

ځواب: د داسې امانت حکم دا دی چې خيرات يې کړئ که پخپله محتاج وي پخپله دي استعمال کړي کنې و فقيرانو او مسکينانو ته دې د امانت اېښودونکي له طرفه د ثواب په نيت صدقه کړي که هغه سړی

---

(۱) ځکه چې دا د مصرف هم جنس مصرف دی ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

(۲) ځکه چې د فقيروالي په وجه دي هم د دغه روپيو مصرف دی ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

بیرته راغلی نو د هغه خو ښه ده که د دغه صدقې اجازه کوي او که نه کوي که نه کوي نو ده ته بیرته ورکول واجبیږي. فقط

د خیاط په دکان کې امانت پرته کپړه خرڅول د دکان کرایه څني اخیستل

سوال: (۱۷) یو مسلمان خیاط د مسجد وقف دکان په کرایه کاوی کله چې د دوو دریو میاشتو کرایه پر واجبه شوه نو دی کور ته ولاړی بیرته نه راغلی د ده یو مزدور ؤ هغه ته هم تنخواه نه ده ورکړې کمپنۍ والو خپل ماشین له دغه نوکر څخه یوړی مزدور د وربښمو څه ټوکر چې یو هندو و خیاط ته د ګنډلو لپاره ورکړی ؤ د مسجد و متولي ته ورکړی چې دا وربښم خرڅ کړه څه ماته په تنخواه کې راکړه او څه د دکان په کرایه کې دروګرځوه داسې کول څنګه دي؟ (۱۵۹۸/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د دغه وربښمو په خرڅولو سره و مزدور ته تنخواه ورکول یا د مسجد کرایه ورکرځول صحیح نه دي ځکه چې دغه وربښم د بل چا امانت دی او د دکان کرایه تر هغو پر دغه خیاط ده تر څو چې دکان د ده په قبضه کې وي او د ده ماشین پکښې وي. فقط

د سامان راغوښتلو لپاره ورکړي روپۍ په لاره کې غلا شوې

سوال: (۱۸) زید و عمر ته وویل چې تا ته شپږ روپۍ درکوم ماته د دوو سوو روپیو سامان له ډیلي څخه راوړه ځکه نو زید د سامان راوړلو لپاره دوه سوه روپۍ او شپږ روپۍ مزدوري و عمر ته ورکړې عمر بیرته راغلی وې ویل چې د ډیلي په اسټیشن کې زما له جیب څخه چا وکښې اوس زید له عمر څخه دوه سوه روپۍ اخیستلای شي او که نه؟ (۱۳۳۹/۱۰۳۷هـ)

ځواب: په دغه صورت کې د عمر قول معتبر دی ضمان له ده څخه ساقط دی ځکه چې دی امین دی و لا ضمان علی الامین. فقط

د مالک پر غوښتنه د امانت نه ورکونکي له ضائع کیدو وروسته ضامن دی

سوال: (۱۹) زید او عمر په یو جائیداد سره شریکان ؤ زید به د کلي حاصل واخیستی له خرڅولو وروسته چي به څه پاته شو تقسیم به یې کړی و عمر ته به یې خپله برخه ورکړه کومي روپۍ چي به مشترکي راغلې هغه به د شرعي قواعدو سره سم دا نه چي بیلي به ایښودلې بلکه رواج داسي دی چي په څو شریکانو کي چي به کوم یو واخیستی هغه به په خپل کار کي هم مصرفولې او د ټولو روپیو ذمه وار به هم بلل کیدی د زید او عمر تر منځ اختلاف پیدا شو عمر وزید ته وویل چي آئنده ته روپۍ مه اخله او تر اوسه چي کومي روپۍ زما په تا پسي راځي د هغو حساب وکړه ماته یې راکړه کله چي زید دا خبره عملي نکړه نو بیا یې سم د حکومت په وسیله د ده کار وربند کړی په دې وجه زید لس روپۍ ور ولیږلې عمر ور واپس کړې دا یې ورته وویل چي حساب وکړه زما ټولي روپۍ را ولیږه زه بېله حسابه نه اخلم او نه آئنده اړیکي درسره ساتم له دې وروسته څو ځله ځني وغوښتې مګر زید روپۍ ورنکړې بلکه عمر و یو خپل قریب چي د هغه و څه روپیو ته ضرورت ؤ خط ولیکی چي زما روپۍ د زید سره دي دا خط ورښکاره کړه روپۍ ځني واخله چي لس یا پنځلس روپۍ وي کله چي و زید ته خط ورښکاره کړی نو دا یې ولیکل چي زما سره د ده روپۍ نشته او یوه روپۍ یې هم نکړه ور تر څه موده وروسته چي فیصله وشوه نو د دغه فیصلې پر مهال د زید له کور څخه غلا وشوه زید وویل چي هغه مشترکه روپۍ هم غلا شوې، عمر ورته وویل چي لومړی خو د دې ثبوت چیری دی چي دا هغه روپۍ دي؟ هغه روپۍ تر اوسه چیري پاتې دلای شي؟ دوهم که چیري هغه وي نو له غوښتني وروسته په نه ورکولو زید غاصب دی پر ده ضمان راځي اوس دغه لاندي پښتني لرو:

(الف) کله چي عمر د زید رالیږلي لس روپۍ بیرته ورلیږلي نو اوس عمر د خپلو روپیو مستحق نه شو پاته که د عمر د غوښتني سره سم پر زید ادا کول لازم نه شو پاته او که عمر د روپیو مستحق دی او پر زید په وخت د غوښتني ادا کول واجب ؤ نو له غوښتني وروسته په نه ادا کولو زید غاصب شو او د عمر روپۍ پر زید شته که هم هغه روپۍ وي کومي چي غلا شوې که نوري وي او عمر پر زید د خپلو روپیو حق لري او کنه؟

(ب) که په مذکوره صورت کي زید غاصب نه دی نو د زید دا وینا چي په غلا شویو روپیو کي هغه د امانت روپۍ هم

وي د دې د ثبوت لپاره فقط د زید یا د ده د بچیانو وینا او د ښځي ګواهي بس ده که څه کول پکار دي؟ (۱۳۴۲/۳۲۵ھ)

ځواب: (الف) د امانت حکم دا دی چي د مالک له غوښتني وروسته د نه ورکولو په صورت امین ضامن ګرځي په در مختار کي راغلي دي: و لو منعه الوديعة ظلما بعد طلبه لرد وديعته الخ قادرًا على تسليمها ضمن و الا بان كان عاجزًا او خاف على نفسه او ماله الخ لا يضمن الخ(۱) اما که امین د دغه تعدي ازاله وکړي کومه تعدي چي له ده څخه شوي ده نو ضمان هم زائلیږي في الدر المختار: و اذا تعدى عليها فلبس ثوبها او ركب دابتها او اخذ بعضها ثم رد عينه الى يده حتى زال التعدى زال ما يؤدى الى الضمان الخ(۲)

(ب) په دې اړه قول د امین سره د قسمه معتبر دی في الدر المختار: قال رب الوديعة للمودع: ارفع الوديعة الى فلان فقال: دفعت و كذبه في الدفع فلان وضاعت الوديعة صدق المودع مع يمينه لانه امين(۲) و فيه قبيله كما لو قال له احمل الى الوديعة فقال افعل و لم يفعل حتى مضى اليوم و هلكت لم يضمن الخ(۳) فقط

د مودَع له وفات وروسته یو سړی د ودیعت دعوی کوي او وارثان انکار کوي

سوال: (۲۰) د زید د مرګ اته کاله کیږي اوس بکر دعوی کوي چي پنځلس کلونه کیږي چي ما پنځه نوي تو که کتابونه د زید سره امانت ایښي ؤ هغه کتابونه راکړئ یا د هغو بیه راکړه ثبوت د ده سره هیڅ شی نشته او نه وارثان د زید په امانت علم لري په داسي صورت کي شرعًا د دغه امانت بدل پر وارثانو د زید که واجب دی نو د هغې زماني و قیمت ته اعتبار دی که د اوس زماني و قیمت ته؟ (۱۳۴۳/۱۹۳۳ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵۵۲/٤ كتاب الايداع. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ۵۵۵/٤ كتاب الايداع. ط رشيديه

(۳) الدر مع الشامي: ۵۵۸/٤ كتاب الايداع مطلب مودع الغاصب لو استهلكها لا يرجع على الغاصب اذا ضمنها الخ. ط رشيديه

ځواب: د بکر سره چي کله دوه ګواهان پر خپله دعوی نشته او د زید و وارثانو نه د دي اقرار او علم نشته نو د زید پر وارثانو د دې بدل واجب نه دی که په دې خیال وکړي چي شاید بکر رښتیا وایي نو د دوی خوښه ده او کله چي بدل پر وارثانو لازم نه دی نو د هغه وخت یا اوسني قیمت ته کتل هم نه غواړي خومره چي زړه غواړي ور دي کړي اما که امانت ایښودل ثابت شوی وای نو د هغه زماني د امانت قیمت به ورکول لازم وای. فقط

چیري چي د امانت د ګېڼې ایښودلو ورته ویلي د هغه په خلاف کولو که ګېڼه غلا شوه

سوال: (۲۱) زید خپل څه زیور د بکر سره امانت کښېښودو دا يې ورته وویل چي چیري ته خپل زیور ږدې هلته دغه د امانت زیور (ګېڼه) هم کښېږده لیکن بکر د دوکان په صندوق کي دغه د امانت زیور کښېښودو بکر خپل زیور د کور په صندوق کي ږدي ځکه چي د دکان له صندوق څخه یو وار غلا وشوه او موجوده حالت د صندوق پوره محفوظ نه دی د بکر کور تر دکان لاندي دی درې میاشتي وروسته وایي چي غله د دکان او صندوق قلف مات کړی د امانت زیور يې یوړو سره د دې چي د بکر یو د مشکو بوتل چي زر روپۍ بیه لري او یوه د روپیو کڅوړه غلا نه شوه آیا زید له بکر څخه تاوان اخیستلای شي؟(۱۰۹۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کي زید له بکر څخه تاوان اخیستلای شي په در مختار کي راغلي دي: و لو قال: لا تدفع الی عیالک او احفظ فی هذا البیت فدفعها الی ما لابد منه او حفظها فی بیت آخر من الدار فان کانت بیوت الدار مستویة فی الحفظ او احرز لم یضمن و الا ضمن لان التقید مفید الخ قوله(و الا ضمن)... کما اذا کان ظهر البیت المنهی عنه الی السکة الخ کما فی البحر(۱) (شامي)

د امانت شی یې په هدیه ګڼلو مصرف کړی

سوال: (۲۲) زید و عمر ته یو شی ور ولېږی دا يې نه ورته ولیکل چي دا شی و فلاني ته ورکړه. د عمر دا خیال شو چي ماته رالېږلی دی پخپل مصرف کي يې ولګاوی څو کاله وروسته هغه بل سړی راغلی وې ویل چي فلانی فلانی شی زید تا ته رالیږلی دی عمر ورته وویل هغه ما استعمال کړی

(۱) الدر و الرد ۵۵۷/٤ کتاب الایداع. ط رشیدیه

اوس زید او عمر دواړه وفات شوي دي وارثان یې معلوم نه دي نو د امانت قیمت باندي څه وکړو؟ (۴۲/۳۵-۱۳۴۷هـ)

ځواب: کله چي دا ثابت نه شو چي دغه شیان زید د عمر لپاره لیږلي دي بلکه له قرائنو څخه معلوم شو چي دا شیان د عمر لپاره نه ؤ بلکه د بل چا لپاره ؤ نو د عمر پر وارثانو لازمه ده چي دغه شیان یا د دوی قیمت ورکړي د مالک که نژدې یا لیري هر وارث چي وموندی هغه ته ورکړي او که کوم وارث نه وي نو پر مسکینانو یې خیرات کړي.

خاوند د ښځي امانت روپۍ مصرف کړي نو ښځه د خاوند له ترکې څخه اخیستلای شي

سوال: (۲۳) زوجه چند بیگهه زمین فروخت نموده، قمیتش بدست شوهر امانت داد، شوهر قیمت زمین را درتصرف خود آورده انتقال نموده، آن قیمت از اموال شوهر وصول کرده شود یا نه؟ (۱۳۴۵/۲۵۲۲هـ)

ځواب: آن قیمت از مال زوجه است از اموال شوهر گرفته شود.

سوال: (۲۳) ترجمه: ښځي یوه ټوټه ځمکه خرڅه کړه د هغه قیمت یې د خاوند سره امانت کښېښودی له خاوند څخه هغه روپۍ پخپلو اړتیاوو کي ولګېدې اوس وفات شو اوس دغه روپۍ به د خاوند له ترکې څخه اخیستل کیږي او کنه؟

ځواب: دغه قیمت د ښځي د مال دی د خاوند له ترکې څخه یې اخیستلای شي.

د امانت بیرته ورکولو په اړه د هندو قول څنګه دی؟

سوال: (۲۴) زید په یو هندو دعوی وکړه چي ما ستا سره ۱۰۳۳ روپۍ امانت ایښي دي هندو ورته وویل چي ما ستا امانت در ادا کړی څه دي راباندي پاته نشته قاضي له زید څخه ګواهان وغوښتو د ده سره ګواهان نشته نو د هندو قسم ته اعتبار شته او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۰۹هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و فی الاشباه کل امین ادعی ایصال الامانة الی مستحقها قبل قوله بیمینه کالمودع اذا ادعی الرد الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي د هندو قول

---

(۱) الدر مع الرد ٥٦٥/٤ كتاب العارية. ط رشيديه

دامانت د ورکولو په هکله سره د قسم معتبر دی د صالح او طالح هیڅ فرق پکې نشته. فقط

د خیر د کار لپاره چې د وکیل سره کوم امانت پروت ؤ د مالک له مرګه وروسته هغه هم ترکه ده

سوال: (۲۵) زید خپلې څه روپۍ و عمر ته ورکړې چې خالد کله د خپلو لوڼو نکاحوي کوي نو دغه روپۍ هغه ته د نکاحو لپاره ورکړه له دې څخه لږ موده وروسته زید وفات شو هغه روپۍ هغسې د عمر سره امانت پرتې وې لیکن د زید له وفات وروسته د زید مور و عمر ته وویل چې دغه روپۍ د زید په ترکه کې راځي ځکه مونږ ته یې راکړه عمر بیله پوښتني هغه روپۍ د زید و مور ته ورکړې نو په دې اړه پوښتنه دا ده چې عمر شرعًا دغه روپۍ چې د خالد د لوڼو د نکاح لپاره زید د ده سره امانت ایښي وې د زید و مور ته ورکولای شوې او د زید مور دغه روپۍ د حق په توګه ځني اخیستلای شي او کنه؟ دا فعل د عمر څنګه دی؟ آیا خالد دغه روپۍ چې زید د ده د لوڼو د نکاح لپاره د عمر سره ایښي وې د عمر څخه اخیستلای شي او کنه؟ (۱۲۲۷/۱۳۳۷ھ)

ځواب: خالد د دغه روپیو له عمر څخه غوښتنه نشي کولای د زید له وفات کیدو وروسته د دغه روپیو مالکان د زید وارثان دي او د زید د مور دغه روپۍ د زید په ترکه کې ورګډولو لپاره او د وارثانو تر منځ شرعي تقسیم کولو لپاره صحیح دی ځکه چې په سوال کې د زید د وصیت کومه یادونه نشته صرف دومره شته چې د عمر سره دغه روپۍ د دغه غرض لپاره امانة پرتې وې او عمر یې د خالد د لوڼو په نکاح کې یا و خالد ته د ورکولو وکیل جوړ کړی ؤ نو کله چې زید مړ شو هغه وکالت باطل شو او زید ځای ناستي د ده وارثان شول هغه د دغه روپیو مالکان شول. فقط

امانت ایښودونکی مرتد شو نو د ده امانت حکم به څه وي؟

سوال: (۲۶) یو هندو مسلمان شو د ده مال د یو سړي سره امانت پروت دی د کفارو په تعلیم دی بیا مرتد شو آیا دغه امانت بیرته ده ته ورکول کیدلای شي او کنه؟

(۲۱۰۱/۱۳۳۷ھ)

ځواب: ده ته دي بیرته ورکول شي ځکه چي د مرتد ملک د ده له اموالو څخه هغه وخت زائلیږي چي دی همدغه د ارتداد په حالت کي مړ شي یا دار الحرب ته ولاړ شي او کله چي پخپله اسلام قبلول او مرتد کیدل په دار الحرب کي واقع شوي دي نو د ملک د ازالي حکم د ده له اموالو څخه نه کیږي. فقط

د چا سره چي مختلف امانتونه وي هغه مړ شو

سوال: (۲۷) د زید سره د خلګو امانتونه پراته ؤ زید وفات شو پر ځینو کخوړو لیکلي دي دا روپۍ د زکوة دي دا روپۍ د مسجد دي دا روپۍ زما خپلي دي او پر ځینو کخوړو هیڅ نه دي لیکلي په داسي حال کي څه کول پکار دي؟ (۱۳۳۷/۱۹۲۳هـ)

ځواب: پر کومو کخوړو او نورو چي کوم څه لیکلي دي په هغو هغه ډول عمل وکړئ او پاتي نوري ټولي روپۍ سره ګډي کړي له هغوی څخه د خلګو امانتونه او پورونه او نور ادا کړي انشاء الله هیڅ پروا به نه ولري.

د بچندر په واده کي د ده روپۍ بېله اجازې مصرفول

سوال: (۲۸) زید یوه کونده هنده په نکاح کړه چي د هغي سره د لومړي خاوند څخه یو زوی بکر هم ورسره ؤ بکر ته د خپل پلار په میراث کي څه روپۍ رسېدلي وې دغه روپۍ هندې د زید سره امانت کښېښودي اوس بکر د اوولسو کلونو دی د ده واده اوس وشو د واده مصرفونه زید وکړو زید د بکر بې اجازې هغه د امانت روپۍ د ده په واده کي مصرف کړې اوس بکر له زید څخه خپلي روپۍ غواړي آیا شرعًا بکر د دغه روپیو حق لري او کنه؟ و انجلۍ ته چي پلار ګڼې کوم سامان ورکړي دي د هغه مستحق څوک دی؟ (۱۳۴۳/۱۹۸۷هـ)

ځواب: بکر د دغه روپیو پر زید حق لري او زید چي کوم څه تبرعًا له ځانه د بکر په واده کي مصرف کړي دي هغه له بکر څخه نشي اخیستلای او په واده کي چي و انجلۍ ته کوم سامان ورکول شوی دی هغه د انجلۍ دی. فقط

کتاب العاریة

د عاریة بیان

په مستعار سرای د میراث دعوی کول

سوال: (۱) زید و عمر ته یو سرای د عاریة په توګه ورکړی لیکن د عاریت د عقد کولو پر مهال د بیرته ورکولو لپاره کوم تاریخ نه دی ټاکلی بلکه زید معیر په وخت د عاریت دا ویلي ؤ چي کله زما دغه سرای پکار شي نو زه به هم هغه وخت سرای د رڅخه اخلم عمر مستعیر په دغه سرای کي پنځلس کاله یا زیات عمر تېر کړی وروسته عمر وفات شو زید د عمر له زامنو څخه د سرای غوښتنه وکړه دوی په جواب کیورته وویل چي دغه سرای خو مونږ ته په میراث کي راپاته شوی دی ستا په دې سرای هیڅ اړه نشته آیا د زید غوښتنه د عمر له زامنو څخه صحیح ده؟ او د عمر له وفات کیدو وروسته د دې حق شته او کنه؟ او د عمر د زامنو په دغه سرای د میراث دعوی کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۱۷۴هـ)

ځواب: په دغه صورت کي زید خپل سرای څني اخیستلای شي د عمر په دې کي هیڅ حق نشته(۱) شرعًا وزید ته دا حق شته چي د عمر له زامنو څخه د دې غوښتنه وکړي. (۲) فقط

---

(۱) ولعدم لزومها یرجع المعیر متی شاء و لو مؤقتة الخ (الدر المختار مع الشامی ص۴/۵۶۰ کتاب العاریة. ط رشیدیه)

(۲) العاریة کالاجارة تنفسخ بموت احدهما (الدر مع الرد ۵۶۶/۴ کتاب العاریة. ط رشیدیه)

د مستعار سرای ترمیم پر چا دی؟

سوال: (۲) څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کي چي عمر يو خام سرای د زيد په غوښتنه د حيوانانو او د کښت کروندي د سامان ايښودني لپاره ورکړی تر ډېري موده پوري دغه مکان د زيد سره ؤ چونکه سرای خام ؤ زيد به څه نا څه ترميم د باران او نورو په وجه د خپل سامان د حفاظت لپاره کاوی او له ځلورو کلونو څخه ورو سته زيد به په سرای کي ولاړه کوډل هم سموله د هغه چت به وربدلاوی اوس د ضرورت په وجه عمر خپل مکان له زيد څخه اخلي نو دی خپل مصرف او د کوډلي د چت لګولو بيه له عمر څخه غواړي يا دغه شيان د ځان سره وړل غواړي په دي کي شرعي حکم څنګه دی؟ آيا زيد پر عمر د دغه قيمت او مصرف حق لري او کنه؟ که د کوډلي چت او نور د ترميم سامان واخلي سرای ور پرېږدي؟ (۲۹/۴۲۱-۱۳۳۰هـ)

ځواب: ترميم د دغه سرای په ذمه د زيد مستعير دی د دي قيمت او نور نشي اخيستلای اما چت د کوډلي چي زيد پخپل مصرف اچولی دی هغه پورته کولای شي يا دي عمر د دي بيه ورکړي كما فى الشامي، كتاب العارية: و فى البزازية دفـع داره علـى ان يسكنها و يرمها و لا اجر فهى عارية لان المرمة من باب النفقه و هى على المستعير(۱) و فى الدر المختار كتاب العارية: و قالوا: علف الدابة على المستعير و كذا نفقة العبد(۲) و فيه ايضا: و اعار ارضا للبناء و الغرس صح و له ... ان يرجع متى شاء... و يكلفه قلعهما الا اذا كان فيه مضرة بالارض فيترکان بالقيمة مقلوعين(۳) فقط و الله تعالى اعلم

د شيدو لپاره و چاته غوا په عارية ورکول

سوال: (۳) يو تاجر نتهو لعل يوه خپله شيدوره غوا و رحيم علی خان ته ورکړې ده

---

(۱) رد المختار ٥٦٦/٤ كتاب العارية. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ٥٦٠/٤ كتاب العارية. ط رشيديه

(۳) الدر المختار مع الشامي ٥٦٣/٤ كتاب العارية. ط رشيديه

دا یې ورته وویل چې د روژې په میاشت کې ته پخپل کور کې ساته چې روژه تېره شو د زما غوا ماته راکړه نو آیا د دغه غوا په شیدو روژه نیول صحیح دي؟ او د رحیم علي خان کور والو لپاره شیدې څښل صحیح او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۰۲۱هـ)

ځواب: دا هیڅ پروا نلري دا عارية دی او په عاریت کې چاره پر مستعیر وي و قالوا: علف الدابة على المستعير(۱) (در مختار) وروسته دي ورکړي په حدیث شریف کې د شیدو څښلو لپاره شیدور حیوان په عارية ورکول ډیر خوښ کړی دی نو د دې په شیدو څښلو کې د هیڅا لپاره کوم تاوان نشته في الحديث: العارية مؤداة و المنحة مردودة و الدين مقضى (الحديث) (۲) قال في اللمعات: المنحة في الاصل بمعنى العطية والهبة و اكثرما يطلق على الناقة يعطيها الرجل لاخيه ليشرب درها و تطلق في غير الناقة ايضا الخ و على التقادير المنحة تمليك المنفعة لا تمليك الاصل فوجب ردها.(۳) فقط

مستعار غويي له ورکولو وروسته مړ شي نو تاوان نلري

سوال: (۴) زید له خالد څخه یو غویی وغوښتی په سفر کې یې د ځان سره بوتلی له سفره چې راغلی غویی یې د خالد کره ورولېږی څلور پنځه ورځې وروسته هغه غویی مړ شو اوس خالد له زید څخه د دغه غویي قیمت غواړي جائز دی او کنه؟

(۱۳۴۳/۳۸۲هـ)

ځواب: په دغه صورت کې هیڅ وجه له زید څخه د ضمان اخیستلو او قیمت غوښتلو نشته لهذا د خالد لپاره د زید څخه د غویي قیمت اخیستل شرعًا صحي نه دی.

---

(۱) الدر مع حاشية ابن عابدين ٤/٥٦٠ كتاب العارية. ط رشيديه

(۲) عن ابي امامة رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: العارية مؤداة الحديث (مشكاة المصابيح ص:٢٥٦ كتاب البيوع باب الغصب و العارية الفصل الثاني)

(۳) حاشية مشكاة ص: ٢٥٦ رقم الحاشية (٥) تحت قوله: العارية مؤداة كتاب البيوع، باب الغصب و العارية.

که مستعار شی ورک شي؟

سوال: (۵) زید له بکر څخه یو شي په عاریة واخیستی څه موده وروسته راغلیهغه شي له ده څخه ورک شوی ؤ اوس زید و بکر ته تاوان ورکول غواړي آیا شرعًا بکر تاوان باید واخلي او کنه؟ اوزید باید تاوان ورکړي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۳۴۲ھ)

ځواب: په در مختار کتاب العاریة کي راغلي دي. و لا تضمن بالهلاک من غیر تعد الخ(۱) یعني د عاریة په هلاکیدو ضمان نه واجبیږي مګر کله چي په عاریت اخیستونکي څه تعدي اوزیاتوب په هلاکت کي وي یا هغو د شرط په خلاف کړي وي یا بې له ټاکلي مودې څخه زیاتوب امانت ایښی وي نو په داسي حالاتو کي ضمان څني اخیستل صحیح دی.

دا مي په یاد نه دي چي مستعار کتاب مي بیرته ورکړی او کنه

سوال: (۲) زید یو کتاب له خالد څخه عاریةً د مطالعي لپاره راواخیستی پنځه شپږ کاله تېر شول بیا په دغه موده کي کله هم خالد د هر کال په ملاقات کي د دغه کتاب غوښتنه نه ده کړې بلکه یادونه هم نه ده کړې اوس خالد لیک راليږلی دی چي پکي لیکلي دي چي تازما کتاب چي هغه وخت په نهه روپۍ ؤ او اوس د نایاب کیدو په وجه لس روپۍ بیه لري له ما څخه عاریةً د څو میاشتو لپاره اخیستی ؤ هغه زر راولیږه زید وایي چي ښکه دغه کتاب ما اخیستی ؤ او پخپله کتاب خانه کي مي ایښی ؤ او څه مو مطالعه کړي هم ؤ لیکن اوس له څو کلونو راهیسي هغه کتاب زما په کتاب خانه کي نشته او نه زما په یا دي چي بیرته مي مالک ته ورکړي دي که چا غلا کړی دی او که چازما څخه په عاریت وړی دی په دې صورت کي شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۳۷/۲۷۴۹ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي که عاریت موقت ؤ یعني یوه میاشت یا دوې میاشتي یا څلور میاشتي لنډه دا چي د معلومي مودې لپاره عاریت اخیستی وي او د دغه وخت په تېرېدو مستعیر عاریت نه وي واپس کړی تر دې چي هغه لا درکه شي نو مستعیر ضامن دی فلو کانت موقتة فامسکها بعده فهلکت ضمنها(۲) نو که

(۱) الدر المختار مع الشامی ٥٦١/٤ کتاب العارية. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامی ٥٦٤/٤ کتاب العارية. ط رشيديه

مالک کوم وخت مقرر کړی ؤ لکه چي دی وايي چي د څو مياشتو لپاره مي عارية درکړی ؤ که دی د دې سره د دغه څو مياشتو تشريح او تعيين هم وکړي چي د دوو مياشتو يا څلورو مياشتو لپاره مي درکړی ؤ نو پر مستعير باندي په پوښتل شوي صورت کي ضمان واجبيږي او که وخت هيڅ نه ؤ مقرر شوی ليکن د مستعير دا سي هېر شو چي د ده نه دا په ياد دي چي بيرته مي ورکړی يا مي نکړی ور او ضايع شو يا نه شو بيا هم ضمان پر ده واجبيږي کما فی الدر المختار: بخلاف قوله: لا ادری اضاعت ام لم تضع او لا ادری وضعتها او دفنتها فی داری او موضع آخر فانه يضمن(۱) او په دې کي علامه شامي رحمة الله دا بحث کړی دی چي په جامع الفصولين کي د دې په خلاف راغلي دي لکن مخته له خانيه څخه رانقل کړي دي: و لو قال: وضعتها فی مکان حصين فنسيت الموضع ضمن. لانه جهل الامانة کما لو مات مجهلا(۲) له دې څخه معلوم شو چي د امانت له حال څخه جهالت هم ضمان واجبوي او دا هم په در مختار او نورو کي راغلي دي چي په ضمان د امانت اينبودلو د ورځي قيمت لازميږي(۳) نو د کتاب اخستلو پر وخت چي د کتاب کوم قيمت ؤ هغه قيمت بايد ورکړي. فقط

دا انجن ما ستاسو دواړو لپاره کړه: تمليک د منافعو(عاريت) دی

سوال: (۷) زيد له خپلي ښځي څخه قرض واخيستی يو د اوړو ماشين يې رانيوی خو د ده زوی په کاروبار نه پوهيدی څکه و يو پردي سړي ته چي شرعي وارث نه ؤ دا يې وويل چي ما د انجن ستاسو دواړو لپاره کړه تاسو د دې ګټه خورئ د دغه ماشين له آمدني څخه لومړی د خپلي ښځي قرض ادا کړله قرض ادا کولو وروسته تر اوسه لا آمدني زياتوب شوی نه ؤ چي زيد وفات شو نو به صرف د ده زوی وارث وي که هغه بل سړی هم؟ که صرف زوی وارث دی نو آيا ده ته به دا هم اختيار وي

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵۵۸/۴ کتاب الايداع، مطلب: مودع الغاصب لو استهلکها لا يرجع علی الغاصب الخ. ط رشيديه

(۲) حاشية ابن عابدين للعلامة محمد امين الشامی ۵۵۸/۴ کتاب الايداع مطلب: مودع الغاصب الخ. ط رشيديه

(۳) و يضمن قيمتها يوم الجحود ان علم. و الافيوم الايداع عمادية و فی الشامی: و نقل فی المنح قبله عن الخلاصة: ضمان القيمة يوم الايداع بدون تفصيل (الدر و الرد ۵۵۶/۴ کتاب الايداع. ط رشيديه)

چي دی دغه بل سړی په ګټه شريک نکړی او پخپله خارنه کوي او که دې ته هبه و ويل شي نو آيا هبه د مشاع جائز کيدلای شي؟ (۱۳۴۳/۲۰۳۲هـ)

ځواب: په دې کي شک نشته چي کوم الفاظ زيد ويلي دي هغه د هبې هم احتمال لري او د داسي الفاظو سره که د هبې د نيت خرګند ونه هم وشي نو هبه هم ګرځي مګر کله چي د زيد د نيت حال معلوم نه دی نو دغه بيان شوي الفاظ به پر خپل حقيقي معنى حمل کړو دا به وو ايو چي ده د عاريت په توګه دغه پردی سړی د منافعو مالک جوړ کړی دی لهذا عند الشرع دا عاريت بلل کيږي چي حاصل يې داسي دی چي دغه پردی سړی د زيد تر ژوندده د منافعو مشترک مالک ؤ اوس چي کله زيد وفات شو نو د ده زوی د ميراث د برخي سره سم د دې مالک شو اوس د ده خوښه ده چي دغه پردی سړی د ماشين په منافعو ورګډ وی او که نه ورګډوي ځکه چي د عاريت حکم دا دی چي عاريت د معير يا مستعير په مرګ فسخ کيږي په در مختار کي راغلي دي: العارية كالاجارة تنفسخ بموت احدهما انتهى(۱) و قال في الخانية: و عندنا الامارة تمليك و لهذا لو قال لغيره: ملكتك منفعة هذه الدار شهرًا و لم يقل شهرًا بغير عوض كانت اعارة(۲) او په در مختار کي له عماديه څخه را نقل کړي دي: و صرح فى العمادية بجواز امارة المشاع بيا شامي تر همدغه قول لاندي ليکلي دي: امارة الجزء الشائع تصح كيف ما كان فى التى تحتمل القسمة او لا تحتملها من شريک او اجنبى الخ(۳) فقط و الله تعالى

كتبه (مولانا) عتيق الرحمن عثماني

جواب صحيح دی دا صورت د منافعو د تمليک ديمجانا لهذا دا عاريت دی او د لفظ "ستاسو دواړو لپاره مي کړی" مطلب دا چي دغه انجن مي ستاسو دواړو لپاره جاري کړه الخ فقط و الله تعالى اعلم

كتبه (مولانا مفتى) عزيز الرحمن عفى عنه. مفتى دار العلوم ديوبند. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامى ٥٦٦/٤ آخر كتاب العارية. ط رشيديه

(۲) الفتاوى الخانية على هامش الفتاوى الهندية ۳۸۲/۳ كتاب العارية.

(۳) الشامي: ٥٦٠/٤ كتاب العارية. ط رشيديه

کتاب الهبة

د هبې بیان

په خوله د هبې کولو طریقه

سوال: (۱) په خوله هبه کول چې کوم لیک نه وي څه ډول جائز ده؟

(۱۴۲۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په خوله دې دا ووايي چې فلانی شی چې د چا راسره شریک نه دی ما و فلانـي سړي ته ورکړی یا مي ورهبه کړی یا مي وروبخښی بیا دي د ده په قبضه ورکړي. فقط

ووارث ته هبه صحیح ده وصیت نه دی صحیح او د هبې او وصیت فرق

سوال: (۲) یو سړي په خپل ژوند کي خپل جائیداد د یو وارث په نوم کړي د هبې په نوم یا د وصیت په نوم چي نور وارثان محرومیږي په داسي صورت کي څه حکم دی؟

(۳۲۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: که کوم وارث ته مورث پخپل ژوند کي د روغتیا پر مهال کوم شی جائیداد سرای یا بل شی هبه کړي نو داسي صحیح دی(۱) په دې شرط چي د هبې د صحت او نفاذ شـرائط موجـود شـي یعنـي دا چـي دغـه هبـه شـوی جائیـداد مشـاع

---

(۱) و لو وهب في صحته كل المال للولد جاز الخ (الدر المختار مع رد المختار ۵۷۳/٤ كتاب الهبة. ط رشيديه)

نه وي او د موهوب له قبضه ورکوله شوې وي(۱) او وصيت د کومو ارث لپاره صحيح نه دی بيله اجازې او رضا د نورو وارثانو وصيت د وارث لپاره نه نافذيږي. (۲)

او څرګندونه دي وي چي هبه پخپل ژوند کي و چاته څه ورکول وي او وصيت د خپل مرګ څخه وروسته څه ورکولو نوم دی(۳) يعني موصي دا ووايي چي زما له مرګه وروسته و فلاني ته دومره ورکړې نو وصيت د وارث لپاره نه صحيح کيږي مګر کله چي نور وارثان اجازه وکړي هکذا فی کتب الفقه(۲) فقط

د هبې پر مهال د موهوب له په مجلس کي حضور ضروري نه دی

سوال: (۳) شرعًا په خوله هبه جائز ده او کنه؟ او د هبې پر مهال د موهوب له په مجلس د هبې کي موجوديت شرعًا لازم دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۷۱۵ھ)

ځواب: شرعًا په خوله هبه جائز ده او د هبې پر مهال د موهوب له په مجلس د هبې کي حضور شرط نه دی. و لذا قال اصحابنا: لو وضع ماله فی طريق ليکون ملکا للرافع جاز(۴) اما دا ضروري ده چي د موهوب له قبضه پر موهوبه شئ راشي او موهوبه شي مشترک نه وي ځکه چي هبه د مشاع صحيح نه ده په در مختار کي راغلي دي: و تتم الهبة بالقبض الکامل و لو الموهوب شاغلا الملک الواهب لا مشغولا به... فی محوز مفرغ مقسوم و مشاع لا يبقی منتفعا به بعد ان يقسم کبيت و حمام صغيرين لأنها لا تتم بالقبض فيما يقسم و لو وهبه لشريکه او لأجنبی لعدم تصور القبض الکامل الخ.(۵) فقط

---

(۱) و شرائط صحتها فی الموهوب ان يکون مقبوضا غير مشاع مميزا غير مشغول (الدر المختار مع الشامی ۵۶۸/٤ کتاب الهبة. ط رشيديه)

(۲) و لا لوارثة و قاتله مباشرة... الا باجازة ورثته لقوله عليه الصلاة و السلام: لا وصية لوارث الا ان يجيزها الورثة (الدر لاختار مع رد المختار ٤٦٤/٥ کتاب الوصايا. ط رشيديه)

(۳) هی (الهبة) تمليک العين مجانا ای بلا عوض (الدر مع الرد ٥٦٦/٤ کتاب الهبة. ط رشيديه) هی (الوصية) تمليک فصاف الی ما بعد الموت عينا کان او دينا(الدر مع الرد کتاب الوصايا. ط رشيديه)

(٤) الشامی ٥٦٧/٤ کتاب الهبة. ط رشيديه

(٥) الدر المختار مع الشامی ٥٦٩/٤ کتاب الهبة. ط رشيديه

په فاسد شرطونو هبه نه باطلیږي

سوال: (۴) زید د هندې په نوم څمکه او سرای ولیکل دا ډول چي ته په یوه میاشته کي دننه زما سره نکاح کونکی یې نو زمونږ له نکاح وروسته که د کومي جګړې او اختلاف په وجه بیلتون راشي او د خرڅ کمی وي ځکه دغه پدري څمکه او مکان تاته په قبضه درکوم چي ته د دې امدني پخپلو اړتیاؤ کي مصرفوه لیکن د دغه ځایونو د خرڅولو، هبه کولو او په ګرو ورکول تاته حق نشته او تر څو چي ته نکاح ونکړې تر هغو ته د دغه شیانو مالکه یې له نکاح کولو وروسته زما د وارثانو دی په داسي صورت کي به ښځه د دغه شیانو مالکه وي او کنه؟ او د زید له مرګه وروسته له نکاح ښځه مخکي او وروسته نفع حاصلولای شي او کنه؟ که له نکاح کولو وروسته ګټه نشي حاصلولای نو هغه به د چا وي؟ (۱۱۹۱/۱۳۴۵هـ)

ځواب: کله چي زید څمکه او سرای د هندې په نوم ولیکل او د قاعدې سره سم دې ته هبه کړل نو اوس هغه ټول شرطونه کوم چي د هبې کولو پر مهال زید لګولي ؤ باطل دي د هبې پر صحیح کیدو هیڅ اثر نه کوي هنده د همیشه لپاره د دې مالکه شوه دا پکي هغه ټول تصرفات کولای شي د کومو چي شرعًا و یو مالک ته د کولو اختیار وي و حکمها انها لا تبطل بالشروط الفاسدة فهبة عبد علی ان یعتقه تصح و یبطل الشرط الخ(۱) (در مختار) و فی الخانیة عن ابی حنیفة اذا قال الرجل لغیره: قد جعلت هذه الدار لک عمری او قال عمرک او حیاتک ... فاذا مت فهو رد علی قال: هذه هبة جائزة و الشرط باطل(۲) و فیه ایضا: رجل غرس کرما و له ابن صغیر فقال: جعلته لابنی فلان یکون هبة لان الجعل عبارة عن التملیک(۳) و فی الدر المختار: و جعلته لک لان اللام للتملیک و فی الشامی: قال الرملی: اقول: ما فی الخانیة اقرب لعرف الناس(۴) شامی فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع رد المختار: ۵٦۷/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(۲) الفتاوی الخانیة مع الفتاوی للعالمغیریة ۲٦۲/۳ کتاب الهبة، فصل فیما یکون هبة من الالفاظ و ما لا یکون.

(۳) الفتاوی الخانیة مع الفتاوی العالمغیریة ۲٦٤/۳ کتاب الهبة فصل فیما یکون هبة من الالفاظ و ما لا یکون.

(٤) الدر و الرد ۵٦۸/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

سوال: (۵) که کوم څوک خپل جائیداد و چاته بیتله عوضه هبه کړي په دې شرط سره چې موهوب له به هبه شوی جائیداد له قرض څخه خلاصوي او د موهوبه جائیداد ګټه به و هبه کونکي ته تر مرګه ورکوي آیا شرعًا داسي حصه روا ده؟ او پر موهوب له د دې ګټه تر مرګه و هبه کونکي ته ورکول لازم دي که دا چې هبه به صحیح شي او شرط به نافذ نه وي؟ (۱۳۳۹/۵۵۸هـ)

ځواب: که دغه موهوبه جائیداد مشاع او مشترک نه دی بلکه تقسیم شوی بیل دی نو هبه د ده صحیح ده او ذکر شوي شرطونه باطل دي په در مختار کي راغلي دي: و حکمها انها لا تبطل بالشروط الفاسدة فهبة عبد علی ان یعتقه تصح و یبطل الشرط الخ(۱) فقط

سوال: (۶) عمر خپل جائیداد دا ډول هبه کړي چې د خپل عقل او حواسو پر ځای کیدو سره خپل ټول جائیداد په دې شرط سره و سکینه ته هبه کوم چې سکینه او د دې اولاد پر دې قبضه وکړي ګټه دی ځني حاصلوي او که خدای مه کړه زما لور هم وفات شي او اولاد یې نه وي نو ټول جائیداد دې زما د وورور عبد الرحیم په قبضه کي وي هغه به مالک او وارث بلل کیږي نو آخرنی جملې په اعتبار زمونږ د سیمي مفتي صاحب وایي چې دغه هبه جائز نه ده. (۱۳۳۵/۵۲۵هـ)

ځواب: په فاسد شرطونو هبه نه فاسد یږي بلکه صحیح کیږي شرط باطلیږي کما فی الدر المختار: و حکمها انها لا تبطل بالشروط الفاسدة فهبة عبد علی ان یعتقه تصح و یبطل الشرط الخ(۱) لیکن د موهوب مشاع کیدل هبه باطلوي نو که د مشاع هبه کړی وه یا د موهوب لها ورباندي قبضه نه وه راغلي نو هبه ناروا ده صحیح نه ده. فقط

سوال: (۷) زید و عمر ته هبه کوي او قبضه هم ورکوي مګر دا شرط ورباندي ږدي چې ستا له مرګه وروسته به دا شی مثلاً د بکر ملک وي او برخه به د ده حق وي ستا د وارثانو به ورسره هیڅ تعلق نه وي په داسي صورت کي هبه صحیح ده او کنه؟ که صحیح ده نو شرط صحیح دی که فاسد؟ (۱۳۳۷/۵۸۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي دا هبه صحیح ده او شرط فاسد دی د موهوب له له وفات وروسته د ده د وارثانو حق کیږي بکر پکي حق نلري په در مختار کي راغلي دي: و حکمها انها لا تبطل بالشروط

(۱) الدر المختار مع الرد: ۵٦٧/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

الفاسدة... و يبطل الشرط الخ(۱) و فيه: جاز العمرى للمعمر له و لورثته بعده لبطلان الشرط الخ. (۲)

سوال: (۸) زيد له خپل جائيداد څخه و خپل زوی ته يو سرای او يوه د کنبت ځمکه په دې شرط ورکړه چې زوی به مې تر مرګه له دې څخه استفاده کوي او د دغه زوی له وفات کيدو وروسته به د نورو زامنو ورباندې قبضه وي دا جائز دی او کنه؟
(۱۳۴۲/۱۷۴۲هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي چې هبه په شرط نه باطليږي شرط پخپله باطل او لغو ګرځي هبه صحيح کيږي و الهبة لا تبطل بالشروط الخ(۳) و فيه: جاز العمرى للمعمر له و لورثته بعده لبطلان الشرط الخ(۴) نو کوم مکان او ځمکه چې دغه سړي و خپل يو زوی ته هبه کړو او قبضه يې ورکړه هغه د دې مالک شو بيان شوی شرط باطل دی د ده له مرګه وروسته د ده وارثان مالکان ګرځي.

که پلار پخپل ژوند کې و زامنو ته جائيداد ورويشلی وي نو د پلار له مرګ وروسته زامن يې بدلون نشي کولای

سوال: (۹) مثلاً زيد له مرګ څخه درې کاله مخکې و خپلو دريو زامنو ته خپل ټول منقول او نامنقول جائيداد د ځمکو د بيې په اعتبار کم اوزيات د هسکې په وسيله د ګواهانو په مخکې ور وويشئ او هرزوی په دې راضي شو درې کاله وروسته زيد وفات شو په دغه موده د ژوند کې زيد هيڅ يو جائيداد نه دی تقسيم کړی او له زامنو څخه هيچا انکار ونکړ اوس د زيد له وفات کيدو څخه دوه درې کاله وروسته دوه زامن د جائيداد تقسيمول غواړي د ذاتي دښمنۍ په وجه آيا هغه د زيد تقسيم سم دی که به نوی تقسيم کيږي؟ (۱۳۴۳/۲۰۹۸هـ)

(۱) الدر مع الرد ٤/٥٦٧ كتاب الهبة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامى ٤/٥٨٠ كتاب الهبة. فصل فى مسائل متفرقة. ط رشيديه

(۳) الدر المختار مع الشامى ٤/٥٦٧ كتاب الهبة. ط رشيديه

(٤) الدر المختار مع الشامى ٤/٥٨٠ كتاب الهبة. فصل فى مسائل متفرقة. ط رشيديه

ځواب: زید که و هر یو زوی ته قبضه ورکړه او ځمکه و هر یو ته وربېله کړه او مالک یې جوړ کړی نو داسې هبه صحیح او نافذه شوه او س په دې کې هیڅ بدلون نشي کېدلای او نوی تقسیم نشي کېدلای او که زید د غه جائیداد تقسیم کړې او د هر یو برخه ورمعلومه او بېله کړې نه ده نو دا هبه د نه تقسیم په وجه باطله ده او س د زید له وفات کېدو وروسته درې سره زامن د زید په متروکه جائیداد کې برابره برخه لرې او له نوی سره به وېش کیږي. فقط

و ځینو بچیانو ته زیات او ځینو ته کم ورکول

سوال: (۱۰) د زید درې زامن او یوه لور ده دی خپل جائیداد روپی او رنور پخپل ژوند کې و ټولو ته وېشل غواړي زید که په وېش کې کمښت او زیاتوب وکړي یعنې ځینې بچیانو ته زیات او ځینو ته کم ورکړي نو آیا داسې جائز دي؟ او آیا د زید له مرګه وروسته به د ده و بچیانو ته دا حق وي چې له نوي سره بیا تقسیم وکړي؟ (۹۷۴/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: په ورکړه کې کمي کول اصلاً جائز نه دی په حدیث کې دې ته ظلم او جور ویل شوی دی(۱) لیکن که وارثانو ته ضرر رسول مقصد نه وي بلکه صرف د ضرورت د کمښت او زیاتوب پر اساس په ورکړه کې کمی او زیاتوب وکړي نو صحیح دی په در مختار کې راغلي دي: و کذا فی العطایا ان لم یقصد به الإضرار الخ(۲) او کله چې مورث پخپل ژوند کې و اولادو ته جائیداد ورتقسیم کړي او هر یو ته قبضه ورکړه نو د ده له مرګه وروسته وارثان د غه تقسیم نشي ماتولای. فقط

د مرګ د مرض تعریف

سوال: (۱۱) د مرض الموت څه تعریف دی؟ او کوم څوک چې له اتلسو یا زیاتو میاشتو څخه

---

(۱) عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: الک بنون سواه؟ قال نعم: قال: فکلهم اعطیت مثل هذا؟ قال لا: فلا أشهد علی جور(الصحیح لمسلم: ۳۷/۲ کتاب الهبات. باب اکراهة التفضیل بعض الاولاد فی الهبة)

(۲) الدر المختار مع الشامی ٥٧٣/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

په مختلفو مرضونو لکه تبو ، دستونو ، سږو او نورو مرضو کي واقع دی او توان يې ورځ په ورځ کميږي تر دې چي آخر په همدغه مرض کي وفات شي د داسي مرض د تصرفاتو لکه هبه او نورو څه حکم دی؟ بینوا توجروا (۳۹/۱-۱۳۴۰ھ)

ځواب: د مرض الموت په تعریف کي عبارات د فقهاؤ مختلف دی لیکن صحیح او مفتی به دا دی چي په کوم مرض کي غالب گمان دا وي چي مریض به وفات شي او بیا آخر دی په هغه کي مړ شي له هغه مرض څخه روغ نه شي دا ضروري نه ده چي دی به دا وخت پر بستره پرېوتی وي بلکه که پر بستره پروت وي او که نه وي مگر دغه مرض يې موجود وي او توان يې په کمزوري روان وي تر دې چي آخر پای مړ شي داسي سړی مریض په مرض الموت دی او تصرفات د ده لکه وصیت په یوه دریمه کي جاري کیږي لکه چي په شامي کي لیکلي دي: و هو من كان غالب حاله الهلاك كما فى النهاية و غيرها و الاولى ان يقال من يخاف عليه الهلاك غالبًا الخ (شامي: ۵۲۶/۲) و فى الهندية ايضا: المقعد و المفلوج ما دام يزداد ما به كالمريض الخ (شامي:۵۲۶/۲) و فى (صفحة: ۵۲۰ من) الشامي: قال ابو الليث: كونه صاحب فراش ليس بشرط لكونه مريضا مرض الموت بل العبرة للغلبة لو الغالب من هذا المرض الموت فهو مرض الموت و ان كان يخرج من البيت وبه كان يفتى الصدر الشهيد ثم نقل عن صاحب المحيط انه ذكر محمد فى الاصل مسائل تزل على ان الشرط خوف الهلاك غالبًا لا كونه صاحب فراش الخ(۱) (شامي: ۵۲۰/۲) فقط

په مرض الموت کي د هبه کولو حکم

سوال: (۱۲) يوې ښځي په مرض الموت کي خپل جائيداد و خپل لمسي (د زوی زوی) ته هبه کړی ؤ د دغه هلک دوه اکاگان دي هغو د دغه هلک په ناخبرتیا کي دغه جائيداد و چاته په گرو ورکړی او وايي چي دغه هبه صحيح نه ده په دغه صورت کي هبه صحيح ده او کنه؟ او د دغه اکاگانو و هبه ته ناصحيح ویل او د جائيداد په گرو ورکول څه حکم لري؟ (۸۲۷/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په مرض الموت کي هبه کول د وصیت په حکم ده یعني په دریمه کي جاري کیږي نو که دغه

(۱) رد المختار: ۵٦٤/۲ كتاب الطلاق، باب طلاق المريض. ط رشيديه

هبه کړي ځمکي د ترکې له دریمې څه زیاتي نه دي او د وفات شوي واهبې په ژوند کې موهوب له ورباندې قبضه کړې ده نو هبه صحیح ده او موهوب له د دې مالک دی اکاګانو ته هیڅ حق نشته چې چاته یه ګرو ورکړي.

سوال: (۱۳) د زید دوې لوڼې مشره هنده او کشره زبیده وه هندې د خپلې لور په خبر یاالله د دې واده یې د خپل اکا د زوی بکر سره ورو کړي او څو ورځې وروسته د خپل خاوند په ژوند کې خور او اخبنې د لور او زوم په رنګه د ځان سره کړو د هندې د خاوند له وفات کیدو وروسته څو مره جائیداد چې د دې د خاوند ؤ هغه د شریعت سره سم د ده پر وارثانو وویشل شو و هندې ته د هستوګنې کور څه د کور سامان او ګڼه (زیور) په ترکه کې ورسېدل د غه ټول شیان هندې د خپلې خور او اخبنې په قبضه او تصرف کې ورکړي ؤ د کور سامان زیور او نور هندې د همدغې خور د لور په واده کې و هغې ته ورکړو صرف سرای پاته شو تقریبًا هنده یو کال مریضه وه لیکن د غه مرض یې داسې نه ؤ چې پکې کوم وخت هنده بې هوښه یا بې حاله شوې وې بلکه داسې سپک سپک ضرورتونه دې پخپله پوره کول د هندې دوه د اکا زامن خالد او ولید له خپل اخبنې بکر څخه سیوا وارثان ؤ هندې له خپلې خور زبیدې څخه د دې خبرې وعده واخیسته چې زه ټول سرای تاته درهبه کوم ته به د سرای د قیمت دریمه ماته راکوې تر څو زه خپل پور او حج، زکاة، روژه او لمونځ پکې ادا کړم او نورې پخپله مصرف کړم که زه مړه شوم نو په همدومره اندازه روپیو د وصیت په توګه زما هم دغه کارونه وکړه زبیدې قبوله کړه له دغه وعدې وروسته هندې د خپل هوښ او بیدارۍ پر مهال د هبې پاڼه د خپلې خور زبیدې په نوم ولیکله د قاضي په مخکې کار ټول وکړی او د اکا له زامنو خالد او ولید څخه خالد پخپله خوښه او رضا د هبې پر پاڼه د ګواه په توګه دستخط وکړی او د اکا زوی بکر چې اخبنی هم دی هغه هم ورباندې دستخط وکړی کوم عذر او حیله یې نه ده کړې لیکن د ولید دستخط ونه شو د هبې د پاڼې له تصدیقولو وروسته زبیدې پر دغه سرای خپل تصرف او قبضه درلوده له د هبې د پاڼې تر مکملولو وروسته هنده لس دوولس ورځې ژوندۍ وه په دې موده کې هم پر دې بې حالې نه ده راغلې او هنده وفات شوه دغه هبه او وصیت صحیح او جائز دی که څنګه؟ او خالد او ولید دعوی کولای شې کنه؟ (۳۳/۴۱۸-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د هندې په مرض کې که زیاتوب راتلی تر دې چې د مرض د زیاتې په حالت کې دا وفات

شوه او د دغه زیاتوب په حالت کي دی دغه هبه وکړه نو هبه صحیح نه ده ځکه چي په مرض الموت کي هبه کول په حکم د وصیت ده او وصیت د وارث لپاره صحیح نه دی شامي د در مختار د دغه قول په شرح کي و لم یقعد فی الفراش فرمایلي دي: احترازا عما اذا تطاول ثم تغیر حاله فانه اذا مات من ذلک التغیر یعتبر تصرفه من الثلث و فیه بعد اسطر: اما لو مات حالة الا زدیاد الواقع قبل التطاول اومر بعده فهو مریض (۱) (شامي) و فی الدر المختار: اعتاقه و محابا ته و هبته و وقفه و ضمانه کل ذلک حکمه کحکم وصیة الخ(۲) و قال فی الدر المختار ایضا: و لا لوارثه و قاتله مباشرة الخ(۳) له دې څخه سیوا دا خبره هم ده چي هنده هم تر مرګه په دغه کور کي اوسیده نو د موهوب لها قبضه هم پوره نه شوه په دې وجه هم شرعًا هبه نه صحیح کیږي اما وصیت د هندې کوم چي په دربیمه کي د حج، زکوة او نورو لپاره دي هغه صحیح دي هغه عملي کړي نو په پوښتل شوي صورت کي چي کله هبه صحیح نه شوه نو د هندې ترکه د قرض او وصیت او نورو حقوقو چي پر میراث مخکي دی له ادا کولو وروسته شپږ برخي کړي درې برخي د دې و خور زبیدې ته او درې برخي د دې د اکا و زامنو خالد ولید او بکر ته ورکړي او د دوی دواړو د خپلي شرعي برخي دعوی کول صحیح دي او د خالد د هبې پر کاغذ دستخط کول شرعًا دلیل د اجازې نه دي.

سوال: (۱۴) یو سړي په مرض الموت کي خپل ټول جائیداد پر اولادو تقسیمولو لپاره لیکلي چي ما له صبا څخه دغه قبضه د فلاني فلاني په نوم کړې ده د دغه جائیداد سره زما د ښځي هیڅ اړه نشته ځکه چي دې زه ډېر زهیر کړی یم ځکه دا د ثمن (اتمي برخي) حق نلري ایا داسي تملیک صحیح کیږي او کنه؟ او ښځه د اتمي حق لري او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۰۱هـ)

ځواب: دغه هبه او تملیک د مرض الموت صحیح نه دی لکه چي په در مختار کي راغلیدي چي د مرض الموت هبه د وصیت په حکم ده او وصیت د وارث لپاره صحیح نه دی او د خاوند له وفات کیدو وروسته ښځه د اتمي برخي حق لري دعوی د دې صحیح ده. فقط

---

(۱) الدر و الرد ۵٦٥/۲ کتاب الطلاق، باب طلاق المریض. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع رد المختار ٤٨١/٥ کتاب الوصایا، باب العتق فی المرض. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الشامی ٤٦٤/٥ کتاب الوصایا. ط رشیدیه

مشاع یعني مشترک شی هبه کول

سوال: (۱۵) د زید په جائیداد کي یو اجنبي سړی شریک دی زید د غه خپل جائیداد و بکر ته هبه کړی قبضه او تصرف یې ورکړو او منقول مال لکه زیور. نقدي روپې. حیوان ده او نور یې تقسیم کړو و نوموړي موهوب له ته ورکړو دا ټول شیان د موهوب له په قبضه کي دی په دې صورت کي څه حکم دی؟ د زید په وارثانو کي کونډه. لونې. د اکا زامن او یو سکه ورور موجود دی کونډه او لونې پر د غه هبه څه عتراض نلري مني یې اما سکه ورور دعوی کوي او په مرض الموت کي هبه په ثلث کي صحیح کیږي او کنه؟ (۳۳/۳۵-۱۳۳۴ھ)

ځواب: په لومړي صورت (یعني جائیداد کي) هبه د مشاع ده او د ظاهر الروایة سره سم د ملک فائده نه کوي او هبه فاسده ده کما فی الشامي: هبة المشاع فیما یقسم لا تفید الملک عند ابي حنیفة رحمه الله تعالی و فی القهستاني: لا تفید الملک و هوالمختار کما فی المضمرات و هذا مروی عن ابي حنیفة و هو الصحیح اهـ فحیث علمت انه ظاهر الروایة و انه نص علیه محمدورووه عن ابي حنیفة ظهر انه الذی علیه العمل و ان صرح ان المفتی به خلافه و لاسیما انه یکون ملکا خبیثا(۱) نو معلوم شو چي د در مختار قول "و به یفتی" معمول به نه دی او صحیح نه دی او د اکا زامن د سکه ورور د موجودیت په وجه محروم دی د ورور د ترکې د تقسیم دعوی صحیح ده.

په دوهم صورت کي یعني د زیور او نورو په هبه کي چي تقسیم شوی دی د موهوب له له قبضه کولو وروسته هبه صحیح ده د ورور دعوی صحیح نه ده او د مرض الموت هبه په ثلث کي جاري کیږي فقط

سوال: (۱۶) د وو سکه ورونو پخپل ژوند کي وېش سره وکړی یو ورور خپله برخه خپلو دووزامنو ته هبه کړه بل ورور خپله برخه و خپلي لور او زوم ته هبه کړه په دا سي صورت کي هبه جائز ده او کنه؟ او ترکه به څه ډول تقسیمیږي؟ (۱۳۴۰/۱۰۹ھ)

ځواب: یو سړي و دوو کسانو ته مشترک بېله تقسیمولو هبه کول ناجائز دی ځکه چي دا هبه

---

(۱) الشامي ٤/٥٧٠ کتاب الهبة. ط رشیدیه

د مشاع ده او هبه د مشاع شرعًا باطله او غیر نافذه ده لهذا دا دواړي هبې ناروا دي او تقسیم د ترکې د شرعي برخو سره سم دا ډول دي چې د چادوه زامن دي د هغه سرای و داغه دواړو زامنو ته ورکول کیږي او که کومه لوروي نو هغې ته هم د هلک د برخې نیمه ورکول کیږي او د کوم ورور چې صرف یوه لور ده د هغه ترکه د هغه د حقوق مقدمه علی المیراث له اداکولو وروسته نیمه برخه د هغه و لور ته او نیمه و ورېرو ته ورکول کیږي فقط

سوال: (۱۷) د تقسیم قابل جائیداد کي هبه د مشاع باطله ده که فاسده؟ (۱۳۴۱/۱۲۹۰هـ)

ځواب: باطله ده او که په کوم روایت کي فاسده لیکل شوې ده نو هغه هم په معنی د باطل ده.

سوال: (۱۸) هندې د خپل نامنقولي جائیداد دوې غیر مساوي برخي جوړي کړي یوه کوچنۍ برخه د ځان لپاره کنبیښوده او یوه برخه د خپلو ځلورو لونو په هکله په مساوي ترکه هبه کړه او د دغه موهوبه برخي په یوه ټوټه دوه نور کسان هم ورسره شریکان ؤ چي اوس وفات شوي دي وارثان یې اوس موجود دي او د دغه دوو کسانو په هکله هم تر او سه تقسیم نه دی شوی وروسته د دغه موهوبه جائیداد یوه ټوټه ځلورو موهوب لهم پر ځلورو برخو اندازًا په مساوي توګه تقسیم کړه او هغه بله ټوټه مشاع پاته شوه په دغه صورت کي د هندې و لونو ته هبه کول مفید د ملک ده او کنه؟ او کومه ټوټه چي څو کاله وروسته موهوب لهن تقسیم کړه ایا د داسي قبضې ته به اعتبار وي چي هبه صحیح شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۸۲۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د ټولي موهوبه ټوټې هبه باطله ده چي د هبې د عقد پر مهال په دې کي شیوع وه په در مختار کي راغلي دي: و المانع من تمام القبض شیوع مقارن للعقد لا طارئ الخ(۱) او که څه هم دا هم څرګندونه راغلې ده چي موهوب لهم که د واهب په اجازه په مجلس کي یا وروسته تر مجلس تقسیم کړي نو په دغه ټوټه کي هبه صحیح کیږي لیکن له سوال څخه معلومیږي چي په موهوبه ټوټه کي دوه اجنبي کسان هم شریکان ؤ چي وارثان یې موجود دي د هغوی سره هیڅ تقسیم نه دی شوی او که د جواز د روایت سره سم له مجلس څخه وروسته د واهب په اجازه سره وېشل شوي ټوټې هبې ته صحیح وویل شي نو دا صحیح والی به تر هم دغه تقسیم شوي برخي پوري وي په نا تقسیم شوي برخه کي هبه نه صحیح کیږي. فقط

سوال: (۱۹) هندې خپله برخه چي د مور او پلار په ترکه کي د دې حق وو له تقسیم او قبضې څخه مخکي و خپل ورور زید ته هبه کړه او تر مرګه پر همدې هبه قائمه وه.

(الف) نو دغه د مشترک هبه شرعًا صحیح او معتبره ده او کنه؟

---

(۱) الدر المختار مع حاشیة ابن عابدین: ۵۷۱/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(ب) هنده پخپل ژوند کي پخپله يا د دې له مرګ وروسته د دې وارثان غوښتنه د دغه برخي کولای شي او کنه؟

(ج) که زيد له هندې څخه په دې اره کوم ليک اخيستی وي هغه ته اعتبار شته او کنه؟(۹۹۸/۱۳۴۳ﻫ)

ځواب: (الف) له تقسيم او قبضې څخه مخکي د مشترک مال هبه صحيح او معتبره نه ده په داسي هبه کولو د موهوب شی موهوب له مالک نه ګرځي هغه شی د واهب په ملک کي پاته وي و لو سلمه شائعا لا يملکه الخ(۱) او په قاضي خان کي راغلي دي: ان هبة المشاع فيما يقسم لا تفيد الملک و ان اتصل به القبض(۲) و قال: و ان وهب من شريکة لا يجوز عندنا(۳) و قال الزيلعي: و لو سلمه شائعا لا يملکه حتى لا ينفذ تصرفه فيه الخ شامي(۴)

(ب) چي کله هبه صحيح نه شوه نو بيا هندې ته پخپل ژوند کي او له دې وروسته د دې وارثانو ته د غوښتني حق حاصل دی لکه چي په شامي کي راغلي دي: و اجمع الکل على ان للواهب استردادها من الموهوب له الخ و قال: و کما يکون للواهب الرجوع فيها يکون لوارثه بعد موته لکونها مستحقة الرد الخ(۵)

(ج) و دغه ليک ته شرعًا د هبې په صحيح کيدو کي هيڅ اعتبار نشته فقط.

سوال: (۲۰) عبد الله و زيد او عمر ته دا وويل چي زما د هر شي د دوو کيدو سبب دا دی چي يو د عمر دی او بل د زيد نو د ده سامان به ترکه بلل کيږي که په د عبد الله د وينا سره سم هبه وي؟(۵۵۵/۴۴-۱۳۴۵ﻫ)

ځواب: عبد الله چي کومه هبه کړې ده هغه مشاع هبه ده ځکه ناجائز ده کما في البحر: قوله لا عکسه (اى لا يصح) و هو ان يهب واحد من اثنين کبيرين و لم يبين نصيب کل واحد الخ(۲)(۳۱۵/۷)

چي کله هبه ناروا شوه نو د جائيداد او سامان تقسيم على فرض الله پر ټولو وارثانو کيږي.

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۵۷۰/۴ کتاب الهبة. ط رشيديه

(۲) الفتاوى الخانية مع الهندية ۲۶۸/۳ کتاب الهبة فصل فى هبة المشاع.

(۳) الفتاوى الخانية مع فتاوى العالمغيرية ۲۶/۳ کتاب الهبة، فصل فى هبة المشاع.

(۴) حاشية ابن عابدين ۵۷۰/۴ کتاب الهبة. ط رشيديه

(۵) الدر المختار و رد المختار ۵۷۰/۴ کتاب الهبة. ط رشيديه

(۶) البحر الرائق ۴۹۲/۷ کتاب الهبة.

سوال: (۲۱) د مشترک مال هبه که موهوب له ته قبضه ورکوله شي جائز ده او کنه؟ (۷۲۵/۱۳۳۸ھ)

ځواب: صحيح نه ده کما فی الدر المختار: لا تتم بالقبض فيما يقسم و لو وهبه لشريکه او لاجنبی الخ(۱)

سوال: (۲۲) د مشترک شي هبه او وقف کول جائز دی او کنه؟ او د منقول او نا منقول هم څه فرق شته او کنه؟ (۲۱۸۰/۱۳۴۵ھ)

ځواب: د مشترک شي هبه جائز نه ده او د مشترک وقف د خپلي برخي په اندازه د امام ابو يوسف رحمه الله په نيزد صحيح دی فی الشامی عن البحر: وقفت دارها علی بناتها الثلاث ثم علی الفقراء و لا مال لها غيرها و لا وارث غيرهن فالثلث وقف و الثلثان ميراث لهن و هذا عند ابی يوسف رحمه الله خلافا لمحمد اهـ: ای لانه مشاع حيث لم تقسمه بينهن(۲) او هغه منقول چي د وقف تعامل يې راغلی وي د هغه وقفول صحيح دي. و کما صح ايضا وقف کل منقول قصدا فيه تعامل للناس کفاس و قدوم بل و دراهم و دنانير الخ(۳)

که چا مشترک جائيداد هبه کړی وي نو موهوب له تقسيم کولای شي کنه؟

سوال: (۲۳) په فاسد هبه کي چي پکي بل څوک شريک وي موهوب له د هغه تقسيم کولای شي او بېلولای شي کنه؟ (۱۲۹۰/۱۳۴۱ھ)

ځواب: داسي هبه صحيح نه ده او د موهوب له د تقسيم کولو دعوی کول نه صحيح کيږي ځکه چي د ظاهر الروايۀ سره سم فاسد او باطله هبه يعني مشاع هبه مفيده د ملک لپاره نه وي کما فی الشامی: هبة المشاع فيما يقسم لا تفيد الملک عند ابی حنيفة رحمه الله و فی القهستاني: لا تفيد الملک و هو المختار. (۴) فقط

---

(۱) الدر المختار مع رد المختار ۵۷۰/٤ کتاب الهبة. ط رشيديه

(۲) ردالمختار ۳۹۹/۳ کتاب الوقف، مطلب: شروط الوقف علی قولهما.

(۳) الدر المختار مع الرد ٤٠٩/۳ کتاب الوقف، مطلب فی وقف المنقول قصدا. ط رشيديه

(٤) الشامي ٥٧٠/٤ کتاب الهبة. ط رشيديه

د یو کلي جائیداد و یو زوی ته او د بل کلي جائیداد و نورو زامنو ته هبه کولو حکم

سوال: (۲۴) زید په یو کلي کي امامؤ له لومړی ښځي څخه یو هلک عمر وشو زید په بل کلي کي امام شو او عمر ته واده وروکړی په همهغه اول کلي کي د ځان پر ځای امام جوړ کړی چي کله زید وفات کیدی خلګو ته یي داسي وویل چي په لومړي کلي کي کوم جائیداد دی هغه دي د عمر سره وي او کوم چي په دوهم کلي کي دی هغه دي د هغه نورو بچیانو سره وي تر څو کوم اختلاف نه شي را، عمر د اول کلي په جائیداد کي د زید په ژوند کي څه ترقي وکړه عمر وایي چي د اول کلي ټول جائیداد سره د کسب کړي زما دی او د دوهم کلي په جائیداد کي هم ما ته برخه راکړئ ځکه چي هغه متروکه مال دی او نور وارثان وایي چي ټول جائیداد که د اول کلي وي او که د دوهم د زید ترکه ده شرعًا څه حکم دی؟ (۱۰۲۰/۱۳۴۵ھ)

ځواب: کله چي زید دا الفاظ ویلي دي چي د اول کلي جائیداد دي د عمر سره وي نو په ظاهره د دې معنی دا ده چي دغه برخه د جائیداد د عمر شوه او دا لفظ د هبې له الفاظو څخه دی نو په مسئوله صورت کي بیان شوي الفاظ پر شرعي هبه حمل کیږي نو د اول کلي جائیداد سره د زیاتوبه د عمر ملک بلل کیږي بیا په دوهم کلي کي چي د زید کومه ترکه ده په هغه کي هم عمر د شرعي برخي په اندازه شریک دی ځکه چي په هغه کي د زید الفاظ او د ده نیت په هبه صحیح کیدو کي څکه اثر نه کوي چي هبه د مشاع باطله ده او د ده دا الفاظ "کوم چي په دوهم کلي کي دي هغه دي د هغه نورو بچیانو سره وي" هبه د مشاع ده په در مختار کي راغلي دي: (او الاضافة الی ما) ای الی جزء(یعبر به عن الکل کوهبت لک فرجها و جعلته لک)(۱) و فی الخانیة : و ان قال: جعلته باسم ابنی یکون هبة ظاهرا لان الناس یریدون لهذا التملیک و الهبة(فتاوی قاضی خان: ۲۵٤/۳) و فیه ایضا: و ذکر فی الزیادات اذا قال لجامعة من المسلمین: هذا المال لکم یکون هبة انتهی. (۲)

---

(۱) الدر المختار مع رد المختار ٥٦٨/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(۲) الفتاوی الخانیة مع الهندیة ۲٦٤/۳ کتاب الهبة. فصل فیما یکون هبة من الالفاظ و ما لا یکون.

د نیوتې حکم

سوال: (۲۵) زمونږ په سیمه کې دا رواج دی چې د واده په ورځ وزوم ته خپلوان قریبان او دوستان نیوتا(۱) ورکوي که ځوک نکړي ور له هغه څخه ګیله کوي دا ډول ورکړه راکړه شرعًا څنګه ده؟ (۱۳۴۱/۱۸۲۲هـ)

ځواب: د نیوتې حکم په شامي کې له فتاوی خیریه څخه په داسې تفصیل سره راغلی دی: و فی لفتاوی الخیریة: سئل فیما یرسله الشخص الی غیره فی الاعراس و نحوها هل یکون حکمه حکم القرض فیلزمه الوفاء به ام لا؟ اجاب: ان کان العرف بانهم یدفعونه علی وجه البدل یلزم الوفاء به ان مثلیا فمثله و ان قیمیا فبقیمته، و ان کان العرف خلاف ذلک بان کانوا یدفعونه علی وجه الهبة و لا ینظرون فی ذلک الی اعطاء البدل فحکمه حکم الهبة فی سائر احکامه الخ. (۲)

له دغه عبارت څخه د ورکړې راکړې د جواز او معاوضې ورکولو نه ورکولو حکم معلوم شو چې څرنګه عرف وي هغه ډول به حکم پر لګیږي. (شامي کتب الهبة) فقط

---

(۱) نیوته: په واده او نورو خوشحالیو کې د نغدو روپیو (او نورو) ورکړې راکړې رواج (فیروز اللغات) دغه نیوته که خپلوان او انډیوالان ورکړي نو د هغ [illegible] دا رواج شوی دی چې د انجلۍ [illegible] جلۍ ته څه ورکوي هغه ته "جهېز" ویل کیږي او زوم ته چې کومې روپۍ یا سامان [illegible] ي هغه ته نیوته وایي دا ورکړه د جهیز په ډول رواج جوړېدو له امله منع دی. سعید احمد پالن پوري

(۲) ترجمه: په فتاوی خیریه کې راغلي دي: د هغه سامان په اړه پوښتنه وشوه کوم چې په واده او نورو کې خلک و یو بل ته ورکوي آیا د دې حکم د قرض د حکم په ډول دی چې بیرته ورکول ضروري وي او که نه؟ ځواب: که عرف او رواج دا دی چې خلک یې د تبادلې په توګه ورکوي نو د دې بیرته ورکول ضروري دي که له ذوات الامثالو څخه دی نو د هغه مثل او که له ذوات القیم څخه دی نو د هغه قیمت به د بدل په توګه ورکوي او که عرف او رواج د دې په خلاف وي دا رنګه چې خلک دغه سامان د هبې په توګه ورکوي او د دې بدل اخیستل یې په نظر کې نه وي نو د دې حکم په ټولو حکمونو کې د هبې په رنګه دی (یعني د دې بدل ورکول ضروري نه دي) (رد المختار مع الدر المختار: ۵۷۳/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه)

د خاوند و ښځي ته ورکړي زیور مالک څوک دی؟

سوال: (۲۲) خاوند چي و ښځي ته کومه ګېڼه ورکړې ده د طلاق یا د ښځي له وفات کېدو وروسته به د چا بلل کیږي؟ د کوم ځای چي دا مسئله ده هلته ډېري داسي پېښي شوي دي چي د خاوند ملک يې بلل وي خلکو و خاوند ... ورکړی وي په دې خوا تقریبًا په هر کورنۍ کي داسي رواج دی چي د ښځي له طلاق یا مرګ وروسته زیور بیرته خاوند اخلي لیکن زمونږ د کلي ځینو ملایانو د دې په خلاف مسئله بیان کړې ده چي د ښځي ملک راشي خاوند ته د بیرته اخیستلو حق نشته په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۸۹۴هـ)

ځواب: که د ښځي یا د دې د وارثانو دا دعوی وي چي دغه زیور په مهر کي راغلي دي نو دا ښځه د دې مالکه ده او په مهر کي شمېرل کیږي او که دعوی د هدیې او هبې ده نو په دې کي و عرف ته اعتبار دی نو که په عرف دا ګېڼه د ښځي ملک بلل کیږي نو بیا د ښځي ده او که عرف دا وي چي دغه ګېڼه عاریة د ښځي سره وه نو د خاوند ده ځکه چي فقهاء د دې بناء پر عرف ایښې ده قال في الفتح: و الذی یجب اعتباره فی دیارنا ان جمیع ما ذکر من الحنطة و اللوز و الدقیق و السکر... یکون القول فیها قول المرءة لان المتعارف فی ذلک کله ان یرسله هدیة و الظاهر مع المرءة لامعه الخ(۱) قال فی النهر: و اقول: و ینبغی ان لا یقبل قوله ایضا فی الثیاب المحمولة مع السکر و نحوه للعرف اهـ قلت: و من ذلک ما یعثه الیها قبل الزفاف فی الاعیاد و المراسم من نحو ثیاب و حلی و کذا ما یعطیها من ذلک او من دراهم او دنانیر صبیحة لیلة العرس و یسمی فی العرف صبحة فان کل ذلک تعورف فی زماننا کونه هدیة لا من المهر الخ(۲) فقط

د نکاح په وعده و محبوبې ته د ورکړي سامان مالک څوک دی؟

سوال: (۲۷) زید پر هنده (چي کونډه او د زید خپله هم ده) مین شو زید

---

(۱) البحر الرائق ۳/۳۲۲ کتاب النکاح، باب المهر.

(۲) الشامی: ۲/۳۹٤ کتاب النکاح، مطلب فیما یرسله الی الزوجة. ط رشیدیه

ورسره هستوګنه شروع کړه او و هنده ته د نکاح کولو وویل نو هندې ورته وویل چي وخت راشي وبه شي لنډه دا چي تر ډېر مودې اقرار او ټینګار شروع ؤ مګر هندې خپله وعده پوره نکړه آخر چي زید نا امیده شو نو خپل ټول سامان چي ډېر په خواري یې ګټلی ؤ د هندې کره پرېښودی ولاړی اوس د هندې بالغ زوی او مړور د غه مال مصرفوی دا سي جائز دي او کنه؟ (۳۲/۱۸۲۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: زید چي څو مره ګټه و هندې ته ورکړي او هبه کړې وه هنده د هغه مالکه شوه د دې د خپلوانو د دې په اجازه پکي تصرف کول د هندې په اجازه صحیح او جائز دی که څه هم په دغه صورت کي که زید د نکاح د وعدې په وجه هبه کړې وي نو د نکاح نه کیدو په صورت دغه ورکړی مال چي په دې کي موجود وي بیرته اخیستلای شي لیکن که نه واخیستی نو د هندې او نورو تصرف پکي صحیح دی او د واپس کولو لپاره قضاء یا رضا شرط ده په شامي کي راغلي دي: و عبارة البزازية لانه هبة اهـ و مقتاه انه يشترط فى استرداد القائم القضاء او الرضا الخ(۱)

په ګروایښي جائیداد هبه کول

سوال: (۲۸) مرهونه نا منقوله جائیداد هبه کیدلای شي او کنه؟

(۴۴/۴۴۲-۱۳۴۵هـ)

ځواب: مرهونه شی د مرتهن بې اجازې نشي هبه کیدلای دا ډول ټول تصرفات د مرتهن پر اجازه موقوف دي كذا فى كتب الفقه(۲) فقط کتبه عتیق الرحمن

او کله چي مرهون شی د مرتهن په اجازه و چاته هبه شي نو رهن ختم شو دغه شی دی له مرتهن څخه واخلي و موهوب له ته دي ورکړي ځکه چي هبه بېله قبضې نه تامیږي.

(مفتي) عزیز الرحمن، مفتی دار العلوم دیوبند

---

(۱) الشامى ۳۹٤/۲ كتاب النكاح، مطلب فيما يرسله الى الزوجة. ط رشيديه

(۲) و الاصل فيه ان تصرف الراهن اذا كان يبطل حق المرتهن لا ينفذ الا باجازة المرتهن الخ (الشامى ۳٦۲/۵ كتاب الرهن. باب التصرف فى الرهن و الجناية عليه الخ. ط رشيديه)

دین له هبې څخه مانع نه دی

سوال: (۲۹) که پر چا پور باندي وي هغه هبه یا هبه بالعوض کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۲_۳۲ ۱۳۳۳_۳۲ھ)

ځواب: که شرطونه د هبې موجود وي نو هبه صحیح کیږي دین له هبې څخه مانع نه دی. فقط

پلار چي فرضاً د زوی په نوم ځمکه رانیوه هغه د چا ده؟

سوال: (۳۰) زید د خپل زوی بکر په نوم یوه ځمکه صرف فرضي رانیوله او پخپله د ده په قبضه کي وه او د ځمکي ځیني برخه پخپله خو بېه خرخه هم کړه بکر هیڅ منع و نکړه ایا اوس د بکر له وفات کیدو وروسته په پاته برخه کي د ده وارثان کوم حق لري او کنه؟ (۲۹/۱۱۴۹_۱۳۳۰ھ)

ځواب: کومه ځمکه چي زید پخپلو روپیو رانیولې ده او فرضًا یې نوم د زوی ورکړی دی لکه چي بیا پخپله خرڅوله هم او زوی هیڅ منع نه ده کړې دا د زید ملک دی د بکر وارثانو ته په دې کي هیڅ برخه نه رسي اما که د زید غرض د ده په نوم هبه کول ؤ نو کله چي د هبې پر مهال موهوب له زوی نابالغ ؤ نو پخپل د پلار قبضه د نابالغ زوی له طرفه معتبره ده مګر د هبې د شرائطو تحقیق ضروري دی مثلاً چي موهوبه ځمکه به مشاع او مشترکه نه وي که شرطونه د هبې متحقق وي نو بیا د دغه ځمکي مالک بکر دی او د ده له مرګه وروسته د ده د وارثانو ده قال فی الدر المختار: و هبة من لا ولاية على الطفل فی الجملة... تتم بالعقد لو الموهوب معلوما و كان فی يده او يد مودعه لان قبض الولی ينوب عنه الخ(۱) فقط و الله اعلم

د نابالغو هلکانو په نوم جائیداد رانیول هبه نه ده

سوال: (۳۱) که کوم سړی یعني بکر پخپلو روپیو د نابالغو زامنو په نوم جائیداد رانیوی نو دغه د دوی

(۱) الدر المختار مع الشامی: ۵۷۱/۴ كتاب الهبة. ط رشیدیه

په نوم رانیول د هبې د ثبوت لپاره کافي دی او کنه؟ اوس بکر وفات شو نو دغه جائیداد صرف د هلکانو دی که ټول وارثان پکې حق لري؟ (۱۳۹۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د نابالغو په نوم پخپلو روپیو جائیداد رانیول دغه جائیداد و هلکانو ته هبه نه شو د هبې ثبوت بېل ضروري دی ځکه چې زیاتره په فرضي توګه او د کوم مصلحت په خاطر د بل په نوم رانیول کېږي صرف د بل په نوم رانیول هبه نه ده نو دغه جائیداد د بکر ترکه ده ټول وارثان د خپلو شرعي برخو سره سم پکې حق لري.

د هبې په پاڼه کې د موهوب له د ښځې په نوم لیکلو موهوب د چا شمېرل کېږي

سوال: (۳۲) زید و خپل زوی عمر ته خپل جائیداد هبه کول مقصد ؤ مګر د کوم دنیاوي مصلحت په وجه د عمر د ښځې بي بي فاطمې نوم ولیکی په همدې وجه د فاطمې په ژوند کې د دې له مرګ وروسته هم عمر د ټول موهوب حاصل اخیستی او استفاده یې ځني کوله شرعًا د دې مالک عمر دی که فاطمه؟ (۱۳۴۰/۷۵۰هـ)

ځواب: ښکاره خبره ده چې د کوم چا نوم د هبې په پاڼه کې لیکل شوی دی مثلاً دا چې ما فلانی شی و فلاني ته هبه کړی دی نو که کوم مانع د هبې له نافذېدو څخه نشته نو هم هغه به مالک او موهوب له وي د چا په نوم چې هبه کړې ده لان العبرة للالفاظ ای لا للنیات و [کل امرئ بما کسب رهین] (سورة طور آیت: ۲۱) فقط

هبه شوی جائیداد د موهوب له د ورثاء دی که د هبه کونکي؟

سوال: (۳۳) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین حکم د الله تعالی په دغه مسئله کې څه دی چې وفات شوې بي بي حشمت النساء د خپلې مور متروکه جائیداد پخپل ژوند کې و خپلې لمسۍ (د زوی لور) نابالغې بي بي جیلاني ته هبه کړی دغه انجلۍ د هبه کونکې حشمت النساء په محافظت کې تر یو کال پورې پر دغه جائیداد قابضه او تصرف کونکې وه د خپلې مور او نیکه په مخکې مړه شوه د انجلۍ تر مرګ څو کاله وروسته

حشمت النساء مړه شوه بو د اکا زوی یې پاته شو او س دغه هبه شوی جائیداد د جیلاني بي ي د وارثانو دی که د هبه کونکي حشمت النساء د وارثانو؟ (۴۸۹ ۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د هبې د جواز لپاره دا شرط دی چې موهوبه جائیداد به مشاع او مشترک نه وي بلکه تقسیم شوی به وي او موهوب له به وربانديي قبضه کړې وي او که موهوب له صغیر وي نو د ده ولي باید قبضه وربانديي وکړي نو په مسئوله صورت کې که د هبې صحیح کیدو ټول شرطونه موجود شوي وي نو دغه جائیداد د موهوب لها جیلاني بي بي ملک دی د دې له مرګ وروسته د دې د وارثانو یعني مور او نیکه دی دا ډول چې تر میراث مخکې حقوقو ادا کولو وروسته ټولې درې برخې جوړې کړې یوه برخه و مور ته او دوې برخې و نیکه ته رسي او که د هبې شرطونه نه دي موجود شوي مثلاً دا چې هغه موهوبه جائیداد مشترک وُ یا د صغیرې ولي یعني نیکه قبضه وربانديي ونکړه نو دا هبه صحیح نه شوه دا جائیداد د حشمت النساء دی د دې له وفات کیدو وروسته د دې د وارثانو دی که وارث د دې د اکا له زوی څخه پرته بل څوک په ذوی الفروضو او عصبو کې نشته نو تر میراث مخکې حقوق ادا کولو وروسته ټول جائیداد د اکا د زوی دی فقط

و ورور ته هبه شوي جائیداد کې د خور د وارثانو حق نشته

سوال: (۳۴) زید خپل د هستوګنې جائیداد و خپل زوی عمرو ته هبه کړی په قبضه کې ورکړی او د هبې پاڼه ولیکله ځکه عمرو د خپلې مور هندې او خپلې خور زینب سره په دغه جائیداد کې هستوګنه کوله وروسته زید، هنده، عمرو او زینب ټول وفات شو آیا د زینب د وارثانو په دغه جائیداد کې څه حق شته کوم چې زید و عمرو ته هبه کړی وُ.

ځواب: که د هبې صحیح کیدو ټول شرطونه موجود شوي وي نو دغه جائیداد د عمرو دی له ده وروسته د ده و وارثانو ته د شرعي برخو سره سم ملاویږي د زینب د وارثانو پکې حق نشته او د هبې د صحیح کیدو له شرطونو دا دی چې دا جائیداد په تقسیم شوی بیل وي مشاع او مشترک په نه وي او د موهوب له قبضه به شوې وي د قبضې کول خو په سوال کې لیکل شوي دي مګر دا نه دي لیکلي چې دغه جائیداد غیر مشاع دی.

هبه په ایجاب او قبول صحیح کیږي او په قبضه تامیږي

سوال: (۳۵) عمر پخپل ژوند کې له مرض موت څخه مخکې چې حواس خمسه یې پر ځای وُ بېله کوم جبر او اکراه

د مختلف البطن ورثاء په موجودیت کې له خپل نامنقوله جائیداد څخه یو سرای و خپلې ښځې هندې ته هبه کړی په داسې صورت کې دا هبه څه ډول نافذیږي او د مکان هبه په ایجاب او قبول کیږي که څنګه؟ (۸۲۵/۳۹-۱۳۴۰هـ)

ځواب: هبه په ایجاب او قبول صحیح کیږي او د موهوب له قبضه د هبې پوره کیدو لپاره شرط دی په در مختار کې راغلي دي: و رکنها هو الایجاب و القبول الخ(۱) او د قبول په رکن کیدو نه کیدو کې اختلاف هم رانقل شوی دی و تتم الهبة بالقبض الکامل. (۲)

په هبه کې قبول ضروري دی که قبضه بس ده؟

سوال: (۳۶) زید خپل څه نامنقول جائیداد د خپلې لور په نوم هبه کړی او په قبضه کې هم ورکړی په دې کې د موهوب لها د هبې پر مهال موجودیت او د هغې قبلول ضروري دي او کنه؟ (۲۹۲/۱۳۴۱هـ)

ځواب: شامي له مبسوط څخه رانقل کړي دي: ان القبض کالقبول فی البیع و لـذا لـو وهب الدین من الغریم لم یفتقر الی القبول کما فی الکرمانی، لکن فی الکافی و التحفـة: انـه(ای القبول) رکن الخ(۳) (شامی) لنډه دا چې په دې کې اختلاف دی چې په هبه کې قبول رکن دی او کنه؟ شامي په پای کې د دې څرګندونه کړې ده چې د موهوب له قبضه د قبول پر ځای ده نو که د هبه صحیح کیدو شرطونه موجود شي مثلاً دا چې هبه د مشاع نه وي او موهوب له ته قبضه ورکولی شي نو هبه تامیږي. فقط

شاړه ځمکه هبه کول صحیح دي

سوال: (۳۷) ... (الف) د هبې پر مهال و موهوب له ته قبضه ورکول د هبې د نفاذ او جواز لپاره لازم دی او کنه؟

---

(۱) الدر المختار مع الرد: ۵۶۷/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد: ۵۶۹/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(۳) رد المحتار: ۵۶۷/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(ب) داسي شاړه ځمکه چي له قبضي وروسته له هغه څخه د مادي یا نامادي کوم د استفادي صورت نه وي او صرف حق د ملک په کاغذونو کي لیکل شوی دی داسي ځمکه هبه کیدلای شي او داسي هبه به جائز وي او که ناجائز؟ (۱۳۳۸/۲۰هـ)

ځواب: (الف) لازم دی.

(ب) شاړه ځمکه که محدوده ممیزه او نامشاع وي نو د هغي هبه صحیح ده او قبضه چي کوم ډول پر ځمکو کیږي پر دې هم کیدلای شي استفاده د زراعت او نورو په وسیله د قبضي لپاره ضروري نه دي. فقط

هبه کونکی که هبه کړی سرای نه خالي کوي؟

سوال: (۳۸)... (الف) د سرای په هبه کي که قبضه شرط وبلل شي نو د قبضه کولو به څه صورت وي؟ که هبه کونکی د ګواهانو په مخکي د دې خبري اقرار وکړي چي دی په دغه سرای کي د هندې په اجازه او سیږي په دغو الفاظو قبضه ثابتیږي او کنه؟

(ب) که د قبضي لپاره دا ضروري دي چي هبه کونکی به خپل ټول سامان له هغه ځایه پورته کوي او سرای به خالي کوي؟ (۱۳۴۰-۳۹/۸۲۵هـ)

ځواب: (الف - ب) په دا ډول الفاظو ویلو د موهوب له قبضه نه ثابتیږي او کله چي له هغه وخته هبه کونکی په هبه کړي سرای کي اوسیږي او خالي کړی یې نه دی او نه یې سامان ځني پورته کړی دی نو په دغه صورت کي قبضه د هبه کونکي ده د موهوب له قبضه نه ده پر راغلي هکذا في الشامي: و لووهب دارا دون ما فیها من متاعه لم یجز الخ(۱) (شامی ۵۱۰/۵)

موهوبه جائیداد د هبه کونکي په قبضه کي دی

سوال: (۳۹) عمرو پخپل ټول جائیداد کي د هر نر او ښځي په نوم حق ولیکی لیکن قبضه د عمرو وه صرف د دوی په نوم یې کړي نو د عمر دا تقسیم جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۹۲هـ)

---

(۱) الشامي: ۵٦٩/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

ځواب: د هبه کونکي خپله قبضه ورباندي د هبې له جواز څخه مانع دی دا د بالغ اولاد په هکله ده د نابالغ په هبه کي د ولي قبضه مانع نه ده.

د نابالغ موهوب له لوري د پلار قبضه کافي ده

سوال: (۴۰) زید و خپلو زامنو عمر او بکر ته د دوی په نابالغي یو څه روپۍ ورکړې او د دوی په نوم یې ځان ته حساب وکړی دغه روپۍ د ځان سره کښېښودې د زامنو له بالغېدو وروسته چي به دوی د څومره خواهش وکړي یا د دوی ورته ضرورت شو و دوی ته ورکولی شوې اوس د زید له وفات کیدو وروسته نور وارثان دا خواهش کوي چي له دغه حساب څخه چي څومره روپۍ پاتي دي هغه دي هم د ترکې په توګه ووېشل شي آیا شرعًا دغه روپۍ هم ووېشل شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۷۳۳هـ)

ځواب: کومي روپۍ چي عمر او بکر ته د دوی پلار زید ورکړي وې او د ولي په ورباندي قابض ؤ او ده حساب څخه بیلي کړي وې له هغه څخه چي څومره پاته دي هغه د همدغه موهوب لهما زامنو عمر او بکر دي نور وارثان په دې کي حق نلري کما فی الدر المختار: و هبة من له ولایة علی الطفل فی الجملة... تتم بالعقد لو الموهب معلومًا و کان فی یده او ید مودعه. (۱) فقط

د پلار له وفات وروسته و لمسي ته هبه کړی سرای د نیکه په قبضه کي ؤ

سوال: (۴۱) خالد د خپل لمسي (د زوی زوی) احمد په نوم چي پلار یې وفات شوی ؤ یو سرای په هبه ولیکی دا وخت لمسی د لسو کالو ؤ هبه کونکی خالد چي تر څو ژوندی ؤ جائیداد د ده په قبضه کي ؤ له ده وروسته پر ټول جائیداد چي په هغه کي موهوبه سرای هم ؤ د خالد د زامنو قبضه وه اوس احمد موهوب له وفات شو د یوولسو یا دیارلسو کلونو په عمر اوس د خالد وارثان دغه هبه شوی سرای د احمد و وارثانو ته نه ورکوي په دغه صورت کي د خالد وارثان له دغه هبې څخه رجوع کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۹۷۱هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامی: ۵۷۱/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

ځواب: په دغه صورت کي د نامشاع محدود سرای هبه د خالد له لوري د ده د لمسي احمد لپاره صحيح شوه او د خالد قبضه د لمسي احمد له طرفه کافي شوه د خالد بچيان د خالد له مرګ وروسته په دې کي رجوع نسي کولای او دغه سرای د احمد له وفاتېدو وروسته د ده د وارثانو دی په در مختار کي راغلي دي: و هبة من لا ولاية على الطفل في الجملة... تتم بالعقد لو الموهوب معلوما و كان في يده او يد مودعه لان قبض الولی ينوب عنه اهـ(۱)

د نابالغ هبه قبلول صحيح دي

سوال: (۴۲) د نابالغ هبه يا قرض ورکول اخيستل څنګه دي؟ (۱۳۴۰/۲۳۸۵هـ)

ځواب: د هبې قبلول صحيح دي او هبه کول يا صدقه کول يا قرض ورکول صحيح نه دی(۲) او قرض چي اخيستی وي د هغه ورکول او ادا کول ضروري دي. فقط

د ګونګی کنې ښځي په اشاره سره هبه کول

سوال: (۴۳) د سيد نادر شاه کونډې بي بي شريفې خپل ټول جائيداد و خپل قريب سيد محمد نواز شاه ته هبه کړی او وفات شوه چي اولاد او عصبه يې نشته نو موږې ګونګی او کنه وه او د عمر په آخري برخه کي ړنده شوې هم وه له مرض الموت څخه مخکي د ګواهانو په مخکي په اشاره سره هبه وکړه داسي هبه شرعًا څنګه ده؟

(۱۳۳۷/۲۳۷۴هـ)

ځواب: که دغه هبه په حالت د روغتيا کي وشوه او هبه د مشاع جائيداد نه ده بلکه موهوبه شی تقسيم شوی محدود او مقبوض دی او موهوب له ته قبضه ورکول شوې ده نو هبه صحيح شوه ځکه چي د ګونګی، کنې معهوده اشاره د تکلم باللسان په رنګه ده كما قال في الدر المختار: او اخرس و لو طارئا ان دام للموت به يفتى... باشارته المعهودة فانها تكون كعبارة الناطق استحسانا الخ(۳) فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۵۷۱/۴ كتاب الهبة. ط رشيديه

(۲) و شرائط صحتها في الواهب: العقل و البلوغ و الملک. فلا تصح هبة صغير الخ (الدر المختار مع الشامي: ۵۶۷/۴ كتاب الهبة. ط رشيديه)

(۳) الدر المختار مع رد المختار ۴۶۰/۲ كتاب الطلاق مطلب في الحشيشة و الافيون و البنج. ط رشيديه

لور که خپل مهر (ولور) و پلار ته هبه کړي

سوال: (۴۴) زید د خپلې لور واده د بکر سره وکړی زر روپۍ مهر یې ځنې واخیستې و لور ته یې ورکړې هغې ته وویل ماته یې وبخښه ځکه لور و خپل پلار ته ورکړی آیا دغه زر روپۍ و زید ته حلالې دي او کنه؟ (۱۷۳/۱۳۴۱ھ)

ځواب: ظاهرًا حلالې دي. (۱) فقط

و پیرۍ ته هبه کړی شي کي تصرف کول

سوال: (۴۵) که کوم شی و کومې پیرۍ ته هبه کړل شي نو د دې بې اجازې پکې تصرف کول جائز نه دی؟ (۳۲۷/۱۳۴۱ھ)

ځواب: که دغه پیرۍ د انسان په بڼه کي راغلې وي او دې د څه شي هبه شوی وي نو د دې حکم همداسې دی لکه چې و کوم انسان ته هبه وشي نو د موهوب له له قبضې وروسته بې د دې له رضا او بې د حاکم له حکم څخه د دې اخیستل او تصرف پکې کول صحیح نه دی. فقط

و مړي ته هبه کړي کتابونه بیرته اخیستل

سوال: (۴۶) زید له عمر څخه څه کتابونه د ویلو لپاره اخیستې ؤ وروسته زید وفات شو کله چې عمر د ده په مرګ خبر شو نو ده خپل کتابونه ور وبخښل بیا عمر دعوی وکړه خپل کتابونه واخیستو نو له بخښلو وروسته د کتابونو بیرته اخیستل جائز دي او کنه؟ (۳۰۰/۱۳۳۷ھ)

ځواب: د کتابونو لو مړی معافول او بیا بیرته اخیستل په دغه صورت کي صحیح دي ځکه چې دا ابراء نه ده ځکه چې ابراء له دین څخه وي او کتابونه اعیان دي او مړي ته هبه هم نشي کیدلای ځکه چې مړی د ملک قابل نه دی لهذا دغه کتابونه د مالک ملک دی او که غرض له دغه

---

(۱) ځکه چې لور په ظاهره په خوښه و پلار ته هبه کړې ده مګر خو د پلار پر لور پاندې د پلار والې له وجهې فشار وي ځکه ممکنه ده چې طیب خاطر به نه وي ځکه احتیاط غوره دی ۱۲ سعید احمد پالن پوري

بخښلو څخه و وارثانو نه ورکول وي نو اوس دا نه ده معلومه چي وارثانو وړباندي قبضه وکړه او کنه؟ له قبضي څخه مخکي هبه نه تاميږي او بعد القبض هم دغه موانع عن الرجوع په صورت رجوع صحيح ده که څه هم مکروه ده. فقط

په لاره کي مال ايښودونکي وويل چي هر چا لومړی دا مال پورته کړی د هغه دی

سوال: (۴۷) که زيد خپل مال فی سبيل الله په دې غرض په لار کي کښيښودی چي کوم چا لومړی پورته کړی د هغه دی په داسي صورت کي هبه صحيح کيږي او کنه؟ د شامي له عبارت څخه معلوميږي چي صحيح کيږي و لذا قال اصحابنا: لو وضع ماله في طريق ليكون ملكا للرافع جاز. (۱) (۱۳۳۷/۲۷۰۰هـ)

ځواب: داسي شی د پورته کونکي ملک ګرځي کما صرح به فی کتب الفقه (۱) فقط

که د هبې پر پاڼه د موهوب له دستخط نه وي بيا هم هبه صحيح ده

سوال: (۴۸) که د هبې پر پاڼه د موهوب له دستخط نه وي نو د هبې پاڼه د اعتبار وړ ده او کنه؟ آيا چي شرعي وارث موجود وي څوک دا کولای شي چي د حقدار د حق ختمولو په غرض خپل جائيداد و بل چاته هبه کړي؟ داسي هبه به شرعًا جائز وي او کنه؟ د هبې په پاڼه کي چي داسي الفاظ ليکلي وي چي "زما په ژوند کي او زما څخه وروسته هم موهوب له مالک دی او دغه جائيداد و موهوب له ته وبخښل شو" نو دا الفاظ د هبې الفاظ دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۹۰هـ)

ځواب: که د هبې د صحيح کيدو شرطونه موجود شي نو هبه صحيح کيږي که څه هم دا خبره قبيح او ګناه ده چي د وارث محرومولو په غرض و چاته هبه وشي يا په چا هبه وشي او د موهوب له په نه دستخط هبه نه رديږي که موهوب له په خوله قبوله کړه يا يې پر موهوب قبضه وکړه نو هبه صحيح کيږي او بيان شوي الفاظ د هبې الفاظ دي. فقط

(۱) الشامي: ۵٦٧/٤ الهبة. ط رشيديه

د هبې د صحیح کیدو لپاره د هبې د پاڼي په حکومت کي رسمي کول ضروري نه دي

سوال: (۴۹) که کوم سړی په کور کي د ګواهانو په مخ کي د چا په نوم د هبې پاڼه ولیکي او ګواهان هم وټاکي مګر په حکومت کي رسمي نکړي د غه د هبې و پاڼي ته اعتبار شته او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۸۰ھ)

ځواب: د داسي هبې و پاڼي ته شرعًا اعتبار شته او که موهوب له ته قبضه ورکړي او هغه مشاع نه وي نو هبه تامیږي او موهوب له د موهوبه شي مالک ګرځي په حکومت کي رسمي کیدل شرعًا ضروري نه دي فقط

ځمکه د موهوب له په قبضه کي ده خو په حکومت د هبه کونکي په نوم لیکلې ده

سوال: (۵۰) زید خپله هغه ځمکه چي په حکومت کي د ده په نوم لیکل شوې ده و عمر ته هبه کړه او عمر ورباندي قبضه هم وکړه لیکن تر اوسه په حکومت کي د زید نوم لیکلی دی په داسي صورت کي و عمر ته موهوب له ویل کیدلای شي او کنه؟
(۱۳۴۵/۵۰۹ھ)

ځواب: که په شرعي توګه زید د دغه ځمکي مالک دی او ده خپل ملک نامشترکه ځمکه و عمر ته هبه کړه او عمر د زید په ژوند کي ورباندي قبضه وکړه نو عمر د دې مالک شو که څه هم د حکومت په کوم لا تر اوسه د زید په نوم لیکلي وي په دې وجه په هبه کي څه فرق نه راځي اما د هبه کونکي مالک کیدل او د موهوبه ځمکي نامشاع کیدل او د موهوب له ورباندي قبضه کول شرط دي کما فی الدر المختار: و تتم بالقبض الکامل الخ. (۱) فقط

پخپل ژوند کي و بچیانو ته د جائیداد وروېشلو طریقه

سوال: (۵۱) یو سړي پخپل ژوند کي و اولاد ته جائیداد تقسیمول غواړي نو څنګه تقسیم کړي؟ (۱۳۴۱/۲۵۸۷ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۵۶۹/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه

ځواب: که کوم څوک پخپل ژوند کي خپلو بر بچیانو جائیداد و بشل غواړي نو په دي کي د فقهاء کرامو دوه قوله دي یو دا چي نارینه او زنانه بچیانو ته به برابري برخي ورکوي او دوهم قول دا چي و ناریته ته به د ښځي په نسبت دوه چنده ورکوي. فقط

سوال: (۵۲) زید له قرض اداکولو وروسته خپل ټول جائیداد د شرعي برخو سره سم و بشل غواړي دوه زامن او دري لوڼي دي او یوه ښځه ده څه ډول تقسیم کولای شي؟ (۱۸۹ ۳۳ ۱۳۳۴ هـ)

ځواب: څه ډول تقسیم چي وکړي و هر یوه ته برخه ورجلا کړي او قبضه ورکړي هغه بې مالک ګرځي لیکن که د شریعت سره سم و بشل غواړي نو ټولو بچیانو ته دي برابري برخي ورکړي هلکان او انجوني به ټول سره برابر وي او ښځي ته دي د دې د برخي په قدر یا دي د ضرورت او حاجت په اندازه ورکړي په در مختار کي راغلي دي. یسوی بینهم یعطی البنت کالابن عند الثانی و علیه الفتوی(۱) او په شامي کي ویلي دي چي برابري کول په ټولو بچیانو کي غوره دي او افضل دي له تثلیث څخه یعني له دې څخه چي زوی ته تر لور دوه چنده ورکړي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۵۳) زید د جائیداد مالک دی د ده څلور زامن، دوې لوڼې او یوه ښځه ده. ده پخپل ژوند کي و خپل مشر زوی ته چي له لومړی ښځي څخه دی او ولس ګزه پخه ځمکه او سرای د او سېدو لپاره هم ورکړی ؤ اوس زید و نورو بچیانو ته چي له دوهمي ښځي څخه دي پاته جائیداد و بشل غواړي هغوی ته نهه نهه ګزه رسي، مشر زوی یې خنډ دی که زید پاته ځمکه و مشر زوی ته ورنکړي نو شرعًا ناروا خو به نه وي؟ (۱۳۳۷/۹۸۹هـ)

ځواب: کله چي زید و مشر زوی ته زیات جائیداد ورکړی دی نو و نورو بچیانو ته تر هغه اندازې پوري ورکول صحیح دي او که تر هغه کم وي نو بیا په جواز کي هیڅ شک نشته اصل دا دی چي شرعي حکم دا دی چي اولاد ته که په خپل ژوند کي مورث څه مال او جائیداد ورکول وغواړي نو باید ټولو ته برابر ورکړي د دغه قاعدې سره سم و نورو بچیانو ته هم دومره اندازه و هر یو ته ورکول پکار دي څومره چي مشر زوی ته ورکړي دي او د مجبوری په وجه چي څومره موجود دي هغه دي ورتقسیم کړي مشر زوی ته د هیڅ خنډ او مانع جوړېدلو حق نشته فقط

(۱) الدر مع الرد: ٤/٥٧٣ کتاب الهبة. ط رشیدیه

سوال: (۵۴) ... (الف) مورث په دې خیال چې زما له مرګه وروسته داسې نه چې جنګ او جګړې وي جائیداد بې وزامنو ته وروو بښي او د صحراء د ځمکو قیمت بې ولګاوی و هلکانو او انجونو ته ورجلا کړي نو مورث به ګنهکار وي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۹۰۳هـ)

(ب) د مورث په ژوند کې که بچیان پخپله خوښه حق سره وو بښي مورث د همدې سره سم لیک ورکړي نو مورث ګنهکار دی او کنه؟

ځواب: (الف) د جګړو د ختمولو په وجه که مورث پخپل ژوند کې جائیداد خپلو بچیانو ته وروو بښي نو دا ډیره ښه ده او په در مختار کې راغلي دي که مورث پخپل ژوند کې خپل جائیداد او ترکه و اولاد ته ور تقسیم کړي نو افضل دا دی چې هلک او انجلۍ ته برابري برخي ورکړي لا باس بتفضیل بعض الاولاد فی المحبة لانها عمل القلب و کذا فی العطایا ان لم یقصد به الاضرار و ان قصده یسوی بینهم یعطی البنت کالابن عند الثانی و علیه الفتوی الخ په شامي کې راغلي دي: قوله: (و علیه الفتوی) ای علی قول ابی یوسف من ان التنصیف بین الذکر و الانثی افضل من التثلیث الذی هو قول محمد، رملي. (۱)

(ب) که ټول وارثان بالغان وي او پخپله خوښه سره وو بښي او مورث د همدغه تقسیم سره سم لیک ورکړي نو دا هم جائز او مستحسن دی.

واولادو ته د هبه کولو په اړه د احنافو مذهب

سوال: (۵۵) عبد الجلیل د خپل مشر نابالغ زوی په نوم دوه زره دوه سوه دروخلوېښت روپۍ او د کشر زوی په نوم اووه سوه یو پنځوس روپۍ په بینک کې جمع کړې ګو پخپل ذهن ده هبه وکړه ما د فقهي کتاب "فقه محمدیه طریقهٔ احمدیه" لیکوال مولوي محی الدین صاحب لاهوري وکاتی په هغه کې دا لیکلي دي چې اولادو ته هبه کول جائز دي لیکن ټولو ته برابر ورکول واجب دي که یو ته کم او بل ته زیات ورکړو یا بې یو ته ورکړو او بل ته یو مخ هیڅ شی ورنکړي نو دا هبه باطله ده او و خپل زوی ته کړې هبه کې رجوع کول جائز ده دا دواړې خبري صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۱هـ)

---

(۱) الدر و الرد ۵۷۳/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

ځواب: په ياد شوي کتاب کي چي دا ليکلي دي چي د برابري نه کولو په صورت کي هبه باطليږي دا د احنافو مذهب نه دی د احنافو مذهب په دې اړه دا دی چي په بچيانو کي بېرته ورکول او بل ته نه ورکول بېشکه منع او مکروه دي بلکه ټولو بچيانو ته دي ورکړي او په دې کي دوه قوله دي چي زوی او لور ته دي برابر ورکړي که د للذکر مثل حظ الانثيين په حساب ورکړي اول قول د امام ابو يوسف رحمه الله دی او دوهم قول د امام محمد رحمه الله دی او فتوی د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول ده او که يو ته ورکړي و بل ته يې نکړي ورنو چا ته چي ورکړو هغه مالک ګرځي مګر ورکونکی ګنهکار دی چي ده ټولو ته نکړه ورا و دغه راز په دغه کتاب کي چي دا خبره ليکلې ده چي پلار و زوی ته کړې هبه کي رجوع کولای شي دا هم د احنافو د مذهب په خلاف دي د احنافو مذهب دا دی چي ذو رحم محرم ته چي کوم څه هبه کړل شو هغه بيرته نشي ځني اخيستلای په در مختار کي راغلي دي: و في الخانية: لا باس بتفضيل بعض الاولاد في المحبة لانها عمل القلب و كذا في العطايا ان لم يقصد به الاضرار و ان قصد يسوى بينهم يعطى البنت كالابن عند الثاني و عليه الفتوى و لو وهب في صحته كل المال للولد جاز و اثم الخ و في الشامي: (قوله و عليه الفتوى) اى على قول ابي يوسف من ان التنصيف بين الذكر و الانثى افضل من التثليث الذى هو قول محمد رحمه الله الخ(١) (شامي) او په موانع رجوع عن الهبة کي ليکلي دي: و القاف: القرابة فلو وهب لذى رحم محرم منه... لا يرجع الخ(٢) (در مختار)

وزوی ته تر لور زيات ورکول

سوال: (٥٢) يوه ښځه پخپل ژوند کي و خپل زوی او لور ته جائيداد ور و بښل غواړي او چونکه پخپله د زوی سره اوسېدل غواړي ځکه تر لور و زوی ته زيات ورکول غواړي دا سي جائز دي او کنه؟ (١٣٤١/١٨٢٢ھ)

ځواب: د بيان شوي مصلحت په وجه دا سي کول صحيح دي او ځيني فقهاء دا فرمايي چي زوی ته تر لور دوه چنده ورکول پکار دي يعني [للذكر مثل حظ الانثيين] (سورة نساء، آيت۱۱) فقط

---

(١) الدر و الرد ٥٧٣/٤ كتاب الهبة. ط رشيديه

(٢) الدر مع الرد٥٧٨/٤ كتاب الهبة، باب الرجوع في الهبة. ط رشيديه

و یو زوی ته زیاتوب ورکول کله صحیح کیږي؟

سوال: (۵۷) زما درې زامن دي دوه زامن غټان او کارکوني دي د ربیم کشر زوی زما سره دی چي تر اوسه زمونږ د خدمت په وجه بې کاره ؤاو مقروض هم دی هغه وایي چي نیم جائیداد ماته راکړئ تر څو یې زه خرڅ کړم خپل قرض په ادا کړم او په نورو روپیو تجارت وکړم داسي شرعًا څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۹۷۳هـ)

ځواب: که د بیان شوي ضرورت په وجه و کشر زوی ته زیاتوب ورکول شي چي د ی ضرورت مند دی نو شرعًا داسي صحیح دي په در مختار کي راغلي دي که بل زوی ته ضرر رسول مقصد نه وي بلکه د زیات حاجت په وجه و یو زوی ته زیات ورکړي نو دا صحیح دي پر دې په آخرت کي مؤاخذه نشته و فی الخانیة: لا باس بتفضیل بعض الاولاد فی المحبة لانها عمل القلب و کذا فی العطایا ان لم یقصد به الاضرار الخ(۱) (در مختار) فقط

بدعمله زوی محرومول

سوال: (۵۸) یو هلک د خپل پلار نافرمان او سپکاوی کونکی دی پلار غواړي چي دی له جائیداد څخه محروم کړي داسي کول څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۸۳هـ)

ځواب: داسي نه دي کول پکار خپل زوی له خپل جائیداد څخه محرومول نه دي پکار او د ده لپاره دعا کول پکار دي چي دی د پلار خدمت وکړي او فرمان بردار شي د نافرمانۍ ګناه د ده په غاړه ده لیکن که دی محروم کړي نو د میراث قطع کولو ګناه به د پلار په غاړه وي او په حدیث شریف کي راغلي دي: من قطع میراث وراثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة الحدیث(۲)

سوال: (۵۹) یو هلک و خپل پلار ته ښکنځاوي وکړي او دا یې ورته وویل چي خوله دي چنجنه شه ته حرامي یې نور او نورو داسي بې ادب زوی ته پلار له خپل جائیداد څخه برخه ورکول نه غواړي او دی خپل

---

(۱) الدر مع الرد: ۵۷۳/٤ کتاب الهبة. ط رشیدیه

(۲) مشکوة المصابیح ص:۲۶۶ باب الوصایا

جائیداد پر نورو زامنو وېشل غواړي دا سې کول څنګه دي؟ (۲۵۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: و مور او پلار ته "اف" و یل هم منع دي په قرآن شریف کې راغلي دي: او لا تقل لهما اف] (سورة بنی اسرائیل، آیت: ۲۴) نو مور او پلار ته نښکنځل کول او د دوی نافرماني کول کبیره ګناه ده او په حدیث شریف کې راغلي دي: لا یدخل الجنة عاق او کما قال صلی الله علیه وسلم (۱) یعني د مور او پلار نافرمان جنت ته نه ځي یعني اولي دخول ورته نصیب نشي او هو محمول علی الاستحلال لیکن د دې ټولو سره پلار ته نه دي پکار چې نورو زامنو ته مال ور ووېشي او دی محروم کړي دا جائز نه دي او دې ته رسول الله صلی الله علیه وسلم جور او ظلم فرمایلي دي. فقط

بې لمانځه او لوڅک زوی محرومول

سوال: (۲۰) یو هلک لمونځ نه کوي کبوتري الوزوي د ده پلار غواړي چې دی له جائیداد څخه محروم کړي د ده برخه و نوور زامنو ته ورکړي یا یې کوم بل د خیر په کار کې مصرف کړي؟ (۸۱۵/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د غه هلک له میراث څخه محرومول نه دي پکار دا ډېره غټه ګناه ده د ده لپاره دعا کول پکار ده چې الله رب العزت ورته هدایة وکړي نور له میراث څخه مه محروموي ځکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة او کما قال صلی الله علیه وسلم (۲) یعني کوم چا چې د خپل وارث میراث قطع کړی او هغه یې محروم کړی الله تعالی به دی له جنت څخه محروم کړي. فقط

لور محرومول او لمسیانو ته هبه کول

سوال: (۲۱) د یو سړي درې لوڼې دوه زامن ؤ ده ټولو ته ودونه

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم. لا یدخل الجنة منان و لا عاق و لا مدمن خمر. رواه النسائی و الدارمي (مشکوة المصابیح ص: ۴۲۰ کتاب الادب باب البر و الصلة)

(۲) مشکاة المصابیح ص: ۲۶۶ باب الوصایا

وروکړو خو دوه زامن او دوې لوڼې د ده په ژوند کې وفات شو ده خپل جائیداد و خپلو دواړو لمسیانو ته هبه کړی او کومه لور چې ژوندۍ وه د هغې لپاره هیڅ برخه نه پرېښوده ایا شرعًا په داسې صورت کې څه برخه د لور هم کیږي؟ (۱۳۳۵/۴۳ھ)

ځواب: ترکه شرعًا د مورث له مرګه وروسته تقسیمیږي او په هغه کې لور لمسیان ټول حق لري د مورث په ژوند کې د کوم وارث حق د مورث په مال کې نه وي یعنې د میراث په توګه لهذا که لمسیانو ته د جائیداد څه برخه ورکوي نو دوی مالکان ګرځي لیکن د هبې صحیح کیدو دا شرط دی چې هبه به د مشاع نه وي یعنې کوم جائیداد او نور چې هبه شي هغه به تقسیم شوي وي مشترک به نه وي او هر یو لمسي ته به جلا جلا ورو بشي او قبضه به هم ورکوي که دوی نابالغان وي نو د نیکه قبضه کافي ده لنډه دا چې منقسم او محدود کېدل د سرای او ځمکي د هبې لپاره ضروري دي که داسې و نه شول بلکه د مشترک هبه وکړل شوه نو هغه شرعًا صحیح او نافذه نه ده ماتوي به یې او د غه فعل د دغه سړي چې لمسیانو ته ورکړه و لور ته ورنکړه څرګند ظلم دی او معصیت دی په حدیث شریف کې دې ته جور ویلي دي. (۱) فقط و الله تعالی اعلم

د زوی په موجودیت کي ټول جائیداد و لمسي ته ورکول

سوال: (۲۲) یو سړي زید د خپل زوی عمر په موجودیت کي خپل ټول جائیداد و خپل لمسي (د عمر زوی) بکر ته په دې اند ښنه هبه کړی چې عمر مقروض دی داسې نه چې له ما څخه وروسته جائیداد لیلام شي و بکر ته دغه هبه کول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۲۲ھ)

ځواب: که د هبې صحیح کیدو شرطونه (یعني د موهوبه نامشاع کېدل او موهوب له قبضه که بالغ دی یا قبضه د ده د ولي وه نابالغ دی) موجود شي نو هبه صحیح ده. هکذا فی کتب الفقه(۲) فقط

(۱) عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: الک بنون سواه؟ قال: نعم، قال: فکلهم اعطیت مثل هذا؟ قال: لا، قال: فلا اشهد علی جور(الصحیح لمسلم: ۳۷/۲ کتاب الهبات، باب کراهة التفضیل بعض الاولاد فی الهبة)

(۲) و شرائط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضا غیر مشاع ممیزا غیر مشغول(الدر مع الرد ۵۶۷/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه)

لا یتم حکم الهبة الا مقبوضة و یستوی فیه الاجنبی و الولد اذا کان بالغا هکذا فی المحیط=

وراره محرومول او ټول جائیداد د لور و زوی ته ورکول

سوال: (۲۳) یوه ښځه سړه د دې چې وراره یې موجود دی و خپل لمسي (د لور زوی) ته خپل ټول جائیداد یا دوې دریمې یا یوه دریمه ورکول غواړي دا جائز دي او کنه؟ (۵۲۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: وارره بالکل محرومول او ټول جائیداد و لسمي (د لور زوی) ته ورکول مکروه او ناوړه کار دی مناسب دا دی چې یو ثلث و لمسي ته ورکړي یا وصیت وکړي نور و وراره ته ورکړي.

وزامنو ته کړې هبه لوښي ماتولای شي او کنه؟

سوال: (۲۴) یو سړي خپل جائیداد صرف وزامنو ته هبه کړی نو لوښي دغه هبه ماتولای شي او کنه؟ (۱۲۵۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: که په شرعي قاعده هبه صحیح شوې ده یعني دا چې هبه د مشاع نه ده او و موهوب لهم ته جلا جلا و هر یوه ته د خپلي برخي قبضه ورکول شوې ده نو شرعًا لوښي داسي هبه نشي ماتولای که څه هم هبه کونکی پخپل په دغه فعل کي ګنهکار شو مګر هبه صحیح شوه ماتبدلای نشي او که هبه تامه شوې نه وي مثلاً ورتقسیم کړې نه دی یا یې قبضه نه ده ورکړې نو داسي هبه باطله ده په داسي صورت کي انجوني د خپلو برخو حق لري دعوی د دوی په داسي حالت کي صحیح ده. فقط

وغیر وارث ته خپل ټول مال هبه کول

سوال: (۲۵) زید د صحت پر مهال د وارث په موجودیت کي غیر وارث د خپل ټول مال او سامان مالک جوړ کړی داسي شرعًا جائز دي او کنه؟ (۲۴۲۸/۱۳۴۰ھ)

ځواب: کــه د هبــې پــه وســیله مالــک جــوړ کــړی دی نــو پکــي دا تفصــیل دی چــې کــه هبــه د مشــاع نــه ده نــو صــحیح

=(الفتاوى الهندية ٣٧٧/٤ كتاب الهبة، الباب الثاني فيما يجوز من الهبة و ما لا يجوز) و هبة من له ولاية على الطفل في الجملة... تتم بالعقد. لو الموهوب معلوما و كان في يده او يد مودعه لان قبض الولي ينوب عنه (الدر المختار مع الشامي: ٥٧١/٤ كتاب الهبة. ط رشيديه)

او نافذه ده او که هبه د مشاع ده نو صحیح نه ده او داسې کار شرعًا مذموم او ممنوع دی چې وارثان محروم کړي او ټول مال و اجنبي سړي ته ورکړي په حدیث شریف کې پر دې وعید راغلی دی. (۱) فقط

د وفات شوي هلک برخه د ده و لور او ښځې ته ورکول

سوال: (۲۶) د زید څلور زامن ؤ او لس کاله کیږي چې دوه وفات شوي دي په دوی کې یوه واده کړی ؤ د دوو میاشتو یوه لور یې پاتې شوه زید له خپل جائیداد څخه که د دغه انجلۍ د پلار له برخې څخه د ده و ښځې او لور ته ورکړي نو څنګه به وي؟ (۱۳۴۵/۲۳۰۸هـ)

ځواب: زید په خپل ژوند کې د خپل ګټلي او پدري جائیداد مالک او مختار دی و ده ته په خپل ژوند کې د هر ډول تصرف کولو اختیار دی لهذا که زید له خپل جائیداد څخه د خپل وفات شوي زوی و لور او کونډې ته څه ورکړي نو داسې جائز دي او شرعًا زید ته دا حق شته او زید په دې کې نه ګنهکاریږي او د صله رحمۍ په نیت داسې کولو زید ته ثواب ورکول کیږي فقط

د سرای هبه په عوض کول او ټول ژوند پکې اوسېدلو شرط لګول

سوال: (۲۷) یو سړي خپل مکان و زید ته هبه کړی او پنځوس روپۍ یې په عوض کې له موهوب له څخه واخیستې او د هبې په پاڼه کې دا هم شرط لیکلی دی چې تر مرګه به زما په قبضه کې وي زما له وفات وروسته به د موهوب له قبضه وي په داسې صورت او شرط کې هبه جائز شوه او که؟ (۱۳۴۳/۲۵۱۵هـ)

ځواب: شرعًا هبه صحیح نه شوه ځکه چې دا هبه بشرط العوض شوه کومه چې که څه هم انتهاء د بیع په حکم کې دی مګر ابتداءً د هبې حکم لري چې پکې فی الحال د موهوب له و قبضې ته ضرورت دی او قبضه په دغه صورت کې نه ده شوې شامي له خانې څخه رانقل کړي دي وهب لرجل عبدًا بشرط ان یعوضه ثوبًا ان تقابضا جاز و الا لا(۲) (شامي ۵۱۶/۴) و فی الخانیة: فان کانت الهبة بشرط العوض یشترط

---

(۱) و عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة رواه ابن ماجة(مشکاة المصابیح ص:۲۶۶، باب الوصایا)

(۲) الشامی: ۵۷۶/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه

لها شرائط الهبة في الابتداء... و لا يثبت لها الملک قبل القبض الخ(۱) (خانية: ۳/ ۲۷۰) و في الهداية: و اذا وهب بشرط العوض اعتبر التقابض في المجلس في العوضين و يبطل بالشيوع لانه هبة ابتداء الخ(۲)

د مهر په عوض کي خپل جائيداد و ښځي ته په شرط سره هبه کول

سوال: (۲۸) که خاوند د مهر د دين په عوض و خپلي ښځي ته جائيداد هبه کړي او د هبې په پاڼه کي دا شرط وليکي چي بې زما له خوښي و ښځي ته د دې د خرڅولو او هبه کولو اختيار نشته په داسي شرط سره ايا په هبه کي نقصان راځي او کنه؟ که زوجه دغه موهوبه جائيداد خرڅ کړي نو بيع صحيح ده او کنه؟ او د خاوند و قريب ته چي هغه هم شريک في المبيع دی حق د شفعي شته او کنه؟ (۱۳۳۵/۴۵۷هـ)

ځواب: د مهر د دين په عوض هبه کول بيع ده او بيع په فاسد شرط فاسديږي او په فاسد بيع کي د مبيع تر قبضي وروسته د مشتري ملک راځي ليکن که ښځي تر قبضه کولو وروسته دغه جائيداد خرڅ کړی بيع صحيح کيږي او شريک في المبيع ته حق د شفعي شته.

په هبه بالعوض کي که عوض مجهول وي

سوال: (۲۹) زيد و خپلي ښځي هندې ته وويل چي اوس زما آخره ده ناجوړه او په بدن کي مي ضعف او کمزوري ده اراده مي ده چي پاته ژوند په سيل منظرو او سفر کي تېر کړم که ته ماته تر مرګه په کال کي پنځه اويا روپۍ راکوې نو زه به د دې په عوض تاته ټول جائيداد هبه کړم مګر دغه مشاهره د هر کال په آخري مياشته کي چي چيري زه يم هلته به راليږې خپل سند به اخلي او زما له مرګ وروسته دغه مشاهره في سبيل الله خيراتوه او دغه بالعوض به ستا له مرګ وروسته ستا و وارثانو ته نقل شي نو ښځه او خاوند په دغه هبه سره راضي شو دا هبه بالعوض ده که څه دي؟ (۱۳۴۲/۲۷۷۳هـ)

ځواب: قال في الهداية: و اذا وهب بشرط العوض اعتبر التقابض في المجلس في

(۱) الفتاوی الخانية مع الهندية: ۳/ ۲۷۹ کتب الهبة، فصل في العوض.

(۲) الهداية: ۳/ ۲۹۱ کتاب الهبة، باب ما يصح رجوعه و ما لا يصح.

العوضين و يبطل بالشيوع لانه هبه ابتداءً فان تقابضا صح العقد و صار فى حكم البيع يرد بالعيب و خيار الرؤية و يستحق فيه الشفعة لانه بيع انتهاءً الخ(١) (٢٨٨/٢-٢٨٩) و فى الدر المختار: و اذا وقعت الهبة بشرط العوض المعين فهى هبة ابتداءً فيشترط التقابض فى العوضين و يبطل العوض بالشيوع فيما يقسم. بيع انتهاء فترد بالعيب و خيارالرؤية و تؤخذ بالشفعة هذا اذا قال: و هبتک على ان تعوضنى كذا اما لو قال: و هبتک بكذا فهو بيع ابتداءً و انتهاءً و قيد العوض بكونه معينا لانه لو كان مجهولا بطل اشتراطه فيكون هبة ابتداءً و انتهاءً الخ(٢) نو د در مختار له عبارت "لانه لو كان مجهولا بطل اشتراطه الخ" څخه معلوم شو چي په دغه هبه کي د مجهول عوض شرط لګول باطل دي او دا ښکاره ده چي په دغه صورت کي عوض مجهول دی ځکه چي مشاهره به څو مره اخلي د هغه مقدار معلوم نه دی ځکه چي د عمر موده معلومه نه ده لهذا څومره مشاهره چي به د خاوند تر مرګه ښځه و ده ته ورکوي هغه به له نوي سره هبه وي او له مرګ وروسته د خاوند وصيت نه صحيح کيږي او پر ښځه د دغه مشاهرې مقدار خيراتول نه واجبيږي نو معلوم شو چي دا نه وقف دی او نه صحيح وصيت فقط

په هبه کي رجوع کول څنګه دي؟

سوال: (٧٠) زيد و عمر ته يو سرای هبه کړی د هبې پاڼه ور وليکله او س زيد له خپلي هبې څخه رجوع کول غواړي آيا شرعًا بې کولای شي؟ او په هبه کي د رجوع کوم صورتونه دي؟ (١٣٣٧/٩٧١هـ)

ځواب: له هبه کولو وروسته که کوم مانع عن الرجوع موجود نه شي نو عند الحنفية هبه کونکی پخپله هبه کي رجوع کولای شي يعني د قاضي په حکم يا د طرفينو په رضا رجوع کولای شي ليکن رجوع په هبه کي کول مکروه دي او څه شيان له رجوع څخه مانع دي که په هغوی کي کوم شی موجود شي نو بيا رجوع نشي کيدلای له هغه موانع څخه د هبه کونکي مرګ هم دی نو که هبه کونکی وفات شو نو د ده وارث رجوع نشي کولای فى الدر المختار: و الميم موت احد العاقدين الخ(٣) او له دغه موانعو څخه قرابت هم دی مثلاً پلار يا نيکه و خپلو

---

(١) الهداية: ٢٩١/٣ كتاب الهبة، باب ما يصح رجوعه و ما لا يصح.

(٢) الدر المختار مع الرد: ٥٧٩/٤ كتاب الهبة باب الرجوع فى الهبة. ط رشيديه

(٣) الدر المختار مع رد المحتار: ٥٧٦/٤ كتاب الهبة باب الرجوع فى الهبة. ط رشيديه

بچیانو یا د بچیانو و بچیانو ته کړې هبه کې رجوع نشي کولای کذا فی الدر المختار.(۱)

له وروړ څخه خپل هبه کړې جائیداد اخیستل جائز نه دی

سوال: (۷۱) ... (الف) زید و خپل وروړ بکر ته خپل څه منقول او نامنقول جائیداد ځمکې، سرایونه او حیوانان د پخوانې احسانو په عوض هبه کړو او بکر ته یې قبضه هم ورکړه د هبې شرط دا ؤ چې بکر به د زید تر مرګه د زید پالنه کوي او د زید د لور واده به هم پخپل مصرف ورکوي د قبضې او هبې له پاڼې لیکل کېدو وروسته بکر د هبې شرطونه عملي نکړو بلکه د هغه په خلاف یې وکړو په دې وجه زید له هبې څخه عملي رجوع دا ډول وکړه چې پر موهوبه جائیداد باندې قبضه وکړه نو آیا په دا سې صورت کې زید په هبه کې رجوع کولای شي او کنه؟ او د داسې رجوع او قبضې به شرعًا څه حکم وي؟

(ب) د زید و خپل وروړ بکر ته د مخکېنیو احسانو په عوض جائیداد هبه کول شرعًا هبه بالعوض ده که بلا عوض؟ (۱۳۳۸/۳۵۸ھ)

ځواب: (الف) په دغه صورت زید و خپل وروړ موهوب له ته کړې هبه کې رجوع نشي کولای ځکه چې مانع عن الرجوع قرابت هم دی کذا فی الدر المختار. (۲)

(ب) د هبې له پاڼې څخه معلومېږي چې دا هبه بالعوض ده. (۳) فقط

---

(۱) و یمنع الرجوع فیها حروف "دمع خزقة" یعنی الموانع السبعة الاتیة فالدال: الزیادة المتصلة... و المیم موت احد العاقدین... و العین: العوض... و الخاء: خروج الهبة عن ملک الموهوب له... و الزای: الزوجیة وقت الهبة... و القاف: القرابة فلو وهب لذی رحم محرم منه نسبا... لا یرجع... و الهاء: هلاک العین الموهوبة اخ (الدر المختار مع رد المحتار: ۴/ ۵۷۶ کتاب الهبة باب الرجوع فی الهبة. ط رشیدیه)

(۲) و القاف: القرابة فلووهب لذی رحم محرم منه نسبا... لا یرجع (الدر المختار مع الشامی: ۴/ ۵۷۶ کتاب الهبة باب الرجوع فی الهبة. ط رشیدیه)

(۳) او په هبه بالعوض کې هم رجوع نشي کېدلای نو په مسئوله صورت کې د رجوع څخه دوه موانع موجود دي: قرابت محرمه او د هبې بالعوض و الی ۱۲ سعید احمد پالن پوري

آیا خاوند و ښځي ته هبه کړي شیان په زور اخیستلای شي؟

سوال: (۷۲) زید څه روپۍ او څه جائیداد خمکه، سرای او باغ او نور و خپلي ښځي هندي ته ورکړو مګر څه موده وروسته په غصه شو نغدي روپۍ یې په زور ځني واخیستلي ګو د هندي خوښه نه وه او هسد غه حال د ځمکو هم دی داسي کار شرعاً د زید څنګه دی؟ آیا دی له هندي څخه په زور د غه شیان اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۵/۴۱۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: العائد في هبته كالكلب يعود في قيئه ليس لنا مثل السوء رواه البخاري عن ابن عباس رضي الله عنهما(۱) له دي څخه معلوم شو چي رجوع په هبه کي کول مکروه دي(۲) و هكذا في كتب الفقه(۳)

ولمسي ته کړي هبه کي رجوع کول

سوال: (۷۳) د یوي ښځي لور او زوی ژوندي دي او خپلي لمسۍ (د زوی لور) ته خپل ټول جائیداد هبه کړی لمسۍ دا وعده ورسره کړي وه چي ستا تر ژوند به و تا ته ډوډۍ او جامي درکوم او موهوب لها د دي په عوض کي هیڅ ورنکړو لهذا هبه کونکې هبه کړی جائیداد بیرته غواړي په دغه صورت کي رجوع جائز ده او کنه؟

(۱۳۳۵/۹۲۷هـ)

ځواب: په مذکوره هبه کي که د هبي صحیح کیدو شرطونه موجود شوي دي مثلاً دا چي هبه د مشاع نه ده نو دا هبه صحیح شوه او عوض خو مجهول ؤ لهذا دا شرط باطل شو او چونکه دغه هبه و ذي رحم محرم ته و شوه لهذا رجوع په دي کي نه صحیح کیږي قال في الدر المختار: و قيد العوض بكونه معينا لانه لو كان مجهولا بطل

---

(۱) صحيح البخاري ۱۰۳۲/۲ كتاب الحيل، باب في الهبة و الشفعة.

(۲) بلکه زوجیت د رجوع له موانع څخه دی ځکه رجوع یو مخ کولای نشي. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۳) في الفتاوى الغياثية: الرجوع في الهبة مكروه في الاحوال كلها الخ(الفتاوى الهندية: ۳۸۵/٤ كتاب الهبة. الباب الخامس في الرجوع في الهبة و فيما يمنع عن الرجوع و ما لا يمنع)

اشتراطه فیکون هبة ابتداءً و انتهاءً الخ(۱) و ایضا فیه: فلو وهب لذی رحم محرم منه نسبا لا یرجع(۲) فقط

له متصل زیاتوب وروسته په هبه کې رجوع نشي کېدلای

سوال: (۷۴) زید خپل یو سرای سره د څه ځمکي د ګواهانو په مخ کي و عمر ته هبه کړی عمر له قبضي وروسته په جوړ شوي سرای کي هم کار وکړی مات ځایونه یې جوړ کړو او په ورسره ځمکه کي هم سرای جوړ کړی نو په مسئوله صورت کي زید له عمر څخه دغه موهوبه شیان شرعًا اخیستلای شي او کنه؟ (۱۹۲۲/۱۳۴۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي زید له عمر څخه موهوبه شیان نشي اخیستلای لان الزیادة المتصلة کالبناء و الغرس مانعة عن الرجوع قال فی الدر المختار ای من الموانع فالدال الزیادة المتصلة الخ کبناء و غرس الخ(۳) فقط

و مطلقي ښځي ته هبه کړي جائیداد کي رجوع کول

سوال: (۷۵) زید خپله ښځه طلاقه کړه مهر یې ورکړی او یو څه جائیداد یې د نان او نفقي لپاره و دي ته ورکړی نو د طلاق او مهر له ادا کولو وروسته دغه ښځه شرعًا د نان او نفقي حق لري او کنه؟ او دغه جائیداد د خاوند بیرته اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۷۷۸هـ)

ځواب: له طلاق وروسته که ځمکه او جائیداد ورکړي نو د هبې په توګه هغه د ښځي ملک شو اوس په زور او د قانون په توګه خاوند نشي اخیستلای که په خوښه ورکړي نو سره له کراهیته اخیستل روا دي

و زوی ته هبه کړي سرای کي پلار د ضرورت په وجه رجوع نشي کولای

سوال: (۷۶) د زید پلار یو سرای د زید په نوم رانیوی او ده ته یې ورکړی اوس د کوم

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۵۷۹/۴ کتاب الهبة باب الرجوع فی الهبة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الشامي: ۵۷۸/۴ کتاب الهبة باب الرجوع فی الهبة. ط رشیدیه

(۳) ملخصا عن الدر المختار مع الشامي: ۵۷۴/۴-۵۷۵ کتاب الهبة، باب الرجوع عن الهبة. ط رشیدیه

ضرورت په وجه پلار له زید څخه دغه سرای بیرته اخیستلای او خرڅولای شي کنه؟
(۵۰۰ د ۱۳۴۵هـ)

ځواب: کوم سرای چي زید ته ورکول شو او د زید په نوم رانیول شو هغه د زید ملک دی د زید پلار یې بیرته نشي اخیستلای او بې د زید له اجازې یې نشي خرڅولای.

یو ملګري وبل ملګري ته په ورکړې شي کي د اختلاف په صورت کي رجوع کولای شي او کنه؟

سوال: (۷۷) که د دوو کسانو تر منځ داسي انډیوالي وي چي دوی خپل شی و یو بل ته ورکوي که د دوی تر منځ بې اتفاقي راشي نو دوی د خپلو شیانو حق لري او کنه؟ او خپل شی له یو بل څخه اخیستلای شي او کنه؟ (۴۰۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: که هر یو خپل شی و بل ته هبه کړی ؤ نو له قبضې وروسته هغه مالک شو بیرته اخیستل ښه نه دي او کومه معاوضه چي د دې اخیستې ده یعني ده هم د هغه په عوض کي کوم شی ورهبه کړی نو بیرته اخیستل جائز هم نه دي او که هر یو و بل ته د عاریت په توګه او د استعمال لپاره خپل شی ورکړی ؤ نو هغه بیرته اخیستلای شي او له غوښتلو وروسته نه ورکونکی ګنهکار دی.

بدچلنده ښځي چي د حرام مال په عوض کومه ځمکه رانیولې ده هغه د قرآن شریف په عوض هبه کول

سوال: (۷۸) بد چلنده ښځي په حرام مال ځمکه رانیولې وه اوس هغه د قرآن شریف او تسبیح په عوض هبه کوي داسي هبه څنګه ده؟ په دې کي د قرآن شریف سپکاوی راځي او کنه؟ او که په دغه مسئله کي کومه حیله وکړله شي نو د موهوب له لپاره دغه هبه روا کیږي او کنه؟ (۱۳۳۵/۸۸هـ)

ځواب: بدچلندي ښځي چي په حرام مال کومه ځمکه رانیولې وه د هغې دا مالکه شوه مګر خباثت او ناوړتیا په دې کي ضرور شته بیا چي دغه ځمکه هبه کړه یا یې خرڅه کړه نو موهوب له یا مشتري د دې مالک

شو نه دي کي معاذ الله د قرآن مجيد سپکاوی نسته او د دغه ځمکې د هبې په بيع لپاره
د کومي حيلي په ضرورت نسته فقط والله تعالى اعلم

د کومي هبې د پاڼې چې ټول ګواهان وفات شوي وي يا نه وي هغې ته اعتبار شته او کنه؟

سوال: (۷۹) (الف) يو د هبې پاڼه د داسي وخت ليکل شوې ده چې د هغه ټول ګواهان وفات شوي دي ليکن هغه د هبې پاڼه د قاضي په محکمه کې خوندي ده د موهوب له قبضه هم پر موهوبه جائيداد را روانه ده آيا داسي د هبې پاڼه ثبوت کيدلای شي؟

(ب) که کوم څوک په شرعي محکمه کي داسي کاغذ ولري چې پر هغه ګواهان نه وي او نه هغه د قاضي له محکمې څخه راوتلي وي او دا کاغذ د هغه کاغذ په خلاف وي کوم چې د قاضي له محکمې څخه راوتلي وي نو داسي کاغذ ور د تسليم دی او کنه؟
(۱۴۰۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) داسي د هبې پاڼه معتبره کيدلای او د ثبوت لپاره کافي ده.

(ب) داسي کاغذ ته شرعًا اعتبار نشته. فقط

د ګوزڼ وهلي سړي پخپل جائيداد کي د بيع. هبې. محابات او نور تصرفات کول

سوال: (۸۰) زيد ګوزڼ وواهی تر څو مياشتو مريض ؤ علاج يې کاوی د الله رب العزت فضل ورباندي وشو بيا جوړ شو ليکن دغه مرض چې پر چا راشي زياتره له جوړېدو وروسته بيا ورباندي راوګرځي ځکه احتياطًا زيد له سفر باهر تګ راتګ او نورو څخه پرهېز وکړی او په دغه زمانه کي ده خپل جائيداد پر خپلو زامنو ډېر په ارزانه بيه خرڅ کړی تر څو انجوني په دغه مبيعه جائيداد کي برخه يو نشي او له بيع کولو وروسته زامن خو نا بالغان ؤ په کاروبار او تجارت پوهه نه ؤ ځکه دوی په حيث زيد پخپله انتظام کاوی او د دغه انتظام په عوض يې د مياشتي سل روپۍ تنخواه اخيسته په دا طريقه يې دوه کاله يا زياته موده کار وکړی بيا ګوزڼ وواهی تر څو مياشتو پوري مريض ؤ بيا جوړ شو ليکن په دې وار داسي شو چې اوس يې کار او نور نه شوای کولای بيا ګوزڼ وواهی او ناروغي يې زياتېده آخر پای زيد وفات شو زيد چې کوم تصرفات بيع او نور د صحت په حالت کي کړي دي او له دې وروسته د ملازم په حيث

د تجارت کار هم تر ډیرو ورځو کاوی دا به جائز او نافذ وي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۸هـ)

ځواب: زید چي کوم تصرف پخپل جائیداد کي د بیع، هبې، محابات او نورو پخپل صحت کي وکړو دا تصرف صحیح دی لیکن زید د دغه فاسد نیت په وجه چي لونړو ته په جائیداد کي برخه ونه رسي عاصي او ګنهکار دی کما فی الدر المختار: و لو وهب فی صحته کل المال للولد جاز و اثم الخ(۱) او څرګند ونه دي وي چي د پوښتني کونکي د بیان سره سم زید چي ګوزڼ وواهی او له علاج وروسته جوړ شو او تر دوه کاله پوري جوړ ؤ او د همدغه جوړتیا پر مهال ده دغه بیع په محابات سره یعني په کم قیمت وکړه نو په دغه حال کي زید په حکم کي د روغو خلګو دی او بیع، محابات. هبه او نور ده د وارثانو په نوم صحیح دي قال فی الدر المختار: و المقعد و المفلوج و المسلول اذا تطاول و لم یقعده فی الفراش کالصحیح ثم رمز شح(ای شمس الائمة الحلوانی) حد التطاول سنة انتهی و فی الشامی: و فسر اصحابنا التطاول بالسنة فاذا بقی علی هذه العلة سنة فتصرفه بعدها کتصرفه فی حال صحته الخ(۲) (شامي: ۵۲۱/۲) و فیه ایضا عن الهندیة: المقعد و المفلوج ما دام یزداد ما به کالمریض فان صار قدیما و لم یزد فهو کالصحیح الخ(۲) نو کله چي زید په منځ کي دوه کاله جوړ ؤ او مرض یې په دغه موده کي نه دی زیات شوی نو دی په حکم کي د روغ دی تصرف او تبرع د ده نافذ دي اما که د ده په مرض کي ورځ په ورځ زیاتوب راتلای او په منځ کي روغ کیدی نه او د مرض د زیاتوب په زمانه کي ده بیع کړې وای نو نه صحیح کیده. فقط

سوال: (۸۱) زید تر څو کلونو د ګوزڼ او نورو ناروغیو مریض ؤ د مرض په زمانه کي به منځ د څه وخت لپاره جوړ شو مرض به ځني لیري شو خو د جوړتیا په زمانه کي به هم د بستري د مریض په رنګه مریض ؤ یعني بې د بل له همکاری په کور کي د ننه هم نه شو ګرځیدلای تر څه مودې پوري چي همدا حال ؤ او ورځ په ورځ بې ناجوړي زیاتېده او زید له روغتیا څخه مایوس شو نو د متروکه جائیداد له شرعي تقسیم څخه بچاوولو په غرض زید د بیع یوه پاڼه د خپل جائیداد د زامنو په نوم ولیکله د بیع په پاڼه کي چي د جائیداد د خرڅولو کوم قیمت لیکلی دی هغه تر اصل قیمت ډېر زیات کم دی آیا په داسي حال کي کله چي زید له خپلي روغتیا څخه مایوس شوی ؤ ناجوړه ؤ او په مرض کي مړ هم شو زید

(۱) الدر المختار مع الشامی: ۵۷۳/٤ کتاب الهبة، قبل باب الرجوع فی الهبة. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار و الشامی: ۵٦٥/۲ کتاب الطلاق باب طلاق المریض. ط رشیدیه

چي د بيع كومه پانه د ډېر زيات جائيداد په ډېر كم قيمت د خپلو زامنو په نوم صرف په دي غرض وليكله چي نور وارثان شرعي برخه يو نه شي داسي بيع شرعًا څنګه ده؟ نور وارثان په دغه جائيداد كي شرعي برخه لري او كنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۹هـ)

ځواب: اقول و بالله التوفيق: په ګوزڼ او نورو مزمنه مرضونو كي كه يو كال يا له دي څخه زيات مريض شي او په دغه موده كي په مرض كي زياتوب نه وي بلكه مرض پر خپل ځاى ولاړ وي زيات شوى نه وي په همدي حال كي دى كومه تبرع، بيع، هبه، محاباة او نور د وارثانو لپاره وكړي نو دغه تصرفات د ده صحيح دي داسي سړى شرعًا مريض د مرض الموت نه بلل كيږي كه څه هم وروسته مريض شي او مرض زيات شي وفات شي كما في الدر المختار و فسر اصحابنا التطاول بالسنة فاذا بقى على هذه العلة سنة فتصرفه بعدها كتصرفه في حال صحته اهـ و في الهندية ايضا: المقعد و المفلوج مادام يزداد ما به كالمريض فان صار قديما و لم يزد فهو كالصحيح في الطلاق و غيره كذا في الكافي و به اخذ بعض المشائخ و به كان يفتي الصدر الشهيد... و حاصله انه ان صار قديما بان تطاول سنة و لم يحصل فيه ازدياد فهو صحيح الخ(۱) (۵۲۱/۲) فقط

د بيع په شكل د هبي حكم

سوال: (۸۲) ... (الف) كله چي څوک د كوم نامنقول جائيداد سراى او نور و چاته هبه كول غواړي نو د محكمي د قانون په وجه په هغه د بيع د پاني په صورت پيشوي د مبيع قيمت به د موهوب له په نوم هبه كوي كه څه هم د بيع په دغه پانه كي تقابض البدلين په ليک كي راځي ليكن زياتره تقابض البدالين نه وي بلكه دغه الفاظ صرف ليكل كيږي مثلاً بائع دا ليكي چي ما فلانى سراى فلانى جائيداد د دومره روپيو په عوض بيع كړى او قيمت مي د پدري شفقت په وجه وبخښى چونكه مقصد د هبه كونكي صرف د دغه جائيداد د موهوب له په نوم هبه كول وي نو په بيان شوي صورت كي به دغه عمل ته بيع ويل كيږي كه هبه؟

(ب) كه دا جائيداد نامنقوله مثلاً سراى دي او هبه كونكى له هبه كولو وروسته فارغ نه

---

(۱) الشامي ۲/ ۵٦۵ كتاب الطلاق، باب طلاق المريض. ط رشيديه

کړي او موهوب له ته قبضه نکړه ورنو شرعًا به دا هبه وي او کنه؟
(ج) او که د دغه سرای یو جزء مثلاً ثلث هبه کونکی هبه کړي او موهوب له ته معلوم نه وي چي ثلث د کوم طرف دی او ورباندي قبضه ونه وشوه نو په داسي صورت کي د دغه هبه صحیح کیږي او کنه؟
(د) که چا د یو سرای یو جزء د کوم ماشوم په نوم په مذکوره طریقه بیع کړو قیمت يې بېله تقابض و دغه ماشوم ته هبه کړی او د بیع د پاڼي لیکلو پر مهال کوم ولي د دغه ماشوم له لوري د قیمت د اخیستلو او ورکولو نه ؤ صرف بائع پخپله د بیع پاڼه په حکومت کي رسمي کړه دغه هبه یا بیع صحیح ده او کنه؟ (۱۷۲۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: (الف-ج) په دغه صورت کي دغه معامله بیع بلل کیږي او د قیمت دا هبه یعني اسقاط ګرځي په بیع کي تقابض البدلین شرط نه دی صرف په ایجاب او قبول بیع کیږي مثلاً بائع ووایي چي ما دا شی خرخ کړی او مشتري ووایي ما قبول کړی که څه هم د مشتري پر مبیعه قبضه لا تر اوسه نه وي شوې او ثمن ادا شوی نه وي او په بیع کي شیوع هم نه ده منع د سرای د ثلث او ربع بیع کیدلای شي که څه هم هغه ثلث او ربع متعین کړل شوې نه وي لنډه دا چي کله دا معامله بیع وبلل شوه نو په درې سره پوښتونو کي بیان شوي خبري د بیع لپاره خنډ او مانع نه دی
(د) که پلار د خپل نابالغ زوی سره بیع وکړي بیا خو صرف د پلار دومره وینا کفایت کوي چي ما پر خپل فلاني زوی دا شی خرخ کړی د قبول ضرورت هم نشته او که کوم بل څوک د بل پر بچي خرخ کړي نو د هغه له طرفه قبلول د هغه د ولي شرط دی و قبضې ته ضرورت نشته لکه چي مخکي ولیکل شو چي بیع صرف د خولي په ایجاب او قبول منعقد یږي که څه هم مشتري پر مبیع قبضه نه وي کړی او ثمن بخښل کیدلای هم شي په شامي کي رغلي دي: و هو معنی ما فی الفتح: من ان رکنه الایجاب و القبول الخ(۱) و فی الدر المختار: و ینعقد ایضا بلفظ واحد کما فی بیع القاضی و الوصی و الاب من طفله الخ(۲) او د ولي هبه کول هم بې د موهوب له د قبضې کولو کافي دی لکه چي په در مختار کي راغلي دي: و هبة من له ولایة علی الطفل فی الجملة الخ تتم بقبض ولیه الخ(۳)

---

(۱) الشامی ۴/۴ کتاب البیوع، مطلب فی بیع المکره و الموقوف. ط رشیدیه
(۲) الدر مع الرد ۴/۲۰ کتاب البیوع، مطلب فی انعقاد البیع بلفظ واحد من الجانبین. ط رشیدیه
(۳) الدر المختار مع الشامی ۵۷۱/۴ کتاب الهبة. ط رشیدیه

خورکه په خوشحالي خپله برخه ورونو ته ورکړي

سوال: (۸۳) رابعه د زړه په خوښي د جائيداد خپله برخه و سکه ورونو ته ورکړه او له خپلو حقوقو څخه د سند په وسيله لا دعوی وليکل نو دغه جائيداد د ورونو شو که څنګه؟ او د رابعې لا دعوی ليکل بيع ده که هبه؟ (۱۱۹۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د يو وارث له خپلې شرعي برخې څخه لا دعوی ليکل شرعي حق او برخه نه باطلوي نو رابعه اوس هم د خپلې موروثي برخې مالکه ده د الاشباه و النظائر په حاشيه کې راغلي دي: و فيه التصريح بان ابراء الوارث من ارثه فى الاعيان لا يصح. و قد صرحوا بان البراءة من الاعيان لا تصح و من دعوى الاعيان تصح الخ و فيه ايضا: ضابطته: انه ان كان ملكا لازمًا لم يبطل بذلک كما لو مات عن ابنين فقال احدهما: تركت نصيبى من الميراث، لم يبطل لانه لازم، لا يترک بالترک الخ(۱) (۱۷۰/۲) دغه لا دعوی ليکل د رابعه نه بيع ده او نه صحيح هبه بيع ځکه نه ده چې معامله د بيع او ايجاب او قبول د بيع نه دی شوی نه ثمن متعين کړل شوی دی که وايي نو هبه بالعوض به وايي مګر هبه د شيوع په وجه باطله شوه او په تخارج کې نشي داخليدلای ځکه چې بدل هيڅ شی نه دی متعين کړل شوی.

د حکومت و خلګو ته ورکړي ځمکي حاصل حلال دی

سوال: (۸۴) کومه ځمکه چې حکومت و خلګو ته ورکړې وي يعني قبضه اختيار يې ورکړی او پرچه يې هم خلګو ته ورکړې ده د داسي ځمکي حاصل څنګه دی؟ (۲۰۳۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: جائز او حلال دی.

---

(۱) غمز عيون البصائر على شرح الاشباه و النظائر المعروف ب "شرح الحموي" ۵۳/۳-۵٤ الفن الثالث (الجمع و الفرق) ما يقبل الاسقاط من الحقوق و ما لا يقبل المطبوعة: ادارة القرآن و العلوم الاسلامية، باكستان.

کتاب الاجارة

داجارې بيان

د اجارې حقيقت

سوال: (۱) د اجارې حقيقت او د دې د صحيح کيدو شرطونه څه دي؟ (۳۳/۱۲۲۹-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د صحيح اجارې حقيقت دا دی چې ځمکې او نور مثلاً د معلومې مودې لپاره پر معلوم اجرت و مستاجر ته وسپارې. فقط

د اجارې د صحت لپاره د مودې او اجرت تعيين ضروري دی

سوال: (۲) که څوک خپله ځمکه مثلاً د پنځه منو وريجو په عوض د يو کال يا زياتې مودې لپاره و بل چا ته ورکړي او دا شرط پر کښيږدي چې د ځمکې حاصل که وي او که نه وي په هر صورت کې به وريجې راکوي دا جائز دی او کنه؟ (۴۲/۷۱۴-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د اجارې د عقد د صحيح کيدو لپاره تعين د مودې او تعين د اجرت او منفعت شرط دی د مواجر او مستاجر له لوري چې کله د اجرت او مودې تعيين وشو نو اوس د اجارې په صحيح کيدو کې هيڅ کلام نشته، نو په مسئوله صورت کې دغه عقد صحيح دی پر مستاجر باندې معين اجرت ادا کول ضروري دی و شرطها كون الاجـرة و المنفعة معلومتين لان جهالتهما تفضى الى المنازعة الخ(در مختار) و يعلم المنفعة ببيان المدة الخ(۱)

(۱) الدر مع الرد ۳/۵ کتاب الاجارة. ط رشيديه

سوال: (۳) زید و عمر ته یوه ټوټه ځمکه د وریجو کرلو لپاره ورکړه چي و زید ته به پنځه لس منه وریجي ورکوي داسي معامله شرعًا څنګه ده؟ (۷۷۸/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: ځمکه که په مزارعت ورکولی شي او د مزارعت تعریف دا دی عقد علی الزرع ببعض الخارج(۱) (در مختار) نو دا صورت ناجائز دی ځکه چي د مزارعت د صحیح کیدو شرط دا هم دی و بشرط الشرکة فی الخارج... فتبطل ان شرط لاحدهما قفز ان مسماة الخ(۲) او که ځمکه و چاته په اجاره ورکړي چي دی دي کښت پکي وکړي او د ځمکي مالک ته په اجرت پنځلس منه وریجي مثلاً مقرري کړي نو د اجاري له لاري دغه معامله صحیح ده ځکه چي اجرت معلوم دی او د اجاري تعریف دا دی تملیک نفع مقصود من العین بعوض الخ(۳) و کل ما صلح ثمنا... صلح اجرة الخ و شرطها کون الاجرة و المنفعة معلومتین الخ(۴) (در مختار) نو په کومه طریقه چي دغه عقد کړی دی د هغه سره سم ورباندي حکم لګیږي

سوال: (۴) په تالاب کي د سنګهاړه (یوه دریي کونجه میوه) تخم اچولو لپاره چي د زمیندارو سره کومه معامله کیږي دا په عقد د اجاري کي داخل دی او کنه؟ او د سنګهاړه رانیول خرخول څنګه دي؟ (۹۸۵/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: د سنګهاړي تخم د چا په تالاب کي اچولو او کرلو معامله په اجاره کي داخله ده او کله چي اجرت، موده او نور معلوم وي نو ښکاره ده چي دا اجاره صحیح ده او د سنګهاړو رانیول خرخول صحیح دي.

په فاسد شرط اجاره فاسدیږي

سوال: (۵) زید و هلکانو ته په دي معاهده تعلیم ورکوي چي سږ کال به د حکومت کوم امتحان ورکولو او په هغه کي برخه اخیستلو قابلیت پیدا شي او خپل اجرت دا ډول ورسره ټاکي چي مثلاً د میاشتي لس یا پنځلس روپۍ غواړم او خلوښت یا پنځوس روپۍ په دي شرط ځني غواړي چي که په امتحان کي کامیاب شوي دا به راکوي او که هلک کامیاب نه شو یا یي په امتحان کي برخه وانه

---

(۱) الدر مع الشامی ۱۹۳/۵ اوائل کتاب المزارعة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الشامی ۱۹٤/۵ اوائل کتاب المزارعة. ط رشیدیه

(۳) الدر و الرد ۲/۵ اوائل کتاب الاجارة. ط رشیدیه

(٤) الدر و الرد ۳/۵ اوائل کتاب الاجارة. ط رشیدیه

خیسته نو بیا به د دغه معاهدې بوه روپۍ هم و زید ته نه ورکول کېږي دا اجرت اخیستل جائز دی او کنه؟ (۳۲/۲۵۷۵-۱۳۳۳هـ)

ځواب: داسي اجاره فاسده ده په در مختار کي راغلي دي: تفسد الجارة بالشروط المخالفة لمقتضى العقد فكل ما افسد البيع مما مر يفسدها كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل و كشرط طعام عبد و علف دابة الخ(۱) او د فاسدي اجارې حکم دا دی چي اجر مثل په دې کي لازمېږي نو و داسې معلم ته چي عرفًا د میاشتي څومره تنخواه ورکول کېږي شرعًا دی د هغومره حقدار دی فقط

سوال: (۲) زید له بکر څخه ځمکه په اجاره واخیسته او دا شرط یې ولګاوی چي کومي درختي په ځمکه کي دي زید ته د هغو د پرې کولو اختیار دی او د درختو کومه معاوضه یې مقرره نکړه اوس به اجاره صحیح وي او کنه؟ آیا زید دغه درختي خرڅولای شي؟ او د دغه درختو په اړه به کوم عقد بلل کېږي؟ ځکه چي د اجارې عقد صرف پر منافعو وي او د بیع موقوف صورت به وي که د فاسد؟ (۴۸/۱۳۳۵هـ)

ځواب: په مذکوره شرط سره دغه اجاره فاسده شوه کما في الدر المختار: تفسد الجارة بالشروط المخالفة لمقتضى العقد(۱) نو کله چي اجاره فاسده شوه د زید لپاره د خپل کار لپاره دغه وني پرې کول جائز نه دي او خرڅول هم د دغه درختو ناروا دي که زید خرڅي کړي نو د بکر مالک پر اجازه به بیع موقوف وي که هغو د بیع اجازه وکړه بیع صحیح کېږي او قیمت به بکر ته ورکوي د بکر له اجازې وروسته د مشتري لپاره په دغه درختو کي تصرف کول صحیح دی.

له مودې ختمېدو مخکي اجاره فسخول

سوال: (۷) زید له عمر څخه څمکه د لسو کلونو لپاره په دې شرط واخیسته چي په لس کاله کي به سل روپۍ درکوم هر کال به لس لس روپۍ حسابېږي په دې شرط باندي نهه کاله د ځمکي حاصل د خواړی اوس عمر وایي چي ستا د یو کال لس روپۍ زما څخه بیرته واخله او ماته زما ځمکه راکړه آیا داسي کول جائز دي؟ (۱۳۴۲/۲۸۷۲هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۳۲/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة. ط رشیدیه

ځواب: ټوله موده د اجارې چې کله لس کاله ده نو عمر زيد دې ته نشي مجبورولای چي په نهه کاله کي ځمکه ورپرېږدي اما که دواړه راضي شي نو فسخ د اجارې له ټاکلې مودې څخه مخکي عيني تر نهه کاله وروسته صحيح دی لس روپۍ دې له عمر څخه بيرته واخلي زيد دې ځمکه وروسپاري. فقط

سوال: (۸) زيد په شل روپۍ کرايه خپله ځمکه د لسو کلونو لپاره و بکر ته ورکړه شل روپۍ يې پيشکي ځني واخيستي له پنځو کلونو وروسته لس روپۍ د پنځو کلونو د ځمکي په کرايه کي وګرځولې نورې لس روپۍ يې بيرته ورکړې آيا دا ډول اجاره کول او بيا له پنځو کلونو وروسته د ځمکي کرايه راګرځول پاته لس روپۍ بيرته مستاجر ته ورکول د شرعي له مخه جائز دي او کنه؟ (۲۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په مسئوله صورت کي که مؤجر د مستاجر په رضا داسي وکړه نو صحيح دي متعاقدين هر وخت پخپله رضا فسخ د عقد کولای شي او دا ظاهره ده چي دا ډول ټول کار فسخ د اجارې بلل کيږي له دې وروسته عقد د اجارې پاته نه شو او که مستاجر په دې راضي نه ؤ نو بيا يوائې د زيد لپاره ببله کوم شرعي عذر د اجارې د فسخ اختيار نشته څومره موده د عقد چي ټاکلې وه تر هغومره مودې پورې د دواړو ډلو په هکله اجاره لازمه شوې وه نه يوائې و زيد ته او نه يوائې و بکر ته د مودې تر پوره کيدو مخکي د دې د فسخ حق شته

سوال: (۹) که کوم سړی يوه ټوټه ځمکه د کاله په لس روپۍ د دريو کلونو لپاره ديرش روپۍ ورکړي نو له يو دوه کاله وروسته اجاره فسخ او پاته روپۍ بيرته اخيستل کيدلای شي او کنه؟ (۲۵۵/۱۳۳۸هـ)

ځواب: په دغه صورت کي که مستاجر او مؤجر دواړه له يو يا دوه کاله وروسته د اجارې په فسخ راضي وي او مستاجر ځمکه بيرته ورکړي او مؤجر روپۍ بيرته ورکړي نو دغه اخيستل او ورکول صحيح دي. فقط

سوال: (۱۰) زيد يوه ځمکه د لسو کلونو لپاره د کاله په لس روپۍ په سل روپۍ و عمر ته په اجاره ورکړه او سل روپۍ يې پيشکي ځني واخيستلې زيد دا شرط يا وعده ورسره وکړه چي که ما څلور پنځه کاله وروسته پاته روپۍ درکړې نو ځمکه به بيرته راکوې دا اجاره صحيح ده او کنه؟ او له ټاکلې مودې څخه مخکي اجاره فسخ کول صحيح دي او کنه؟ که صحيح دي نو د مستاجر لپاره له مابقي څخه زياتوب اخيستل جائز دي او کنه؟ (۱۸۳۵/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د کاله د لسو روپيو په حساب په سل روپی د لسو کلونو لپاره د ځمکې اجاره وشوه په دې کي دا خو و متعقدينو ته اختيار دی چي که دواړه راضي وي نو د لسو کلونو پر ځای مثلاً په پنځه کاله کي اجاره فسخ کړي ليکن په کومه موده کي چي اجاره فسخ کړي د هم هغه مودې روپی مؤجر له مستاجر څخه اخيستلای شي د زياتو اخيستلو شرط لګول يا زياتي اخيستل صحيح نه دی مثلاً له پنځو کلونو وروسته اجاره فسخ شي نو پنځوس روپی اخيستلای شي د زياتو اخيستلو و ده ته هيڅ حق نشته او د زياتو اخيستلو شرط اجاره فاسدوي.

د اجارې له مودې پوره کيدو مخکي کرايه دار سرای پرېږدي

سوال: (۱۱) زيد د مسجد په مکان کي په کرايه او سيږي متولي د يو کال لپاره د کرايي پانه ورسره وليکله چي اتلس روپی يې کيږي کرايه دار له کال پوره کيدو څخه مخکي سرای پرېښودل غواړي په دې صورت خو د مسجد نقصان دی په دې وجه متولي له کرايه دار څخه د ټول کال کرايه غواړي حالانکه کرايه دار وس نلري په دې صورت کي شرعي حکم څه دی؟ (۱۹۲۰/۱۳۴۵هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د ټول کال کرايه له کرايه دار څخه اخيستل پکار ده ځکه چي د اجارې د فسخ دا شرعًا عذر نه دی اما لو اراد التحول الى حانوت اخرهـوا وسـع او ارخص الخ لم يكن عذرا الخ(۱) (شامي) و في الدر المختار: فيجب الاجر لدار قبضت و لم تسكن الخ(۲) فقط

که کرايه دار مفلس شي نو اجاره فسخ کولای شي

سوال: (۱۲) يو سړي دکان کرايه کی او د يو کال وعده يې هم ورسره وکړه د يو کال د کرايي پانه هم ورسره وليکله بيا مستاجر مفلس شو چي د هغه وجه ده د سرای و مالک ته يادونه هم وکړه چي ماله نن څخه دکان پرېښودی ليکن د دکان مالک يې نه ورسره مني او ورته وايي چي د يو کال کرايه به راکوې

---

(۱) رد المحتار ۵٦/۵ كتاب الاجارة، باب فسخ الاجارة، مطلب: فسق المستاجر ليس عذرًا في الفسخ. ط رشديه

(۲) الدر مع الشامى ۸/۵ اوائل كتاب الاجارة. ط رشيديه

او مستاجر د يو کال هم کرايه نشي ورکولای او س و فرمايه چي پر د غه سړي واجب دي چي د يادوني تر تاريخ به کرايه ورکوي که به د ټول کال؟(۱۹۲۸ ۳۳ ۱۳۳۴هـ)

ځواب: د مستاجر مفلس کېدل فقهاؤ د اجارې د فسخ په اعذارو کي شمېرلی دی يعني که کرايه دار مفلس شو چي سامان د تجارت ورسره پاته نه شو او د کرايي ورکولو وس يې نه ؤ نو دی اجاره فسخ کولای شي د دکان مالک يا متولي دی نشي مجبورولای نو که کرايه دار واقعتًا مفلس شو او ده دکان پرېښودی او سامان ورسره پاته نه شو نو د يادوني له وخت څخه يعني له کوم وخت څخه چي ده دکان خالي کړی او خبرتيا يې ورکړې د دکان کرايه پر ده واجب نه شوه پاته او اجاره فسخ شوه په در مختار کي راغلي دي و بعذر افلاس مستاجر دکان ليتجر الخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په اجاره ورکړې ځمکه د اجارې له مودې ختمېدو مخکي پر بل چا خرڅول

سوال: (۱۳) د بکر ځمکه د لسو کلونو لپاره زيد په اجاره اخيستي وه روپۍ يې پېشکي ځني اخيستي وې د زيد سره د دغه ځمکي درې کاله وشوه بکر دغه ځمکه پر عمر خرڅه کړه عمر د زيد خپل ؤ عمر و زيد ته وويل چي د اوو کلونو اجاره چي ستا پاته ده هغه له ما څخه واخله ده ورته وويل چي راېي کړه عمر ورته وويل چي اوس روپۍ راسره نشته مګر ډېري ژر به درکړم زيد ورته وويل چي هر کله دي خوښه شي راېي کړه يا يې مه راکوه عمر ورته وويل چي زه مسکين نه يم زر به ضرور درکړم اوس څو کلونه تېر شو او روپۍ هم د عمر سره شته او له خلکو څخه ځمکي رانيسي زيد چي کله د اوو کلونو د اجارې روپۍ ځني وغواړي عمر ورته وايي چي کله راسره وي در به يې کړم په دې عمر ګنهکار دی او کنه؟(۱۳۴۰/۷۹۵هـ)

ځواب: کومه ځمکه چي د يو مودې لپاره و چاته په اجاره ورکوله شي د هغې مودې له تېرېدو مخکي د هغې خرڅول د مستاجر بې اجازې صحيح نه دی که هغه اجازه وکړه نو بيع صحيح کېږي او

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵/۵۶ كتاب الاجارة، باب فسخ الاجارة، مطلب: فسق المستاجر ليس عذرا في الفسخ. ط رشيديه

د آئنده لپاره اجاره فسخ کړئي نو کومي روپۍ چي مالک له مستاجر څخه پیشکي اخیستي دي دی باید هغه روپۍ بیرته ورکړي او که مشتري ضامن شوی دی او د ځمکي مالک پر ده حواله ورکړې ده نو باید هغه يې ورکړي که هغه بېله عذر ورنکړې نو ظالم او ګنهکار دی. فقط

نسل تر نسل اجاره کول صحیح نه ده

سؤال: (۱۴) زید د حکومت له طرفه د یو کلي یا یوې ټوټې ځمکي مستقلاً نسل در نسل مالک جوړ شو اوس حکومت له ټاکلي مالیې څخه سیوا په بل شي کار نلري که زید دغه ځمکه خلګو ته نسل در نسل په ټاکلې برخه ورکړي نو شرعًا به د دغه خلګو لپاره په دغه ځمکه کي د درختو لګولو حق وي او کنه؟ او که د نوموړي مالک په اجازه خلګو درختي پکي ولګوي او مالک پر ټاکلې برخه زیاتوب هم وکړي خپله برخه اخیسته هم نو درختي به له پرې کولو وروسته د مالک وي که د بزګر؟ که خلګو او بزګرانو ته صرف د دوی له میوې څخه د استفادې حق شته او کله چي د رختي پرې شي نو د دوی پکي هیڅ حق نه شو پاته؟ (۱۳۴۵/۱۱۴۲هـ)

ځواب: اجاره نسلي در نسل صحیح نه ده ځکه چي په عاقدینو کي د یو په مرګ اجاره فاسدیږي کما فی الدر المختار: و تنفسخ (الاجارة) بلا حاجة الی الفسخ بموت احد عاقدین الخ(۱) د اجارې لپاره د مودې تعینول پکار دي که څه هم اوږده موده وي و یعلم النفع ببیان المدة الخ ای مدة کانت و ان طالت الخ(۲) (در مختار) او په مستاجره ځمکه کي د مالک په اجازه درختي لګول صحیح دي او داسي درختي به له پرې کولو وروسته د لګونکي وي و تصح اجارة ارض للبناء و الغرس... فان مضت المدة قلعهما و سلمها فارغة... الا ان یغرم له المؤجر قیمته مقلوعا الخ او یرضی المؤجر... بترکه فیکون البناء و الغرس لهذا و الارض لهذا(۳) (در مختار ملخصا) فقط

---

(۱) الدر مع الرد ۵/۵۷ کتاب الجارة، باب فسخ الاجارة، مطلب: ارادة السفر او النقلة من المصر عذر فی الفسخ. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۵/٤ اوائل کتاب الاجارة. ط رشیدیه

(۳) الدر المختار مع الشامی ۵/۲۰ کتاب الاجارة، باب ما یجوز من الاجارة و ما یکون خلافا فیها. ط رشیدیه

په اجاره کي میراث نه جاري کیږي

سوال: (۱۵) په اجاره کي میراث جاري کیږي او کنه؟ که میراث پکي نه جاري کیږي نو د اجارې د زمانې د آمدنۍ مطالبه به د چا وي؟ (۱۳۴۰/۷۰۰ھ)

ځواب: په اجاره کي میراث نه جاري کیږي یعني عقد د اجارې و وارثانو ته نه نقلیږي بلکه د احد العاقدین په مرګ اجاره فسخیږي او د اجارې آمدني چي د موجر ملک ګرځېدلي وه هغه وارثانو ته نقلیږي نو د اجارې د زمانې د آمدنۍ مطالبه به وارثان کوي.

پر اجیر ضمان شته او کنه؟

سوال: (۱۶) یو سړی په نامه خیاط دکان د عطرو کوي ماده ته دوې پاجامې د ګنډلو لپاره ورکړې او پیسې مي هم ورکړې اته ورځې وروسته زه ورغلم نو ده یوه پاجامه راکړه د پوښتني په جواب کي یې راته وویل چا یووړه اوس پر ده ضمان شته او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۸۱۴ھ)

ځواب: په دې اړه د فقهاؤ څو اقوال دي: ځیني فقهاء فرمایي چي پر اجیر ضمان نشته او ځیني فرمایي چي ضمان لازم دی او ځینو څه تفصیل پکي بیان کړی دی او ځینو پر نصف باندي د صلح کولو حکم کړی دی یعني پر نیمایي دي صلح وکړي یعني نیم قیمت دي ځني واخلي و التفصیل في کتب الفقه. (۱) فقط

---

(۱) (و لا یضمن ما هلک فی یده و ان شرط علیه الضمان) لان شرط الضمان فی الامانة باطل کالمودع (و به یفتی) کما فی عامة المعتبرات و به جزم اصحاب المتون فکان هو المذهب خلافا "للاشباه" و افتی المتاخرون بالصلاح علی نصف القیمة و قیل: ان الاجیر مصلحا لا یضمن و ان بخلافه یضمن و ان مستور الحال یؤمر بالصلح "عمادیة" (الدر المختار) و فی الشامی: قوله: (و لا یضمن الخ) اعلم انه اهلاک اما بفعل الاجیر اولا و الاول اما بالتعدی اولا و الثانی اما ان یمکن الاحتراز عنه اولا ففی الاول بقسمیه یضمن اتفقا و فی ثانی الثانی لا یضمن اتفاقا و فی اوله لا یضمن عند الامام مطلقا و یضمن عندهما مطلقا و افتی المتاخرون=

په اجاره اخیستې ځمکه باندي د قبضې استحقاق څه وخت وي؟

سوال: (۱۷) که د کال په منځ کي کوم ځمکه په نیمکه واخیستله سي هم هغه وخت قبضه ورباندي ضروري ده او کنه؟ او قبضه به څه ډول معتبره وي؟ د زمیندار په حیث که د بزگر په حیث یا دواړه ډوله؟ (۱۳۴۰/۷۰۰هـ)

ځواب: کوم وخت چي ځمکه مثلاً کوم چا په اجاره واخیستله نو هم هغه وخت د قبضې دی حقدار دی بیا چي کله د زراعت وخت راشي نو مستاجر ته په دې کي د زراعت اختیار حاصل دی لنډه دا چي له اجارې څخه وروسته د ځمکي مالک ته د اجارې د مودې تر پوره کیدو هیڅ حق د تصرف نه وي پاته بلکه استحقاق، قبضه او تصرف مستاجر ته حاصل وي هر رنگه چي وي په در مختار کي راغلي دي: و تصح اجارة ارض للزراعة مع بیان ما یزرع فیها او قال علی ان ازرع فیها ما اشاء کیلا تقع المنازعة اهـ(۱) و فیه ایضا: و ابتداء المدة من حین تسلیمها الخ(۲)

د مال لیلامولو اجرت د فیصله په حساب اخیستل جائز نه دی

سوال: (۱۸) نن صبا انگریزان خپل وطن ته روان دي زه د دوی مال لیلاموم پر دې ماته په سل کي لس روپۍ اجرت راکوي کله نا کله د هندوستانیانو مالونه هم لیلاموم او لس فیصده اجرت اخلم دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۴۷۸هـ)

ځواب: دغه طریقه د لیلام د اجرت شرعًا ناجائز ده او له دې څخه سیوا د ترک موالات (د انگریز سره مقاطعه) په وجه هم ورڅخه پرهېز لازم دی او که د هندوستانیانو مال هم لیلام کړل شي نو د هغه د جواز صورت دا دی چي کوم شی لیلام کړل شي د هغه اجرت دي معلوم شي د فیصد حساب دي نه وي ځکه چي هغه مجهول دی بلکه ټول اجرت دي متعین کړل شي مثلاً دا چي زه د دغه شي د لیلام کولو اجرت سل روپۍ یا پنځوس

= بالصلح علی نصف القیمة مطلقا و قیل: ان مصلحا لا یضمن و ان غیر مصلح ضمن و ان مستورًا فالصلح اهـ و المراد بالاطلاق فی الموضعین المصلح و غیره(الدر و الرد ۵/۴۵ کتاب الجارة، باب ضمان الاجیر، مبحث الجیر المشترک. ط رشیدیه)

(۱) الدر المختار مع الشامی ۵/۲۰ کتاب الاجارة باب ما یجوز من الإجارة و ما یکون خلافا فیها. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۵/۲۰ کتاب الإجارة، باب ما یجوز من الإجارة و ما یکون خلافا فیها. ط رشیدیه

روپی. مثلاً غواړم که هر څو مره کسانو ته دا شی لیلام شي با دي د تولو شیانو د لیلامولو اجرت متعین شي که په هر څو مره قیمت لیلام شي فقط

د ملازمت لپاره حلفیه عهد او پیمان

سوال: (۱۹) و ملازم ته قسم ورکول او وعده ځني اخیستل چي نافرماني به نه کوي او سستي او نور به نه کوم او تر مرګه به ستا اطاعت او ملازمت کوم او نور به دا ډول قسم اخیستلو ملازمت کول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۰۰۷ھ)

ځواب: که د خادم او ملازم پر دغه وعده د کومي چي قسم اخلي د پابندي کولو اراده او نیت وي او د ده آقا او مخدوم بېله قسم ورکولو دي نه پرېږدي بیا خو په دا سي صورت کي قسم اخیستل او د وعدي پابنه لیکل څه پروا نلري لیکن په دا سي عهد او پیمان کي انشاء الله ضرور ویل پکار دي تر څو د خلاف کولو په صورت ګنهکار نشي. فقط

د ملازم څخه دا وعده اخیستل چي له ملازمت پرېښودلو څخه به پنځلس ورځي مخکي خبر راکوي کنی تنخواه نه درکؤ

سوال: (۲۰) د ملازم سره دا معاهده او شرط کول چي که تا یوه میاشت یا پنځلس ورځي مخکي اطلاع نکړه را کار دي پرېښودی نو څومره زمانه چي دي کار کړی وي د هغه تنخواه دي نشته که دي کار پوره نکړی نو اجرت دي نشته یا په دومره روپی درڅخه راوګرځؤ؟ (۱۳۳۷/۲۲۵۴ھ)

ځواب: دا ډول معاهده او شرطونه د ملازم سره کول ممنوع ناجائز او عقد فاسدونکي دي په در مختار او د فقهي په نورو کتابونو کي راغلي دي چي په دا سي شرطونو سره اجاره فاسدیږي په دغه شرطونو عمل کول صحیح نه دي او په دا سي شرطونو لګولو ګنهکاریږي کما هو حکم العقود الفاسدة و الباطلة. (۱) فقط

(۱) الاجارة تفسدها الشروط كما تفسد البيع (الهداية: ۳/۳۰۱ كتاب الاجارات اول باب الإجارة الفاسدة)

د استاذ بېله مهتمم خبرولو بلي مدرسې ته تلل

سوال: (۲۱) یو مولوي صاحب په مکملو شرطونو په یوه مدرسه کې درس کاوی مهتمم موجود نهٔ د ده استاذ دی وروغوښتی بل ځای یې وتاکی او س چي کله مخکني مهتمم غوښتنه وکړه نو ده ورته وویل چي استاذ راته وویل ځکه زه مجبوریم حالانکه وعده زما ستا سره پخه وه لیکن د استاذ اطاعت د وعدې په نسبت زیات دی دا صحیح دی او کنه؟ او شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۷۳۳ھ)

ځواب: دغه مولوي باید د استاذ پر وړاندې عذر کړی وای چي بې د مهتمم له اجازې نه شم درتللای دا د ده غلطي ده اوس هم د دې جبیره دا ده چي استاذ ته دي عذر وکړي او په مخکنۍ مدرسه کي دي درس کوي که مهتمم صاحب په خوښه اجازه ورکړي یا د مدرسې د قانون سره سم نوموړی مولوي صاحب استعفاء ورکړي له منظورېدو وروسته ولاړ شي.

د فاسدي اجارې حکم

سوال: (۲۲) زید د یو بزګر سره داسي معامله وکړه چي ته زما په ځمکه کي څاه ووهه زه به د دغه ځمکي نیمی تاته درکړم بزګر په ځمکه کي څاه وواهی ځمکه واخیسته او په محنت مشقت سره ځمکه آباده کړه اوس ځیني علماء فرمایي چي دغه ځمکه اوس هم د زید ده د بزګر لپاره د دې آمدني حرامه ده د بزګر هیڅ تعلق نه د څاه سره شته او نه د ځمکي سره آیا په یو رنګه ځمکه په ملک کي راتللای شي او له څاه سره تعلق راتلای شي؟ (۱۳۳۷/۱۳۷۹ھ)

ځواب: په عالمګیري کي په فاسد اجاره کي دا شمېرلې ده حیث قال فی الاجارات: و ان اشترط طیها بالاجر و الجص من عند الاجیر فهو فاسد(۱) چونکه د څاه کنبلو او وهلو غرض په عرف کي همدا دی چي له ځانه مصرف خښتي او نور ورکړي جوړې یې کړي لهذا دغه اجاره

(۱) الفتاوی الهندیة: ۴/۴۵۲ کتاب الاجارة، الباب السادس عشر فی مسائل شیوع فی الاجارة و الاستیجار علی الطاعات الخ قبل فصل فی المتفرقات.

فاسده ده او په فاسده اجاره کې اجر مثل لازمیږي نو کله چې د اجر مثل په عوض د ځمکې مالک نیمه ځمکه و ځاوهونکي او جوړونکي ته ورکړه نو هغه د ده ملک شوه. فقط

آیا په بزګرۍ ورکړې ځمکه مالک یا د ده وارثان بیرته راګرځولای شي؟

سوال: (۲۳) د ځمکې مالک څه نذرانه واخیستله ځمکه و بزګر ته ورکړه هغو ته قبضه ورکړه او خپله برخه وټاکله او په حکومت کې رسمي کړه د دغه معامله د دواړو ډلو په خوښې او رضا وشوه لهذا د بزګر لپاره داسې ځمکه په قبضه کې اخیستل او استفاده ځنې کول شرعًا جائز دي او کنه؟ او د ځمکې مالک یا د ده وارثانو ته دا حق شته چې له بزګر څخه ځمکه راوګرځوي او کنه؟ او د نذرانې روپۍ د ځمکې د مالک لپاره اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۸۳۲/۱۳۳۴هـ)

ځواب: د ځمکې د مالک لپاره د ټاکلې برخې څخه سیوا نذرانه اخیستل صحیح نه دي او بزګر ته هیڅ حق نشته چې د دغه ځمکه راوګرځوي سره د دې چې مالک یا د هغه وارثان په راضي نه وي دا معامله د اجارې ده ترڅو چې مالک یا وراثان په رضا سره دغه معامله جاري ساتي صحیح دي او کله چې مالک یا وراثان د اجارې له مودې تېرېدو وروسته خپله ځمکه وغواړي غوښتلای یې شي د بزګر لپاره د موروثیت په دعوی ځمکه راګرځول او استفاده ځنې کول غصب او ظلم دی و في الحدیث: لیس لعرق ظالم حق (۱)

ځمکه په اجاره ورکول صحیح دي

سوال: (۲۴) که څوک نقدي څه روپۍ پېشکي واخلي د یوې مودې لپاره ځمکه په کرایه ورکړي داسې جائز دي او کنه؟ (۱۰۲۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په ځمکو کې د بزګرۍ صورت یا د نقدي اجارې صورت صحیح دی د اجارې روپۍ که مخکې واخلي او که وروسته فقط

---

(۱) عن سعید بن زید رضی الله تعالی عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: من احی ارضا میتة فهي له و لیس لعرق ظالم حق(جامع الترمذی: ۲۵۶/۱ ابواب الاحکام باب. ما ذکر فی احیاء ارض الموات)

د ځمکي یوه نامعلومه ټوټه په اجاره ورکول

سوال: (۲۵) که مشترکه ځمکه په اجاره ورکول شي نو اجاره صحیح ده او کنه؟ زید او عمر دواړو له خپل شپاړس جریبو ځمکي څخه دوه جریبه و عمر ته په اجاره ورکړه دا جائز دي او کنه؟ (۲۱۲۱/۱۳۴۰ھ)

ځواب: په دغه صورت کي دغه اجاره فاسده ده. (۱) فی الدر المختار: و تفسد ایضا بالشیوع الخ. (۲) فقط

په فاسد اجاره کي اجرت مثل لازمیږي

سوال: (۲۶) په فاسد اجاره کي که ټاکل شوی اجرت معلوم وي نو د فسخ پر مهال به اجرت مثل ورکوي که ټاکل شوی اجرت؟ (۱۲۲۰/۱۳۴۰ھ)

ځواب: په فاسد اجاره کي اجر مثل لازمیږي او له ټاکل شوي څخه دي زیات نه ورکوي کما فی الدر المختار: لم یزد اجر المثل علی المسمی لرضاهما به الخ. (۳) فقط

د څو کلونو لپاره د ځمکي په اجاره کي پیشکي روپۍ اخیستل

سوال: (۲۷) یوه ځمکه په پنځه روپۍ جریب په اجاره ورکول کیږي که یو سړی پیشکي روپۍ ورکړي د څو کلونو لپاره په درې روپۍ جریب په کرایه واخلي نو څنګه ده؟ (۱۰۷۱/۱۳۳۸ھ)

ځواب: کومه ځمکه چي حالاً په پنځه روپۍ یو جریب په اجاره ورکول کیږي که څوک د څو کلونو پیشکي روپۍ ورکړي جریب په درې روپۍ کرایه نو دغه اخیستل او ورکول صحیح او اجاره صحیح ده. فقط

---

(۱) دا حکم هغه وخت دی کله چي له شپاړسو جریبو ځمکي څخه دوه نامعلوم جریبه ځمکه په اجاره ورکړي که دوه جریبه معلومه ځمکه په اجاره ورکړي نو اجاره صحیح کیږي ځکه چي په لومړي صورت کي چي کومه ځمکه په اجاره ورکول شوي ده هغه مشاع ده او په دوهم صورت کي نامشاع ده یعني معلومه او متعینه ده.

(۲) الدر المختار مع الشامی ۵/ ۳۲ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة ط رشیدیه

(۳) الدر مع الشامی ۵/ ۳۳ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة. مطلب فی اجارة البناء. ط رشیدیه

د هفته وار بازار ټیکه اخیستل

سوال: (۲۸) کوم بازار چي هره هفته په کلیو کي لګیږي د هغه ټیکه [illegible] پول چي د کاله څه روپۍ مقرري کړي او ټیکه دار يي پول کال [illegible] ورکوي که له مقررو روپیو څخه زیاتي شوې نو هغه د ټیکه دار دي او که کمي [illegible] له خانه به ورپوره کوي، داسي ټیکه اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۹/۸هـ)

ځواب: د داسي اجارې د جواز صورت دا دی چي ټیکه دار د پول بازار [illegible] اجاره د ځمکي له مالک سره په معلومو روپیو واخلي او بیا د بیلا بیلو دکانو کرایه پخپله واخلي لنډه دا چي د اجارې د قواعدو او د صحت د ټولو شرطونو به خیال [illegible] مثلاً دا چي اجرت به مجهول نه وي وخت او نور به معلوم وي.

په عقد کونکیو کي د یوه په مرګ اجاره فسخیږي

سوال: (۲۹) ... (۱) هندي د خپلي ناجوړۍ په زمانه کي اجاره اخیستني وه مګر هوښ او حواس يي پر ځای ؤ او لا یعقل (ناپوهه) نه وه. دا ټیکه صحیح شوه او که نه؟ او د هندي له مرګ وروسته څه حکم دی؟

(۲) هندي له خپل طرفه د ټیکي اخیستلو خواهش نه دی کړی بلکه د دې زوی زید د خپلي استفادې په غرض د ټیکي پاڼه لیکلې وه.

(۳) زید پخپل ژوند کي د هندي او د دې د لونو سره د ټیکي شرطونه پوره کړل.

(۴) د زید په ژوند کي د هندي لونو و زید ته هیڅ نه دي ویلي.

(۵) د ټیکي د پاڼي سره سم زید اتلس کاله د انجونو برخي پخپله قبضه کي اخیستي وې وروسته وفات شو.

(۶) د ټیکي پر پاڼه د هندي د خاوند او د یوې لور دسنخط موجود دی

(۱۳۳۷/۱۸۲هـ)

ځواب: په دغه صورت کي چي کومه ټیکه هندي د هوښ او حواس پر حال اخیستي وه هغه صحیح شوه لیکن د هندي د مرګ سره اجاره فسخ او ماته شوه: و تنفسخ بموت احد

عاقدين الخ (۱) اما که د هندې له مرګ وروسته د دې لوڼو بيا ټيکه قايمه وساتله نو په نوي عقد سره ټيکه قائميږي او لوني که په هم هغه سابق اجر راضي وي نو په هم هغه اجر نوي ټيکه قائميږي په در مختار کي راغلي دي: و ينبغي ان لا يظهر الانفساخ هنا ما لم يطالب الوارث بالتفريع الخ قوله: لا يظهر الانفساخ اى لا يظهر حكمه و مقتضاه انه يجب الاجر المسمى فى العقد السابق الخ. (۲) (شامي) بيا د زيد له مرګ وروسته هغه دوهمه ټيکه هم باطله او فسخيږي د زيد وارثان که د هندې د لوڼو سره بيا ټيکه کول غواړي نو بيا عقد د اجارې قائميږي فقط

د قرآن پر تعليم اجرت اخيستل څنګه دي؟

سوال: (۳۰) د قرآن د تعليم يعني ورزده کولو اجرت دا ډول مقررول چي د لومړی سپارې اجرت لس روپۍ غواړم او د نورو سپارو اجرت پنځه پنځه روپۍ غواړم دا جائز دی او کنه؟ فقط (۳۲/۳۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا ډول اجرت مقررول او اخيستل ورکول د مفتى به مذهب سره سم جائز دی او زده کړه ورکونکی په جبر اخيستلای شي او کوم چا چي دغه عقد د اجارې وکړی که هغه مقرر شوی اجرت نه ورکوي نو ګنهکار دی و يفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن و الفقه الخ و يجبر المستاجر على دفع ما قبل فيجب المسمى بعقد. (۳)

د علم پر درس او وعظ اجرت اخيستل څنګه دی؟

سوال: (۳۱) د ديني علومو پر درس اجرت اخيستل جائز دی او کنه؟ (۳۳/۱۹۷-۱۳۳۴هـ)

ځواب: زمونږ بزرګانو د ديني علومو پر درس باندي تنخواه او پر وعظ او تلقين باندي معاوضه اخيستلو ته جائز فرمايلي دي لکه چي در مختار په کتاب الاجارة کي راغلي دي: و يفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن و الفقه و الامامة و الاذان الخ او په شامي کي راغلي دي و زاد بعضهم الاذان و الاقامة و الوعظ. (۴) فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامى ۵/۵۷ كتاب الاجارة، بفسخ الاجارة، مطلب ارادة السفر او النقلة من المصر عذر فى الفسخ. ط رشيديه

(۲) الدر و الرد ۵/۵۷ كتاب الاجارة، مطلب: ارادة السفر او النقلة من المصر عذر فى الفسخ. ط رشيديه

(۳) الدر و الرد ۵/۳۸ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب فى الاستيجار على الطاعات. ط رشيديه

(۴) الدر و الرد ۵/۳۸ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب فى الاستيجار على الطاعات. ط رشيديه

د مسجد و ملازم ته د ناجوړۍ د ورځو تنخواه ورکول

سوال: (۳۲) د مسجد ملازم د ناروغۍ په وجه خپل اړوند کار ونکړی نو د ناجوړۍ د ورځو تنخواه ده ته ورکولای شو او کنه؟ (۵۷۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د عرف سره سم ورکولای شي. فقط

مهتمم د رخصتی په ورځوکي و مدرس ته د کار کولو وویل هغه ونکړی

سوال: (۳۳) زید په یوه مدرسه کي استاذ دی د شعبان په میاشته کي د قانون سره سم امتحانونه وشول د مدرسي نور استاذان هم رخصت دي صرف زید په مدرسه کي مقیم دی مهتمم له امتحانونو وروسته و زید ته د کار شروع کولو وویل زید د عامي رخصتی مجبوري ورته وویله مهتمم د روژي په دریمه د شعبان د میاشتي تنخواه و زید ته ورکړه له وروسته بیا هم زید په مدرسه کي مقیم ؤ د روژي په اته ویشتمه زید و مهتمم ته د تنخواه وویل د مدرسي مهتمم په جواب کي ورته وویل چي ستا لپاره د غه تنخواه اخیستل کله چي تا کار نه دی کړی جائز نه ده د مدرسي د مهتمم دغه رویه تر کومه صحیح ده؟ او له دي څخه مخکي ده کومه خبرتیا د ملازمت څخه د لیري کولو نه ده راکړې. (۲۸۷۴/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په دغه صورت کي زید د روژي د میاشتي د تنخواه حقدار دی ځکه چي په رمضان کي د اسلامي عربي مدرسو د مدرسانو او معلمانو عمومًا تعطیل وي او کله چي د روژي له میاشتي مخکي د مدرسي مهتمم و زید ته له ملازمت څخه د عزل کولو خبرتیا ورنکړه نو د روژي د میاشتي د تعطیل دی مستحق ؤ د دغه مبارکي میاشتي تنخواه باید ورکړي د روژي د میاشتي په اته ویشتمه د لیري کلو و خبرتیا د زید د دغه میاشتي تنخواه نه ساقطوي. فقط

پر امامت او اذان اجرت اخیستل او امام او مؤذن ته زکوة، سرسایه او په اختر کي څرمني (پوستونه) ورکول

سوال: (۳۴) پر امامت او آذان اجرت اخیستل څنګه دي؟ او امام او مؤذن ته سرسایه د قربانۍ د پوست قیمت

او زکوة ورکولای شو او کنه؟ کله چي امام او مؤذن هاشمیان نه وي یا که هاشمیان وي په اسلامي سلطنت کي د دوی تنخواه مقرره نه په هندوستان کي څه حکم دی؟ (۲۴۰، ۲۹، ۱۳۳۰هـ)

ځواب: پر امامت او اذان اجرت اخیستل صحیح دي امام او مؤذن ته په تنخواه کي سرسایه د قرباني د څرمنو قیمت او زکوة ورکول صحیح نه دي که څه هم دوی هاشمیان نه وي اما که په تنخواه کي ورنکړل شي بلکه د دوی د مسکیني او ناوسی په وجه په دې صورت چي دوی هاشمیان او د نصاب مالکان نه وي ورکړل شي نو صحیح دي مګر دا ضروري ده چي د امامت او اذان په عوض کي به یو مخ نه وي

سوال: (۳۵) یو پنځه شپیته کلن مسکین، ناتوان او بې چاره سید د یو کلي په مسجد کي لمونځ ورکوي کلیوال تنخواه نه ورکوي د تنخواه په عوض کي په کوچني اختر کي څه غله او سرسایه ورکوي او په غټ اختر کي د قرباني پوستونه ورکوي او په فصل کي پنځه منه غله ورکوي د سید لپاره دغه اخیستل جائز دي؟ او په دغه روپیو حج کول څنګه دي؟ (۱۵۷۲/۱۳۴۲هـ)

ځواب: د امام لپاره چي په فصل کي څومره غله مقرره شي د هغې اخیستل صحیح دي اما د قرباني د څرمنو قیمت او سرسایه ورکول د امامت په عوض جائز نه دي او که ده نه د محتاج او مسکین والي په وجه ورکړي د امامت په عوض کي ورنکړي نو صحیح کیدلای شي مګر دا مې متعارف دي ځکه چي د "المعروف کالمشروط" (۱) په حکم دا خاص د امامت عوض بلل کیږي او سید ته هم سرسایه او د قرباني د څرمنو قیمت بې د تملیک له حیلې ورکول جائز نه دي او په هر حال که دی په داسې پیسو حج وکړي نو حج بې کیږي فقط

متولي امام د ملازمت په غرض راغوښتی دی نو د لاري مصرف پر چا دی؟

سوال: (۳۶) د افریقي مسلمانانو له بمبۍ څخه یو امام د مسجد لپاره راوغوښتی دا وخت د امام سره د تنخواه او د لاري د مصرف خبره نه وه شوې له بمبۍ څخه جواب راغلی چي امام اماده دی روپۍ غواړي د خط په رسید د مسجد متولي ورته ولیکل چي سمدستي یې راولیږه او د لاري خرڅ ورکړه د متولي دا خیال ؤ چي

(۱) الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح، باب المهر، مطلب: مسئلة دراهم النقش و الحمام و لفافة الکتاب و نحوها. ط رشیدیه

کله تنخواه ورکوم نو د لاري خرڅ به څنې راوګرځوم د متولي خاص دا نیت و کله چې امام راورسیدی نو متولي تنخواه ورمقرره کړه کله چې د تنخواه ورکولو وخت راغلی نو متولي د لاري خرڅ له تنخواه څخه راګرځول وغوښت امام ورنه انکار وکړی چې زه پوره تنخواه غواړم لهذا د امام او متولي تر منځ نزاع راغله اوس پوښتنه دا ده چې په دغه معامله کې و متولي ته اختیار شته چې د امام تنخواه ورو ګرځوي او کنه؟ او دا ډول د مسجد روپۍ ورپریښودل د متولي لپاره جائز دي او کنه؟ (۲۰۹۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: عرض همدغه دی چې که کوم مدرس او امام د ملازمت په غرض راوغوښتل شي نو د لاري او سفر خرڅ پر رابلونکي دی او د "المعروف کالمشروط" (۱) قاعده مقرره ده لهذا د نوموړي امام د سفر خرڅ باید متولي ورکړي او دا اختیار و متولي ته نشته چې د سفر خرڅ د امام له تنخواه څخه راوګرځوي بلکه د مسجد له آمدنۍ څخه لکه څنګه چې و امام ته تنخواه ورکوي دا خرڅ دي هم ورکړي. فقط و الله تعالی اعلم

امام که خپله ذمه واري نه تر سره کوي نو تنخواه ورکول څنګه دي؟

سوال: (۳۷) د مسجد چې کوم امام صاحب دی پر مقرر وخت لمونځ نه ورکوي څه وخت چې زړه وغواړي راشي لمونځ ورکوي کله ناکله راځي هم نه ده ته چې کومه میاشتنیزه تنخواه ورکول کیږي هغه ورکول څنګه دي؟ (۲۱۰۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: کلیوال او د مسجد انتظام کونکي چې څنګه مناسب وبولي هغسې دي وکړي که دوی ورکړي د امام لپاره اخیستل صحیح دي.

پر امامت تنخواه اخیستونکي پسې لمونځ صحیح دی

سوال: (۳۸) پر امامت تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟ او کوم امام چې تنخواه اخلي په هغه پسې لمونځ صحیح دی که مکروه؟ (۹۹۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: پر امامت تنخواه اخیستل صحیح دي لکه چې د فقهي په کتابونو کې خرګندونه راغلي دي (۲) نو په تنخواه اخیستونکي امام

---

(۱) الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح، باب المهر. ط رشیدیه

(۲) قال في الدر المختار: و يفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن و الفقه و الامامة و الاذان الخ و قال الشامي: و زاد في متن المجمع الامامة و مثله في متن الملتقى و درر البحار (الدر و الرد ۳۸/۵ كتاب الجارة. باب الاجارة الفاسدة. مطلب: تحرير مهم في عدم جواز الاستيجار على التلاوة. ط رشيديه)

پسي لمونځ کولو کي هيڅ کراهيت نشته، هيڅ شک نه دي کول پکار.

بېله تنخواه لمونځ ورکونکي په موجوديت کي په تنخواه اخيستونکي پسي لمونځ څنګه دی؟

سوال: (۳۹) زيد په تنخواه اخيستلو لمونځ ورکوي او بېله تنخواه لمونځ ورکونکي خلګ شته په زيد پسي لمونځ څنګه دی؟ (۱۳۴۰/۴۱هـ)

ځواب: امامت د هم هغه کارونو څخه دی چي اجرت ورباندي اخيستل جائز دي کما في الشامي(۱) نو په دغه امام پسي چي پر امامت باندي اجرت او تنخواه اخلي لمونځ صحيح دی هيڅ کراهيت پکي نشته که څه هم افضل د امامت لپاره هغه دي کوم چي تنخواه نه اخلي په دې شرط چي هغه هرډول د امامت وړ وي او د لمانځه په مسئلو پوهه وي فقط

امام که خپل منصبي فرض ادا کړی وي نو پاته تنخواه اخيستلای شي

سوال: (۴۰) ... (الف) کليوالو د خپل مسجد امام زيد وټاکی د مياشتي په تنخواه باندي په ټولو کليوالو کي بکر هم د تنخواه ورکولو اقرار وکړی او تر ډيري مودې پوري تنخواه ورکوله مګر څه موده وروسته بکر انکار وکړی خو زيد هغه ډول د بکر د اقرار په وجه او د پاتي تنخواه و لاس ته کولو په اميد خپل منصبي فرض ادا کاوی آيا زيد د بکر اقرار په وجه پر بکر د تنخواه حق لري او کنه؟

(ب) او پر بکر باندي د خپل اقرار ذمه واري راځي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۱۷هـ)

ځواب: (الف) مستحق دی.

(ب) او بکر د خپل اقرار ذمه وار دی.

و امام ته د رخصت د ورځو تنخواه ورکول صحيح دي

سوال: (۴۱) که د مسجد امام په يو کال کي د يوې مياشتي رخصت واخلي نو ده ته تنخواه ورکول کيدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۰/۸۰۲هـ)

---

(۱) مخکني حواله

ځواب: ورکول کیدلای شي او دا کار د وقف کونکي پر شرطونو یا د متولي پر رایه موقوف دی.

له سرنا وهونکیو او سوالګرلمونځ کونکیو څخه تنخواه اخیستل

سوال: (۴۲) زه له څو ورځو راهیسي په یو مسجد کي او سیږم او خدمت کوم د دي کلي خلګ بد خونه دی سرناوي وایي او خیراتونه هم ټولوي او دی ماته ډوډی راکوی دا ډوډی زما لپاره جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۰۳۴هـ)

ځواب: په کوم مسجد کي چي ته او سیږې او امامت کوې که کلیوال تاته ډوډی یا نقدي روپۍ د امامت او د مسجد د خدمت په وجه درکوي نو د هغه اخیستل صحیح دي فقط

امام په فارغ وخت کي بل ملازمت کولای شي

سوال: (۴۳) زید د امامت په غرض د مسجد ملازم دی او یا اتیا روپۍ د میاشتي تنخواه اخلي له دي څخه سیوا له لسو بجو څخه تر څلورو بجو په سرکاري مدرسه کي ملازمت کولای شي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۷۷هـ)

ځواب: شرعًا د دې منع نشته چي تنخواه اخیستونکی امام دي د لمانځه له وختونو څخه سیوا په نورو فارغ وختونو کوم بل ملازمت یا کسب وکړي فقط

د امام او مدرس د رخصتۍ د ورځو تنخواه اخیستل او خپل نائب ټاکل

سوال: (۴۴) که تنخواه اخیستونکی مدرس یا د مسجد امام د رخصت اخیستلو سره د تګ پر مهال و چاته داسي ووایي چي زه تاته د خپلي دې میاشتي نیمه تنخواه درکوم ته زما په ناموجودیت کي زما کار کوه نود پوښتني وړ خبره دا ده چي بیرته راشي نو په کومو ورځو کي چي ده کار نه دی کړی د هغوی نیمه تنخواه و ده ته اخیستل شرعًا جائز دي او کنه؟ زید دا وایي چي کله کار نه دی کړی نو تنخواه د څه شي اخلي؟ بلکه د ټولي حقدار که څوک دی نو نائب دی یا نیمه د نایب ده او نیمه د مدرسي چي څه حق وي رانه وي لیکي. (۱۳۴۲/۴۸۵هـ)

ځواب: که و مدرس یا امام ته مهتمم یا متولي د تنخواه وضع کولو رخصت ورکړی دی یعني دا ډول چي د رخصت د ورځو تنخواه

به دي نه وي او دا اجازه بې ورکړه چې د دغه ورځو لپاره کوم امام مقرر کړه نو نیمه تنخواه به د هغه نائب ته ورکول کیږي نیمه به مسجد یا مدرسې ته پاتیږي د دغه مدرس یا امام لپاره نیمه تنخواه اخیستل صحیح نه دي او که رخصت بې د تنخواه له وضع کولو ورکړی یعني دا ډول چې د رخصت د ورځو ټوله تنخواه به ورکوله کیږي او د نایب ټاکلو اجازه بې ورکړه او بیا ده په نیمه باندې نایب وټاکی نو دا صحیح دي دواړه به نیمه نیمه اخلي او اصلاً و امام او مدرس ته پخپله دا اختیار نشته چې دوی نائب وټاکي بلکه دا حق د مهتمم او متولي دی د دیو په اجازه سره وکالةً امام او مدرس هم نائب مقررولای شي او تفصیل په دې کي هغه دی کوم چې پورته بیان شو. فقط

تنخواه اخیستونکی امام رخصت اخیستلای شي

سوال: (۴۵) د مسجدونو کوم امامان چې تنخواوي اخلي هغوی د کوم رخصت د مدرسانو په رنګه حق لري او کنه؟(۱۳۴۰/۸۰۲هـ)

ځواب: حقدار دي.

سوال: (۴۶) مؤذن او امام چې په مسجد کي ملازمان دي د دوی لپاره رخصت اخیستل جائز دی او کنه؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۱۵هـ)

ځواب: د مؤذن او امام لپاره رخصت اخیستل جائز دي خو مره چې ضرورت وي رخصت دي واخلي شرعًا څه پروا نلري. فقط

کوم امام چې صرف د یو وخت لمونځ ورکوي هغه پوره تنخواه نشي اخیستلای

سوال: (۴۷) یو سړی د مسجد امام دی په پنځه وخته کي صرف د یو وخت اذان کوي او لمونځ ورکوي په نورو وختونو کي اذان لا هم نه کوي او د مسجد وظیفه ډوډی اخلي نو د دې څه حکم دی؟(۱۳۳۸/۸۸۹هـ)

ځواب: دا صحیح نه دی او په داسي حالت کي د ده لپاره وظیفه اخیستل صحیح نه دي. فقط

د امام په مقرره شوې وظیفه کې کلیوال کمي کولای شي او کنه؟

سوال: (۴۸) که امام ته د مقررولو پر مهال وظیفه ورمقرره شي نو بیا کلیوال په دغه مقرره وظیفه کې کمي کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۳۵هـ)

ځواب: د امام مقرره شوې وظیفه که ائنده کلیوال کمول وغواړي نو کمه ولای یې شي لیکن و امام ته اختیار دی چې پر دغه کمي پاتیږي او کنه پاتیږي کما هو حکم الاجارة. فقط

امام که نائب مقرر کړي او د خپلې تنخواه څخه هغه ته تنخواه ورکوي

سوال: (۴۹) د یو مسجد د امام د میاشتي ثلو ښت روپۍ تنخواه ده حج ته ولاړی پر خپل ځای باندې د میاشتي په پنځلس روپۍ نایب وټاکی ایا د نوموړي امام صاحب لپاره د میاشتي له مسجد څخه ثلو ښت روپۍ اخیستل او خپل خلیفه ته د میاشتي پنځلس روپۍ ورکول او نورې پخپله راګرځول شرعًا جائز دي او کنه؟ او د مسجد د متولي لپاره د وقف روپۍ بېله ملازمت کولو و امام ته ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۷۸هـ)

ځواب: کله چې نوموړی امام صاحب پر خپل ځای خپل نائب وټاکي او متولي هم په دې راضي وي نو د امام لپاره پوره تنخواه اخیستل او ورکول او د ده و نائب ته د امام له طرفه مقرره شوې تنخواه اخیستل او ورکول صحیح دي په شامي کې راغلي دي: و يستحق الاصل الكل ان عمل اكثر السنة و سكت عما يعينه الاصيل للنائب كل في مقابلة عمله و الظاهر انه يستحقه لأنها اجارة الخ (۱) فقط

مهتمم که د قانون په خلاف وکوم مامور ته رخصت ورکړي

سوال: (۵۰) ... (الف) په عربي مدارسو کې د جاري قاعدو په خلاف که ناظم و کوم ملازم ته رخصت ورکړي نو د شریعت په خلاف دي او کنه؟

(ب) کوم ملازمان چې د اصولو په خلاف ولاړ شي د هغوی لپاره معاوضه اخیستل څنګه دي؟

(ج) ناظم که دغه فعل جائز وبولي نو قابل د ملامتیا دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۴۰۱هـ)

---

(۱) الشامي: ۴۴۸/۳ کتاب الوقف، مطلب في الاستنابة في الوظائف. ط رشيديه

ځواب: (الف) خلاف نه دی.
(ب) که مهتمم ورکړي نو د دوی لپاره اخیستل صحیح دي.
(ج) نه دی. فقط

د مدرسي ناظم د ناجوړي د ورځو تنخواه اخیستلای شي او کنه؟

سوال: (۵۱) یو سړی د ملازم په حیث په یوه اسلامي مدرسه کي ناظم ؤ ده د خپلي ناروغۍ او ناجوړۍ په زمانه کي بېله کار کولو د دستور العمل په خلاف تر دیارلسو میاشتو پوري پوره تنخواه واخیسته دا جائز دي او کنه؟ د ناجائز والي په صورت که دا سړی دغه بیرته ورنکړي نو عند الله به مجرم وي او کنه؟ (۴۲/۳۳۸ ۱۳۴۷هـ)

ځواب: که د مدرسي غړي او ممبران د ده سره دا رعایت وکړي چي د ناروغۍ د زماني تنخواه و ده ته ورکړي نو د ده لپاره اخیستل جائز دي او بیرته ورکول پر ده نشته فقط

د مدرس لپاره د رخصت او ناجوړۍ د ورځو تنخواه اخیستل صحیح دي

سوال: (۵۲) زید په یوه مدرسه کي مدرس دی په غټ اختر کي زید کلي ته ولاړی د مدرسي مهتمم دا وفرمایل چي د غټ اختر د پنځلسو ورځو له رخصت څخه سیوا که ستاسو کومه مجبوري وي نو د هغه ورځو رخصت هم حالاً د وطن د هستوګني لپاره اخیستلای شئ زید چي کلي ته ولاړی هلته مریض شو د ناجوړۍ په وجه او ویشت ورځي نوري هم تیري کړې د ناجوړۍ د رخصت لپاره په هر کال کي یوه میاشته شته زید چي ځنګه راغلی له مهتمم صاحب څخه د تنخواه غوښتنه وکړه مهتمم د دوو میاشتو وعده ورسره وکړه دا غوړول له یو کال څخه هم زیات له لیت او لعل څخه کار واخیستی آیا د مدرس لپاره د دغه ورځو تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۹۲۰/۱۳۴۵هـ)

ځواب: په دغه صورت کي زید د رخصت او ناجوړۍ د ورځو د تنخواه حقدار دی او د زید لپاره د دغه ورځو تنخواه اخیستل صحیح دي او د مدرسي د مهتمم صاحب لپاره ورکول جائز دي. فقط

د هديې يا صدقې په توګه و مدرس ته ورکړل شوي مال حقدار څوک دی؟

سوال: (۵۳) يوې مؤسسې زيد د تعليم او تعلم لپاره اجير خاص جوړ کړی او د اجارې له ضروري شرطونو يعني تعيين د اجرت او عمل څخه پرته بل کوم شرط نه دی پر ابتدې څه موده وروسته د دغه خبرې اظهار وشو چې که زيد ته کوم څوک د هديې يا صدقې په توګه څه ورکړي نو زيد حق نلري چې هغه پخپله مصرف کړي بلکه هغه نغدي او نور شيان به د مؤسسې وي او س د پوښتنې وړ خبره صرف دا ده چې دا وخت اجاره صحيح پاته شوه که فاسده شوه؟ او که زيد له ملازمت څخه لاس واخيستی نو د وعدې په خلاف کولو جرم به پر مؤسسه والو وي که پر زيد اجير خاص؟ او دا شرط شرعًا جائز دی او که نه؟ (۱۳۴۲/۲۸۷۹هـ)

ځواب: پر زيد لازم دي چې په مقرر وختونو کې ځان د مؤسسې وسپارل شوي تعليم او تعلم ته پېش کړي د همدې په عوض کې پر مؤسسه د زيد تنخواه واجبېږي د هديو او صدقو سره د مؤسسه څه کار نشته ځکه چې:

(الف) دا خبره د مدرسو د هغو ملازمانو په هکله د عرف خلاف ده کوم چې د درس او تدريس لپاره ملازمان ټاکل کيږي د المعروف عرفًا کالمشروط شرعًا(۱) د کلي قاعدې سره سم د زيد مدرس په وسيله حاصلې کړې صدقې عرفًا هم د زيد له فرض څخه خارجې دي

(ب) داغه راز که د اجارې کولو پر مهال داسې کوم شرط لګول شوی وای نو اجاره فاسديده مګر کله چې د اجارې په عقد کې داسې شرط نه دی لګول شوی نو اجاره صحيح ده د مؤسسه والو دې دعوی ته اعتبار نشته.

کومه مدرسه چې حکومتي مرسته اخلي په هغه کې ملازمت کول

سوال: (۵۴) څرنګه چې د فوځ او پوليسو نوکري حرامه ده داغه راز د هغې مدرسې نوکري حرامه ده چې پکې حکومت مرسته کوي آيا دا حرامه ده او که نه؟ (۱۳۴۰/۲۷۵هـ)

ځواب: د فوځ او پوليسو د نوکرۍ د حرمت چې کومه وجه ده هغه د مرسته اخيستونکي مدرسې په ملازمت کې

(۱) الشامي: ۳٦/٤ كتاب البيوع فصل فيما يدخل في البيع تبعا و ما لا يدخل مطلب في بيع الثمر و الزرع و الشجر مقصودا و لفظه: المعروف عرفا كالمشروط لها. ط رشيديه

نشته که څه هم په نورو وجهو په انګریزي مدرسو کي ملازم هم منع دی او کوم مدرسه چي د حکومت امداد اخلي په هغه کي ملازمت هم ښه نه دی نو پرېښودل خو د دې هم ضروري دي لیکن د ضرورت په وجه که څو ورځي وکړي نو دا هم صحیح دي او ګنجایش شته لیکن اراده د پرېښودلو کول پکار ده او کله چي د معاش کوم بل صورت پیدا شو هغه وخت دي یې پرېږدي. فقط

سوال: (۵۵) یو سړی په داسي اسلامي مدرسه کي ملازم دی چي له حکومت څخه مرسته اخلي د دغه سړي ملازمت حرام دی او کنه؟ او نور مدرسان چي په اسکول کي ملازمان دي دینیات ورته وایي د هغو د ملازمتونو څه حکم دی؟ (۱۴۴۷/۱۳۴۰هـ)

ځواب: دغه ملازمت جائز دی که څه هم په هغه صورت چي د معاش بله وسیله وي د دې پرېښودل اولی او احوط دی او د نورو مدرسانو لپاره هم همدغه حکم دی. فقط

د مصیبتونو او بلاوو د لیري کولو لپاره په مسجد کي سورة یونس په اجرت ویل

سوال: (۵۶) د بلاوو او مصیبتونو د لیري کولو لپاره پاؤ باندي لک وارد سورة یونس په مسجد کي په اجرت ویل جائز دي او کنه؟

په عالمګیري پنځم ټوک آداب المسجد کي راغلي دي: رجل يبيع التعويذ في المسجد الخ و ياخذ عليه المال الخ لا يحل له ذلک و فيه ايضا: و يکره کل عمل من عمل الدنيا في المسجد و لو جلس المعلم في المسجد و الوراق يکتب فان کان المعلم يعلم للحسبة و الوراق يکتب لنفسه فلا باس به لانه قربة و ان کان بالاجرة يکره الخ. (۱) (۷۳۸/۱۳۴۱هـ)

ځواب: په اجرت اخیستلو سره داسي ختم په مسجد کي کول ښه نه دی یعني تنزیهي مکروه دی لیکن جائز دی یعني تنزیهي کراهیت سره ځکه چي جواز د تنزیهي کراهت منافي نه دی ګو مطلب دا دی چي جائز دی مګر ښه نه دی بلکه د اولی خلاف دی او د عالمګیري په روایت کي هم تنزیهي کراهت مراد دی او د اولی خلاف او تنزیهي کراهت بو دی. فلا منافاة.

---

(۱) الفتاوی الهندية: ۳۲۱/۵ کتاب الکراهية، الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة و المصحف الخ.

د کرایې د دکان ترمیم پر چا دی؟

سوال: (۵۷) زید له بکر څخه دکان په کرایه واخیستی و عمر ته ئې حبل ظرفه سپله کومي ګټي په هم هغه کرایه ورکړی ناڅاپه د شپې دکان اور واخیستی د د ګرګي او چوکاټونه ټول وسوځېدل اوس د دغه دکان ترمیم پر چا دی؟ آیا پر بکر دی که پر لومړي کرایه دار او که پر دوهم کرایه دار؟ (۴۴/۸۲۵ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: پر لومړي او دوهم کرایه دار د دکان ترمیم نشته د مالک خوښه ده که د خپل دکان ترمیم کوي او که یې نه کوي د ده اختیار دی که ترمیم و نکړي او دکان دار پکې نه کښېني نو اجاره به فسخ شي په درمختار کي راغلي دي: بني المستاجر تنورًا او دكانا عبارة الدرر أو كانونا فى الدار المستاجرة فاحترق بعض بيوت الجيران او الدار لا ضمان عليه مطلقًا(۱) و فيه ايضا: و لا يضمن ما هلک فى يده و فى الشامي: اى لغير صنعه الخ(۲) (شامي) فقط و الله تعالی أعلم

پر نصیحت کولو او فتوی لیکلو اجرت اخیستل

سوال: (۵۸) و یو عالم ته پر درس کولو تنخواه مقررول داغه راز و یو عالم ته پر بیان او تقریر کولو څه ورکول داغه راز که څه د مړي لپاره د قرآن تلاوت وکړي هغه ته څه ورکول یا په رمضان المبارک کي چي حافظ صاحب تراویح ختم کړي د الله په نوم و هغه ته څه ورکول او مفتي ته پر فتوی لیکلو اجرت ورکول جائز دي او کنه؟

(۱۳۳۴-۳۳/۱۱۲۴هـ)

ځواب: د دیني علومو پر درس او تقریر کولو تنخواه اخیستلو ته متاخرینو علماؤو جائز فرمایلي دي او د قرآن شریف پر تلاوت اجرت اخیستل منع دی او په تراویحو کي د قرآن شریف پر ختمولو معاوضه اخیستله هم ناجائز دي ځکه چي دا همد قرآن شریف پر تلاوت اخیستل دي او هغه منع دي او په دي کي عرف ته اعتبار دی لاد

---

(۱) الدر المختار مع حاشية ابن عابدين ۵/۴۹ كتاب الاجارة، باب ضمان الاجير مطلب فى الحارس والخاناتي. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ۵/۴٤ كتاب الاجارة، باب ضمان الاجير، مطلب: يفتى بالقياس على قوله، ط رشيديه

المعروف کالمشروط(۱) نو کله چي معلومه ده چي حافظ بې د روپیو له اخیستلو ختم شریف نه او روي نو دغه اخیستنه د اجرت ده او د قرآن شریف پر ویلو ورکړه او اخیستنه ناجائز ده او پر فتوی لیکنه اجرت اخیستلو نه فقهاؤ جائز فرمایلی دي په در مختار کي راغلي دي: و کجواب المفتی بالقول و اما بالکتابة فیجوز الخ(۲) فقط

سوال: (۵۹) پر تقریر اجرت اخیستل جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۲۷هـ)

ځواب: پر طاعاتو اجرت اخیستل ناجائز دی لیکن څه شیان ځني مستثنی کړي دي مثلاً د قرآن شریف. فقهي علومو او نورو پر تعلیم امامت، تقریر او نورو چي تفصیل یې د شامي په پنځم ټوک کتاب الاجاره (۳) کي راغلی دی نو معلوم شو چي په تقریر اجرت اخیستل هم صحیح دی. فقط

سوال: (۶۰) که کوم سړی بې د کوم فن له زده کړي هر ځای بیان او تقریر کوي چنده تولوي همدغه د معاش وسیله ګرځولې ده دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۸۰هـ)

ځواب: د متاخرینو فقهاؤ فتوی دا ده چي پر وعظ باندي اجرت اخیستل صحیح دي کذا فی الشامی(۴) لیکن وعظ د معاش وسیله ګرځول مناسب نه دي مګر دا چي صالح نیت وي او غرض د هدایت او ارشاد وي که څه هم د دې سره د خپلي ګذارې لپاره اجرت هم اخلي په حدیث شریف کي راغلي دي: انما الاعمال بالنیات و لکل امرئ ما نوی(۵) (الحدیث) فقط

سوال: (۶۱) زه په مدرسه کي ملازم وم د وچ کالی په وجه مي تعلق ورسره ختم شو او د ژوند تېرولو کومه وسیله نلرم که په سفر ولاړ شم چیري تقریر او نصیحت کوم او کوم څه چي بېله غوښتني راکول شي د هغه اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۱۵۲۹هـ)

---

(۱) المعروف عرفًا کالمشروط نصاًرد المحتار ۴۲/۴ کتاب البیوع، مطلب فی بیع الثمر و الزرع و الشجر مقصودا. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۴۱۰/۴ کتاب القضاء، باب التحکیم قبیل کتاب الشهادات. ط رشیدیه

(۳) و زاد بعضهم الاذان و الاقامة و الوعظ الخ(الشامی: ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه)

(۴) مخکنی حواله

(۵) قال علقمة بن و قاص اللیثی یقول: سمعت عمر بن الخطاب رضی الله عنه علی المنبر یقول: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: انما الاعمال بالنیات و انما لامرئ ما نوی الحدیث (صحیح البخاری ۲/۱ باب کیف بدؤ الوحی الی رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ)

ځواب: څه پروا نلري.

پر مدرس ایښې شرطونه بیرته ماتول له نوي سره معامله کول او د عزل په صورت که مدرس د څو میاشتو زیاتوب تنخواه وغواړي

سوال: (۲۲) د یوې اسلامي مدرسې و مدرس ته ضرورت وُ مهتمم د یو مولوي صاحب سره چې په بله مدرسه کې مدرس وُ معامله وکړه او څو شرطونه سره بیان کړو دي بې راوغوښتی نو مدرس هغه ځای ته استعفاء ورکړه دې مدرسې ته راغلی د ذو القعدې په لومړۍ د ده تقرر وشو او س د مدرسې خیني غړي هغه شرطونه چې د مدرس سره مخکې بیان شوي وُ ماتول غواړي او له نوي سره ورسره معامله کول غواړي مدرس صاحب ورته وايي چې ماته د شوال تر پنځلسمې پوري تنخواه راکړي زه به او س ولاړ شم په دغه صورت کې د مدرسې غړي باید مخکنې شرطونه ورسره پوره کړي او کنه؟ او که مدرس صاحب لیرې شي نو د ده لپاره د شوال تر پنځلسمې پوري تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۲۰۴/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د نوموړي مدرس سره چې کومه معاهده وشوه بیله قوي عذر د هغوی ماتول نه دي پکار او تر څو چې دی په مدرسه کې کار کوي ده ته پوره تنخواه ورکول پکار ده لیکن که بالفرض دی او س لیرې کړل شي یا پخپله ولاړ شي نو د راتلونکي شوال تر میاشتې پوري د تنخواه اخیستلو او ورکولو د جواز کومه وجه نه معلومیږي.

مدرس که خپل ضرورت په وجه د لسو پنځو دقیقو لپاره له مدرسې څخه ووزي

سوال: (۲۳) د مدرسې مهتمم و معلم ته وویل چې مدرسې ته راغلې بیا به چیرې نه ځې مګر معلم صاحب کله نا کله د خپل ضرورت په خاطر د پنځو لسو دقیقو لپاره ووزي نو د عمل نه کولو په وجه مجرم دی او کنه؟ (۱۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د المعروف کالمشروط (۱) د حکم په وجه د پنځو لسو دقیقو لپاره د کوم ضرورت په وجه وتل جرم نه دی.

---

(۱) الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح، باب المهر، مطلب: مسئلة دارهم النقش و الحمام و لفافة الکتاب و نحوها. ط رشیدیه

پر تعویذ او دم اجرت اخیستل صحیح دي

سوال: (۲۴) په تعویذ اجرت مقررول څنګه دي؟ او که په خوشحالي سره څه ورکوي د هغه اخیستل څنګه دي؟ د قرآن مجید له آیت څخه دعا کول تعویذ لیکل څنګه دي؟ د قرآن مجید په آیت یا د الله رب العزت په کوم نوم یا د محمد صلی الله علیه وسلم په نوم د څو کسانو سره یا یوازي دعا کول څنګه دي؟ او پر دې باندې اجرت مقررول یا په خوشحالي سره ورکولو په صورت اخیستل څنګه دي؟ (۱۹۵۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: صحیح دي. (۱) فقط

سوال: (۲۵) زید و عمر ته وویل چي شپېته واره الم نشرح ووایه پر ما یې دم کړه زه به انه روپۍ درکړم دا اخیستل جائز دي او که نه؟ (۱۳۱۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دغه صورت پر دم د اجرت اخیستلو صحیح دی کما ورد فی الحدیث(۲) د رواج شویو د قرآن پر ختمونو د دې قیاس نشي کولای.

---

(۱) جوزوا الرقیة بالاجرة و لو بالقرآن کما ذکره الطحاوی لانها لیست عبارة محضة بل من التداوی (رد المحتار ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة و التهلیل و نحوه مما لا ضرورة الیه) ط رشیدیه

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان نفرا من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم مروا بماء فیهم لدیغ او سلیم فعرض لهم رجل من اهل الماء فقال: هل فیکم من راق؟ ان فی الماء رجلا لدیغا او سلیما فانطلق رجل منهم فقرأ بفاتحة الکتاب علی شاء فبرأ فجاء بالشاء الی اصحابه فکرهوا ذلک و قالوا: اخذت علی کتاب الله اجرًا؟! حتی قدموا المدینة. فقالوا: یا رسول الله! اخذ علی کتاب الله اجرًا. فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان احق ما اخذتم علیه اجرًا کتاب الله. رواه البخاری (۸۵٤/۲) و فی روایة: اصبتم اقسموا، و اضربوا لی معکم سهما (مشکاة المصابیح: ص ۲۵۸ کتاب البیوع باب الاجارة)

عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه ان ناسا من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم اتوا علی الحی من احیاء العرب فلم یقروهم فبینما هم کذلک اذا لدغ سید اولیک فقالوا: هل معکم دواء او راق؟ فقالوا: نعم، انکم لم تقرونا و لا نفعل حتی تجعلوا لنا جعلا فجعلوا لهم قطیعا من الشاء فجعل یقراء بام القرآن و یجمع بزاقه و یتفل فبراء فاتوا بالشاء فقالوا: لا ناخذه حتی نسئل النبی صلی الله علیه وسلم فسالوه فضحک وقال: ما ادراک انها رقیة خذوها و اضربوا لی بسهم (صحیح البخاری: ۸۵٤/۲ کتاب الطب، باب الرقی بفاتحة الکتاب)

سوال: (۲۶) یو دم او تعویذ کونکی دی د ساپي او نورو ناروغیو لپاره پر یو څلوېښتو هیلو اووه واره سورة مزمل وایي او پر یوه هیل یوه آنه غواړي دا اخیستل جائز دي او کنه؟ (۴۲/۱۵۵۲-۱۳۴۵هـ)

ځواب: شرعًا پر دم کولو څه اخیستل جائز دي.

د مسجد د ځمکي له آمدنۍ څخه و امام ته تنخواه ورکول

سوال: (۲۷) د مسجد د ځمکي له آمدنۍ څخه و امام ته تنخواه ورکول څنګه دي؟ چي څه حکم دی راته بیان یې کړئ او د عیسایانو د ځمکي عطیه د مسجد په آمدني کي لګول جائز دي او کنه؟ (۴۲/۱۹۹۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د دغه ځمکي آمدني په مسجد کي لګول او د مسجد و امام ته تنخواه ورکول دا هم د مسجد خرڅ دی او په تعمیر کي مصرفول هم په مسجد کي لګول دي نو متولي او کلیوال چي څنګه مناسب وبولي د دغه ځمکي آمدني دي مصرفه کړي که د ځمکي آمدني د مسجد په تعمیر کي ولګوي نو جائز دي لیکن د مسجد د امام لپاره (د تنخواه) بل انتظام کول پکار دي. فقط

دلال اجرت اخیستلای شي

سوال: (۲۸) د دلال لپاره اجرت اخیستل جائز دي او کنه؟ (۳۹/۵۵۲-۱۳۴۰هـ)

ځواب: د کوم شی پر خرڅولو یا رانیولو کي په دلال کار کول او سعی په کول صحیح دي او اجرت چي څومره د ده معروف وي یا چي څومره مقرر وي هغه ورکول جائز دي په در مختار کي راغلي دي: و اما الدلال فان باع العین بنفسه باذن ربها، فاجرته علی البایع و ان سعی بینهما و باع المالک بنفسه یعتبر العرف الخ و فی الشامی: قوله: یعتبر العرف فتجب الدلالة علی البائع او المشتری او علیهما بحسب العرف الخ (۱) (شامی: ۴/۴۲)

دلال (اړهت) که له دواړو ډلو څخه اجرت واخلي او د دلال بنه میوه چښول څنګه دي؟

سوال: (۲۹) ... (الف) د الرشید په دربیم ټوک دربیم مخ کي لیکلي دي چي که دلال له دواړو ډلو څخه مزدوري واخلي یا بنه

---

(۱) الدر المختار و الشامی: ٤/٤٤ کتاب البیوع، مطلب: فساد المتضمن یوجب فساد المتضمن. ط رشیدیه

میوه چاڼ کړي نو صحیح دي دا جواب صحیح دی که په چاپ کې کوم لفظ پاتـه شوی دی که صحیح دي نو د کتاب حواله راکړئ؟ (۲۲۸/ ۳۲ ۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) د دلال لپاره له دواړو طرفونو څخه اجرت اخیستلو جواز د در مختار او شامي په دغه روایت کې بیان شوی دی فی الدر المختار: و اما الدلال فان باع العین بنفسه باذن ربها فاجرته علی البائع و ان سعی بینهما و باع المالک بنفسه یعتبر العرف الخ قال المحقق الشامی: قوله (یعتبر العرف) فتجب الدلالة علی البائع او المشتری او علیهما بحسب العرف جامع الفصولین(۱) (شامی څلورم ټوک. کتاب البیوع)

ترجمه: دلال که د مالک په اجازه سره پخپله بیع کوي نو دده اجرت پر بائع یعني مالک باندې دی او که دلال د دواړو یعني د بایع او مشتري تر منځ ساعی او کوښښ کونکی دی او خرڅونکی پخپله مالک دی نو په دې کې و عرف ته اعتبار دی پر دې علامه شامي علیه الرحمة لیکي: چې که عرف دا دی چې اجرت له بائع څخه اخیستل کیږي نو پر بائع دی او که له مشتري څخه د اخیستلو عرف دی نو پر مشتري دی او که له دواړو یعني بائع او مشتري څخه د اخیستلو عرف دی نو له دواړو څخه به اخیستل کیږي نو له دغه روایت څخه معلوم شو چې سعی کونکي دلال ته له دواړو طرفو څخه اجرت اخیشتل جائز دی او زما مراد له دلال څخه هم هغه دلال دی کوم چې سعی کونکی وي د بائع او مشتري تر منځ نو کله چې له دواړو طرفونو څخه د اجرت اخیستلو رواج دی نو صحیح دی.

او د ښې میوې اخیستلو جواز د مالک پر رضا موقوف دی نو په دې کې څه شک دی چې مالک پخپله خوښه و دلال ته ښه میوه ورکړي ځکه چې هر چا ته د خپل مال د ورکولو اختیار دی نور نو که دلال وي او که بل څوک د چا مال د هغه بې اجازې نشي اخیستلای په حدیث شریف کې راغلي دي: الا لا یحل مال امرء الا بطیب نفس منه الحدیث رواه البیهقیٰ وغیره(۲) په یاد لرئ چې حلال ندی د چا مال اخیستل مګر د هغه په خوښې او رضا نو زما غرض په دې ځای کې بس دومره ؤ چې دلال که د مالک په اجازه او خوښه کومه ښه میوه واخیسته نو صحیح ده. فقط

---

(۱) الدر و الشامی: ٤/٤٤ کتاب البیوع، مطلب: فساد المتضمن یوجب فساد المتضمن. ط رشیدیه

(۲) عن ابی حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا یحل مال امرء الحدیث (مشکاة المصابیح ص: ۲۵۵ کتاب البیوع باب الغضب و العاریة)

سوال: (ب) تر اوسه مي لا شک دفع نه شو ستا له لیک څخه معلوميږي چي دلال او اړهت يو دی حقيقت دا دی چي دلال بېل دی او اړهت بېل دی يعني دلال خو هغه وي چي په سعی کولو د چا مال خرڅوي يا يې رانيسي کوم ته چي دلال ويل کيږي د هغه د اجرت د جواز په اړه کلام نشته خبره په اړهت کي ده اړهت هغه ځاته ويل کيږي د چې دکان ته چي خلک خپل مالونه راوړي او خرڅوي يې يا يې د ده په وسيله خرڅوي اړهت کله نا کله د مالونو والو څخه د اړهت په توګه څه اخلي او کله له رانيونکي څخه هم څه اخلي شک په دې کي دی چي دغه د اړهت اخيستل د کوم شي اجرت دی که د مالونو والو څخه بالفرض کومه د اجرت معامله وي نو له رانيونکيو څخه (چونکه د دوی کوم کار يې نه دی کړی) څه اخيستل ولي جائز کيدلای شي؟ لهذا په عامه توګه د اړهت د جواز حکم ليکلو ښه نه شوم پوهه او ښه ميوه چانتي کول ېېله تعينه او بېله تعداده اخيستل هم په طيب خاطر نه وي بلکه د مجبورۍ په وجه "قهر درويش بجان درويش" مالونو وال پټه خوله شي همدغه وجه ده چي کله ناکله جګړه هم راشي تجربه پر دې ګواه ده د دې د جواز په حکم هم نه شوم پوهه. (۳۲/۷۷۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (ب) عرض دا دی چي زمونږ په علم کي اړهت هم هغه دلال دی او له اړهت څخه لکه څنګه چي بائع مرسته اخلي داغه راز يې مشتري هم ځني اخلي زمونږ په خيال په عرف کي همدا معروف دی په همدې وجه د دلال د اجرت روايت نقل کړل شو او هغه روايت په دغه مسئله کي څرګند دي كما لا يخفى.

او د ښې ميوې په را ايستلو کي د مالک د رضا شرط څرګندونه مي کړې وه که مالک راضي نه وي نو د جواز شرط پر ځای نه شو ستاسو په شک او فتوی کي تعارض پاته نه شو د عدم رضا په صورت کي هيڅوک ورته جائز نه وايي او نه په فتوی کي جائز ليکل شوي دي

پاته شو د اړهت هغه صورت کوم چي تاسو ليکلی دی چي اړهت د مشتري لپاره کومه سعی نه کوي بلکه سعی د ده د بائع لپاره وي نو په دغه صورت کي ښکاره ده چي د اړهت د اجرت حق پر بائع جوړيږي او دغه جز هم په فتوی کي بيان شوی دی او دوهم صورت چي تاسو ليکلی دی چي صرف د اړهت پر دکان خپل مال کښيږي پخپله يې خرڅوي د اړهت په بيع او عقد کي هيڅ وسيله نه وي

نو زمونږ په خيال اړهت په عرف کي و دې ته نه وابي او که وابي نو هم څه خبره نه ده په دغه صورت کي هم د ده پر مالکانو د معروف اجرت حق جوړيږي غاية ما فى الباب ستاسو په قول به دا اجرت د دلالي نه وي بلکه د دکان اجرت دى چي پر عرف باندي حمل شوى دى مګر دا تفريع ستاسو پر قول ده کني عرف هم هغه دى چي اړهت سعى کوي درخ خوي يې د اصل مسئلې يو بل عبارت د در مختار باب ما يجوز من الاجارة و ما يكون خلافًا فيها کي راغلي دي: استعان برجل فى السوق ليبيع متاعه فطلب منه اجرًا فالعبرة لعادتهم(۱) په شرح حموي کي راغلي دي: قوله استعان برجل فى السـوق الخ يعني و لم يعين له اجرًا(۲) نوري جزئياتي په فتاوى عالمګيري باب سادس عشر کي راغلي دي(۳)

دلال له بائع او مشتري دواړو څخه اجرت اخيستلای شي

سوال: (۷۰) د دلال لپاره له دواړو طرفونو څخه اجرت اخيستل دي که څنګه؟ يعني کوم اجنبي سړى چي د بائع او مشتري دواړو کار ورجوړ کړي هغه له دواړو څخه مزدوري اخيستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۹۳۰هـ)

ځواب: د داسي دلال اجرت فقهاؤ پر عرف او رواج پرې ايښى دى که د بائع څخه د اجرت اخيستلو عرف وي نو له بائع څخه دي واخلي او که له مشتري څخه اخيستل کيږي نو له مشتري څخه دي واخلي او که له دواړو څخه د اخيستلو عرف وي نو له دواړو څخه اخيستلای شي په در مختار او شامي کي راغلي دي: و ان سعى بينهما و باع المالک بنفسه يعتبر العرف فتجب الدلالة على البائع او المشترى او عليهما بحسب العرف جامع الفصولين(۴) (شامي) فقط

---

(۱) الدر مع الشامي: ۱۹/۵ کتاب الاجارة، باب ما يجوز من الاجارة و ما يكون خلافًا فيها، آخر مطلب فى الارض المحتكرة و معنى الاستحكار. ط رشيديه

(۲) غمز عيون البصائر على هامش شرح الاشباه و النظائر للعلامة السيد احمد بن محمد الحموي المصرى رحمه الله: ۳۷٤/۲ الفن الثاني، کتاب الاجارات، رقم القاعدة: ۱٦۲۷، المطبوعة: ادارة القرآن و العلوم الاسلامية کراتشي. باکستان

(۳) و فى الواقعات للناطفى اذا قال لرجل: بع هذا المتاع و لک درهم او قال: اشتر لى هذا المتاع و لک درهم، ففعل فله اجر مثله لا يجاوز به الدرهم و فى الدلال و السمسار يجب اجر المثل(الفتاوى الهندية: ٤/ ٤٥٠ کتـاب الاجـارة، الباب السادس عشر فى مسائل الشيوع فى الاجارة و الاستئجار على الطاعات و المعاصى و الافعال المباحة)

(٤) الدر و الرد ٤/ ٤٤ کتاب البيوع، مطلب: فساد المتضمن يوجب فساد المتضمن. ط رشيديه

دلال له بائع او مشتري دواړو څخه اجرت کله اخیستلای شي؟

سوال: (۷۱) دلال له بائع او مشتري دواړو څخه په روپۍ کې ټکه یا پیسه اخلي دا جائز دي او کنه؟ (۱۴۷۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په شامي کې لیکلي دي چې کوم ځای دا رواج وي چې دلال له دواړو څخه اجرت اخلي نو د عرف سره سم دا اخیستل جائز دي مګر دا هغه وخت دی چې دلال به پخپله خرڅ نکړي مالک یې پخپله خرڅ کړي او دلال د بائع او مشتري تر منځ سعي او کوشش وکړي او که دلال د چا شی پخپله خرڅ کړي نو د هغه اجرت صرف پر بائع دی له مشتري څخه څه اخیستل د ده لپاره صحیح نه دي په در مختار کې راغلي دي: و اما الدلال فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع(در مختار) و ليس له اخذ شيء من المشترى الخ(شامي) و ان سعى بينهما و باع المالك بنفسه يعتبر العرف (در مختار) فتجب الدلالة على البائع و المشترى او عليهما بحسب العرف جامع الفصولين(۱)

په روپۍ کې یوه پیسه اجرت غوښتل

سوال: (۷۲) زمونږ په کلي کې داسي ډیري کپړې جوړیږي چې د خرڅولو لپاره دلالان شته دوی له کار کونکیو څخه دلته تانونه راوړي خرڅوي یې او له کار کونکیو څخه په یوه روپۍ کې یوه پیسه اجرت اخلي که په پنځه روپۍ تان خرڅ شو نو پنځه پیسې د ده اجرت شو که په شپږ روپۍ خرڅ شو نو شپږ پیسې اجرت شو دا صورت جائز دی او کنه؟ ځیني خلک وايي چې اجرت خو مقرر شوی نه دی ځکه جائز نه دی.

(۱۳۳۹/۹۸هـ)

ځواب: د دلال د اجرت په اړه په در مختار او شامي کې لیکلي دي چې د عرف سره سم د دلال لپاره اجرت اخیستل صحیح دي نو دغه صورت چې په سوال کې دی صحیح دی. (۲) فقط

---

(۱) الدر و الرد ٤/٤٤ كتاب البيوع، مطلب: فساد المتضمن يوجب فساد المتضمن. ط رشيديه

(۲) مخکنی حواله

محکمې فیصله وکړه چې کرایه دار به په درې میاشتنې کې دکان خالي کوي آیا کرایه د دغه فیصلې په خلاف عارضه کولای شي؟

سؤال: (۷۳) په رنګون کې له څو کلونو څخه سرکاري قانون دا دی چې تر څو کرایه دار میاشت په میاشته کرایه ادا کوي تر هغو د مکان مالک په کرایه دار مکان نشي خالي کولای او نه په کاریه کې زیاتوب کولای شي اما په هغه صورت کې چې کله له نوي سره د مکان جوړولو یا ترمیمولو ضرورت وي او که کرایه دار پخپله مکان خالي کړي نو قانونًا د مکان مالک مجبور دی چې نه بل کرایه دار څخه به هم هغه کرایه اخلي کومه چې له لومړي څخه اخیستله نو او س یو داسي کیسه وشوه چې د یو لوی تاجر زید سره د یو هندو دکان له ډیرشو کلونو راهیسي په کرایه ؤ کله چې مالک د آمدنۍ د زیاتولو لپاره د ترمیم اراده وکړه نو زید د ترمیم نه کولو او نه خالي کولو په حالت کې په سل کې د پنځوسو روپیو زیاتو ورکولو په خوشحالي خبره ورسره وکړه لیکن هغو ونه منله او په محکمه کې یې عارضه وکړه محکمې فیصله وکړه چې زید به په درې میاشتې کې دکان خالي کوي اوس وکیلان و زید ته وایي چې ته د دغه فیصلې په خلاف عارضه وکړه چې له ترمیم وروسته دې مالک دکان و زید ته په کرایه ورکړي او د ترمیم د مصرف په لحاظ دې زیاتوب کرایه واخلي شرعًا د زید لپاره داسي عارضه کول جائز دي او کنه؟ او د زید خیال دی چې که ما بل نوی دکان په کرایه ونیوی نو ډیر تاواني به شم (۲۹۸/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دا خو ښکاره ده چې زید ته کله دغه دکان د حکومت د قانوني زیاتوب کرایې سره په معلومه او ټاکل شوې کرایه ورکول شي نو داسي اجاره صحیح کیږي اما خبره په دې کې ده چې د زید لپاره داسي عارضه کول شرعًا جائز دي او کنه؟ چې له ترمیم وروسته دې دغه دکان ما ته په کرایه راکړي ځکه چې شرعًا مالک د دکان مجبور نه دی چې همده ته ورکړي بلکه ده ته اختیار دی چې له چا سره غواړي د اجارې معامله دې وکړي لیکن په دې خیال چې د دکان د مالک په دې کې هیڅ نقصان نشته ځکه چې دی که هر چا ته ورکړي په همدغه کرایه به یې ورکوي له دې څخه زیاتوب نشي اخیستلای او زید که عارضه ونـــه کړي نو د ده عظیم نقصان دی نو د "لا ضرر و لا ضرار"(۱) د قاعدې سره سم دا ګنجائش

---

(۱)عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا ضرر و لا ضرار (ابن ماجة: ۱۶۹/۲ ابواب الاحکام، باب من بنی فی حقه ما یضر جاره)

معلومیږي چې زید دي عارضه وکړي دغه دکان چې له مخکې څخه د ده سره په کرایه ؤ د مقرر شوي زیاتوب سره په کرایه واخلي هذا ما ظهر لی. فقط

سرای په کرایه ورکول سود نه دی

سوال: (۷۴) ما پخپلو روپیو یو سرای جوړ کړی کرایه دار ته مي په کرایه ورکړی دا کرایه اخیستل څنګه دي؟ سود خو به نه وي؟ (۵۳۸/۳۲-۱۳۳۰ھ)

ځواب: دغه کرایه اخیستل صحیح دي. سود نه دی.

آیا کرایه دار د ځان سره د کرایې په سرای کې شریک کړی سړی جلا کولای شي؟

سوال: (۷۵) زید یو سرای په کرایه نیولی ؤ ده ته اختیار ؤ چې په دغه سرای کې د ځان سره بل څوک په کمه یا زیاته کرایه شریک کړي په دې وجه زید د خالد سره خبره وکړه چې ته دومره کرایه راکوه زما سره اوسیږه وروسته د رخصت په زمانه کې خالد کلي ته ولاړی چې بیرته راغلی د ده او د زید جګړه راغله زید و خالد ته وویل چې زما سرای راخالي کړه خالد په جواب کې ورته وویل ما د رخصت په ورځو کې هیڅ استفاده څني نه ده کړي بلکه داغسي مي کرایه درکړه په دې امید چې آئنده به هم زه له دغه سرای څخه استفاده کوم څکه زه هیڅکله سرای نه شم خالي کولای نو په دغه صورت کې زید په خالد مکان خالي کولای شي او کنه؟ که خالد له مکان خالي کولو څخه انکار وکړي نو د ده لپاره څه حکم دی؟ (۱۵۴۲/۱۳۴۱ھ)

ځواب: په دغه صورت کې و زید ته اختیار دی چې د کومې میاشتې په پای کې وغواړي په خالد مکان خالي کولای شي او د خالد مکان نه خالي کول ظلم او معصیت دی.

له مقرري کړي کرایې څخه کمې کول صحیح دي

سوال: (۷۶) یو سړي خپل مکان د کاله په شپېته روپۍ کرایه ورکړی او د کرایې ورکولو اصول دا دي چې دیرش روپۍ په شپږ میاشتې کې ورکول کیږي او دیرش روپۍ د کال په پای کې ورکول کیږي او س

د مکان وال د شپږو میاشتو په منځ کي ضرورت شو نو ده د شلو روپیو غوښتنه له کرایه دار څخه وکړه او ورته وویل چي د دغه شل روپۍ چي زه غوښتنه کوم د دیرشو پر ځای دي لس روپۍ ما له خپل طرفه پرېښودې دا صورت جائز دی او که ناجائز؟
(۲۴۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا صورت صحیح دی ګو د دې دا مطلب شو چي د مکان مالک په دغه شپږو میاشتو کي لس روپۍ پرېښودې کمه کرایه یې واخیستله شرعًا داسي څه پروا نلري.

پنشن اخیستل جائز دی

سوال: (۷۷) ... (الف) زید څورلس کاله په انګریزي فوج کي ملازمت وکړی د هندوستان حکومت و ده ته د میاشتي پنځه اویا رروپۍ پنشن (وظیفه) ورکول غواړي مګر زید په لاندي لیکل شویو وجهو انکار کوي او خامخا و حکومت ته پنځه اویا روپۍ پنشن ورپرېږدي د حکومت مرسته کوي:

(ب) کله چي ملازمت د فوج حرام دی نو پنشن یې هم حرام دی.

(ج) پنشن اخیستل پر خدای باندي د اعتماد کولو خلاف دی.

(د) پنشن یو ډول سود دی نور او نور آیا د زید د خیال سره سم په دغه صورت کي پنشن اخیستل حرام دی؟ (۱۴۴۳/۱۳۴۳هـ)

ځواب: لنډیز د جواب په دغه صورت کي دا دی چي د زید لپاره پنشن اخیستل جائز دی او دا وینا د زید چي پنشن د توکل په خلاف دی یا سود دی صحیح نه ده او د فوج ملازمت په داسي حالت کي چي مسلمانانو ته په مقابله کي ورشي بېشکه حرام دی لیکن چي کله ملازمت پاته نه شي نو پنشن اخیستل منع نه دی او که زید پخپله د دې مصرفول نه غواړي نو راوادي خلي و ناوسو او مسکینانو مسلمانانو ته دي ورکړي هلته پرېښودل ښه نه دي. فقط

سوال: (۷۸) حکومت چي ملازمانو ته کوم پنشن ورکوي د هغه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۷۸۴/۱۳۴۵هـ)

ځواب: دا هم د حکومت عطیه ده او د ملازمت د خدمت یوه صله ده د دې په جواز کي کومه شبه نشته. فقط

له حکومت څخه پنشن اخیستل صحیح دی

سوال: (۷۹) له حکومت څخه پنشن اخیستل جائز دی او کنه؟ (۱۴۲۲/۸-۱۳۳۸ھ)

ځواب: پنشن اخیستل صحیح دي. فقط

په دار الحرب کي په پولیسو او فوج کي ملازمت کول او پنشن اخیستل

سوال: (۸۰) ... (الف) یو سړي په پولیسو کي له اته ویشت کلونو راهیسي ملازم دی د ملازمت و ختمېدو ته یو کال پاته دی په داسي حال دی دغه ملازمت پرېږدي او کنه؟

(ب) دا وروخت چي کوم خلک له حکومت څخه پنشن اخلي د مسلمانانو لپاره شرعًا د پنشن روپۍ په موجوده حالت کي جائز دي او که حرام؟

(ج) مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله په صفائي معاملات کي لیکلي دي: چي پر حرامه ګټه کونکی کوم شی خرڅولو وروسته له هغه څخه قیمت اخیستل یا د ده پر کوم کار کولو څني اجرت اخیستل حلال نه دی او د جمعیة العلماء د هلي د فتوی په رڼا کي د پولیسو ملازمت حرام دی نو کوم خلک چي د پولیسو ملازمان دي د هغوی تنخواوي حرامي دي کنه؟ (۱۳۴۰/۸۸۵ھ)

ځواب: (الف - ج) د فوج او پولیسو د ملازمت حرام کېدل ښکاره دي چي دا خلک پر معصیت مرسته کونکي او د مسلمانانو سره جنګ کونکي او وربانديي ظلم کونکي دي نو دغه ملازمت سمدستي پرېښودل ضروري دی او د دې په وسیله چي کوم پنشن ورکول کیږي هغه هم حلال نه دی نور نو د مجبورۍ، معذورۍ او عیالدارۍ په حالت کي تر څو چي د معاش کومه بله وسیله نه وي که تر څه وخته پوري د دې د حرام بللو سره ملازمت یا پنشن اخیستل باقي وساتي نو شاهد چي د الله رب العزت په رحمت به د مؤاخذې او عقاب څخه خلاصون ومومي توبه او استغفار په هر حال کي شرط دی.

د وفات شوي سړي پنشن په څه ډول تقسیمیږي

سوال: (۸۱) د وفات شوي محمود څه پنشن میاشت په میاشت راځي د ده یوه کونډه رقیه او دوې نابالغي

لوښي او د يوې بلې وفات شوي ښځي صفيې څخه بالغ زوی دی نو د دوی تر منځ به پنشن څه ډول تقسيميږي؟(۱۳۴۳/۲۰۹۰هـ)

ځواب: د وفات شوي محمود پنشن چي د ده له مرګه وروسته راځي هغه د محمود ترکه نه ده په هغه کي شرعي ميراث نه جاري کيږي بلکه په هغه کي چي د چا نوم په حکومت کي ليکل شوی وي او د چا په نوم چي دا پنشن راځي هغوی ته به د شرعي برخو سره سم ورکول کيږي نو بيا به دا ډول تقسيميږي چي له ټولو دو ديرشو برخو څخه به ځلور برخي و کونډي رقيه خورلس برخي د ده و زوی چي له وفات شوي صفيې څخه دی او اوه اوه برخي به هري لور ته ورکول کيږي.

له تنخواه څخه راګرځولي روپۍ د زياتوبه سره ورکول

سوال: (۸۲) يو سرکاري قانون دا دی چي د هر يو ملازم له تنخوا څخه په هره مياشته کي څه روپۍ حکومت ګرځوي چي کله ملازمت ختم شي نو دغه جمع شوي او راګرځولي روپۍ د څه زياتوب سره ورکوي دا سود دی او کنه؟(۱۳۴۰/۱۳۲۰هـ)

ځواب: و دغه صورت ته جائز ويل شوي دي ځکه چي په دې کي حکومت له خپل طرفه داغومره روپۍ زياتي ورکړې دا د انعام په طريقه دي. فقط

سوال: (۸۳) په ځيني اسلامي مکتبونو کي د پنشن د نه والي په وجه دا لاندي طريقه جاري ده د هر استاذ له تنخواه څخه په روپي کي يوه آنه د مياشتي ګرځوي او که کوم استاذ پنځه يا لس کاله پرلپسې ملازمت کولو وروسته مکتب پرېږدي نو د مکتب له طرفه هغومره روپۍ ده ته ورکول کيږي څومره چي تر دغه وخت پوري د ده جمع شوي وي دا خو به ناوړه نه وي؟(۱۳۳۷/۱۲۳۱هـ)

ځواب: هيڅ ناوړتيا پکي نشته. فقط

د مکتب په کاميټه کي جمع شويو روپيو باندي سود ورکول

سوال: (۸۴) ... (الف) له مدرسانو او نورو څخه چي هره مياشته په روپي کي يوه آنه

ګرځول کیږي او د هغومره روپۍ حکومت ورکوي بیا سود ورباندي واچوي په بینک کي جمع کړي کله چي مدرس مکتب پرېږدي هغه وخت یې ورکوي دا سي کول څنګه دي؟

(ب) په مکتبونو کي یوه کامیټۍ دا ډول هم شته چي هر مدرس به د میاشتي څه روپۍ جمع کوي پر هغه باندي به په سل کي نهه روپۍ سود ورکول کیږي دا صورت جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۴۷۴هـ)

ځواب: (الف - ب) کومي روپۍ چي د مدرسانو او ملازمانو له تنخواؤ څخه ګرځول کیږي او بیا د دې سره د هغومره روپۍ نوري ملګري کړي په بینک او نورو کي په سود باندي جمع کړي و مدرسانو او نورو ته د مکتب پرېښودلو پر مهال ورکوي د دې اخیستل د ملازم لپاره صحیح دي او دغه دوهم صورت چي د سود حاصلولو لپاره وي دا صحیح نه دی په دې کي برخه اخیستل صحیح نه دي. فقط

حکومت چي د انعام او سود په نوم کومي روپۍ و ملازمانو ته ورکوي د هغوی اخیستل صحیح دي

سوال: (۸۵) زه ریل ګاډی کي ملازم یم د ریل ګاډۍ شرکت په ټول کال کي د یوې میاشتي تنخواه ګرځوي او د هغومره د ځانه ورسره ګډوي او څه سود هم ورسره جمع کوي او د دې نوم چي له ځانه ورکوي انعام ږدي او نوري چي د سود په نوم جمع کوي هغه سود دی د دغه ټولو روپیو اخیستل د ملازم لپاره د ملازمت ختمیدو پر مهال جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۸۴۲هـ)

ځواب: دغه ټولي روپۍ چي حکومت یې د انعام او سود په نوم و ملازمانو ته ورکوي د ملازمانو لپاره د دې اخیستل جائز دي په حقیقت کي دا ټول انعام دی.

د نکاح تړلو اجرت اخیستل صحیح دی

سوال: (۸۶) ... (الف) د نکاح تړونکي مولوي صاحب یا قاضي لپاره پر نکاح تړلو اجرت اخیستل صحیح دی او کنه؟

(ب) په زیاتره کلو او صحراؤ کي خلګو په خپلو مسجدونو یا مقبرو یا پر عام د ناستي ځایونو

ملایانو او نور د اجرت ورکولو په وعده د نکاح تړلو لپاره مقرر کړي وي د دوی لپاره دغه د نکاح تړلو اجرت اخیستل څه حکم لري؟

(ج) نن صبا د مهر او نکاح په اړه زیاتره جګړې او اختلافات وي په دې وجه په زیاتره ځایونو کي حکومت د نکاح فارمونه را ایستلي دي او په ډیرو ځاینو کي له مخکي څخه لا عمل په کیږي د نکاح تړلو اجرت او د هغه په حکومت کي رسمي کولو مصرف معلوم کړل شوی دی د دې د اخیستلو شرعًا څه حکم دی؟ (۲۲۳/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: (الف) صحیح دی.

(ب) پر نکاح تړلو څه اخیستل جائز دي.

(ج) هیڅ پروا نلري. فقط و الله تعالی اعلم

د نکاح تړلو اجرت جبرًا اخیستل جائز دی

سوال: (۸۷) د نکاح تړلو اجرت جبرًا اخیستل جائز دی او کنه؟ (۱۵۴۰/۱۳۳۵ھ)

ځواب: جائز دی او څومره اجرت چي معروف دی هغه د "المعروف کالمشروط" (الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح) قاعدې سره سم جبرًا هم اخیستلای شي.

سوال: (۸۸) په څو کلیو کي یو سړی د زوم او ناوي والو څخه څه روپۍ را جمع کوي له هغه څخه و نکاح تړونکي او د هغو مشر قاضي ته تنخوا ورکوي آیا د نکاح تړونکي او قاضي لپاره له نکاح والو څخه کومي روپۍ اخیستل شرعًا جائز دي او که ناجائز؟ او له داسي جمع کړیو روپیو څخه د ناکح او قاضي لپاره تنخواه اخیستل څنګه دي؟ او دا ډول روپۍ جمع کول صحیح دي او کنه؟ (۲۵۷۲/۱۳۳۷ھ)

ځواب: د زوم او ناوي وال چي کومي روپۍ بېله جبر او اکراه په خوشحالي ورکړي هغه صحیح دي او جبرًا ځني اخیستل ظلم او حرام دي قال علیه الصلاة و السلام: الا لا تظلموا، الا لا یحل مال امرء الا بطیب نفس منه رواه البیهقي وغیره(۱) (مشکوة شریف) او دَ نکاح تړونکي او قاضي لپاره

---

(۱) عن ابی حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا الحدیث (مشکاة المصابیح ص: ۲۵۵ کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة)

له نکاح والو څخه څه اخيستل که دوی په خوشحالي ورکړي نو د دي په جواز کي هيڅ شک نشته کما هو ظاهر او که د اجاري په طريقه معروف او معلوم اجرت ځني واخلي نو په دې اړه د فقهاء کومه خاص څرګندونه نشته، د قواعدو په رڼا کي د دې جواب ورکول کېدلای شي نو يوه قاعده خو دا ده چي کوم کار پر چا واجب نه وي په هغه دی اجرت اخيستلای شي لکه په شامي (کتاب القضاء ۳۱۱/۴) کي راغلي دي: لان اخذ الاجرة علی بیان الحکم الشرعی لا یحل عندنا و انما یحل علی الکتابة، لانها غیر واجبة علیه(۱) او د درمختار په باب الجنائز کي راغلي دي: و الافضل ان یغسل المیت مجانا فان ابتغی الغاسل الاجر جاز ان کان ثمه غیره و الا لا لتعینه علیه ای لانه صار واجبًا علیه عینا الخ(۲) او بله قاعده دا ده چي پر طاعاتو اجرت اخيستل صحيح نه دی سيوا د قرآن د تعليم او نورو کوم چي له مستثنيات څخه دی کما فی الشامي: لاصل ان کل طاعة یختص بها المسلم لا یجوز الاستیجار علیه عندنا الخ(۳) (کتاب الاجارة) ليکن په ظاهره لومړی قاعده د دې مخصصه ده نو د لومړۍ قاعدې په اساس چونکه پر نکاح تړونکي او قاضي ايجاب او قبول کول او نکاح ورتړل لازم او واجب نه دي چي دوی د دغه کار لپاره متعين نه دی بلکه پخپله ناکحين هم ايجاب او قبول کولای شي او نور خلک يې هم ورکولای شي لهذا د دوی لپاره له نکاح کونکيو څخه معروف اجرت اخيستل صحيح دی په تېره بيا چي د دوی په فارم ډکول او په حکومت کي رسمي کول هم وي فقط

سوال: (۸۹) پر نکاح تړلو اجرت اخيستل او پر نه ورکولو د نکاح کونکيو وارثان مجبورول د دوهمي نکاح اجرت دوه چنده اخيستل او جګړه کول او د کم او زيات اجرت پر ورکولو او نه ورکولو په صورت د نورو خلکو د نکاح تړونکي مرسته کول جائز دي او که نه؟ او مرسته کونکي خو به ګنهکار نه وي؟ (۵۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د نکاح تړلو اجرت اخيستل او د نکاح والو لپاره څه معاوضه ورکول صحيح دي او څومره اجرت چي مقرر وي يا معروف وي نکاح تړونکی جبرًا اخيستلای شي په کومه نکاح کي چي نکاح تړونکی څومره اجرت مقرر کړی يا چي څومره معروف وي هغه اخيستلای شي مګر دا نه دي چي په دوهمه نکاح کي دوه چنده اجرت

---

(۱) رد المحتار ۳۴۵/۴ کتاب القضاء مطلب فی حکم الهدیة للمفتی. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد: ۶۳۴/۱ کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة مطلب فی حدیث "کل سبب و نسب منقطع الا سببی و نسبی" ط رشیدیه

(۳) الشامي: ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب فی الاستیجار علی الطاعات. ط رشیدیه

مقرر کړي یا په دې اړه جګړه وکړي نور نو څه چې مقرر شي هغه ورکول پکار دي مرسته کونکي ګنهکار نه دي ځکه چې نکاح تړونکي ته د دغه مقدار اخیستلو حکم دی.

د نکاح تړونکي په اجرت کي د نورو خپلوانو هیڅ حق نشته

سوال: (۹۰) په یو ښار یا کلي کي له څلورو سوو کلونو څخه یو نکاح تړونکی تا کلی دی د یؤ له وفات کیدو وروسته چي کوم یو وړ وي هغه نکاح تړونکی و ټاکل شي په نکاح کي چي څه ورکول شي هغه پر ټولو تقسیموي اوس له دوو سوو کلونو راهیسي له دغه شریکانو سره هیڅ قرابت او خپلوی نشته شریکان یې نوکری او تجارت کوي او ځیني شریکان بلي او لسوالی ته تللي دي اوس نکاح تړونکي خپله ګزاره په همدې کوي چا چي په خوشحالي څه ورکړو نکاح تړونکي هغه اخلي اوس نکاح تړونکی غواړي چي زه په دغه شریکانو کي و هیڅ ته نه کړم ور زما د حق المحنت څوک وارث نه دی شرعاً څه حکم دی؟ (۲۴۴۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د نکاح تړلو اجرت چاته ورکول شي هغه یې مالک دی بل څوک پکي حق نلري د نکاح تړونکي خوښه ده که چاته ورکوي او که نه ورکوي په ده څوک دعوی نشي کولای او نه ورسره څوک شریک دی. فقط

د عیسایانو په مکتب کي نوکري کول

سوال: (۹۱) زید امید لري چي د عیسایانو په مکتب کي ملازم شي مګر هلته په ملازمت کي لاندي لیکل شوي نقصانونه دي:

په هغه مکتب کي د نورو سبقونو سره انجیل هم درسیږي چي پکي ابن الله او نوري ګډي وډي خبري هم وي لیکن زید د عقیدې کلک دی.

بل دا چي هره ورځ سهار به مدرسان او ټول هلکان په یو ځای راجمع کیږي چي د عیسایانو ملا څه غزلي وایي په هغه کي ځیني ګډوډې خبري وي.

دریم دا چي د هري یکشنبې په ورځ صرف سهار به ټول طالبان او استاذان حاضریږي څه وخت به پته خوله کښیني

او عیسایان پخپل عبادت کي مشغول وي چي عیسایان نه دي هغوی ته خوله ناست وي دوی ته کوري په داسي صورت کي د زید لپاره د عیسایانو په مکتب کي نوکري کول څنګه دي؟(۱۹۰۹ ۳۲ ۱۳۳۰ هـ)

ځواب: دغه ګډوډي خبري چي په سوال کي لیکل شوي دي بېسکه دي نه پام کول ضروري دي او دغه ګډوډو باندي فکر کول پکار دي د مسلمان لپاره ډېره د افسوس خبره ده چي دی د کفر الفاظ په خوله ووايي يا يي واوري او شريک د داسي دلي سره شي چي د اسلام په خلاف تعليم ورکوي (په آيتونو او حديثونو د دغه کارونو ممانعت معلوم او محقق دی) د زيد لپاره صحيح نه دی چي په دغه ګډوډو کي ځان واچوي رزق الله ورکوي حلال ملازمتونه هم پيدا کيږي پر امامت او د دين پر عليم اجرت اخيستل حلال او صحيح دی د فقهي په کتابونو کي د دي څرګندونه راغلي ده(۱) نو بيا څه ضروري ده چي په حلاله ګټه کي شک وکړي او په ناروا کي ځان واچوي فقط

سوال: (۹۲) د عيسايانو په مکتبونو کي د انګريزي اردو . فارسي او نورو تعليم ورکولو په اړه دوه صورتونه دي:

يو دا چي د هلکانو په مکتبونو کي به ټول هلکان او استاذان د عيسايانو په دعا او عبادت حتمًا حاضريږي.

دوهم دا چي د انجونو په مکتب کي په هر صنف کي بالغي او نابالغي بې پردہ انجوني وي مګر په دغه زنانه مکتب کي د دعا او عبادت په اړه څه نه وي په دواړو صورتونو کي شرعًا څه حکم دی؟(۲۵۱۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: دا دواړه صورتونه صحيح نه دي لهذا احتياط په همدې کي دی چي داسي ملازمت سړی ونکړي.

د حکومت په مکتبونوکي د عربي تعليم ورکول

سوال: (۹۳) د حکومت په مکتبونو کي د عربي د تعليم ورکولو ملازمت کول چي په نصاب کي د اسلام په خلاف کوم کتاب نه وي او په دغه ملازمت کوم مذهبي شعار نه ترک کيږي بلکه د مذهب مرسته

---

(۱) قال فی الدر المختار: و يفتی اليوم لصحتها لتعليم القرآن و الفقه و الامامة و الاذان الخ و قال الشافی: و زاد فی متن المجمع الامامة و مثله فی سنن الملتقی و الدرر البحار (الدر و الرد ۳۸/۵ کتاب الاجارة. باب الاجارة الفاسدة. مطلب: تحرير مهم فی عدم جواز الاستيجار علی التلاوة الخ. ط رشيديه)

په کېږي او ماشومانو ته د نېک هدایت کولو موقع وي په تېره بیا نورو فرقو د مسلمانانو په مقابله کې خپلو مذهبي ژبو سنسکرت او هندي په رواج کولو کې ډېر کوشش کړی دی نو په حکومتي مدرسو کې د داسې عهدو قائمولو یا د دوی پر ځای ساتلو کوشش کول او داسې ملازمت کول جائز دي او کنه؟ (۱۹۱۹/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د مذکوره ملازمت په جواز کې اوس کومه خبره نشته او د ترک موالات په وجه که څه هم د ترک معاملات او قطع تعلقات فتوی هم ده مګر په دې کې استطاعت شرط دی یعنې د استطاعت په قدر د عیسایانو سره ترک معاملات او قطع تعلقات د مسلمانانو مذهبي فریضه ده نو تر څو چې د دغه ملازمت د ترک او دا ډول نور تعلقاتو قطع کولو استطاعت نه وي تر هغو د جمعیت علماء هند فتوی د دې د عدم جواز نه ده. فقط

د ښاروالي ملازمت کول او د هغه لپاره رایه ورکول

سوال: (۹۴) د ښاروالي کامیټه چې پکې لس یوولس غړي هندوان او مسلمانان شامل دي د ترک موالات مخالف دی او د امن ډلي مرسته کونکي په همدې وجه د ځای وال خلافت ډلي او نورو د موالاتو تارکینو دا بندوبست کړی دی چې په آئنده کې د غړیو د ټاکلو پر وخت به مونږ خپل کسان ټاکو دغه ډله به ماته او پرېشانه کړو لهذا په عارضي توګه د ښاروالۍ په معاملاتو کې د اصلاح په نظر د ممبر په توګه یا رایه ورکونکي په توګه برخه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۱۱۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: چونکه اصلاً د ښاروالۍ په دغه کامیټه کې برخه اخیستل حرام دي او د دې لپاره رایه ورکول هم ناروا دي ځکه د بیان شویو مصلحتونو په وجه د دې د جواز فتوی نشي ورکول کیدلای او دا له همیشه څخه د محقیقینو علماؤ فتوی ده چې د دغه ښاروالي ډلي ملازمت هم صحیح نه دی ځکه چې د دې په اړه د شریعت په خلاف مالیې او نور اخیستل دي خو د کانګریس د مقرر شویو اصولو لاندې د محصولښه ورکول هم جاري کیدونکي دي او د ښاروالۍ ډلي تعلق د محصول وصولولو سره دي نو بیا تر ترک موالات لاندې د ښاروالۍ ډلي ممبري څنګه راتلای شي؟ په هر حال دا وخت بحث د شرعي مسئلې په حیث دی او شرعي مسئله دا ده چې د دغه ښاروالۍ ډلي ملازمت ناجائز دی لهذا د دې لپاره رایه ورکول هم جائز نه دي. فقط

د رشوت، سود، وکیل او فاحشې ښځې په ګټه کې فرق

سوال: (۹۵) د وکالت یا مختار کاري ګټه څنګه ده؟ آیا د بوې فاحشې او بد چلندي ښځې او وکیل په ګټه کې فرق شته او د وکالت روزي څنګه ده؟ د سود، رشوت او وکالت په روپیو کې څه فرق شته؟ (۱۱۰۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د رشوت، سود او بد چلندي ښځې د ګټې په حرمت کې خو هیڅ شک نشته د وکیل ګټه مطلقه حرامه نه ده په صحیح او رښتیا مقدمه خو ښکاره ده چې هیڅ باک او پروا نشته او د دروغو په مقدمه کې خبرۀ نو ګنهکار دی داغه راز د سود او نورو په مقدمو کې برخه اخیستل هم حرام دی لنډه دا چې د وکیلانو ګټه مطلقًا حرامه نه ده زیات نه زیات مشتبه ده په مشتبه او حرام کې فرق ظاهر دی. فقط

بې سنده کیسې بیانونکي واعظ وعظ اورېدل او هغه ته څه ورکول

سوال: (۹۶) یو مولوي صاحب نصیحت کوي او په نصیحت کې عجبه عجبه حکایتونه بې سنده او بدعتونه بیانوي پر یو بیان کول پنځه روپۍ او یوه روپۍ د ګاډۍ کرایه غواړي یو سړی له بیان وروسته پنځه روپۍ ورکړې نو مولوي صاحب بیرته ورکړې چې که د ګاډۍ کرایه راکوې نو یې اخلم دا ډول روپۍ اخیستل او د داسې واعظ وعظ اورېدل څنګه دی؟ (۱۵۰۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په هر نصیحت کونکي نصیحت کول او اورېدل صحیح نه دي تر څو د سنتو متبع کېدل د وعظ کونکي معلوم نه وي او دا چې دی بې سنده روایتونه او قصې او ضعیفه روایتونه او قصې بیانوي او د بدعاتو لورې ته خلک رابولي د ده وعظ نه دی اورېدل پکار ځکه چې د بدعتي وعظ کونکي او غلطي مسئلې بیانونکي په وعظ اورېدلو اورېدونکي ګمراه کېږي او په خطا کې واقع کېږي او اجرت اخیستل پر وعظ که څه هم متاخرینو احناف‌و جائز بللی دی مګر په داسې سختي او طمع اخیستل لکه چې د نوموړي وعظ کونکي حال چې بیان شوی دی ډېر بې خوند او ناوړه دی او خصوصًا پر بدعتونو او غلطو مسئلو بیانولو اجرت اخیستل او ورکول د اخیستونکي او ورکونکي دواړو لپاره حرام دی لنډه دا چې د داسې طماع او مبتدع وعظ کونکي وعظ اورېدل چې ورڅخه ګمراهي خورېږي صحیح نه دی او ده ته څه ورکول صحیح نه دي چې په دې کې اعانت علی المعصیت دی. فقط

د قرآن شریف ختم په اجرت کول

سوال: (۹۷) د مړي روح ته ثواب رسولو لپاره چي کوم د قرآن ختم کیږي پر دي باندي اجرت اخیستل او ورکول څنګه دي؟ که د دواړو نیت د خیرات وي نو څه حکم دي؟ (۱۵۴۹/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د قرآن شریف پر ویلو اجرت اخیستل او ورکول جائز نه دي او د "المعروف کالمشروط" (الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح) په حکم چي کوم نیت د ویونکي او اورونکي د روپۍ اخیستلو او ورکولو دي په دې وجه که ښکاره سره ویلي نه وي بیا هم ناجائز دي او علامه شامي رحمه الله په کتاب الاجاره کي د دې تفصیل لیکلی دی او په نقولو او ډیرو روایتونو یې د دې کسب حرمت ثابت کړی دی. (۱)

سوال: (۹۸) د مړو لپاره چي حافظان کوم ختمونه کوي او حافظانو ته څه ورکوي دا جائز دي او کنه؟ (۱۷۹/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د اجرت په ورکولو د قرآن پاک ختم کول صحیح نه دی. فقط

سوال: (۹۹) زید د هندې پر قبر د دې کار لپاره ملازم دی چي د هري پنج شنبې په ورځ به د هندې قبر ته ځي د قرآن سورتونه به د هندې و روح ته د ثواب رسوني لپاره وایي په داسي صورت کي د زید لپاره د دغه خدمت تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۲۲۸۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د زید لپاره د دغه خدمت تنخواه اخیستل ناروا او حرامه ده قال في الشامي: کما صرح به في التتارخانية حيث قال: لا معنى لهذه الوصية و لصلة القارئ بقراءته لان هذا بمنزلة الاجرة و الاجارة في ذلک باطلة و هي بدعة الخ. (۲) فقط

سوال: (۱۰۰) زمونږ په خوا عام رواج دی چي که څوک مړ شي نو له دفن وروسته د قرآن شریف ختم کوي تر جمعې پوري او مولوي صاحب دا فتوی ورکړې ده چي تر قیامته پوري د منکر نکیر حساب او د قبر سختۍ لیري کیږي آیا له دفن وروسته پر قرآن ویل جائز دي او کنه؟ (۱۰۰۳/۳۳-۱۳۳۴ھ)

---

(۱) راجع للتفصيل الى رد المحتار ۳۸/۵ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستيجار على التلاوة الخ. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۳۸/۵ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة مطلب: تحرير مهم في عدم جواز الاستيجار على التلاوة الخ. ط رشيديه

ځواب: په معروف یا مشروط اجرت چې د مړي لپاره د قرآن شریف کوم ختم کیږي په دې اړه محققینو لیکلي دي چې مړي ته ثواب نه رسي ځکه چې کله ویونکي ته ثواب نه ورکول کیږي د عوض د اخیستلو د نیت په وجه نو مړي ته به ثواب له کومه ورسي؟!! اما که څوک د الله د رضا لپاره قرآن شریف ووایي ثواب یې مړي ته وبخښي نو ان شاء الله د دې ثواب به مړي ته رسي که کور ته ووایي ثواب ورو بخښي او که پر قبر ووایي.(۱)

سوال: (۱۰۱) عام خلک و یو مولوي صاحب یا طالب ته څه روپۍ ورکړي چې زمونږ په مړي پسې قرآن ووایه ثواب یې ورو بخښه داسې جائز دی او کنه؟ او د مړي وارثان چې کومه صدقه او خیرات د مړي له ښخولو څخه مخکې یا وروسته کوي د دې ثواب مړي ته رسي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۴۵۰هـ)

ځواب: کومه صدقه او خیرات چې په مړي پسې د الله د رضا لپاره وشي د هغه ثواب مړي ته رسي او په عوض او اجرت ورکولو په مړي پسې د قرآن ختمول صحیح نه دي شامي څرګندونه کړې ده چې په دې کې نه ویونکي ته ثواب شته او نه مړي ته ثواب رسیږي قال تاج الشریعة فی شرح الهدایة: ان القرآن بالاجرة لا یستحق الثواب لا للمیت و لا للقاری. (۲)

سوال: (۱۰۲) یو سړي مولوي صاحب راوبولی د مړو لپاره قرآن په ختمولو او مولوي صاحب ته څه روپۍ ورکړي او دا ورته وایي چې زه بېله عوضه د الله رضا لپاره درکوم دا جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۴۸۲هـ)

ځواب: علامه شامي رحمه الله د المعروف کالمشروط (الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح) په قاعده دې ته ناجائز فرمایلي دي ځکه چې د قرآن شریف ویونکي ته که دا معلوم شي چې رابلونکي هیڅ شی نه راکوي نو نه به هلته ورشي او نه به څه تلاوت کړي نو دغه ویل په اجرت شو او په اجرت ویلو نه ویونکي ته ثواب وي او نه مړي ته ثواب رسي هذا حاصل ما حققه فی الشامی. (۳) فقط

---

(۱) و قد قال العلماء: ان القاری اذا قرأ لاجل المال فلا ثواب له فای شیٔ یهدیه الی المیت؟! و انما یصل الی المیت العمل الصالح الخ حاشیه ابن العابدین ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة مطلب: تحریر مهم فی علم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه)

(۲) الشامي: ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحریر مهم فی علم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه

(۳) راجع التفصیل الی حاشیة ابن عابدین ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة. مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه

په ژوند کي و چاته روپۍ ورکول چي که زه مړ شم په ما پسي قرآن ختم کړه

سوال: (۱۰۳) یو سړي و حافظ صاحب ته څه روپۍ ورکول غواړي چي زما له مرګ وروسته دوې څلور سپارې قرآن شریف راپسي وو ایه داسي جائز دي او کنه؟
(۱۸۹۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي: قال تاج الشريعة فى شرح الهداية: ان القرآن بالاجرة لا يستحق الثواب لا للميت و لا للقارى و قال العينى فى شرح الهداية: و يمنع القارئ للدنيا و الآخذ و المعطى آثمان فالحاصل: ان ما شاع فى زماننا من قراءة الاجزاء بالاجرة لا يجوز لان فيه الامر بالقراءة و اعطاء الثواب للآمر و القراءة لاجل المال فاذا لم يكن للقارئ ثواب لعدم النية الصحيحة فاين يصل الثواب الى المستاجر؟! الخ(۱) له دغه روایت څخه معلوم شو چي د قرآن پر ویلو اجرت اخیستل ورکول جائز نه دی او په دې کي هیچا ته ثواب نه رسي.

په تراویحو کي د قرآن پر ختم اجرت ورکول ناروا دی

سوال: (۱۰۴) و حافظانو ته چي کومي روپۍ د تراویحو د ختم په ورځ ورکول کیږي د دې اخیستل او ورکول جائز دي او کنه؟ او په ورکولو اخیستلو کي د قرآن ویلو او اوریدلو ثواب شته او کنه؟ (۳۲۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په شامي کي دا تحقیق کړی دی چي په اجرت باندي قرآن ویلو او اوریدلو کي ثواب نه وي(۲) او د "المعروف كالمشروط" (الشامي: ۳۷۹/۲ کتاب النکاح) منل شوې قاعده ده لهذا د قرآن شریف پر ختمولو څه اخیستل او ورکول منع دي په دې کي ثواب باطلیږي.

(۱) الشامي ۳۸/۵ كتاب الاجارة باب لاجارة الفاسدة مطلب: تحرير مهم فى عدم جواز الاستيجار على التلاوة الخ. ط رشيديه

(۲) قال تاج الشريعة فى شرح الهداية: ان القرآن بالاجرة لا يستحق الثواب لا الى الميت و لا الى القارى (الشامي ۳۸/۵ كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة مطلب تحرير مهم فى عدم جواز الاستيجار على التلاوة. ط رشيديه)

که روند او مفلس امام په تراویحو کي قرآن ختم کړي نو مرسته کول يې څنګه دي؟

سوال: (۱۰۵) يو روند حافظ صاحب په يو مسجد کي بېله تنخوا امام دی د معاش کومه وسيله نلري که دی په تراويحو کي د قرآن ختم وکړي او کلي وال فی سبيل الله د ده مرسته وکړي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۲۷۲هـ)

ځواب: که کليوال د ده مرسته د ده د افلاس په وجه وکړي د قرآن شريف د ختم په عوض نه نو دا په جواز کي راتلای شي او نه اخيستل افضل دي او له شبه څخه ابعد دی فقط

په تراويحو کي د قرآن پر ختم اجرت اخيستلو په صورت د تراويحو راګرځول ضروري دي او کنه؟

سوال: (۱۰۶) د روژي په مياشته کي ځيني حافظان په تراويحو کي پر قرآن شريف ختمولو معين اجرت اخلي دا سي صحيح دي او کنه؟ که اجرت معين نه وي نو څه حکم دی؟ او تراويح صحيح کيږي که راګرځول ضروري دي؟ (۱۳۴۲/۱۷۱۸هـ)

ځواب: اجرت اخيستل صحيح نه دي او د اجرت نه تعينولو په صورت دي عرف نه وکتل شي که عرفًا معلوم وي چي څه ورکوي نو د "المعروف کالمشروط" (الشامي کتاب النکاح) په حکم اخيستل ناروا دي او د تراويحو راګرځولو ضرورت نشته، اما د قرآن شريف ثواب نشته کما حققه في الشامي. (۱)

په اجرت اخيستلو پر قبرونو قرآن شريف تلاوت کول

سوال: (۱۰۷) څوک چي اجرت اخلي پر قبرونو د قرآن شريف تلاوت کوي د هغه لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۷۷۲هـ)

ځواب: دا ډول پر قرآن شريف اجرت اخيستل منع دی دا سي سړی فاسق دی او لمونځ پسي مکروه دی د دا سي سړي له امامت څخه ليري کيدل ضروري او لازم دي.

---

(۱) راجع للتفصيل الی رد المحتار ۳۸/۵ کتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحرير مهم في عدم جواز الاستيجار على التلاوة و التهليل الخ. ط رشيديه

پر ختم او فاتحه باندي اجرت اخیستل

سوال: (۱۰۸) که څوک مړ شي نو د جنازې د لمانځه وروسته یا له ښخولو وروسته ختم او نور او فاتحه ووايي او نصیحت وکړي او د اخترانو لمونځونو په ورکولو اجرت اخیستل شرعًا جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۴۵هـ)

ځواب: پر ختم د قبرونو پر زیارتونو او فاتحه ویلو اجرت اخیستل صحیح نه دي او شامي تحقیق کړی دی چي په مړي پسي پر قرآن ویلو اجرت اخیستلو سره نه ویونکي لپاره ثواب شته او نه مړي لره ان القاری اذا قراء لاجل المال فلا ثواب له فای شی یهدیه الی المیت؟ (۱) او پر تقریر کولو اجرت اخیستل متاخرینو فقهاء جائز فرمايلی دی او پر امامت باندي هم اجرت اخیستل صحیح دی.

سوال: (۱۰۹) ... (الف) پر قبر باندي په اجرت قرآن ویل څنګه دی؟

(ب) پر مریض باندي په اجرت قرآن ویل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۹۸هـ)

ځواب: (الف) په اجرت باندي قرآن شریف ویلو سره نه ویونکي ته ثواب شته او نه د مړي لپاره ثواب شته. کذا فی الشامي(۲)

(ب) جائز نه دی قال فی الشامي: نقلا عن العینی شرح الهدایة: و یمنع القارئ للدنیا و الآخذ و المعطی آثمان الخ(۳) فقط

د قرآن ختم کونکیو ته ډوډۍ ورکول

سوال: (۱۱۰) لنډیز د سوال دا دی چي څوک د خپلو مړو لپاره په حافظانو د قرآن ختم کوي او ویونکیو ته ډوډۍ، خوږې او نور ورکوي دا سي جائز دي او کنه؟

(۱۳۴۵/۱۴۱۲هـ)

(۱) الشامي ۳۸/۵ کتاب الاجارة، مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه

(۲) د تفصیل لپاره کتاب الاجاره سوال (۱۰۴) حاشیه وګورئ.

(۳) الشامي ۳۸/۵ کتاب الاجارة، مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه

ځواب: په دې اړه چې د احنافو کومې څرګندونې دي هغه په رد المحتار المعروف بالشامي کې راغلي دي د هغه روايتونو حاصل صرف دومره دی چې په اجرت باندې قرآن شريف ويل جائز نه دي او په اجرت ويلو باندې نه ويونکي ته ثواب شته او نه مړي ته. قال تاج الشريعة فى شرح الهداية: ان القرآن بالاجرة لا يستحق الثواب لا للميت و لا للقارئ و قال العينى فى شرح الهداية: و يمنع القارئ للدنيا و الآخذ و المعطى آثمان. فالحاصل: ان ما شاع فى زماننا من قراءة الاجزاء بالاجرة لا يجوز لان فيه الامر بالقراءة و اعطاء الثواب للآمر و القراءة لاجل المال، فاذا لم يكن للقارئ ثواب لعدم النية الصحيحة فاين يصل الثواب الى المستاجر؟! و لو لا الاجرة ما قراء احد لاحد فى هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظيم مكسبا ووسيلة الى جمع الدنيا انا لله و انا اليه راجعون(۱) (شامي ۳۷/۵ باب الاجارة الفاسدة) فقط

پر وعظ. د قرآن پر ختم. د جنازې پر لمانځه. د اخترونو پر لمونځو او تراويحو اجرت اخيستل

سوال: (۱۱۱) اجرت وعظ و قرآن خوانی و نماز جنازه و عیدین و تراویح گرفتن جائز است یا نه؟ و به حیله جواز او راصدقه نام نهادن درست است یا نه؟ و بر مجوزین و معتقدین حکم فسق خواهد شد یا نه؟ و اقتداء ایں شان جائز است یا نه؟ (۱۹۷۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: اجرت گرفتن بر وعظ متاخرین حنفیہ جائز داشته اند کما فى اجارة رد المحتار و زاد بعضهم: الاذان و الاقامة و الوعظ الخ(۲) و ماسوائے آں بر قرآن خوانی و ادائے نماز جنازه و عیدین و تراویح اجرت گرفتن جائز نیست و حسب قاعده المعروف کالمشروط(۳) اجرت معروفه راصدقه نام نهادن مفید حلت نه خواهد شد و مجوزین و مروجین امور محرمه مبتدعه عاصی و آثم اند لائق اقتداء نیستند و باسم فسق احق هستند.

---

(۱) الشامي ۳۸/۵ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحرير مهم فى علم جواز الاستيجار على التلاوة. ط رشيديه

(۲) الدر و الرد ۳۸/۵ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحرير مهم فى علم جواز الاستيجار على التلاوة الخ. ط رشيديه

(۳) الشامي: ۳۷۹/۲ كتاب النكاح، باب المهر، مطلب: مسئلة دراهم النقش و الحمام و لفافة الكتاب و نحوها. ط رشيديه

سوال: (۱۱۱) ترجمه: پر وعظ، د قران پر ختم، د جنازې او اخترونو پر لمونځونو او تراویحو اجرت اخیستل جائز دي او کنه؟ او دې ته د صدقې نوم ورکول د حیلې لپاره جائز دي او کنه؟ جائز ورته ویونکو او د جواز عقیده ساتونکیو باندې د فسق حکم لګیږي او کنه؟ او د دوی اقتداء جائز ده او کنه؟

ځواب: پر وعظ باندې اجرت اخیستل متاخرینو احنافو جائز بللې دی لکه چې په رد المحتار کې راغلي دي: و زاد بعضهم الخ او له دې ځخه سیوا د قرآن پر ختم د جنازې او اخترونو پر لمونځونو او پر تراویحو باندې اجرت اخیستل جائز نه دی او د مشهورې قاعدې المعروف کالمشروط په اعتبار؛ دغه اجرت ته د صدقې نوم ورکول و حلالولو ته ګټه نه کوي او دې ته جائز ویونکي او حرامو کارونو ته رواج ورکونکي بدعتي او ګنهکار دی د اقتداء وړ نه دی او د فسق د نامه زیات حقدار دی.

چنده په کمیشن کول

سوال: (۱۱۲) و چنده راجمع کونکي ته کمیشن له چندې ځخه په سلو کې لس یا پنځوس ورکول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۱۲۱هـ)

ځواب: د چنده جمع کونکي لپاره په سل کې لس یا پنځوس روپۍ مقررول ناجائز دي او دغه معامله هم ناروا ده لکه چې په در مختار کې راغلي دي: بخلاف شرکة دلالين و مغنين... و وعاظ و سؤال الخ(۱)

په کمیشن چنده کونکی که له چندې ځخه څیله برخه اوباسي نورې روپۍ و مدرسانو ته په تنخواه کې ورکړي

سوال: (۱۱۳) له دې ځخه مخکې چې کومې روپۍ مدرسې ته راغلي دي په هغه کې دریمه برخه د چنده کونکي ده د هغه له برخې ورکولو وروسته نورې روپۍ و مدرسانو ته په تنخواه کې ورکول شوې چونکه مخکې دا مسئله مونږ ته معلومه نه وه نو آیا دغه تنخواوې حلالې دي او کنه؟ بله دا چې چنده جمع کونکی په تنخواه کار نه کوي او په کمیشن نه کار کوي نو د دې د جواز کوم صورت کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۱۲۷هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۳۸۰/۳ كتاب الشركة، مطلب في شركة التقبل. ط رشيديه

ځواب: کوم تنخواه چې د مدرسانو ته له دغه چندي ځخه ورکول شوې ده هغه د دوی لپاره حلاله ده ځکه چې په فاسده اجاره کې د اجیر ته اجر مثل ورکول لازمېږي نو کله چې ورو سته چنده جمع کونکي ته هغه اجرت چې ده ته ورکول شو راضي شو نو د ده په هکله هم دا اجرت جائز شو او کومې روپۍ چې په مدرسه کې پاتې شوې هغه هم جائز دي او په بیان شوي طریقه د فقهي قاعدو سره سم اجاره فاسده ده هیڅ صورت د دې د جواز نه معلومېږي پرته له دې چې چنده جمع کونکي ته تنخواه ملازم مقرر کړي

په نصف، ثلث یا ربع چنده ټول

سوال: (۱۱۴) څوک د چندې راجمع کولو لپاره دا ډول مقررول چې څومره چنده ... راوړي د هغه ربع یا ثلث به ورکوي نو دا ډول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۱۸-۴۴ھ)

ځواب: دغه عقد په دې صورت کې فاسد دی فقهاؤ څرګند ونه کړې ده د اجارې په عقد کې له معقود علیه څخه اجرت ټاکنول عقد فاسدوي په هدایه او نورو کې د دې مختلف وجوهات بیان کړي دي حیث قال: و من دفع الی حائک غزلا لینسجه بالنصف الخ فالاجارة فاسدة لانه جعل الاجر بعض ما یخرج من عمله الخ(۱) و فی الدر المختار: لانه استاجره بجزء من عمله و الاصل فی ذلک نهیه (صلی الله علیه وسلم) عن قفیز الطحان الخ(۲) نو په مسئوله صورت کې دا اجاره فاسده ده له دې څخه ځان ساتنه ضروري ده ځکه چې په دغه صورت کې په خصوصیت سره په اجرت کې هم جهالت دی او د اجرت په جهالت اجاره فاسدېږي(۳)

سوال: (۱۱۵) تنخواه نه مقررول بلکه په نصف یا ربع شراکت باندې د چندې نوکري کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۰۲ھ)

ځواب: باید تنخواه مقرره کړي څومره چې هم وي په خوښه او رضا د ضرورت او حاجت سره سمه

---

(۱) الهدایة ۳/۳۰۵ کتاب الجارات، باب الاجارة الفاسدة.

(۲) الدر مع الرد ۵/۳۸ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب: تحریر مهم فی علم جواز الاستیجار علی التلاوة. ط رشیدیه

(۳) و شرطها کون الاجرة و المنفعة معلومتین لان جهالتهما تفضی الی المنازعة الخ... و یعلم المنفعة ببیان المدة الخ(الدر المختار مع حاشیة ابن عابدین ۵/۳ کتاب الاجارة. ط رشیدیه)

دي مقرره کړي په نصف يا ربع شراکت په چنده کي صحيح نه دی. ځکه چي په دغه صورت کي اجرت مجهول دی او اجاره په دې فاسد يږي.

سوال: (۱۱۲) د مدرسو سفيران (چنده جمع کونکي) د عمالو په مثل دي او کنه؟ که چنده جمع کونکي داسي مقرر شي چي هر څومره جمع کړي د هغې نصف يا ربع به مثلاً د ده اجرت وي دا جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۳۱۱هـ)

ځواب: دغه د چندې جمع کونکي اجير دي او داسي اجاره فاسده ده د اجرت د جهالت په وجه (او داغه راز په قفيز طحان کي د داخليدو په وجه هم دا اجاره فاسده ده) ځکه چي معلومه نه ده چي دی به څومره روپۍ راجمع کوي او د هغه ربع يا خمس به څو وي؟ لنډه دا چي دغه اجاره شرعًا صحيح نه ده د اجارې صحيح کيدو صورت دا دی چي د ده د مياشتي تنخوا يا روزانه يا سالانه مقرره شي. فقط

سوال: (۱۱۷) د مدرسې لپاره چنده جمع کونکي (سفير) ته معلومه يا نامعلومه برخه ورکول څنګه دي؟ او د مياشتي تنخواه ورکول څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۱۰۷۳هـ)

ځواب: د سفير بايد د مياشتي تنخواه مقرره شي په نصف، ربع او ثلث باندي سفير جوړول صحيح نه دي بلکه د مياشتي تنخواه ورکول پکار ده.

سوال: (۱۱۸) په ځينو ځايونو کي د سفيرانو تنخواوي مقرري نه وي بلکه دا صورت وي چي د زکوة او صدقاتو روپۍ راجلا کړي کومي چي د ده په کوشش راجمع شوي وي په هغه کي نيمي د مدرسې بلل کيږي او نيمي د ده تنخواه آيا دغه نصف جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۳۵۳هـ)

ځواب: چنده جمع کونکی په نصف ثلث او ربع اجير مقررول د اجارې په قاعده فاسد دی ځکه چي معلوم نه دي چي په مياشت يا په ټول کال کي به څومره راجمع کړي بلکه د جواز صورت دا دی چي د مياشتي يا شپږو مياشتو يا کال تنخواه دي ورمقرره کړي او څومره چي راټولوي ټولي دي و مدرسې ته ورکوي يا دا صورت کيدلای شي چي چنده جمع کونکی چي څومره جمع کړي ټولي دي مدرسې ته ورکړي او د ده دغه کوشش دي د الله د رضا لپاره وي له دې وروسته دي د ده د حاجت په قدر د ده خدمت وشي د مدرسې له طرفه فقط

په اجرت د چندې راجمع کولو څو فاسد صورتونه

سوال: (۱۱۹) مدرسه يو سړی د چندې راجمع کولو لپاره ملازم ايږدي چي د هغه په اړه څو

صورتونه تر بحث لاندي دي:

لومړی دا چي چنده جمع کونکی چي څومره روپۍ مدرسي ته راوړي د هغو څلورمه برخه دده وي

دوهم دا چي مدرسه لس روپۍ د میاشتي معلومه تنخواه ورکوي او چنده جمع کونکي ته دا ووايي چي که دي په میاشته کي دیرش روپۍ راوړي نو پوره تنخواه درکوو او که دي کمه راوړه نو ټوله تنخواه به درکوو.

دریم دا چي د مدرسي له طرفه و چنده جمع کونکي ته وویل شي چي هره ورځ به یو روپۍ راوړلو څلورانۍ د ورځي درکوو او د څومره ورځو چنده چي دي راوړي د هغو په اندازه به په پورتنۍ طریقه اجرت ورکول کیږي. (۱۳۳۵/۲۰۳هـ)

ځواب: دا دري سره صورتونه ناجائز دي د لومړي صورت عدم جواز خو ظاهر دی ځکه چي په دې کي اجرت مجهول دی او په دوهم او دریم صورت جهالت د اجرت هم لازمیږي کله چي دی د میاشتي دیرش روپۍ یا یوه روپۍ د ورځي نه وړي له دې څخه سیوا دا شرط لګول چي که دي دیرش روپۍ د میاشتي رانه وړې نو ستا تنخوا به د هغه په حساب راکمیږي او داغه راز په دریم صورت کي هم د یوې روپۍ څخه په کمیدو څلورآنې د ورځي نه راځي دا هم د اجارې عقد فاسدوي بلکه داسي پکار دي چي د میاشتي تنخواه یا روزانه مقرره شي او د چندې څه مقدار دي نه مقرریږي هر څومره چنده چي جمع کړي مقرره تنخواه پوره باید ورکړي نو بیا اجاره صحیح کیږي (۱) فقط و الله اعلم

د غوا یا ګامیښي پر البولو اجرت اخیستل

سوال: (۱۲۰) زید یو منده غوایی او یو ګامیښ ساتلی دی کله چي څوک غوا یا ګامیښه د پر البولو لپاره راولي نو زید یوه روپۍ نغده څني غواړي دا جائز دي او کنه؟(۱۳۴۳/۲۰۹۰هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي د دې منع راغلې ده(۲) نو د اجارې د لاري څه اخیستل په دغه صورت

(۱) و شرطها: کون الاجرة و المنفعة معلومتین لان جهالتهما،تفضي الی المنازعة (الدر مع الشامي ۳/۵ کتاب الاجارة. ط رشیدیه)

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: نهی النبي صلی الله علیه وسلم عن عسب الفحل(صحیح البخاری ۳۰۵/۱ کتاب الجارات، باب عسب الفحل)

کي حرام دي او که مالک فحل عاریة ورکړي او بیا د غوا او کاسبنسي مالک پخپله خوښي څه ورکړي نو دې ته علماء جائز فرمایلي دي.

سوال: (۱۲۱) د نر پر ماده خیږولو باندي اجرت اخیستل جائز دي او که نه؟ (۸۵۵ ۱۳۳۸ھ)

ځواب: دې ته فقهاء فاسده اجاره وایي په در مختار باب الاجارة الفاسده کي راغلي دي: لا تصح الاجارة لعسب التيس و هو نزوه على الاناث الخ(۱) یعني د نر پر ماده خیږولو باندي اجرت اخیستل صحیح نه دي. فقط

د یتیمانو له مال څخه و معلم ته تنخواه ورکول

سوال: (۱۲۲) که د یتیمانو له طرفه د دوی ولي اکا. مور او نور د دوی و معلم ته چي دوی ته تعلیم ورکوي تنخواه د یتیمانو له مال څخه ورکړي نو جائز ده او که نه؟ او د معلم لپاره اخیستل جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۱/۷۱۴ھ)

ځواب: د یتیمانو د تعلیم لپاره د دوی ولي اکا او نور د دوی له برخي څخه تنخواه ورکولای شي او د معلم لپاره اخیستل صحیح دي.

د یتیمانو مکان تر لسو کلونو پوري په کرایه ورکول

سوال: (۱۲۳) زید له عمر څخه چي د یتیمانو متولي دی د یتیمانو یو مکان په کرایه واخیستی او پر کاغذ استامپ باندي دا ولیکل چي پوره لس کاله به دا سرای زما سره وي لس روپۍ به د میاشتي درکوم په دغه موده کي به نه عمر په ما سرای خالي کړي او نه زه پخپله دغه سرای پرېږدم که زه پخپله په دغه سرای کي او مېرم یا و بل چاته د دې جز یا کل په کرایه ورکړم زید د مکان کیلي له عمر څخه واخیستي لیکن تر ننه پوري چي تقریبًا درې میاشتي تیري شوې په مکان کي هستوګنه نه ده کړې او س زید اقاله کول غواړي عمر اقاله نه ورکوي او س شرعًا د دغه تنازع فیصله څنګه کول پکار ده؟ (۱۳۳۷/۲۱۰۷ھ)

---

(۱) الدر مع الرد ۵ ۳۸. کتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة مطلب فی الاستیجار علی المعاصی. ط رشیدیه

ځواب: قال فی الدر المختار فی بیان مدة اجارة الوقف: قیل: تطلق الزیادة للقیم و قیل: تقید بسنة مطلقا و بها ای بالسنة یفتی فی الدار الخ(۱) و فی رد المختار: ثم ان ارض الیتیم فی حکم ارض الوقف الخ(۲) نو کله چې تر لسو کلو پورې د یتیمانو مکان په اجاره ورکول د مفتی به قوله سره سم ناروا شو نو د لسو رو پیبو د خرڅکندوني سره سم د یوې میاشتې اجاره صحیح شوه په نورو کې فاسده شوه بیا چې د کومې میاشتې په شروع کې مستاجر په مستاجره مکان کې هستوګنه وکړي په هغه کې اجاره صحیح کیږي چونکه په مسئوله صورت کې مستاجر په دغه مکان کې هستوګنه نه ده کړې ځکه له یوې میاشتې وروسته اجاره فاسده شوه زید یې فسخ کولای شي. فقط

که ماشوم قرآن ختم کړي نو استاذ څه ځني اخیستلای شي او کنه؟

سوال: (۱۲۴) په اسلامي مدرسو کې استاذان حافظان او نور کله چې د مدرسې له لوري منع هم ده چې له کوم طالب څخه د اختر شیریني او نور مه اخلي نو که کوم مدرس سره د منع د ماشوم پر قرآن ختمولو څه واخلي نو جائز دي او کنه؟ دی وایي چې زه په خارج کې هم کار کوم ځکه د دې معاوضه زه اخلم دغه وینا د معلم څنګه ده؟ (۲۸۷۷/۱۳۴۳هـ)

ځواب: دا طریقه ښه خو نه ده مګر کله چې عام عرف او رواج داسې دی او خلګ یې د خپلو ماشومانو په خاطر په خوشحالي دا منظوره وي نو بیا د دې په عدم جواز کې هم کومه وجه نشته. د معلمانو په معامله کې دا ډول مسامحتونه کیږي ځکه چې ابتدائي معلم صرف د مدرسې د وختونو پابند نه وي بلکه په خارج وخت کې هم کار کوي نو څه پروا نلري چې دغه خارجي آمدني په خارجي وختونو کې شمار کړي په دې معامله کې د معلمانو په خلاف د دومره ټینګار ضرورت نشته فقهاء هم د دې اجازه کړې ده ان چې په درمختار کې راغلي دي: و یجبر علی دفع الحلوة المرسومة هی ما یهدی للمعلم علی رؤوس بعض سور القرآن الخ(۳) (الدر المختار مع الشامي مصری ۳۸/۵) فقط والله تعالی اعلم

(۱) الدر مع الرد ۴۳۴/۳ کتاب الوقف فصل: یراعی شرط الواقف فی اجارته. ط رشیدیه

(۲) الشامي ۴۳۵/۳ کتاب الوقف. مطلب: ارض الیتیم و ارض بیت المال فی حکم ارض الوقف. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الشامي ۳۸/۵ کتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه

د جنازې پر لمانځه ورکولو اجرت اخیستل

سوال: (۱۲۵) د مسجد امام د امامت اجرت خو نه اخلي مګر د جنازې لمونځ او نکاح تړنه بېله اجرته نه کوي داسي صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۸۵۱هـ)

ځواب: پر امامت باندي اجرت اخیستل صحیح دي لیکن خاص د جنازې لمونځ بېله اجرت نه اخیستلو نه ورکول جائز نه دي ځکه چي د "صلوا علی کل بر و فاجر" الحدیث(۱) په حکم د جنازې لمونځ فرض کفایه دی اجرت ورباندي اخیستل صحیح نه دی.

وامام ته په اجرت کي سرسایه او عشر ورکول

سوال: (۱۲۶) یو سړی محتاج دی او دده معاش د امامت تنخواه ده دا جائز ده او کنه؟ زیاتره جاهلان په تنخواه امام نه نیسي بلکه د ټول عشر غله و امام ته ورکوي و بل کوم مسکین ته له عشر څخه هیڅ نه رسي او په ځیني ځایونو کي عمومًا داسي کوي چي د ټولي سرسایې دوې برخي کړي نیمه برخه و امام ته او نیمه و اوبه ډکونکي ته ورکوي او همدغه د دوی په اجرت کي حسابیږي داسي جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۵هـ)

ځواب: پر امامت باندي اجرت اخیستل په اوس زمانه کي جائز دي کما فی الدر المختار: و یفتی الیوم بصحتها لتعلیم القرآن و الفقه و الامامة و الاذان الخ و قال الشامي: و زاد فی متن المجمع: الامامة(۲) (شامي، الدر المختار ص:۳۴) اما صدقات او نور د امامت په اجرت کي حسابل صحیح نه دي د هغه مصرف خو صرف فقیران او مسکینان دي هو که امام او مؤذن هم د نصاب مالکان نه وي نو بیا له اجرت څخه سیوا و دوی ته ورکول هم جائز دي او همدغه حال د عشر دی چي د دې تملیک هم بېله کوم عوض

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم "الجهاد واجب علیکم مع کل امیر برًا کان او فاجرًا... و الصلوة واجبة علیکم خلف کل مسلم برًا کان او فاجرًا و ان عمل الکبائر" (سنن ابی داؤد: ۳۴۳/۱ کتاب الجهاد، باب فی الغزو مع ائمة الجور)

(۲) الدر و الرد ۳۸/۵ کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة مطلب: تحریر مهم فی عدم جواز الاستیجار علی التلاوة الخ. ط رشیدیه

پکار دی ځکه چې د زکوة سرسایې او عشر حال برابر دی کما فی الشامي فی تحت قوله غیر العشر: فانه ملحق بالزکاة و لذا سموه زکاة الدرع(۱) و فی الخانیة: و یصرف العشر الی من یصرف الیه الزکاة(۲) و فی الدر المختار: و صدقة الفطر کالزکاة فی المصارف الخ(۳) نو څنګه چې د زکوة د مال په بدل د کوم عوض اخیستل جائز نه دي داغسې په صدقاتو او عشر کې هم جائز نه دي لهذا په مذکوره صورت کې چې کوم عشر او صدقات امام او مؤذن ته د تنخواه په عوض ورکول کیږي دا جائز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د الله په نوم یو موټی وریجې جلا کړي و امام او مؤذن ته په تنخواه کې ورکول

سوال: (۱۲۷) د ډوډۍ پخولو پر مهال لومړی یو موټی وریجې د الله په نوم بیلې کړې دا جمع کوي بیا یې خرڅې کړي د امام او مؤذن په تنخواه کې ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۰۷۲هـ)

ځواب: که دغه اوړه د همدې لپاره جمع کوي نو امام او مؤذن ته په تنخواه کې ورکولای شي کنې د دې مصرف فقیران او مسکینان دي. فقط

تعویذ پېشه جوړول

سوال: (۱۲۸) آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین یا سلفو صالحینو تعویذ پیشه ګرځولې دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۵۷۰هـ)

ځواب: پر دم باندې اجرت اخیستل له صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین څخه ثابت دی ځکه فقهاء پر دم او تعویذ اجرت اخیستل جائز لیکلي دي.

د تعویذ په نوم په دوکه پیسې اخیستل

سوال: (۱۲۹) د عوام الناسو قول دی چې څوک تعویذ کوي او په مکر او چل روپۍ اخلي

---

(۱) رد المحتار ۱۷/۲ کتاب الزکاة، باب المصرف مطلب فی الحوائج الاصلیة. ط رشیدیه

(۲) الفتاوی الخانیة علی هامش الهندیة ۲۷۷/۱ کتاب الزکاة فصل فی العشر.

(۳) الدر مع الرد ۸٦/۲ کتاب الزکاة باب صدقة الفطر قبل کتاب الصوم. ط رشیدیه

او پخپل مصرف کي صرفوي صرفول پکار دي او کنه؟ کله چي ورته وویل شي چي ته به دومره زکوة ورکوي؟ (۱۳۳۸/۱۷۲۳هـ)

ځواب: د چا مال په مکر او دوکه اخیستل قطعاً حرام دي او په جائز طریقه کي تعویذ باندي مقرر کړي اجرت واخلي نو صحیح دي معلوم نه ده چي دي ته د زکوة مال ویلو څه مطلب دی دا غلط دي (یعني و فیس او اجرت ته د زکوة پیسي ویل غلط دي)

له فاحشه ښځي څخه د تعویذ اجرت اخیستل

سوال: (۱۳۰) له بدچلندو او فاحشه ښځو څخه د تعویذ اجرت اخیستل څنګه دي؟ آیا د تعویذ په برکت دا حلالیږي؟ (۱۳۴۰/۵۷۰هـ)

ځواب: کوم چي حرام دي هغه نه حلالیږي.

د ډاک خانې ملازمت چي پکي د سود حساب لیکل هم وي

سوال: (۱۳۱) یو سړی له ډیر کوشش وروسته په ډاک خانه کي ملازمت وموندی لیکن په هغه کي د بانک د ګټي په کاته کي کار کول دي او د سود حساب هم لیکل وي آیا داسي ملازمت صحیح دی او کنه؟ که صحیح نه دی د جواز کومه شرعي حیله شته او کنه؟ (۱۳۳۸/۸۰۳هـ)

ځواب: شرعي حیله په دې کي هیڅ نشته لیکن د ضرورت په وجه د ځیني فقهي روایتونو په وجه د داسي ملازمت ګنجایش شته تر څو چي دی بل د شکه وتلی ملازمت نه وي موندلی تر هغو دا کوه الضرورات تبیح المحظورات(۱) فقط

په بینک کي ملازمت کول او د سود له آمدني څخه تنخواه اخیستل

سوال: (۱۳۲) په بینک کي ملازمت کول او د هغه د سود له ګټي څخه تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۸۹۵هـ)

---

۱) قواعد الفقه ص:۹۸، قاعده: ۱۷۰

ځواب: دا سې ملازمت چې تنخواه يې د سود له روپيو ورکول کېږي چېرته چې د سود په ورکړه راکړه او کاروبار کې ملازمت کول او له هغه ځخه تنخواه اخيستل دوړه کېږي. فقط والله تعالى اعلم

د سود خور، رشوت خور او غصب کوونکي سره مزدوري کول او د دوی سره نور معاملات کول

سوال: (۱۳۳) د سود خور يا رشوت خور يا غصب کوونکي سره مزدوري په تنخواه کول يا د دوی سره رانيول خرڅول کول يا څمکه په بزګري ورکول او غله او نور څيزونه اخيستل حلال دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۵۸۰هـ)

ځواب: د دغه خلکو سره مزدوري کول صحيح دي اما احتياط که ممکن وي نو ډېر مناسب دي على هذا د خپل تجارت مال پر دوی خرڅول يا د دوی له تجارت ځخه مال رانيول او داغه راز څمکه په معامله ورکول دا ټول صحيح دي او داغه راز په دغه صورتونو کي تنخواه اجرت او د مبيع ثمن حلال دی په دې شرط که غصب کوونکي په اجرت يا د مبيع په ثمن او نورو کي هغه مال نه وي ورکړی کوم چې ده غصب کړی دی او اخيستونکي ته هم معلوم وي.

و شراب خرڅونکي ته سرای په کرايه ورکول

سوال: (۱۳۴) ... (الف) که کوم مسلمان خپل سرای يا څمکه و کوم کافر شراب خرڅونکي ته په کرايه ورکړي نو جائز دی او کنه؟

(ب) په پورتني صورت کي د مالک لپاره کرايه اخيستل جائز دي او کنه؟

(ج) که د سرای د مالک وکيل سرای و شراب خرڅونکي ته په کرايه ورکړی وي نو مالک يې د مقرري مودې ځخه مخکي په خالي کولای شي او کنه؟

(د) که کرايه دار شراب په بوتلونو کي خرڅوي يا يې راوباسي خرڅ يې کړي نو په دواړو صورتونو کي په حکم بو وي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۷۸۳هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و جــــار اجــارة بيــت اخ ليتخـــذ بيــــت نــــار او كنيســـــة او بيعــــــة او يبـــاع

فیه الخمر و قالا: لا ینبغی ذلک لانه اعانة علی المعصیة و به قالت الثلاثة الخ(۱) (در مختار) له دغه عبارت څخه معلوم شو چې امام اعظم علیه الرحمة و شراب خرڅونکي او نورو ته سرای او دکان په کرایه ورکول جائز بولي او صاحبین او ائمه ثلاثه یې منع او مکروه بولي ځکه چې په دې کې اعانت علی المعصیت دی او د امام اعظم رحمه الله جائز فرمایل هم شاید مع الکراهت وي نو په دې صورت کې به هیڅ اختلاف نشي پاته په هر حال چونکه الله تعالی فرمایي: [و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الاثم و العدوان] (سورة مائده آیت:۲) ځکه په کوم کار کې چې اعانت علی المعصیت وي هغه منع دي نو له دغه تمهید وروسته د کړیو سوالونو جوابونه په ترتیب سره لاندې لیکل شوي دي:

(الف) پورته معلوم شو چې دا مختلف فیه دی راجح او احوط دا دی چې نکړي ور.

(ب) آمدني د کرایې جائز او حلاله ده لیکن مسلمانان باید احتیاط پکې وکړي او داسي کار نه دي کول پکار چې پکې اعانت علی المعصیت او مرسته د کفارو وي.

(ج) کرایه اخیستل صحیح دي او مالک په دغه کرایه دار جبرًا سرای او دکان له تاکلي مودې مخکې نشي خالي کولای لیکن که اسلامي او دیني مصلحت د دې تقاضا کوله نو سدًا للباب او د تنبیه په غرض داسي کول جائز دي.

(د) شراب که په بوتلونو کې خرڅوي او که راوباسي په دواړو صورتونو کې وده ته سرای او دکان په کرایه ورکول د صاحبینو او د ائمه ثلاثه د مذهب سره سم منع دی لهذا مسلمانان دې له دې څخه پرهیز وکړي خپل دکانونه او سرایونه دې و شرابو خرڅونکیو ته په کرایه نه ورکوي او که ورکړي وي نو په څه طریقه چې وي په خالي دې کړي. فقط

سؤال: (۱۳۵) یو مسلمان خپل کور په کرایه ورکړی کرایه دار پکې شراب د خنزیر غوښه او نور خرڅوي شرعًا څه حکم دی؟ او پر خپل چوپایه باندې حرام شیان د چا سره په مزدوري وړل څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۳۱۳۵هـ)

ځواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نیزد جائز دی او د صاحبینو رحمهما الله په نیزد مکروه دی جاز اجارة البیت لکافر یتخذ معبدا او بیت نار للمجوس او یباع فیه خمرًا فی السواد و هذا قول الامام و قالا:

---

(۱) الدر مع الرد ۲۷۷/۵ کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

یکره الخ(۱) (تکملة بحر. ص:۲۳۰) امام ابو حنیفه رحمه الله اجاره د منفعت عوض بولي نو د کرایې روپۍ د کور او د چوپایې د منافعو عوض دی ځکه باید جائز شي پاته شو د معصیت د اقامت سوال نو د هغه د کور د مالک سره هیڅ تعلق نشته بلکه هغه د کافر فعل دی. فقط

د شرابو د ډرم پورته کولو اجرت اخیستل

سوال: (۱۳۶) د شرابو پیسې په کرایه وړل صحیح دي او کنه؟ (۱۹۶/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د مسلمان لپاره د شرابو پیسې په کرایه وړل چې د مجوسي دي امام ابو حنیفه رحمه الله یې جائز بولي او صاحبین ورته مکروه وایي نو پرهیز ځیني کول غوره دي و جاز... حمل خمر ذمي بنفسه او دابته باجر(در مختار) قال الزیلعي و هذا عنده و قالا: هو مکروه(۲) (شامي)

د شرابو حساب په مزدوري لیکل

سوال: (۱۳۷) د شرابو حساب کتاب لیکلو نوکري کول څنګه دي؟ (۲۰۵۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا نوکري صحیح نه ده قطعي حرامه ده ځکه چې د شرابو معاملې پر لیکونکي او هر ډول مرسته کونکي باندې هم لعنت راغلی دی(۳) نو ځان ساتنه له داسې ملازمت څخه ضروري ده.

د شرابو په شعبه کې ملازمت کول

سوال: (۱۳۸) زید د شرابو په شعبه کې ملازم دی چې پکې دا ډول کار کول دي چې زید شراپو ته لاس نه وروړي مګر شرابو ته نژدې ضرور ورځي او د شرابو بوی یې دماغ ته ضرور ځي دا ډول ملازمت د زید څنګه دی؟ (۱۵۵۷/۱۳۳۵هـ)

---

(۱) تکملة البحر الرائق ۳۷۱/۹ کتاب الکراهیة، فصل فی البیع.

(۲) الدر المختار و الشامي ۲۷۷/۵ کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۳) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الخمر عشرة: عاصرها و معتصرها و شاربها و حاملها و المحمولة الیه و ساقیها و بائعها و آکل ثمنها و المشتری لها و المشتراة لها (جامع الترمذی ۲٤۲/۱ ابواب البیوع، باب ما جاء فی بیع الخمر و النهی عن ذلک)

ځواب: د زید ملازمت صحیح نه دی بلکه حرام دی ځکه چې په حدیث شریف کې د شرابو سره هر ډول ملازمت او اختلاط کونکیو باندې هم لعنت راغلی دی (۱)

په داسې دکان کې نوکري کول چې پکې له شرابو پرته نور شیان هم خرڅیږي

سوال: (۱۳۹) په یو دکان کې شراب هم خرڅیږي او نور شیان د سود اګرۍ هم خرڅیږي آیا په دغه دکان کې نوکري کول جائز ده او کنه؟ (۱۸۰۳-۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په کوم دکان کې چې شراب خرڅیږي په هغه کې نوکري کول صحیح نه دي ځکه چې غالبًا کله ناکله به د غه نوکر هم شراب خرڅوي او دا حرام دی او حساب و کتاب لیکل د دې هم حرام دي او تقاضا کول د دې د قیمت هم حرام دي لنډه دا چې هر ډول پکې برخه اخیستل او مرسته پکې کول ټول ناجائز او حرام دي د مسلمان لپاره داسې نوکري کول صحیح نه دي. فقط

د مسکراتو ټېکه اخیستل

سوال: (۱۴۰) شرعًا د افیونو او نورو مسکراتو ټېکه اخیستل د دوی تجارت کول جائز دي او کنه؟ (۱۲۷۸، ۱۳۴۲هـ)

ځواب: د مسکراتو افیونو او نورو بیع او شراء ناجائز دي ځکه د مسکراتو ټېکه اخیسل ناجائز دي په در مختار کې راغلي دي. و لا یجوز بیعها الخ(۲) الی ان قال: و صح بیع غیر الخمر مما مر الخ ثم ان البیع و ان صح لکنه یکره کما فی الغایة الخ(۳) فقط

د مسجد څه برخه په کرایه ورکول

سوال: (۱۴۱) د کوم مسجد چې او قاف نه وي او هغه و ترمیم او تعمیر ته احتیاج ولري نو د دغه مسجد

---

(۱) مخکنی حواله.

(۲) الدر مع الرد ۳۱۹/۵ کتاب الاشربة. ط رشیدیه

(۳) الدر و الرد ۳۲۳/۵ کتاب الاشربة. ط رشیدیه

څه برخه په کرايه ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۳۱۳۲هـ)

ځواب: د معتبرو روايتونو سره سم د مسجد د کومي برخي په کرايه ورکول او دکانونه ورباندي جوړول ناجائز دي او کوم ځاى چي يو واري مسجد کي داخل شي هغه د هميشه لپاره مسجد ګرځي او د مسجد پورته او لاندي برخه تول د مسجد په حکم کي ده په در مختار کي راغلي دي: اما لو تمت المسجدية ثم اراد البناء منع و لو قال: عنيت ذلک لم يصدق تاتارخانية فاذا كان هذا فى الوقف فكيف بغيره؟ فيجب هدمه و لو على جدار المسجد و لا يجوز اخذ الاجرة منه و لا ان يجعل شيئا منه مستغلا و لا سكنى (بزازية) او په شامي کي راغلي دي: و قد ورد فى الفتح ما بحثه فى الخلاصة من انه لو احتاج المسجد الى نفقة تؤجر قطعة منه بقدر ما ينفق عليه بانه غير صحيح الخ(۱) و الفتوى على قول ابى يوسف فى تابيد المسجد(۲) (شامي) فقط

مرهونه ځمکه و مرتهن ته په اجاره ورکول

سوال: (۱۴۲) که راهن مرهونه ځمکه و مرتهن ته په اجاره ورکړي نو دا اجاره جائز ده او کنه؟ او رهن په دې سره باطليږي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۸۷هـ)

ځواب: قال فى رد المحتار: و اما الاجارة فالمستاجر ان كان هو الراهن فهى باطلة و كانت بمنزلة ما اذا اعار منه او اودعه و ان كان هو المرتهن و جدد القبض للاجارة او اجنبيا بمباشرة احدهما العقد باذن الآخر بطل الرهن الخ و فيه بعد اسطر: و يشترط فى الاجارة تجديد القبض كما علمت آنفا الخ(۳) له دې څخه معلوم شو چي که مرتهن ته هم هغه ځمکه په اجاره ورکړي او د قبضي تجديد وشي نو اجاره صحيح ده ليکن رهن باطليږي قال فى الدر المختار: بخلاف الاجارة و البيع و الهبة و الرهن من المرتهن او من اجنبى اذا باشرها احدهما باذن الآخر حيث يخرج عن الرهن ثم لا يعود الا بعقد مبتدء الخ(۳) فقط

---

(۱) الدر و الرد ۳/۴۰۵ كتاب الوقف، مطلب فى احكام المسجد. ط رشيديه

(۲) الشامي ۳/۴۰۶ كتاب الوقف، مطلب فيما لو خرب المسجد او غيره. ط رشيديه

(۳) الدر و الشامي ۵/۳۶۴ كتاب الرهن، باب التصرف فى الرهن و الجناية عليه و جنايته على غيره. ط رشيديه

د حجامۍ (ښکر لګولو) پیشه کول څنګه ده؟

سوال: (۱۴۳) د حجامۍ پیشه کول څنګه ده؟ او پر کسب کونکي بد و رد ویل څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۳۷۴هـ)

ځواب: په ځینو حدیثونو کې دا راغلي دي: ثمن الکلب خبیث و مهرا لبغی خبیث و کسب الحجام خبیث رواه مسلم(۱) چونکه په دغه روایت کې د حجام و کسب ته خبیث فرمایلي دي ځکه علماء لیکلي دي چې دغه پېشه مکروه ده د سپکوالي په وجه لکه چې صاحب د مرقات د کسب الحجام خبیث په شرح کې لیکلي دي ای مکروه لدناءته(۲) نو معلوم شو چې د پېشې په توګه دا کول ښه نه دي که څه هم د حجام لپاره دغه اجرت حلال دی ځکه چې په نورو حدیثونو کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په بل ښکر ولګاوی او ښکر لګونکي(حجام) ته اجرت ورکړی. (۳)

د شرعي خلاف جامې ګنډلو باندې اجرت اخیستل

سوال: (۱۴۴) زه د کورنۍ ګزارې لپاره د خیاطۍ کار کوم مګر خرابي پکې دا ده چې د شرعي په خلاف لباس پکې جوړول هم راځي لهذا دا کار صحیح دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۸۳هـ)

ځواب: کوم اجرت چې اخلي هغه حلال دی.

د معلومې غلې په عوض د کښت د ځمکې اجاره صحیح ده

سوال: (۱۴۵) ... (الف) زید خپله د کښت ځمکه و بکر ته دا ډول په اجاره ورکول غواړي

---

(۱) الصحیح لمسلم ۱۹/۲ کتاب المساقاة و المزارعة باب تحریم ثمن الکلب و حیوان الکاهن و مهر البغی و النهی عن بیع سنور.

(۲) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ۳۸/۶ کتاب البیوع، باب الکسب و طلب الحلال. مکتبة امدادیة، ملتان.

(۳) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم احتجم فاعطی الحجام اجره و استعط متفق علیه(مشکاة ص:۲۵۸ باب الاجارة)

چي په هر کښت کي به لس منه معلومه غله مثلاً غنم بکر و ده ته ورکوي دا صورت د اجارې صحيح دی او کنه؟

(ب) که د باران د نه کيدو يا په کومه بله وجه بکر ځمکه و نه کرله نو زيد له بکر څخه معلوم مقدار د غلې يا د هغې قيمت اخيستلای شي او کنه؟ (۹۸۵/۱۳۴۲هـ)

ځواب: (الف - ب) دا صورت د اجارې صحيح دی د اجرت تعين وشو او د اجارې صحيح کيدو لپاره دې ته ضرورت وي او که په ځمکه کي شی راشين نه شو يا مستاجر ونه کرله نو مقرر اجرت يعني معلومه غله به بکر ورکوي او که په اجرت کي روپۍ مقرري شوي وي نو روپۍ به ورکوي او که د معلومي غلې په قيمت اخيستلو زيد او بکر راضي شول نو هغه به ورکوي په در مختار کي راغلي دي: و کل ما صلح ثمنا ای بدلا فی البيع صلح اجرة الخ(۱) و فی الشامي: و لا بد من اعلام البدل الخ(۲) و فی الدر المختار: او الاستيفاء للمنفعة او تمكنه منه الخ(۳) فقط

درختي په اجاره ورکول

سوال: (۱۴۶) په يو باغ کي ډير قسمونه درختي دي اوس چا دا وويل چي د څو مياشتو لپاره په دې کي يو خاص درخته په اجاره راکړه په دغه موده کي به له دغه درختي څخه استفاده زه کوم او نوري درختي چي په اجاره نه دي د هغوی ميوه به د ځمکي د مالک وي او کومه درخته چي په اجاره اخيستي ده په هغه کي حالاً کومه ميوه نشته دا ډول اجاره جائز ده او کنه؟ (۳۴۷/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: درختي په دغه شرطونو په اجاره ورکول جائز نه دي و لا تجوز اجارة الشجر على ان الثمر للمستاجر الخ كذا فی المحيط السرخسی(۴) الفتاوی العالمغيرية.

سوال: (۱۴۷) زيد ځمکه لري په سيزن کي د دريو څلورو مياشتو لپاره د خورما درختي خرڅي کړي را نيونکي خرماوي خرڅوي چي کله فصل ختم شي

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۳/۵ كتاب الاجارة. ط رشيديه

(۲) الشامي ۳/۵ كتاب الاجارة. ط رشيديه

(۳) الدرمع الرد ۷/۵-۸ كتاب الاجارة. ط رشيديه

(۴) الفتاوى الهندية ٤٤٢/٤ كتاب الاجارة. الباب الخامس العشر فی بيان ما يجوز من الاجارة و ما لا يجوز.

نو دغه درختي پربږدي داسي جائز دي او که ناجائز؟ (۲۲۲/۳۵-۱۳۳۶ھ)

ځواب: دا اجاره د درختو ناجائز ده.

پر مسلمانولو اجرت اخیستل

سوال: (۱۴۸) یو سړی نامذهبه د قاضي پر لاس اسلام قبلاوی قاضي څني پنځه روپۍ اجرت وغوښتی داسي اجرت شرعًا څنګه دی؟ او د قاضي لپاره څه حکم دی؟ (۱۷۹۰/۱۳۳۵ھ)

ځواب: داسي قاضي فاسق او د کبیره ګناه کونکی دی په شرح فقه اکبر کي راغلي دي: و فی الخلاصة کافر قال لمسلم: اعرض علی الاسلام فقال: اذهب الی فلان العالم کفــر ای لانه رضی ببقائه فی الکفر الی حین ملازمة العالم و لقائه او لجهله الخ و قال ابو اللیث: ان بعثه الی عالم لا یکفر لان العالم ربما یحسنه مما لا یحسنه الجاهل فلم یکن راضیا بکفره ساعة الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي صرف د ده په مسلمان کولو کي د توقف کولو په وجه ځیني فقهاء ورته کافر ویلي دي فکیف بهذا. فقط

سوال: (۱۴۹) نابالغ یتیم هندو مسلمان شو د ده سره دوې دوه نیمي روپۍ د پلار میراث ؤ په هغه کي په نیمو خوږې راوړې پر خلکو ووېشلې او نیمي یې و مسلمان کونکي ته ورکړې داسي جائز دي او کنه؟

ځواب: د نابالغ په روپیو خوږې وېشل او نیمي د مسلمان کونکي لپاره اخیستل جائز نه دي باید بیرته ورکړي.

په کومه اجاره کي چي اعانت علی المعصیت وي

سوال: (۱۵۰) ... (الف) یو کافر وایي چي ما پخپل موټر کي تر شراب خانې

(۱) شرح الفقه الاکبر فی الکلام لملا علی القاری ص:۲۱۸ فصل فی الکفر صریحا و کنایة المطبوعة: المجتبائی دهلی

بوزه د داسي سړي څخه اجرت اخيستل جائز دي او کنه؟

(ب) يو سړی وايي چي ما په ګاډی کي تر فاحشي (رنډی) ښځي پوري پوزه د داسي سړي څخه اجرت اخيستل څنګه دی؟

(ج) د چا سره په موټر کي افيون او چرس وړل څنګه دي؟ د اجرت حکم يې څه دی؟ (۱۳۳۵/۷۵۹ھ)

ځواب: په دغه ټولو صورتونو کي د اعانت علی المعصية په وجه اجاره مکروه ده.

سوال: (۱۵۱) ... (الف) د هندوانو و ميلي ته هندو په ګاډی کي وړل کرايه خني اخيستل حلال دي که حرام؟

(ب) عيسائي تر کليسي پوري په ګاډی کي په کرايه وړل حلال دي که حرام؟ (۱۳۳۵/۸۸۲ھ)

ځواب: (الف) کرايه حلاله ده ليکن د اعانت علی المعصيت په وجه دا فعل مکروه دی.

(ب) د دې حکم هم هغه دی کوم چي پورته بيان شو.

سوال: (۱۵۲) نن صبا له ريل ګاډی څخه ورا (جنج) راشوه شي په ټانګه کي سپاره شي د ګاډی او ټانګي و مختهډول سرنا وهي د انجلی تر کوره ځي په داسي حالت کي ګاډی ټانګه کرايه کول او په کرايه ورکول حلال دي که حرام؟ (۱۳۳۵/۹۲۰ھ)

ځواب: مکروه دي.

سوال: (۱۵۳) سرای د هوټل جوړولو لپاره چي پکي به انګريزانو ته شراب او د خنزير غوښه ورکول کيږي او پکي به فاحشه ښځي وي چي بد فعلي به پکي کوي ورکول جائز دي او کنه؟ که ناجائز دي نو لذاته دي که لغيره؟ او د سرای د مالک لپاره به کرايه حلاله وي که حرامه؟ او په حرام مال چي کوم سرای رانيول شي يا جوړ کړل شي په هغه کي په کرايه او سيدل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۹۸۱ھ)

ځواب: د امام صاحب مذهب په دغه صورت کي د جواز دی ليکن صاحبين رحمهما الله ورته مکروه وايي ځکه چي په دې کي اعانت علی المعصيت دی او دا معصيت لغيره دی نو دغه خلکو ته سرای په کرايه ورکول ښه کار نه دی او په حرام مال چي کوم سرای جوړ يا رانيول شي په هغه کي خباثت ضرور شته لهذا پکي هستوګنه ښه نه ده، د دې ټولو سره د اوسيدونکي لپاره حکم د جواز دی او سيدل پکي حرام نه دي او د سرای د مالک

لپاره دغه کرایه ښه نه ده. فقط

د مسجد د کانونه د دریو کلونو لپاره په ټېکه ورکول

سوال: (۱۵۴) د مسجد څو دکانه و یو مسلمان یا نامسلمان ته په ټېکه د دریو کلونو لپاره ورکول کېدلای شي چې دی د ټېکې روپۍ مخکې ادا کړي دکاندارانو ته چې به څو مره زیاتوب وغواړي خپله ګټه پر واچوي دکانونه که چلېږي او که خالي وي دکانداران وايي چې مسجد زمونږ سره ولي معامله نه کوي څو مرهزیاتوب چې ټېکه دار په مونږ اچوي هغه مسجد پخپله کولای شي او مونږ دې ته اماده یو نو څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۴۵هـ)

ځواب: په کوم کار کې چې د وقف ګټه وي هغه کول پکار دي نو که په ذکر شوې طریقه ټېکه ورکولو کې ګټه معلومېږي ځکه چې وکرایه دارانو ته په کاریه ورکولو کې شاید کله د دکانونو خالي پاته کېدو هم احتمال وي نو د دریو کلونو ټېکه ورکول صحیح دي لنډه دا چې مهتمم او متولي دې د دکانونو ګټې ته پام وکړي د چا په مراعت کولو دې دکانو ته نقصان نه رسوي په نېک نیت چې څه وکړي هغه صحیح دي: [و الله یعلم المفسد من المصلح] (سورة بقره، آیت: ۲۲۰) فقط

وربېونکي ته له رېبلي غلې څخه اجرت ورکول صحیح نه دي

سوال: (۱۵۵) د ځمکې غله مې په مزدور په دې شرط ورېبله چې له همدې غلې څخه به پنځمه یا شپږمه برخه ورکوم داسې جائز دي او کنه؟ او ځمونږ په خوا له خورما څخه اوبه او باسي میتهائي ځنې جوړوي نو د خرما نیمي اوبه و مزدور ته په مزدورۍ کې ورکوي دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۴۷هـ)

ځواب: دا دواړه معامله کول ناجائز دي دا اجاره فاسده ده په اجرت کې داسې شی تعینول چې پخپله د مستاجر د عمل ثمره وي اجاره فاسدوي په هدایه کې راغلي دي: و كذا اذا استاجر حمارًا يحمل عليه طعامًا بقفيز منه فالاجارة فاسدة لانه جعل الاجر بعض ما يخرج من عمله فيصير فى معنى قفيز الطحان و قد نهى النبى صلى الله عليه وسلم عنه. (۱)

---

(۱) الهداية ۳/۳۰۵ كتاب الاجارات، باب الاجارة الفاسدة.

سوال: (۱۵۶) د غلي په ربېلو کي دا شرط لګول چي په شلو غوزيو کي يوه غوزي د ربېونکي ده داسي کول څنګه دي؟ (۳۲/۲۳۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دسي شرط لګول چي غوزي ربېونکي ته به يوه غوزي ورکول کېږي اجاره فاسده وي. فقط

سوال: (۱۵۷) کوم خلک چي لوو کوي د دوی سره د کومي مزدوری خبره نه کېږي رواج داسي دی چي مابنام دوی ته مزدوري ورکول کېږي چي پنځه سېره غله ځني ايستل کېږي که غله له هغه څخه کمه ووزي او که زياته دا دول مزدوري ورول جائز دي او کنه؟ مزدور و کښت ته ګوري د کوم ځای غله چي ښه په نظر ورشي خپله مزدوري له هغه ځايه اخيستل غواړي د ده په خوښه ورکول پکار ده که چي مالک يي له کومه ځايه ورکړي؟ (۱۱۲۷/۱۳۳۵هـ)

ځواب: دا اجاره فاسده ده په دوو وجو لومړی وجه دا ده چي دا په حکم د قفيز الطحان ده دوهمه وجه دا ده چي اجرت مجهول دی که اجرت معلوم وي بيا هم د لومړی وجي په سبب ناجائز ده په درمختار کي د فاسدي اجاري په بيان کي راغلي دي او استاجر بغلاً ليعمل طعامه ببعضه او ثورًا ليطحن بره ببعض دقيقه فسدت فى الكل لانه استاجره بجزء من عمله و الاصل فى ذلک نهيه صلى الله عليه وسلم عن قفيز الطحان الخ و الحيلة... ان يفرز الاجر اولاً او يسمى قفيزًا بلا تعيين ثم يعطيه قفيزًا منه فيجوز(۱) (درمختار)

و مزدورته د ده له کړي کار څخه مزدوري ورکول کله صحيح ده؟

سوال: (۱۵۸) و مزدور ته د ده له کړي کار څخه مزدوري ورکول څنګه دي؟ (۱۲۰۴/۱۳۳۹هـ)

ځواب: که له همدي څخه د مزدوري ورکولو شرط و نه لګيږي او بيا له دي څخه ورکول شي نو جائز دي.

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۳۸ کتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة. مطلب: تحرير مهم فى عدم جواز الاستيجار على التلاوة الخ. ط رشيديه

د غنمو یا وریجو میدولو اجرت له هم هغه څخه ورکول

سوال: (۱۵۹) د غنمو یا وریجو میدولو اجرت له هم هغه څخه ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۷۳۸هـ)

ځواب: دا منع دي کما ورد النهي عن قفيز الطحـــان(۱) اما که مطلق غنم په معلوم مقدار اجرت مقرر شي نو دا سي جائز دي. فقط

د ذبح کولو اجرت

سوال: (۱۲۰) د حیوان حلالولو اجرت اخیستل جائز دي او کنه؟ (۸۸۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د فقهي قواعدو مقتضا دا ده چي پر ذبح اجرت اخیستل صحیح دی(۲) په دې شرط چي معلوم وي او کار هم معلوم وي مثلاً داسي چي د یو حیوان پر سر آنه یا دوې آنې. فقط

د ذبح کولو په اجرت کي غوښه اخیستل

سوال: (۱۲۱) د ذبح کولو اجرت اخیستل یا په اجرت کي غوښه اخیستل جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۵۱۲هـ)

ځواب: د حلالولو او غوا او نورو پاکولو او غوښي پرې کولو اجرت اخیستل صحیح دی او که له غوښي څخه اجرت اخیستل له مخکي څخه مقرر کړی نه وي مثلاً اجرت په روپیو او پیسو باندي مقرر شوی وي مثلاً څلور آنې یا اته آنې او وروسته مثلاً د څلورو آنو پر ځای د قصاب او حلالونکي په خوښه غوښه د څلورو آنو ورکوله شي نو دا صحیح دي او په قرباني کي داسي کول مکروه لیکلي دي نو په قرباني کي دي غوښه نه ورکوي. فقط

---

(۱) او استاجر بغلا ليحمل طعامه ببعضه او ثورًا ليطحن بره ببعض دقيقه فسدت فى الكل لانه استاجره بجزء من عمله، و الاصل فى ذلک نهيه صلى الله عليه وسلم عن قفيز الطحان (الدر المختار مع رد المحتار ۳۸/۵ كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم فى عدم جواز الاستيجار على التلاوة و التهليل الخ. ط رشيديه)

(۲) و يجوز الاستيجار على الزكاة الخ (الفتاوى الهندية ٤٥٤/٤ كتاب الاجارة، فصل فى المتفرقات)

د نو مبلو اجرت اخیستل

سوال: (۱۲۲) یوه دایي د بل کره ځي نو نیسي او نو مالشوي او د دې اجرت اخلي دا اجرت حلال دی او کنه؟ د دې میلمستیا او د دې د لاس پخ کړي ډوډۍ خوړل څنګه دي؟ دا سپکه او ذلیله ګڼل او میلمستیا یې نه قبلول څنګه دي؟ (۱۲۵۲/۳۲ ۱۳۳۳ھ)

ځواب: دغه اجرت حلال دی د دې د کور میلمستیا او د دې د لاس پخ کړي ډوډۍ خوړل صحیح دي دا سپکه او ذلیل ګڼل او په دې وجه میلمستیا نه قبلول منع او معصیت دی.

د ماشوم په غوږکي پر اذان کولو روپۍ اخیستل

سوال: (۱۲۳) د مسجد امام چي د هلک په غوږ کي اذان کوي پر هغه روپۍ اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۴/۲۷۵ھ)

ځواب: که د اذان معاوضه نه وي نو صحیح دی.

د سود اخیستونکي سره مزدوري کول

سوال: (۱۲۴) زید سود اخلي او ځمکي هم لري د ځمکو د کښت په معاملو کي هم سود اخلي بکر د ده سره مزدور دی نو د بکر لپاره تنخواه حلاله ده او کنه؟ دا غه په هغه مکتب کي ملازمت کول صحیح دي او کنه چي مصرف د سود او فیس له روپیو کیږي؟ (۱۳۳۸/۲۱۹ھ)

ځواب: د بکر لپاره په ملازمت کي د خپل خدمت په عوض له زید څخه تنخوا اخیستل صحیح ده او ملازمت صحیح دی که څه هم احتیاط په دې کي دی چي ځان ځني بچ کړي لیکن د فتوی له لاري مذکوره ملازمت صحیح دی او په دغه مکتب کي ملازمت کول هم صحیح دي فقط.

کوم ځای چي د سود سند ورکول کیږي هلته ملازمت کول

سوال: (۱۲۵) د منصفي یا نورو محکمو کي چي د سود سند ورکوي هلته

ملازمت کول جائز دی او کنه؟ او د ناجائز والي په صورت د داسي ملازم کره خوراک څښاک کول صحیح دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۳۴هـ)

ځواب: دا ملازمت صحیح نه دی او خوراک څښاک هم د ده کره ښه نه دی.

د ساه کښ د عکس اخیستلو مزدوري کول

سوال: (۱۲۶) زید داسي ملازمت کولای شي؟ چي پکي د ساه کښو او نا ساه کښو عکسونه اخیستل وي. (۱۳۳۸/۴۲۷هـ)

ځواب: په کوم ملازمت کي چي د ساه کښ عکسونه اخیستل وي که ملازم پخپله اخلي یا یي په بل چا اخلي داسي ملازمت صحیح نه دی.

د شرعي په خلاف کار کولو ملازمت کول

سوال: (۱۲۷) ناجائز ملازمت کول شرعًا څنګه دی؟ (۱۳۳۵/۹۴۹هـ)

ځواب: ښکاره خبره ده چي ناجائز فعل که ملازمت وي که بل کار څنګه جائز کېدلای شي؟ عجبه خبره ده چي سائل دا هم وایي چي ناجائز ملازمت بیا د هغه حکم پوښتي.

سوال: (۱۲۸) د مسلمان لپاره داسي ملازمت کول چي پکي د شریعت خلاف کار کول وي جائز دی او کنه؟ او کوم ملازم چي په یو شعبه کي وي چي هلته تر یوې مودې پوري پر ملازمت کولو مجبور وي او ملازمت پرېښودلای هم نشي او د شرعي په خلاف کار پکي کول وي نو شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۳۷۳هـ)

ځواب: د مسلمان لپاره حتی الوسع له داسي ملازمت څخه پرهېز کول پکار دی چي پکي د شریعت خلاف کوم کار کول وي له ملازمت اختیارولو وروسته خو سړی مجبوروي لیکن پر ملازمت اختیارولو خو څوک مجبور نه وي نو لومړی د دې خیال ساتي داسي ملازمت مه اختیاروئ چي پکي د اسلامي احکامو خلاف کار کول وي. فقط

سوال: (۱۲۹) د ناجائز کار پر نوکري کولو تنخواه اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۱۸۲هـ)

ځواب: د ناجائز کار نوکري کول او ورباندي تنخواه اخیستل حرام او معصیت دی.

د اجارې ځمکه و مالک ته یا بل چاته په اجاره ورکول

سوال: (۱۷۰) د اجارې ځمکه په زیات اجرت و بل چانه یا پخپله د ځمکې و مالک نه په اجاره ورکول صحیح دي او کنه؟ (۳۳/۸۲۰ ۱۳۳۴ھ)

ځواب: ځمکه به اجاره اخیستلو وروسته و بل نه په اجاره ورکول په کم یا زیات باندې صحیح ده او پخپله د ځمکې و مالک نه ورکول صحیح نه ده یعنې چه دې نه ورکولو لومړی اجاره هم فسخیږي

د بل په ځمکه کې د درختي لګولو حکم

سوال: (۱۷۱) زید د عمر په ځمکه کې یوه درخته ولګوله او س چې کله غټه شوه او ښاخلې یې پرې شولې نو زید ته به هم څه برخه یا د محنت او عمل اجرت ورکول کیږي که ټوله درخته د ځمکې د مالک د عمر وي؟ (۱۳۳۵/۷۴۰ھ)

ځواب: د دې دوه صورتونه دي یا خو به د ځمکې د مالک بې اجازې درخته لګولې وي یا به په اجازه لګولې وي د بې اجازې لګولو په صورت کې د درختي د کنبلو یا کنبل شوي درختي قیمت ورکولو مالک ته اختیار وي او په اجازه لګولو په صورت کې د درختي مالک د ځمکې مالک دی د درختي لګونکي چې څومره مصرف کړی دی هغه ده ته ورکړې

فلو باذنه فالبناء لرب الدار و یرجع علیه بما انفق الخ(۱) (شامي ۱۲۴/۵ کتاب الغصب)

د حیوان په پاللو شراکت کول

سوال: (۱۷۲) د وزې، غوا او نورو د پاللو لپاره ورکولو دا صورت جائز دی او کنه؟ چې مالک وزه او نور و بل چانه ورکوي شرط دا وي چې کوم بچي لومړی پیدا شي هغه به د پالونکي وي او بیا چې نور بچیان پیدا کیږي هغه به نیم په نیمه شریک وي د دغه بچي قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۷۱۵ھ)

ځواب: دا صورت شرعًا ناجائز دی په شامي کې لیکلي دي چې که حیوان د دوو د پالني لپاره ورکړي

---

(۱) الشامي ۱۳۷/۵ کتاب الغصب قبیل مطلب: زرع في ارض الغیر یعتبر عرف القریة. ط رشیدیه

نو خومره بچیان چې پیدا کیږي هغه د حیوان د مالک دي او پالونکي ته به اجرت مثل یعني د وښو او نورو بیه او معروف اجرت چې د داسي کار او داسي محنت وي ورکول کیږي د شامي عبارت دا دی: و علی هذا اذا دفع البقرة بالعلف لیکون الحادث بینهما نصفین فما حدث فهو لصاحب البقرة و للآخر مثل علفه و اجر مثله تاتارخانیه(۱) (شامي: ۳۵۱/۳ شرکت فاسده) لیکن که مالک په خوښي و پالونکي ته هغه بچي ورکړي نو هغه مالک کرځي که هغه قرباني کړي نو صحیح دی او د مالک په ونډه کي چې کوم بچي راشي هغه خو د مالک دی هغه هم قرباني کولای شي.

سوال: (۱۷۳) د حیوان بچي دا ډول په پالنه ورکول چې کله غټ شي او څومره قیمت یې شي نو نیم قیمت به د پالونکي وي او نیم د مالک دا جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۳۲۹هـ)

ځواب: دا ډول په پالنه ورکول جائز نه دي په شامي کي راغلي دي چې په داسي صورت کي و پالونکي ته اجرت مثل ورکول لازمیږي یعني د څومره زماني پوري د پاللو او ساتلو اجرت چې عرفًا ثابت دی هغومره به ورکوي او حیوان د مالک دی.

سوال: (۱۷۴) یو سړي د بل سړي څخه کوچنی سوخوندر په دې شرط واخیستی چې زه یې پالم دوه دونیم کاله وروسته چې د دې څومره قیمت وي دواړه به نیم نیم واخلو دا طریقه جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۹۲۹هـ)

ځواب: دا ډول معامله علامه شامي رحمه الله په فاسد شرکت کي بیان کړې ده او دا یې لیکلي دي چې داسي حیوان د مالک دی و پالونکي ته د پاللو اجرت د عرف سره سم ورکول کیږي عبارت یې دا دی: و علی هذا اذا دفع البقرة بالعلف لیکون الحادث بینهما نصفین فما حدث فهو لصاحب البقرة و للآخر مثل علفه و اجر مثله تاتارخانیة الخ(۲) (شامي: ۳۵۱/۳)

سوال: (۱۷۵) ... (الف) و چاته وزه یا غوا د پاللو لپاره دا ډول ورکول چې څومره بچي یې پیدا کیږي نیم زما او نیم ستا دي او اصل حیوان به د مالک وي داسي معامله جائز ده او کنه؟

---

(۱) الشامي ۳۸۳/۳ کتاب الشرکة، مطلب یرجح القیاس. ط رشیدیه

(۲) مخکنی حواله

(ب) یو حیوان دا ډول د پاللو لپاره ورکول چې د پاللو لپاره ورکولو پر مهال چې کوم قیمت وي هغه به له پالني وروسته چې کوم قیمت شي د هغه نیم د پالونکي او نیم سره د هغه قیمته چې د پالني لپاره ورکولو پر مهال ؤ و مالک ته ورکول کیږي دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۴۰هـ)

ځواب: (الف) په دغه صورت کې غوا او نور هم د مالک دي او کوم بچیان چې پیدا شي هغه هم به د غوا د مالک وي دا شرط لګول چې څو مره بچیان بې وي هغه به نیم په نیمه وي باطل دی بلکه د پالونکي د اجر مثل حق کیږي.

(ب) د دې هم هغه حکم دی کوم چې پورته تېر شو هغه قیمت ټول د مالک دی د پالونکي لپاره اجر مثل یعني څو مره چې د دغه کار او وخت اجرت معروف وي هغه به ورکوي لکه چې په شامي کې راغلي دي: و علی هذا اذا دفع البقرة بالعلف لیکون الحادث بینهما نصفین فما حدث فهو لصاحب البقرة و للآخر مثل علفه و اجر مثله تاتارخانیة(۱) فقط

سوال: (۱۷۶) زید وزه، چرګه، غوا او نور و بکر ته په دې شرط ورکړو چې دا وپاله د دې بچې، هګۍ او نوري ګټې زما او ستا نیمی نیمی دي دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۴۸۲هـ)

ځواب: دا معامله فاسده ده او دا ډول شراکت نه صحیح کیږي دا سې حیوان سره د ګټو او زوائد د اصلي مالک دی و پالونکي ته به اجر مثل او د خوراک او نورو مصرف ورکول کیږي کذا فی الشامي(۲) فقط

سوال: (۱۷۷) ... (الف) غوا، غویی د پالني لپاره و چاته په دې شرط ورکول چې څومره قیمت بې وي ثلث یا ربع به د پالونکي وي او نور د مالک؟

(ب) و چاته غوا، غویی په دې شرط د پالني لپاره ورکول چې د ورکړې پر مهال مثلاً قیمت یې لس روپۍ ؤ او څه موده وروسته دیرش روپۍ شو نو اوس به لس روپۍ د پالونکي او اصل مالک ته به لس روپۍ ګټه او لس روپۍ اصل قیمت ټولي به شل روپۍ ورکوي نو داسې جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۴/۳۴۷هـ)

ځواب: (الف-ب) دا شرط صحیح نه دی د پالونکي لپاره صرف اجر مثل دی، حیوان هغسې د اصل

---

(۱) الشامي ۳۸۳/۳ کتاب الشرکة فصل فی الشرکة الفاسدة، مطلب: یرجح القیاس. ط رشیدیه

(۲) مخکنۍ حواله

مالک دی پالونکی د خپل دغه خدمت په عوض د اجرت مستحق دینو هغه په دغه صورت کي اجر مثل دی په در مختار کي راغلي دي: و ما حصله احدهما باعانة صاحبه فله و لصاحبه اجر مثله الخ(۱)

د بدکاري ښځي وو زامنو ته په درس ورکولو تنخواه اخیستل او د بد کاري د نبض په کتلو فیس اخیستل

سوال: (۱۷۸) ... (الف) زید د یو هندو په مکتب کي درس ورکاوی څه زمانه کیږي چي یوه بدکاره ښځه په کور کي ساتلې ده او ورځخه څو هلکان شوي دي و زید ته وویل چي مکتب پر برده د دغه ښځي و زامنو ته درس کوه لهذا و دوی ته درس ورکول او تنخواه اخیستل جائز دي او کنه؟

(ب) که طبیب د بدکاري ښځي نبض وګوري فیس اخلي نو جائز دي او کنه؟(۱۳۳۵/۱۷۷۷هـ)

ځواب: (الف - ب) و دوی ته درس ورکول او تنخواه اخیستل صحیح دي داغه ډول په مذکوره صورت کي د طبیب فیس اخیستل صحیح دی.

دریاب او ډنډه و ماهیانو نیونکیو ته په کرایه ورکول

سوال: (۱۷۹) زید یو څو دریابه او ډنډې (ناورونه) لري و ماهیانو نیونکیو ته د کاله په کرایه ورکول صحیح دي او کنه؟ (۲۲۲۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په شامي کتاب الاجاره کي راغلي دي: و لا تجوز على استيجار الآجام و الحياض لصيد السمک الخ(۲) نو معلوم شو چي داسي اجاره صحیح نه ده. فقط

له خدمت کونکیو څخه بې د خدمت له معلومولو خدمت اخیستل

سوال: (۱۸۰) دلته په عامه توګه دا رواج دی چي د خدمت کونکیو لکه حجام، او به ډکونکو، نایي، پینې، نجار او نورو څخه د خدمت اخیستلو نه کوم اصول شته او نه د اجرت ورکولو کوم چي زما په خیال ناجائز

---

(۱) الشامي ۵۲/۲ کتاب الزكاة، باب الركاز. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۴۴/۵ کتاب الاجارة مطلب الاجارة اذا وقعت على العين لا تصح و الحيلة فيه. ط رشيديه

دي لهذا مهرباني وکړئ چي کوم اسان صورت د جواز وي راته وفرمایاست.
(۳۸۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په داسي امورو کي مسامحت کول غواړي د قاعدي او اصولو سره سم د اجاري صحیح کیدل مشکل دي په دې کي د عدم مؤاخذي صورت که دی نو هم دغه دی چي څومره چي و دغه خدمت کونکیو ته د کاله او نورو ورکول شي هغه وخت دوی خوشحاله کړي او دا وخت به د دوی د تیرو خدمتونو معاوضه د دوی په خوښه وبلل شي.

څوک چي پخپله د دین خدمت کوي د هغه نفقه پر کلیوالو واجب ده

سوال: (۱۸۱) کوم سړی چي د اسلامي دین خادم وي او کوم معاش نلري آیا د ده نفقه پر کلیوالو واجب ده او کنه؟ او دا سړی بې د چا له وینا پخپله د دین خدمت کوي؟
(۸۴۷/۱۳۴۰هـ)

ځواب: کوم سړی چي پخپله د اسلام خدمت کوي هغه د ثواب کار کوي الله رب العزت به ثواب ورکړي مسلمانان دي هم پخپله د خپل وس سره سم د ده خدمت وکړي په دې کي د دوی اجر او ثواب دی مګر پر دوی د ده نفقه او خرڅ واجب نه دی. فقط

د قصابی پېشه څنګه ده؟

سوال: (۱۸۲) د قصابۍ پېشه خپلول شرعًا جائز ده او کنه؟ بینوا بالدلیل توجروا.
(۱۲۷۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: جائز ده او د اباحت دلیل یې ټول انواع د حرفت او کسب دي په کومو کي چي کوم شرعي ممنوع او محظور کار نه وي په در مختار کي راغلي دي: و کل انواع الکسب فی الاباحة سواء الخ او په شامي کي راغلي دي: فالمراد من قولهم کل انواع الکسب فی الاباحة سوّاء انها بعد ان لم تکن بطریق محظور لا یذم بعضها و ان کان بعضها افضل من بعض الی ان قال: و ما قیل ان فیه ازهاق الروح و هو یورث قسوة القلب لا یدل علی الکراهة بل غیته ان غیره کالتجارة و الحراثة افضل منه الخ(۱) (کتاب الصید ۲۹۸/۵) فقط

(۱) الدر و الرد ۳۲۸/۵ کتاب الصید. ط رشیدیه

مالک که په کرایه ورکړی سرای خرڅ کړي

سوال: (۸۳) یو سړي خپل مکان په کرایه ورکړی وروسته دغه سرای پربل چا خرڅ کړی نو په داسي صورت کي د بیع څه حکم دی؟ او مشتري کرایه دار د اجارې په موده کي د ننه ایستلای شي او سرای په خالي کولای شي کنه؟ (۲۳۴۴/۱۳۳۸ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و بخلاف بیع ما آجره فانه ایضا لیس بعذر بدون لحوق دین کما مر و یوقف بیعه الی انقضاء مدتها هو المختار الخ(۱) د دې حاصل دا دی چي کوم سرای مالک په اجاره او کرایه ورکړی دی هغه نه دي خرڅول پکار او که خرڅ کړي نو د اجارې د مودي تر پوره کیدو به بیع موقوفه وي لنډه دا چي د اجارې د مودي تر ختمېدو مخکي مشتري کرایه دار جبرًا نشي ایستلای اما که کرایه دار په خوشحالي مکان پرېږدي نو د ده خوښه ده. فقط

د بنګي توب پېشه کول او ورباندي اجرت اخیستل

سوال: (۱۸۴) د بنګي پېشه شرعًا جائز ده او کنه؟ او اجرت ورباندي اخیستل صحیح دی او کنه؟ (۱۴۵۱/۱۳۴۰ھ)

ځواب: د جارو کښی (بنګي توب) پېشه شرعًا حلاله او مباح ده او اجرت ورباندي اخیستل جائز دی کما هو معمول و معروف فی عامة البلاد بلا نکیر په درمختار کتاب الصید کي راغلي دي: فالتحقیق عندی اباحة اتخاذه حرفة لانه نوع من الاکتساب و کل انواع الکسب فی الاباحة سواء علی المذهب الصحیح الخ و فی الشامي: قوله: و کل انواع الکسب ای انواعه المباحة الی ان قال: اقول: فالمراد من قولهم کل انواع الکسب فی الاباحة سواء انها بعد ان لم تکن بطریق محظور لا یذم بعضها و ان کان بعضها افضل من بعض الخ(۲) (کتاب الصید ۲۹۷/۵) فقط

---

(۱) الدر مع الرد ۵۷/۵ کتاب الاجارة، باب فسخ الاجارة، مطلب: ارادة السفر او النقلة من المصر عذر فی الفسخ. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد ۳۲۸/۵ اوائل کتاب الصید. ط رشیدیه

د سود خور مزدوري کول

سوال: (۱۸۵) د کافر، مشرک، بت پرست، سود خور او رشوت خور نوکري کول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۷۰۳هـ)

ځواب: د کافر مشرک او نورو ملازمت صحیح دی لیکن که کوم مسلمان سود خور وي نو که ملازم ته معلوم وي چې ماته تنخوا له سود څخه راکوي بیا خو ځني خان ساتنه غوره ده کني ملازمت کول یې څه پروا نلري. فقط

د تاریاقو تجارت کونکي مزدوري کول

سوال: (۱۸۶) کوم سړی چي د افیونو تجارت کوي د هغه ملازمت کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۲۳۳هـ)

ځواب: د افیونو په اړه فقهاء دا تفصیل فرمایلی دی د تداوي په غرض یې استعمال صحیح دی او بې د دوا له ضرروته استعمال حرام دی لیکن د شرابو له حرمت څخه کم دي په در مختار کي راغلي دي: و یحرم اکل البنج و الحشیشة... و الافیون لانه مفسد للعقل و یصد عن ذکر الله تعالی و عن الصلوة لکن دون حرمة الخمر او په شامي کي دي: فهذا کله و نظائره یحرم استعمال القدر المسکر منه دون القلیل الخ(۱) و فیه ایضا: و الحق التفصیل: ان کان للتداوی فکذلک وان للهو و ادخال الآفة قصدًا فینبغی ان لا یتردد فی الوقوع الخ(۲) و به علم ان المراد الاشربة المائعة و ان البنج و نحوه من الجامدات إنما یحرم اذا اراد به السکر و هو الکثیر منه دون القلیل المراد به التداوی و نحوه کالتطیب بالعنبر و جوزة الطیب الخ(۳) نو معلوم شو چي د افیونو د استعمال په ځینو صورتونو کي د ځیني خلکو لپاره د تداوي په غرض اجازه شته نو د دي بیع

---

(۱) الدر و الرد ۳۲۵/۵ او اخر کتاب الاشربة. ط رشیدیه

(۲) الشامي ۱۸۱/۳ کتاب الحدود باب حد الشرب مطلب فی البنج و الافیون و الحشیشة. ط رشیدیه

(۳) الشامي ۱۸۱/۳ کتاب الحدود باب حد الشرب، مطلب فی البنج و الافیون و الحشیشة. ط رشیدیه

او شراء مطلقًا حرام نه ده مګر مشتبه ضرور دی ځکه د ده ملازمت کول هم حرام نه دی مګر مشتبه دی و رڅخه پرهېز کول پکار دی ځکه چې احتیاط همدغه دی چې له مشتبهاتو څخه ځان وساتل شي.

کمزوري دوا جوړونکي حکیم سره مزدوري کول

سوال: (۱۸۷) زه د یو حکیم صاحب سره په دکان کي مزدور یم دوه درې مزدوران نور هم دي لیکن حکیم صاحب چي کله کومه مرکب دوا جوړوي نو په هغه کي قیمتي او ګراني دوایاني لکه مشک، عنبر، مروارید او نور د کم قیمت او کمزوري دوایاني اچوي یا بېخو مخ پکي نه اچوي په داسي حال کي ورسره مزدوري کول جائز ده او کنه؟ که جائز نه ده نو مخکي چي کوم کار دا ډول مونږ ورسره کړی دی د هغه په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۲۵ھ)

ځواب: مسئله دا ده چي لکه څه رنګه چي د شریعت او دیانت په خلاف کوم کار کول معصیت دی داغه ډول په هغه کي مرسته او مدد کول هم حرام او معصیت دی لکه چي الله رب العزت فرمایلي دي: [و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الاثم و العدوان] (سورة مائده، آیت:۲) نو په دې کي هیڅ شک نشته چي په مذکوره ملازمت کي اعانت علی المعصیت او شرکت فی المعصیت دی یعني ملازمانهم په ګناه کي ورسره شریکان دي ځکه چي مذکوره ملازمت حلال نه دی او څومره چي مخکي وشو پر هغه توبه اوباسئ او استغفار وواياست او د ائنده لپاره ملازمت پرېږدئ. فقط

زناکاره ښځه که په اجرت و ماشوم ته تی ورکوي

سوال: (۱۸۸) ... (الف) و ماشوم ته د تي ورکولو لپاره ښځه په اجرت نیولای شي او کنه؟ چي شیدې یې له زنا څخه وي.

(ب) مسلمانه ښځه د هندو و بچي ته په اجرت تی ورکولای شي او کنه؟

(ج) و مسلمان بچي ته کافره ښځه تی ورکولای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۹۸۱ھ)

ځواب: (الف) د داسي ښځي شیدې و ماشوم ته ورکولای شي او اجرت ورکولای شي.

(ب) ورکولای یې شي.

(ج) ورکولای یې شي.

له میده کړیو اوړو څخه سیوا نور اوړه په اجرت کي ورکول صحیح دي

سوال: (۱۸۹) زید د غنمو اوړه کولو لپاره ژرنده ولګوله او خلګو ته یې دي اجرت د اوړه کولو اختیار ورکړی چي به من کي به دوه سیره اوړه و زید ته ورکوي او دغه دوه سیره به له یو من څخه سیوا وي دا سي معامله جائز ده او کنه؟ (۸۹۴، ۱۳۳۸ه)

ځواب: په دغه مسئله کي کله چي دوه سیره اوړه اجرت د یو من میده کولو مقرر کړي او هغه دوه سیره په دغه یو من کي نه دي د کوم چي اجرت مقرر شوی دی نو داسي فقهاء جائز لیکلي دي ځکه چي دا د قفیز طحان په حکم کي نه دی کوم چي منع دی. فقط

د خنزیر د تجارت په اړه خطونه لیکلو باندي اجرت اخیستل

سوال: (۱۹۰) د خنزیر د تجارت په اړه خطونه لیکلو باندي اجرت اخیستل څنګه دي؟ (۷۲۷/۱۳۴۰ه)

ځواب: داسي خطونه لیکل او ورباندي اجرت اخیستل صحیح نه دي. فقط

د بدکاره ښځو مزدوري کول او ورڅخه تنخواه اخیستل

سوال: (۱۹۱) زید د بدکاره ښځو مزدوري کوي نو د زید لپاره د دوی څخه مزدوري اخیستل جائز دي او کنه؟ او د دوی په مال کي زکوة واجب دی او کنه؟ (۲۳۲۵، ۱۳۴۵ه)

ځواب: د مزدور لپاره دغه مزدوري حلاله ده او حرام مال په مخلوط کولو ملک ګرځي که څه هم ملک خبیث وي او زکوة پکي لازم دی. فقط

و مړو ته د غسل ورکولو لپاره مزدور نیول

سوال: (۱۹۲) د شملي خاص اوسیدونکي کم دي زیاتره خلګ د ملازمت او نورو په وجه په شمله کي اوسیږي که د چا کره مړی وشي نو د خپلوانو او کورنۍ نه شتون په وجه ډیر مشکل وي که کومه ښځه مړه شي نو غساله (غسل ورکونکي) نه وي د شمله اوسیدونکي وايي چي په شمله کي

د دریو څلورو مسجدونو جائیدادونه شته یوه غساله دي هم مزدوره کړې د مسجدونو متولیان دي په ګډه د مسجدونو له جائیدادو څخه وغساله ته تنخواه ورکوي د مسجدونو اوقاف د کوم شرط سره مخصوص وقف نه دی بلکه د چندې او نورو کوششونو نتیجه ده آیا لکه څرنګه چي امام، مؤذن او نورو ته هر مسجد جلا جلا تنخواه ورکوي غساله په مشترکه توګه د مسجدونو له جانبه نوکره کول او تنخواه ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۹۳۱هـ)

ځواب: د مړي پر غسل اجرت ورکول اخیستل اصلاً ناجائز دی لیکن د ضرورت په وجه د دې د جواز ګنجائش شته کما فی الشامي عن الفتح: و لا یجوز الاستیجار علی غسل المیت و یجوز علی الحمل و الدفن و اجاز بعضهم فی الغسل ایضا الخ(۱) نو د جواز د روایتونو سره سم و غساله ته په مشترکه توګه که د مسجدونو متولیان تنخواه ورکړي نو د بیان شوي ضرورت په وجه صحیح دي. فقط

د مړي و قبر ته ورشوه کولو اجرت اخیستل

سوال: (۱۹۳) د مړي و قبر ته ورشو کولو (یعني د قبر) قیمت اخیستل او د دې نوم هدیه ایښودل څنګه دي؟ دا اجرت شرعًا جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۳۴۳هـ)

ځواب: دا قیمت ناجائز او حرام دی د قبرستان د محافظ په دې څه کار دی؟ که هدیره وقف شوې ده نو د مالک په حیث پکي تصرف کول جائز نه دی حرام دی او که د چا مملوکه ده نو مالک د خپلي ځمکي قیمت اخیستلای شي.

دربیم که له محکمې یا دواړو ډلو څخه فیس واخلي

سوال: (۱۹۴) په محکمه کي مطلقې هندې په خپل خاوند د مهر او د جهیز د سامان دعوی وکړه محکمې و دواړو ډلو ته وویل چي تاسو خپله فیصله په محکمه کولو پر ځای په دربیم وکړي دواړه ډلي په دې راضي شوې یو سړی یې دربیم ګړی مقرر کړی دواړو ډلو په اتفاق سره تسلیم کړی محکمې هم دی وټاکی او د ده لپاره سل روپۍ فیس مقرر

---

(۱) رد المحتار ۶۳۴/۱ کتاب الصلاة باب صلاة الجنازة مطلب فی حدیث کل سبب و نسب منقطع الاسبی و نسبي. ط رشیدیه

کړی او ده ته خبر ورکړی چي ته فلانی فلانی مدعی مدعی علیه دربیم ټاکلی یې لهذا ته د دغه دعوی تحقیقات وکړه د انصاف ډکه فیصله وکړه او د دي لپاره سل روپۍ تاته درلېږل کیږي پوښتنه دا ده چي آیا د دربیم لپاره دغه فیس اخیستل جائز دی او کنه؟ د دي دوه صورته دي:

لومړی دا چي محکمه پخپله دغه فیس له خپلي خزانې و دربیم ته ورکړي.

دوهم دا چي محکمه یې له مدعی، مدعلی علیه څخه ورواخلي د دغه دواړو صورتونو په حکم کي فرق شته او کنه؟

دربیم به د مدعی، مدعی علیه بیانونه اوري ګواهان به پوښتي عذرونه به اوري و دواړو ډلو ته به د تاریخ خبرتیا د لیک په ذریعه ورکوي او د دغه دعوی ټول کاغذونه به لیکي بیا به فیصله لیکي او ټول کاغذونه به محکمي ته ورلیږي دا ټول کارونه څني کول غواړي بینوا توجروا. (۱۳۳۵/۳۴۹هـ)

ځواب: قال فی رد المحتار: المحکم کالقاضی(۱) و فیه من کتاب الحظر و الاباحة و جاز رزق القاضی من بیت المال الی ان قال: و لو غنیا فی الاصح و هذا لو بلا شرط و لو به کالاجرة فحرام لان القضاء طاعة الخ(۲) و فی رد المحتار من القضاء: قال فی البحر و ذکر الهدایة لیس احتراز یا اذ یحرم علیه الاستقراض و الاستعارة ممن یحرم علیه قبول هدیته کما فی الخانیة اهـ قلت: و مقتضاه انه یحرم علیه سائر التبرعات فتحرم المحابات ایضا و لذا قالوا: له اخذ اجرة کتابة الصک بقدر اجر المثل، فان مفاده انه لا یحل له اخذ الزیادة لانها محاباة و علی هذا فما یفعله بعضهم من شراء الهدیة بشئ یسیرا و بیع الصک بشئ کثیر لا یحل و کذا ما یفعل بعضهم حین اخذ المحصول من انه یبیع به الرافع دواة او سکینا او نحو ذلک لا یحل لانه اذا حرم الاستقراض و الاستعارة فهذا اولی الخ(۳) (رد المحتار) قوله: و لو غنیا فی الاصح عبارة الهدایة ثم القاضی اذا کان فقیرا فالافضل بل الواجب

---

(۱) رد المحتار ۳۸۶/٤ کتاب القضاء اوائل باب التحکیم. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۲۷۵/٥ کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۳) رد المحتار ۳٤٥/٤ کتاب القضاء، مطلب فی هدیة القاضی. ط رشیدیه

الاخذ لانه لا يمكنه! قامة فرض القضاء الا به اذ الاشتغال بالكسب يقعده عن اقامته و ان كان غنيا فالافضل الامتناع على ما قيل، رفقا ببيت المال و قيل: الاخذ و هو الاصح صيانة للقضاء عن الهوان و نظرًا لمن تولى بعده من المحتاجين الخ قوله:و هذا لو بلا شرط الخ بان تقلد القضاء ابتداء من غير شرط ثم رزقه الوالي كفايته الخ(۱) له دغه عبارتونو و امثالها څخه دا معلومیږي چي حکم په دې اړه د قاضي په رنګه دی او د قاضي لپاره پر قضاء اجرت اخیستل صحیح نه دی(۲) او که د لیکلو او نورو د اجرت غوښتونکي وي نو هغه د اجر مثل په اندازه اخیستلای شي زیاتوب نشي اخیستلای لهذا دا معلومیږي چي په مسئوله صورت کي د دربیم لپاره فیس له دواړو ډلو څخه اخیستل صحیح نه دی اما که قاضي او والي له خزانې څخه ورکړي نو صحیح دی. فقط

د ګمرک له طرفه مقرر شوي طبیب له ګمرک څخه تنخواه اخیستل

سوال: (۱۹۵) زید د ګمرک له طرفه د خلګو لپاره طبیب مقرر شوی دی ده ته ګمرک تنخواه ورکوي دا حلاله ده او کنه؟(۱۳۳۹/۱۹۷۰ھ)

ځواب: دا تنخواه و ده ته حلاله ده.

د ټول کال لپاره دکان په کرایه نیونکی که د کال په منځ د ناجوړۍ په وجه دکان پرېږدي

سوال: (۱۹۶) که کوم سړی د ټول کال په وعده د وقف دکان په کرایه واخلي او د کال په منځ کي د ناروغۍ په وجه پرېږدي نو د مسجد متولیان پاته کرایه ورپرېښودلای شي او کنه؟(۱۴۷۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: که ده د ناجوړۍ په وجه اجاره فسخ کړه او دکان یې خالي کړی و متولیانو ته وسپارئ نو د دغه مودې کرایه واجب نه شوه دی باید پرېږدي او که مستاجر سره د ناجوړۍ

---

(۱) الدر مع الرد ۵/۲۷۶ كتاب الحظر و الاباحة. فصل في البيع. ط رشيديه

(۲) دا د مخکني زماني مسئله ده کله چي د طاعات مقصوده اجاره باطله وه اوس فتوی دا ده چي د کومو طاعاتو سره اسلامي نظام تړلی دی د هغو اجاره صحیح ده نو د قاضي تنخواه هم صحیح ده ۱۲ سعید احمد پالن پوري

اجاره فسخ نکړه او بې د اجارې له فسخ کولو بې دکان پرېښودی نو د دغه مودې کرايه پر ده لازمه ده په در مختار کي راغلي دي: و لو مرض فهو عذر فى رواية للكرخي رحمه الله الخ(١) قوله: تفسخ انما قال تفسخ لانه اختار قول عامة المشائخ و هو عدم انفساخ العقد بالعذر و هو الصحيح، نص عليه فى الذخيرة(٢) (شامي) فقط

د سرای د قیمت په قدر کرایه ادا کولو هم کرایه دار د سرای مالک نه ګرځي

سوال: (١٩٧) عمر خام سرای چې درې سوه روپۍ بيه لري بې د کرايې له پاڼي ليکلو د مياشتي په دوې روپۍ کرايه له زيد څخه واخستی دوولس نيم کاله وروسته کرايه دار وايي چې شرعًا او قانونًا زه د دغه سرای مالک شوم ځکه له عمر څخه زيد بېله ناغې کرايه اخيستې او قيمت هم د سرای پوره شو د سرای قيمت په درې سوه روپۍ کرايه کي ادا شو نو د هستوګنې او د قيمت د ادا کولو په اعتبار په دواړو صورتونو کي عمر وايي چې مکان زما دی. بينوا توجروا(١٣٣٨/١٣٩٧هـ)

ځواب: شرعًا دغه سرای د کرايه دار په ملک کي نه دی راغلی ځکه چې په اجاره کي کرايه دار ته صرف د منافع حاصلولو اختيار وي تر څو چې دی کرايه ورکوي او د سرای و مالک ته اختيار دی چې کله موده د اجارې ختمه شي هغه وخت خپل مکان په خالي کړي کرايه دار د هستوګنې په وجه او د مکان د قيمت په قدر کرايه يا له دې څخه هم زياته ادا کولو د سرای مالک نشي جوړېدلای. فقط

د حکومت له قانون سره پنځلس کاله پس کرايه دار د سرای مالک دی او که نه؟

سوال: (١٩٨) يو سړي په اجاره په يو سرای کي اتلس کاله تېر کړو

---

(١) الدرمع الرد ٥/٥٦ كتاب الاجارة، باب فسخ الاجارة. مطلب: فسق المستاجر ليس عذرا فى الفسخ. ط رشيديه

(٢) حاشية ابن عابدين ٥/٥٢ كتاب الاجارة، باب اوائل فسخ الاجارة. ط رشيديه

د سرای مالک ورته وایي چې سرای راخالي کړه کرایه دار ورته وایي چې د لومړي درې کاله له عقد د سرای د مالک د ګټي په سبب احسانًا ما پخپل دائمي تصرف کي نه وشمیری له نور پنځو عقدونو هر عقد درې کلن یعني د پنځلسو کلونو تیرېدلو وروسته و کرایه دار ته پخپله بې د کرایې له ادا کولو دائمي تصرف حاصلیږي او قانون هم پر دې بنا دی. (۱۳۳۸/۱۳۹۸هـ)

ځواب: و کرایه دار ته د کرایې د سرای حق د ملک هیڅ وخت نشي حاصلیدلای که څه هم کرایه دار تر یوې مودې پورې په دغه سرای کي هستوګنه وکړي. فقط

د وقف متولي که بېله کار کولو اجرت اخلي او د وقف مدرس ته پیشکي تنخواه ورکول

سوال: (۱۹۹) ... (الف) یو د وقف متولي د وقف کونکي ورمقرر کړی اجر مثل دربیمه خوري او هیڅ کار د وقف نه کوي دا اخیستل څنګه دي؟

(ب)متولي دا هم غواړي چې د شپږو میاشتو زیاتوب مقرر اجرت مثل پیشکي واخلي دا څنګه دی؟

(ج) او یو مولوي صاحب وایي چې د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کي یو کار کونکي پیشکي وغوښته مسئول عنه ورته وفرمایل چې ته دا ولیکه چې تر هغه وخته زه نه مرم دا روایت صحیح دی او کنه؟

(د) د وقف مدرسانو ته پیشکي تنخواه ورکول صحیح دي او کنه؟(۲۱۴۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: (الف) وقف کونکي که دا شرط لګولی وي چې متولي ته اجر مثل ورکوي نو څومره کار چې دی وکړي د هغه اجر مثل ورکول پکار دی بېله کار کولو د ده لپاره څه اخیستل صحیح نه دي لنډه دا چې د وقف کونکي د شرطونو خیال ساتل ضروري دی.

(ب) چې کله دی کار هم نه کوي نو د ده لپاره نه پیشکي اخیستل صحیح دي نه وروسته اخیستل صحیح دي.

(ج) د دې روایت هیڅ حال نه دی معلوم.

(د) صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم ۲۹ ذو الحجة ۱۳۳۴هـ

ومدرسانو ته د پیشکي تنخواه ورکولو د جواز دا مطلب دی چې متولي او مهتمم به پر خپله ذمه واري ورکوي که بالفرض هغه ضائع شوې نو ضمان پر متولي او مهتمم راځي او دغه جواز پر مصلحت بناء دی یعني که د مدرسې او نور مصلحت د دې تقاضا کوي نو دفعًا للضرر و الحرج پیشکي ورکول جائز دي او ذمه واریې ورکونکی دی

او کیدلای شي چي د دې جواز په روایت ثابت کړل شي و للقاضی ان یقرض مال الیتیم و الوقف.(۱) (رد المحتار ج۴ کتاب الوکالة) او د فقهي مشهوره مسئله ده(۲) اوس خو دا معروف شوي دي په دې وجه هم د جواز ګنجائش شته. فقط و الله اعلم

کتبه مفتی صاحب ۱۷ صفر ۱۳۳۵ھ

بېله کرایه په ریل ګاډی کي سفر کونکی به کرایه څنګه ادا کوي؟

سوال: (۲۰۰) زید یو سړی بېله کرایې سپور کړی بل ځای ته بوتلی دا کرایه که واجب الاداء ده نو څنګه یې ادا کړي؟ (۱۳۳۵/۷۴۲ھ)

ځواب: د دومره روپیو ټکټ دي پر کوم استیشن واخلي څري دي کړي کله چي دا معلومه وي چي د ټولي ریل ګاډی مالک یو دی مثلاً کومي ریل ګاډی چي د حکومت شوي دي په هغه علاقه کي چي چیري وغواړي ټکیس دي واخلي څري دي کړي.

د ریل ګاډی ملازم که بېله ټکټه په چا سفر وکړي نو...

سوال: (۲۰۱) د ریل ګاډی ملازم که بېله ټکټه په چا سفر وکړي نو سفر کونکی او په کونکي باندي به څومره ګناه وي؟ (۱۳۳۵/۹۲۰ھ)

ځواب: دواړه د شرعي په خلاف کار کونکي دي او ګنهکاران دي توبه دي اوباسي او سفر کونکي دي کرایه جمع کړي

د څورلس یا پنځلس کلن هلک نیم ټکیس اخیستل

سوال: (۲۰۲) د ریل ګاډی قانون دی چي هلکانو ته تر دوولسو کلونو نیم ټکټ ورکوي مګر ټکټ ورکونکی کله د عمر په اړه هیڅ پوښتنه ونه کړي صرف د هلک و قد او قامت ته وګوري نیم ټکټ ورکوي

---

(۱) رد المحتار ٤/٤٥٧ کتاب الوکالة آخر فصل: لا یعقد و کیل البیع و الشراء. ط رشیدیه

(۲) الشامي ۲/۳۷۹ کتاب النکاح باب المهر، مطلب: مسئلة دراهم النقش و الحمام و لفافة الکتاب و نحوها. ط رشیدیه

زما کشر ورور چي څورلسو پنځلسو کلونو دی لیکن د قد او قامت څخه د نهه لسو کلونو معلومیږي که ده ته ټکټ ورکونکی نیم ټکټ ورکړي نو اخیستونکی به ګنهګار وي او کنه؟ (۱۸۹۷/۱۳۳۸هـ)

ځواب: کله چي اصول دا دي چي تر دوولسو کلونو پوري هلک ته نیم ټکټ ورکوي او تر دوولسو کلونو زیات عمر والا باید پوره ټکټ واخلي نو کوم هلک چي څورلسو پنځلسو کلونو وي هغه باید پوره ټکټ واخلي او صفا ورته ویل پکار دي چي د څورلسو پنځلسو کلونو دی او ټکټ ورکونکی که څه پوښتنه ونه کړي او قد او قامت ته په کتلو هغه په نیم ټکټ ورکولو راضي هم وي بیا هم پوره ټکټ اخیستل پکار دی. فقط

د مسکین، رانده او نورو بېله کرایې سفر کول

سوال: (۲۰۳) په ریل ګاډۍ کي بېله کرایې سفر کول مخکي یا اوس شرعًا جائز دی او کنه؟ په تیره بیا د یو مسکین او رانده لپاره؟ (۱۳۳۹/۸۴۰هـ)

ځواب: بېله کرایې تلل جائز نه دي کوم حکم چي مخکي ؤ هغه اوس هم دی اما که په اصولو روند او نور مستثنی وي نو د هغه لپاره جائز دي. فقط

په هندوستان کي له کفارو څخه سود اخیستل او بېله کرایې په ریل کي سفر کول

سوال: (۲۰۴) نن صبا ځیني خلک بېله کرایه په ریل ګاډی کي سفر کوي او دلیل د علماء په فتوی نیسي ځیني خلک دا هم وایي چي د دیوبند د علماء فتوی ده چي دوی بېله کرایې په ریل کي سفر کولو او له کفارو څخه سود اخیستلو ته جائز فرمایي دا سي صحیح دي او کنه؟ بېله کرایې سفر کولو په وجه ځیني خرابی هم پیښیږي مثلاً بېله ټکټه که ونیول شي نو مسلمان مطعون کیږي دوه چنده کرایه به ورکوي یا به سزا ورکول کیږي د دغه شیانو په پام کي نیولو سره څه حکم پکار دی؟ (۱۳۴۳/۸۹۳هـ)

ځواب: په ریل ګاډۍ کي بېله کرایې سفر کولو د جواز هیڅ وجه معلومه نه شوه ځکه مونږ نه داسي کړي دي او نه د دې اجازه چاته کړې او د عدم جواز څخه ماسیوا کومي خارجي خرابی چي له دې څخه پیښیږي کومي چي تاسو لیکلي دي هغه هم د پام وړ دي په دغه وجو هم مسلمانانو ته داسي نه دي کول پکار او د سود په هکله هم له دې ځایه هر وخت د عدم جواز فتوی لیکل کیږي له کفارو څخه هم د سود اخیستلو

اجازه نشته او زمونږ د اکابرو همدا مسلک ؤ د حضرت مولانا شیخ الهند رحمه الله هم په دوارو همدا عمل ؤ. فقط

د طبیب او ډاکټر فیس مقررول او اخیستل

سوال: (۲۰۵) د طبیب او ډاکټر لپاره فیس مقررول او اخیستل جائز دي او کنه؟ (۲۳۵-۳۵ ۱۳۳۲ھ)

ځواب: د طبیب او ډاکټر لپاره فیس مقررول او اخیستل صحیح دي په شریعت کي هیڅ منع نشته لیکن د مسکینانو علاج مفت کول د انسانیت او مروت خبره ده او د ثواب کار دی فقط

د صلح په وجه د وکیل و وکالت ته ضرورت نه شو پاته نو و وکیل ته پیشکي ورکړي روپی بیرته اخیستل

سوال: (۲۰۶) یو سړي و وکیل ته پنځلس روپی پیشکي په یوه مدعی د وکالت کولو لپاره ورکړي دا یې ورته وویل چي د غه روپی زه ستا څخه نغدي نه اخلم وکالت درباندي کوم مقابل ډله چي کله خبره شوه نو د وکیل له ویري د موکل سره صلح وکړه له صلح کیدلو وروسته موکل پنځلس روپی له وکیل څخه بیرته غواړي وکیل د غاية الاوطار په لاندي عبارت دلیل نیسي وایي چي موکل په ما د وکالت کولو حق لري پنځلس روپی بیرته نشي اخیستلای و اعلم ان الاجر لا یلزم بالعقد فلا یجب تسلیمه به بل بتعجیله او شرطه فی الاجارة المنجزة (۱) آیا په دغه صورت کي موکل له وکیل څخه پنځلس روپی اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۱۱ھ)

ځواب: کله چي وکیل وکالت ونکړي د صلح کیدو په وجه ضرورت و وکالت ته پاته نه شو نو اوس د وکیل لپاره هغه روپی ورګرځول صحیح نه دي ځکه چي په در مختار او نورو کي راغلي دي چي د اجارې له منعقد یدو وروسته که داسي کوم عذر پیښ شي چي و اجارې ته ضرورت پاته نه شي نو هغه اجاره فسخیږي او چي کله اجاره پاته نه شوه نو د اخیستي اجرت بیرته ورکول لازم دي او د غاية الاوطار له عبارت څخه دا خبره نه راوزي چي د اجارې له فسخیدو وروسته د اجرت اینبودل بي د هغه کار له کولو صحیح دی. فقط

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵/۷ اوائل کتاب الاجارة. ط رشیدیه

کتاب الغصب

د غصب بیان

د قیامت په ورځ د غصب کونکي څه سزا ده؟

سوال: (۱) په دوو ورونو کي د یو ورور ځمکه سهوًا یا په دوکه سره د بل ورور په نوم ښاروالي کي ولیکل شوه ځمکي وال لومړی د ورور ګلوي په توګه ځمکه وغوښته بیا یې عارضه ورباندي وکړه مګر ناکام شو حکومت قبضه او نوم صحیح وبلل اوس د قیامت په ورځ به آیا د ځمکي و مالک ته له غصب کونکي څخه ځمکه ور اخیستل کیږي او کنه؟ د قیامت په ورځ به ځمکه د غصب کونکي ورپغاړه کیږي او کنه؟ د غصب کونکي نیکۍ به د حق العباد په توګه د ځمکي و مالک ته ور اخیستل کیږي او کنه؟ که د غصب کونکي سره نیکۍ نه وي نو د ځمکي د مالک ګناهونه به پر ده اچول کیږي او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۵۳۸هـ)

ځواب: ببشکه ځمکه د بل پر حق قبضه کونکي عند الله ماخوذ غاصب او ظالم دی له غصب کونکي څخه به د قیامت په ورځ پوښتنه کیږي او د حق العباد ګناه به پر ده وي او خومره عذاب چي د ځمکي قبضه کونکي لپاره وي د ده لپاره به هم وي دا مضمون په حدیث شریف کي راغلی دی چي که یوه لوېشت ځمکه هم څوک د چا قبضه کړي نو تر اوو ځمکو به د ده د غاړي طوق جوړیږي(۱) او د غصب کونکي ظالم نیکیاني به د

(۱) عن سعيد بن زيد رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من اخذ شبرًا من الارض ظلما فانه يطوقه يوم القيامة من سبع ارضين متفق عليه(مشكاة المصابيح ص: ۲۵٤ كتاب البيوع، باب الغصب و العارية الفصل الاول)=

ځمکې مالک ته ورکول کیږي او که په دې حساب پوره نه شو نو د ځمکې د مالک ګناهونه به پر غصب کوونکي اچول کیږي(۱) فقط

د خیرات کولو لپاره له مریدانو څخه په زور روپۍ اخیستل

سوال: (۲) زید له خپلو مریدانو څخه جبرًا روپۍ اخلي ان چې له یتیمانو څخه هم اخلي په دغه روپیو بیا خیرات کوي داسې جائز دي او کنه؟ (۱۴۳۹/۱۳۴۰ه)

ځواب: دا ښکاره ده چې د یتیمانو مال اخیستل او بېله طیب نفس د چا مال اخیستل حرام او ناجائز دی او داسې مال خوړل هم ناجائز دي او د داسې مال له خیراتولو څخه غوره دا دی چې له کومو خلکو څخه چې اخلي له هغوی څخه دې نه اخلي یا دې بیرته ورکړي په حدیث شریف کې راغلي دي الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه. (۲) فقط

=و عن یعلی بن مرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ایما رجل ظلم شبرًا من الارض کلفه الله عز و جل ان یحفره حتی یبلغ آخر سبع ارضین ثم یطوقه الی یوم القیامة حتی یقضی بین الناس. رواه احمد(مشکاة المصابیح ص:۲۵۶ کتاب البیوع باب الغصب و العاریة. الفصل الثالث)

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من کانت له مظلمة لاخیه من عرضه او شئ فلیتحلله منه الیوم قبل ان لا یکون دینار و لا درهم ان کان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته و ان لم یکن له حسنات اخذ من سیئات صاحبه فحمل علیه رواه البخاری.

و عنه رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: اتدرون ما المفلس؟ قالوا: المفلس فینا من لا درهم له و لا متاع. فقال: ان المفلس من امتی من یاتی یوم القیامة بصلاة و صیام و زکاة و یاتی قد شتم هذا و قذف هذا، اکل مال هذا، و سفک دم هذا و ضرب هذا، فیعطی هذا من حسناته و هذا من حسناته فان فنیت حسناته قبل ان یقضی ما علیه اخذ من خطایاهم فطرحت علیه ثم طرح فی النار. رواه مسلم (مشکاة المصابیح ص:۴۳۵ کتاب الآداب باب الظلم الفصل الاول)

(۲) عن ابی حرة الرقاشي عن عمه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه الحدیث(مشکاة المصابیح ص:۲۵۵ کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة الفصل الثانی)

له غصب کونکي څخه خپله ځمکه په هره طریقه چي وي اخیستل صحیح دي

سوال: (۳) یو سړي د چا ځمکه غصب کړه که له غصب کونکي یا د غصب کونکي له اولادو څخه هغه څوک یا د هغه اولاد یا بل څوک څه برخه د ځمکي په یو طریقه واخلي نو جائز ده او کنه؟ او دغه سړي ته یا د ده اولاد ته یا بل چاته چا چي مالک ته ور واخیستی غصب کونکی ویل کیږي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۷۵۴هـ)

ځواب: خپل حق په هر ډول چي وي چي راشي صحیح دی(۱) لهذا دی یا د ده اولاد یا بل سړی چا چي حق ور واخیستی غصب کونکی نه دی.

غصب کړی شی که معیوب شي نو...

سوال: (۴) زید له عمر څخه ټوپک په زور واخیستی تر شپږو اووو کلونو پوري ورسره ؤ په دغه موده کي یو څو د عمر دا تاوان وشو چي د دا ډول ټوپکانو قیمت ولوېدی دوهم تاوان دا وشو چي د زید د خیال نه ساتلو په وجه ټوپک زنګ وکړو کډي پکي جوړ شو او بد رنګه شو تاجران یې د دغه نقصان په وجه شوق نه کوي نیم قیمت یې تقریبًا د زنګ په وجه کم شو اوس عمر ته دغه عین مغصوب بیرته ورکړی که عمر د قیمت اخیستلو اختیار لري؟ او قیمت به د غصب د ورځي ورکوي که د ورکولو د ورځي؟ (۱۳۴۳/۸۵۹هـ)

ځواب: ښکاره ده چي دا فاحش نقصان دی لهذا په دي کي مالک ته اختیار دی چي ټوپک و غصب کونکي ته ورکړي او ورڅخه د غصب د ورځي قیمت واخلي یا ټوپک ځني واخلي او څومره چي د قیمت نقصان شوی دی د هغه ضمان ځني واخلي په در مختار کي راغلي دي: فان ذبح شاة غیره... طرحها المالک علیه و اخذ قیمتها او اخذها و ضمنه نقصانها و کذا الحکم لو قطع یدها الخ او خرق ثوبا خرقًا فاحشا و هو مافوت بعض العین و بعض نفعه الخ قوله: (او خرق ثوبًا الخ) معطوف علی ما قبله: ای

---

(۱) فی الشامي: ان عدم جواز الاخذ من خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق و الفتوی الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ای مال کان. لا سیما فی دیارنا لمداومتهم للعقوق (رد المحتار ۲۱۹/۳ کتاب السرقة مطلب: یعذر بالعمل بمذهب لغیر عند الضرورة. ط رشیدیه)

للمالک ایضا ان یطرحه علیه و یضمنه القیمة او یمسکه و یضمنه النقصان الخ(۱) (شامي) و في الدر المختار: و تجب القیمة في القیمي یوم غصبه اجماعا الخ(۲) فقط

په زیاته زمانه تېرېدو د چا حق نه ساقطیږي

سوال: (۵) که یو سړی مړ شي پنځه زامن او څه ځمکه پاته شي په دغه پنځو زامنو کي یو د ټولو حق خوري او په خوراک خوراک څلوېښت کاله پر تېر شي نو د نورو دعوی ته اعتبار شته او که نه؟ (۱۰۰۸/۱۳۳۵ھ)

ځواب: تر څلوېښت پنځوس کلونو د بل حق خوړونکی د دې مالک نه ګرځي بلکه تر څومره زیاتو ورځو پوري چي ورباندي قبضه وي هغومره زیات ګنهکاریږي او د فقه په کتابونو کي څرګندونه راغلي ده: الحق لا یسقط بتقادم الزمان(۳) یعني په زیاته زمانه تیرېدو د چا حق نه ساقطیږي کذا في الشامي څلورم او پنځم ټوک.

بې اجازې د کافر او مشرک مال خوړل حرام او غصب دی

سوال: (۲) ... (الف) که څوک د کافر مال وخوري د هغه څه سزا ده؟

(ب) که څوک د کافر او مشرک مال وخوري نو د هغه څه سزا ده؟ (۱۹۸۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: (الف) د بل مال د مالک بې اجازته خوړل حرام. غصب او کبیره ګناه ده.

(ب) داسي سړی غصب کونکی او ظالم دی کومه سزا چي د غصب کونکیو ده هم هغه د ده ده. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۱۳۱/۵ کتاب الغصب مطلب: شری دارا و سکنها فظهرت لوقف او یتیم وجب الاجر و هو المعتمد. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۱۲۸/۵ کتاب الغصب. مطلب في رد المغصوب و فیما لو ابی المالک قبوله. ط رشیدیه

(۳) الشامي کتاب القضاء فصل في الحبس مطلب: هل یبقی النهي بعد موت السلطان و فیه ایضا: فقد قالوا ان الحق لا یسقط بالتقادم کما في قضاء الاشباه (رد المحتار ۵۲٤/۵ کتاب الخنثی مسائل شتی. ط رشیدیه)

د یتیمانو پر مال قبضه کول سخت ظلم او معصیت دی

سوال: (۷) د بکر او عمر پلار وفات شو ښه ډیر جائیداد، نغدي، مال او تجارتي سامان یې پاته شو د بکر او عمر د کم عمري په وجه د دوی یو نژدې خپل زید پر دغه جائیداد قبضه وکړه اوس چې کله بکر او عمر بالغان شول له زید څخه حسابونه او روپۍ غواړي نو دی له ورکولو څخه انکار کوي نو د ده لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۹۸۸ھ)

ځواب: لومړی خو بې د دوی له اجازې په مال کې تصرف کول او ورباندې قبضه کول حرام او باطل دی په تېره بیا د یتیمانو پر مال باندې ظلمًا قبضه کول او بیا دوی ته نه ورکول سره د دوی د غوښتنې سخت ظلم او معصیت دی قال الله تعالی: [ان الـذین یـاکلون اموال الیتمی ظلما انما یاکلون فی بطونهم نارًا و سیصـلون سـعیراً] (سورة نساء آیت: ۱۰) او په حدیث شریف کې راغلي دي: الا لا تظلموا! الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه(الحدیث)(۱)

له مشترک مال څخه څه مال پټ جلا ایښودل

سوال: (۸) زید او عمر دوه ورونه دي زید په لږو روپیو کار شروع کړی چې کله دکان په ترقي شو نو عمر ورته وویل چې زه هم نیمه ورځ دکان درسره کوم نو ده هم کار شروع کړی چې کله دکان ښه په ترقي شو نو عمر کارخانه ماته کړه مال یې په دغه دکان کې ولګاوی د زید خیال شو چې د ورور خرچ مې د عیال د زیاتوب په وجه زیات دی او زما خرچ د مجرد والي په وجه کم دی په دې وجه له مشترک مال څخه څه روپۍ پټې جلا ایښودلې اوس زید غواړي چې له عمر څخه بېل شي کورنۍ دا فیصله وکړه چې عمر به په روپیو کې لس آنې ځکه چې د ده زامنو زیات کار کړی دی او زید به په روپیو کې شپږ انې اخلي ځکه تقسیم همدا ډول وشو مګر د تقسیم پر مهال زید چې کوم مال پټ کړی ؤ هغه یې ښکاره نکړی د بدنامي په وجه که زید د نیمایه حقدار ؤ نو که هغه پټ کړی مال تر نیمایه زیات نه وي نو د زید لپاره راګرځول صحیح دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۴۲۸ھ)

---

(۱) مشکاة المصابیح ص: ۲۵۵ کتاب البیوع باب الغصب والعاریة الفصل الثانی.

ځواب: څه ډول چي کورنۍ د زید او عمر فیصله وروکړه چي شپږ آني د زید دي او لس آني د عمر دي داغه ډول معامله وشوه نو زید چي کوم مال پټ کړی دی د هغه راګرځول د ده لپاره صحیح نه دي هغه دي ښکاره کړي او د عمر برخه دي ځني ورکړي او د دنیا د پیغور او بدنامۍ خیال دي نه ساتي د اخروي مؤاخذې او حق العباد څخه ځان ساتنه ضروري ده. فقط

مستعار زیور خرڅول د غصب په حکم دي

سوال: (۹) یو سړي له چا څخه ګېڼه د څو ورځو لپاره واخیسته بیا یې دغه زیور خرڅ کړل په دغه صورت کي څه حکم دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۴۰ ﻫ)

ځواب: له امانت څخه انکار کول او دغه زیور خرڅول دا په حکم کي د غصب دي په دغه صورت کي پر غصب کونکي ضمان لازم دی او په در مختار کي راغلي دي چي د مثلي شئ ضمان په مثل لازم دی او په قیمتي کي قیمت واجب دی(۱) او په شامي کي راغلي دي: فلو غصب دراهم او دنانیر فطالبه المالک فی بلدة اخری علیه تسلیمها و لیس للمالک طلب القیمة الخ(۲) و فیه تفصیل آخر. فقط

د نکاح تړلو اجرت له نکاح تړونکي څخه اخیستل ځرګند ظلم دی

سوال: (۱۰) زید د خپلي نکاح تړلو لپاره د جامع مسجد مولوي صاحب راوستی سل روپۍ یې اجرت ورکړی خو جامع مسجد د دوی په محله کي نه دی ځکه محلي والو او د خپل مسجد امام سل روپۍ چي زید د جامع مسجد و امام ته ورکړي وي ځني واخیستي دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۱۵۷ ﻫ)

ځواب: د زید د محلي والو او د مسجد د امام دا فعل ناجائز او ځرګند ظلم دی هغه سل روپۍ چي زید د جامع مسجد و امام ته په خوښي ورکړي وې د محلي والو او د زید د محلي د مسجد د امام لپاره د جامع مسجد له امام څخه اخیستل غصب

---

(۱) و یجب رد عین المغصوب... فی مکان غصبه... او یجب رد مثله ان هلک و هو مثلي و ان قطع المثل... و تجب القیمة فی القیمی یوم غصبه اجماعًا (الدر المختار مع الشامي ۱۲۸/۵ کتاب الغصب. مطلب فی رد المغصوب و فیما لو ابی المالک قبوله. ط رشیدیه)

(۲) حاشیة ابن عابدین للعلامة محمد امین الشامي ۱۲۸/۵ کتاب الغصب مطلب فی رد المغصوب و فیما لو ابی المالک قبوله. ط رشیدیه

او ناجائز دي باید ده ته بیرته ورکړي. فقط

د چا ځمکه جبرًا او مدرسې ته ورکډول

سوال: (۱۱) د چا ځمکه جبرًا و مدرسه ته ورکډول څنګه دي؟ او یو سړي ته د یوې ځمکي زیات قیمت ورکول و بل ته د هغو مره ځمکي کم قیمت ورکول څنګه دي؟

(۲۰۵ ۱۳۳۵هـ)

ځواب: جبرًا بې د مالک له رضا د چا ځمکه و مدرسې ته ورکډول صحیح نه دي نور نو که مالک راضي وي نو کوم قیمت چي دی ورکړي صحیح دی که څه هم بل ته زیاتې روپۍ ورکړي وي دا کار په رضا او خوښه پوري اړه لري قال الله تعالیٰ: [لا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة عن تراضی منکم] (سورة نساء، ایت: ۲۹) فقط

په دوکه د چا ځمکه اخیستل ظلم او غصب دی

سوال: (۱۲) زید د خپلي لور نکاح د بکر سره وکړه زید خپله ځمکه و لور ته ورکول غواړي له انجلۍ څخه سیوا نور کوم اولاد د زید نشته لیکن دی له وارثانو څخه ویریږي د انجلۍ د خاوند بکر ورور عمر و زید ته وویل چي ته داسي وکړه چي ته د اوو سوو روپیو استامپ فرضي زما په نوم ولیکه زه به د دغه قرض په عوض ستا ځمکه واخلم ستا د لور په نوم به په حکومت کي کړم ځکه زید همداسي وکړو تر اوسه نه عمر ځمکه د زید د لور په نوم کړې ده نه زید ته بیرته ورکوي نو عمر غاصب دی او کنه؟

(۱۸۸۹/۱۳۳۹هـ)

ځواب: په دغه صورت کي عمر ظالم او غاصب دی.

د موروثي ځمکي تعریف او حکم

سوال: (۱۳) موروثي ځمکه څه ته وایي او کومه حرامه ده کومه حلاله؟

(۲۰۳۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: موروثي ځمکه هغه ده چي بزګر یې په زور او جبر پخپله قبضه کي وساتي نو په داسي طریقه ځمکه قبضه کول حرام دي. (د دې تفصیل مخته راروان دی)

د قرآن او حدیث په رڼا کي د موروثي بزګرۍ حرام والی

سوال: (۱۴) د موروثي بزګرۍ حرام والی د قرآن او حدیثو په رڼا کي راته ولیکئ. (۲۸۰/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د موروثي بزګرۍ مطلب دا وي چي بزګر د مالک د خوښي پر خلاف د ده پر ځمکه قبضه اچولې وي هغه يې ځني غواړي خو دی يې نه ورپرېږدي دا سي قبضه د غصب قبضه ده او د بل له ځمکي څخه په ناجائز طریقه استفاده کول دي د دې حرمت په قرآن او حدیثو ثابت دی قال الله تعالیٰ: [و لاتاکلوا اموالکم بینکم بالباطل] (سورة بقره. آیت: ۱۸۸) او په حدیث شریف کي راغلي دي: الا لا تظلموا الا لا یحل مال امریء الا بطیب نفس منه. الحدیث(۱)

د موروثي ځمکي دوه صورتونه او د هغه احکام

سوال: (۱۵) له موروثي ځمکي څخه استفاده کول څنګه دي؟ چي دوه صورتونه دي:
(۱) ځیني پخپله د ځمکي مالک موروثي کړځولی دی.
(۲) او ځیني د قانون په وجه موروثي دي. (۲۰۵۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د مالک د اجازي او د بزګر د رضا په صورت د بزګر په هکله نفع جائز ده او د مالک د نارضا په صورت پر ځمکي قبضه ساتل ناجائز ده او له داسي ځمکي څخه استفاده کول ناجائز دی او په در مختار کي راغلي دي چي که غصب کونکی په مغصوبه ځمکه کي زراعت وکړي نو څه رنګه چي عرف وي د هغه سره سم به د زراعت غله د نصف یا ثلث یا نورو په حساب تقسیمیږي او که کوم عرف نه وي نو غله د زارع ده او د ځمکي چي څومره اجر مثل دی هغه به مالک ته ورکوي. (۲)

(۱) مشکاة المصابیح ص:۲۵۵ کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی

(۲) و لو زرعها یعتبر العرف: فان اقتسموا الغلة انصافا او ارباعا اعتبر و الا فالخارج للزارع و علیه اجر مثل الارض(الدر المختار مع الشامي ۱۳۷/۵ کتاب الغصب، مطلب: زرع فی ارض الغیر یعتبر عرف القریة. ط رشیدیه)

له موروثي ځمکي څخه استفاده کول څنګه دي؟

سوال: (۱۲) څوک چي د بل ځمکه تر دوولسو کلونو وکري هغه موروثي ګرځي بیا ځمکه نه پریږدي نه په کرایه کي زیاتوب کوي په داسي صورت کي له موروثي ځمکي څخه استفاده کول شرعًا څنګه دي؟(۱۳۳۸/۴۹۲هـ)

ځواب: دا قبضه د بزګر غاصبانه ده د ده لپاره له داسي موروثي ځمکي څخه د مالک بې اجازته استفاده کول صحیح نه دي. (۱) فقط

بزګر موروثي ځمکه خرڅولای شي او کنه؟

سوال: (۱۷) د زید ځمکه د خالد سره موروثي ده بزګر دغه موروثي ځمکه خرڅولای شي او کنه؟(۱۳۳۹/۲۹۷۲هـ)

ځواب: د ځمکي د مالک بې اجازته د بزګر لپاره داسي ځمکه خرڅول جائز نه دي او هیڅ تصرف پکي کول صحیح نه دی. (۲)

د هندو موروثي ځمکه نه پرېښودل او پکي تصرف کول

سوال: (۱۸) د یو سړي سره د یو هندو ځمکه موروثي ده و بزګر ته چي کله وویل شي چي دغه ځمکه پرېږده چي د ځمکي موروثیت شرعًا منع دی نو په جواب کي وایي چي د هندو ځمکه که موروثي شي نو د هغه نه پرېښودل څه پروا نلري دا خبره د ده څنګه ده؟ موروثي ځمکه که د هندو وي او که د مسلمان؟ که مالک د ځمکي غواړي نو ورپرېښودل پکار دي او کنه؟ د کوم چا قبضه چي پر کومه ځمکه د موروثیت په توګه وي له هغه څخه که بل څوک په کرایه واخلي کنبت پکي کولای شي او کنه؟ علی هذا

---

(۱) لا یجوز التصرف فی مال غیره بلا اذنه و لا ولایته الخ(الدر مع الرد ۵/۱٤٠ کتاب الغصب. مطلب فیما یجوز من التصرف بمال الغیر بدون اذن صریح. ط رشیدیه)

(۲) مخکنی حواله

موروثي سراى كه اوسيدونكي خرخوي يا يې په كرايه وركوي نو هغه ته دا حق شته او كنه؟(۷۲۸/۱۳۳۵هـ)

ځواب: موروثيت شرعًا هيڅ شى نه دى او ځمكه د هندو وي او كه د مسلمان كوم وخت چي مالك وغواړي وركول يكار دي بزګر په زور راګرځولو هيڅ حق نلري او د چا قبضه چي پر يو ځمكه د موروثيت په زور وي نو داسي قبضه غصب دى داسي ځمكه په كرايه وركول او داسي ځمكه په كرايه اخيستل صحيح نه دي او داغه راز په يو سراى كي د اوسيدونكي لپاره د موروثيت په وجه دا حق نشته چي دى دا مكان خرخ كړي يا يې په كرايه وركړي بلكه بې د مالک له خوښي د ده لپاره پخپله پكي اوسيدل صحيح نه دي. فقط

سوال: (۱۹) يو سړى بيان كوي چي د هندوانو موروثي ځمكي راګرځول جائز دي او د مسلمان موروثي ځمكي راګرځول جائز نه دي دا صحيح دي او كنه؟(۵۵۲/۱۳۳۹هـ)

ځواب: دا غلط دى د هيچا موروثي ځمكه بې د مالک له رضا راګرځول او پكي كښت كول صحيح نه دى دا په حقيقت كي غصب دى.

موروثي ځمكه په كرايه وركول

سوال: (۲۰) موروثي ځمكه جائز ده او كنه؟ كه بزګر موروثي ځمكه و بل چاته په كرايه وركړي نو دا خو به سود نه وي؟ د كرايې صورت داسي وي چي د موروثي بزګر قرض مالدار سړى په دې شرط ادا كوي چي مثلاً څلور كاله به د غه ځمكه زه كرم په هم هغه كرايه كومه چي موروثي بزګر وركوله داسي جائز دي او كنه؟(۱۵۵/۱۳۳۹هـ)

ځواب: دا ټول ناجائز دي بې د مالک له اجازې چي كوم تصرف وشي هغه ناجائز دى. فقط

په شريكانو كي يو شريک موروثي ځمكه پريږدي نو څنګه پريږدي؟

سوال: (۲۱) په يوه موروثي ځمكه څلور شريكان دي په دوى كي يو د خداى له ويري د غه ځمكه

پر ښـه دل غـوا ړي لـیکن کـه دی پر یـږدي هغـه و مالـک تـه نـه رسـي بلکـه دا نـوري دري شریکان به د ده پر برخه قبضه وکړي نو دا سړی څه وکړي؟ او څه ډول له دغه حق العبد څخه ځان بچ کړي؟ (۲۹۷/۱۳۳۹هـ)

ځواب: دی دي استعفی ورکړي خپله برخه دي پرېږدي د ده غاړي خلاصیږي.

د موروثي ځمکي د مالیې نقصان وصولولو لپاره دروغجنه دعوی کول او په دعوی کي د سود روپۍ ورګډول

سوال: (۲۲) یو مسلمان موروثي بزګر د شپږویشتو روپیو نقصان د کاله ورکوي زیاتوب نه کوي که باقاعده زیاتوب ورباندي کوم نو په محکمه ډیر کم زیاتوب کیږي ما پر دغه بزګر سره د هغو روپیو چي راکړي دي خو سند یې نشته د سود سره مي باندي عارضه وکړه اوس د اصلو روپیو او د محکمې له مصر څخه سیوا چي کومي روپۍ زیاتوب ماته پاته شوې هغه ماته جائز دي او کنه؟ او دا ښکاره ده چي بزګر له ډیرو کلونو څخه نقصان راکوي. (۸۱۸/۱۳۴۱هـ)

ځواب: دروغجنه دعوی او د سود روپۍ په دعوی کي ورګډول شرعًا جائز نه ؤ او کومي روپۍ چي زیاتوب راغلې هغه و بزګر ته بیرته ورکول پکار دي احتیاط په همدي کي دی که څه هم دا روایت هم شته چي د حق خاوند پخپل حق کي وصولي کړي روپۍ اینبودلای شي(۱) مګر چونکه دلته زیاتوب مالیه بزګر تسلیم نه کړه نو پر ده کومي متعیني روپۍ رانغلې. فقط

د موروثي کښت آمدني په مسجد، مدرسه او مسکینانو مصرفول صحیح نه دي

سوال: (۲۳) د موروثي کښت آمدني په مسجد، مدرسه او مسکینانو مصرفول څنګه دي؟ (۱۲۵۰/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په مسجد او مدرسه باندي د داسي مال مصرفول صحیح نه دي.

---

(۱) و فی الشامي: ان عدم جواز الاخذ من خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق و الفتوی الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ای مال کان لاسیما فی دیارنا لمداومتهم للعقوق(رد المحتار ۲۱۹/۳ کتاب السرقة، مطلب: یعذر بالعمل بمذهب الغیر عند الضرورة. ط رشیدیه)

د موروثي ځمکي کرایه که کمه وي نو مالک په کومه طریقه پوره کرایه اخیستلای شي او کنه؟

سوال: (۲۴) د کومي ځمکي کرایه چي بزګر دري روپۍ په یو جریب کي ورکوي د همدا رنګه ځمکو موروثي بزګران څلوراني په یو جریب کي کرایه ورکوي د حکومتي قانون په وجه د ځمکو مالکان مجبور دي که په کومه بله طریقه مالکان له موروثي بزګرانو څخه خپل حق د کرایي پوره کړي نو شرعًا جائز دی او کنه؟ (۱۷۵۰/۱۳۳۷ھ)

ځواب: کله چي د دریو روپیو کرایه د ده سره مقرره شوې نه ده نو د دې د اخیستلو حق نشته اما کوشش د دې وکړي چي دی یا ځمکه پرېږدي یا کرایه زیاته کړي د ده له منلو وروسته به پر ده د کرایي زیاتول لازمیږي.

د موروثي ځمکي په آمدني حج کول یا زکاة ورکول

سوال: (۲۵) کومي موروثي ځمکي چي کښت پکي کیږي او کرایه له هغه وخته ورکول کیږي او د ځمکي مالک تر اوسه له بزګر څخه د خپلي ځمکي غوښتنه نه وي کړې د داسي موروثي ځمکي په آمدني حج کول یا زکوة ورکول مناسب دی او کنه؟ او د بزګر لپاره د غه آمدني حلاله ده او کنه؟ (۱۷۲۰/۱۳۳۷ھ)

ځواب: د موروثیت حق په شریعت کي هیڅ شی نه دی نو بزګر دي په دې کي د خپل موروثیت کوم حق نه بولي او کوم وخت چي د ځمکي مالک ځمکه ځني اخیستل وغواړي ور دي کړي او کله چي د ځمکي مالک دغه ځمکه نه ځني غواړي د بزګر لپاره د دې آمدني اخیستل او خوړل صحیح دي او حج او نور په کول جائز دي او تر کال تیریدو وروسته ورباندي زکوة واجبیږي ځمکه چي کله د مالک په خوښه او رضا ده ځمکه ورکړله او کرایه هم ورکوي نو د آمدنۍ په حلال والي کي هیڅ شک نشته صرف له دې خبري څخه به پام کوي چي خپل موروثي حق به نه بولي او کوم وخت چي د ځمکي مالک وغواړي هغه وخت به ورکوي هیڅ عذر به نه ورته کوي. فقط

د موروثي ځمکي حاصل خوړونکي سره د خپلوي اړيکي ساتل

سوال: (۲۶) د موروثي ځمکي د پيداوار خوړل څنګه دي؟ او کوم خلک چي د پلار او نيکه له وخته موروثي خوري د داسي خلکو سره د قرابت او خپلوي اړيکي ساتل په شريعت کي جائز دي او که؟ (۲۹/۳۰۲-۱۳۳۰هـ)

ځواب: خپلوي او قرابت مه قطع کوي مسئله ورته بيان کړي چي جبرًا بې د مالک له خوښي موروثي مه خوري. فقط

د بتانو په نوم خوشي کړی حيوان خرڅول جائز نه دي

سوال: (۲۷) جانور آں کہ کفار بنام بتان رہا می کنند، دیگر اشخاص آں راقبضہ وفروخت کردن جائز است یا نہ؟ (۲۹/۱۱۰۰-۱۳۳۰هـ)

ځواب: دریں کہ جانور آں کہ کفار بنام بتان رہا می کنند، در ملک اوشان داخل اند، و دیگر اشخاص او راقبضہ کردن وفروخت کردن بلا اجازت مالکان جائز نیست. فقط

سوال: (۲۷) ترجمه: کوم حيوان چي کافران د بتانو په نوم خوشي کړي نور خلک وربانـدي قبضه وکړي خرڅوي يې دا جائز دي او کنه؟

ځواب: په مذکوره صورت کي چي کوم حيوانان د کفارو په نوم پرېږدي د دوی ملک دی د نورو کسانو ورباندي قبضه کول او خرڅول د مالکانو بې اجازته جائز نه دی. فقط

کتاب الشفعة

د شفعي بيان

د شفعي د ثبوت دلائل

سوال: (۱) د شفعي د قانون ترميم د مجلس شورى و مختـه دى او ځيني هندو ممبران له مسلمانانو څخه حق د شفعي اخيستل غواړي نه صرف دا چي د هندو په مقابل به و مسلمان ته حق د شفعي نه وي بلكه دوى دا هم غواړي چي د مسلمان په مقابل هم و مسلمان ته حق د شفعي نه وي او يو صاحب چي د علماء كرامو خدمت يې هم پخپله ذمه اخيستى دى وايي چي په قطعي نص هم شفعه ثابته نه ده زه به ستاسو ډير مننه و يونكى يم كه تاسو مي د هغو حديثو او آيتونو په حوالو خبر كړئ د كومو له مخه چي شريعت و شفعي ته جائز وايي. فقط (۱۳۴۱/۱۵۳هـ)

ځواب: د شفعي د ثبوت په هكله ډير صحيح حديثونه راغلي دي او پر دې باندي د امت اجماع ده او د حق په خلاف باندي د امت محمديه اجماع نشي كيدلاى كما في الحديث: لن تجتمع امتى على الضلالة (۱) يعني زما امت پر ګمراهي نشي جمع كيدلاى ځكه اجماع شرعي حجت بلل شوي ده.

او د شفعي د ثبوت لپاره د بخاري شريفي دا حديث دليل دى: عن جابر بن عبد الله رضى الله

(۱) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لن تجتمع امتى على الضلالة ابدا فعليكم بالجماعة فان يد الله على الجماعة (المعجم الكبير للطبرانى ۳۴۲/۱۲ رقم الحديث: ۱۳۶۲۳ المطبوعة: دار الاحياء التراث العربى)

عنهما قال: قضى النبي صلى الله عليه وسلم بالشفعة في كل ما لم يقسم الحديث رواه البخاري(۱)
ترجمه دا ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د شریک لپاره د شفعي حکم وکړی به هر غیر منقسم شي کي په دغه حدیث کي د شریک لپاره شفعه ثابته ده او بل حدیث د مسلم شریف د همدې په معنی دی قضی رسول الله صلی الله علیه وسلم بالشفعة في كل شركة لم تقسم الحديث(۲)

او د جار د شفعي د ثبوت لپاره د بخاري شریفي دا حدیث صریح حجت دی الجار احق بسقبه (ای بقربه) (۳) یعني همسایه د نژدې والي په وجه زیات مستحق دی د رانیولو یعني ده ته حق د شفعي حاصل دی د قرب په سبب او په ځیني روایتونو کي راغلي دي: الجار احق بشفعته الحديث رواه احمد و الترمذي و ابو داؤد و ابن ماجة و الدارمي(۴) لنډه دا چي د شفعي د ثبوت لپاره ډېر صحیح حدیثونه راغلي دي د دې په خلاف کول او دغه حق باطلول صریح مخالفت دی د شرعي حکم او مداخلت دی په مذهب کي کما لا يخفى على الماهر. فقط

بیله شرکته او جواره څوک شفیع نشي کیدلای

سوال: (۲) یو سړی چي نور الله خان نومیږي خپله ځمکه پر حافظ محمد افضل خان خرڅه کړه محمود خان وربانديي شفعه کول غواړي حالانکه شفیع نه حق اشتراک فی نفس المبیع لري او نه اشتراک فی حق المبیع لري او نه حق د جوار ورته حاصل دی نو شرعًا محمود خان د شفعي حق

---

(۱) صحيح البخاري ۱/۳۰۰ كتاب السلم باب الشفعة فيما لم يقسم فاذا وقعت الحدود فلا شفعة.

(۲) عن جابر رضي الله عنه قال: قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم الحديث (الصحيح لمسلم ۲/۳۲ كتاب المساقاة و المزارعة. باب الشفعة)

(۳) عن عمرو بن الشريد قال: وقفت على سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فجاء المسور بن مخرمة فوضع يده على احدى منكبي... اني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الجار احق بسقبه الحديث(صحيح البخاري ۱/۳۰۰ كتاب السلم باب الشفعة فيما لم يقسم فاذا وقعت الحدود فلا شفعة)

(۴) عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الجار احق بشفعته و ينتظر بها و ان كان غائبا اذا كان طريقهما واحدًا رواه احمد و الترمذي و ابو داؤد و ابن ماجة و الدارمي(مشكاة المصابيح ص. ۲۵۷ كتاب البيوع باب الشفعة الفصل الثاني)

لري او کنه؟ او له مشتري څخه اخيستلای شي او کنه؟

ځواب: کله چي محمود خان هيڅ حق شرکت في نفس المبيع و في حق المبيع او د جوار نلري نو شرعاً په هيڅ ډول محمود خان د دغه ځمکو د شفعي حق نلري او له مشتري څخه د اخيستلو حق نلري هکذا في عامة کتب الفقه (۱)

د چا نوم چي پټواري په غلطي سره په حکومتي کاغذونو کي وليکي هغه د شفعي دعوی نشي کولای

سوال: (۳) د امام علي خان، محمد علي خان، نذير احمد، لطيف احمد، عمدة النساء او غفور النساء د صحراء په يو حق کي نومونه په حکومتي کاغذونو کي ليکل شوي دي او په حقيقت کي د امام علي خان او محمد علي خان کومه برخه شرعاً نشته بلکه پټواري په غلطي سره د عمدة النساء او غفور النساء په برخو کي د امام علي خان او محمد علي خان نومونه ور اچولي دي لهذا که نذير احمد خپله برخه خرڅه کړي نو امام علي خان چي په حقيقت کي کومه شرعي برخه نه درلودله دی د نذير احمد پر مشتري د شفعي د دعوی حق لري او کنه؟ (۱۹۷۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: کله چي په حقيقت کي امام علي خان په دغه ځمکه کي شريک نه دی نو صرف د ده د نوم په ليکلو دی سهيم او شريک نه ګرځي په دې وجه شرعاً دی شفيع نه دی او د شريک في المبيع په وجه دعوی د شفعي نشي کولای.

شفعه په شرکت يا جوار ثابتيږي او د طلب مواثبت او نورو په نه کولو ساقطيږي

سوال: (۴) شفعه په کوم شي ثابتيږي او په کوم شي باطليږي؟ که کوم شريک

---

(۱) الشفعة واجبة للخليط في نفس المبيع. ثم للخليط في حق المبيع كالشرب و الطريق ثم للجار افـاد هـذا اللفظ ثبوت حق الشفعة لكل واحد من هؤلاء و افاد الترتيب (الهداية ۳۸۹/۳ اوائل كتاب الشفعة)

له بل شریک څخه مکان رانیسي نو نور شریکان حق د شفعي لري او کنه؟ او خپل رشته دار حق د شفعي لري او کنه؟ (۱۳۳۵/۴۵۷هـ)

ځواب: شفعه په شرکت یا جوار ثابتیږي که دا نه وي نو شفعه هم نه ثابتیږي او د طلب مواثبت او نورو د ترک په وجه هم حق د شفعه ساقطیږي(۱) او رشته داري د شفعي د ثبوت یا سقوط سره هیڅ تړون نلري که شریک له شریک څخه مکان یا ځمکه رانیو له نو نور شریکان حق د شفعي لري.

د شفعي په طلب کي ځنډ کول شفعه ساقطوي

سوال: (۵) زید او عمر په یو مکان شریکان دي. عمر د خپل ضرورت په وجه خپله برخه خرڅوي تر څه مودې پوري لوړي د زید سره کوم چي شفیع دی د بیع او شراء خبري کیدي کله چي د عمر د خوښي سره سم د زید شفیع سره کومه معامله ونه وشوه نو په څو وسیلو باندي نور خلک د رانیولو لپاره متوجه کړو د نومبر د میاشتي په اوومه کال ۱۹۲۷ د یو بل چا سره ایجاب او قبول وشو مبیع بې وروسپارله او د بیانې په توګه د څو روپیو رسید ولیکی د نورو وعده یې ورسره وکړه چي کله کاغذ لیکو نو دربه کړم بائع د نومبر په نهمه د خبرتیا په وسیله شفیع خبر کړی مګر شفیع ته د خبرتیا کاغذ د نومبر په دیارلسمه ورسیدی چي د خبرتیا د کاغذ جواب شفیع هم د خبرتیا د کاغذ په وسیله د نومبر په شپاړلسمه ورکړی شفیع داسي ورته لیکي:

(۱) د دې معاملې صحیح علم ماته اوس وشو قیمت او نور.

(۲) وګورئ بیا شفیع د نومبر په شپاړلسمه کال ۱۹۲۷ د مشتري په نوم یو خط ولیږی چي پکي طلب د وعدې د مبیع د واپسول او طلب د هستوګني په حال د اشتراک کي پوښتنه کوي

(۳) وګورئ بیا د نومبر په شپاړلسمه کال ۱۹۲۷ شفیع یو بل خط د بائع په نوم ولیکی چي پکي شفیع شکایتونه بیان کړو طلب د حق او طلب د مهلت یې وکړی د ۱۳ او ۱۲ تاریخونو په منځ کي شفیع کومه خبره د چا سره نه ده کړې نه د بائع سره نه د مشتري نه د مبیع سره بیا غالبًا د نومبر په اتلسمه کال ۱۹۲۷ سند

---

(۱) بطلنها ترک طلب المواثبة ترکه بان لا یطلب فی مجلس اخبر فیه بالبیع... او ترک طلب الاشهاد عند عقار او ذی ید لا الاشهاد عند طلب المواثبة لانه غیر لازم مع القدرة کما مر و یبطلها تسلیمها بعد البیع علم بالسقوط اولا فقط لا قبله الخ (الدر المختار مع الشامي ۵/۱۶۸ کتاب الشفعة اوائل باب ما یبطلها. ط رشیدیه)

ولیکل شو مشتري سند و شفیع ته ورولیږی چي پر دې د ستخط وکړه شفیع له د ستخط کولو څخه نټه وکړه شرعًا په مسئوله صورت کي تکمیل د بیع کله کیږي؟ آیا د ایجاب او قبول او د مبیع سپارلو پر مهال؟ که د کاغذ د لیکنې پر مهال یا په حکومت کي د رسمي کولو پر وخت؟ او شفیع ته تر څو په مسئوله صورت کي حق د شفعي شته؟ (۱۷۴۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: بیع صرف په ایجاب او قبول سره منعقدیږي د اسنادو پر لیکلو یا تکمیلولو موقوفه نه وي او له ایجاب او قبول وروسته د مبیع انتقال من ملک البائع الی ملک المشتری کیږي او کله چي مشتری پر مبیع قبضه وکړه نو دا احتمال هم باقي نه پاتیږي دا غه راز انعقاد د بیع یا انتقال د مبیع من ملک البائع الی ملک المشتری و بائع ته د ثمن پر ادا کولو موقوف نه وي په همدې وجه په مسئوله صورت کي د بیع انعقاد د نومبر په اوومه کال ۱۹۲۷ کي شوی دی پاته شو د شفعي د بقاء بحث نو په موجوده صورت کي دا حق پاته نه دی ځکه چي که څه هم د شفیع سره د معاملې نه کیدلو وروسته د بل چا سره معامله وشوه خو بیا هم قبل وجود بیع بین البائع و المشتری که شفیع خپل حق د شفعي ساقط کړي نو حق د شفعي نه ساقطیږي کله چي د بائع او مشتري تر منځ انعقاد د بیع وشي بیا له دې وروسته و شفیع ته حق د شفعي حاصلیږي او همدا وخت تسلیم د شفعي معتبر دی په زیلعي شرح د کنز ۲۴۲/۵ کي راغلي دي: و قيل البيع هو السبب بدليل ان الشفيع لو اسقط الشفعة قبل الشراء لا يصح لكونه اسقاطا قبل وجود سببه و هو البيع و لو كان السبب الاتصال لصح لكونه بعد وجود السبب و جوابه انه انما لم يصح الاسقاط قبلـه لفقد شرطه و هو البيع لان السبب لا يكون سببا الا عند وجود شرطه كما في الطلاق المعلق.(۱)

ليکن د سوال سره لګولي کاغذونو په کتلو معلومیږي چي د بیع له انعقاد وروسته شفیع تسلیم د حق شفعه کړی دی ځکه چي د بایع د خبرتیا کاغذ د شفیع په نوم د نومبر په دیارلسمه کال ۱۹۲۷ و شفیع ته رسیدلی دی او شفیع د هغه جواب د نومبر په شپاړلسمه کال ۱۹۲۷ لیکلی دی له دومره مودې وروسته جواب ورکول حق د شفعي ساقطوي د مجلې په ماد (۱۰۳۳) کي راغلي دي: لو آخر الشفيع طلب التقرير و الاشهاد مدة يمكن اجراؤه فيها و لو بارسال

---

(۱) تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق للعلامه فخر الدين عثمان بن على الزيلعـي ۲۴۲/۵ كتـاب الشـفعة المطبوعة: مكتبة امدادية ملتان، باكستان.

مکتوب یسقط حق شفعه (۱) او د شفیع د لیک په دغه معامله کې صحیح ماته او س وښیې که د حقیقي معنی په اعتبار و اخیستل شي نو چونکه خبرتیا ده نه د نومبر په دیارلسمه کال ۱۹۲۷ رسیدلې ده ځکه دا دروغ دي او که مجازًا مراد دا دی چې د خبرتیا د کاغذ رسید نه د بائع له جانبه د شفیع په نوم هغه وخت علم و شو نو طول د مدې د شفعي حق ساقطوي له دې ځکه سیوا د شفیع د خبرتیا کاغذ د مشتري په نوم د نومبر په شپاړلسمه کال ۱۹۲۷ لیږل شوي کې شفیع له مشتري څخه د هستوګنې د کیفیت پوښتنه کوي او وایي چې آئنده به دا مکان پر ما خرڅوې چې ور څخه ظاهر دي چې دی دا وخت موجوده بیع نه ماتوي د آئنده لپاره له مشتري څخه د بیع وعده کول غواړي نو ځکه هم حق د شفعي ساقط دی د مجلې په ماده (۱۰۲۴) کې راغلي دي: یشترط ان لا یکون للشفیع رضی صراحة او دلالة بعقد البیع الواقع فاذا سمع بعقد البیع و قال: هو مناسب سقط حق شفعته و لیس له طلب الشفعة بعد ذلک و کذا اذا طلب بعد سماعه بالبیع شراء العقار المشفوع او استئجاره من المشتری سقط حق شفعته الخ. (۲) محمد اعزاز علي غفرله

سوال: (۲) څه ځمکه له شاهي زمانې څخه د سید منور عرف بهکاري په نوم ده چې د ده له مرګه وروسته د ده د دواړو زامنو سید بخش او سید دیوان په قبضه کې ده او له دوی دواړو وروسته د دوی اولاد هم تر ننه پورې باندې قابضین دي پنځه میاشتې کیږي چې د سید بخش په بچیانو کې د سید بذیع الدین زوی سید جنید علي خپله او د خپلې لور بي بي اشرفي برخه د سید دیوان د لور عزیز النساء پر لمسي سید نواز علي خرڅه کړه لیکن اوس د سید بدیع الدین د دوهم زوی عابد علي مرحوم زوی سید حسین الدین وایي چې قانونًا او شرعًا د دغه خرڅې شوې ځمکې د شفعي حق زما کیږي تر څو چې زه اخلم تاسو یې نه شئ اخیستلای حالانکه نوموړی مشتري د رانیولو پر مهال او داغه راز له دې څخه مخکې و حسین الدین ته ویلي ؤ چې ځمکه خرڅه شوې ده که ته اخلې وایې خله چې په جواب کې حسین الدین ورته وویل چې ته زما خسر یې او زما

(۱) شرح المجلة ۵۸۲/۱ الکتاب الاول فی البیوع و ینقسم الی مقدمة و سبعة ابواب الباب الثالث فی الشفعة وینقسم الی اربعة فصول الفصل الثالث فی طلب الشفعة المادة: ۱۰۳۳ المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت لبنان.

(۲) شرح المجلة ۵۷۲/۱ الکتاب الاول... الفصل الثانی فی شرائط الشفعة المادة: ۱۰۲۴ المطبوعة: دارالکتب العلمیة. بیروت لبنان

په رنګه نه هم یکي حق د شفعي لري مانه د دې ضرورت نشته نه په خوشحالي واخله اوس سره د دې چي خرڅولو خبرتیا ورکوله شوه له یوې میاشتې څخه زیاتوب زمانه تېربدو وروسته نوموړی کس د دغه ځمکي دعوی کېږ او رانیونکی دی لهذا سوال دا دی چي په مذکوره صورت کي د دغه ځمکي د شفعي حق د عزیز النساء د لمسي هم کیږي او کنه؟ او د دغه ځمکي رانیول شرعًا جائز دي او کنه؟ (۹۲۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: دغه ځمکه چي د ټولو وارثانو تر او سه سره شریکه ده ټول شریکان یکي حق د شفعي لري سید نواز علي هم شفیع دی لکه چي سید حسین الدین شفیع ؤ او کله چي سید حسین الدین د بیع له خبرتیا موندلو سمدستي وروسته طلب د شفعي ونکړي او طلب د مواثبت یې ونکړی شفعه د ده ساقطه شوه له بیع کیدو څخه مخکي انکار کول خو شفعه نه باطلوي مګر د بیع کیدلو او خبربدلو وروسته طلب نه کول او خپل رانیونکی کیدل نه ظاهرول شفعه باطلوي و یطلبها الشفیع في مجلس علمه... بالبیع... بلفظ یفهم طلبها کطلبت الشفعة و نحوه کانا طالبها او اطلبها الخ(۱) (در مختار) و فیه ایضًا: یبطلها ترک طلب المواثبة الخ(۲) و یبطلها تسلیمها بعد البیع... فقط لا قبله کما مر الخ(۳) (در مختار)

د طلب مواثبت او طلب اشهاد طریقه او په طلب مواثبت د وخت په هکله د ګواهانو اختلاف

سوال: (۷) ... (الف) د شفعي په مسئله کي د طلب مواثبت او طلب اشهاد څه طریقه ده؟ او په کومو صورتونو کي د طلب مواثبت نه اعتبار نه وي؟

(ب) که د شفعي په عارضه کي د قاضي و مخته پر طلب مواثبت دري ګواهان موجود وي او د ټولو اتفاق وي مګر د وخت په بیان کي اختلاف وي نو په دې صورت کي طلب د مواثبت آیا باطلیږي؟ (۳۲۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۱۵۷ کتاب الشفعة اوائل باب طلب الشفعة. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الرد ۵/۱۶۸ کتاب الشفعة اوائل باب ما یبطلها. ط رشیدیه

(۳) الدر المختار مع الرد ۵/۱۶۸ کتاب الشفعة اوائل باب ما یبطلها. ط رشیدیه

ځواب: (الف) طلب مواثبت دا دی چي کله شفیع په بیع خبر شي سمد ستي دی په هم هغه مجلس کي وو اي چي زه رانیسم یا زه طلب د شفعي کوم بیا دی بائع ته یا مشتري ته یا هغه سرای یا ځمکي ته چي پکي شفعه کوي د ده ګواهان دی بوزي داسي دی وو ایي چي دغه سرای فلاني سړي رانیولی دی او زه یې شفیع یم او زه اخلم تاسو ګواهان شئ الخ په در مختار کي راغلي دي: و يطلبها الشفيع في مجلس علمه... بالبيع... بلفظ يفهم طلبها كطلبت الشفعة و نحوه... و هو يسمى طلب المواثبة... ثم يشهد على البائع الخ و هو طلب اشهاد و الخ(۱) د دې عبارت حاصل هم هغه دی کوم چي پورته ولیکل شو.

(ب) په در مختار کي راغلي دي: و منها موافقة الشهادتين لفظًا و معنى پر دی علامه شامي رحمه الله ليکي: قوله: (موافقة الشهادتين) كما لو ادعى دارًا في يد رجل انها له منذ سنة فشهد الشهود انها منذ عشرين سنة بطلت فلو ادعى المدّعى انها منذ عشرين سنة و الشهود شهدوا انها منذ سنة جازت شهادتهم خانية و في الانقروى عن القاعدية في الشهادات الشهادة لو خالفت الدعوى بزيادة لا يحتاج الى اثباتها او نقصان كذلك فان ذلك لا يمنع قبولها الخ(۲) لنډه دا چي که د ګواهانو پر یو وخت اتفاق نشته نو شهادت د دوی باطل دی په دغه شهادت دعوی نه ثابتیږي. فقط

د طلب مواثبت او اشهاد لپاره کوم خاص لفظ معین نه دی

سوال: (۸) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرعي متین په دې مسئله کي چي دوو سکه ورونو رایی بهادر او راج بهادر چي هندوان دي خپل سرای پر مسلمانه بي بي حشمته په شل یا پنځه ویشت روپۍ خرڅ کړی نو موړی ډاکتر جوی رام چي حق د شفعي د جار ملاصق په توګه لري د مکان د بیع پر مهال درشن زیارت ته تللی ؤ کله چي شفیع راغلی نو چه په دغه بیع خبر کړی نو هغه وخت سمد ستي شفیع بائعانو

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۱۵۷/۵ کتاب الشفعة باب طلب الشفعة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار و رد المحتار ۴۳۲/۴ کتاب الشهادات باب الختلاف في الشهادة. ط رشيديه

ته د مکان د قیمت سره ورغلی او د خرڅ شوي سرای په اړه د اسي و ویل: زه خبر شوی یم چي تاسو فلانی سرای چي زه شفیع یم خرڅ کړی دی په څومره چي مي خرڅ کړی هغومره د قیمت زما څخه واخلي اوس دغه سرای زما دی ما وخیستی اوس پوښتنه د دغه لاندي خبرو لرو څکه چي بائعان او مشتري د دغه سرای مشفوع فيه و شفيع ته ورکولو څخه انکار کوي او ببله کومي وجي د شفيع حق ضائع کيږي.

آیا د شرعي له مخه د طلب مواثبت او اشهاد ادا کولو لپاره کوم خاص الفاظ مقرر معين دي؟

او که تول الفاظ پرلپسي ادا نشي نو آیا طلب مواثبت او اشهاد شرعًا نه ثابتيږي؟

او که شته نو کوم الفاظ دي؟ (۱۳۴۲/۲۵۰هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و یطلبها الشفیع فی مجلس علمه من مشتر او رسوله او عدل او عدد بالبیع الخ بلفظ یفهم طلبها کطلبت الشفعة و نحوه کانا طالبها او اطلبها و هو یسمی طلب المواثبة: ای المبادرة و الاشهاد فیه لیس بلازم بل لمخافة الجحود ثم یشهد علی البائع لو العقار فی یده او علی المشتری و ان لم یکن زاید لانه مالک او عند العقار فیقول: اشتری فلان هذه الدار و انا شفیعها و قد کنت طلبت الشفعة و اطلبها الآن فاشهدوا علیه و هو طلب اشهاد و یسمی طلب التقریر و هذا الطلب لا بد منه حتی لو تمکن و لو بکتاب او رسول و لم یشهد بطلت شفعته و ان لم یتمکن منه لا تبطل و لو اشهد فی طلب المواثبة عند احد هؤلاء کفاه و قام مقام الطلبین الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي د طلب مواثبت او نورو لپاره کوم خاص معين لفظ نشته بلکه په داسي الفاظو تکلم کافي دی چي د شفعي پر طلب دلالت کونکي وي لهذا کوم الفاظ چي شفيع استعمال کړو هغه د طلب مواثبت لپاره کافي دی او که همدغه الفاظ و بائع يا مشتري د مشفوعه ځمکي ته ورغلی د ګواهانو په مخ کي ادا کړو نو دا طلب مواثبت او طلب اشهاد دواړه شول اما د شفعي د ثبوت لپاره د ګواهانو عدالت او اسلام شرط دی کما فی الشامي: و اما ما یخص بعضها فالاسلام ان کان المشهود علیه مسلما الخ. (۲)

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۵۷/۵ کتاب الشفعة باب طلب الشفعة. ط رشیدیه

(۲) رد المحتار ۴۱۱/٤ کتاب الشهادات. ط رشیدیه

طلب اشهاد د بيع سره كول هم كافي دى او د بيع په پانه كي كه قيمت زيات ليكلى وي هغه ته اعتبار نشته

سوال: (۹) يو سړى خبر شو چي فلانى سراى زيد پر بكر خرڅ كړى د دې سره په سراى كي شريک كس شرطونه د شفعي سمدستي ادا كړو شفيع موجود ګواهان ملګري كړو خرڅ شوى سراى ته ولاړى او دوهم طلب يې وكړى بيا مشتري ته كورته ورغلى نو بكر وويل چي د بيع پانه زما په نوم نه ده زما د زوى او ورور په نوم ده هغه هم هلته موجود ؤ له هغوى څخه هم طلب د شفعي وشو دا هم معلوم شو چي د بيع پانه د زيد له طرفه نه ده بلكه د ده د پلار له طرفه ده په داسي صورت كي زيد وايي چي د شفعي شرطونه ادا نه شول نو په دغه صورت كي شفعه صحيح ده او كنه؟ د شفعي له ويرې قيمت ډير زيات ليكلى دى نو قيمت به هغومره وركوي څومره چي د بيع په پانه كي ليكلى دى كه څومره اندازه؟ (۱۳۴۳/۷۹۱هـ)

ځواب: په دغه صورت كي شفعه ثابته ده او طلب مواثبت او اشهاد وشو ځكه چي طلب د اشهاد كه د مبيع سره هم شي نو كافي دى لكه چي په در مختار كي راغلي دي: و يطلبها الشفيع فى مجلس علمه... بالبيع الخ و هو يسمى طلب المواثبة... ثم يشهد على البائع لو العقار فى يده او على المشترى او عند العقار الخ و هو طلب اشهاد انتهى ملخصا(۱) او قيمت څومره چي په شرعي طريقه ثابت شي هغومره به وركوي د بيع په پانه كي كه زيات قيمت ليكلى دى نو هغه ته اعتبار نشته بلكه شفيع كه په دوو عادلو ګواهانو دا ثابت كړي چي قيمت په واقع كي دومره دى نو هم دغه ثابتيږي كني مشتري چي څومره په قسم سره بيان كړي هغه معتبر دى په در مختار كي راغلي دي: و ان اختلف الشفيع و المشترى فى الثمن... صدق المشترى بيمينه لانه منكر... و ان برهنا فالشفيع احق لان بينته ملزمة الخ ملخصا(۲) فقط

(۱)الدر المختار مع الشامي ۱۵۷/۵ كتاب الشفعة باب طلب الشفعة. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ۱۵۸/۵ كتاب الشفعة باب طلب الشفعة مطلب: طلب عند القاضى قبل طلب الاشهاد بطلت. ط رشيديه

که د کوم جائیداد لپاره څو کسه شفعه کونکي وي نو د هر شفیع لپاره دپوره مبیع شفعه طلب کول ضروري ده

سوال: (۱۰) هندي خپل ځاني دوه سرایونه پر فاطمه خرڅ کړو له بیع وروسته زید او صغری دواړو په محکمه کي دا دعوی وړاندي عارضه وکړه چي د دغه دواړو سرایونو د نصف مونږ د میراث په وسیله مالکان یو نیم د میراث د ثبوت په وجه مونږ ته ځني راواخلي او په نصف کي مونږ شفعه کونکي یو څرنګه چي مونږ مدعیان د مارچ د میاشتي په لومړي کال ۱۹۲۷ د مشفوعه په بیع خبر شو مدعیانو د بیع د علم سره طلب مواثبت او اشهاد عند المبیعه د شرعي قاعدې سره سم ادا کړو یعني هر یو مدعی د مشفوعه سرایونو د نصف په اړه په بیع خبرېدو وروسته په یو وخت کي د طلب مواثبت او اشهاد الفاظ جلا جلا د ټول نصف سرایونو ادا کړو او د همدې سره سم ثبوت هم د مدعیانو تېر شو او دعوی په داسي الفاظو وشوه چي د نصف سرایونو سند د شفعه فی نفس المبیع د استحقاق په وجه دمدعیانو په حق کي ورکړئ اوس په داسي حال کي پوښتنه صرف د دې خبري ده چي د دغه ټول نصف مشفوعه یو ځای دعوی کول د دواړو مدعیانو او د دعوی الفاظ په بیان شوې طریقه لیکل شفعه باطلوي او کنه؟ او که شفعه نه باطلوي نو د درمختار د دغه روایت لو طلب احد الشریکین النصف بناء انه یستحقه فقط بطلت شفعته اذ شرط صحتها ان یطلب الکل مطلب محمل او جواب څه دی؟ (۱۳۳۶-۳۵/۷۸ھ)

ځواب: په دغه صورت کي چونکه د مدعیانو د فکر سره سم بیع د نصف صحیح شوې ده کوم چي د بائع ملک دی لهذا دعوی د شفعي پکي کول حق د شفعي نه باطلوي او د درمختار د روایت محمل دا دی چي هر یو شفیع د خپل حق په قدر دعوی وکړي او د بل شریک برخه پرېږدي په هغه کي دعوی ونکړي او په موجوده صورت کي کوم مقدار چي مدعیانو مبیع بللی دی د هغه په کل کي دعوی د شفعي کړې ده نه په نصف کي ځکه چي مبیع په دغه صورت کي نصف ده او نصف د مدعیانو ملک په حق د میراث دی نو شرط د صحیح کیدو د شفعي کوم چي طلب د کل مبیع دی هغه په دغه صورت کي موجود شو کما قال فی الدر المختار:

اذ شرط صحتها ان یطلب الکل. (۱) فقط

د بعض مبیع د شفعي په طلب کولو حق د شفعي ساقطیږي

سوال: (۱۱) زید، عمر او بکر په یو سرای برابر شریکان دي زید خپله ونډه پرعمر خرڅه کړه بکر طلب مواثبت او طلب اشهاد د مبیع برخي د نصف په اړه وکړو یعني د ټول سرای د یوې شپږمي په اړه په داسي صورت کي د بکر حق د شفعي ساقط شو او کنه؟ ویل کیږي چي د رد المحتار د مصنف یو کتاب تنقیح فتاوی حامدیه دی په هغه کي لیکلي دي چي ساقطیږي پر ده لازم ؤ چي د ټولي مبیعې په هکله طلب کړی وای.
(۸۵۱/۱۳۳۸ھ)

ځواب: دا صحیح دی چي که شفیع که له اوله سره د مبیع په جز کي طلب مواثبت او نور وکړي نو شفعه د ده باطلیږي په در مختار کي راغلي دي: بل لو طلب احد الشریکین النصف بناء انه یستحقه فقط بطلت شفعته اذ شرط صحتها ان یطلب الکل کما بسطه الزیلعی الخ قوله: (اذ شرط صحتها ان یطلب الکل) لانه یستحق الکل و القسمة للمزاحمة و کذا لو کانا حاضرین فطلب کل منهما النصف بطلت و لو طلب احدهما الکل و الآخر النصف بطل حق من طلب النصف و للآخر ان یاخذ الکل او یترک الخ(۲) (رد المحتار للشامي کتاب الشفعة المطبوعة: مطبع مجتبایی منشی ممتاز علی دهلي) ترجمه: بلکه که له دوو شریکانو څخه کوم چي شفیع دی یو د نصف طلب وکړی په دې وجه چي دی صرف د نصف مستحق دی نو شفعه د ده باطله شوه ځکه چي د شفعي صحیح کیدو لپاره دا شرط دی چي د کل طلب به کوي(در مختار من الزیلعی) ځکه چي هر شفیع د کل مستحق دی او تقسیمول د دوهم شریک د مزاحم کیدو په وجه دی او که داغه راز دواړه شریکان او شفعه کونکی موجود وي نو هر یو د نصف طلب وکړي نو د دواړو شفعه باطله شوه

---

(۱) الدر المختار مع حاشیة ابن عابدین للعلامة محمد امین الشامي ۱۵۳/۵ کتاب الشفعة مطلب فی الکلام علی الشفعة فی البناء فی نحو الارض المحتکرة قبیل باب طلب الشفعة. ط رشیدیه

(۲) الدر و الشامي ۱۵۳/۵ کتاب الشفعة مطلب فی الکلام علی الشفعة فی البناء ی نحو الارض المحتکرة. ط رشیدیه

او که یو د کل مبیع طلب وکړي او بل د نصف نو د هغه حق باطل شو کوم چي د نصف طلب وکړي او و دوهم ته اختیار دی که کل مبیع اخلي او که پرېږدي. فقط

که شفعه کونکي څو کسان وي نو یو شفیع هم د ټولي مبیع د شفعي طلب کولای شي

سوال: (۱۲) د یوې خرڅي شوي ځمکي په څنګ کي څو کسان په ځمکه شریکان دي له ټولو شریکانو څخه یو شریک د خرڅي شوي ځمکي سره د اتصال او الحاق په وجه یوائي د شفعي دعوی کونکی دی د داسي دعوی لپاره د ټولو شریکانو شراکت ضروري دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۷۷۱هـ)

ځواب: یو شفیع یوائي د شفعي دعوی پر ټوله خرڅه شوي ځمکه کولای شي د نورو شریکانو شفعاؤ سکوت د دغه مدعی و دعوی ته هیڅ ضرر نه رسوي بلکه هر شریک دي د پوره مکان د شفعي دعوی وکړي په در مختار کي راغلي دي: بل لو طلب احد الشريكين النصف بناءً انه يستحقه فقط بطلت شفعته اذ شرط صحتها ان يطلب الكل إلخ و قال في الشامي: قوله: (إذ شرط صحتها ان يطلب الكل) لأنه يستحق الكل و القسمة للمزاحمة الخ(۱) فقط

په دوو رانیونکیو کي له یو څخه طلب د شفعي کول

سوال: (۱۳) محمد یوسف یوه حجره پر محمد یامین او محمد عمر خرڅه کړه په دې کي شفعه کونکی محمد یسین محمد اسحاق او محمد یوسف دی له ټولو شفیع ګانو څخه صرف یو سړی محمد یسین له مشتري محمد یامین شفعه طلب کړه نو آیا د یو سړي په شفعه طلب کولو د شفعي شرطونه پوره شول او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۴۰۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي محمد یسین چي د محمد یامین مشتري څخه کومه شفعه طلب کړي ده هغه صرف د ده په حصه کي قائمه شوه او له چا څخه چي طلب ونکړي د هغه په حصه کي باطله شوه یعني نیمه حجره چي

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۱۵۳/۵ كتاب الشفعة مطلب في الكلام على الشفعة في البناء في نحو الارض المحتكره. ط رشيديه

د محمد یامین برخه ده په هغه کي شفعه صحیح ده په نوره کي نه ده د فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي که مشتریان دوه وي نو شفیع چي له کوم چا څخه شفعه طلب کړي د هغه په برخه کي شفعه صحیح کیږي. کما فی الدر المختار: اذا اشتری جماعة عقارًا و البائع واحد یتعدد الاخذ بالشفعة بتعددهم فللشفیع ان یاخذ نصیب بعضهم الخ(۱) (در مختار مع الشامي ۱۵۲/۵ باب ما یبطلها) فقط

شریک فی حق المبیع تر جار ملاصق مقدم دی او جار ملاصق په غیر نافذه کوڅه کي دروازه نشي خلاصولای

سوال: (۱۴) په غیر نافذه کوڅه کي څو سرایونه د ځینو شا او ځینو مخ ان په دغه کوڅه کي دي زید په کوڅه کي او سیدونکیو په اجازه یو مکان رانیولی دی چي مخ یې په کوڅه کي دننه دی په دغه صورت کي عمر چي د کور شا یې په کوڅه کي ده حق د شفعي لري او کنه؟ او عمر ته دا حق شته چي په دغه کوڅه کي دروازه خلاصه کړي او کنه؟ او دا عمر جار ملاصق دی که شریک فی حق المبیع؟ په لومړي صورت کي عمر ته پر شرکاء فی حق المبیع باندي ترجیح حاصله ده او کنه؟ لنډیز د سوال دا دی چي د زید بیع د شرکاء فی حق المبیع سره د عمر په مقابل صحیح کیږي که باطلیږي؟ او عمر له زید څخه دغه سرای په شفعه اخیستلای شي او کنه؟ که د کوڅي او سیدونکي حق د شفعي ولري نو دوی خپل حق و زید ته هبه کولای شي او کنه؟ بینوا توجروا(۵۲۱/۱۳۳۸هـ)

ځواب: په دغه صوت کي و عمر ته کوم چي صرف جار ملاصق دی شریک فی حق المبیع نه دی په دغه سرای کي چي دروازه یې په غیر نافذه کوڅه کي ده او زید رانیولی دی په مقابل د هغو خلکو د کومو دروازې چي په کوڅه کي دننه دي حق د شفعي حاصل نه دی ځکه چي دی شریک فی خق المبیع نه دی بلکه جار ملاصق دی او د جار ملاصق مرتبه په شفعه کي د شریک فی حق المبیع څخه وروسته ده لکه چي د در مختار په عبارت کي کوم چي مخکي رانقل کړل شوی دی بیان شوي دي اما که شرکاء فی حق المبیع له اخیستلو انکار وکړي او عمر جار ملاصق د خبرېدو پر مهال د شفعي دعوی کړې وه نو د شرکاء فی حق المبیع له تسلیمولو وروسته عمر ته حق د شفعي شته او دی دغه سرای اخیستلای شي لیکن که د شرکاء فی حق المبیع له انکار وروسته عمر د رانیولو اظهار وکړی او په بیع خبرېدو سمدستي وروسته د اخیستلو اراده نه وه ښکاره کړې چي ورته مواثبت وایي نو اوس دی حق د شفعي

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۷۳/۵ کتاب الشفعة باب ما یبطلها مطلب: لا شفعة للمقرله بدار. ط رشیدیه

نلري په در مختار کي راغلي دي: تجب ... للخليط في نفس المبيع ثم ان لم يكن او سلم له (اى الخليط) في حق المبيع الخ ثم لجار ملاصق الخ(۱) او په رد المحتار شامي کي راغلي دي: و اعلم ان كل موضع سلم الشريک الشفعة فانما تثبت للجار ان طلبها حين سمع البيع و ان لم يكن له حق الاخذ في الحال اما اذا لم يطلب حتى سلم الشريک فلا شفعة له شرح المجمع و مثلــه في النهاية و غيرها(۲) (شامي ۵/۱۴۰-۱۴۱) او نوموړي عمر ته په دغه کوڅه کي د دروازې خلاصولو حق نشته كذا في الدر المختار و غيره. (۳) فقط

که شریک فی حق المبیع شفعه نه کوي نو جار ملاصق يې کولای شي

سوال: (۱۵) يوه شاړه ځمکه د خالد دروازې ر مخته ده د خالد تک راتګ پر همدغه ځمکه وي او د دغه ځمکي د مغرب و طرف ته د زيد کور دی چي دروازه يې په جنوب کي د سړک سره ملحقه ده او د زيد او خالد د کورونو په شمالي او مغربي کونج کي يوه غير نافذه کوڅه ده چي يکي دوه دري سرايه هم واقع دي د دوی تګ راتګ هم پر دغه پرته ځمکه وي مګر د غير نافذه کوڅي اوسيدونکي د دغه ځمکي غوښتونکي نه دي د مشرق و طرف ته د بکر کور دی چي د هغه دروازه د جنوب پر جانب د سړک سره متصله ده له زيد او بکر څخه د هيڅا دروازه هم د دغه ځمکي و طرف ته نه ده اوس د دغه ځمکه خرڅيږي شرعًا حق د شفعي د چا کيږي؟ (۱۳۴۲/۲۹۴۲ھ)

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵/۱۵٤ كتاب الشفعة مطلب: في الكلام على الشفعة في البناء في نحو الارض المحتكرة. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۵/۱۵۵ كتاب الشفعة مطلب في الكلام على الشفعة الخ. ط رشيديه

(۳) ثم لجار ملاصق بابه في سكة اخرى و ظهر داره لظهرها فلو بابه في تلک السكة فهو خليط و في الشامي: اقول: اذ لو كان محاذيا و الطريق غير نافذ فهو خليط لا جار قوله: فلو بابه في تلک السكة اى و هــي غـير نافذة كما سبق(الدر و الرد ۵/۱۵۵ كتاب الشفعة مطلب في الكلام على الشفعة في البناء في نحــو الارض المحتكرة. ط رشيديه)

ځواب: د خالد د کور و مخته پرته ځمکه که خرڅه شي نو حق د شفعي د خالد او په غیر نافذه کوڅه کي او سیدونکیو ده چي لاره په دغه ځمکه کي ده او خالد او هغه ټول په غیر نافذه کوڅه کي او سیدونکي په حق د شفعي کي سره برابر دي او کله چي د غیر نافذه کوڅې او سیدونکي د دغه ځمکي غوښتونکي اور انیونکي نه وي نو خالد یې اخیستلای شي او زید او بکر ته د خالد په مقابل په دغه ځمکه کي حق د شفعي نشته ځکه چي زید او بکر صرف جار ملاصق دی او خالد او په غیر نافذه کوڅه کي او سیدونکي شریکان فی حق المبیع دي او له جار ملاصق څخه په حق د شفعه کي شریک فی حق المبیع مقدم دي لکه چي په در مختار او نورو کي راغلي دي چي لومړی حق د شفعي د هغه چا دی کوم چي شریک فی نفس المبیع وي په دوهمه درجه کي شریک فی حق المبیع دی او په دریمه درجه کي جار ملاصق دی (۱) او که لومړی وي نو دوهم ته او که دوهم وي نو دریم ته حق د شفعي نشته او د لاري شریکان شریک فی حق المبیع بلل کیږي په همدې وجه په بیان شوي صورت کي د خالد حق مقدم دی له زید او بکر څخه اما که خالد نه اخلي او د غیر نافذه کوڅې او سیدونکي هم طلب نه کوي نو بیا حق د شفعي د زید او بکر دی او دوی دواړه په درجه کي سره برابر دي. فقط

د پلار د سرای په وجه زامن د شفعي دعوی نشي کولای

سوال: (۱۲) یو سړي سره د دې چي د شفعي په حق علم لري چي دا شرعي حق دی د همسایه ګانو او محلې والو په ناخبرتیا یې یو سرای او ځمکه رانیوله دغه رانیونکی مشتري د لیري محلې او سیدونکی دی و څنګ ته همسایه څو میاشتي وروسته په خبر شو او د دغه جائیداد په هکله و مشتري ته وویل مشتري ورته انکار وکړی نو دغه همسایه د مشتري او خرڅونکیو په خلاف عارضه او دعوی کړه مشتري لاندي راتلونکي دلائل بیانوي:

---

(۱) الشفعة واجبة للخليط فى نفس المبيع ثم للخليط فى حق المبيع كالشرب و الطريق ثم للجار افاد هذا اللفظ ثبوت حق الشفعة لكل واحد من هؤلاء و افاد الترتيب (الهداية ۳۸۹/۳ كتاب الشفعة)

و سببها اتصال ملک الشفیع بالمشتری بشرکة او جوار و فی الشامي: قوله: (بالمشتری) بفتح الراء و قوله: (بشرکة او جوار) متعلق باتصال و شمل الشرکة فی البقعة و الشرکة فی الحقوق (الدر و الرد ۱۵۲/۵ کتاب الشفعة. ط رشیدیه)

(الف) و مدعیانو ته حق د شفعې د محلي والو د نه رواج په وجه نشته.
(ب) دغه مشفوعه جائیداد د تجارت کولو لپاره مستعمل دی.
(ج) د کشمیر څمکه د حکومت حق د مرافق ده شفعه پکې ناجائز ده.
(د) و جار ملاصق ته پخپله حق نشته د ده د پلار ملک دی.
(یادونه): د "الف" په اړه له دې څخه مخکې هم څو واره دا ډول د حق شفعې دعوی شوې ده چې د دعوی کونکي یعني شفیع په حق کې فیصله شوې ده.
د "ب" په اړه دغه جائیداد د کلي او تجارت لپاره برابر دی او د بازار د دکانونو په رنګه نه دی
"ج" په کشمیر کې په خوا او اوس څو واره دعوی د شفعې شوې ده او د شفیع په حق کې فیصله شوې ده.
"د" د دغه جائیداد دعوی کونکي یعني شفعه کونکي دوه بالغ هلکان چې له ډیرې مودې راهیسې له پلار څخه جلا کاروبار کوي او هر ډول کار چې د دوی سره اړه لري بې د پلار له مشورې او پابندۍ یې کوي. (۱۳۳۷/۲۲۲۲هـ)

ځواب: د مشتري دلائل د شفعې باطلولو په هکله له "الف" څخه تر "ج" پورې غلط دی اما "د" ته فکر باید وشي څکه چې د شفعې صحیح کیدو لپاره دا ضروري ده چې شفیع به د هغه سرای مالک وي د کوم په وجه چې دعوی د شفعې کوي نو دعوی کونکی که د دغه سرای مالکان نه دي د کوم سرای په وجه چې په مبیع سرای کې د شفعې دعوی کړې ده نو د شفعې دعوی د زامنو له طرفه نه صحیح کیږي نو دغه سرای که د پلار ملک دی نو د پلار په موجودیت کې زامن مالکان د دغه سرای نه دي لهذا د شفعې دعوی هم د دوی له لوري نه صحیح کیږي اما د پلار له طرفه د شفعې دعوی صحیح کیدلای شي قال في الدر المختار: و سببها اتصال ملك الشفيع بالمشترى بشركة او جوارٍ الخ.(۱) فقط

د کم عقل او مجنون له طرفه د ده ولي شفعه کولای شي

سوال: (۱۷) د کم عقل له طرفه د ده ولي طلب د شفعې کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۴۷هـ)

ځواب: د کم عقل او مجنون له طرفه د ده ولي دعوی د شفعې کولای شي او

(۱) الدر المختار مع الرد ۱۵۲/۵ کتاب الشفعة. ط رشيديه

د شفعي په اړه د کم عقل ځای ناستی د ده ولي دی تر دې که ولي شفعه پرېږدي نو شفعه باطلیږي. کما فی الدر المختار: و لو تسلیمها من اب و وصی الخ(۱)

د بل په واسطه شفعه طلب کول او د مشتري دزیات قیمت طلب کول

سوال: (۱۸) ... (الف) زید یوه ټوټه ځمکه په دوه زره روپۍ رانیوه د زید شفیع د غیر لپاره شفعه وکړه آیا د غیر لپاره دغه شفعه جائز ده او کنه؟

(ب) که جائز ده نو د زید لپاره د ګټي په توګه د اصل قیمت دوه زره پر ځای درې زره اخیستل څنګه دي؟ زید وایي چي که شفیع د خپل ځان لپاره شفعه کړې وای نو له ده څخه تر اصل قیمت زیاتوب اخیستل صحیح نهٔ مګر چونکه د بل د ګټي لپاره شفعه کوي لهذا دا داسي شوې لکه پر بل چا ځمکه په ګټه خرڅول. (۱۳۳۸/۱۴۱۲هـ)

ځواب: (الف) شفیع ته چي کله حق د شفعي شته نو دی د هغه په وسیله مبیع اخیستلای شي که څه هم نیت د ده دا وي چي زه وا اخلم و بل چاته به ورکړم لنډه دا چي دغه صورت جائز دی.

(ب) د مشتري زید لپاره و شفیع ته په هم هغه قیمت ورکول لازم دي په کوم قیمت چي ده رانیولی دی په دغه صورت کي په قیمت کي فرق کول صحیح نه دی.

د شفیع له شفعي څخه محرومولو لپاره زیات قیمت لیکل

سوال: (۱۹) یو سړی خپل ځمکه خرڅول غواړي رانیونکی ورته وایي چي قیمت یې زیات ولیکه تر څو شفیع یې وانه خلي آیا له قیمت څخه زیاتوب لیکل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۷۰هـ)

ځواب: زیات قیمت ورلیکل دروغ دي او ناجائز دي او شفیع چي حق یې په شریعت کي ثابت دی که دی اخلي نو د ده منع کولو لپاره داسي طریقه کول صحیح نه ده. فقط

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۶۹/۵ کتاب الشفعة باب ما یبطلها. ط رشیدیه

د مسجد و څنګ ته ځمکه باندې متولي یا کلیوال د شفعي دعوی نشي کولای

سوال: (۲۰) د یو مسجد سره نښتې او څنګ ته یوه ټوټه ځمکه ده چې ورباندې د مسجد له طرفه دعوی د شفعي کیدلای شي د مسجد امام وفات شوی دی د هغه جانشین یو کم عمر هلک دی چې ملازمت کوي ځکه هغه د شفعي د دعوی په اړه التفات نه کوي په دغه صورت کي کلیوال دعوی د شفعي کولای شي او کنه؟(۱۳۳۷/۳۴۱هـ)

ځواب: په وقف کي شفعه نه وي او نه د وقف په وجه شفعه کیدلای شي یعني متولي او نور د شفعي دعوی د وقف له طرفه نشي کولای کما فی الدر المختار: و لا شفعة فی الوقف و لا له الخ و فی الشامي: و لا له: ای لا لقیمه و لا للموقوف علیه لعدم المالک الخ(۱) (رد المحتار ۱۴۲/۵) فقط

د وقف جائیداد له طرفه یا په وقف جائیداد شفعه کول صحیح نه دي

سوال: (۲۱) په وقف شوي یا وقف شوي له طرفه شفعه کیدلای شي او کنه؟ یعني که متولي د موقوفه جائیداد په جار باندي شفعه وکړي نو شرعًا جائز دي که منع؟ مونږ ته معلوم شوي دي چي ناجائز دي که جائز وي نو د حوالي سره بې راولیږئ (۱۳۳۷/۸۳۴هـ)

ځواب: د وقف له طرفه او پر وقف باندي شفعه نشي کیدلای یعني متولي د وقف د وقف له طرفه دعوی د شفعي نشي کولای او نه پر وقف باندي د چا د شفعي دعوی اوریدل کیدلای شي کذا فی الدر المختار. (۲) فقط

سوال: (۲۲) یو سړي خپل جایداد وقف کړی او د وقف هر متولي ته د عارضې کولو او جواب کولو او نور اختیارات ورکړو نو دا سړی د وقف د متولي په حیث د شفعي د دعوی حق شرعًا لري او کنه؟ کله چي ده ته وقف کونکي د هرډول عارضه کولو او نورو حق ورکړی دی او داغه راز دغه سړی د متولي د حیث څخه پرته

---

(۱) الدر مع الشامي ۱۵۳/۵ کتاب الشفعة مطلب فی الکلام علی الشفعة فی البناء فی نحو الارض المحتکرة. ط رشیدیه

(۲) و لا شفعة فی الوقف و لا له و فی الشامي: و لا له: ای لا لقیمه و لا للموقوف علیه لعدم الملک الخ(الدر و الشامي ۱۵۳/۵ کتاب الشفعة مطلب فی الکلام علی الشفعة فی البناء فی نحو الارض المحتکرة. ط رشیدیه)

د ځان په اعتبار حق د شفعي لري او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۵۷۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د وقف متولي ته حق د شفعي په هیڅ حیثیت هم نشته ځکه چي دا د ملکیت د حق سره خاص دی په کومو شیانو کي چي ملکیت نه وي هلته حق د شفعي هم نه وي ښکاره ده چي د وقف کوم مالک نه وي نو که څه هم وقف کونکی د وقف متولي ته هر ډول اختیار ورکړی وي لیکن تر دغه اختیار لاندي دی د کوم داسي حق مالک نشي کیدلای د کوم چي شرعًا منع وي وقف چي کله د چا ملک نه دی نو بیا د ده په وجه چا ته حق د شفعي ځنګه ورکول کیدلای شي په در مختار کي راغلي دي: و اما اذا بیع لجواره او کان بعض المبیع ملکا و بعضه وقفا و بیع الملک فلا شفعة للوقف و قال فی الشامي: حاصله انه لا شفعة له لا بجوار و لا بشرکة فهو تصریح بالقسمین(۱) (شامي ۱۴۲/۵) و قال فی البحر: و انما تجب (الشفعة) لحق الملک فی الاراضی حتی لو بیعت دار بجنبها دار الوقف فلا شفعه للواقف و لا اللمتولی لعدم الملک کذا فی المحیط وغیره (البحر الرائق ۱۳۸/۸) و قال ایضا: و فی المحیط وغیره ما لا یجوز بیعه فی العقارات کالاوقاف و الحانوت المسبل فلا شفعة فی ذلک الخ(۲) (ایضا ص: ۱۳۸) په مذکوره عبارتونو کي څرګندونه ده چي په اوقافو کي هیڅ ډول هم حق د شفعي نه وقف کونکي ته شته او نه متولي ته فقط و الله تعالی اعلم

د مندر په وجه هندوان حق د شفعي نلري

سوال: (۲۳) زید یوه ټوټه خپله ځمکه پر مسلمان عمر خرڅه کړه خو د هندوانو مندر و دغه ځمکه ته نژدې دی ځکه هندوان د شفعي دعوی په کوي دوی غواړي چي دغه ځمکه هم و مندر ته وقف کړي په داسي صورت کي د هندوانو شفعه کول ځنګه دي؟ او د وقف مندر له طرفه شرعًا شفعه کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۴-۲۳/۸۲۵هـ)

ځواب: د مندر په وجه هندوان حق د شفعي نلري ځکه چي مندر د چا ملک نه دی په شامي

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۱۵۳/۵ کتاب الشفعة مطلب فی الکلام علی الشفعة فی البناء الخ قبیل باب طلب الشفعة. ط رشیدیه

(۲) البحر الرائق ۲۵۰/۹ کتاب الشفعة، باب ما یجب فیه الشفعة و ما لا یجب

کي راغلي دي: قال في التجريد: ما لا يجوز بيعه من العقار كالاوقاف لا شفعة في شيء من ذلك عند من يرى جواز بيع الوقف ثم قال: لا شفعة في الوقف و لا بجواره انتهى نقله الرملي(۱) نو د هندوانو دعوی ته په دغه صورت کي اعتبار نشته. فقط

په شفعه کي مسلمان او نامسلمان برابر دی

سوال: (۲۴) که هندو بائع او مسلمان مشتري وي او شفیع مسلمان وي نو شرعًا شفعه کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۸۷۹هـ)

ځواب: په دغه صورت کي مسلمان د شفعي حق لري ځکه چي په شفعه کي د کفارو حکم د مسلمانانو په رنګه دی د الاشباه و النظائر په احکام الذمی کي راغلي دي: حکمه حکم المسلمين الا في مسائل(۲) و في الدر المختار: و ياخذ بقيمتها ... لو كان الشفيع مسلما الخ(۳) فقط

که خاوند و ښځي ته په مهر کي سرای ورکړي په هغه د شفعي دعوی کیدلای شي

سوال: (۲۵) د زيد نکاح د هندې سره په څلور زره روپۍ وشوه زيد په نيم مهر کي خپل نامنقوله جائيداد و ښځي ته هبه کړی عمر د زيد شريک په دغه جائيداد شفعه کول غواړي آيا شفعه کيدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۴۹۲هـ)

ځواب: په دغه صورت کي شفعه کيدلای شي ځکه چي د زيد نکاح د هندې سره په څلور

---

(۱) رد المحتار ۱۹۳/۵ كتاب الشفعة مطلب في الكلام على الشفعة في البناء في نحو الارض المحتكرة. ط رشيديه

(۲) حكمه حكم المسلمين الا انه لا يؤمر بالعبادات و لا تصح منه و لا يصح تيممه و يصح وضوءه و غسله الخ(الاشباه و النظائر ۸۳/۳-۸٤ الفن الثالث و هو في الجمع و الفرق احكام الذمي المطبوعة: ادارة القرآن و العلوم الاسلامية، كراتشي باكستان)

(۳) الدر المختار مع حاشية ابن عابدين ۱۵۸/۵ كتاب الشفعة باب طلب الشفعة مطلب: طلب عند القاضي قبل طلب الاشهاد بطلت. ط رشيديه

زره روپۍ وشوه بیا زید د نیم مهر په بدل خپل جائیداد خرڅ کړی لهذا په دغه صورت کي شفعه کیدلای شي او عمر شریک ته حق د شفعي شته په البحر الرائق کي راغلي دي: بخلاف ما لو باعها العقار بمهر المثل او بالمسمی عند العقد او بعده حیث تجب فیه الشفعة لانه مبادلة مال بمال لان ما اعطاه من العقار بدل عما فی ذمته من المهر. (۱) فقط

په عوض د جائیداد هبه کول شفعه نه ساقطوي

سوال: (۲۶) زید خپل جائیداد و عمر ته د روپیو په بدل هبه کړی تر څو زما له مرګ وروسته زما شرعي وارثانو ته واک نشي پاته څکه چي د بیع کولو په صورت شرعي وارثان د شفعي په وسیله دغه جائیداد اخلي دا هبه ده که بیع؟ (۱۳۴۲/۵۵۳هـ)

ځواب: دا صورت د بیع دی لهذا شفعه پکي کیدلای شي. فقط

په رهن شفعه نه کیږي

سوال: (۲۷) زید و بکر ته یو سرای په ګرو (رهن) ورکړی چي د عمر د سرای و څنګ ته دی او بکر د زید سره لیک وکړی چي تر شپیتو کلونو پوري به راخخه نه اخلي په دې وجه چي عمر د شفعي دعوی ونکړای شي په دغه صورت کي عمر د شفعي حق لري او کنه؟ (۱۳۴۱/۹۱۹هـ)

ځواب: په رهن کي شفعه نه کیږي لهذا په دغه صورت کي و شفیع ته حق د شفعي نشته

بېله عوض هبه کي شفعه ثابته نه ده

سوال: (۲۸) بي بي کلثومي خپل د پنځه زرو روپیو جائیداد و خپل سکه ورور محمد هادي ته بېله عوضه هبه کړی قبضه یې ورکړه او په حکومت کي رسمي کړی د دې د خاوند ورونو د شفعي دعوی څکه ورباندي وکړه چي محمد هادي چي کوم تاریخ یعني ۳۰- جولائی ۴۳ء د هبې پاڼه لیکلې ده په هم هغه تاریخ د دې د نان او نفقي په اړه اووه نیمي روپۍ د میاشتي، نیوي (۹۰) روپۍ د کاله ورکولو د اقرار پاڼه

---

(۱) البحر الرائق ۲۵۱/۹ کتاب الشفعة باب ما یجب فیه الشفعة و ما لا یجب.

ليکل شوې وه ځکه دوی وايي چي دا هبه نه ده بلکه بيع ده نو مونږ حق د شفعي لرو دا صحيح دی او کنه؟ دوی وايي چي وو نيمي روپۍ د مياشتي مونږ درکوو جائيداد مونږ ته راکړه. (۱۳۴۲/۲۷۰۱هـ)

ځواب: دا نه بيع ده او نه د بيع په حکم کي ده لهذا د شفعي دعوی په دې صحيح نه ده ځکه چي لومړی خو په هبه کي د بدله عوض څرګند نه کړې ده له دې څخه پرته فقهاء دا هم فرمايلي دي چي که د هبې کولو پر مهال د عوض تصريح نه وي او وروسته موهوب له د عوض له لاري څخه شي و هبه کونکي ته ورکړي نو هغه حق د رجوع نه ساقطوي او داسي هبه د بيع په حکم نه ګرځي او حق د شفعي پکي ثابت نه دی په در مختار کي راغلي دي: تنبيه: نقل فى المجتبى انه يشترط فى العوض ان يكون مشروطا فى عقد الهبة اما اذا عوضه بعده فلا الخ و فى الشامي: قال اصحابنا: ان العوض الذى يسقط به الرجوع ما شرط فى العقد فاما اذا عوضه بعد العقد لم يسقط الرجوع لانه غير مستحق على الموهوب له (اى ان قال) و ليس كذلک اذا شرط فى العقد لانه يوجب ان يصير حكم العقد حكم البيع و يتعلق به الشفعة و يرد بالعيب الخ(۱) فقط

په بيع فاسد کي شفعه ثابته ده او کنه؟

سوال: (۲۹) په بيع فاسد کي استحقاق د شفعي کيدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۳۲۷هـ)

ځواب: په فاسد بيع کي چي تر څو کومه خبره مانع عن الفسخ پيدا شوې نه وي شفعه نشته د فسخ د حق له ساقطيدو وروسته شفعه ثابته ده کما فى الدر المختار: او بيعت الدرا بيعًا فاسدًا و لم يسقط فسخه فان سقط حق فسخه کان بنى المشترى فيها تثبت الشفعة کما مر.(۲)

د جوار شفعه ساقطولو حيله

سوال: (۳۰) يو سړي د کور و څنګ ته سرای په مشتري او بائع د شفعي دعوی وکړه د مشفوعه سرای غربي دېوال او د شفعه کونکي د سرای شرقي دېوال سره نښتي دي مګر د بيع په پانه کي مشتري

---

(۱) الدر المختار و الشامي ٥٧٧/٤ كتاب الهبة باب الرجوع فى الهبة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ١٦٧/٥ كتاب الشفعة باب ما تثبت هى فيه او لا. ط رشيديه

د مشفوعه سرای غربي دېوال له بیع څخه مستثنی لیکلی دی او ځمکه چي وربانديي دېوال ولاړ دی هغه یې مستثنی نه ده لیکلې د دعوی په جواب کي مشتري دا ویلي دي: غربي دېوال مي ځکه له بیع څخه مستثنی کړی دی چي ما مدعی علیه چي کوم ځای رانیولی دی په هغه د شفعي دعوی ونشي او داسي کول شرعًا جائز دي تر دېوال لاندي ځمکه مستثنی کړې نه ده صرف د دېوال استثناء یې کړې ده او تر او سه خرڅ کړی سرای تیران پر دغه مستثنی کړېي دېوال پراته دي او دا څالاکي یې کړې ده چي یو نوی دیوال بېله بنیاده صرف د نمایش لپاره جوړ کړی دی نو داسي څالاکي شرعًا د مشتري جائز کېدلای شي او کنه؟ او د دغه څالاکۍ او بد نیتۍ په سبب شفیع پخپله دعوی کي بریالی کېدلای شي او کنه؟ (۱۳۷/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي و ان باع رجل عقارًا الا ذراعًا مثلاً فی جانب حد الشفیع فلا شفعة لعدم الاتصال الخ(۱) له دغه رِوایت څخه معلوم شو چي په مسئوله صورت کي د شفیع شفعه ساقطه شوه ځکه چي د شفیع د طرف دېوال نه خرڅوي د دې مطلب دا دی چي تر دېوال لاندي ځمکي سره یې نه دی خرڅ کړی او د دې استثناء یې کړې ده ځکه چي ښکاره ده چي دېوال په ځمکه کي دننه پوري وي او عرفًا چي کله څوک دیوال حد مقرر کړي او دا ووایي چي: حقی الی هذا الجدار او بعت هذه الدار الی هذا الجدار نو هغه دېوال تر هغه لاندي ځمکي سره خارج شي و هذا ظاهر لاخفاء فیه نو د ځمکي د استثناء کولو صراحةً ضرورت نشته کله چي د شفیع د جانب دېوال مستثنی کړي فقط

سوال: (۳۱) یو سړي سرای رانیوی د همسایه د شفعي په خیال یې د همسایه و طرف ته څه برخه د ځمکي له بیع څخه خارجه کړه نو شفعه باطله شوه او کنه؟ (۲۵۸/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي په دې سره د شفیع شفعه یعني د جار ساقطیږي نو د جار دعوی شرعًا قابله د سماعت نه ده قال فی الدر المختار: و ان باع رجل عقارًا الا ذراعًا مثلاً فی جانب حد الشفیع فلا شفعة لعدم الاتصال الخ(در مختار ملخصًا) و فی الشامي: قوله: (الا ذراعًا) ای مقدار عرض ذراع او شبر او اصبع و طوله تمام مایلاصق دار الشفیع الخ.(۲) فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۱۷۰/۵ کتاب الشفعة باب ما یبطلها. ط رشیدیه

(۲) الدر و رد المحتار ۱۷۱/۵ کتاب الشفعة باب ما یبطلها. ط رشیدیه

سوال: (۳۲) یو سړي خپل سرای پر بل چا خرڅ کړی او د شفیع د حق باطلولو لپاره هغه برخه او دېوال چي د شفیع د سرای سره نښتی دی له بیع څخه مستثنی کړو نو د جار ملاصق کیدو په صورت کي په مذکوره حالت کي شفعه باطلیږي او کنه؟ (۲۷۲۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و ان باع رجل عقارًا الا ذراعًا مثلاً فی جانب حد الشفیع فلا شفعة لعدم الاتصال الخ و کذا لا شفعة لو وهب هذا القدر للمشتری و قبضه الخ(۱) نو معلوم شو چي فقهاء دغه حیله د شفعي د اسقاط لیکلې ده چي یو ذراع یا یوه لوېشت مثلاً د شفیع و طرف ته خرڅ نکړي هغه داغسي و مشتري ته هبه کړي نو د شفیع حق د شفعي ساقط دی یعني شفعه د جوار ساقطیږي او په دغه صورت کي شفعه بالجوار ده لهذا که بائع د دېوال سره تر هغه لاندي ځمکي و مشتري ته هبه کړي او له بیع څخه خارج کړي نو د جار شفعه باطله شوه. فقط

د دوو ځمکو تر منځ که حکومتي پوله وي نو شفعه د جوار ثابتیږي او کنه؟

سوال: (۳۳) دوې ځمکي سره متصلي او ملحقي دي چي پکي یوه ځمکه د یو ځای او بله ځمکه د بل ځای مګر د دواړو اتصال او الحاق راغلی دی په منځ کي صرف یو سرحد (پوله) ده د حکومت له طرفه د انتظام لپاره له دغه ځمکو څخه یوه ځمکه پر یو دربیم سړي خرڅه شوه نو په داسي صورت کي شرعًا د متصلي ځمکي مالک حق د شفعي لري؟ آیا د ځمکو صرف په بیلو ځایونو کي شمېر کیدل پر شفعه اثر اچوي؟ (۷۲۰/۱۳۳۹هـ)

ځواب: کومه ځمکه چي د بل سره ملحقه ده که څه هم یوه ځمکه د یو ځای او بله ځمکه د بل ځای وي که په دوی کي یوه ځمکه خرڅه شي نو و ګنګ ته ځمکي مالک حق د شفعي لري ځکه چي د جوار د شفعي لپاره د ځمکو اتصال ضروري دی که څه هم هغه د جلا کلیو وي لیکن حسي اتصال د داسي ځمکو تر منځ ضروري دی نو که په منځ کي حکومتي پوله ده چي د هغه په وجه یو ځای هم د دواړو ځمکو تر منځ اتصال نه دی راغلی او نه کومه بله وجه د شفعي مثلاً شرکت فی الشرب

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۱۷۰ کتاب الشفعة باب ما یبطلها. ط رشیدیه

وي نو حق د شفعي نه حاصلیږي په در مختار کي راغلي دي: ثم لجار ملاصق: و فی الشامي: و الملاصق من جانب واحد و لو بشبر کالملاصق من ثلثة جوانب فهما سواء الخ. (۱) فقط

د شفعي حق نه درلودلو باوجود که مشتري و شفیع ته جائیداد ورکړي

سوال: (۳۴) یو سړي خپل جائیداد په پنځه سوه په دې شرط خرڅ کړی چي که ماله ساقط الملکیت څخه لاس وانه خیستی یا چا د شفعي دعوی وکړه نو سل روپۍ به مشتري ته بیرته ورکوم لیکن د بیع پاڼه به د پنځوسو په حکومت کي رسمي وي د بائع یو د اکا زوی چي جائیداد او نور یې جلا ؤ مګر د نا آبادي ځمکي ځیني برخي او ځیني جهتونه مشترک ؤ دی چي کله په دې خبر شو چي مبیع په داسي شرط شوې او د پنځوسو پاڼه په حکومت کي رسمي شوې ده نو په خوله یې دا نه دي ویل چي زه شفعه کوم لنډه دا چي شرعًا ده ته کوم استحقاق د شفعي نه ؤ مګر ده قانونًا د عوی د شفعي وکړه سره د دې خبري چي قیمتي یې زیات لیکلی دی وروسته یو دربیم فیصله و دواړو ته وروکړه او نژدې په څلور سوه روپۍ یې دغه جائیداد و شفیع ته ور واخیستی شرعًا د داسي بیع څه حکم دی؟ د شفیع لپاره د دغه جائیداد راګرځول یا بیع او نور کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۳۲۷هـ)

ځواب: کله چي په صلح کي و شفیع ته دغه جائیداد په څلور سوه مشتري ورکړی نو شفیع مالک وګرځیدی تصرفات بیع او نور کولای شي که څه هم حق د شفعي د شفیع نه وي باقي مګر د صلح په توګه چي کومه معامله د شفیع او مشتري تر منځ وشوه هغه صحیح شوه او له مشتري څخه رانیونکي لپاره دا طیب دی کما صرح به الفقهاء و یطیب للمشتری منه لصحة عقده. (۲) (در مختار)

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۱۵۳/۵ کتاب الشفعة مطلب فی الکلام علی الشفعة فی البناء فی نحـو الارض المحتکرة. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۱٤٥/٤ کتاب البیوع، باب البیع الفاسد مطلب: البیع الفاسد لا یطیب لـه و یطیب للمشتری منه. ط رشیدیه

شفیع د خرڅ شوي سرای خرڅلاؤ په ګواهانو ثابتولو وروسته شفعه کولای شي

سوال: (۳۵) یو سړي غلام محمد په یو مکان د شفعي دعوی وکړه په سرای کي اوسیدونکي عبد الله وایي چي له او و اتو کلونو راهیسي دا سرای زما سره رهن دی ما رانیولی نه دی د رهن پانه هم راسره شته نصیر الدین د سرای مالک وایي چي ما دا سرای نه دی خرڅ کړی بلکه په ګرو (رهن) مي ورکړی دی غلام محمد وایي چي له رهن وروسته اوس یي خرڅ کړی دی زه ثبوت لرم او ګواهان راسره شته محکمه وایي چي اب که غلام محمد په ګواهانو د مکان رانیونه خرڅونه ثابته کړي نو مکان حاصلولای شي؟ (۲۵۳، ۱۳۳۵هـ)

ځواب: غلام محمد شفیع دا حق لري چي رانیول خرڅول ثابت کړي او شفعه وکړي

قال فی الدر المختار: سالہ عن الشراء هل اشتریت ام لا؟ فان اقربه او نکل عـن الـيمين الخ او برهن الشفیع قضی له بها الخ و فی رد المحتار: و قد کان انکر (المشتری) الشـراء فاقـام علیـه (الشفیع) البرهان به الخ. (۱) فقط و الله اعلم

---

(۱) الدر و الرد ۵/۱۵۸ کتاب الشفعة باب طلب الشفعة مطلب: طلب عند القاضي قبل طلب الاشـهاد بطلت. ط رشیدیه

کتاب المزارعة

د مزارعت بیان

د مزارعة د صحت شرطونه

سوال: (۱) ځمکه په مزارعة ورکول جائز ده او کنه؟ که جائز ده نو شرطونه څه دي؟ (۱۳۳۵/۳۲۸هـ)

ځواب: اقول و بالله التوفیق: د مزارعت په هکله مفتی به قول د صاحبینو دی او د صاحبین (امام ابو یوسف او امام محمد) رحمهما الله په نیزد د مزارعت صحیح کیدو اته شرطونه دي چي په در مختار کي بیان شوي دي له هغوی څخه دا هم دي چي د تخم بیان به کوي چي پر چا دی پر ځمکي وال که پر بزګر؟ قال فی الدر المختار: و لا تصح عند الامام لانها کقفیز الطحان، و عندهما تصح و به یفتی للحاجة و قیاسًا علی المضاربة بشروط ثمانیة الخ و ذکر رب البذر الخ(۱) ثم قال: و کذا صحت لو کان الارض و البذر لزید و البقر و العمل للآخر او الارض له و الباقی للآخر او العمل له و الباقی للآخر الخ(۲) (در مختار کتاب المزارعة) او د همدې د رسم المفتی په بیان کي راغلي دي: اما العلامات للافتاء فقوله: و علیه الفتوی و به یفتی و به ناخذ الخ(۳) او په همدغه کتاب کي راغلي دي: و اما نحن فعلینا

---

(۱) الدر مع رد المحتار ۱۹۳/۵ اوائل کتاب المزارعة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۱۹۵/۵ اوائل کتاب المزارعة. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الشامي ۵۲/۱ مقدمة، مطلب: اذا تعارض التصحیح. ط رشیدیه

اتباع ما رجحوه و ما صححوه كما لو افتوا في حياتهم(١) له دغه عبارتونو څخه څرګند دي چي مونږ بايد پر هم هغه قول فتوى ورکړو کوم ته چي مشائخو مفتى به ء بللي دي. فقط

د مزارعت صحيح کيدو لپاره په حاصل کي شرکت ضروري دى

سوال:(۲) په جريب کي به لس منه غله راکوي په داسي طريقه ځمکه و بزګر ته ورکول جائز ده او کنه؟

ځواب: دا صورت جائز نه دى بلکه د جواز صورت دا دى چي مشترکه برخه لکه ثلث نصف او نور وي. (۲) (در مختار)

سوال:(۳) که څوک و چا ته ځمکه په دې شرط ورکړي چي ماته به دوه منه يا څلور منه غله راکوي زيات وب ستا ده او که کمه شوه ماته به راپوره کوي دا معامله جائز ده او کنه؟(۱۵۵۸/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د مزارعت دا ډول معامله کول صحيح نه ده بلکه په مزارعت کي بايد حصه مشترکه وي مثلاً ثلث يا ربع يا نصف او نور چي څومره غله وشي هغه به په مقرر شوي حساب دواړه تقسيموي.

سوال:(۴) يو سړي د خپلي ځمکي په اړه بل چاته وويل چي ته وکره او که حاصل وي او که نه وي ته ماته دومره غله مثلاً لس منه يا يوولس منه راکړه نوره ته واخله او ځيني داسي کوي چي که پيدا وار وي نو رابې کړه کني مه يې راکوه دا صورت جائز دى او کنه؟(۱۳۳۸/۲۵۲هـ)

ځواب: دا صورت صحيح نه دى ځکه چي په مزارعت کي داسي شرطو لګول چي لس يا يوولس منه زه اخلم نور ته واخله په هر حال کي فاسد دى که څه حاصل وي او که نه وي د مزارعت د صحيح کيدلو لپاره د نورو شرطونو سره دا هم ضروري دي چي ګټه به مشترکه وي لکه نصف يا ثلث يا ربع او نور.

د مزارعت يو جائز صورت

سوال:(۵) يو سړي خپله ځمکه د او بو سره و بل سړي ته په څلورمه يا پنځمه برخه ورکوي او

---

(١) الدر المختار مع حاشية ابن عابدين ٥٧/١ مقدمة مطلب فى طبقات الفقهاء. ط رشيديه

(٢) و يشترط الشركة فى الخارج ثم فرع على الاخير بقوله: فتبطل ان شرط لاحدهما قفزان مسماة او ما يخرج من موضع معين (الدر المختار مع الشامي ١٩٤/٥ كتاب المزارعة. ط رشيديه)

فان شرط لاحدهما قفزانا مسماة فهي باطلة لان به تنقطع الشركة لان الارض عساها لا تخرج الا هذا القدر (الهداية ٤٢٦/٤ كتاب المزارعة)

د ځمکي مالک له ځمکي او اوبو څخه پرته بل کوم شي و عامل ته نه ورکوي تخم د عامل وي دا صورت جائز دی او کنه؟(۱۳۰۱ ۳۳ ۱۳۳۴ھ)

ځواب: دا صورت د مزارعة صحيح دی کما فی الدر المختار: و كذا صحت لو كان الارض و البذر لزيد و البقر و العمل لآخر او الارض له و الباقی للآخر الخ(۱)

کښت په حصه ورکول

سوال: (۲) په حصه کښت ورکول چي نيم حاصل به د ځمکي د مالک وي او نيم د بزگر جائز دی او کنه؟(۹۰۸ ۱۳۳۹ھ)

ځواب: که د مزارعت د شرطونو پکي خيال وساتي نو صحيح دی. فقط

د مزارعت څو فاسد صورتونه

سوال: (۷) زيد له ځمکي وال څخه يوه ځمکه په نغدو واخيسته بيا يې د عمر سره داسي شراکت وکړی چي عمره! تخم او انبار پر تا دی نور عمل، غوايه او نور ټول پر ما دي په پيداوار کي نيم په نيمه شريکان يو داسي صورت شرعًا څنګه دی؟(۲۰۴/ ۱۳۳۷ھ)

ځواب: په داسي صورت کي و مزارعت ته فقهاء فاسد او باطل ويلي دي و کما فی الدر المختار و بطلت فی اربعة اوجه: لو كان الارض و البقر لزيد او البقر و البذر له و الآخران للآخر او البقر او البذر له و الباقی للآخر الخ(۲) دغه آخري صورت يعني: او البذر له و الباقی للآخر هغه صورت دی چي په سوال کي ليکل شوی دی لهذا دا هم باطل دی.

سوال: (۸) غوايه. ځمکه او څاه د اوبو لپاره د زيد دي عمر دا ټول ورشريک دی چي د ځمکي د اوبو د قيمت او غوايو څخه سيوا ټول مصرف يعني تخم، مزدوري او نور ټول خرڅ پر عمر دی

---

(۱) الدر مع الرد ۵/ ۱۹۵ اوائل کتاب المزارعة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۵/ ۱۹۵ کتاب المزارعة. ط رشيديه

عمر به په حاصل کي يوه برخه اخلي او زيد به دوي اخلي دا صورت د شراکت جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۱۲۷ھ)

ځواب: دا صورت د مزارعت صحيح نه دی په در مختار کي راغلي دي: و كذا صحت لو كان الارض و البذر لزيد و البقر و العمل للآخر او الارض له و الباقى للآخر او العمل له و الباقي للآخر فهذه الثلاثة جائزة و بطلت فى اربعة اوجه لو كان الارض و البقر لزيد. او البقر و البذر له. و الآخران للآخر. او البقر و البذر له و الباقي للآخر الخ(۱) (در مختار)

سوال: (۹) يو سړي ځمکه په مزارعت ورکړې ده په دې شرط چي ځوک ځمکه کري هغه به زما نور کارونه هم کوي داسي جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۲۱۸ھ)

ځواب: په داسي شرط مزارعت فاسد يږي.

په مزارعت کي د مقتضاء عقد خلاف شرط لګول

سوال: (۱۰) ما يوه ځمکه په دريمه و بزګرانو ته ورکړې ده له دريمي څخه سوا په من کي يو سير غله اخيستل او ورکول څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۱۰۱۲ھ)

ځواب: دا ډول ځمکه په مزارعت ورکول جائز دي په پيداوار چي کله په مشترکه توګه شرکت دی او د شراکت برخي متعين کړلي شوي دي نو بيا په دې کي د عدم جواز کومه وجه نشته ليکن له دې وروسته دوهم شرط يعني په من کي يو سير غله نورد مقررول د عقد د مقتضاء خلاف دی جائز نه دی او داسي شرط معامله ناجائز ګرځوي فتبطل ان شرط لاحدهما قفزان مسماة او ما يخرج من موضع معين او رفع رب البذر بذره الخ(۲) (در مختار)

په مزارعت کي د غلي مقدار په من او سير مقررول صحيح نه دی

سوال: (۱۱) عمر و زيد ته وويل چي پنځه منه غنم د کاله راکوه او زمونږ ځمکه

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۹۵/۵ كتاب المزارعة. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۱۹٤/۵ كتاب المزارعة. ط رشيديه

ماتوه او له پنځه منه سیوا چي څو مره زیاتوب غله وي ټوله ته اخله دا سي څنګه دي؟
(۲۱۵۴/ ۱۳۳۷ه)

ځواب: د ځمکي معامله په دوه ډوله شرعًا صحیح ده:

یو دا چي په مزارعت و چا ته ځمکه ورکړي د دې صورت دا دی چي بزګر ته ځمکه ورکړي چي ته ماته کره وې کره په حاصل کي نصف یا ثلث زما نور ستا. (۱)

او دوهم صورت د اجارې دی چي د یو جریب پر سر ماته دومره روپۍ راکړه یا د ټولي ځمکي ماته دومره روپۍ راکړه او د ځمکي حاصل ستا دی د اجارې په دغه صورت کي و ده ته اختیار دی چي پخپله کري که و چاته په اجاره ورکوي یا هیڅ یکي نه کوي په هر حال کي به مالک ته مقرري کړي روپۍ ورکوي(۲) او په لومړي صورت کي غله وشوه نو مالک ته به څومره برخه نصف یا ثلث چي د ده وي هغه به ورکړي نوره به پخپله ور واخلي او که څه حاصل ونه شو نو هیڅ شی نه ورکول کیږي د مزارعت په دغه صورت کي د غلې مقدار په من او سیر سره مقررول صحیح نه دی په دې سره مزارعة فاسدیږي. (۳) فقط

د قرض حسن په شرط ځمکه په مزارعت ورکول

سوال: (۱۲) زید خپله ځمکه و عمر ته په دې شرط په مزارعت ورکوي چي ماته زر روپۍ د قرض حسن په توګه راکړه او د غلې څلورمه برخه مقرروي او دا شرط بیانوي چي کله مي ستا روپۍ درکړې

---

(۱) هی عقد علی الزرع ببعض الخارج و لا تصح عند الامام و عندهما تصح و به یفتی بشروط ثمانیة الخ(تنویر الابصار مع الشامي ۱۹۳/۵ اوائل کتاب المزارعة. ط رشیدیه)

(۲) و تصح اجارة ارض للزراعة مع بیان ما یزرع فیها او قال: علی ان ازرع فیها ما اشاء کي لا تقع المنازعة و الا فی فاسدة للجهالة و تنقلب صحیحة بزرعها و یجب المسمی و فیه ایضا بعد اسطر: حتی تلزم الاجرة بالتسلیم امکن زراعتها ام لا(الدر المختار مع رد المحتار ۲۰/۵ کتاب الاجارة الباب الاول باب ما یجوز من الاجارة و ما یکون خلافا فیها. ط رشیدیه)

(۳) و بشرط الشرکة فی الخارج ثم فرع علی الاخیر بقوله: فتبطل ان شرط لاحدهما قفزانا مسماة او ما یخرج من موضع معین(الدر المختار مع الشامي ۱۹٤/۵ کتاب المزارعة. ط رشیدیه) فان شرط لاحدهما قفزانا مسماة فهی باطلة لان به تنقطع الشرکة لان الارض عساها لا تخرج الا هذا القدر(الهدایة ٤۲٦/٤ کتاب المزارعة)

ځمکه د مزارعت بیرته درخخه اخلم او دلته ځمکه په نیمایه د مزارعت په توګه ورکول کیږي دا صورت جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۳۱۲۲ھ)

ځواب: که په دې کې هره یوه معامله له بلي ځخه بېله او جلا وي نو ښکاره ده چي هره یوه صحیح ده لیکن که قرض ورکونکی په دې شرط قرض ورکړي چي د ځمکي مالک به ماته ځمکه په کمه کرایه او برخه راکړي نو بیا د غه صورت تر "کل قرض جر نفعا فهو ربا" (۱) لاندي راځي ممنوع ګرځي. فقط

په مزارعت کي عشر پر چا دی؟

سوال: (۱۳) په مزارعت کي عشر په کوم حساب او باسو د ټول پیداوار که د خپلي برخي؟ (۱۳۴۵/۱۱۷۹ھ)

ځواب: فتوی پر دې ده چي چیري عشر واجب دی هلته دي د ځمکي مالک د خپلي برخي عشر ورکړي او بزګر د خپلي برخي.

مسلمان د هندو ځمکه په بزګری اخیستلای شي

سوال: (۱۴) د هندو ځمکه مسلمان په دې شرط کري چي په پیداوار کي به نیمه برخه د ځمکي مالک ته رسوي او نیمه برخه به پخپله اخلي په دار الحرب کي داسي زراعت جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۱۸۵ھ)

ځواب: قال في الدر المختار في كتاب المزارعة: و عندهما تصح و به يفتى للحاجة و قياسـا على المضاربة بشروط ثمانيـة الخ (۲) نو معلوم شو چي د مفتی به قول سره سم مزارعت صحیح دی او د نصف نصف په شراکت مزارعت صحیح دی لکه چي په دغه صورت کي دي و اذا صحت فالخارج على الشرط الخ (۳) (د رمختار)

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د باب القرض سوال (۱۴) په جواب کي تېر شو.

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۱۹۳/۵ اوائل كتاب المزارعة. ط رشيديه

(۳) الدر مع الرد ۱۹۳/۵ كتاب المزارعة. ط رشيديه

بزګر خپل د کرنې حق نه رهن کولای او نه خرڅولای شي

سوال: (۱۵) کښتګر دوه قسمه وي:

یو دا چي کښتګر ته زیاتره حقوق حاصل وي مثلاً خپل حق د کرني په رهن ورکول خرڅول او نور د ځمکي و مالک ته تاکل مالیې ورکولو وروسته پر ده کوم زیاتوب کرایه نشته.

دوهم قسم دا چي کښتګر خپل حق د کرني نه چاته په ګرو (رهن) ورکولای شي نه خرڅولای شي او د ځمکي مالک ته زیاتوب کرایه هم ورکوي په دې کي کوم قسم جائز دی او کوم ناجائز؟ (۴۲۸/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: لومړی قسم شرعًا جائز نه دی ځکه چي کښتګر ته حق د کرني خرڅولو او په رهن ورکولو هیڅ اختیار نشته.

او دوهم قسم چي د ځمکي د مالک په رضا او اجازه کښتګر کري او مقرره کرایه هم ورکوي صحیح دی ګو دا اجاره ده چي په مقرر محصول باندي د ځمکي د مالک په خوښه مستاجر یعني کښتګر دغه ځمکه کري. فقط

د ځمکي د مالک بې اجازه په ځمکه کي د کښتګر تصرف کول

سوال: (۱۲) کوم کښتګر چي یو ځمکه تر دوولسو کلونو وکري د ده لپاره بې د مالک له خوښي په ځمکه کي تصرف کول شرعًا صحیح دی او کنه؟ (۳۲۴/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د کښتګر لپاره داسي کول جائز نه دي ځکه چي موروثیت شرعًا باطل دی و کښتګر ته شرعًا هیڅ حق نشته چي دی جبرًا بې د مالک لهخوښي په ځمکه کي تصرف وکړي.

له تقسیم څخه مخکي په پیداوار کي تصرف کول

سوال: (۱۷) کوم بزګر چي د ځمکي له مالک څخه ځمکه په مزارعت اخیستې وي هغه د ځمکي د مالک بې اجازته یا د ځمکي مالک د ده بې اجازته په پیداوار کي تصرف کول جائز دي؟ (۸۲۰/۱۳۳۸هـ)

ځواب: بېله تقسیمه د چا لپاره تصرف کول صحیح نه دی وروسته تر تقسیم هر یو پخپله برخه کي

تصرف کولای شي او که له تقسیم څخه مخکي چا کوم شی استعمال کړی نو نبه به حساب کي په خان پسي وشمیري فقط

له دوولسو کلونو وروسته کښتګر د ملکیت دعوی وکړه

سوال: (۱۸) څه فرمایي علماء د دین په دغه مسئله کي چي په مغربي بنګال کي دري ډوله ځمکي وي لومړی لاخراج دوهمه ایمه(۱) دریمه آباني دغه دري سره ځمکي که و بزګر ته ورکول شي او تر دوولسو کلونو پوري هغه ځمکه د ده سره وي نو تر دوولسو کلونو وروسته بزګر د ملکیت دعوی کوي اپ د کښتګر دغه دعوی کول شرعاً صحیح ده او کنه؟ بینوا توجروا (۱۹۱۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: لومړی دواړه قسمه ځمکي د ځمکي د مالک ملکیني دي د کښتګر د ملکیت دعوی په کول صحیح نه دي د اجارې تر مودې وروسته سره د دې چي د ځمکي مالک يې ځني غواړي بیا هم نه ورکول جائز نه دي او بې د مالک له خوښي کښت او نور پر کول ظلم دی قال علیه الصلاة و السلام: "لیس لعرق ظالم حق" الحدیث رواه احمد و الترمذی و غیرهما(۲) قال فی اللمعات: ای من غرس فی ملک غیره او زرع فیه فلصاحب الملک قلعه مجانا الخ(۳) پاته شوه دریم قسم ځمکه هغه هم د ځمکي د مالک ملکیني ده د بزګر لپاره د ملکیت دعوی وربآندي کول صحیح نه دي او مخالفي قضیي کول صحیح نه دي تر څو چي زراعت او نور کوي د اصلي مالک په اجازه یعني د ځمکي د مالک په اجازه دي کوي بې د مالک له خوښي او رضا پکي تصرف کولو هم هغه حکم دی کوم چي د لومړي او دوهم قسم ځمکو دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) ایمه: هغه ځمکه چي د پاچا له طرفه و علماء او فقهاء ته د انعام په توګه ورکول شي(فیروز اللغات)

(۲) عن سعید بن زید رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: من احی ارضا میتة فهی له و لیس لعرق ظالم حق رواه احمد و الترمذی و ابو داؤد (مشکاة المصابیح ص: ۲۵۵ کتاب البیوع باب الغصب و العاریة و جامع الترمذی ۱/۲۵۶ ابواب الاحکام باب ما ذکر فی احیا ارض الموات)

(۳) حاشیة علی المشکاة تحت قوله "لعرق ظالم" ص: ۲۵۵ رقم الحاشیة: ۶ کتاب البیوع باب الغصب و العاریة.

کتاب الذبائح و الصید

د ذبائح او ښکار بیان

د ذبح شرطونه او آداب

سوال: (۱) په ذبح کي څو فرضونه او څو سنتونه دي؟ (۱۳۴۱/۲۴۱۷هـ)

ځواب: په ذبح کي د څلورو رګونو یا پکي دزیاترو پرې کېدل او په بسم الله الله اکبر سره حلالول د مسلمان شرط او فرض دی نور شیان سنن او آداب دي.

سوال: (۲) د مسلمان په لاس حیوان حلالولو لپاره کومي کومي خبري ضروري دي او له کومو خبرو څخه احتیاط کول پکار دی؟ او فرض، واجب، سنت او مستحب یې څه دي؟ او د حلالولو طریقه څه ده؟ پر کوم ځای چاړه ور اېښودل پکار دي؟ د ذبح طریقه او شرطونه راته ولیکي او صرف د حلالونکي مسلمان کېدل ضروري دي که ورسره نیونکي هم؟ که د حیوان نیونکي هندو وي نو ځیني احتیاط کونکي خلک دې ته ناجائز وايي او د نیونکي لپاره هم د بسم الله الله اکبر ویل ضروري بولي، په دې صورت کي چي کوم شرعي حکم وي راته ولیکي. (۵۲۳/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: د غاړي هغه رګونه چي په پرې کېدو یې حیوان حلالیږي څلور دي: حلقوم، مری او ودجان، ودجان دوه رګه دي چي د حلقوم او مري واړخو ته وي دا د ویني و تلو رګونه دي او حلقوم د ساه اخیستلو او مری د خوراک څښاک دی په دغه څلورو کي

که زیاتره یعني درې هم پرې شي ذبیحه حلاله ده هر درې چې وي کذا فی الدر المختار(۱) او طریقه د ذبح معلومه او معروفه ده او ذابح باید مسلمان وي د الله په نوم یې ذبح کړي دا ضروري دي او د حیوان قبلې ته مخ کول(۲) او چاړه تېرول(۳) او نور دا سنت او مستحب دي مسلمان کیدل صرف د حلالونکي شرط دی او بسم الله الله اکبر ویل هم صرف د ذبح کونکي شرط دی که د حیوان پښې نیونکی کافر وي یا بسم الله الله اکبر نه وواېي او مسلمان حلالونکی یې وواېي نو ذبیحه حلاله ده په در مختار کي راغلي دي: و فیها تشترط التسمیة من الذابح الخ. (۴) فقط

سوال: (۳) د حیوان حلالولو باریکي مسئلې کومې دي؟(۱۳۳۸/۱۸۴۰هـ)

ځواب: د حیوان حلالولو مسئلې معروفي دي په هغو کي هیڅ خفا او باریکي نشته مسلمان ذبح کونکی وي او د الله په نوم یې ذبح کړي نو ذبیحه حلاله ده.

د ذبح پر مهال حیوان پر کوم اړخ پرې ایستل پکار دي

سوال: (۴) حلالونکی حیوان باید پر کوم اړخ د حلالولو لپاره پرې باسي؟

(۱۳۴۷-۴۲/۱۹۸۷هـ)

ځواب: حیوان دي د حلالولو پرمهال پر کیڼ اړخ مخ پر قبله پرې باسي. (۵)

---

(۱) و ذکاة الاختیار ذبح بین الحلق و اللبة... و عروقه الحلقوم... و هو مجری النفس علی الصحیح و المری هو مجری الطعام و الشراب و الودجان مجری الدم و حل المذبوح بقطع ای ثلاث منها اذ للاکثر حکم الکل(الدر المختار مع الشامي ۲۰۶/۵ اوائل کتاب الذبح. ط رشیدیه)

(۲) و کره ترک التوجه الی القبلة لمخالفته السنة (الدر المختار مع الشامي ۲۰۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۳) و ندب احداد شفرته قبل الاضجاع و کره بعده (الدر مع الرد ۲۰۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(٤) الدر المختار مع رد المحتار ۲۱۲/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۵) لیشد قوائمه و لیلقه علی شقه الایسر و لیوجهه لحو القبلة و یسم الله تعالی علیه و الذبح بما قلنا اسهل علی الحیوان و اقرب الی راحته (بدائع الصنائع ۱۸۸/٤ کتاب الذبائح و الصیود فصل فی بیان شرط حل الاکل فی الحیوان الماکول اما ما یستحب من الزکاة و ما یکره منها)

له ذبح څخه مخکې حیوان اوبول او ښکار چې اوبو ته راشي تک پر کول

سوال: (۵) خانګي حیوان چې حلال د دوی ذبح کول بې د اوبو او داني ورښکاره کولو صحیح دی او کنه؟ او ځنګلي حیوانان لکه وسۍ کله چې په ګرمۍ کې دا د اوبو څښلو لپاره راشوه شي تر اوسه لا اوبه نه وي څښلي چې ښکاري تک وربانديي دکړي داسي کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۴۹۲ﻫ)

ځواب: په روزل شویو حیوانانو کې غوره دا دي ي که تږي وي نو باید تر ذبح مخکې اوبه کړي لکه چې په قرباني کې کوي لیکن د وسۍ او نورو په ښکار کولو کې د دې خبري خیال ساتل ګران وي او ځکه چې د دې حکم په شریعت کې نشته نو که له اوبو څښلو مخکې تک پر وکړي نو په دې کې پر ښکاري کومه ملامیتا او ګناه نشته.

د نحر معنی او اوښ د نحر پر ځای حلالول

سوال: (۲) د اوښ نحر څرنګه کیږي؟ ځکه چې زمونږ په وطن کې د نحر کولو کوم رواج هم نشته او نه کله زمونږ په کلیو کې چا د اوښ قرباني کړې ده که د چا اوښ مري نو ذبح کوي به که نحر؟ که ذبح کې نو څه ډول؟ آیا د غوا او ګامیښي په رنګه یو ځای که درې ځایه؟ او که نحر کړي نو به څه ډول وي؟ د دې پوره وجه او ترتیب د فقهي او حدیثو په معتبرو کتابونو په تفصیل سره راته بیان کړي. (۵۴۲/۳۳-۱۳۳۴ﻫ)

ځواب: په شامي کې د ابل د نحر تفسیر دا ډول کړی دی: قوله: (و حب نحر الابل) النحر: قطع العروق فی اسفل العنق عند الصدر و الذبح قطعها فی اعلاه تحت اللحیین الخ(۱) یعني د نحر معنی دا ده چې و سینې ته نژدې تر غاړه لاندي برخه باندي رګونه پرې کړل شي الخ په اوښ کې نحر کول مستحب دی که د نحر پر ځای اوښ هم ذبح کړل شي نو هیڅ پروا نلري ذبیحه حلاله ده نو څوک چې په نحر نه پوهیږي هغه دي اوښ هم ذبح کوي فقط

---

(۱) رد المحتار للعلامة محمد امین الشامي ۲۱۳/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

د آرام رسوني لپاره د ذبیحې سینه څیرل

سوال: (۷) په لوی اختر کې چې قصاب غوا حلالوي هغه تر حلالولو وروسته په چاړه د غوا سینه څیرې کړې چې ورڅخه غوا زر مري او دوی وايي چې که سینه ورڅیرې نکړو نو په ځنډ مري او زیات تکلیف وي ورته په داسې صورت کې حکم څه دی؟
(۴۰۲، ۱۳۴۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کې د فليرح ذبيحته(۱) لفظ راغلی دی چې مطلب یې دا دی چې هغه کار باید سرې وکړي چې ذبیحې ته پکې راحت وي نو که په دې کې ذبیحې ته آرام وي د زر مړه کیدو په وجه نو سینه څیرل څه پروا نلري.

له ذبحې وروسته تر ساه وتلو پورې ذبیحه نیول

سوال: (۸) حیوان یا مرغه له حلالولو وروسته داغسې په تپونو وهلو کې پرېږدو که بیا هم نیول پکار دي؟ (۱۳۳۷/۱۰۷۴هـ)

ځواب: د حیوان له حلالولو وروسته له ساه وتلو او سړېدلو مخکې څرمن ایستل او صفا کول او نور مکروه دي کما في الدر المختار: و کره کل تعذیب بلا فائدة مثل قطع الراس و السلخ قبل ان تبرد ای تسکن عن الاضطراب و هو تفسیر باللازم الخ(۲) د دې لنډیز دا دی چې د حیوان تر سړېدو او قرارېدو مخکې سر پرې کول نه دي پکار او څرمن او نور یې مه اوباسئ لنډه دا چې تر ساه وتلو مخکې دا کارونه مه کوي نور نو که تر سړېدلو او د غټې وهلو پر مهال ونیسي چې ککړ والی نشي را صحیح دی. فقط

---

(۱) عن شداد بن اوس رضی الله عنه قال: ثنتان حفظتهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله تعالی کتب الاحسان علی کل شئ فاذا قتلتم فاحسنوا القتلة و اذا ذبحتم فاحسنوا الذبح و لیحد احدکم شفرته فلیرح ذبیحته(الصحیح لمسلم ۱۵۲/۲ کتاب الصید و الذبائح باب الامر باحسان الذبح و القتل و تحدید الشفرة)

(۲) الدر مع الشامي ۲۰۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

سوال: (۹) چرګ یا چرګه له حلالولو وروسته و غټې و هلو ته پرېږدو ؟ که چې تر څو ساه پکښې وي نو نه پرېږدو ؟ (۳۳/۵۴۲ ۱۳۳۴هـ)

ځواب: چرګ یا چرګه که له حلالولو وروسته پرېښودل نو څه پروا نلري لیکن که د وینو څاڅکي راتلو او ککړېدو خیال وي نو غوره دا دی چې نه پرېږدي.

له حلالولو وروسته حیوان په اور تودول

سوال: (۱۰) که پر حلال حیوان له ذبح وروسته اور بل کړل شي نو غوښه خوړل څنګه دي ؟ (۳۲/۱۱۸۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د دې حکم په شامي کي له فتح القدیر څخه دا رانقل کړی دی چې که داسې حیوان تر دومره وخت پورې په اور کي وي چې تودوالی د ننه ورسي چې د کلمو او نورو د پلیتي اثر و غوښې ته ورسي نو د ده خوراک ناجائز دی او دی ناپاک دی او که د لږ وخت لپاره په اور کي کښېږدي چې د تودوالي اثر یې تر څرمني او وېښتانو وي د ننه نه وي رسیدلی نو هغه پاک دی او خوراک یې صحیح دی(۱) د شک په صورت کي غوره دا دی چې نه وخوري لنډه دا چې آئنده داسې نه دي کول پکار او وراندي مه بلوئ.

هیلۍ او نور مرغان له وزرو لرې کولو وروسته د څرمني سره پر اور کبابول

سوال: (۱۱) ښکاریان زیاتره حیوانان لکه هیلۍ او نورو مرغانو وزر لیرې کړي د وازګو په وجه څرمن نه څیني لیرې کوي داغسې پر اور کبابوي د داسې ښکار غوښه خوړل روا دي که ناروا ؟ (۱۳۴۱/۱۵۵۳هـ)

ځواب: دا ډول د ښکار او نورو خوراک شرعًا صحیح دی لیکن اور کي دي دومره نه اړدي چې

---

(۱) و كذا دجاجة ملقاة حالة على الماء للنتف قبل شقها فتح و فى الشامى قوله: (و كذا دجاجة الخ) قال فى الفتح: انها لا تطهر ابدا، لكن على قول ابي يوسف تطهر و العلة (و الله اعلم) تشربها النجاسة بواسطه الغليان... لكن العلة المذكورة لا تثبت ما لم يمكث اللحم بعد الغليان زمانا يقع فى مثله التشرب و الدخول فى باطن اللحم و كل منهما غير مستحقق فى السميط حيث لا يصل الى حد الغليان و لا يترك فيه الا مقدار ما تصل الحرارة الى ظاهر الجلد لتنحل مسام الصوف الخ(الدر و الرد ۲٤٥/۱ كتاب الطهارة باب الانجاس قبيل فصل الاستنجاء. ط رشيديه)

دننه ته اثر ورسي چي له امله د کلمو د پليتي اثر په غوښه کي راشي غوره دا دي چي داغسي دي ښوکي ور اوباسي پر اور دي نه الوي. (۱) فقط

چرګ له حلالولو وروسته په تودو اوبو کي اچول

سؤال: (۱۲) اگر مرغ را ذبح کرده شکم پاره ساخته بآب شسته، بعد آن آب گرم چنان براں ریزند که ریشا به اسانی برآیند، حلال است یا نه؟ (۱۳۳۷/۱۱۴۱هـ)

ځواب: اگر شکم چاک ساخته امعاء وغیره خارج کرده و بآب شسته درآب گرم بدارند، البته گوشت نجس نیست واگر قبل اخراج امعاء وغیره آب گرم برآں ریزند، دراں تفصیل است که اگر آں قدر درآب گرم بدارند که تشرب و دخول حاصل شود و اثر نجاست در لحم سرایت کند نجس خواهد شد والا لا. كما قال فى الشامي: لكن العلة المذكورة لا تثبت ما لم يمكث اللحم بعد اللغيان زمانا يقع فى مثله التشرب و الدخول فى باطن اللحم الخ. (۲)

سؤال: (۱۲) ترجمه: که چرګ حلال کړي خيټه ورخيري کړي په اوبو يې پرېمنځي له دي وروسته په ګرمو اوبو کي واچوي ترڅو چي په ښوکو ايستلو کي آساني وي داسي کول حلال دي او کنه؟

ځواب: که خيټه ورخيري کړي کلمې او نور څني رااوباسي په اوبو يې پرېمنځي په ګرمو اوبو کي واچوي نو غوښه ناپاکه نه ده او که له کلمو او نورو را ايستلو مخکي په اوبو کي واچاوی نو په دې کي تفصيل دی چي که تر دومره وخته په اوبو کي پرېښودی چي تشرب(جذب) او دخول حاصل شو او ناپاکی په غوښه کي اثر وکړی نو ناپاک دی کنې نه دی لکه چي د شامي له ذکر شوي عبارت څخه چي څرګند دي.

د ذبح پر مهال سورة فاتحه او قل هو الله او نور ويل

سؤال: (۱۳) که څوک په ذبح کولو نه پوهيږي او د ذبح پر مهال الحمد لله قـل هـو

(۱) مخکنۍ حواله

(۲) حاشية ابن عابدين للعلامه محمد امين الشامي ۱/۲٤٥ كتاب الطهارةباب الانجاس. قبيل فصل الاستنجاء. ط رشيديه

الله پنځه کلمې او امنت بالله ووایي حیوان حلال کړي نو ذبیحه حلاله ده که مرداره؟
(۱۷۱۹/ ۱۳۳۵هـ)

ځواب: ذبیحه حلاله ده ځکه چې د الله نوم په دغه بولو کې موجود دی شرط همدا دی.

د ذبح پر مهال پوره بسم الله ویل پکار ده که بسم الله الله اکبر؟

سوال: (۱۴) په بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کیږي که پوره بسم الله الرحمن الرحیم پر ووایو؟ ځیني د ذبح پر مهال له پوره بسم الله ویلو څخه منع کوي؟ (۸۲۳/ ۱۳۴۳هـ)

ځواب: د ذبح پر مهال بسم الله الله اکبر ویل پکار دي دا سنت دی او که د بسم الله الرحمن الرحیم په ویلو ذبح وکړي بیا هم حیوان حلال دی لیکن غوره او سنت مخکنی دی فقط.

کورنی کوتره یا چرګه په بسم الله ویلو په غشي ویشتل

سوال: (۱۵) که د ضرورت پر مهال کورنی کوتره یا چرګه په لاس نه راځي نو که بسم الله پر ووایو په غشي یا بل شي یې وولو هغه مړه شي نو خوراک یې حلال دی او کنه؟
(۱۲۱۰/ ۳۲ ۱۳۳۳هـ)

ځواب: په کورنی ساتلي کوتره او چرګي کې هم د ذبح حکم دی بېله اضطراره په غشي او نورو ویشتلو نه حلالیږي و لا بد من ذبح صید مستانس لان ذکاة الاضطرار انما یصار الیها عند العجز عن ذکاة الاختیار. (۱) (در مختار)

په غلط تلفظ بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کول

سوال: (۱۶) که جاهل احتیاط نه کونکی بې لمانځه په غلط تلفظ سره بسم الله الله اکبر ووایي ذبح وکړي نو ذبیحه صحیح ده او کنه؟ (۱۲۹۱/ ۱۳۴۱هـ)

ځواب: که بسم الله الله اکبر ویلي دي نو ذبیحه حلاله ده. فقط

که چاته د ذبح پوره نیت معلوم نه وي

سوال: (۱۷) که چاته د ذبح کولو پوره نیت معلوم نه وي صرف په بسم الله الله اکبر ویلو یې

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۵/ ۲۱۳ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

ذبح وکړه نو جائزده او کنه؟ (۱۲۸/ ۴۴ ۱۳۴۵ھ)

ځواب: پر ذبیحه صرف په بسم الله الله اکبر ویلو ذبیحه حلالیږي.

که تکبیر مسلمان ووایي او ذبح نامسلمان وکړي

سوال: (۱۸) محمد عیسی لیږي ورته ودرېدی تکبیر یې ووایی او یو نامسلمان غوا حلاله کړه داسي ذبیحه څنګه شوه؟ او د دغه غوا غوښه حلاله ده او کنه؟ (۲۳۳/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: ذبح کونکی چي کله مسلمان نه دی او ده پخپله تکبیر نه وویلی نو د ده ذبیحه حلاله نه ده او د محمد عیسی تکبیر ویل کافی نه دی بلکه دا ضروري دي چي کوم سړی ذبح کوي هغه به مسلمان یا کتابي وي او تکبیر به هم پخپله وایي یعني بسم الله الله اکبر به وایي په ټولو کتابونو کي همداسي لیکلي دي په در مختار کي راغلي دي: و شرط کون الذابح مسلما... او کتابیا، ذمیا او حربیا... فتحل ذبیحتها(۱) لنډه دا چي ذبح کونکی به مسلمان وي یا کتابي یعني یهودي یا نصراني به وي او په بسم الله الله اکبر ویلو به ذبح کوي(۲) دا وخت ذبیحه حلالیږي. فقط

کوم حیوان چي صحیح حلال نه شي هغه بیا حلالول

سوال: (۱۹) عادت داسي دی چي کله حیوان حلالوي نو حلقوم پرې کړي مري پرې کوي مګر داسي وشول چي کله زید حیوان حلالوی نو حلقوم او مري یې پرې نکړو بکله د حلقوم او مري پر برابري غوښه پرې کړه حلقوم او مري روغ پاته شو نو چي حیوان ژوندی ؤ څکه بیا یې حلال کړی چي پکي حلقوم او مري دواړه پرې شول او وینه هم وبهیدله ذبح ثاني جائز شوه او کنه؟ (۱۷۱۷/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: ذبح ثاني صحیح شوه او ذبیحه حلاله ده. فی الدر المختار: و ان علمت حیاتها و ان قلت وقت الذبح اکلت مطلقا الخ(۳) و فیه ایضا: و سیجي انه یکفی من الحیاة قدر ما یبقی

---

(۱) الدر مع الرد ۲۰۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) و فیها تشترط التسمیة من الذابح حال الذبح (الدر المختار مع رد المحتار ۲۱۲/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۳) الدر المختار مع الشامي ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

فی المذبوح و فی الشامي: و المختار ان کل شئ ذبح و هو حی اکل و علیه الفتوی. (۱)

په "الله اکبر شریعت دی" ویلو ذبح کول

سوال: (۲۰) یو سړي د غوا حلالولو پر مهال د بسم الله الله اکبر ویول پر ځای الله اکبر شریعت دی وایي آیا ذبیحه صحیح ده او کنه؟ (۱۴۰/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د ذبح پر مهال بسم الله الله اکبر ویل سنت او مستحب دي که په "الله اکبر شریعت دی" وویل ذبح وکړه که څه هم ذبیحه حلاله ده مګر داسي ویل نه دي پکار بنه نه دي که صرف الله اکبر پر وو ایي بیا هم صحیح دی قوله: (و الشرط فی التسمیة هو الذکر الخالص) بای اسم کان مقرونا بصفة کالله اکبر او اجل او اعظم الخ(۲) (شامي) و المستحب ان یقول بسم الله الله اکبر بلا واو الخ(۳) (در مختار) و فی الشامي قال الزیلعي: حتی اذا سمی و اشتغل بعمل آخر عن کلام قلیل او شرب ماء او اکل لقمة او تحدید شفرة ثم ذبح یحل الخ(۴) له دغه آخري عبارت څخه معلوم شو چي په مسئوله صورت کي ذبیحه حلاله ده مګر داسي ویل د سنت په خلاف دي ځکه مکروه دي. فقط والله اعلم

د چا چي راسته لاس نه وي په کیڼ ذبح کولای شي

سوال: (۲۱) یو سړی د ذبح په مسئلو پوهیږي لیکن د ده راسته لاس نشته په کیڼ لاس ذبح کوي جائز دي او کنه؟ (۱۲۸۵/۱۳۴۰هـ)

ځواب: ذبیحه حلاله او جائز ده.

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۰۷/۵ اوائل کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) رد المحتار ۲۱۱/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۳) الدر المختار مع الشامي ۲۱۲/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(٤) حاشیة ابن عابدین للعلامة محمد امین الشامي ۲۱۲/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

د ذبح کونکي لپاره اودس ضروري نه دی

سوال: (۲۲) د تارک صوم او صلوة مسلمان لپاره د حیوان حلالولو پر مهال اودس او طهارت ضروري دی او کنه؟ که اودس نه وي نو ذبیحه صحیح کیږي او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۰۳ھ)

ځواب: تارک صوم او صلوة مسلمان که بې اودسه بسم الله الله اکبر ووایه او حیوان یې حلال کړی نو صحیح دی که څه هم غوره دا دي چي باید حلالونکی لمونځ ګزاره او په اوداسه وي.

مسلمان د هندو چرګ یا وزه ورحلالولای شي

سوال: (۲۳) ... (الف) یو هندو غوښي خوري ده خپل چرګ یا وزه په مسلمان حلال کړو ذبح کول جائز دي که څنګه؟ او د داسي ذبیحې غوښه مسلمان خوړلای شي او کنه؟ کله چي مالک په غوښه بې بیه ورکړي.

(ب) د یو هندو وزه مري یا ډیره کمزورې ده مالک یې وایي چي حلاله کړه نو حلالول په کار ده کنه؟ (۱۳۳۴/۹۵۵ھ)

ځواب: (الف) ذبح کول یې جائز دي او غوښه خوړل یې هم د مسلمان لپاره صحیح ده.

(ب) ذبح کول پکار ده.

په اجرت ذبح کول

سوال: (۲۴) کوم خلګ چي د صوم او صلوة پابند نه دي او اجرت اخلي ذبح کوي د دوی د لاس ذبیحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۰۴ھ)

ځواب: د دوی د لاس ذبیحه حلاله ده او په اجرت ذبح کول که څه هم ښه نه دي لیکن ذبیحه یې حلاله ده.

فوق العقده ذبح کولو ذبیح حلالیږي او کنه؟

سوال: (۲۵) اگر عقدۂ مذبوحہ در وقت ذبح زیر رفتہ شود پس علمائے بلا دمایان دریں مسئلہ مختلف

است بعض می گویند که مذبوحۂ مذکور حلال است و بعض گویند که حرام است پس مذہب حنفیۃ دریں امر و حکم مفتی بہ ولائق بالاحتیاط دریں مسئلہ چیست؟ جواب معہ حوالہ کتاب تحریر فرمایند (۱۵۲۰/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: علامہ شامی آن چہ تحقیق کردہ است ایں است کہ اگر از ذبح فوق العقدہ قطع عروق ذبح یافتہ شود ذبیحہ حلال خواہد شد و عبارته هکذا: و التحرير للمقام ان يقال: ان كان بالذبح فوق العقدة حصل قطع ثلاثة من العروق فالحق ما قاله شراح الهداية تبعًا للرستغفنی و الا فالحق خلافه(۱) و روایت امام رستغفنی این است: فتحل سواء بقيت العقدة مما يلي الراس او الصدر لان المعتبر عندنا قطع اكثر الاوداج و قد وجد الخ(۲) فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۲۵) ترجمه: که د ذبح پر مهال د حیوان عقده (غوټو) تر چاړه کښته وي نو زمونږ د سیمي د علماء پکي اختلاف دی ځیني وایي چي دغه ذبیحه حلاله ده او ځیني وايي حرامه ده په دې اړه د احنافو مذهب او په دغه مسئله کي مفتی به حکم او د احتیاط وړ خبره کومه یوه ده؟ جواب د کتاب د حوالي سره راته ولیکئ.

ځواب: د علامه شامي تحقیق دا دی چي که ذبح فوق العقده کي د ذبح عروق (رګونه) پرې شي نو ذبیحه حلاله ده.

سوال: (۲۶) یو سړي حلال حیوان ذبح کوي مګر د ذبح کولو پر مهال په غلطي سره د حیوان غاړه تر غوټو لوړه پرې کړي آیا دغه ذبح کړی حیوان قطعًا حرام دی که مکروه که جائز بېله کراهیته؟ بینوا توجروا (۱۲۸۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: په شامي کي راوړي دي چي که په فوق العقده ذبح کولو کي د ذبح عروق قطع شي نو ذبیحه حلاله ده. فقط

سوال: (۲۷) په ذبح فوق العقده کي ذبیحه حلاله ده که حرامه؟ (۸۳۳/۱۳۴۰ھ)

ځواب: روایتونه په دې اړه بېل بېل دي او فیصله دا ده چي که په ذبح فوق العقده کي د ذبح زیاتره رګونه

(۱) رد المحتار ۲۰۷/۵ اوائل كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) الشامي ۲۰۷/۵ اوائل كتاب الذبائح. ط رشيديه

پرې شي نو هغه ذبیحه حلاله ده او ځیني د تجربې خاوندان وایي چې پرې کیږي په شامي کې راغلي دي لکن روایة الامام الرستغفنی تخالف هذه حیث قال: هذا قول العوام و لیس بمعتبر فتحل سواء بقیت العقدة مما یلی الراس او الصدر لان المعتبر عندنا قطع اکثر الاوداج و قد وجد الخ(۱) او په دې کې یسر هم دی او د حدیث الذبح ما بین اللبة و اللحیین(۲) سره سم هم دی. فقط

سوال: (۲۸) په ذبح فوق العقده کې ذبیحه حلاله ده که حرامه؟ (۱۴۱۹/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د احنافو په دې اړه دوه قوله دي او دواړو ته صحیح ویل شوي دي نو فیصله دا ده که په ذبح فوق العقده کې درې رګونه د ذبح له رګونو څخه پرې شي نو ذبیحه حلاله ده کنې نه ده او له تجربې والو څخه معلومه شوې ده چې په ذبح فوق العقده کې زیاتره رګونه د ذبح پرې کیږي لیکن احتیاط په همدې کې دی چې تحت العقده ذبح وشي تر څو څه اختلاف پاته نشي په شامي کې له مختلفو قولونو رانقل کولو وروسته لیکلي دي اقول: و التحریر للمقام ان یقال: ان بالذبح فوق العقدة حصل قطع ثلثة من العروق فالحق ما قاله شراح الهدایة تبعا للرستغفنی و الا فالحق خلافه اذ لم یوجد شرط الحل باتفاق اهل المذهب و یظهر ذلک بالمشاهدة او سؤال اهل الخبرة.(۳) فقط

---

(۱) الشامي ۲۰۷/۵ اوائل کتاب الذبح. ط رشیدیه

(۲) قال الزیلعی فی نصب الرایة قال علیه الصلاة و السلام: الذکاة ما بین اللبة و اللحیین قلت غریب بهذا اللفظ و اخرج الدار قطنی فی سننه عن سعید بن سلام العطار ثنا عبد الله بن بدیل الخزاعی عن الزهری عن سعید بن المسیب عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: بعث رسول الله صلی الله علیه وسلم بدیل بن ورقاء الخزاعی علی جمل اورق یصیح فی فجاج منی "الا ان الذکاة فی الحلق و اللبة انتهی قال فی "التنقیح" هذا اسناد ضعیف بمرة و سعید بن سلام اجمع الائمة علی ترک الاحتجاج به، و کذبه ابن نمیر و قال البخاری: یذکر بوضع الحدیث و قال الدار قطنی: یحدث بالاباطیل متروک انتهی و اخرجه عبد الرزاق فی مصنفه موقوفا علی ابن عباس و علی عمر: الذکاة فی الحلق و اللبة انتهی(نصب الرایة لاحادیث الهدایة ۱۸۵/۴ کتاب الذبائح الحدیث السادس و سنن الدار قطنی ۱۸۸/۴ کتاب الاشربة و غیرها رقم الحدیث: ۴۷۰۹ المطبوعة دار الکتب العلمیة بیروت لبنان)

(۳) رد المحتار ۲۰۷/۵ اوائل کتاب الذبح. ظ رشیدیه

تر حلالولو مخکي حیوان بې هوښه کول

سوال: (۲۹) له همېشه څخه په ټوله مذبح کي د غوا او غوایه پښې د ذبح کولو پر مهال تړل کیدې او س حکومت امر کړی دی چي کومه غوا یا غویی حلالوئ لومړی به یوه اله چي د چیټک په ډول ده چي پکي یو سپرینګ وي په هغه کي یوه ستن لګېدلې ده د حیوان په دماغ کي و عصبی حاسه ته ورورې حیوان بې هوښه شي د دغه بې هوښۍ پر مهال یې د حلالولو حکم کړی دی دا ډول ذبح کول خو به شرعًا پروا نلري؟
(۳۲/۲۱۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په دا ډول ذبح کولو ذبیحه حلالیږي د ذبیحې د حلت شرط دا دی چي د ذبح پر مهال پکي ژوند ثابت وي او ښکاره چي حیوان په دغه فعل نه مري و ان علمت حیاتها و ان قلت وقت الذبح اکلت مطلقا بکل حال (در مختار) قوله: (بکل حال) سواء وجدت تلک العلامات اولا(۱) (شامي پنځم ټوک) فقط والله اعلم

د حلالولو پر مهال که ښکار نه حرکت وکړي او نه وینه ووزي نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۰) د مرغیو په ښکار کي زیاتره داسي کیږي چي له درختي ژوندی راولویږي او پر غاړه چاړه ور اینبودلو پر مهال یقینًا پکي ساه وي مګر په ذبح کي وینه ونکړي او نه له ذبح وروسته کوم حرکت اور نور وي او کله بیا چي چاړه پر غاړه ور کښیږدو مړه معلومیږي مګر له ذبح وروسته وینه هم وکړي او حرکت هم وکړي په دغه صورتونو کي ذبیحه حلاله ده او کنه؟ (۳۲/۱۰۷۵-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که د ذبح پر مهال یقینًا ساه پکي وي نو ذبیحه حلاله ده که څه هم حرکت ونکړي او وینه نه وبهیږي په در مختار کي راغلي دي: و ان علم حیاته حلت مطلقــا و الم تتحرک و لم یخرج الدم. (۲) (در مختار)

ناروغه یا د ښکار حیوان که د ذبح پر مهال حرکت وکړي یا وینه وکړي نو حلال دی

سوال: (۳۱) که ناروغه حیوان ذبح کړل شي او هغه پښې ونه ښوروي نو بیا به څنګه معلومه ؤ

---

(۱) الدر المختار و ردالمحتار ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

چي د ذبح پر مهال دا حیوان ژوندی ؤ؟ او فقهاء چي خروم د دم کومه علامه بیان کړې ده د هغه اندازه او مقدار څومره دی؟ او د ویني کوم رنګ پر ژوند دلالت کوي؟ (۴۲۸/۳۵-۱۳۳۲ھ)

ځواب: که د ذبح پر مهال د حیوان ژوندی والی معلوم وي نو بیا نه و حرکت ته ضرورت شته او نه د دم و خروج ته او که ژوندی والی د ده معلوم نه وي نو بیا حرکت او ویني له وتلو څخه که یو هم موجود شو ذبیحه حلاله ده مګر هغه حرکت به نه وي کوم چي د ژوند دلیل نه دی قال فی الدر المختار: ذبح شاة مریضة فتحرکت و فی الشامي: ای بغیر نحو مد رجل و فتح عین مما لا یدل علی الحیاة او خرج الدم و فی الشامی: ای کما یخرج من الحی(شامي) حلت و الا لا ان لم تدر حیاته عند الذبح و ان علم حیاته حلت مطلقا و ان لم تتحرک و لم یخرج الدم الخ(۱) (در مختار) و هذا عین ما قلنا.

سوال: (۳۲) ... (الف) که د ښکار د ذبح کولو پر مهال وینه دومره راووزي چي وبهیږي مګر حیوان حرکت ونکړي هغه حیوان حلال دی او کنه؟

(ب) د ښکار حلالولو پر مهال وینه ونه راوته مګر حیوان حرکت وکړی دا ذبیحه جائز ده او کنه؟ (۷۹۴/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: (الف) هغه حیوان حلال ده خوراک څیني کول صحیح دی. (۲) (در مختار)

(ب) دا هم حلال دی ځکه چي د فقهي په کتابونو کي دا لیکلي دي چي که حیوان حرکت وکړي یا یي وینه راووزي په دواړو صورتونو کي داسي حیوان حلال دی ذبح شاة مریضة فتحرکت او خرج الدم حلت. (۲) (در مختار)

د دوو رګونو په پرې کیدو حیوان نه حلالیږي

سوال: (۳۳) د ذبح کولو پرمهال د حیوان حلقوم و مري دواړه رګونه پرې نه شول صرف دواړه بنارګه پرې شوي دي آیا دغه ذبیحه حلاله ده که حرامه؟ (۸۱۳/۱۳۴۰ھ)

ځواب: د احنافو په معتبرو کتابونو کي راغلي دي چي د ذبح له رګونو څخه کوم چي څلور دي حلقوم، مري

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

او ودجان په دوی کي که زیاتره یعني درې قطع شول نو ذبیحه حلاله ده کنې حرامه ده نو د کوم حیوان چي دوه رګونه پرې شول او دوه پرې نه شول هغه حلاله نه ده کذا في الشامي و الدر المختار و غيرهما. (۱) فقط

که دوه رګه یو سړی ورپرې کړي او دوه بل نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۴) زید غوا حلالوله چي دوه رګه حلقوم او مري یې ور پرې کړو غوا زور کړې د زید له لاسه ووته ولاړه بکر غوا ونیوله پاته دوه رګه په نوي تکبیر ویلو ورپرې کړو یعني په دوو کسانو حلاله شوه دا ذبیحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۳۲۸هـ)

ځواب: په دغه صورت کي ذبیحه حلاله ده لوجود التسمية من كل من الذابحين.

که د حلقوم پرې کولو پر مهال حیوان ژوندی وي او د نورو رګونو پرې کولو پر مهال یو مخ مړ شي

سوال: (۳۵) که د حلقوم رګ پرې کولو پر مهال حیوان ژوندی وي او د مري او ودجان پرېکولو پر مهال یو مخ مړ شي نو داسي ذبیحه حلاله ده او کنه؟

(۱۳۴۲/۱۲۹۵هـ)

ځواب: له وینې وتلو وروسته ذبیحه حلاله ده.

د پیشي له خولې راکښلې چرګي له ذبحې یوه دقیقه وروسته وینه وکړه

سوال: (۳۶) پیشو چرګه ونیوله له پیشو څخه خلکو خلاصه کړه او حلاله یې کړه مګر یوه

(۱) و ذكاة الاختيار ذبح بين الحلق و اللبة... و عروقه: الحلقوم... و المري... و الودجان... وحل المذبوح بقطع اى ثلاث منها اذ للاكثر حكم الكل و في الشامي: لان المعتبر عندنا قطع اكثر الاوداج (الدر و الرد ۲۰۶/۵ اوائل كتاب الذبائح. ط رشيديه)

دقيقه وروسته وينه وبهيږده حلاله ده او کنه؟ (۳۲/۱۲۳۳ ۱۳۳۳هـ)

ځواب: که د ذبح کولو پر مهال پکي حس او حرکت ؤ يا يې وينه راووتله نو حلاله ده يوه دقيقه وروسته وينه راوتل هم کافي دي.

پيشي يا نابنکاري سپي د چرګ سر پرې کړی خو لا ژوندی ؤ چې ذبح شو

سوال: (۳۷) د يو چرګ سر پيشو يا سپي نابنکاري يو مخ ور پرې کړی پاته لا ژوندی ؤ چې ذبح کړل شو نو دغه چرګ شرعًا حلال دی که حرام؟ (۳۲/۲۲۱۴-۱۳۳۳هـ)

ځواب: قال في الشامي عن البزازية: و لو انتزع راسها و هي حية تحل بالذبح بين اللبة و اللحيين الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چې حلال دی. فقط

د هغه چرګې د ذبحې طريقه چې سر پيشو ځنې پرې کړی وي

سوال: (۳۸) پيشو له چرګې يو مخ سر جلا کړی خو چرګه بيا هم ژوندۍ وه شرعًا به د دې د ذبح څه طريقه وي؟ (۱۳۳۵/۱۵۲۵هـ)

ځواب: که له سر پرې کولو وروسته محل د ذبح باقي وي او هغه ژوندۍ وي نو په ذبح کولو حلالېږي لکه چې په شامي کې راغلي دي: و لو انتزع راسها و هي حية تحل بالذبح بين اللبة و اللحيين الخ. (۲)

سوال: (۳۹) د يوې چرګې سر پيشو ورجلا کړی او س يې څه ډول حلاله کړو؟ (۱۳۳۷/۱۵۲۵هـ)

ځواب: په شامي کې له بزازيه څخه رانقل کړي دي: شاة قطع الذئب اوداجها و هي حية لا تذكى لفوات

---

(۱) رد المحتار ۲۱۷/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۲۱۷/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

محل الذبح و لو انتزع راسها و هی حیة تحل بالذبح بین اللبة و اللحیین الخ(۱) لنډه دا چې که له سر جدا کولو وروسته محل د ذبح باقي وي او رګونه د ذبح موجود وي او هغه ژوندی وي نو په ذبح کولو حلالیږي کنې نه حلالیږي.

د ښکار کړي حیوان زیاتره برخه ښکار کوونکي درنده ژوولې وي مګر حیوان ژوندی وي نو...

سوال: (۴۰) د ښکاري درنده داسې ښکار کړی حیوان چې د حیوان د جسم زیاتره برخه درنده ژوولې وي مګر حیوان ژوندی وي بعد الذبح هغه حلال دی او کنه؟
(۱۴۸/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: نه دی حلال. فقط

د شیر او زمري ټپي کړی حیوان له ذبح وروسته حلال دی

سوال: (۴۱) یو حلال حیوان په ځنګل کې شیر یا زمري تر غاړه ونیوی زخمي یې کړی خلکو ځیني خلاص کړی که دوې څلور میاشتې وروسته ذبح کړو نو شرعًا څه حکم دی؟ (۱۸۱۷/۱۳۴۲هـ)

ځواب: داسې حیوان له ذبح وروسته حلال دی. فقط

په څاه کې لوېدلي حیوان ذبح څنګه ده؟

سوال: (۴۲) غوا، ګامېښه یا وزه که په څاه کې ولوېږي او ذبح کول یې مشکل وي نو په داسې حال کې څه کول پکار دي؟ داسې حیوان به څه ډول حلالیږي؟
(۱۱۳۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: غوا، ګامېښه او نور که په څاه کې ولوېږي او ژوندی را وتل یې مشکل وي او حلالول یې متعذر وي نو یو ځای یې (په بسم الله سره) ورزخمي کړئ چې له همدغه ټپ څخه مړ شي نو بیا یې خوړل

(۱) حاشیة ابن عابدین للعلامة محمد امین الشامی ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

حلال دي او دغه زخمي کول پر ځای د ذبح دریږي.

علامه شامي علیه الرحمة فرمایلي دي که په دې خبره کې شک وي چې له همدغه زخم څخه مړ شو او کنه بیا هم حلال دی.

و كفى جرح نعم كبقر و غنم توحش فيجرح كصيدا و تعذر ذبحه كان تـردى فى بئـر (در مختار) قوله: (كان تردى فى بئر) اى سقط و علم موته بالجرح او اشكل لان الظاهر ان المـوت منه و ان علم انه لم يمت من الجرح لم يؤكل و كذا الدجاجة اذا تعلقت على شـجرة و خيـف فوتها فذكاتها الجرح زيلعى(۱) (شامى)

(ترجمه) او کافي دي ټپي کول د حیوان لکه غوا، ګامیښه او وزه چې توربدلي او یاغي شوې وي نو د ښکار په رنګه به زخمي کیږي یا یې مشکل وي ذبح کول د هغه لکه چې کوم حیوان په څاه کې ولوېږي(در مختار) او د هغه مرګ له دغه زخم څخه کیدل معلوم شي یا مشتبه وي ځکه چې ظاهر همدا دی چې له همدغه زخم څخه مړ شو او که دا معلوم شو چې له دغه زخم څخه نه دی مړ نو نه به یې خوري یعني حلال نه دی او داغه راز که چرګ په درخته کې بند شو او د هغه د مرګ اندېښنه وه نو د هغه ذبح همدا سې ده چې زخمي دي کړي زيلعی(شامي) فقط

که د ټوپک په ګولی یا د ذبح پر مهال د ښکار سر پرې شي

سوال: (۴۳) ښکاري پر ښکار ډزې وکړې د حیوان سر والوتی او دی ژوندی ؤ یا یې سر په څرمن وځړیدی یا د ذبح کولو پر مهال یې سر جلا شو نو په دغه صورتونو کې د داسې حیوانانو څه حکم دی؟(۲۲۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د ټوپک په ګولۍ چره چې کوم حیوان ښکار شي تر څو چې ذبح نه شي نه حلالیږي او که د ګولۍ چرې په ویشتلو حیوان مړ شو یا یې سر په هوا شو نو هغه حلال نه دی(۲) او که حیوان ژوندی ؤ د ذبح رګونه موجود ؤ نو په بسم الله الله اکبر ویلو رګونه ورپرې کړي

---

(۱) الدر المختار و الشامى ۲۱۳/۵ كتاب الذبح. ط رشيديه

(۲) قال قاضى خان: لا يحل صيد البندقة. (الشامى ۳۳۵/۵ كتاب الصيد. ط رشيديه)

حلالیږي(۱) او که د حیوان حلالولو پر مهال چاړه تېزه وچلېده او سر یې جلا شو یا تر حرام مغز ورسېده نو ذبیحه حلاله ده مګر دا فعل مکروه دی داسي قصداً نه دي کول پکار. هکذا فی کتب الفقه.(۲)

په هر ډول چاړه حلالول صحیح دي چي رګونه پرې کړي

سوال: (۴۴) د ذبح لپاره چاړه باید څه ډول وي؟ که لاستی د لرګي وي او سوری پکي نه وي نو څه حکم دی؟ او تکبیر هم پر وویل شي او که لاستی د او سپني وي سوری پکي نه وي نو په داسي چاړه ذبح کول څنګه دي؟(۱۳۳۵/۱۲۷۲هـ)

ځواب: په داسي چاړه چي لاستی د لرګي وي او سوری پکي نه وي ذبح کول صحیح دي چاړه باید تېره وي نور نو دسته چي هر ډول وي شرعاً کوم قید پکي نشته هکـذا فی کتب الفقه. (۳) چاړه که هر ډول وي لاستی که د اوسپیني وي او که د لرګي او سوری په لاستي کي وي او کنه؟ هر ډول په کول بېله کراهیته صحیح دي. فقط

په هره تېره سلاح ذبح کول صحیح دي

سوال: (۴۵) په کومه کومه سلاح ذبح کیدلای شي؟ چي په کي درې مېخه وي دا ضروري ده او کنه؟ او مرغان کوم کوم جائز دي؟(۳۴۲۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و حل الذبح بکل ما افری الاوداج و انهر الدم ای اسـاله و لو بنار او بلیطة ای قشر قصب او مروة هی حجر ابیض کالسکین یذبح بها الخ(۴) له دغه روایت

---

(۱) شاة قطع الذنب اوداجها و هی حیة لا تذکی لفوات محل الذبح و لو انتزع راسها و هی حیة تحل بالذبح بین اللبة و اللحیین (رد المحتار ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۲) و فی البحر: وکره النخع و قطع الراس و الذبح من القفاء النخع هو ان یصل الی النخاع و هو خـیط ابیض فی جوف عظم الرقبة... و فی قطع الراس زیادة تعذیب فیکره (تکملة البحر الرائـق ۳۱۱/۹ کتـاب الذبائح قبیل فصل فیما یحل و لا یحل)

(۳) و حل الذبح بکل ما افری الاوداج... و انهر الدم ای اساله و لو بنار او بلیطة ای قشر قصب او مروة هی حجر ابیض کالسکین یذبح بها (الدر المختار مع الشامی ۲۰۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(٤) الدر المختار مع الشامی ۲۰۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

ځکه معلوم شو چي په هر تېره شي او په تېره سلاح چي د ذبح رګونه قطع کړي او وينه وبهيږي حلالول جائز دي او پکي درې ميخونه ضروري نه دي او کوم مرغه چي منګولي لري (ذی مخلب) او په منګولو يعني پنجه ښکار کوي هغه ته په در مختار کي حرام ويلي دي(۱) د مسلم او د ابو داؤد د حديث په وجه په شامي کي راغلي دي: و الدليل عليه انه صلی الله عليه وسلم نهی عن اكل كل ذی ناب من السباع و كل ذی مخلب من الطير رواه مسلم و ابو داؤد و جماعة. (۲)

د ټوپک پاکولو په سيخ يا تېره کاڼي ښکار ذبح کول

سوال: (۴۶) وسی مي وويشتله چاقو رساره نه ؤ که د ټوپک په ګز(سيخ) زخمي کړم چي له کوم عضو ځخه وينه وبهيږي نو وسی حلاليږي او کنه؟ که د او سپيني ګز نه وي نو که په تېره کاڼي په تکبير سره کوم عضو ور زخمي کړو وينه وبهيږ نو له مرګ وروسته به حلاله وي او کنه؟(۱۱۸۰/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و حل الذبح بكل ما افرى الاوداج... و انهر الدم الخ و لو بليطة... او مروة الخ(۳) نو کومه وسی چي په ګولی وويشته د هغي ذبح کول ضروري دي او د او سپيني په ګز نشي حلاليدلای اما په تېره ګاڼي (ډبره) حلالولای شي.

چرګه يا کوتره په سلاح يا تېره کاڼي زخمي کول

سوال: (۴۷) د کور ساتلي کوتره يا چرګه او نور که د ضرورت پر مهال زر په لاس نه راځي نو که بسم الله وواېو په تېره کاڼي يا وسله يې وولو او مړه شي نو خوراک يې ځنګه دی؟(۲/۲-۳۲/۱۳۳۳ھ)

ځواب: دا حکم د توربدلي حيوانانو دی چي هيڅ رنګه په لاس نه راځي اموخته د کور ساتلي کوتري

---

(۱) و لا يحل ذو ناب يصيد بنابه... او مخلب يصيد بمخلبه ای ظفره(الدر المختار مع رد المختار ۲۱٤/٥ كتاب الذبائح. ط رشيديه)

(۲) رد المحتار ٥/٢١٤ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۳)الدر المختار مع الرد ٥/٢٠٧ كتاب الذبائح. ط رشيديه

او نورو لپاره دا حکم نه دی مګر کله چي دغه (وحشي او توربدو) حالت ته ورسي (۱) فقط

په ګوتو ځیرلی حیوان خوړل حرام دی

سوال: (۴۸) که چاقو، چاړه او بل شی نه وي سړی کوم مرغه په لاس او ګوتو سره ځیري کړي نو څنګه دی؟ (۱۳۴۱/۱۱۹۱هـ)

ځواب: د حیوان په کوم تېره شي پرې کول او ذبح کول شرط دی کما جاء فی الحدیث(۲) لهذا دغه مرغه چي په ګوتو مي ځیرلی دی حلال نه دی خوړل یې حرام دی.

په تبرزین ذبح کول

سوال: (۴۹) که کوم مأکول اللحم حیوان پر مرګ وي او آله د ذبح نه وي نو په تبر او بل شي چي تېز نه وي که د هغه په وهلو سره ذبح کړو نو څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۳۱۸هـ)

ځواب: حلال دی. فقط

په مېخ ذبح کول

سوال: (۵۰) په مېخ ذبح کول صحیح او جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۸۲۳هـ)

---

(۱) و لا بد من ذبح صید مستانس لان ذکاة الاضطرار انما یصار الیها عند العجز عن ذکاة الاختیار و کفی جرح نعم کبقر و غنم توحش فیجرح کصیدا و تعذر ذبحه کان تردی فی بیر او ند او صال حتی لو قتله المصول علیه مریدا ذکاته حل و فی الشامي: و کذا الدجاجة اذا تعلقت علی شجرة و خیف فوتها فذکاتها الجرح... قوله: (مریدا ذکاته) ای بان سمی عند جرحه الخ(الدر المختار و رد المحتار ۲۱۳/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۲) عن رافع بن خدیج رضی الله عنه قال: قلت: یا رسول الله! انا لاقوا العدو غدا و لیست معنا مدی قال: اعجل او ارن ما انهر الدم و ذکر اسم الله فکل لیس السن و الظفر و ساحدثک اما السن فعظم و اما الظفر فمدی الحبش قال: و اصبنا نهب ابل و غنم فندمنها بعیر فرماه رجل بسهم فحبسه فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان لهذه الابل او ابدکاوابد الوحش.فاذا غلبکم منها شئ فاصنعوا به هکذا (الصحیح لمسلم: ۱۵۶/۲ -۱۵۷ کتاب الاضاحی باب جواز الذبح بکل ما انهر الدم الا السن و الظفر و سائر العظام)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و حل الذبح بكل ما افرى الاوداج الخ و انهر الدم(۱) يعني ذبح کول د حیوان په داسي تېره شي حلال دی چي رګونه په پرې شي او وینه وبهیږي نو په غاړه کي د مېخ په ورچیخلو حیوان نه حلالیږي

د وښو په اره ذبح کول

سوال: (۵۱) يوه وسی په ټوپک وویشتله شوه ښکاري د وښو په اره حلاله کړه د هغي غوښي خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۱۳۹ھ)

ځواب: کله چي په ټوپک ویشتلو وروسته وسی ژوندۍ وه او د وښو په اره حلاله کړله شوه چي د غاړي رګونه پرې شول نو دا وسی حلاله شوه د دي غوښه خوړل صحیح دي. فقط

په لرګي وژلی حیوان مردار دی

سوال: (۵۲) ... (الف) کوم حیوان چي په لرګیو ووهل مړ شي د هغه خوړل حلال دي که حرام؟

(ب) چرګه، وزه بېله ذبح کولو خوړل حلال دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۱۲۱ھ)

ځواب: (الف- ب) بېله ذبح په وهلو د حیوان وژلو سره حیوان مرداریږي خوراک یي حلال نه دی(۲) په قطعي نص حرام دی قال الله تعالی: [حرمت عليكم الميتة] الاية(سورة مائده، آيت:۲) نو د وزې، چرګي او نورو په رنګه يو حیوان هم بېله ذبحي نه حلالیږي او د دي خوراک صحیح نه دی. فقط

د قصاب ذبیحه حلاله ده

سوال: (۵۳) د قصاب یا کوم مقرر کړي سړي ذبح کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۳۲ھ)

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲۰۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) قال قاضي خان: لا يحل صيد البندقة و الحجر و المعراض و العصا و ما اشبه ذلك و ان جرح لانه لا يخزق (الشامي ۳۳۵/۵ کتاب الصيد. ط رشيديه)

ځواب: د دواړو ذبیحه حلاله ده مګر بنـه دا دي چي د روژې او لمانځه پابنده سړی یې حلال کړي

صرف په وهم اوشک د قصاب ذبیحه نه حرامیږي

سوال: (۵۴) زید قصاب دی د حیوانانو له تجارت څخه سیوا ذبح هم یخپله لاس کوي او خرڅوي یې خالد او عمر وایي چي د زید د لاس ذبیحه څکه صحیح نه ده چي کیدلای شي چي دی د خپلي ګټي په خاطر مړ حیوان حلال کړي په مونږ یې وخوري څکه داسي واقعه هم کیدلای شي اوس پوښتنه دا ده چي آیا د ده ذبیحه صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۷۳هـ)

ځواب: د مسلمان په ذبیحه کي شک او وهم نه دی کول پکار په احتمال ذبیحه نه حرامیږي نو کله چي زید مسلمان دی او دی پخپله ذبح کوي بیا یې خرڅوي نو د مسلمان لپاره دغه غوښه خوړل صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځي ذبیحه حلاله ده

سوال: (۵۵) د ښځي د لاس ذبح څنګه ده؟(۵۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د مسلماني ښځي ذبح چي د الله په نوم یې وکړي صحیح ده. (۱)

سوال: (۵۶) د ښځي د لاس ذبیحه خوړل څنګه دي؟ او ښځه پخپله ذبح کولای شي او کنه؟(۲۲۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: که ښځه پر ذبح کولو قدرت لري او د شرعي حکم سره سمه ذبح وکړي ذبیحه د هغې حلاله او جائز ده.

دنابالغ، ښځي، مخنث او اهل کتابو ذبیحه کله حلالیږي؟

سوال: (۵۷) د نابالغ ذبیحه جائز ده او کنه؟(۱۳۴۱/۳۹۲هـ)

---

(۱) و شرط کون الذابح مسلما، حلالا، خارج الحرم ان کان صیدًا او کتابیا ذمیا او حربیا فتحل ذبیحتهما و لو مجنونا او امراة او صبیا یعقل التسمیة و الذبح(تنویر الابصارمع الشامی ۲۰۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

ځواب: د نابالغ ذبیحه حلاله ده کله چي هغه پوهه وي او په بسم الله اکبر ویلو ذبح وکړي کما فى الدر المختار: و لو مجنونا او امرءة او صبيا يعقل التسمية و الذبح الخ(۱) فقط

سوال: (۵۸) د ښځو. نابالغو. مخنث او اهل کتابو ذبح څنګه ده؟ (۱۷۷۹/۱۳۳۵ھ)

ځواب: صحیح ده.

د جنب ذبیحه حلاله ده

سوال: (۵۹) که د جنابت پر مهال څوک حیوان ذبح کړي نو حلال دی او که نه؟ (۱۸۷۹/۱۳۳۸ھ)

ځواب: که په بسم الله اکبر ویلو حلال کړي وي نو ذبیحه حلاله ده د جنابت په وجه د ذبیحې په حلال والي کي هیڅ فرق نه راځي. (۲)

د جنب. حائضې او نفاسې ذبیحه حلاله ده

سوال: (۶۰) د جنب سړي یا ښځي حائضې او نفاسې او نابالغ او نابالغي ذبیحه صحیح ده او که نه؟ (۲۱۴۹/۱۳۴۳ھ)

ځواب: د جنب. حائضې. نفاسې. نابالغ او نابالغي ذبیحه صحیح ده چي په بسم الله پوهیږي و شرط كون الذابح مسلما الخ و لو الذابح مجنونا او امراءة او صبيا يعقل التسمية و الذبح الخ(۳) (در مختار) فقط

د یهودیه یا عیسائیه ښځي ذبیحه صحیح مګر احتیاط پکار دی

سوال: (۶۱) د مؤمني یا عیسایی یا یهودي ښځي ذبیحه څنګه ده؟ (۱۲۴۲/۱۳۴۲ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۵/۲۰۹ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) و تحل ذبيحة مسلم... و لو امرءة حائضا او نفساء او جنبا اهـ (الدر المنتقى فى شرح الملتقى على هامش مجمع الانهر ۴/۱۵۴ اوائل كتاب الذبح المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت)

(۳) الدر المختار مع الرد ۵/۲۰۹ كتاب الذبائح. ط رشيديه

ځواب: د مسلماني یا کتابیه ښځي ذبیحه صحیح ده مګر د کتابیې له ذبیحه څخه احتیاط کول غوره دی. (۱) فقط

د امي ذبیحه څنګه ده؟

سوال: (۲۲) یو قصاب یو مخ هیڅ نه دي ویلي امي دي د ده ذبیحه څنګه ده؟ (۱۵۲۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: ذبیحه د هر مسلمان کله چي بسم الله الله اکبر وایي حلاله ده.

مسلمان لیونی که د الله په نوم ذبح وکړي نو...

سوال: (۲۳) د مسلمان ذبیحه که هلک نابالغ وي یا ښځه یا لیونی یا بې او د سه وي او دی د الله په نوم ذبح وکړي نو داسي ذبیحه حلاله ده او کنه؟ څوک چي ناجائز بولي د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۱۱۷۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: داسي ذبیحه حلاله ده ورته حرام ویونکی خطا دی مسئله به نه وي ورمعلومه مسئله ورته بیان کړي وروسته ده ته اختیار دی که مني او که یې نه مني. فقط

د ګونګي او لیوني مسلمان ذبح څنګه ده؟

سوال: (۲۴) ... (الف) د ګونګي، نابالغ او لیوني مسلمان ذبیحه جائز ده او کنه؟ کله چي ببله تکبیر ویلو ذبح وکړي.

(ب) که ګونکی د ذبح پر مهال صرف الله او نابالغ او لیونی په تکبیر سره ذبح وکړي نو ذبیحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۱۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: (الف) د مجنون او نابالغ ذبیحه چي ببله تکبیر ویلو ذبح وکړي جائز نه ده اما د ګونکي ذبیحه جائز ده په شامي کي راغلي دي: قوله: (او اخرس) ... لان عجزه عن التسمية لا يمنع

---

(۱) و تحل ذبيحة النصارى مطلقا سواء قال: ثالث ثلاثة اولا و مقتضى الدلائل الجواز كما ذكره التمرتاشي فى فتاواه و الاولى ان لا ياكل ذبيحتهم و لا يتزوج منهم الا للضرورة كما حققه الكمال ابن الهمام. (رد المحتار ۵/۲۰۸ كتاب الذبائح. ط رشيديه)

صحة ذكاته كصلاته الخ.(۱)

(ب) حلاله ده قال فى الدر المختار: فتحل ذبيحتهما و لو الذابح مجنونا او امراة او صبيا يعقل التسمية و الذبح... او اقلف او اخرس. (۱)

د ناسنته ذبیحه حلاله ده

سوال: (۲۵) یو دیرش یا څلویښت کلن سړی مسلمان شوی دی سنت شوی نه دی په ده وزه حلالول جائز دي او کنه؟ (۱۱۲۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د ده د لاس ذبیحه حلاله ده(۲) مګر سنتول د ده ضرور په کار دي.

د عنین(نامرده) ذبیحه حلاله ده

سوال: (۲۶) یو سړی مورزاده عنین دی زیږه او بریتونه یو مخ نشته لیکن پر شرع برابر لمونځ ګزاره او له هر ډول شرک او بدعتونو خلاص دی د داسي سړي ذبیحه څنګه ده؟ (۷۴۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: ذبیحه د ده صحیح ده او حلاله ده په دي شرط چي د بسم الله الله اکبر سره به وي

قصداً بسم الله پرېښودونکي ذبیحه حلاله نه ده

سوال: (۲۷) زمونږ په وطن کي زیاتره خلک د شافعي مذهب او سیږي د ذبح پر مهال بسم الله الله اکبر نه وایي آیا د دوی ذبیحه خوړل جائز ده او کنه؟

(۱۹۲۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په عمداً ترک د تسمیه کولو عند الحنفیه بلکه عند الجمهور ذبیحه حلاله نه ده كما فى الدر المختار: لا تحل ذبيحة... و تارک تسمية عمدًا. (۳) فقط

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۰۹/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) و لو الذابح مجنونا... او اقلف و فى الشامي: قوله: (او اقلف): هو الذى لم يختن (الدر و الرد ۲۰۹/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه)

(۳) الدر مع الرد ۲۱۰/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

که د ذبح کولو پر مهال بسم الله په هېره پاتې شي

سوال: (۶۸) که د ذبح پر مهال بسم الله سهواً پاته شي نو ذبيحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۳۹/۲۴۴هـ)

ځواب: داسي ذبيحه حلاله ده کما فی الدر المختار: فان ترکها ناسيا حل. (۱)

د جاهل بې لمانځه مسلمان ذبيحه حلاله ده

سوال: (۶۹) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرع متين په دغه مسئله کي چي د بې لمانځه جاهل ذبيحه خوړل بېله کراهيته جائز ده او کنه؟ (۳۲/۲۴۰-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که مسلمان بېلمانځه جاهل کوم مأکول اللحم حيوان حلال کړي خوراک د هغه بېله کراهيته جائز دی قال فی الدر المختار: و شرط کون الذابح مسلما الخ. (۲)

د بې لمانځه، بې اودسه او پاکي خيال نه ساتونکي ذبيحه حلاله ده

سوال: (۷۰) کوم بې لمانځه چي د طهارت هم خيال نه ساتي او بې اودسه هم دی د داسي مسسلمان ذبيحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۲۳هـ)

ځواب: ذبيحه حلاله ده.

د فاسق ذبح څنګه ده؟

سوال: (۷۱) يو سړی چي نوم يې د مسلمانانو په رنګه نه دی شراب او نوري نشې کوي لنډه دا چي فاسق دی د ده د لاس ذبيحه څنګه ده؟ (۳۳/۱۹۵۱-۱۳۳۴هـ)

ځواب: که کلمه ويونکی مسلمان دی نو ذبيحه د ده صحيح ده او حلاله ده که څه هم زاني او فاسق دی. فقط

---

(۱) الدر مع الرد ۵/۲۱۰ کتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۵/۲۰۸ کتاب الذبائح. ط رشيديه

سوال: (۷۲) نن صبا چي کوم ملا د وزو پر حلالولو مقرر دی هغه د مندرانو او قبرونو سره ذبح کوي او همدغه ملا د مسلمانانو وزې هم حلالوي د ده د لاس ذبیحه خوړل شرعًا حلاله ده او کنه؟ که څه هم دی په بسم الله ذبح کوي. (۱۳۳۵/۴۳۶ھ)

ځواب: د ده د لاس ذبیحه حلاله ده که څه هم په دغه فعل دی ګنهکار دی او فاسق دی مګر د فاسق مسلمان ذبیحه حلاله ده. فقط

سوال: (۷۳) یو فقیر بې لمانځه روژه خور د هندوانو رواجونه کوي او څوک چي نجس خوري د هغو له کوره خوراک کوي له اسلامي احکامو خبر نه دی د ده ذبیحه څنګه ده؟ (۱۳۴۱/۲۳۷۳ھ)

ځواب: مسئله دا ده چي د هر مسلمان د لاس ذبح کړی حیوان حلال دی کله چي په بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کړي که څه هم هغه مسلمان فاسق فاجر بې لمانځه او روژه خور وي لهذا ذبیحه د دغه فقیر چي ځان ته مسلمان وایي او کلمه وایي حلاله ده اما په دې وجه چي دی د هندوانو رواج کوي او د نجس خوړنکیو له کورنو خوراک کوي او په اسلامي احکامو نه پوهیږي د ده په ذبیحه کي احتیاط کول ښه دي او د تنبیه لپاره د ده د لاس ذبیحه نه خوړل ښه دي تر څو آئنده دی اسلامي خبري زده کړي او د لمانځه روژې پابندي وکړي. فقط

د بدعتي د ذبح حکم

سوال: (۷۴) د بدعتي د لاس ذبیحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۲۳ھ)

ځواب: حلاله ده.

د شیعه د ذبح حکم

سوال: (۷۵) د رافضي د لاس ذبیحه د سني لپاره خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۰۵۸ھ)

ځواب: کوم روافض چي شیخینو رضی الله عنهما ته ښکنځل او بي بي عائشه رضی الله عنها باندي تهمت لګوي هغه کافران او مرتدین دي او د مرتد ذبیحه جائز نه ده څکه د داسي روافضو د لاس ذبیحه

هم جائز نه شوه. په در مختار کي راغلي دي: لا تحل ذبیحة غیر کتابی من وثنی و مجوسی و مرتد الخ(۱) و فی الخانیة: لا تحل ذبیحة المرتد الخ(۲) او په البحر الرائق کي راغلي دي: و قد صرح فی الخلاصة و البزازیه: بان الرافضی اذا سب الشیخین (ابی بکر و عمر رضی الله عنهما) وطعن فیهما کفر و فی الجوهرة: من سب الشیخین او طعن فیهما کفر(۳) او په شامي کي راغلي دي: لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق رضی الله عنه الخ. (۴)

سوال: (۷۶) د سني شیعه مذبوحه شرعًا حلاله ده که حرامه؟ (۲۲۱۴/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د ده په مذبوحه کي احتیاط کول پکار دی. مه یې خوري.

سوال: (۷۷) یو لمونځ ګزاره یا بي لمانځه شیعه وزه ذبح کړه د سني لپاره داسي غوښه خوړل جائز ده او کنه؟ (۹۵۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په شیعه ذبح کولو کي احتیاط کول پکار دی ځکه چي کومه ډله په دوی کي کافره ده د هغې ذبیحه حلاله نه ده او شکمنه خو په هر صورت کي ده.

سوال: (۷۸) دلته د یو شیعه سړي پر ذبیحه بحث دی شرعًا د شیعه ذبیحه خوړل جائز دي او کنه؟ که هغه تبرائی وي نو څه حکم دی؟ او که تبرائي نه وي نو څه حکم دی؟ (۸۰۴/۱۳۳۵هـ)

ځواب: تبرائي (بد و رد ویونکي) شیعه ځینو فقهاؤ کافر بللي دي د ده ذبیحه نه ده خوړل پکار احتیاط کول پکار دی او ځیني روافض په اتفاق سره کافران دي کوم چي د قطعي نصوصو منکرین دي لکه هغه ډله چي د بي بي عائشي رضی الله عنها د افک قائلین دي پر دې تهمت وایي یا د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د صاحبیت منکرین دي او نور د دوی ذبیحه قطعًا حرامه ده اما هغه فرقه چي عقائد یې کفري نه دي لکه چي تفضیله ډله د دوی ذبیحه حلاله ده مګر نن صبا چي کوم روافض دي هغوی زیاتره تبرایان دي ځکه د دوی له ذبیحې څخه احتیاط کول پکار دی. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۰۹/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) الفتاوی الخانیة ۳۶۸/۳ کتاب الصید و الذبائح، باب فی الذکاة.

(۳) البحر الرائق ۲۱۲/۵ کتاب السیر باب احکام المرتدین.

(۴) رد المحتار ۳۲۱/۳ کتاب الجهاد باب المرتد مطلب مهم فی حکم سب الشیخین. ط رشیدیه

سوال: (۷۹) زید وایي چې د شیعه د لاس ذبیحه حلاله نه ده حرامه ده ځکه چې دوی په شیخینو پسې بد رد وایي ځکه کافر دي عمر وایي چې شیعه د لا اله الا الله په ویلو مسلمان دي اما شیخینو ته په بد رد ویلو فاسق او فاجر دي کافر نه دي آیا ذبیحه د دوی حلاله ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۵۸۰هـ)

ځواب: صرف د شیخینو د سب په وجه خو صحیح دا دی چې کافر نه دی فاسق دی او ذبیحه یې حلاله ده لیکن که روافض منکرین د قطعیاتو دي مثلاً د بي بي عائشې رضی الله عنها د افک قائله دي او دا له تهمته خلاصه نه بولي لکه چې غالبًا تبرائی رافیضان نژدې نژدې ټول داسې دي نو دوی مرتد دي ذبیحه یې حلاله نه ده لنډه دا چې احتیاط لازم دی چې معامله د حلالو او حرامو ده.

سوال: (۸۰) یو سړی شیعه غالبًا تبرا وینکی دی د ده د لاس ذبیحه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۳۶-۳۵/۵۵۱هـ)

ځواب: رافضي تبرا ویونکی که پر بي بي عایشه رضی الله عنها باندې د افک او قذف عقیده هم لري نو د علماء په اتفاق سره کافر دی ځکه چې براءت د بي بي عائشې رضی الله عنها په قطعي نص سره ثابت دی نو منکر د دې کافر دی د داسې رافضي ذبیحه حلاله نه ده او که په ښکاره دی د داسې عقیدې اظهار نه کوي او قوي احتمال شته چې دی تبرا ویونکی او پر بي بي عایشې رضی الله عنها باندې د افک عقیده لري بیا هم د ده د لاس ذبیحه حلاله نه ده او بله دا چې دغه ډله د باطني پلیتۍ په وجه د سنیانو په ډوډۍ او خوراک کې نجاست او مرداري اچوي که په غالب ظن سره داسې خیال وي نو د دوی د کور ډوډۍ هم مه خورئ فقط

د قادیاني د ذبیحې حکم

سوال: (۸۱) د مرزا غلام احمد قادیاني پیروي کونکي چې کومه ډله ده د دوی ذبیحه خوړل څنګه ده؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۴۸هـ)

ځواب: د دوی ذبیحه صحیح نه ده.

د لواطت کونکي ذبیحه څنګه ده؟

سوال: (۸۲) عبد الله قصاب د یو هلک سره ناروا عمل وکړی مونږ

د کلي خلګو یوه ورځ دواړه ونیؤ او ومي وهل بیا مي پرېښودو او د ده ذبیحه خوړل مي پرېښودو وروسته مي د ده د سکه ورور په وینا معاف کړی او ذبیحه مي خوړه او ه میاشتي کیږي چي یوه ناجوړه پر مرګ پرته ګامېښه راوړه د هغې غوښي په موټر وخوړې دا قصور مي هم ورمعاف کړی بیا ده څه نوري خطاوي وکړې و توبه یې ... ایسنله د داسي سړي ذبیحه خوړل جائز ده او کنه؟ او داسي سړی له اسلامه وتلی دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۴۱۵هـ)

ځواب: دی مسلمان دی او د ده ذبیحه خوړل صحیح دي خوش ګفت

این درگاه مادرگاه ناامیدی نیست — صد بار گر توبه شکستی باز آ

او دا مضمون د حدیث شریف دی. (۱)

د مردار حیوان څرمن او هډونه را ایستونکي ذبیحه څنګه ده؟

سوال: (۸۳) یو قصاب دی چي د مردار شوي حیوان یعني غوا. غوا یه مردار شوي څرمن او هډونه رااوباسي او داغه ډول غوښه او نور هم خرڅوي او پخپل لاس ذبح کوي نو د ده ذبح څنګه ده؟ (۱۳۴۱/۱۴۱۲هـ)

ځواب: که په نوموړي قصاب کي د ذبح شرطونه موجود دي نو د ده ذبیحه حلاله ده کما في الدر المختار: و شرط کون الذابح مسلما حلالا خارج الحرم ان کان صیدًا ... او کتابیا ذمیا

---

(۱) عن ابی ذر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فیما یروی عن الله تبارک و تعالی: انه قال: ... یا عبدی! انکم تخطئون باللیل و النهار و انا اغفر الذنوب جمیعا فاستغفرونی اغفرلکم... رواه مسلم و عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان عبدًا اذنب ذنبا. فقال: رب! اذنبت فاغفره فقال ربه: اعلم عبدی ان له ربا یغفر الذنب و یاخذ به؟ غفرت لعبدی ثم مکث ماشاء الله ثم اذنب ذنبا قال: رب! اذنبت ذنبا فاغفره فقال: اعلم عبدی ان له ربا یغفر الذنب و یاخذ به؟ غفرت لعبدی ثم مکث ماشاء الله ثم اذنب ذنبا قال: رب! اذنبت ذنبا آخر فاغفره لی فقال اعلم عبدی ان له ربا یغفر الذنب و یاخذ به؟ غفرت لعبدی فلیفعل ماشاء متفق علیه(مشکاة المصابیح ص: ۲۰۳-۲۰۴ کتاب اسماء الله تعالی باب الاستغفار و التوبة، الفصل الاول)

او حربيا الا اذا سمع منه عند الذبح ذكر المسيح فتحل ذبيحتهما و لو مجنونا او امرأة او صبيا يعقل التسمية و الذبح ملخصا. (۱) فقط

که ذبح کونکی مسلمان اونیونکی نامسلمان وي نو..

سوال: (۸۴) : حیوان د ذبح کولو پر مهال یو کافر په ذبح کې یعنې د حیوان په نیولو کې برخه واخلي او مسلمان یې حلال کړي نو څنګه دی؟ (۲۷۴ / ۲۹ – ۱۳۳۰ هـ)

ځواب: که ذبح کونکی مسلمان وي او په بسم الله الله اکبر ویلو ده ذبح کړې وي کافر صرف ورته نیولی وي په چاړه راکشولو کې ورسره شریک نه وي نو ذبیحه حلاله ده کما في الدر المختار: و فيها تشترط التسمية من الذابح الخ. (۲) فقط

سوال: (۸۵) هندو حیوان ورته نیولی ؤ او مسلمان په بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کړی خوراک یې روا دی که ناروا؟ (۲۲۴/۳۳–۱۳۳۴ هـ)

ځواب: کله چې ذبح کونکی مسلمان دی او ده په بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کړې نو ذبیحه حلاله ده نیونکي که تکبیر او تسمیه نه ووایي یا نیونکی کافر. هندو او بل وي نو په ذبیحه کې هیڅ شک نشته. خوراک ئې صحیح دی.

سوال: (۸۶) ... (الف) زمونږ په خوا زیاتره قصابان هندوان دي دوی ذبح په مسلمان کوي پخپله حیوان ورته نیولی وي او کله نا کله کوم مسلمان هم حیوان ورسره نیسي لیکن نیونکی بسم الله الله اکبر نه وایي صرف ذبح کونکی بسم الله الله اکبر وایي په "رفاه المسلمین" کې لیکلي دي چې تر څو ذبح کونکی او د ده همکار دواړه بسم الله ونه وایي نو هغه ذبیحه حلاله نه ده په داسې صورت کې شرعًا څه حکم دی؟

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۰۸/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامي ۲۱۲/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(ب) هندو ورته ونیوی او مسلمان په بسم الله الله اکبر ویلو سره حلال کړی دا سي ذبیحه څنګه ده؟ (۱۳۳۵/۱۰۲۳هـ)

ځواب: (الف) بسم الله صرف پر ذبح کونکي ده د نیونکي بسم الله ویل ضروري نه ده او دا خبره چي په "رفاه المسلمین" او نورو کي لیکلي دي چي پر همکار هم تکبیر ویل لازم دي د دې مطلب دا دی چي څوک په ذبح کي همکاروي یعني د هغه لاس هم د قصاب سره پر چاړه پروت وي لکه چي د دې تشریح په شامي کي راغلې ده: فوضع یده مع القصاب فی الذبح و اعانه علی الذبح سمی و کل وجوبا فلو ترکها احدهما حرمت الخ (۱)

(ب) حلاله ده. فقط

صرف د ذبح کونکي بسم الله ویل ضروري ده

سوال: (۸۷) د حیوان نیونکي او پر غاړه چاړه ورتېرونکي باندي تکبیر واجب دی او کنه؟ که کافر ورته ونیسي نو ذبیحه حلاله ده که حرامه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۳۲هـ)

ځواب: صرف پر غاړه چاړه ورتېرونکي باندي تسمیه واجب ده پر نیونکي واجب نه ده نو که کافر ورته ونیوله او مسلمان تکبیر ورباندي ووایو ذبح کړه نو ذبیحه حلاله ده.

سوال: (۸۸) څوک چي پسه حلالوي او د ده سره یو بل سړی ملګری وي پسه یې ورته نیولی وي که دغه پسه ورته نیونکی تکبیرونه وایي نو آیا ذبیحه حرامیږي؟ آیا د حلالونکي او نیونکي دواړو لپاره د ذبح پر مهال تکبیر ویل لازمي دی او کنه؟
(۱۳۳۵/۱۵۰۴هـ)

ځواب: بسم الله الله اکبر صرف پر ذبح کونکي فرض ده پر پښو او حیوان نیونکي تسمیه فرض نه ده او په در مختار او نورو کي چي د ذبح کونکي پر شریک باندي د تسمیه فرض والی لیکلی دی د هغه د مطلب څرګندونه په در مختار او نورو کي شوې ده چي د دې څخه مراد دا دی چي د چا لاس د ذبح کونکي سره د چاړې په راکشولو کي شریک وي پر هغه هم تسمیه فرض ده نه پر هغه چا چي پښې یې ورته نیولي وي او د حرمینو شریفینو له علماء څخه یو وار پوښتنه

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲۳۵/۵ آخر کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

وشوه چې تسمیه صرف پر ذبح کونکي فرض ده که پر پښو نیونکي هم؟ نو دوی په عربي په داسي لنډو الفاظو جواب ورکړی: علی الذابح یعني تسمیه صرف پر ذبح کونکي فرض ده. فقط

سوال: (۸۹) که د ذبح پر مهال پسه کافر یا مشرک یا هغه مسلمان چې په تکبیر نه پوهیږي یا هغه چې په پوهیږي مګر د نیولو په فکر یې تکبیر ویل هیر شي نو په څلور سره صورتونو کي ذبیحه صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۱۹ھ)

ځواب: په څلور سره صورتونو کي ذبیحه حلاله ده قال فی الدر المختار کتاب الذبائح: و فیها تشترط التسمیة من الذابح الخ(۱) مطلب د دې دا دی چې صرف د ذبح کونکي بسم الله اکبر ویل د ذبیحې د حلالوالي لپاره شرط دي

سوال: (۹۰) پر ذبح کونکي او نیونکي دواړو تکبیر ویل شرط دی که څنګه؟ ځیني فقهاء فرمایي چې د نیونکي لپاره هم تسمیه شرط ده. (۱۳۳۵/۱۵۰۱ھ)

ځواب: صرف پر غاړه چاړه راتېرونکي او ذبح کونکي باندي تکبیر ویل شرط دی د پسه پر نیونکي تسمیه شرط نه ده او کومو فقهاء چې لیکلي دي چې پر همکار تسمیه شرط ده د هغوی مراد دا دی چې که د چاړې په نیولو کي څوک د قصاب ملګری او شریک وي نو پر هغه تسمیه شرط ده صرف پر پښو او حیوان نیونکي نه ده او ویل یې ښه دي.

د کافر لپاره په سا بندولو حیوان وژل جائز نه دي

سوال: (۹۱) زید د یو انګریز مزدور دی انګریز ورته وایي چې چرګ یا بل حیوان تر غاړه نسه په خپله یې مړ کړه ماته راپخوه حلالوږ یې مه دزید لپاره داسي کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۵۴۵ھ)

ځواب: په سا بندولو د حیوان وژل جائز نه دي په دې اره د کافر همکاري مه کوئ کما ورد فی الحدیث: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۱) قال الله تعالی: [حرمت علیکم

---

(۱) الدر مع الرد ۲۱۲/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

الميتة و الدم و لحم الخنزير و ما اهل لغير الله به و المنخنقة و الموقوذة و المتردية و النطيحة و مـا اكل السبع الا ما ذكيتم] الاية (سورة مائدة،آيت:۲) فقط

د کافر لپاره په توره د حيوان وژل جائز نه دي

سوال: (۹۲) يو سړی د انګريز مزدور دی انګريز ورته وايي ته زما پسه مه حلالوه بلکه په توره سر ځني وهه داسي کول څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۲۴۵هـ)

ځواب: د دغه مزدور لپاره داسي کول جائز نه دي سم دی ورته ووايي چي د اسلامي قانون سره سم زه دا حيوان حلالولای شم په توره او نورو يې نشم وژلای. فقط

په توره وژلو لپاره وزه او نور ورکول يا وراخيستل

سوال: (۹۳ ... (الف) که کوم قصاب قصداً په توره وهلو لپاره وزه او بل حيوان ورکړي نو څنګه دی؟

(ب) که کوم مشر چي قصاب د ده کار کوي په زور په توره وژلو لپاره وزې ورکولو کوشش کوي نو څنګه دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۰۱هـ)

ځواب: (الف) دا کار ښه نه دی بېله کومي مجبوری. په توره وژلو لپاره خپله وزه په خوشحالي ورکول ګناه ده او که مجبوري وي نو ګناه نه ده.

(ب) هغه هم ګنهکار دی.

د غلا غوا په تکبير يا بې تکبيره حلالول

سوال: (۹۴) ... (الف) د غلا غوا بېله بسم الله ويلو حلالول چي قصداً بسم الله پرېږدي او وروسته مالک د خوراک اجازه وکړي نو خوراک يې څنګه دی؟

(ب) د غلا غوا يا وزه چا په بسم الله الله اکبر سره حلاله کړه خوراک يې څنګه دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۳۱هـ)

---

(۱) عن النواس بن سمعان رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق رواه فى شرح السنة (مشكاة المصابيح ص: ۳۲۱ كتاب الامارة و القضاء، الفصل الثانى)

ځواب: (الف) حرام دی.

(ب) ذبيحه حلاله شوه مګر بې د مالک له اجازې او ضمان کولو يې خوراک منع دی.

د غلا وزه په ذبح حلاليږي او کنه؟

سوال: (۹۵) يو سړي د چا وزه غلا کړه پر قصاب يې خرڅه کړه هغو سره د دې چې په خبر ؤ چې دا وزه د غلا ده حلاله کړه او وې خوړله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۴۲۷/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د حنفي فقهې په کتابونو کې ليکلي دي چې د غلا او غصب حيوان له حلالولو وروسته د غصب کونکي او غلا کونکي ملک ګرځي او په حلالولو د هغه حيوان ضمان ورباندي لازميږي مثلاً څومره بيه چې د دغه وزې وي هغه پر د دغه غلا کونکي قصاب لازمه ده د دغه قيمت به د وزې و مالک ته ورکوي يا به پخپله خني غواړي او د وزې غوښې خوړل حلال دي يعني دغه وزه مرداره نه ده بلکه ذبيحه ده او په در مختار کې دا هم ليکلي دي چې د ضمان له ادا کولو مخکې استفاده کول د غلا له حيوان څخه حلال نه دي که څه هم د ذبح په وجه د ده ملک ګرځي و ملكه بلا حل انتفاع قبل اداء ضمانه اى رضا مالكه باداء او ابراء الخ كذبح شاة الخ اى شاة غيره. (۱) فقط

هندو او بنګي که مسلمان ته وزه ورکړي چې په تکبير سره حلاله کړه او تقسيم يې کړه

سوال: (۹۶) هندو او بنګي که و مسلمان ته وزه ورکړي چې ته دا وزه د الله په نوم حلاله کړه او خيرات يې کړه دا څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۱۵۹۱هـ)

ځواب: کافران، هندوان او نور که کومه وزه او نور و يو مسلمان ته ورکړي چې دا د الله په نوم حلاله کړه خيرات يې کړه نو دې ته پام بايد وشي چې دغه کافرانو که دغه وزه د کوم بت په نوم کړې وي او د مسلمان

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۱۳۱/۵ كتاب الغصب مطلب شرى دار او سكنها فظهرت لوقف او يتيم وجب الاجر و هو المعتمد. ط رشيديه

ملک یې نه وي ګرځولې نو د دې خوراک حلال نه دی او که د کوم بت او نورو په نوم نه وي ګرځولی نو بیا د مسلمانانو لپاره د دې خوراک د مسلمان تر ذبح کولو وروسته حلال دی.

د غیر الله په نوم ټاکلی حیوان په بسم الله الله اکبر ویلو نه حلالیږي

سوال: (۹۷) د اوو مسلمانانو زامن پیدا شول دوی د شیخ سدو بابا په نوم وزې وټاکلې چې کله زمونږ د زامنو کال پوره شي نو ذبح به کړو خو له کال پوره کیدو څخه مخکې یو هلک مړ شو د هغه پلار و حافظ صاحب ته وویل چې دا ذبح کړه د هغه بل زوی چې د کال شو هغه هم ورته وویل ذبح کړه حافظ صاحب دواړې وزې په بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کړې دا وخت د سدو بابا نوم نه دی پر اخیستل شوی مخکې د سدو بابا په نوم شوې وې د ذبح کونکي حافظ په نیت کې هیڅ نه ؤ نو غوښه د دغه وزو حلاله ده که حرامه؟ او په دواړو کې څۀ فرق شته او کنه؟ دغه غوښه و بنګې او بل ته ورکړو؟ که ښخه کړو؟ که یې و مسکینانو ته ورکړو؟ (۱۳۳۵/۱۰۷۹هـ)

ځواب: د دغه دواړو وزو نیت چې کله لومړی د شیخ سدو بابا وشو او مالک دغه نیت بدل کړی هم نه دی نو دا "ما اهل به لغیر الله" شول په بسم الله الله اکبر ویلو نه حلالیږي او په دواړو کې هیڅ فرق نشته که دغه غوښه ښخوي او که بنګې ته ورکوي د مسلمانانو لپاره خوړل صحیح نه دي کذا فی الدر المختار. (۱) فقط

سوال: (۹۸) یو مسلمان وعظ کونکي چې خلک یې خپل پیشوا، بزرګ او ناصح مسلم، عالم او دین دار بولي او د ده په اړه ښکه عقیده ساتي دی وایي چې د شیخ سدو بابا په نوم وزه دا ډول کول صحیح دي چې څو ورځې پرهېږدي او کله چې حلالوي نو تکبیر پر ووایه نو شرعًا جائز شوه دا ډول به د دې ثواب د شیخ سدو بابا شي او غوښه خوړل یې مسلمانانو ته حلال شول لنډه دا چې د چا په نوم وزه، چرګ یا کوم بل حیوان هر شی چې وي وټاکل شي یا خوشې کړل شي مګر

(۱) ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله و لو... ذکر اسم الله تعالی(الدر المختار مع الشامي ۲۱۷/۵ اواخر کتاب الذبح. ط رشیدیه)

د ذبح پر مهال باید تکبیر پر وویل شي بېله کراهیته روا کېږي او دا نیت به هم وي چي دا د شیخ سدو بابا یا د فلاني د نوم وزه ده چي په بسم الله الله اکبر ویلو ذبح کېږي او د تعظیم او تکریم په توګه د شیخ سدو بابا یا بل چا په نوم خوشي کول کېږي یا ټاکل کېږي په دې صورت کي شرعي حکم څه دی؟ (۳۵/۵۲۲-۱۳۳۲ھ)

ځواب: په اوس زمانه کي د ځیني خلکو په ذهنو کي دا غلطه خبره راغلې ده چي د غیر الله په نوم پرېښی حیوان په تکبیر سره حلالېږي حالانکه په قرآني ایتونو حدیثو او فقهي روایتونو د "ما اهل به لغیر الله" حرام والی مطلقًا ثابت دی که د الله په نوم حلال کړي او که نکړي حلال حضرت شاه عبد العزیز صاحب دهلوي رحمه الله پخپل تفسیر فتح العزیز کي د بسم الله الله اکبر ویلو با وجوده د ما اهل به لغیر الله د حرمت وجه دا تحقیق فرمایلي دي چي د غیر الله نوم په کوم حیوان باندي تعظیمًا اېښودلو په وجه هغه حیوان د خنزیر په رنګه نجس العین شو نو لکه څرنګه چي خنزیر په تکبیر نه حلالېږي داغه راز ما اهل به لغیر الله هم په تکبیر او تسمیه نه حلالېږي (۱) په در مختار کي کوم چي د حنفي فقه معتبر او مقبول کتاب دی دا روایت راغلی دی: ذبح لقدوم الامیر ونحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله و لو وصلیة ذکر اسم الله تعالی الخ(۲) بیا پر مخ لیکي چي داسي کونکی کافر دی او کنه؟ په دې کي دوه قوله دي: و هل یکفر؟ قولان بزازیه و شرح وهبانیة(۲) په شامي کي راغلي دي: قوله و هل یکفر ای فیما بینه و بین الله تعالی اذ لا یفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه او فعله علی محمل حسن او کان فی کفره خلاف الخ.(۲) فقط

---

(۱) ودر حدیث صحیح وارد است که ملعون من ذبح لغیر الله یعنی هر که بذبح جانور تقریب بغیر خدا نماید ملعون است خواه در وقت ذبح نام خدا بگیرد یا نه زیراکه چون شهرت داد که این جانور برائے فلانی است ذکر نام خدا وقت ذبح فائده نکرد، چه آن جانور منسوب بآن غیر گشت وخبثے در وپیدا گشت که زیاده از خبث مردار ست زیراکه مردار بے ذکر نام خدا جان داده است و جان ایں جانور را از آں غیر قرار داده گشته اند وآں عین شرک است وهر گاه ایں خبث در وے سرایت کرد دیگر به ذکر نام خدا حلال نمی شود مانند سگ وخوک که اگر به نام خدا مذبوح شوند حلال نمی گردند، وکنه ایں مسئله آں ست که جان را برائے غیر جان آفرین نیاز کردن درست نیست الخ(فتح العزیز المعروف بتفسیر عزیزی ص: ٤١٥ در بیان احکام ما اهل به لغیر الله تحت الآیة: انما حرم علیکم المیتة و الدم و لحم الخنزیرو ما اهل به لغیر الله(سورة بقره، آیت: ۱۷۳)

(۲) الدر و الرد ۵/۲۱۷ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

سوال: (۹۹) زید یوه وزه د شیخ سدو بابا په نوم نذر کړه په بسم الله الله اکبر سره ذبح کړه یا کوم مشرک د بت په نوم وزه آزاده کړه او س هغه وزه و یو مسلمان ته په لاس ورغله هغه په بسم الله الله اکبر ویلو سره ذبح کړه شرعًا د دې خوراک څنګه دی؟
(۱۳۳۷/۲۴۱۹هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله و لو وصلیة ذکر اسم الله تعالی الخ(۱) له دې څخه معلوم شو چي کوم حیوان د غیر الله د تقرب لپاره ټاکل شوی وي او قربت لغیر الله له هغه څخه مقصود وي هغه حیوان که څه هم د الله په نوم ذبح کړل شي هغه نه حلالیږي ځکه چي هغه په ما اهل به لغیر الله کي داخل دی او د ما اهل به لغیر الله حرمت په قرآن شریف کي منصوص دی(۲) او تحقیق د دې د حضرت شاه عبد العزیز دهلوي قدس سره په تفسیر کي په تفصیل سره بیان شوې دی(۳) نو د شیخ سدو بابا د نوم وزه او د بتانو د نوم حیوان په بسم الله الله اکبر ویلو نه حلالیږي فقط

هندوانو چي د غیر الله په نوم کوم حیوانان خوشي کړي وي د هغوی له مالکانو رانیول او ذبح کول

سوال: (۱۰۰) یو ځای هندوانو حیوانان د غیر الله په نوم آزاد کړل لکه چي د دوی طریقه ده کله چي دغه حیوانانو کښت او کروندو ته نقصان ورساوی او مسلمانانو هندوانو ته شکایت وکړی چي دا نقصان کوي نو اوس هندوان دغه حیوانان چي د غیر الله په نوم یعني د خپلو بوتانو په نوم یې آزاد کړي پر مسلمانان خرخوي لهذا د مسلمانانو لپاره د دغه حیوانانو رانیول او خوړل جائز دي او کنه؟(۱۳۳۰-۲۹/۲۵۲هـ)

---

(۱) الدر مع الرد ۵/۲۱۷ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) انما حرم علیکم المیتة و الدم لحم الخنزیر و ما اهل به لغیر الله (سورة بقره، آیت: ۱۷۳) حرمت علیکم المیتة... و ما اهل به لغیر الله الآیة (سورة مائده، آیت: ۳)

(۳) فتح العزیز المعروف بتفسیر عزیزی ص: ۴۱۵ در بیان احکام ما اهل به لغیر الله تحت الآیة: انما حرم علیکم المیتة و الدم و لحم الخزیر و ما اهل به لغیر الله (سورة بقره، ایت: ۱۷۳)

ځواب: له آزادولو وروسته بیا هم دغه حیوان د آزادونکي ملک وي نو کله چي مالکان پخپله پر مسلمانانو خرځ کړي نو د مسلمانانو لپاره رانیول او خوراک ځني کول جائز دي کله چي مالکانو دغه حیوانان خرځ کړل نو د غیر الله نوم ځني پورته شو او س د دي رانیول او خوړل هیڅ پروا نلري.

د بت په نوم آزاد کړی حیوان خوړل

سوال: (۱۰۱) هندوان چي د بت په نوم کوم حیوان پربږدي د هغه خوراک حلال دی که حرام؟ یو مولوي صاحب ورته حلال وايي. (۵۷۷/۱۳۳۸ھ)

ځواب: کوم حیوان چي د غیر الله په نوم خوشي کړل شي او تقرب لغیر الله ځني مقصود وي هغه ما اهل به لغیر الله دی خوراک د هغه حرام دی حرمت یې په قرآن شریف کي منصوص دی(۱) او د حنفي فقهي په کتابونو کي څرګندونه راغلي ده چي کوم حیوان تقربًا لغیر الله آزاد کړل شي هغه ما اهل به لغیر الله دی د الله په نوم په ذبح کولو هم نه حلالیږي(۲) نو د دغه آزاد کړي حیوان ښخه خوراک صحیح نه دی او دي ته حلال ویونکی خطا دی. فقط

مرغه او نور د چا پر سر راګرځولو وروسته حلالول

سوال: (۱۰۲) که کوم مرغه یا چرګه یا مرغومی د چا پر سر راتیرولو او ګرځولو وروسته ذبح کړي نو داسي کول ګناه ده که دغه حیوان حرام شو؟ (۲۳۹/۱۳۳۷ھ)

ځواب: دا هم په ما اهل به لغیر الله کي داخل دی او حرام دی او که د الله په نوم صدقه او خیرات کوي نو حلال دی. فقط

(۱) انما حرم علیکم المیتة و الدم و لحم الخنزیر و ما اهل به لغیر الله (سورة بقره، آیت: ۱۷۳) حرمت علیکم المیتة... و ما اهل لغیر الله به الایة (سورة مائده، آیت:۳)

(۲)ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله و لو... ذکر اسم الله تعالی(الدر مع الرد ۵/۲۱۷ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

د غیر الله په نوم ټاکلي حیوان کي که ټاکونکی نیت بدل کړي د الله په نوم یې حلال کړي نو...

سوال: (۱۰۳) کوم حیوان چي د غیر الله په نوم وي بیا که سړی نیت بدل کړي دغه حیوان د الله په نوم حلال کړي نو خوراک یې څنګه دی؟ که په نیت بدلولو حلالیږي نو د سود روپۍ هم باید په نیت بدلولو حلالي شي؟ (۹۰۳/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: کوم حیوان چي د غیر الله په نوم کولو په وجه په اهل به لغیر الله کي داخل او حرام شوی ؤ که نذر منونکی خپل نیت بدل کړي او د غیر الله نوم ځیني لیري کړي او له ما اهل به لغیر الله څخه جلا کړي او بیا یې د الله د قرب لپاره د الله په نوم ذبح کړي نو هغه حلال دی اصل دا دی چي په ما اهل به لغیر الله کي چي د تقرب د غیر الله په وجه کوم چي شرک دی چي کوم حرمت راغلی ؤ نو کله چي د قرب د غیر الله نیت پاته نه شو نو د "انما الاعمال بالنیات" (۱) په حکم دغه حیوان حلال شو ځکه چي اصلاً حیوان حلال ؤ د غیر الله د تقرب د نیت په وجه پکي خرابي راغلې وه نو کله چي نیت پر ځای پاته نه شو نو خرابي هم لیري شوه په خلاف د سود د روپیو چي هغه خو اصلاً حرامي دي او د بل چا مال په ناروا طریقه اخیستل شوی دی لهذا د هغه بیرته مالک ته ورکول لازم دي لکه چي له چا څخه کوم شی سړی په ظلم او غصب واخلي نو بیرته ورکول ضروري دي مګر دا که مالک پخپله خوښه ورهبه کړي قال الله تعالی: [و لا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل] الایة(سورة بقره، آیت: ۱۸۸) و قال تعالی: [یا ایها الذین آمنوا اتقوا الله و ذروا ما بقی من الربوا ان کنتم مؤمنین] الآیة (سورة بقره، آیت: ۲۷۸) قال فی الدر المختار: ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم، لانه اهل به لغیر الله و لو وصیلة ذکر اسم الله تعالی علیه الخ(۲) و فی الشامی: و اعلم ان المدار علی القصد عند ابتداء الذبح الخ(۲) فقط

(۱) صحیح البخاری ۱/۲ باب کیف کان بدء الوحی.

(۲) الدر و الرد ۵/۲۱۷ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

پر مزارونو او قبرونو ذبح شویو حیوانانو حکم

سوال: (۱۰۴) زمونږ په زمانه کي د بزرګانو په نوم خلک د روږمني مثلاً د شیخ سدو بابا وزه یا وايي د ملک نیکه د نوم وزه بیا دا قبر ته بوزي هلته په بسم الله ویلو سره ذبح کړي آیا دا اسي دروږ منل او مزارونو ته وړل روا دي که ناروا؟ او دغه مذبوح حلال دی که حرام؟ (۱۹۰۹/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: الله تعالی فرمایي: [حرمت علیکم المیتة و الدم و لحم الخنزیر و ما اهل لغیر الله به] (سورة مائده، آیت: ۳) ترجمه: پر تاسو حرام دی مردار حیوان او وینه او غوښه د خنزیر او هغه حیوان چي وربانديي د غیر الله نوم اخیستل شوی وي په در مختار کي راغلي دي چي پر کوم حیوان د غیر الله نوم اخیستل شوی وي لکه چي د نوموړي شیخ وزه د الله په نوم ذبح کولو سره نه حلالیږي انتهی(۱) نو حال د دغه حیوان د خنزیر په رنګه دی چي هغه هم په بسم الله الله اکبر سره نه حلالیږي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۰۵) عام خلک قبرونو او مزارونو ته پسونه بیایي او د روږمني یا دا وايي چي دا پسه د فلاني پیر صاحب دی بیا یي په بسم الله سره ذبح کړي آیا د دا اسي حیوان خوراک حلال دی که حرام؟ که حرام دی نو په ځیني تفسیرونو کي د اهل به عند الذبح د قید څه مطلب دی؟ څوک چي دا اسي حیوان حلال بولي د هغه امام جوړول څنګه دي؟ (۳۲/۲۳-۱۳۳۳ھ)

ځواب: کوم حیوان چي تعظیمًا و تقربًا الی غیر الله ذبح کړل شي که څه هم د الله نوم پر واخیستل شي د هغه خوراک حلال نه دی هغه په ما اهل به لغیر الله کي داخل دی او مفسرین چي په "و ما ذبح لغیر الله" سره تفسیر کوي د هغوی منشا دا ده چي دا هم یو فرد دی د ما اهل به لغیر الله، او دا غه راز هغه وخت چي به کوم حیوان د غیر الله په نوم کړي هغه به د غیر الله په نوم ذبح کاوی هم کني اصلاً محرم اهلال لغیر الله دی کوم چي د رفع الصوت په معنی دی په حنفي کتابونو کي د دا اسي حیوان د حراموالي څرګندونه راغلي ده بیا د احنافو لپاره د شک هیڅ ګنجائش نشته په در مختار کي راغلي دي: ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحدمن العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله و لو... ذکر اسم الله تعالی الخ(۲) نو کوم

---

(۱) ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحدمن العظماء یحرم، لانه اهل به لغیر الله و لو...ذکر اسم الله تعالی(الدر المختار مع الشامی ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۲) الدر المختار مع الرد ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

څوک چي دغه حیوان حلال بولي د هغه امامت صحیح نه دی په هغه پسې لمونځ مه کوي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۰۶) کوم حیوانان چي د اولیاؤ پر مزارونو او قبرونو حلالیږي د هغوی خوړل روا دي که ناروا؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۴۴۲هـ)

ځواب: که تقربًا لغیر الله ذبح کړل شي نو هغه ما اهل به لغیر الله دی خوراک د هغوی حرام دی قال فی الدر المختار: ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهـل بـه لغیر الله و لو وصیلة ذکر اسم الله تعالی الخ. (۱)

د غیر الله په نوم آزاد کړی حیوان ذبح کول او خوړل

سوال: (۱۰۷) ځینو مسلمانانو او هندوانو په ګډه یوه میږ بت ته وروستله د هندوانو د رواج په طریقه یې نذر کړه وروسته یو مسلمان په تکبیر سره حلاله کړه او غوښه یې سره ووېشله او استعمال یې کړه دا خلګ فرائض او ارکان د اسلام نه عملي کوي په روژه او اسلام پسې بد وایي د قرآن او حدیثو لپاره سپک الفاظ استعمالوي د داسې خلګو په اړه شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۳۷/۱۸۹۲هـ)

ځواب: د قرآن حکم دی چي د ما اهل به لغیر الله خوړل حرام دي نو کومو خلګو چي داسې کړي دي توبه دې اوباسي او داسې خلګ چي ترڅو توبه ونه اوباسي ورڅخه ځان ساتل اوناسته ولاړه ورسره نه کول د قرآن شریف حکم دی: [و لا ترکنوا الی الذین ظلمـوا فتمسکم النار] الآیة (سورة هود، آیت: ۱۱۳) [لا تقعد بعد الذکری مع القوم الظـالمین] الآیـة (سورة انعام، آیت: ۶۸) فقط

د باران لپاره د ولي پرقبر غوبې حلالول

سوال: (۱۰۸) څه فرمایي علماء د دین په دغه مسئله کي چي کلاچي یو کلی دی

(۱) الدر المختار مع الرد ۵/۲۱۷ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

په شاوخوا کې یې د یو بخاري سید قبر دی د خلکو خیال دی چې ولي الله دی او د بخاري صاحب په لقب مشهور دی د کلاچې د خلکو دا عادت دی چې کله باران نه کیږي او وچ کالي راشي نو دوی یو غوبی د بخاري صاحب مزار ته وروليي هلته ذبح کړي د دوی دا عقیده وي چې په دا ډول حیوان قرباني کولو به بخاري صاحب زمونږ څخه خوشحاله او راضي شي د الله په دربار کې به د باران دعا وکړي او د ولي الله کیدو په وجه د ده دعا قبلیږي آیا داسې عقیده ساتل صحیح ده؟ او د دوی دا عمل کول څنګه دي؟ او د دغه حیوان غوښه خوړل حلال دي که حرام؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۵۳هـ)

ځواب: په ظاهره له دغه ذبح څخه تقرب د غیر الله مقصود دی لکه چې د بخاري صاحب د قبر سره حلالولو خصوصیت څخه هم دې ته اشاره ده لهذا دغه ذبیحه په ما اهل به لغیر الله کې داخله ده او د غیر الله په نوم شوې ده او کوم حیوان چې د غیر الله په نوم شي هغه په تکبیر هم حلالیږي په تفسیر نیشاپوري کې راغلي دي: قال العلماء: لو ان مسلما ذبح ذبيحة و قصد بذبحها التقرب الى غير الله صار مرتدًا و ذبيحته ذبيحة مرتد انتهى(۱) په در مختار کې راغلي دي: ذبح لقدوم الامير و نحوه كواحد من العظماء يحرم لانه اهل به لغير الله لو... ذكر اسم الله الخ(۲) او د ذبیحې دغه عادت او رواج ترک کول ضروري دي او د باران لپاره دعا او استغفار کول پکار دي او صدقه د سنت طریقې سره سمه کول پکار ده. فقط و الله تعالی اعلم

د میلمه لپاره چرګ یا پسه حلالول

سوال: (۱۰۹) اگر بخانهٔ زید چند مہمان رسند، وزید برائے مہمانان خودیک مرغ یا بز ذبح کردہ برائے مہمانان خود پخت واوشان راخوراند ایں ذبح جائز است یانہ؟ (۱۳۳۲-۳۵/۳۰۴هـ)

ترجمه: که د زید کره میلمانه راغلو او زید د خپلو میلمنو لپاره یو چرګ یا پسه

---

(۱) التفسير غرائب القرآن و رغايب الفرقان المعروف به "تفسير نيشابوري" للشيخ العلامة حسن بن محمدالقمي النيشابوري ص: ۱۸۰ تحت تفسير قوله عز و جل: [انما حرم عليكم الميتة و الدم و لحم الخنزير و ما اهل به لغير الله] (سورة بقره، آيت: ۱۷۳) المطبوعة: عالی نول کشور لکهنؤ

(۲) الدر مع الرد ۲۱۷/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

ذبح کړی میلمانه یې پر وخورول دا ذبح روا ده که ناروا؟

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و لو ذبح للضيف لا يحرم لانه سنة الخليل و اكرام الضيف اكرام الله تعالى(۱) ترجمه: او که ذبح وکړه د میلمه لپاره نو حرام نه دی ځکه چي د حضرت ابراهيم خليل الله على نبينا و عليه الصلاة و السلام سنت دی او د میلمه اکرام کول د الله تعالى اکرام کول دي. نو معلوم شو چي که سړی د میلمه لپاره چرګ یا پسه یا بل شی ذبح کړي هغه په خورول د خیر او ثواب کار دی او څوک چي دا ما اهل به لغير الله بولي ورته حرام وایي د هغوی د قول رد علامه شامي رحمه الله مدلل رانقل کړی دی او دا يې لیکلي دي چي دا د قران، حدیثو او عقل مخالفین دي عبارته هكذا: قوله: (لا يحرم الخ) قال البزازى: و من ظن انه لا يحل لانه ذبح لاكرام ابن آدم فيكون اهل به لغير الله تعالى فقد خالف القرآن و الحديث و العقل فانه لا ريب ان القصاب يذبح للربح و لو علم انه نجس لا يذبح فيلزم هذا الجاهل ان لا يأكل ما ذبحه القصاب و ما ذبح للولائم و الاعراس و العقيقة. (۱) (شامي: ۱۹۲/۵ كتاب الذبائح) فقط

که ذبح مسلمان کوي او غوښه کافر خرڅوي نو...

سوال: (۱۱۰) ذبح د مسلمان وي او غوښه هندو کافر خرڅوي دا سي غوښه خوړل جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۷هـ)

ځواب: د مسلمان ذبیحه حلاله ده، لیکن کله چي هندو کافر خرڅونکی دی نو د ده قول په دې اړه معتبر نه دی لهذا داسي غوښه نه ده خوړل پکار په شامي کي راغلي دي: و مفاده ان مجرد كون البائع مجوسيا يثبت الحرمة الخ. (۲)

سوال: (۱۱۱) د مسلمان ذبیحه هندوان پخپلو دکانو کي خرڅوي او پر غوښه باندي د بدلولو په شبه د ډاکټر ټاپه هم وهلې وي

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۱۷/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) رد المحتار ۲٤۳/۵ كتاب الحظر و الاباحة فصل فى اللبس. ط رشيديه

او د مسلمان له نظر څخه غائب شي آیا دغه غوښه خوړل شرعًا صحیح ده او کنه؟
(۱۳۳۳-۳۲/۲۳۲هـ)

ځواب: کله چي په قرائنو دا خبره په تحقیق رسېدلي ده چي غوښه د هم هغه د مسلمان د ذبیحې ده او هندو کافر بدله کړي نه ده نو خوړل يې صحیح دي

سوال: (۱۱۲) کومه غوښه چي هندوان کافران خرڅوي که څه هم ذبح کونکی مسلمان وي مګر هندوان ذبیحه خپل کور ته راوړي هلته خرڅوي داسي غوښي صورتًا اشتباه پیدا کوي یعني له نظره غائبېدل او د کوم مسلمان د ذبح له ځای څخه د ده تر کوره نه راتلل په داسي صورت کي مسلمان له هندو څخه رانیولای او خوړلای شي کنه؟
(۱۳۳۳-۳۲/۲۳۷۳هـ)

ځواب: که دا معلوم وي چي ذبح کونکی مسلمان دی نو د در مختار له عبارت څخه د دغه غوښي د خوړلو جواز معلومیږي او شامي له هدايې څخه هم داسي رانقل کړي دي لیکن د تاتارخانیه له عبارت څخه شامي حرمت رانقل کړی دی او مخته لیکلی دی و مفاده: ان مجرد کون البائع مجوسيا يثبت الحرمة الخ(۱) نو احتیاط په نه خوړلو کي دی.

سوال: (۱۱۳) دلته زیاتره مونږ له هندوانو غوښي رانیسو چي پکي زیاتره له هندوانو څخه بې احتیاطي هم کیږي کله پخپله هم ذبح کړي وي او وایي چي دا مسلمان ذبح کړې ده او کله ناڅاپه یا د ناروغۍ په وجه مردار شوی پسه ارزانه رانیسي پر مسلمانانو په دې نامه خرڅوي چي دا د ژوندي حلال پسه غوښه ده چي مسلمان ذبح کړې دی زیاتره زمونږ تجربه او مشاهده شوې ده چي هر څومره مي په باور وي هغه هندو بیا هم داسي وکړي او خبره پر ثابته شي په داسي حالت کي د مسلمان لپاره د هندوانو څخه غوښه رانیول او خوړل جائزده او کنه؟ (۱۳۳۶-۳۵/۵۲۴هـ)

ځواب: علامه شامي رانقل کړي دي: و فى التاترخانية قبيل الاضحية عن جامع الجوامع لابي يوسف: من اشترى لحمًا فعلم انه مجوسى و اراد الرد فقال: ذبحه مسلم، يكره اكله اهـ و مفاده: ان مجرد كون البائع مجوسيا يثبت الحرمة فانه بعد اخباره بالحل بقوله:

---

(۱) رد المحتار ۲٤۳/۵ كتاب الحظر و الاباحة، فصل في اللبس. ط رشيديه

ذبحه مسلم کره اکله فکیف بدونه؟ تامل(۱) (شامي ۲۱۹/۵) له دغه روایت څخه معلوم شو چې له هندو څخه رانیولې غوښه خوړل صحیح نه دي په نېره بیا چې له قرینو او عادت څخه معلوم وي چې هندوان پکې داسې بې احتیاطي کوي کومې چې په سوال کې ښکاره دي نو ضرور په دغه روایت عمل کول پکار دي له ځینې ثقه خلکو څخه معلوم شوي دي چې کله نا کله هندوانو په مسلمانانو د سپیانو غوښې هم خوړلې دي هیڅ عجبه نه ده چې دغه دښمنان د دین دي داسې وکړئ او د مرداري خورول هم داسې دي لکه د سپي غوښه په خوړل العیاذ بالله لنډه دا چې د مسلمانانو لپاره پکې احتیاط ضروري دی فقط

سوال: (۱۱۴) یو مسلمان یوه وزه ذبح کړه غوښه پر یو هندو قصاب خرڅه کړه چې کله خرڅوله کوم مسلمان موجود نه ؤ نو د مسلمانانو لپاره دغه غوښه خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۵۵۲هـ)

ځواب: که دا معلوم او ثابت وي چې دا مسلمان ذبح کړې ده صرف خرڅونکی هندو دی بیا خو خوراک صحیح دی لیکن د دغه علم همدا صورت کېدلای شي چې له ذبح وورسته د مسلمانانو له نظره دغه ذبیحه غائبه شوې نه وي که غائبه شوه او صرف د هندو په وینا دا معلوم شو چې دا مسلمان ذبح کړې دی نو په دې کې اختلاف دی احوط دا دی چې ونه خوري کما فی الشامي: و فی التاترخانیة قبیل الاضحیة عن جامع الجوامع لابی یوسف رحمه الله: من اشتری لحما فعلم انه مجوسی و اراد الرد فقال: ذبحه مسلم یکره اکله اهـ و مفاده: ان مجرد کون البائع مجوسیا یثبت الحرمة فانه بعد اخباره بالحل بقوله ذبحه مسلم کره اکله فکیف بدونه؟ الخ. (۱) (الشامی ۲۱۹/۵ کتاب الحظر و الاباحة) فقط

سوال: (۱۱۵) هندو چې کومه غوښه خرڅوي که دوی د خنزیر غوښه هم خرڅوي او د مردار حیوان غوښه هم خرڅوي مسلمانان که له خبرېدو وروسته دا عهد وکړي چې آئنده له دوی څخه غوښه نه اخلو دا عهد څنګه دی؟ (۱۳۳۹/۹۴هـ)

ځواب: دغه اتفاق او عهد د مسلمانانو ښه دی او د شریعت سره سم دی مسلمانان باید همداسې

---

(۱) رد المحتار ۲۴۳/۵ کتاب الحظر و الاباحة، قبل فصل فی اللبس. ط رشیدیه

وکړي چې د هندو د لاس غوښه ونه خوري

سوال: (۱۱۶) کوم ځای چې قصاب هندو وي او ذبح په مسلمان کوي پخپله پرې کړي او پخپله يې خرخوي داسې بندوبست خو نشته چې مسلمان يې هر وخت څارنه وکړي نو آيا داسې غوښه خوړل جائز دي؟ (۲۰۲۸/۳۳ ۱۳۳۴ھ)

ځواب: که يقين وي چې ذبح کونکی مسلمان دی نو خوړل يې جائز دي ليکن کله چې هندو قصاب له نظره غائبې کړي بيا يې راوړي ووايي چې مسلمان ذبح کړې نو د ده و قول نه اعتبار نشته او داسې غوښه خوړل صحيح نه دي لهذا په داسې موقع احتياط لازم دی فقط

له هندو څخه غوښه رانيول او خوړل

سوال: (۱۱۷) پسه حلالونکی مسلمان خو دی ليکن غوښه خرخونکی هندو دی مسلمان يې ذبح کړي ولاړ شي هر وخت مسلمان هلته موجود نه وي داسې غوښه خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۸۷۲ھ)

ځواب: په داسې حال کې له هندو څخه دغه غوښه اخيستل او خوړل صحيح نه دي کما في الشامي. (۱) فقط

سوال: (۱۱۸) په بلدواني کلي کې مسلمانان او هندوان قصابان د پسو غوښې خرخوي له هندوانو څخه هم مسلمانان غوښې رانيسي مګر ذبح د مسلمان په لاس کيږي ليکن هندوان داسې کوي چې له پوسته همدلته اوباسي او غوښه کورونو ته يوسي له کورو يې راوړي په دکانونو کې خرخوي مسلمانان يې څني اخلي د مسلمانانو لپاره دغه غوښه خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۳۲ھ)

ځواب: په دغه صورت کې چې هندو غوښه خپل کور ته يوسي بيا يې دکان ته راوړي د مسلمانانو لپاره د دوی غوښه استعمالول او خوړل صحيح نه دي کذا في الشامي

---

(۱) و مفاده: ان مجرد كون البائع مجوسيا يثبت الحرمة فانه بعد اخباره بالحل بقوله: ذبحه مسلم كره اكله فكيف بدونه؟ تامل (رد المحتار ۲۴۳/۵ كتاب الحظر و الاباحة. ط رشيديه)

له مشرک څخه غوښه رانیول

سوال: (۱۱۹) له مشرک څخه رانیولې غوښه خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۱۵۰۱هـ)

ځواب: له مشرک دکاندار څخه غوښه رانیول او خوړل یې په شامي کې ناجائز لیکلي دي. (۱) لهذا احتیاط پکې لازم دی.

د مسلمان ذبح کړې او نامسلمان څرمن ځنې ایستلې حیوان حکم

سوال: (۱۲۰) کوم پسه چې مسلمان حلال کړي د هغه څرمن په بنګې یا هندو کنبل څنګه دي؟ او د هغه غوښه خوړل روا دي که ناروا؟ (۲۲۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: بنګې یا هندو که پسه له پوسته وکاږي نو پروا نلري غوښه خوړل جائز دي.

سوال: (۱۲۱) یو پسه مسلمان په تکبیر سره حلال کړی له پوسته نامسلمان وکښی نو غوښه څنګه ده؟ (۱۳۴۵/۲۲۷۳هـ)

ځواب: د نامسلمان په څرمن ایستلو د پسه په حلت کې هیڅ فرق نه دی راغلی اما د دغه نامسلمان دغه عمل د مسلمانانو په حضور او مخته کول ضروري دي. فقط

که عیسائی مزدور تر دکانه د مسلمان ذبیحه راوړي او په یخچال کې ذبیحه ایښودل

سوال: (۱۲۲) ... (الف) د جوهانس برګ په ښار کې د حکومت له طرفه د یهودیانو عیسایانو او مسلمانانو لپاره یو غټ ځای د حیوانانو حلالولو لپاره جوړ کړی دی څلور طرفه دېوال پر ارګرځولی دی چې پکې یو لوی تاجر ابراهیم جمال الدین چې کلک

---

(۱)و مفاده: ان مجرد كون البائع مجوسيا يثبت الحرمة فانه بعد اخباره بالحل بقوله: ذبحه مسلم كره اكله فكيف بدونه؟ تامل (رد المحتار ۲۴۳/۵ كتاب الحظر و الاباحة. ط رشيديه)

مسلمان په فقهي مسئلو او اسلامي احکامو بنه خبر خپل غواي. غوا به او بسونه پخپله څارنه کي په يو مسلمان قصاب چي د ذبح په احکامو بوهيږي حلال کړي خرمني ځني اوباسي بر هر حيوان خپله ټاپه ووهي تر خو د بدلون او تغير كوم شک نه وي بيا دغه حلال شوی حيوان پخپل خاص موټر کي چي وړاندي به غنمو بورو ددهسوه ټکلي دي واچوي د هر مسلمان قصاب و دکان ته وروړي موټروان د دغه خاص مزدوړ دي چه قوم حبشي مذهبًا عيسائي دی د دغه غوښي خوراک څنګه دی؟

(ب) د مذبح و څنګ ته حکومت يو ځای جوړ کړی دی چي پکي يخي پروت وي په انګريزي کي ورته کولډ استور وايي چي کله ګرمي وي نو يهوديان او عيسايان د شپي خپل ماکول اللحم ذبح شوي حيوانان يو خوا ته ږدي بلي خوا ته مسلمانان خپل ذبح کړي حيوانان ږدي په منځ کي فاصله شته او د مسلمانانو پر هر حيوان اسلامي ټاپه وهل شوي وي تر څو چي د بدليدو خطره نه وي دغه ځای د شپي قلف وي چي کيلي يې د يو صاحب منصب عيسائي چي نژدې او سيږي د هغه سره وي سهار دا ځای خلاصوي نو مسلمانان خپل حلال کړي حيوانات راواخلي پر نورو مسلمانانو دکاندارانو يې خرخوي د شريعت له مخه دغه غوښه حلاله ده که حرامه؟ (۱۳۴۳/۱۴۴۷هـ)

ځواب: (الف) کله چي دا معلوم دي چي دا غوښه د مسلمان په لاس ذبح کړي حلال حيوان ده نو د مسلمانانو لپاره بېله شکه د دې خوړل روا دي قال فی الدر المختار و شرط کون الذابح مسلما حلالا الخ(۱) او کله چي پر دغه غوښه د مسلمان قصاب ټاپه وهل شوي ده نو د عيسائي مزدور راوړل پکي اشتباه نه پيدا کوي.

(ب) دا غوښه د مخکي په رنګه د مسلمانانو لپاره حلاله ده. کما مر سابقا

له بت پرست څخه رانيولې غوښه خوړل

سوال: (۱۲۳) غوښه خرخونکی که بت پرست وي کتابي هم نه وي کوم کتابي پسه وړ حلال

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۰۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشيديه

کړی او کامل یقین وي چي مسلمان ذبح کړی دی نو له دغه بت پرست غوښه رانیول او خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۵۲۳ هـ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي: و مفاده: ان مجرد کون البائع مجوسیا یثبت الحرمة فانــه بعد اخباره بالحل بقوله: ذبحه مسلم کره اکله، فکیــف بدونــه؟ الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي په مسئوله صورت کي له دغه بت پرست څخه رانیول غوښه خوړل صحیح نه دي. و هو الاحوط.

د هندو ذبح کړی پسه څنګه دی؟

سوال: (۱۲۴) په یو کلي کي هندوان ډیر زیات دي خو کوره د مسلمانانو هم شته مګر هغوی جاهلان دي هندوان په توره پسه او بل شی ووهي بیا یې خوري نو د مسلمانانو لپاره داسي غوښي خوړل څنګه دي؟ او مندر ته چي کوم شیان راځي د هغوی خوراک هم جائز دی او کنه؟ (۱۲۸/۴۴-۱۳۴۵ هـ)

ځواب: د مسلمانانو لپاره دغه غوښه حرامه ده او د مندر شیان خوړل هم د مسلمانانو لپاره حرام دي.

په خیټه کي د بچي له مرګ وروسته ذبح کړي ګامیښي خوښه څنګه ده

سوال: (۱۲۵) یوه ګامیښه چي کله لنګیده نو له خاص مقام څخه بچی نه راواتی ځکه خلکو د بچي سر ور پرې کړی بچی د مور په خیټه کي مړ شو کله چي ګامیښه په مرګ شوه نو هغه یې حلاله کړه تر ذبح وروسته د دې د غوښي د حلت او حرمت په اړه د مسلمانانو تر منځ اختلاف پیدا شو ځینو وویل چي حلاله ده ځکه چي شرعًا ذبح وشوه او ځینو وویل چي حرامه ده ځکه چي کله بچی په خیټه کي بېله شرعي ذبح په سر پرې کولو مړ شو د هغه نجسه وینه د ګامیښي په پوست او غوښه کي ولاړه نو اوس د دغه ګامیښي غوښه خوړل صحیح نه دي آیا شرعًا د دغه ګامیښي غوښه خوړل حلال دي او کنه؟ او که د دغه بچي

---

(۱) رد المختار ۵/۲۴۳ کتاب الحظر و الاباحة قبل فصل فی اللبس. ط رشیدیه

سر یه تکبیر سره پرې شوی وای نو له هغه به هم حلال وای او کنه؟ (۲۲۷۲/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: د غه ګامیښه حلاله ده د الله په نوم ذبح کولو وروسته د دې غوښه خوړل جائز او حلال دي او د مور په خیټه کې د بچي په مرګ د مور غوښه نه حراموي په خیټه کې خو نور نجاستونه ګوبر او نور هم وي او د بچي سر چې پرې کړي په داسې حال کې چې دی د مور په خیټه کې ؤ که دی د الله په نوم ذبح کړل شو نو د ده خوراک هم حلال دی کما فی الدر المختار: بقرة تعسرت و لادتها فادخل ربها یده و ذبح الولد حل الخ (۱) فقط

کوم حیوان چې له تګ او ناستې ولاړې څخه عاجزوي هغه باید ذبح شي که خپل مرګ ته پرېښودل شي؟

سوال: (۱۲۶) کوم ضعیف او کمزور حیوان که د ناجوړۍ یا زیات عمر په وجه دومره کمزوی وي چې تګ راتګ او ناسته ولاړه نه شي کولای داغه راز ځینې کم عمر او چاغ حیوان پښه او نور مات شي خوراک څښاک هر څه ځنې پاته شي او ډیر په تکلیف سره مړ شي دوی خپل مرګ ته پرېښودل پکار دي که د دې تکلیف سړی وګوري سمدستي یې ذبح کړي؟ افضل کوم صورت دی؟ چیرې چې د نامسلمانو کلی دی هلته په ذبح کولو بیا حیوان نه پیدا کیږي په داسې صورت کې څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۵۸هـ)

ځواب: داسې حیوان ذبح کول غوره دي د ده غوښه خوړل او خرڅول صحیح دي خپل مرګ ته پرېښودل بد دي لیکن که په دې کې کومه فتنه او نقصان زیات وي نو په دې وجه نه ذبح کول هم څه پروا نلري

د پسه غوښه د هندوانو په اوبو پرېمنځل

سوال: (۱۲۷) یو قصاب په کلي کې پسه ذبح کړي چیرې چې هندوان او څه مسلمانان اوسیږي

---

(۱) الدرالمختار مع الشامی ۵/۲۱۳ کتاب الذبح. ط رشیدیه

هندوانو و قصاب ته وويل چي غوښه به زمونږ په اوبو مينځي كه دي د مسلمانانو په اوبو پرېمنځه نو مونږ يې نه اخلو او مسلمانانو ورته وويل چي زمونږ په اوبو كي به مينځې كنې مونږ يې نه اخلو كله چي تاسو زمونږ څخه پرهيز كوئ نو مونږ ته هم د اسلام حكم دى چي له هندوانو څخه پرهيز وكړئ نو ټولو مسلمانانو له غوښي اخيستلو څخه انكار وكړى ځكه چي غوښه د هندوانو په اوبو پرېمنځل شوه نو كه يو مسلمان دغه غوښه رانيسي د چا د رانيولو وروسته چي عامو خلګو رانيوله نو د ده لپاره څه حكم دى؟ (۱۳۳۵/۱۰۵۷هـ)

ځواب: په داسي شيانو كي شريعت دا حكم نه كوي چي خامخا سړى ضد وكړي چي كه د هندوانو په اوبو پرېمنځل شوه نو مونږ غوښه نه اخلو كه د هندوانو اوبه پاكي وي او په پاک لوښي كي وي نو مسلمانانو ته نه دي پكار چي د هندوانو په رنګ نفس او ضد وكړي نو كوم مسلمان چي غوښه رانيوله او د ده په وجه نورو مسلمانانو رانيوله نو ده هيڅ جرم نه دى كړى هندوان خو زياتره د مسلمانانو له شيانو پرهيز كوي ليكن مسلمانانو ته د دوى په مقابل دا حكم نه دى چي دوى دي هم د هندو د لاس شى نه خوري ميټاياني او خوږې خو هم هندوانو پخ كړي وي د دوى په لوښو او اوبو پخ شوي وي مسلمانان يې خوري او شرعًا داسي صحيح دي بيا نو په دغه غوښه كي كوم تاوان راغلى؟ كله چي ذبح مسلمان كړې ده.

مردار پسه حلالونكي او خوړونكي حكم

سوال: (۱۲۸) د يو مسلمان پسه په ځنګل كي ناجوړه شو ده هلته ذبح كړې غوښه راوړه په كلي خرڅه كړه له خوراک وروسته معلوم شو چي مړ پسه يې ذبح كړى دى كوم سړي چي ذبح كړې دى هغه په قسم سره وايي چي له ذبح كولو څخه مخكي يقينا پسه مړ ؤ نو د خوړونكو او خورونكو لپاره څه حكم دى؟ (۱۳۳۲-۳۵/۳۱۵هـ)

ځواب: كوم چا چي په بې خبري خوړليده هغه نه دي ګنهكار خورونكى ګنهكار دى هغه دي توبه اوباسي همدغه د ده كفاره ده. فقط

د ذبح شوي حیوان په خیټه کې بچی غوښه څنګه ده؟

سوال: (۱۲۹) د ذبح کړي غوا په خیټه کې که مړ بچی وي نو هغه حلال دی او کنه؟ (۵۲۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: که جنین(د خیټې بچی) بېله ذبح کولو مړ شي نو حلال نه دی اما که ژوندی وي او ذبح کړل شي نو حلال دی. (۱) (در مختار و شامي)

سوال: (۱۳۰) که د وزې، مېږې یا وسې او نور له حلالولو وروسته له خیټې بچی راووزي نو د هغه غوښه څنګه ده؟ او داسې ذبح کونکی شرعًا د څرنګه جرم کونکی دی؟ که دی دکاندار وي نو دکان وربندولای شو؟ او کورنۍ وال اړیکې ځنې ختمولای شي او کنه؟ (۱۸۵۱/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د دغه وزې، مېږې یا وسې او نورو له ذبح وروسته غوښه خوړل جائز دي لهذا داسې سړی چې داسې غوښه وخوري یا یې خرخه کړي مجرم نه دی د ده دکاند وربندول او په دغه وجه ورڅخه اړیکې ختمول جائز نه دي فقط

سوال: (۱۳۱) کوم پسه چې حلال کړی په خیټه کې بچی وي د هغه خوراک څنګه دی؟ (۵۱۲/۱۳۳۹هـ)

ځواب: که بچی ژوندی وي نو هغه له ذبح کولو وروسته خوړل صحیح دی او که مړ وي نو نه به خوري دا مذهب د امام ابو حنیفه رحمه الله دی.

غوا حلالول په قرآن او حدیث ثابت دي

سوال: (۱۳۲) ... (الف) له کومې زمانې رسول الله صلی الله علیه وسلم غوا د الله په حکم حلاله کړې ده؟

---

(۱) و منظومة النسفی قوله:ان الجنین مفرد بحکمه لم یتذک بذکاة امه و فی الشامی: و معنی البیت ان الجنین و هو الولد فی البطن ان ذکی علی حدة حل و الا لا(الدر و الشامی ۲۱۳/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(ب) کوم آيتونه د غوا د ذبح په اړه په قرآن کي راغلي دي؟ او د ذابح البقر څه سزا ده؟ (۲۰۸۸، ۱۳۳۸هـ)

ځواب: په آيت: [و من الابل اثنين و من البقر اثنين قل ء الذکرين حرم ام الانثيين] (سوره انعام. آيت: ۱۴۴) د بقر حلت ثابت دی او له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د بقر ذبح کول په حديثو کي راغلي دي(۱) او پر دغه مسئله د امت اجماع ده د چا په کي اختلاف نشته او د بقر د ذبح کونکي لپاره لکه څنګه چي په عوامو کي څه سزا وي مشهوره دي هغه غلطي دي هيڅ وعيد او سزا پر دې نشته او ښکاره ده چي کله رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله غوا ذبح کړه نو په دې کي څه تاوان کيدلای شي و قد قال الله تعالی: [لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة] الاية(سورة احزاب، آيت: ۲۱)

په خره برالبه شوي اسپي غوښه څنګه ده؟

سوال: (۱۳۳) ما تقول السادة العلماء و ائمة الهدی (وفقهم الله لما يحب و يرضی) فی انثی فرس حامل من حمار ذبحت و خرج من بطنها ولد احلال اکلها ام حرام؟ (۱۳۲۴/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: المعتبر فی الحل و الحرمة الام، فالبغل الذی امه فرس حکمه کفرس ای يکره عندهما تنزيها و عنده تحريما کذا فی الشامی. (۲)

---

(۱) عن جابر رضی الله عنه قال: ذبح رسول الله صلی الله عليه وسلم عن عائشه بقرة يوم النحر (الصحيح لمسلم ۴۲۴/۱ کتاب الحج، باب جواز الاشتراک فی الهدی و اجزاء البدنة و البقرة کل واحدة منهما عن سبعة)

(۲) و (لا يحل) البغل الذی امه حمارة فلو امه بقرة اکل اتفاقا و لو فرسا فکامه و فی الشامی: قوله: (فکامه) فيکون علی الخلاف الآتی فی الخيل لان المعتبر فی الحل و الحرمة الام فيما تولد من مأکول وغير مأکول (الدر و الرد ۲۱۴/۵ کتاب الذبائح. ط رشيديه)

سوال: (۱۳۳) ترجمه: څه فرمايي علماء د دين او آئمه د هدي د دين(الله پاک دي د داسي کارونو توفيق ورکړي چي د الله خوښ وي او په کومو کارونو چي الله راضي کيږي) د هغي اسپي په هکله چي په خره حامله شوې وه چي کله ذبح کړه په خيټې کي بچي ؤ نو د دې خوراک څنګه دی؟

ځواب: د حلت او حرمت مدار پر مورد ی نو د کوم غاتر مور چي اسپه وي د هغه حکم د اسپې دی يعني صاحبين ورته تنزيهي مکروه او امام صاحب ورته تحريمي مکروه وايي.

د سپي په بڼه مرغومي غوښه څنګه ده؟

سوال: (۱۳۴) که کوم پسه يا وزه يو وار دوه واره لنګ شي لومړی بچی يې د مور په بڼه وي دوهم د سپي يا بل کوم حرام حيوان په بڼه وي نو کوم بچی چي د حرام حيوان په بڼه وي هغه به سړی څنګه پيژني؟ او غوښه خوړل يې څنګه دي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۱۷۱۱هـ)

ځواب: په در مختار او شامي کي دا راغلي دي چي که چيري هغه بچی کوم چي د سپي په بڼه دی د سپي په رنګ غاپي نو مه يې خورئ او که د وزې په رنګه بغاره کوي نو له سر څخه پرته نور وخورئ او سر يې وغورځوي قوله: (الصياح يخبر الخ) اى فان نبح لا يؤكل و ان ثغا يرمى راسه، و يؤكل الباقي (۱) کوم مرغومی چي د سپي په بڼه پيدا شوی دی په هغه کي دا تفصيل دی چي که هغه غوښه خوري نو د سپي په حکم دی او که واښه خوري نو له سر څخه پرته نوره غوښه وخوئ او که دا دواړه نه پيژندل کيږي نو د پيژندلو دوهم صورت په آواز سره دی که دس پي په رنګه غاپي نو د سپي په حکم دی او که وزې په رنګه بغاره کوي نو دوزې په حکم د سابق په رنګه دی چي سر يې پرې کړی وي غورځوي نوره وخورئ او که د دواړو علامتونه پکښي وي نو له حلالولو وروسته که پکښي لری وي نو

(۱) الشامي ۲۱۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشيديه

وزه ده او که ښکي صرف کلمې وي نو سپی دی(۱) (شامي، کتاب الذبائح ۲۷۱/۵) محمد اکمل غفرله

ناپاکي خوړونکې چرګه حلاله کړو؟

سوال: (۱۳۵) چرګه له دریو ورځو تړلو وروسته ذبح کول پکار ده؟ که هر وخت چې ضرورت شو ګرځیدونکې چرګه حلالولای شو او خوړلای شو؟ (۱۴۹۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: ناپاکي خوړونکې چرګه له تړلو وروسته ذبح کول او خوړل جائز دي که څه هم چې سمدستي یې حلاله کړي نو هم صحیح دي مګر مکروه دي او کومه چرګه چې ناپاکي نه خوري د هغې حالاً حلالول او خوړل ببله کراهیته صحیح دي په شامي کې له منتقي څخه رانقل کړي دي چې جلاله یعني ناپاکي خوړونکی حیوان مکروه دي چې له غوښې څخه بدبویي راځي که داسې نه وي نو سمدستي ببله تړلو یې ذبح کول او خوړل صحیح دي. (۲) فقط

---

(۱) و ان یتر کلب فوق عنز فجاءهــــا ... نتاج له راس ککلب فینظـــر
فان اکلت لحما فکلب جمیعـــــا ... و ان اکلت تبنا فذا الراس یبتر
و یؤکل باقیها وان اکلت لـــــدًا ... و ذا فاضربنها و الصیاح یخبـــر
و ان اشکلت فاذبح فان کرشها بدا ... فعنز و الا فهو کلب فیطمـــــر

و فی الشامی قوله: (و ان یتر الخ) یقال: نزل الفحل اذا وثب علی الانثی فوقعها و النتاج بالکسر اسم یشمل وضع البهائم من الغنم و غیرها. شارح. قوله: (فان اکلت الخ) تفصیل لقوله "فینظر" ... و البتر القطع: ای یقطع الراس و یرمی و یاکل الباقی. قوله: (و الصیاح یخبر) ای فان نبح لا یؤکل، و ان ثغایرمی راسه و یؤکل الباقی قوله: (و ان اشکلت) بان نبح کالکلب و ثغاکالعنز قوله: (فعنز) ای فیؤکل ما سوی راسه، قولــه: (و الا) بان خرج له امعاء بلاکرش و الطمر: الدفن فی الارض الخ (رد المحتار ۲۱۸/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۲) و فی المنتقی: الجلالة المکروهة التی اذاقربت وجدت منها رائحة فلا تؤکل و لا یشرب لبنها و لا یعمل علیها، و یکره بیعها و هبتها و تلک حالها... و صرح المصنف فی الحظر و الاباحة: انه یکره لحم الاتان و الجلالـــة قـــال الشارح هناک و تحبس الجلالة حتی یذهب نتن لحمها و قدر بثلاثة ایام لدجاجة و اربعة لشاة و عشر لابل و بقر علی الاظهر و اکلت النجاسة و غیرها بحیث لم ینتن لحمها حلت اهــ (الشامی ۱۶۳/۱ کتاب الطهارة باب المیـــاه فصل فی البئر مطلب فی السؤر و ایضا الدر المختار مع الشامی ۲۴۰/۵ کتاب الحظر و الاباحة. ط رشیدیه)

د وزې یا د غوا بچی که د خنزیر شیدې رودلي وي

سوال: (۱۳۶) د وزې یا د غوا د بچي د خنزیر په شیدو روزنه شوې ده د دې شیدې او غوښه حلاله ده که حرامه؟ که حلاله ده نو ولې؟ (۱۴۲/۳۵-۱۳۳۶هـ)

ځواب: د دغه بچي غوښه او شیدې حلالې دي لکه چي په شامي کي راغلي دي: و کونه یتغذی بالنجاسة لا یمنع حله الخ. (۱) (ص: ۱۹۴) او وجه دا ده چي په دې کي انقلاب د عین راځي

د وزې بچي روزنه د کوتی په شیدو شوې ده

سوال: (۱۳۷) که د وزې د بچي پالنه د کوتی په شیدو شوې وي نو د دغه بچي غوښه حلاله ده که حرامه؟ (۷۲۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: غوښه د ده حلاله ده په در مختار کي راغلي دي: کما حل اکل جدی غذی بلبن خنزیر لان لحمه لا یتغیر و ماغذی به یصیر مستهلکا لا یبقی له اثر الخ. (۲) او شامی له ځیني کتابونو دا رانقل کړي دي چي حلت د دې په هغه حال کي دی چي له پلیتو شیدو ورکولو څو ورځي وروسته ذبح شي. (۳)

د حلال حیوانانو تفصیل کوم ځای دی؟

سوال: (۱۳۸) ... (الف) ټول حیوانان څرنګه حلال شول؟

(ب) کوم څیوانان چي حلال دي د ټولو نومونه په قرآن شریف کي لیکلي دي او کنه؟ او په کومه سیپاره کي دي؟ (۴۲۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) حاشیة ابن عابدین ۲۱۵/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۲٤٠/۵ کتاب الحظر و الاباحة. ط رشیدیه

(۳) و فی شرح الوهبانیة عن القنیة راقما انه یحل اذا ذبح بعد ایام و الا لا(رد المحتار ۲٤٠/۵ کتاب الحظر و الاباحة. ط رشیدیه)

ځواب: (الف) کومو حیوانانو ته چي په قرآن او حدیث کي حلال ویل شوي هغه حلال دي او کومو ته چي حرام ویلي دي هغه حرام دي په حدیث شریف کي راغلي دي:
نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم خيبر عن اكل كل ذى ناب من السباع و عن كل ذى مخلب من الطير. (۱)

(ب) د ځینو حیوانانو بیان په قرآن شریف کي راغلی دی او د ځینو بیان په حدیثو کي راغلی دی او په حدیثو کي د حیوانانو د حلت او حرمت کلي قاعدې لیکلي شوي دي او د فقهي په کتابونو کي د دې پوره تفصیل راغلی دی دغه تفصیل په فقه کي کتل پکار دي(۲) فقه د قرآن او حدیثو خلاصه ده د هري مسئلې تحقیق د فقهي په کتابونو کي کول پکار دی

د آس غوښه خوړل او قرباني کول

سوال: (۱۳۹) د آس غوښه خوړل او قرباني د آس کول صحیح دي کنه؟
(۳۲/۹۸۴-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په آس کي د امام صاحب علیه الرحمة مذهب د عدم حلت دی او صاحبین علیهما الرحمة د حلت قول کوي مع الكراهة التنزيهية كذا فى الشامى(۳) نو د آس غوښه نه ده خوړل پکار او قرباني د آس په اتفاق سره نه ده صحیح په در مختار کي راغلي دي:
و ركنها: ذبحها يجوز ذبحه من النعم لا غير الخ(۴) (در مختار)

کشو، چونګښه او مګرمچ خوړل حرام دي

سوال: (۱۴۰) کشو، چونګښه او مګرمچ حلال دی؟ (۱۳۳۸/۳۳۲هـ)

---

(۱) سنن ابی داؤد ص: ۵۳۳ كتاب الاطعمة باب ما جاء فى اكل السباع.

(۲) راجع للتفصيل الى الدر و الشامى ۲۰۶/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۳) و (لا يحل) الخيل و عندهما رحمهما الله و الشافعى رحمه الله تعالى تحل و فى الشامى: و ان قالا بالحل لكن مع كراهة التنزية(الدر و الرد ۲۱٤/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه)

(٤) الدرالمختار مع رد المحتار ۲۲۰/۵ اوائل كتاب الاضحية. ط رشيديه

ځواب: امام صاحب د آیت [او یحرم علیهم الخبائث] (سورة اعراف آیت ۱۵۷) په وجه دغه ټولو ته حراموایي

سوال: (۱۴۱) د اوبو کشو، اوبو چونګښه او نور حلال دی که حرام؟ (۱۳۴۴/۱۳۴۳ه)

ځواب: د احنافو په نیزد هیڅ د اوبو حیوان پرته له ماهي د قسمونو حلال نشته او نه حدیث احلت لنا المیتان (۱) څخه عند الحنفیه ماهي او ملخ مراد دی په در مختار کې راغلي دي و لا یحل حیوان مائی الا السمک الخ و حل الجراد و انواع السمک بلا ذکاة لحدیث: احلت لنا میتتان: السمک و الجراد (۲) نو داوبو د کشو او د اوبو د چونګښې خوراک هم حرام دی فقط

جیږګی خوړل حرام دی

سوال: (۱۴۲) قنفذ چې په فارسي کې ورته خارپشت او پښتو کې ورته زیږګی وایي حلال دی که مردار؟ په نور الهدایة او غایة الاوطار دغه حیوان په حشراتو کې داخل کړی دی. (۱۳۴۵/۵۵۷ه)

ځواب: قنفذ چې په فارسي کې ورته خارپشت او پښتو کې ورته جیږګی وایي له حشرات الارض څخه دی خوراک د دې حرام دی لقوله تعالی: [و یحرم علیهم الخبائث] (سورة اعراف آیت ۱۵۷) لکه چې په شامي کې راغلي دي قوله: و احدها حشرة کالفارة والوزغة و سام ابرص و القنفذ و الحیة الخ (۳) او په غایة الاوطار کې دي او حشرات حلال نه دي (الی ان قال) څرنګه چې موږک، مږه، متخورما او جیږګی چې په ځمکه کې اوسیږي حرام دي ځکه چې مستخبث دي قال الله تعالی: [و یحرم علیهم الخبائث] (سورة اعراف آیت ۱۵۷) (۴) او داغه راز په نور الهدایة کې راغلي دي فقط

---

(۱) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: احلت لنا میتتان الحوت و الجراد (سنن ابن ماجة ص: ۲۳۲ ابواب الصید، باب صید الحیتان و الجراد)

(۲) الدر مع الرد ۲۱۵/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۳) رد المحتار ۲۱٤/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(٤) غایة الاوطار اردو ترجمه الدر المختار ۱۷۵/٤-۱۷٦ کتاب الذبائح.

کارګه حلال دی که حرام؟

سوال: (۱۴۳) کارګه پاک او ناپاک خوري د ده خوراک څنګه دی؟ (۱۹۸۷/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و الغراب الابقع الذی یاکل الجیف لانه ملحق بالخبائث الخ او په شامي کي راغلي دي د والغراب الابقع په شرح کي: فهو انواع ثلاثة:

(۱) نوع یلتقط الحب و لا یاکل الجیف و لیس بمکروه.

(۲) و نوع لا یاکل الا الجیف و هو الذی سماه المصنف الابقع و انه مکروه.

(۳) و نوع یخلط: یاکل الحب مرة و الجیف اخری و لم یذکره فی الکتاب و هو غیر مکروه عنده رحمه الله مکروه عند ابی یوسف اهـ و الا خیر هو العقعق الخ(۱) او په در مختار کي راغلي دي: و العقعق هو غراب یجمع بین اکل جیف و حب و الاصح حله الخ(۲) فقط

سوال: (۱۴۴) په فاکهة البستان لیکوال مخدوم محمد هاشم ټټوي او مصلح المفتاح سندهي کي راغلي دي چي د کارګه سؤر (پس خورده) حلاله ده او پخپله کارګه حلال دی ځکه چي صرف حرام نه خوري بلکه د چرګي په رنګه دواړه حرام او حلال خوري او په منګولو (پنجه) ښکار نه کوي په مښو که ښکار کوي مهرباني وکړئ و دغه مسئلې ته مي جواب وواياست. (۱۲۱۳/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: کوم څه چي په فاکهة البستان کي د کارګه په اړه لیکلي دي صحیح دي د امام ابو حنیفه رحمه الله هم دغه مذهب دی د فقهي په کتابونو شامي اونورو کي راغلي دي دغه وطني کارګه چي حلال او حرام ټول خوري حلال دی او د ده پس خورده هم پاکه ده. فقط

ایلۍ حلاله ده

سوال: (۱۴۵) د تالاب او سیدونکي ایلۍ حلاله ده که حرامه؟ (۱۳۳۹/۳۱۲ھ)

ځواب: ایلۍ حلاله ده ځکه چي کوم مرغه نه ذو مخلب وي او نه له خبائث څخه وي هغه حلال دی

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۱۵/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامی ۲۱٦/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

کما فی الحدیث: انه صلی الله علیه وسلم نهی عن اکل کل ذی ناب من السباع و عن کـل ذی مخلب من الطیر. رواه مسلم.(۱) فقط

سمساره خوړل حلال نه دي

سوال: (۱۴۶) ضب(سمساره) خوړل حلال دي که حرام؟(۱۳۴۵/۵۷۰هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي د ضب خوراک حلال نه دی او کوم څه چي د دې د حلت په اړه راغلي دي هغه د اسلام پر ابتداء حمل دی وروسته منسوخ شو په شامي کي فرمايلي دي چي کله دا آیت: [و یحرم علیهم الخبائث] (سورة اعراف، آیت: ۱۵۷) نازل شو نو د ضب خوراک حرام شو.(۲) فقط

سوئ حلال دی

سوال: (۱۴۷) سوئ حلال دی او کنه؟(۱۳۳۴-۳۳/۴۰۴هـ)

ځواب: سوي حلال دی د فقهي په کتابونو کي د ده د حلت څرګندونه شوي ده او د حرمت په قاعده کي دی داخل نه دی په حدیثو او آثارو د سوي حلت ثابت دی(۳) په در مختار کي فرمايلي دي: و حل غراب الزرع... و الارنب الخ.(۴)

---

(۱) الصحیح لمسلم ۱٤٧/۲ کتاب الصید و الذبائح، باب تحریم اکل کل ذی ناب من السباع و کـل ذی مخلب من الطیر.

(۲) و لا یحل ذوناب... و الفیل و الضب و ما روی من اکله محمول علی الابتداء و فی الشامي: قوله: (علی الابتداء) ای ابتداء الاسلام قبل نزول قوله تعالی و یحرم علیهم الخبائث (الدر و الرد ۲۱٤/٥ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۳) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: مررنا فاستنفجنا ارنبا بمر الظهران فسعوا علیه فلغبوا قال: فسعیت حتی ادرکتها فاتیت بها ابا طلحة فذبحها فبعث بورکها و فخذیها الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاتیت بها رسول الله صلی الله علیه وسلم فقبله (الصحیح لمسلم ۱٥۲/۲ کتاب الصید والذبائح، باب اباحة الارنـب) وهکذا فی جامع الترمذی ۱/۲ ابواب الاطعمة باب ماجاء فی اکل الارنب)

(٤) الدرالمختار مع الرد ۲۱٦/٥ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

سوال: (۱۴۸) سوئ دوه قسمه وي يو پنجې والا او بل ښونګوري والا په دوی کې کوم يو حلال دی؟ (۱۳۴۲/۹۲۷هـ)

ځواب: سوئ دواړه قسمه حلال دي.

فيل مرغ حلال دی

سوال: (۱۴۹) فيل مرغ حلال که حرام؟ مدلل جواب راکړئ. (۳۲/۸۰۹-۱۳۳۳هـ)

ځواب: فيل مرغ حلال دی ځکه چي ذی مخلب نه دی نو لکه چي نور مرغان حلال دي دی هم حلال دی په در مختار کي راغلي دي: و لا يحل ذو ناب يصيد بنابه ... او مخلب يصيد بمخلبه ای ظفره فخرج نحو الحمامة من سبع... او طير الخ ملخصا(۱) نو فيل مرغ دغه د حرمت په قاعده کي داخل نه دی لهذا د ده په حلت کي هيڅ شبه نشته.

سوال: (۱۵۰) فيل مرغ حلال دی که حرام؟ (۳۲/۱۳۲۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: فيل مرغ حلال دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۵۱) فيل مرغ چي د يو جزيرې وي چي انګريزان يې پالي د چرګ يو قسم دی او تر وطني چرګ درئ چنده غوښه ډيره کوي منبو که سيده وي دغه حلال دی او کنه؟ (۳۵/۳۷۲-۱۳۳۶هـ)

ځواب: فيل مرغ چي په سوال کي يادونه شوې ده حلال دی.

سوال: (۱۵۲) يو مرغه چي ورته فيل مرغ په فارسي کي ورته خروس بوقلمون وايي د دې خوراک روا دی که ناروا؟ (۱۳۴۲/۲۵۹۴هـ)

ځواب: خوراک يې صحيح دی او دی حلال دی. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامي ۲۱٤/٥ كتاب الذبائح. ط رشيديه

يو غرنی حيوان او د هغه حکم

سوال: (۱۵۳) په قد او قامت کي لکه مږ يو غرنی حيوان دی چي پر ملا باندي تور او سپي غوندي اَزغي وي او پر خيټه او پښو باندي سخت تور ويښتان دي او د مخ د پسو پنجې يې د سپي په رنګه دي او د شا پښي يې د ماشوم بچي په رنګه دي غوږونه د انسان په رنګه څلور تي لري سر يې د وزي په رنګه دی غاښونه د سوئ د غاښو په رنګه او سو خوند وهونکی حيوان دی څيرونکی نه دی دا حيوان حلال دی او کنه؟

(۳۲۴ ,۱۳۴۵هـ)

ځواب: په قرائنو د غه حيوان حلال معلوميږي ځکه چي دا ذی مخلب درنده نه دی بلکه په انعامو کي داخل دي و قد قال الله تعالیٰ: [احلت لكم بهيمة الانعام الا ما يتلى عليكم] الاية (سورة مائده ،ايت:۱) فقط

له ماهي څخه سيوا بل کوم د اوبو حيوان حلال نه دی

سوال: (۱۵۴) د امام ابو حنيفه رحمه الله په نيزد له ماهي څخه پرته بل کوم د اوبو حيوان حلال دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۱۰هـ)

ځواب: د احنافو په نيزد د اوبو په حيوانانو کي د ماهي له ټولو قسمونو پرته بل کوم حيوان حلال نه دی بلکه حرام دی په قطعي نص: [و يحرم عليهم الخبائث] (سورة اعراف، آيت: ۱۵۷) و فی الحديث: احلت لنا الميتتان: السمک و الجراد(۱) قال فی الدر المختار: و لا يحل حيوان مائی الا السمک الخ و فيه ايضا: و حل الجراد... و انواع السمک الخ. (۲) فقط

ناذبح کړی ماهی حلالوالي دليل

سوال: (۱۵۵) بيله ذبح کړي ماهي خوراک په کوم دليل جائز دی؟ (۱۳۴۵/۳۰۳۲هـ)

ځواب: په حديث شريف کي راغلي دي: احلت لنا الميتتان السمک و الجراد. (۳) فقط

---

(۱) سنن ابن ماجة ص: ۲۳۲ ابواب الصيد، باب صيد الحيتان و الجراد.

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ۵/۲۱۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۳)سنن ابن ماجة ص: ۲۳۲ ابواب الصيد، باب صيد الحيتان و الجراد.

سوال: (۱۵۶) څو کسان په دې خبره کې پلټنه کوي چې بېله ذبح ماهی په څه وجه حلال دی؟ نور حلال حیوان بېله ذبح نه روا کیږي بیا څه وجه ده چې د ماهي ذبح نه کیږي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۸۸هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و حل الجراد الخ و انواع السمک بلاذکاة لحدیث احلت لنا میتتان: السمک و الجراد الحدیث(۱) له فقهي روایت او حدیث څخه معلوم شو چې ملخ او ماهی بېله ذبح کولو حلال دی.

د طافي ماهي خوراک مکروه دی

سوال: (۱۵۷) که څوک ماهیان ونیسي په تالاب (ناور) کې پریږدي په هغه کې طافي (مړ یي او به پر سر راوړي) شي نو د خوراک په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲هـ)

ځواب: د طافي ماهي خوړل مکروه دي. (۲)

د سپي اونورو ښکاري حیواناتونیولی ماهی حلال دی که څه هم سپي ځني خوراک کړی وي

سوال: (۱۵۸) د غیر حلال ښکاري حیوان نیولی ماهی حلال دی او کنه؟ که هغه ځني خوراک وکړي نو د نور څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۲۱۸۰هـ)

ځواب: حلال دی او که هغه څه ځني وخوارې نو پاته حلال دی هغه پر بمنځئ.

له یو من څخه غټ ماهی حلال دی

سوال: (۱۵۹) ماهی که له یو منې څخه زیات وي نو حلال دی که حرام؟ څوک چې له یو من څخه زیات ماهی حرام بولي د هغه په هکله شرعًا څه حکم دی؟

(۱۳۴۵-۴۴/۲۵۵هـ)

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲۱۶/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

(۲) ویکره اکل الطاف منه (الهدایة: ۴۴۲/۴ کتاب الذبائح)

ځواب: غټې ماهی که هر څومره وزن وي حلال دی او څوک چي حرام ورته وايي هغه غلط دی د هغه و قول ته اعتبار نشته په ناخبرتیا کي داسوي وايي د ده پر قول غوږ مه نیسئ داغه سزا د ده لپاره بس ده. فقط

وچ کړی ماهی خوړل حلال دی

سوال: (۱۲۰) وچ کړی ماهی یعني ماهیان نیونکي ماهی ونیسي په لمر یې وچوي کله چي ماهی وچ شي نو په کور کي میاشته دوې میاشتي کښیږي یا زیاتي وروسته بیا په بازار یا کلي کي خرڅوي لیکن بوی پکي وي داسي ماهی خوړل حلال دی که حرام؟ دلته ځیني علماء ورته حرام وایي او ځیني ورته حلال د حرمت پر ویونکیو د کفر فتوی لګوي آیا د حرمت قول کونکی کافر دی؟ (۲۰۲۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د وچ کړي ماهي خوړل حلال دي حرام ورته ویل صحیح نه دي لیکن د حرمت قول کونکي ته کافر مه وایاست که د بدبويي په وجه د چا طبعي کراهت ځني کیږي هغه دي نه خوري لیکن حرام نه دي.

جریث او مارماهی ماهیان حلال دي

سوال: (۱۲۱) په اوبو کي یو ماهی د سپر په شکل وي غالبًا په عربي کي ورته جریث وايي دا حلال دی او کنه؟ (۹۸۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د ماهیانو ټول قسمونه د احنافو په نیزد حلال دي جریث او مارماهی هم حلال دي په در مختار کي راغلي دي: و لا یحل حیوان مائی الا السمک... غیر الطافی الخ و الجریث الخ و المارماهی الخ. (۱)

سوال: (۱۲۲) ما قولکم ایها العلماء الکرام والفضلاء العظام فی الحیوان البحری المدور کالترس له ذنب طویل کالسوط و علی اصل الذنب شوکة و له فلس و شق و یکون مولده و معاشه فی الماء و لیس له لسان اصلا و هو من السمک ام لا؟ و علامة

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۱۵/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

السمک ما هی؟ و صورة الجریث ماهی؟ و الحیوان البحری المدور المذکور هو داخل فی الجریث ام لا؟ (۳۵/۵۱۰-۱۳۳۶هـ)

ځواب: قال فی الدر المختار: و لا یحل حیوان مائی الا السمک الخ و الا الجریث سمک اسود و المارماهی سمک فی صورة الحیة و افردهما بالذکر للخفاء و خلاف محمد الخ و فی الشامی: (قوله سمک اسود) کذا قاله العینی و قال الوانی: نوع من السمک مدور کالترس... قوله: (للخفاء) ای لخفاء کونهما من جنس السمک ... قوله: (و خلاف محمد) نقله عنه فی المغرب... قال فی الدرر: و ضعیف الخ(۱) (الشامی: ۱۹۵/۵) فعلم ان الحیوان البحری المدور کالترس هو الجریث و هو من انواع السمک کما قال الوانی. فقط

سوال: (۱۲۲) ترجمه: څه فرمايي علماء کرام او فضلاء عظام د هغه اوبو د حيوان په هکله کوم چي ګول د سپر په رنګه وي او د درې په رنګه لکۍ اږده وي د لکۍ په بيخ کي يو ازغی وي او پر بدن باندي داسي مروتونه غوندي وي زيږېدنه او اوسيدنه په اوبو کي وي او په خوله کي ژبه نه وي ايا دا ماهی دی او کنه؟ او د ماهي علامه او نښه څه ده؟ او د جريث شکل او صورت څه دی؟ او دغه د اوبو حيوان جريث دی او کنه؟

ځواب: په در مختار کي راغلي دي حلال نه دی د اوبو حيوان مګر ماهی الخ او مګر جريث يعني تور ماهی او مارماهی يعني و مار ته ورته ماهی مصنف عليه الرحمة جريث او مارماهی دواړه بېل بېل بيان کړو ځکه چي د دوی په ماهي کېدو کي پټوالی ؤ او د امام محمد رحمه الله اختلاف دی او په شامي کي راغلي دي: د ماتن قول سمک اسود علامه عيني هم د جريث دغه تعريف کړی دی او علامه واني رحمه الله فرمايلي دي چي جريث د ماهي يو قسم دی چي د سپر په رنګه ګردی(ګول) وي او د ماتن قول للخفاء يعني د دغه دواړو د ماهي والي د پټوالي له وجهي او د ماتن قول خلاف محمد دغه قول له امام محمد څخه په مغرب کي رانقل شوی او په الدرر کي راغلي دي چي دا قول ضعيف دی نو معلوم شو چي هغه د اوبو حيوان چي د سپر په رنګه ګول وي هغه جريث دی او هغه د ماهي له اقسامو څخه دی لکه چي علامه واني رحمه الله فرمايلي دي فقط

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۱۵/۵ کتاب الذبائح. ط رشيديه

سوال: (۱۲۳) زمونږ په وطن کي يو ډول ماهی چي ګول او ډير غټ دی خوله يې په منځ کي ده لکی يې دوه درې لاسه اږده ده خلک ورته جريث وايي چي حلال دی ځيني وايي چي که جريث وای نو لکی به کوچنی وه نو دا حرام دی آيا دا حلال دی او کنه؟
(۱۳۳۳-۳۲/۲۰۲۸هـ)

ځواب: معلوميږي چي دا د جريث قسم دی او هغه حلال دی او د ماهي ټول قسمونه حلال دي حرام ورته ويل صحيح نه معلوميږي و الا الجريث سمک اسود و في الشامي: قوله: (سمک اسود) کذا قاله العيني و قال الواني: نوع من السمک مدور کالترس. (۱)

جهينګا(کوچنی ماهی) خوړل حلال دي که حرام؟

سوال: (۱۲۴) جهينګا خوړل حلال دي که حرام؟ بينوا توجروا (۱۳۳۴-۳۳/۱۸۳۲هـ)

ځواب: د اوبو جهينګا چي ورته جهينګا ماهی وايي هغه د ماهي له اقسامو څخه دی او د ماهي ټول قسمونه جائز او مباح دي او کومه جهينګا چي زمونږ په وطنو کي په وچو کي وي هغه جائز نه ده ځکه چي هغه له حشرات الارض او خبائث څخه ده. (۲) فقط

---

(۱) الدر المختار و ردالمحتار ۵/۲۱۶ کتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) جهينګا حلاله ده که حرامه؟ دا اختلافي مسئله ده حضرت ګنګوهي رحمه الله حرام ليکلی دی. فرمايي: جهينګا د وچي له حشراتو څخه ده حرامه ده اود اوبو دا ماهی نه ده له ماهي څخه پرته ټول داوبو حيوانان د امام ابو حنيفه رحمه الله په نيزد ناجائز دي(فتاوی رشيديه. ص: ۵۵۱) او د دار العلوم ديوبند په مذکوره فتوی کي ورته جائز ويلي دي او د حکم مدار پر دې دی چي جهينګا ماهی دی او کنه؟ علامه دميري په حيوة الحيوان کي ورته ماهي ويلی دی خرنګه چي د درياب پر غاړه اسيدونکيو مفتيانو د دې د حلت فتوی ورکړې ده او د درياب پر غاړه اوسيدونکي مسلمانان دا خوري په فتاوی رحيميه کي راغلي دي چي خلاصه يې داده:

جينګا د اوبو حيوان دی او د اوبو په حيوانانو کي ماهی حلال دی او کوم چي ماهی نه وي هغه حرام دی په جهينګا کي اختلاف دی ځيني علماء يې ماهی بولي ورته حلال وايي او ځيني چينجی بولي ورتـه حـرام وايـي نـو دا حيـوان مشـکوک شـو او مشـکوک پـر خپـل اصـل محمـول دی پـه جهينګـا کـي اصـل مـاهی والـی دی د چينجـي کيـدو شـبه ده لهـذا د اصـل پـه وجـه -

- حلال دی حرام ورته ویل صحیح نه دي او دا هم صحیح نه دي چي جهینګا چینجی دی ځکه چي چینجي له خیټي پیدا کیږي او جهینګا د ماهي په رنګه له هګۍ. څخه پیدا کیږي داغه راز د ماهي نور علامتونه هم په جهینګا کي شته ځکه جهینګا حرامه او واجب الترک نه ده دا فتوی ده او په ځان کنټلو کي تقوی ده او تقوی مرتبه د کمال ده. (فتاوی رحیمیه قدیم ۲۵۷/۲: سوال: ۱۷۹۲)

مګر د ډابهیل مفتي مولوي احمد صاحب خانپوري مد ظله العالی کوم چي د دریاب د غاړي او سیدونکی دی هغه د ناجائز والي فتوی ورکړې ده چي خلاصه یې داسي ده:

په تذکرة الخلیل مخ ۲۰۰ کي د عدم جواز فتوی ده همدغه راجح دی داغه راز کله چي په دې کي د حرمت قول هم شته نو ورڅخه اجتناب کول بهتر دی.(محمود الفتاوی ۳۰۷/۳)

او حضرت تهانوي رحمه الله په دغه مسئله کي ډیره د احتیاط خبره لیکلې ده:

"پر دې خو د ټولو اتفاق دی چي د ماهي ټول قسمونه حلال دي او س صرف شبه په دې کي ده چي دا سمک دی او کنه؟ نو د سمک کوم لازم خواص په کوم دلیل ثابت شوي نه دي چي د هغو په انتفا سره سمکیة منتفي شي او س مدار صرف د مبصرینو د عدول پر معرفت دی که په مبصرینو کي اختلاف ؤ نو په حکم کي به هم اختلاف وي په همدې وجه په جریث کي امام محمد رحمه الله اختلاف کوي کما نقله الشامی دې وخت زما سره حیاة الحیوان د دمیري کوم چي د حیوانانو د ماهیتونو څخه بحث کونکی دی موجود دی په هغه کي څرګندونه ده الروبیان هو سمک صغیر جدا "او د دې د نه مقبولیت هیڅ وجه نشته نو دا د حلت تقاضا کوي مخزن کوم چي د دوا و له ماهیتونو څخه بحث کوي په هغه کي ګودا له ماهی څخه تعبیرول حجت نه دی مګر پر مخ دې ته حلال ویل ښکاره قرینه ده چي ده دا د ماهي په ماهیت کي داخل کړی دی نو په دې سره نور هم تائید وشو لنډه دا چي بنده ته حالاً د دې په سمک والي یو مخ اطمینان دی و لعل الله یحدث بعد ذلک امرا و الله اعلم

(امداد الفتاوی ۱۰۳/۴-۱۰۴، سوال: ۸۲)

مګر امام بخاري رحمه الله په بخاري شریف کتاب الصلاة باب ما یذکر فی الفخذ کي یو ډیر ښه اصول لیکلی دی: قال ابو عبد الله: و حدیث انس اسند و حدیث جرهد احوط حتی نخرج من اختلافهم(۵۳/۱)

ورون (پتون) ستر دی کنه؟ په دې اړه د حضرت انس رضی الله عنه روایت قوي دی چي ورون ستر نه دی او د حضرت جرهد په حدیث عمل کول د احتیاط خبره ده چي ورون ستر دی تر څو مونږ د علماء له اختلاف څخه ووزو همدغه اصول په جهینګا کي عملي کول پکار دی ځکه چي د هر حلال شي خوړل ضروري نه دي او له هر حرام څخه بچ کیدل ضروري دي و الله الموفق ۱۲ سعید احمد پالن پوري

د کلمو او نورو سره وچ کړي ماهیانو حکم

سوال: (۱۲۵) په ځینو ځایونو کي وچ ماهیان دا ډول خوري چي مالګه نه پر اچوي او د وچولو پر مهال ځیني ممنوع او مکروه اجزاء لکه تریخی، حرام مغز، مرغړی، ذکر، خصیتین او نور کلاً او جزءً نه ځني باسي په ځینو ځایونه کي ځني او باسي هم یې وچوي لیکن بیا هم له ځینو ماهیانو ځخه داسي بدبویي راځي چي له پخولو وروسته هم بوی نه ختمیږي دا ویره وي چي مرضونه به ځني پیدا شي آیا داسي ماهی یا غوښه خوړل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۵۷هـ)

ځواب: د منتن او بدبودار او متغیر ماهي د خوراک په منع کي خود ضرر په وجه هیڅ خبره نشته خبره په دې کي ده چي کوم اجزاء په دموي حیوان کي حرام او مکروه دي هغه په سمک کي هم حرام او مکروه دي او کنه؟ نو کله چي د ماهي میته کیدل سبب د حرمت او کراهت نه دی نو د دې تقاضا دا ده چي د ده اجْزاء مثانه او نور هم حرام او نجس نه دي. و لینظر ما فی رد المحتار آخر الذبائح قبیل الاضحیة عن معراج الدرایة: و لـو وجـدت سمكة فی حوصلة طائر تؤكل و عند الشافعی لا تؤكل لانه كالرجیع و رجیع الطائر عنده نجس و قلنا: انما یعتبر رجیعا اذا تغیر و فی السمک الصغار التی تقلی من غیر ان یشـق جوفـه فقـال اصحابه(الشافعی رحمه الله) لا یحل اكله لان رجیعه نجس و عند سائر الائمة یحل.(۱) فقط

د کوموکوچني ماهیانو کلمې او نور چي را ایستل مشکل وي

سوال: (۱۲۶) ډیر کوچني ماهیان حلال دي که حرام؟ په ماهي کي د ننه کوم شی حرام دی؟ له کوچني ماهي ځخه که د حرامو شیانو را ایستل مشکل وي نو بیله را ایستلو حلالیږي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۳۲۸هـ)

---

(۱) رد المحتار ۲۱۷/۵ کتاب الذبائح قبیل کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: احلت لنا میتتان السمک و الجراد(۱) او د فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي د مائی المولد لکه ماهی او چنګوانې په اوبو کي مړه کيدو اوبه نه پلیتي کوي(۲) نو معلوم شو چي په ماهي کي هيڅ شی ناپاک نشته لهذا کوچني ماهي چي کلمې او نوريې نه را ایستل کیږي حلال او پاک دي. فقط

په پسه کي څومره شیان حرام دي

سوال: (۱۲۷) په حلاله کړې وزه کي څو شیان حرام دي؟ (۱۲۳۵/۱۳۳۸هـ)

ځواب: ټول اووه شیان دي فقهاء په وزه او نورو کي منع لیکلي دي له هغوی څخه بهیدونکي وینه حرامه ده لکه چي الله رب العزت فرمایي [او دما مسفوحا] (سورة انعام. آیت: ۱۴۵) او نور شپږ شیان یعني خصیتین(خایې) ذکر، فرج، تریخی، مرغړی، مثانه تحریمي مکروه دي او ځینو تنزیهي مکروه ورته ویلي دي(۳) او دغه اووه شیان ځینو علماء په دغه شعر کي راجمع کړي:

فقل ذکر و الانثیان مثانة — کذاک دم ثم المرارة و الغدد

و قال غیره:

اذا ماذکیت شاة فکلها — سوی سبع ففیهن الوبال

فحاء ثم خاء ثم غین — و دال ثم میمان و ذال(٤)

---

(۱) سنن ابن ماجة ص: ۲۳۲ ابواب الصید، باب صید الحیتان و الجراد.

(۲) و یجوز رفع الحدث مما ذکر و ان مات فیه ای الماء و لو قلیلا غیر دموی کذنبور و عقرب و بق... و مائی مولد و لو کلب الماء و خنزیره کسمک و سرطان الخ(الدر مع الرد ۱/۱۳٤ کتاب الطهارة، باب المیاه، مطلب فی مسئلة الوضو من الفساقی. ط رشیدیه)

(۳) کره تحریما و قیل تنزیها، و الاول اوجه من الشاة سبع: الحیاء و الخصیة و الغدة و المثانة و المرارة و الدم المسفوح و الذکر (الدر مع الرد ۵/۵۲۸ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

(٤) الدر مع الرد ۵/۵۲۹ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

حرام مغز (د لېندي مغزه) حلال دي که مکروه؟

سوال: (۱۲۸) حرام مغز چي د لنډۍ په هډ کي وي حلال دي که مکروه که مکروه دي نو تنزیهي دي که تحریمي؟ (۱۳۳۷/۲۱۸۹هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: کره تحریما الخ من الشاة سبع: الحیاء و الخصیة و الغدة و المثانة و المرارة و الدم المسفوح والذکر الخ(۱) داغه ډول په شامي کتاب الذبائح کي هم راغلي دي: په دې کي د نخاع یعني حرام مغز بیان نشته(۲) ما نور هم څو کتابونه وکتل مګر د حرام مغز کراهت یا حرمت مي تر نظر نه شو تیر لیکن مشرانو علماء چي دا حرام او مکروه لیکلي دي نو ضرور شته چي دا خبره بې بنیاده نه ده او آیت: [و یحرم علیهم الخبائث] (سورة اعراف، آیت: ۱۵۷) هم د دې د حرمت تقاضا کوي لهذا حرام مغز نه دي خوړل پکار په شامي کي راغلي دي: و کره ما سواه، لانه مما تستخبثه الانفس و تکرهه و هذا المعنی سبب الکراهیة لقوله تعالی: [و یحرم علیهم الخبائث](۳) نو احتیاط د دې په ترک کي دی، نورو فقهاوو د دې څرګندونه کړې ده چي ښوروا چي پکي مرغړی او نور مکروه شیان پاخه شي هغه ښوروا مکروه نه ده(۴) نو داغسي په حرام مغز هم ښوروا نه مکروه کیږي لیکن پخپل حرام مغز خوړل مکروه دي.

سوال: (۱۲۹) کره رسول الله صلی الله علیه وسلم سبعة اشیاء الذکر و الانثیین

---

(۱) الدر مع الرد ۵۲۹/۵ کتاب الخنثی مسائل شتی. ط رشیدیه

(۲) تتمة: ما یحرم اکله من اجزاء الحیوان الماکول سبعة: الدم المسفوح والذکر و الانثیان و القبل والغدة و المثانة و المرارة، بدائع(شامي ۲۱۹/۵ آخر کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۳) رد المحتار ۵۲۸/۵ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(٤) قوله: (و قیل تنزیها) قائله صاحب القنیة، فانه ذکر ان الذکر او الغدة لو طبخ في المرقة لا تکره المرقة و کراهة هذه الاشیاء کراهة تنزیه لا تحریم اهـ و اختار في الوهبانیة ما في القنیة و قال: ان فیه فائدتین: احداهما ان الکراهة تنزیهیة و الاخری انه لا یکره اکل المرقة و اللحم(الشامي ۵۲۸/۵ کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

و القبل، و الغدة و المرارة و المثانة و الدم و زاد في الينا بيع الدبر كه كراهت پر همدغه شيانو منحصر دى نو شاه عبد العزيز رحمه الله پخپل تفسير فتح العزيز كي ليكي: "النخاع حرام" د دې څه معنى ده؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۴۸۷هـ)

ځواب: حصر نه دى بلكه د كوم شي د حرمت يا كراهيت څرګندونه چي وليدل شي هغه ته به حرام يا مكروه ويل كيږي د فقهي په كتابونو كي چي كوم عبارتونه د نخاع په باره كي راغلي دي هغه دا ډول دي: و كره النخع د دې معنى يې دا ليكلې ده: اى بلوغ السكين النخاع(۱) يعني د حيوان په حلالولو كي چاړه تر نخاع پوري رسول چي د غاړي د شا خوا ته دي مكروه دي شاهد شاه عبد العزيز د نخاع د حرمت كوم بل روايت موندلى وي دا جمله په تفسير فتح العزيز كي كوم ځاى ده او د كوم آيت د تفسير په اړه د هحواله راكړه نو وبه ګورو. فقط

لړى حلال دى

سوال: (۱۷۰) لړى حرام نه دى او ځيني وايي چي مكروه هم نه دى؟ (۱۳۳۵/۵۰هـ)

ځواب: لړى حرام هم نه دى او مكروه هم نه دى طبعي كراهت بېله خبره ده.

په ځاه كي لوېدلى حيوان په بسم الله سره په غشه يا ګولى ويشتل

سوال: (۱۷۱) په ځاه كي پسه ولوېدى كله چي نژدې وه چي مړ شي نو مالک په بسم الله ويلو سره په غشه يا ټوپک وويشتى دداسي حيوان خوراک څنګه دى؟ (۱۳۴۲/۹۴۷هـ)

ځواب: په داسي حال كي كه بسم الله الله اكبر ووايو په غشه وويشتى هغه له دغه زخم څخه مړ شو نو حلال دى او كه د ټوپک په ګولى وويشتى نو نه دى حلال. قال في الدر المختار: و كفى جرح نعم كبقر و غنم توحش فيجرح كصيد او تعذر ذبحه كان تردى في بئر الخ اى سقط و علم موته

---

(۱) و في البحر: و كره النخع... النخع هو ان يصل الى النخاع و هو خيط ابيض في جوف عظم الرقبة (تكملة البحر الرائق، شرح كنز الدقائق ۳۱۱/۹ كتاب الذبائح، قبيل فصل فيما يحل و لا يحل)

بالجرح او اشكل لان الظاهر ان الموت منه الخ(۱) (شامي) فقط

په ټوپک ويشتلي ښكار حكم

سوال: (۱۷۲) په بسم الله الله اكبر ويلو كه پر ښكار د ټوپک ټک وكړي او ښكار بېله ذبح كولو مړ شي نو حلال دى او كنه؟ (۱۴۹۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د ټوپک ښكار بېله ذبح كولو نه حلالېږي كه څه هم په بسم الله الله اكبر ويلو پر ښكار ډز كړى وي كذا في الشامي. (۲)

سوال: (۱۷۳) د ټوپک ښكار بې له ذبح كولو حلال دى او كنه؟

(۳۴۲۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د ټوپک ښكار بېله ذبح كولو نه حلالېږي نو د كوم حيوان ښكار چي په ټوپک وشي او هغه بېله ذبح كولو مړ شي خوراک د ده حلال او جائز نه دى بلكه دى مردار او حرام دى لكه چي الله رب العزت فرمايي: [حرمت عليكم الميتة] (سورة مائده، آيت: ۳) او په شامي كي راغلي دي: لا يحل صيد البندقة الخ و بعد اسطر و في التبيين و الاصل ان الموت اذا حصل بالجرح بيقين حل و ان بالثقل اوشک فيه فلا يحل حتما او احتياطا اهـ و لا يخفى ان الجرح بالرصاص انما هو بالاحراق، و الثقل بواسطة اندفاعه العنيف اذ ليس له حد فلا يحل و به افتى ابن نجيم. (۳) فقط

---

(۱) الدر و الرد ۲۱۳/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

(۲) و لا يحل صيدا البندقة الخ و بعداسطر: و في التبيين: و الاصل ان الموت اذا حصل بالجرح بيقين حل، و ان بالثقل او شک فيه فلا يحل حتما او احتياطا اهـ و لا يخفى ان الجرح بالرصاص انما هو بالاحراق و الثقل بواسطة اندفاعه العنيف اذ ليس له حد فلا يحل، و به افتى ابن نجيم (رد المحتار ۳۳۵/۵ كتاب الصيد. ط رشيديه)

(۳) رد المحتار ۳۳۵/۵ كتاب الصيد. ط رشيديه

د ټوپک ښکار له ذبح مخکې مړ شو

سوال: (۱۷۴) په تسمیه او تکبیرویلو سره که په ټوپک ښکار وکړي او هغه مړ شي نوحلال دی که حرام؟ (۳۲/۱۸۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د ټوپک ښکار کړی حیوان چې بېله ذبح کولو مړ شي حرام دی که څه هم په تسمیه او تکبیر ویلو سره ټک پر کړی وي په شامي کې راغلي دي: و لا يخفى ان الجرح بالرصاص انما هو بالاحراق و الثقل بواسطة اندفاعه العنيف اذ ليس له حد فلا يحل و به افتى ابن نجيم(۱) (۳۰۴/۵ كتاب الصيد) فقط

سوال: (۱۷۵) د ټوپک ښکار که بېله ذبح کولو مړ شي نو حلال دی او کنه؟ (۳۲/۱۱۸۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د ټوپک ښکار که مخکې تر ذبح کولو مړ شي نو نه دی حلال قال قاضی خان: لا يحل صيد البندقة الخ(۱) (شامی)

سوال: (۱۷۶) ما قول العلماء فی هذه المسئلة: ان الصيد بالبندقة الرصاصية اذا ذكر اسم عليها احلال ام حرام؟ و يجرح الحيوان و يجرى الدم(۴۴/۲۱۳-۱۳۴۵هـ)

ځواب: اقول و بالله التوفيق: لا يحل صيد قتل ببندقة رصاصية كانت او غيرها كما فى الدر المختار: او بندقة ثقيلة ذات حدة لقتلها بالثقل لا بالحد الخ قال فى رد المحتار: قال قاضى خان: لا يحل صيد البندقة (الى ان قال) و لا يخفى ان الجرح بالرصاص انما هو بالاحراق و الثقل بواسطة اندفاعه العنيف اذ ليس له حد فلا يحل و به افتى ابن لجيم(۲) و فى الحديث: دع ما يريبك الى ما لا يريبك(۳) فقط

---

(۱) رد المحتار ۳۳۵/۵ کتاب الصيد. ط رشيديه

(۲) الدر مع الشامى ۳۳۵/۵ كتاب الصيد. ط رشيديه

(۳) عن ابى الحوراء السعدى قال: قلت لحسن بن على رضى الله عنهما: ما حفظت من رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ قال: حفظت من رسول الله صلى الله عليه وسلم: دع ما يريبك الى ما لا يريبك فان الصدق طمانينة و ان الكذب ريبة (جامع الترمذى ۷۸/۲ ابواب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب منه)

سوال: (۱۷۶) ترجمه: په دغه مسئله کي علماء کرام څه فرمايي چي په چريبز ټوپک کړی ښکار که د الله نوم اخیستل شوی وي نو حلال دی که حرام؟ کله چي د ټوپک چره حیوان زخمي کوي او وینه بهیوي.

ځواب: اقول و بالله التوفیق: کوم ښکار چي په چریبز یا ناچریبز ټوپک ویشتل شوی وي هغه حلال نه دی لکه چي په در مختار کي راغلي دي: او بندقة رصاصیة الخ او په حدیث شریف کي راغلي دي: دع ما یریبک الی ما لا یریبک. فقط

په ټوپک او توپ ښکار کول څو به تعذیب بالنار نه وي؟

سوال: (۱۷۷) په ټوپک او توپ ویشتل په تعذیب بالنار کي داخل دي او کنه؟ نو د ټوپک، توپ او نورو استعمال په جنګ کي او ښکار د مرغانو په کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۷۲۵هـ)

ځواب: ښکاره خبره ده چي په نن زمانه کي ټوپک او توپ په کار راتلای شي او ښکار کول په ټوپک صحیح دی مګر ذبح د ویشتلی شرط دی.

که په یوه ګولۍ ښکار کړیو شلو مرغیوکي مي درې څلور ذبح کړې نوري مرې شوې نو...

سوال: (۱۷۸) که یو سړی تکبیر ووایي د ټوپک په یوه ګولۍ شل مرغۍ وولي او له دریو څلورو ذبح کولو وروسته نوري مړې شي آیا د دا نورو ذبح کولو ضرورت شته او کنه؟ او د دغه نورو مړو شویو خوراک حلال دی که حرام؟ او په ذبح حلالیدلای شي او کنه؟ په سپي او نورو د ښکار کولو مسئله هم راته ولیکئ. (۱۳۳۸/۴۲۱هـ)

ځواب: د ټوپک ښکار که له ذبح کولو مخکي مړ شي نو مردار دی خوراک ئې حرام دی ذبح کول د هغه ضروري دي او د ټوپک چلولو پر مهال وربانديي تکبیر ویلو سره بېله ذبح کولو هغه نه حلالیږي او له مرګ وروسته بیا ذبح کول فائده نه کوي په دې سره هغه مردار نه حلالیږي او د معلم سپي

(يعني ښکار ورښودل شوی سپی) ښکار ببله ذبح کولو که هم مړ شي نو حلال دی دا خبره په قرآن او حديث ثابته ده(۱) او داغه ډول که په تکبيرويلو سره په غشه ښکار وويشتل شي او ښکار مړ شي نو هغه هم ببله ذبح کولو حلال دی مګر د ټوپک ښکار ببله ذبح کولو حلال نه دی او د فرق وجه په شامي کي بيان شوې ده(۲) مسئله دغه ده چي وليکل شوه فقط

که په ګولۍ ويشتلو وروسته ښکار په داسي ځای ننواتی چي غاړه په لاس نه راځي نو...

سوال: (۱۷۹) يو ښکار په ګولۍ ويشتلوروسته په داسي ځای ننواتی چي غاړه په لاس نه راځي او مرګ ته نژدې دی نو څه کول پکار دي؟(۱۳۴۵/۵۸۹ھ)

ځواب: دغه حيوان حرام او ميته شو دا مه خورئ ځکه چي د دې ذبح نشي کيدلای او د ټوپک شکار ببله ذبح کولو نه حلاليږي. (۳) (شامی) فقط

---

(۱) وما علمتم من الجوارح مكلبين تعلمونهن مما علمكم الله فكلوا مما امسكن عليكم و اذكروا اسم الله عليه و اتقوا الله ان الله سريع الحساب(سورة مائده، آيت: ـ ٤) عن عدى بن حاتم رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: اذا ارسلت كلبک و سميت فامسک و قتل فكل و ان اكل فـلا تاكـل الحديث(صحيح البخارى ٢/٨٢٤ كتاب الذبائح و الصيد، باب الصيد اذا غاب عنه يومين او ثلاثة)

(٢) او قتله معراض بعرضه و هو سهم لاريش له سمى به لا صابته بعرضه و لو لراسه حدة فاصاب بحده حل او بندقة ثقيلة ذات حدة لقتلها بالثقل لا بالحد و فى الشامى: قال قاضى خان: لا يحل صيد البندقة و الحجر و المعراض و العصا و ما اشبه ذالک و ان جرح لانه لا يخزق الا ان يكون شيء من ذلک قد حدده و طوله كالسهم و امكن ان يرمى به... و فى التبيين: و الاصل ان الموت اذا حصل بالجرح بيقين حل، و ان بالثقل اوشک فيه فلا يحل حتما او احتياطا اهـ، و لا يخفى ان الجرح بالرصاص انما هو بالاحراق و الثقل بواسطه اندفاعه العنيف اذ ليس له حد فلا يحل و به افتى ابن نجيم (الدر و الرد ٥٠/٣٣٥ كتاب الصيد. ط رشيديه)

(٣) قال قاضى خان: لا يحل صيد البندقة الخ(رد المحتار ٥/٣٣٥ كتاب الصيد)

په غلیل، لوټه او ډبره کړی ښکار که تر ذبح مخکي مړ شونو...

سوال: (۱۸۰) په غلیل(ربړ) لوټه، ډبره او ټوپک که ښکار په بسم الله سره وویشتل شي او هغه تر ذبح کولو مخکي مړ شي نو داسي ښکار حلال دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۹۴هـ)

ځواب: په دغه ټولو صورتونو کي حیوان نه حلالیږي خوراک ځني جائز نه دی جرح چي د اضطراري ذکاة تر ټولو لومړی شرط دی په دغه صورتونو کي مفقود دی په هدایه کي راغلي دي: و لا یؤکل ما اصابه البندقة فمات بها، لان تدق و تکسر و لا تجرح الخ و کذلک ان رماه بحجر الخ(۱) و فیه ایضا: و لا بد من الجرح فی ظاهر الروایة لیتحقق الذکاة الاضطراری و هو الجرح فی ای موضع کان من البدن بانتساب ما وجد من الآلة الیه بالاستعمال الخ. (۲) فقط

په تېره غشي ویشتلی ښکار که تر ذبح مخکي مړ شي نو حلال دی

سوال: (۱۸۱) په تېره غشي که په بسم الله سره کوم حلال حیوان ښکار کړي او په غشه لګېد و هغه مړ شي نو حلال دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۴۸۳هـ)

ځواب: حلال دی. در مختار(۳)

هره ورځ ښکار کول

سوال: (۱۸۲) هره ورځ ښکار کول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۹۰۹هـ)

---

(۱) الهدایة ٤/٥١١-٥١٢ کتاب الصید.

(۲) الهدایة ٤/٥٠٣ کتاب الصید.

(۳) و لو لرأسه حدة فاصاب بحده حل (الدر مع الرد ٥/٣٣٥ کتاب الصید . ط رشیدیه) و شرط حله بالرمی التسمیة (الدرمع الرد ٥/٣٣٣ کتاب الصید. ط رشیدیه)

ځواب: هره ورځ ښکار کول مباح او جائز دی هیڅ ګناه پکي نشته

سوال: (۱۸۳) یو سړی د ښکار دومره شوقي دی چي زیاتره ټوله ورځ په ښکار کولو تېره کړي داسي جائز دي او کنه؟(۱۳۴۰/۱۰۵۲هـ)

ځواب: جائز دي فقط

د جمعرات یا جمعې په ورځ ښکار کول

سوال: (۱۸۴) د جمعرات او جمعې په ورځ ښکار کول خو به منع نه وي؟(۲۲/۲۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د دې د منع والي هیڅ اصل نشته فقط

سوال: (۱۸۵) د پنج شنبې یا جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه مخکي ښکار کول منع دی؟(۱۳۴۲/۱۰۵۲هـ)

ځواب: دا منع نه دی بلکه د ښکار چي څرنګه حکم په نورو ورځو کي دی هغسي حکم د جمعرات او جمعې د ورځي هم دی.

ښکاري سپی ساتل او ښکار په کول

سوال: (۱۸۶) ښکاري سپی ساتل او ښکار په کول او د هغه خرڅول صحیح دي او کنه؟او سپی څه وخت ښکاري وي؟او د ده ښکاري کړی کوم وخت جائز دی؟(۳۲/۵۴۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په صحیح حدیث کي راغلي دي: من اقتنی کلبًا الا کلبًا ضار یا لصید او کلب ماشیة فانه ینقص من اجره کل یوم قیرا طین(۱) د دې خلاصه دا ده چي بې د ښکار او حیوانانو خوندي کولو او نورو له ضرورته سپی ساتل د ثواب د نقصان باعث دی او هره ورځ یوه اندازه د ثواب کمیږي نو معلوم شو چي د ښکار لپاره سپی ساتل او پالل صحیح دی مګر په شامي کي له فتح القدیر څخه را نقل کړي دي چي پخپل کور کي مه ساتئ په جلا ځای کي وساتي او ځان ته ځای د دغه سپي لپاره جوړ کړئ مګر که د غلو خطر وي نو پروا نلري في الفتح: و اما اقتناؤه للصید و حراسة الماشیة و البیوت و الزرع فیجوز بالاجماع لکن لا ینبغي ان یتخذه في داره الا ان خاف لصوصا او اعداء الخ(۲)(شامی)

---

(۱) صحیح البخاری ۸۲٤/۲ کتاب الذبائح و الصید باب من اقتنی کلبا لیس بکلب صید او ماشیة.

(۲) رد المحتار ۲۳۹/۵ کتاب البیوع، اوائل باب المتفرقات. ط رشیدیه

او په رد المحتار كي راغلي دي چي خرخول د سپي او رانيول د سپي صحيح دي و في الشامي: بيع الكلب المعلم عندنا جائز الخ(۱) او سپى هغه وخت ښكاري ګرځي چي ښكار پخپله نه خوري درې واره كه ده داسي وكړل نو دى ښكاري دى او ښكار كړى د ده حلال دى و ذا بترک الاكل... ثلاثا الخ(۲) فقط

ښكاري سپى څرنګه وي او د ده ښكار كله حلاليږي؟

سوال: (۱۸۷) د معلم سپي يعني ښكاري سپي څه شرط دى؟ او داسي سپى كه ښكار ونيسي او ښكار مړ شي نو د ده د ښكار د حلالېدو څه شرطونه دي؟

(۱۳۳۳-۳۲/۱۰۲۴هـ)

ځواب: د سپي معلموالى دا دى چي درې واره پخپله له ښكار څخه خوراک ونكړي كه ده داسي وكړو نو دى ښكاري سپى شو(۳) د ده ښكار په راتلونكيو شرطونو سره حلال دى هغه دا چي ښكار زخمي شي د ښكاري سپي ور پرېښودونكى مسلمان يا كتابي وي چي د پرېښودلو پر مهال يې بسم الله الله اكبر ويلى وي لنډه دا چي د الله په نوم به پرېښى وي او دا چي د ښكار په نيولو كي به د دغه سپي سره شريک بل داسي سپى نه وي چي ښكار يې حلال نه وي لكه غير معلم سپى يا د مجوسي سپى چي د پرېښودلو پر مهال يې د الله نوم نه وي اخيستى او بل شرط دا چي په ښكار پسي ور پرېښودلو وروسته له ښكار څخه پرته په بل كار نه وي مشغول شوى(۴) نو كه دا شرطونه موجود وي او هغه ښكار مړ شو نو حلال دى او كه ژوندى وي نو بايد ذبح كړي. فقط

---

(۱) رد المحتار ۱۲٤/٤ كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، مطلب في بيع دودة القرمز. ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد ٥/ ۳۳۱ كتاب الصيد. ط رشيديه

(۳) و ذا بترک الأكل...ثلاثا في الكل (الدر مع الرد ۳۳۱/٥ كتاب الصيد. ط رشيديه)

(٤) و بشرط جرحهما في اى موضع منه على الظاهر و به يفتى... و بشرط ارسال مسلم او كتابي و بشرط التسمية عند الارسال و لو حكما... و بشرط ان لا يشرک الكلب المعلم كلب لا يحل صيده ككلب غير معلم و كلب مجوسي او لم يرسل او لم يسم عليه و بشرط ان لا تطول وقفته بعد ارساله ليكون الاصطياد مضافا للارسال (الدر مع الرد ۳۳۱/٥ كتاب الصيد. ط رشيديه)

ښکاري سپي که ښکار ونيسي او مړيې کړي نو...

سوال: (۱۸۸) ښکاري سپی که سړی په ښکار پسي پرېږدي هغه ښکار ونيسي او مړيې کړي نو خوراک څني جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۱۸ه)

ځواب: که کلب معلم يعني ښکاري سپی د الله په نوم اخيستلو سره په ښکار پسي ور پرېښودل شي او ښکار زخمي هم شي او بيا دغه سپی خوراک څني نه وي کړی نو د داسي ښکار خوراک جائز دی فان اصطاد بارسال الجوارح المعلمة جاز، و هوهذا الاصطياد مختص بشرائط: احدها: ان يكون مايصطاد به معلما و الثانی: ان يكون جارحا الخ... و الرابع: التسمية الخ(۱) (قاضي خان دريم ټوک) و قوله عليه الصلاة و السلام لعدی بن حاتم الطائی رضی الله عنه: اذا ارسلت كلبک المعلم و ذكرت اسم الله عليه فكل و ان اكل منه فلا تاكل.(۲)

د ماهي نيولو لپاره په تار پوري چونګوښه يا چينجی تړل

سوال: (۱۸۹) د ماهي نيولو لپاره په تار پورې چونګوښه يا چينجی تړل صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۷۸ه)

ځواب: داسي صحيح نه دي.

سوال: (۱۹۰) ژوندی چونګوښه د ماهي نيولو لپاره په تار پوري تړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۴۲۸ه)

ځواب: دا ښه کار نه دی چي ژوندی په تار پوري وتړي. فقط

سوال: (۱۹۱) په سلګونو چينجيان وژل څنګه دي؟ دهغه ماهي لپاره چي په دوی يې ښکار کوي د داسي ماهي خوراک څنګه دی؟ (۱۳۳۵/۲۵۲ه)

ځواب: ژوندي چينجيان په تار کي تړلو وژل صحيح نه دي کوم ماهي چي د دوی په وسيله ښکار

---

(۱) الفتاوی الخانية علی هامش الهندية ۳/۳۶۳ كتاب الصيد و الذبائح.

(۲) الهداية ۴/۵۰۱ اوائل كتاب الصيد و صحيح البخاری ۲/۸۲۴ كتاب الذبائح و الصيد، باب الصيد اذا غاب عنه يومين او ثلاثة.

شو هغه حلال دی په هغه کي هيڅ شبه نشته

د مردار حيوان په غوښه. چينجي او د غوا په ينه ماهي نيول

سوال: (۱۹۲) له وزي حلالولو وروسته د ي په خيټه کي مړ شوی بچی ؤ د هغه په غوښه د ماهي ښکار کول او په چينجي او د غوا په ورسته شوي ينه د ماهي ښکار کول څنګه دی؟ (۱۳۳۷/۹۷۰ه)

ځواب: د وزي او نورو په خيټه کي چي مړ بچی وي هغه حرام دی كما فى الشامى: ان الجنين و هو الولد فى البطن ان ذكى عليحدة حل و الا لا الخ(۱) او داغه راز چينجي او نور حشرات الارض حرام دي نو د دوی په وسيله د ماهي ښکار کول ناجائز دی او ينه د حلال کړي حيوان پاکه او حلاله ده د هغه په وسيله د ماهي ښکار کول صحيح دی فقط

د يو ماهي نيولو لپاره بل ژوندی ماهی په تار پوري تړل

سوال: (۱۹۳) د يو ماهي نيولو لپاره بل ژوندی ماهی ژوندی په تار پوري تړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۹۲۱ه)

ځواب: ژوندی ماهی په تار پوري تړل په دې وجه چي ايذاء د ذی روح ده مکروه دی له دې څخه ځان ساتنه ښه ده.

کوم ماهی چي د ښکار لکړه وتښتوي د هغه مالک څوک دی؟

سوال: (۱۹۴) زيـد مانبـام پـه دريـاب کـي لکـړه د تـار او ازغـي سـره د ماهيـانو نيولـو لپـاره ودرولـه (دا خلـک مانبـام ودروي

---

(۱) الشامى ۲۱۳/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه .

او سهار راشي ماهيان پوري ننښتي وي هغه را واخلي) خو کله چي زيد ماښام دغه لکړه ودروله د شپې غټ ماهي پکي بند شو هغه لکړه له ځايه وکښه لري يوړه سهار چي زيد راغلی نو لکړه پر هغه ځای نه وه پسي وګرځيدی نو يو ځای لکړه پرته وه نورو خلکو خپل تارونه ور واچول چي دغه لکړه سره د ماهي راوکاږي نو زيد منع کړو چي زما ماهی او لکړه تاسو مه را اوباسئ ليکن هغه تار ور واچاوی ماهی يې سره د لکړي راوکښی زيد د ها بلي خوا ورسره راغلی خو هغه خلکو ماهی وتښتاوی او لکړه پرېښوده نوزيد خپله لکړه راواخيسته کور ته راغلی اوس د هغه ماهی د چا دی؟ د زيد که د هغه نورو خلکو؟ (۱۳۳۷/۱۲۴هـ)

ځواب: په دغه صورت کي هغه ماهی د زيد دی چي لکړه تار او ازغی يې د ښکار کولو په غرض په درياب کي ښخ کړی ؤ کما فی الدر المختار: نصب شبكة للصيد ملك ما تعقل بها الخ. (۱) فقط

د چا تالاب او قفص ته راغلي ماهيان بل څوک نيولای شي او که نه؟

سوال: (۱۹۵) ... (الف) د بې مالکه تالاب يا درياب پر غاړه خلک د ماهيانو نيولو لپاره کوچني کوچني تالابونه جوړ کړي او د درختو پاڼي او نور پکي واچوي او له يوې خوا څخه د دغه تالاب خوله خلاصه پرېږدي تر څو په دغه لار ماهيان پکي راشي کله چي د دغه تالاب ماهيان نيسي نو هغه خلاصه خوله ور بنده کړي او ټولي اوبه ځيني ايله کړي ماهيان ونيسي آيا بې د تالاب د مالک له اجازې کوم بل سړی دغه ماهيان نيولای شي او کنه؟

(ب) په بانس او نورو مونږ د ماهيانو نيولو لپاره يو قفص جوړ کړو دا په درياب او تالاب کي واچؤ ماهيان راشي په دغه قفص کي بند شي آيا د قفص د مالک بې اجازته بل

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۳۲۸/۵ كتاب الصيد. ط رشيديه

سړی له دغه قفص څخه ماهیان را اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۸۵هـ)

ځواب: (الف) بل سړی یې نشي نیولای.

(ب) بل څوک د دغه قفص ماهیان نشي را اخیستلای (۱) فقط

د چا تالاب ته اوبو راوړي ماهیان بل څوک نیولای شي

سوال: (۱۹۲) یو ځای د ځمکي د مالکانو تالاب دی چي کله پارانونه وشي نو د رود او دریاب اوبه وبهیږي چي دغه تالاب ته پکي ماهیان هم راشي نو که بل څوک د دغه تالاب ماهیان ونیسي آیا نیولای شي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۳۰هـ)

ځواب: نیولای یې شي. (۲)

له ښکاري مرغه څخه خلاص کړی ماهی خوړل

سوال: (۱۹۷) له ښکاري مرغه څخه خلاص کړی ماهی خوړل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۹۲۷هـ)

ځواب: له شکاري مرغه څخه خلاص کړی ماهی خوړل صحیح دی. فقط

د وحشي غوا ښکار کول او خوړل صحیح دي

سوال: (۱۹۸) ځنګلي غواوي ډیري وحشي شي او له وحشي کیدو څخه په ځنګل

---

(۱) نصب شبکة للصید ملک ماتعقل بها (الدر مع الرد ۳۲۸/۵ کتاب الصید. ط رشیدیه)

(۲) و الحاصل کما فی "الفتح" انه اذا دخل السمک فی حظیرة: فاما ان یعدها لذلک اولا، ففی الاول یملکه و لیس لاحد اخذه، ثم ان امکن اخذه بلا حیلة جاز بیعه لانه مملوک مقدور التسلیم و الا لم یجز لعدم القــدرة علی التسلیم، و فی الثانی: لا یملکه فلا یجوز بیعه لعدم الملک الا ان یسد الحظیرة اذا دخل فحینئذ یملکه ثم ان مکن اخذه بلا حیلة جاز بیعه و الا فلا و ان لم یعدها لذلک لکنه اخذه و ارسله فیها ملکه فإن امکن اخذه بلا حیلة جاز بیعه لانه مقدور التسلیم (الشامی ۱۱۸/٤ کتاب البیوع باب البیع الفاسد، مطلب فی البیع الفاسد. ط رشیدیه)

کي توالد او تناسل کوي د دوی کوم ښکار کونکی او مالک نشته نو د دوی ښکار کول او خوړل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۵۴۱هـ)

ځواب: د دوی ښکار کول او خوراک صحیح دی ځکه چي دوی ملحق بالوحوش دي. فقط

د ښکار غوښه خرڅول صحیح دي

سوال: (۱۹۹) د ښکار غوښه خرڅول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۲۷۹هـ)

ځواب: صحیح دي. فقط

کتاب الاضحية

د قربانی بیان

قرباني پر چا واجب ده؟

سوال: (۱) قرباني پر چا چا واجب ده؟ په يو كور كي آيا پر هر يوه ځان ځان ته واجب ده كه څنګه؟ (۲۰۲۹/۱۳۳۹ھ)

ځواب: د نصاب پر خاوند قرباني واجبه او لازمه ده د ماشومانو له طرفه واجب نه ده په دي كي او سرسايه كي فرق دی او په يو كور كي چي كوم نارينه او ښځي د نصاب مالكان وي پر هغو ټولو پر هر يوه جلا جلا قرباني واجب ده.

دنصاب پرمالک هر کال قرباني واجب ده

سوال: (۲) آيا قرباني هر حال پر زكوة وركونكي هر كس واجب وي؟ (۱۱۷۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: قرباني هر كال د نصاب پر مالک واجبيږي.

که ټوله ورونه د نصاب مالکان وي نو د هر يوه له خوا قرباني واجب ده

سوال: (۳) زمونږ په خوا رواج دی چي خلک قرباني دا ډول كوي مثلاً دري ورونه دي

په دوی کي صرف یو ورور قرباني کوي او په مال ټول شریکان وي او د نصاب مالکان هم دي داسي صحیح دي او کنه؟ اوزمونږ په وطن کي و خوندو ته په میراث کي برخه نه ورکوي په دغه مال قرباني کول صحیح دي او کنه؟ یا مسجد اونور په جوړولای شو او کنه؟ په داسي مسجد کي به لمونځ څنګه وي؟ (۱۳۳۷/۱۷۲ه)

ځواب: کله چي هر ورور د نصاب په مقدار د مال مالک دي نو پر هر یو باندي قرباني کول لازم دي د یو ورور په قرباني د هغه نورو دوو غاړي نه خلاصیږي او خور ته که برخه نه ده ورکړې نو د ورونو غاړي بندي دي د دې به د دوی سره حساب کیږي قرباني کول او مسجد جوړول په دې طریقه صحیح کیږي چي هغه د ورور په برخه کي شمار شي او لمونځ په دغه مسجد کي صحیح دي. فقط

که پلار اوزامن ټول د نصاب مالکان وي نو پر هر یو قرباني شته

سوال: (۴) په یو کور کي دوه زامن او یو پلار او سیږي قرباني پر چا ده؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۹۳ه)

ځواب: که په دغه ورونو او پلار کي هر یو د نصاب مالک دی نو پر هر یو ځان ته قرباني شته.

په مشترک مال کي چي د چا برخه تر نصاب کمه وي پر هغه قرباني نشته

سوال: (۵) د څلورو ورونو مال مشترک دی که تقسیم کړي نو د هیچا برخه هم نصاب ته نه رسي قرباني واجب ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۱ه)

ځواب: په داسي صورت کي چي د یو ورور برخه و نصاب ته نه رسي پر هیچا سرسایه او قرباني نه واجبیږي. فقط

د ښځي زیور که نصاب ته رسیدلي وي نو قرباني پر واجب ده

سوال: (۲) کوم خاوند چي د نصاب مالک وي او د ده د ښځي سره زیور د نصاب په قدر وي او مهر

يې په خاوند پسې پاته وي نو آيا چې خاوند ژوندی وي پر دې هم اختر کول فرض دي؟ (۲۳/۳۵-۱۳۳۶ھ)

ځواب: که د ښځي په ملک کي زيور او نور(۱) د نصاب په قدر دي نو پر دې ځان ته جلا قرباني واجب ده.

په کرايه ورکړي سرای او د کور زياتوب سامان باندي قرباني راځي کنه؟

سوال: (۷) ... (الف) يو سړی د ملازمت په وجه په بل وطن کي د کرايې په سرای کي اوسيږي او په وطن اصلي کي خپل سرای هم په کرايه ورکړی نو د دغه سرای په وجه پر دغه قرباني او سرسايه شته او کنه؟

(ب) په وطن اصلي کي چي د زيد کوم اثاث البيت په سرای کي قلف دي او فعلاً په استعمال کي نه دي زياتوب پروت دي د دغه سامان په وجه پر ده اختر او سرسايه شته او کنه؟(۳۲/۸۹۵-۱۳۳۳ھ)

ځواب: (الف) د هستوګني سرای شرعًا په اصلي حاجة کي داخل دی که څه هم د سفر په وجه پکي کرايه دار اوسيږي او پخپله د کرايې په سرای کي اوسيږي د دغه مسکونه مکان په وجه سرسايه او اضحيه نه واجبيږي

(ب) دغه د کور سامان هم د سرسايې او اختر د وجوب سبب نه دی.

جائيداد لري خو ګټه ناکافي ده نو د قرباني څه حکم دی؟

سوال: (۸) زيد يو څه جائيداد لري ده دغه جائيداد په تجارت کي لګولی دی چي په ګټه دې ډير په تنګي سره ګزاره کوي بلکه پور هم پر باندي وي که دی دغه جائيداد خرځ کړي نو له قرض ادا کولو وروسته د نصاب په اندازه ورپاتيږي پر داسي سړي په موجوده حالت کي قرباني او سرسايه واجب ده او کنه؟(۳۳/۲۲۹-۱۳۳۴ھ)

(۱) او نور يعني روپۍ او مؤجل مهر چي پر خاوند باندي دی هغه په نصاب کي نه شمېرل کيږي ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

ځواب: د مفتی به قول سره سم پر دغه سړي قرباني او صدقة الفطر واجب نه دي. (۱)

سوال: (۹) دوه څلور جریبه ځمکه چې د یو جریب قیمت پنځه سوه روپۍ دی که څوک ولري د هغې حاصل او پیداوار د ده او د ده د عیال بس نه وي پر داسي سړي زکاة، سرسایه او اختر واجب دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۴۱۵هـ)

ځواب: واجب نه دی او په دې کي اختلاف دی لهذا احتیاطًا سرسایه ورکول او قرباني کول غوره دي.

که وکیل د قرباني کونکي پر ځای د ده د مور او پلار نیت وکړي؟

سوال: (۱۰) ما یو مامور ته وویل چې دوې وزې رانیسه زه بل ځای ځم چې د چا له طرفه زه درونبیم د هغه له طرفه قرباني کړه زه د ذوالحجې په اوومه ولاړم دا مي هیر شو نه مي ورته وویل چې قرباني د چا له طرفه وکړه د ذو الحجې په نهمه ما په خط کي ورته ولیکل چې یو د مریمي له طرفه او بله زما له طرفه حلاله کړه خو خط نه ورسیدی مامورانو مشوره سره وکړه زما د مور او پلار له طرفه قرباني وکړي نو دا قرباني د چا شوي؟ (۱۳۴۳/۱۹۲هـ)

ځواب: د دواړو قرباني ستا د نیت سره سم د مریمي او ستا له طرفه وشوې ځکه چې په دې کي د قرباني کونکي و نیت ته اعتبار وي د ذبح کونکي نیت ته اعتبار نشته کذا یفهم من کتب الفقه فقط

بېله اجازته د مالک له طرفه قرباني کول

سوال: (۱۱) یو سړي د قربانۍ لپاره وزګړی ساتلی ؤ د اختر په ورځ دغه سړی لا له دباندي

---

(۱) و فیها(ای التاتارخانیة) سئل محمد عمن له ارض یزرعها او حانوت یستغلها او دار غلتها ثلثة الاف و لا تکفی لنفقته و نفقة عیاله سنة، یحل له اخذ الزکاة و ان کانت قیمتها تبلغ الوفا و علیه الفتوی و عندهما لا یحل اهـ (رد المحتار ۷۱/۲ کتاب الزکاة باب المصرف قبیلمطلب فی جهاز المرءة هل تصیر به غنیة؟ ط رشیدیه)

راغلی نهٔ چي مولوي صاحب فکر وکړی چي هغسي هم په ما حلالوي زه په د ده تر راتگ له مخه حلال کړم تر څو د نورو خلکو و پسو حلالولو ته ورخلاص شم مولوي د اصل مالک بې اجازته هغه وزګړی حلال کړی په دغه صورت کي د مالک له طرفه واجب قرباني ادا شوه او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۴۸۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د وزګړي د مالک له طرفه واجب قرباني ادا شوه كما فى الشامي: و اذا ذبح اضحية الغير ناويا مالكها بغير امره جاز، و لا ضمان عليه اهـ و هذا استحسان لوجود الاذن دلالة كما فى البدائع الخ. (۱) فقط

پر مخنث (نربنځي) قرباني واجب ده او کنه؟

سوال: (۱۲) مخنث که ډیر نېک وي د ده قرباني به د الله په دربار کي قبوله شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۳۰۲هـ)

ځواب: نربنځی چي نېک او پرهيزګار وي نو د ده قرباني مقبوله ده بلکه که د نصاب مالک دی نو قرباني وربانديي واجب ده که ونکړي نو ګنهکار دی. فقط

د نصاب مالک که د خپل عزيز يا نبي عليه الصلاة و السلام له طرفه قرباني وکړي

سوال: (۱۳) يو د نصاب مالک چي قرباني وربانديي واجب ده پخپلو عزيزانو کي د يو چا قرباني وکړه نو د ده غاړي خلاصي شوې او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۹۸هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د دغه سړي غاړي نه دي خلاصي خپله قرباني کول وربانديي ضروري ده د بل چا په هغه کي ورته اختيار دی.

سوال: (۱۴) زيد د نصاب مالک دی که دی د خپلي ښځي يا کوم مړي له طرفه قرباني وکړي نو د زيد غاړي خلاصي شوې که به له خپل طرفه کوي؟ (۱۳۳۸/۷۵۷هـ)

---

(۱) رد المحتار ۲۳۲/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

ځواب: په دغه صورت کې د زید غاړې نه خلاصېږي دی به له خپل طرفه جلا قرباني کوي.

سوال: (۱۵) که کوم د نصاب مالک خپل اختر نه کوي بلکه د کوم خپل عزیز یا رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه قرباني وکړي نو کولای شي او کنه؟ که وکړي نو د ده د خپلې قرباني غاړې په خلاصیږي او کنه؟ (۱۲۹/۱۳۴۳هـ)

ځواب: د نصاب لپاره خپل اختر کول ضروري دی د خپلې قرباني سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د بل چا قرباني کولای شي مګر خپل قرباني ضروري ده.

که د نصاب مالک یو کال خپله او بل کال د ښځې یا مور له طرفه قرباني کوي؟

سوال: (۱۲) که کوم د نصاب مالک خپله قرباني وکړي او راروان کال د خپلې ښځې یا مور له طرفه قرباني وکړي او خپله ونکړي داسې جائز دي که هر کال د ځان قرباني کول ضروري ده؟ او د ښځې له طرفه هر کال قرباني کول ضروري ده او کنه؟ (۳۰۰/۱۳۴۵هـ)

ځواب: کله چې خاوند د نصاب مالک وي نو پر ده باندې هر کال اختر جلا کول ضروري دی او که د ده ښځه هم د نصاب مالکه وي یعني مور او پلار دومره زیور ورکړي وي چې د نصاب په اندازه وي نو دا به جلا قرباني کوي یوه قرباني د څو کسانو له طرفه کافي نه ده. فقط

پر چا چې قرباني واجب نه وي هغه یو کال د ځان او بل کال د خپل عزیز له طرفه قرباني کولای شي

سوال: (۱۷) زید او بکر دواړه ورونه دي د دوی زامن ټول مزدوري وکړي روپۍ سره جمع کړي زید د کور مصرف کوي د نصاب مالکان نه دي که زید یو کال خپله قرباني وکړي

بل کال د بکر د رهیم کال د یو هلک او څلورم کال د بل هلک لپاره قرباني وکړي نو څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۲۰۳۸هـ)

ځواب: که په دوی کې څوک د نصاب مالک نه وي او نه زید د نصاب مالک دی نو د قرباني کولو دغه طریقه صحیح ده نفلي قرباني ده د هر چا په نوم چې کوي او که زید د نصاب مالک وي نو بیا د ده لپاره له خپل طرفه قرباني کول ضروري ده.

داهل او عیال له طرفه اختر کول ضروري نه ده

سوال: (۱۸) یو سړی د نصاب مالک دی نو قرباني به خپله کوي که به د ټول عیال له طرفه هم کوي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۲۸هـ)

ځواب: له خپل طرفه واجب ده د اهل او عیال له طرفه فرض نه ده.

د نابالغو بچیانو اختر کول مستحب دی

سوال: (۱۹) څه فرمایي علماء د شریعت غراء رحمهم الله تعالی د دغه ټولو سوالونو په جواب کې:

(الف) لومړی دا چې د اولاد له طرفه پر پلار قرباني کول واجب دي که سنت او که مستحب؟

(ب) د اولاد له طرفه پر ځان قرباني واجب بلل او کول څنګه دي؟

(ج) د اولاد له طرفه پر ځان قرباني واجب، سنت او مستحب هیڅ نه بولي لیکن داغسي کوي د دې څه حکم دی؟

(د) زید وایي چې د حسن بن زیاد د روایت سره سم که څوک قرباني واجب وبولي وې کړي نو هغه قول خو مفتی به نه دی بلکه ساقط الاعتبار دی ځکه داسي قرباني د نقل ثواب هم نلري او بکر وایي چې دا نفلي شوه. (۱۳۳۰-۲۹/۲۵۹هـ)

ځواب: (الف) پر پلار قرباني کول د صغیر اولاد له طرفه مستحب دي قال في الدر المختار: عن نفسه لا عن طفله على الظاهر بخلاف الفطرة الخ قال في الشامي(قوله على الظاهر) قال في الخانية: في ظاهر الرواية انه يستحب و لا يجب بخلاف صدقة الفطر(الى ان قال)

و الفتوی علی ظاهر الروایة. (۱) (ص: ۲۷۵)

(ب) واجب دي نه بولي بلکه مستحب دي بولي او کوي دي.

(ج) قرباني وشوه.

(د) دا قرباني نفلي شوه د زید قول صحیح نه دی.

سوال: (۲۰) پر مور او پلار د صغیر او کبیر ټولو اولادو سرسایه او اختر دواړه کول واجب دي که یو؟ که یو واجب وي او بل نه نو د کتاب په حواله بې راته بیان کړئ (۱۳۳۷/۱۵۳۲هـ)

ځواب: پر غني پلار د صغیر اولادو له طرفه سرسایه ورکول واجب دي او قرباني واجب نه ده او د کبیر اولادو له طرفه سرسایه ورکول هم لازم نه دي بلکه که دوی پخپله غنیان دي نو سرسایه به ورکوي او قرباني به کوي کذا فی الدر المختار: عن نفسه لا عن طفله علی الظاهر بخلاف الفطرة الخ(در مختار) قوله: (لا عن طفله)ای من مال الاب الخ(۲) و فیه من الاضحیة: و لیس للاب ان یفعله من مال طفله و رجحه ابن الشحنة الخ. (۳)

سوال: (۲۱) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین چي یو سړی د نصاب مالک نښځه نارینه او زنانه بچیان لري چي ودونه نه دي شوي د ده سره او سیرې په دوی کي یو هم د نصاب مالک نه دی د ټولو خوراک څښاک، جامې او نور ټول ضروریات د دغه سړي پر غاړه دي آیا پر ده قرباني د ټولو له طرفه واجب ده که صرف د خپل ځان؟ (۱۳۳۰-۲۹/۱۹۸۸هـ)

ځواب: فتجب التضحیة ... علی حر مسلم مقیم... موسر... عن نفسه لا عن طفله علی الظاهر بخلاف الفطرة(۴) نو معلوم شو چي پر دغه د نصاب مالک سړی صرف خپله قرباني واجب ده د و اولاد که صغار وي او که کبار او که ذکور وي که اناث د یو دا هم پر ده نشته

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الرد ۲۲۳/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(٤) الدر مع الرد ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

نابالغ بچیان که د نصاب مالکان وي نو...

سوال:(۲۲) که د چا کوچني بچیان د نصاب مالکان وي نو د دې څه حکم دی؟
(۱۹۸۸/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: که صغیر اولاد د نصاب مالکان وي نو هم د مفتی به قول سره سم د اولاد په مال کې قرباني نشته. کذا فی الدر المختار.(۱)

د بالغو بچیانو له طرفه قرباني کول واجب نه دي

سوال:(۲۳) جائیداد د پلار په قبضه کې دي د ده بالغ زامن او لوڼې هم شته نو قرباني صرف پر پلار واجبه ده که د هلکانو او انجونو له طرفه هم کول واجب دي؟
(۲۳/۳۵-۱۳۳۶ھ)

ځواب: پلار که د نصاب مالک دی نو صرف پر پلار قرباني واجب ده د هلکانو او انجونو له طرفه پر ده قرباني واجب نه ده.

دنابالغو بچیانو له طرفه سرسایه واجب ده قرباني واجب نه ده

سوال:(۲۴) لکه څنګه چې د نصاب پر مالک د بچیانو له طرفه سرسایه هم واجبیږي داغه راز قرباني هم واجب ده که فرق پکې شته؟(۲۱۰۵/۱۳۳۷ھ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: فتجب التضحیة... علی حر مسلم مقیم... موسر... عن نفسه لا عن طفله علی الظاهر بخلاف الفطـرة الخ(۲) له دې څخه معلوم شو چې ظاهر مذهب دا ده چې د نصاب پر مالک باندې قرباني د خپلو بچیانو له طرفه واجب نه ده هو سرسایه د بچیانو له طرفه پر پلار واجبیږي نو په بیان شوي عبارت د قرباني او سرسایې تر منځ فرق معلوم شو. فقط

---

(۱) و یضحی عن ولده الصغیر من ماله صححه فی الهدایة، و قیل: لا، صححه فی الکافی، قال: و لیس للاب ان یفعله من مال طفله و رجحه ابن الشحنة قلت: و هو المعتمد لما فی متن مواهب الرحمان من انه اصح ما یفتی به(الدر المختار مع رد المحتار ۵/۲۲۲ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

(۲) مخکنی حواله

دنابالغو له طرفه د دوی په مال قرباني کول صحيح نه دي

سوال: (۲۵) د نابالغو له طرفه قرباني کول جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۴۲هـ)

ځواب: د نابالغو قرباني که يخپله مال وکړي د دوی په مال نه وي نو صحيح ده.

د چا چي عقيقه نه وي شوې د هغه قرباني صحيح ده

سوال: (۲۶) آيا د هغه چا قرباني صحيح ده چي عقيقه يې نه وي شوې دلته چي د چا عقيقه نه وي شوې د هغه قرباني ناروا ده؟ (۱۳۳۸/۷۷۹هـ)

ځواب: قرباني د ده صحيح ده او دا کوم خبره چي مشهوره ده چي بېله عقيقه کولو قرباني نه صحيح کيږي دا غلطه ده مسئله داسي نه ده.فقط

داختري روپۍ و بې وزلو کونډواو يتيمانوته ورکول او قرباني نه کول

سوال: (۲۷) سږ کال که د قربانۍ ټولي روپۍ د بلقان بې وزلو ورونو، کونډو او يتيمانو د مرستي لپاره وليږو او په داسي حال کي چي د اسلام پر دروازه قيامت راغلی دی قرباني ونکړو(نو صحيح دي او کنه؟) (۱۳۳۰-۲۹/۱۸۹۹هـ)

ځواب: قرباني دا ډول ادا کيږي چي قربانۍ دلته وکړي اود څرمنو روپۍ هلته ورولېږي او څومره به ښه وي چي پر کوم چا قرباني واجب وي هغه خپل ټول نصاب هلته ورولېږي چي قرباني ورباندي واجبه هم نشي پاته الله رب العزت که مسلمانانو ته داسي توفيق ورکړي نو له دې ښه خبره چيري ده؟ البته دا چي داسي کول صحيح نه دي چي دنصاب مالک خو دی نصاب ولري او قرباني دي ونکړي. فقطو الله تعالی اعلم

پر حیوانانو د رحم کولو په وجه قرباني نه کول

سوال: (۲۸) یو مسلمان چي د نصاب مالک دی پر حیوانانو د رحم کولو په وجه یو کال کیږي چي غوښي نه خوري په لوی اختر کي به د ه لس پسه حلالول سږ کال که د پسه حلالولو پر ځای قیمت صدقه کړي نو جائز دي او کنه؟(۲۵۵۱/۱۳۴۱ھ)

ځواب: پر چا چي قرباني واجب وي د هغه د قربانۍ د قیمت په صدقه کولو غاړې نه خلاصیږي قرباني کول ضروري دي او دغه قربت خاص د حیوان په حلالولو حاصلیږي فقط

سوال: (۲۹) سوال دا دی چي د حیوان په حلالولو کي خو حیوان ته تکلیف رسي ځکه د قرباني کولو پر ځای د نورو خیر په کارونو کي روپۍ مصرفول غواړو په دې اړه څه حکم دی؟ (۹۳۹/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: په قرباني سره د الله رب العزت تقرب اونږدې والی حاصلیږي او په حدیث شریف کي راغلي دي چي د قرباني وینه ډیره زیاته د الله خوښه او ورته مقبوله ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل لاس مبارک حیوانان حلال کړي دي نو له دي وروسته به یو مسلمان ولي شکمن وي؟ البته دا چي دا شیطاني وسوسه چي په بیان شوې وجه شک کوي عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما عمل ابن آدم من عمل یوم النحر احب الی الله من اهراق الدم، وانه لیاتی یوم القیامة بقرونها و اشعارها و اظلافها و ان الدم لیقع من الله به کان قبل ان یقع بالارض فطیبوابها نفسا رواه الترمذی و ابن ماجه. (۱)

اختری نه کوم د اختر روپۍ خیراتوم

سوال: (۳۰) په هدایه کتاب الاضحیة کي بین السطور تر دغه عبارت لاندي: و التضحیة فیها افضل من التصدق بثمن الاضحیة لانها تقع واجبة اوسنة و التصدق تطوع محض فتفضل علیه(۲) راغلي دي او تر و التصدق تطوع محض لاندي

(۱) مشکاة المصابیح ص: ۱۲۸ کتاب الصلاة باب فی الاضحیة. الفصل الثانی.

(۲) الهدایة ۴/۴۴۶ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

لیکلي دي پوښتنه دا ده چي که یو سړی د اختر په ورځو کي د قربانۍ پر ځای قیمت صدقه کړي نو آیا د ده غاړي به خلاصي شي؟ او د بین السطور عبارت: "و ان کان یسقط عنه الواجب" څومره معتبر دی؟ (۱۳۴۰/۴۵هـ)

ځواب: مسئله دا ده چي د اختر په ورځو کي پر غني قرباني واجب ده هغه وخت تصدق بالقیمة صحیح نه دی ځکه چي قربت د ویني په بهیولو کي دی کما فی الشامی(۱) اما که ورځي د قرباني تیري شوې نو تصدق بالقیمة لازم دی کـذا فی الشـامی(۲) نو د هدایې د عبارت مطلب دا اخیستل پکار دی چي قرباني د نحر په ورځو کي افضله ده تر تصدق بالقیمة چي د نحر تر ورځو وروسته کړي په دې کي د بین السطور عبارت مطلب صحیح کیږي ځکه چي د ایام نحر تر تیرېدو وروسته په تصدق بالقیمة سره وجوب ساقطیږي او په دې کي څه نور هم تفصیل کیدلای شي چي اوس یې موقع نه ده. قـال فی رد المحتار (۲۰۳/۵) : اذا وجبت بایجابه صریحا او بالشراء لها فان تصدق بعینها فی ایامها فعلیـه مثلها مکانها لان الواجب علیه الاراقة و انما ینتقل الی الصدقة اذا وقع الیاس عن التضحیة بمضی ایامها و ان لم یشتر مثلها حتی مضت ایامها تصدق بقیمتها. (۲) فقط

سوال: (۳۱) که یو سړي په لوی اختر کي د پسه حلالولو پر ځای د پسه قیمت ټول یا څه و یو مسکین ته ورکړي نو آیا د ده غاړي به خلاصي شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۸۹هـ)

ځواب: د قرباني پر ځای د هغه قیمت ورکول و مسکینانو او نورو ته صحیح نه دی ځکه چي په ورځو د قرباني کي خاص قرباني کول قربت دی نو پر ده قرباني واجب ده د پسه د قیمت په صدقه کولو دی له قربانۍ څخه ځان نشي خلاصولای. هکذا فی کتب الفقه فقط

سوال: (۳۲) د اختر په ورځو کي که سړی د پسه قیمت را واخلي دري برخي کړي و مسکینانو ته ورکړي د قرباني پر ځای نو څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۲۳۴هـ)

ځواب: جائز نه دي خاص قرباني کول ضروري دي.

---

(۱) لان الاراقة انما عرفت قربة فی زمان مخصوص و لا تجزیة الصدقة الاولی عمـا یلزمـه بعـد لانهـا قبـل سـبب الوجوب(الشامی ۲۲۵/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

(۲) الشامی ۲۲۵/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

سوال: (۳۳) که یو سړی قرباني ونکړي بلکه قیمت د قرباني صدقه کړي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۲۹ھ)

ځواب: کومه قرباني چي واجب ده هغه قرباني خو کول ضروري او فرض ده قیمت ورکول جائز نه دي او کومه قرباني چي نفلي ده په هغه کي که څه هم دا صحیح دي چي که یو سړی نفلي قرباني ونکړي څه روپۍ خیرات کړي مګر کوم ثواب چي په قرباني کولو کي دی هغه په قیمت صدقه کولو کي نشته.

د نامسلمانو خوشحالولو لپاره د غوا قرباني نه کول یا پټه کول

سوال: (۳۴) قرباني د حیوان ضروري ده او کنه؟ په کوم حکم مورږ په لوی اختر کي قرباني کؤ نبوي سنت دی که د قرآن حکم؟ کومي روپۍ چي پر قرباني لګیږي هغه ولي خیراتوو نه؟ د نامسلمانو سره د اتحاد په وجه که د دوی د خوشحالولو لپاره د مالداره خلګو د غوا پر ځای پسه حلالول او د غریبانو د غوا قرباني پټه کول شرعًا څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۳۸۳ھ)

ځواب: د نصاب د مالک لپاره قرباني کول ضروري دي او قرباني کول په قرآن(۱) او حدیثو ثابت دي او رسول الله صلی الله علیه و سلم قرباني کړي ده او د قرباني حکم یې کړی دی(۲) او په قرباني کي اراقت

---

(۱) فصل لربک و انحر(سورة کوثر، آیت: ۲) لن ینال الله لحومها و لا دماؤها و لکن یناله التقوی منکم(سورة حج، آیت: ۳۷) و لکل امة جعلنا منسکا لیذکروا اسم الله علی ما رزقهم من بهیمة الانعام(سورة حج، آیت: ۳٤)

(۲) عن انس رضی الله عنه قال: ضحی رسول الله صلی الله علیه وسلم بکبشین املحین اقرنین ذبحهما بیده و سمی و کبر قال: رایته و اضعا قدمه علی صفا حهما و یقول: بسم الله و الله اکبر متفق علیه(مشکاة المصابیح: ص: ۱۲۷ کتاب الصلاة باب فی الاضحیة الفصل الاول)

و عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من کان له سعة و لم یضح فلا یقربن مصلانا (سنن ابن ماجة ص: ۲۲٦ ابواب الاضاحی، باب الاضاحی واجبة ام لا؟)

يعني وينه بهيول قربت دی(۱) قيمت ورکول او د قيمت صدقه کول پر ځای د قرباني نه دي او په دې سره قرباني نه ادا کيږي كذا فى كتب الفقه(۲) او د غوا قرباني د نورو قومونو د خيال ساتلو او اتحاد په وجه پرېښودل صحيح نه دي او د شريعت د حکم په خلاف دي او قرباني د غوا پټه او په پرده کي کول چي نور قومونه فتنه نه کړي جوړه ښه ده همداسي کول پکار دي ځکه چي غرض خپل مذهبي فريضه ادا کول دي د چا په جوش کي راوستل نه دي. فقط

قرباني يوه اسلامي فريضه ده پکي د ځانه پابندي لګول په مذهب کي مداخلت دی

سوال: (۳۵) که په لوی اختر کي کوم نامسلمان قوم يا حکومت د حيوان يا خاص د غوا قرباني جبرًا بنده کړي يا حکومت کوم قانون اعلان کړي چي د پسه حلالولو لپاره به حکومتي سند حاصلوي او په مذبح کي به پسه حلالوي نو په داسي صورت کي به مسلمانان داسي ناروا مطالبه او فشار قبلوي او کنه؟ او د حکومتي قيدونو پابندي ناروا خو به نه وي کله چي د قرباني کولو اصلي او حقيقي مقصد قرب الى الله او په کورونو کي په حلالولو د وينو په بهيولو برکت حاصل وي دا خبره همد پام وړ ده چي که کومه داسي حکومتي پابندي جائز هم وي نو په داسي کلي او ښارکي چي د مسلمانانو د مذهبي وقار او جذباتو د احترام ساتني په وجه له پنځه شپيته کلونو څخه داسي واجب العمل قانون نه وي جوړ شوی له نيمي پيړۍ تيريدو وروسته د داسي قانون اجراء کول صرف د دې لپاره ضروري وي چي د مسلمانانو عزت او وقار تباه شي او د دوی نژدې د نهه سوه کلونو ښاري حق غصب او مذهبي خپلواکي ځني واخيستله شي

---

(۱) عن عائشة رضى الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما عمل ابن آدم من عمل يوم النحر احب الى الله من اهراق الدم الحديث(مشكاة المصابيح ص: ۱۲۸ كتاب الصلاة، باب فى الاضحية. الفصل الثانى)

(۲) و التضحية فيها افضل من التصدق بثمن الاضحية لانها تقع واجبة او سنة و التصدق تطوع محض فتفضل عليه(الهداية ٤/٤٤٦ كتاب الاضحية) فان تصدق بعينها فى ايامها فعليه مثلها مكانها، لان الواجب عليه الاراقة و انما ينتقل الى الصدقة اذا وقع الياس عن التضحية بمضى ايامها (ردالمحتار ٥/٢٢٥ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

نو په داسي صورت کي عامو حالاتو ته کتلو سره په داسي خاص حالاتو کي د کلي د مسلمانانو لپاره څه حکم دی؟ او د دوی لپاره به کومه لاره روا او کومه ناروا وي؟

(۱۰۰۳ ۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: قرباني يوه اسلامي فريضه ده چي پکي هر ډول قيدونه او پابندياني لګول په مذهب کي مداخلت دی او دا يو خاص عبادت دی چي د اختر په ورځو کي له دغه عمل څخه پرته بل کوم عمل له دې څخه زيات و الله ته خوښ نه دی لکه چي د بي بي عائشي رضی الله عنها څخ چي روايت دی: عن عائشة رضى الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما عمل ابن آدم من عمل يوم النحر احب الى الله من اهراق الدم، و انه ليأتى يوم القيامة بقرونها و اشعارها و اظلافهاو ان الدم ليقع من الله بمكان قبل ان يقع بالارض فطيبوابها نفسا. رواه الترمذى و ابن ماجة.(۱) حاصل د دغه حديث شريف دا دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چي د ابن آدم هيڅ عمل په يوم النحر يعني د قرباني په ورځ کي د پسه دويني تر بهيولو او د ده تر ذبح کولو و الله ته خوښ او محبوب نه دی او د قيامت په ورځ به قرباني سره د ښکرو، وېښتانو او نوکرو راشي او د قرباني وينه به د الله په دربار کي يو غټ مقام ومومي له دې څخه مخکي چي پر ځمکه توی شي نو ای مسلمانانو په قرباني کولو خپل نفسونه پاک کړي لنډه دا چي قرباني يو خاص عبادت په خاص وخت کي دی چي له دې څخه په دغه وخت کي هيڅ عبادت و الله ته خوښ نه دی بلکه تر ټولو عبادتونو محبوب او خوښ دی او دا د مسلمانانو خاص شعار دی او د زماني پاچاهانو هيڅ کوم قيد او پابندي وربانديي نه ده لګولي لهذا حکومت هم بايد دا ډول پابندي او تنګی رانه ولي او د مذهب په خپلواکي کي هيڅ خنډ او بنديز نه دي راوستل پکار او کوم حق چي مسلمانانو ته له پيړيو حاصل دی په دې کي لږ مداخلت هم نه دي کول پکار او د مسلمانانو فرض دی چي دوی دغه خپل مذهبي فرض په آزادي سره ادا کولو لپاره هر ډول کوششونه وکړي او کومه آزادي چي هميشه دوی ته د قرباني په اړه وه د هغه پر ځای ساتلو کوشش وکړي. فقط

(۱) مشکاة المصابيح ص: ۱۲۸ کتاب الصلاة باب فی الاضحية. الفصل الثانی. ط رشيديه

سوال: (۳۶) په یو کلي کي درې زره مسلمانان او اووه زره هندوان آباد دي د دوی تر منځ اړیکي او تجارت شته اوس هندوانو له مسلمانانو څخه خپلي اړیکي دا ډول ختم کړي دي چي یو هندو به هم د مسلمانانو شی نه رانیسي اونه به ورکوي تر څو چي مسلمانان د غوا قرباني نه پرېږدي مسلمانان په مسجد کي راجمع شول ټولو قسم سره واخیستی چي د اسلام او قوم په خلاف به کار نه کؤ اوس هندوانو پرزیاتره مسلمانانو د بازار د معاملو او پخوانیو اړیکو فشار اچولی دی چي تاسو د څو کسانو معاملې پرېږدئ نو ستاسو سره اړیکي او تجارت به د مخکي په رنګه کؤ په دې خبرو دغه ډله آماده شوه لهذا د دغه ډلي سره نور مسلمانان باید څرنګه معامله وکړي؟ او د غوا د قرباني په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۹۸۳هـ)

ځواب: قرباني د مسلمانانو مذهبي فرض ده په دې کي هیڅ ډول مداهنت باید مسلمانان ونکړي او د غوا په قرباني کولو باید د مسلمانانو غرض صرف خپله مذهبي فریضه ادا کول وي د چا زړه زورونه نه وي نور نو که د دوی زړه په زهیرېږي نو مسلمانانو ته د دې هیڅ پروا نه دي کول پکار او دا خبره هم غلطه ده چي په دې د دوی زړونه زهیرېږي ځکه چي په لکنو او زرګونو غواوي هره ورځ حلالیږي په هغو یې زړونه نه زهیرېږي خاص د اختر په قرباني یې زړونه زهیرېږي چي د مسلمانانو مذهبي فریضه ده له دې څخه د دغه خلکو په مذهب کي مداخلت کول ښکاره دی نو داسي هیڅکله باید مسلمانان برداشت نکړي او کوم مسلمانان چي د هندوانو په دې اړه همکاران دي هغوی باید توبه اوباسي. فقط

د کفارو له ویري قرباني نه کول

سوال: (۳۷) یو سړی پخپل کور کي د غوا قرباني کوي تېر کال هندوانو ډیره جګړه ورسره وکړه اوس هندوان پنځه روپۍ په دې غرض جمع کړي دي چي د غوا حلالول دي بند شي که دغه سړی په رضا نه بندوي نو ډول ډول تکلیفونه به وررورسؤ ځکه اوس یې په څو مسلمانانو عارضه کړې ده ناوسه مسلمانان د عارضې د مصرف وس نلري که قرباني بنده کړي نو څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۱۴۲۲هـ)

ځواب: په بیان شوي حالت کي د غوا قرباني بندول جائز نه دي نو که پر دغه سړي قرباني کول واجب وي نو پر ده قرباني کول واجب او لازم دي او که پر ده قرباني کول واجب نه دي بیا هم دي دغه کار د ثواب د کفارو له ویري نه پریږدي او د پولیسو او نورو په وسیله دي بندوبست له مخکي څخه او کړي تر څو د حکامو له لوري پخپله بندوبست وشي په دغه دیني کار او شعار اسلام کي کوتاهي نه ده کول پکار او کافران خوشحالول نه دي پکار د دوی له دولت او مال څخه هیڅ ویره مه کوئ د حکامو فرض دی چي دوی کما حقه انتظام وکړي.

سوال: (۳۸) د کوم وطن مسلمانانو چي قرباني د خپلي ناروا ګڼي په خاطر صرف د یو هندو لپاره بنده کړې وي او صرف د چرګانو قرباني کوي آیا داسي جائز دي؟ او د داسي فعل کونکی به څومره مجرم وي؟ (۱۳۴۳/۲۸۵۳ھ)

ځواب: پر چا چي قرباني فرض وي د هغه قرباني نه کول سخته ګناه ده او د کوم هندو په خاطر قرباني نه کول کبیره ګناه ده او د چرګ قرباني نه صحیح کیږي(۱) په داسي صورت کي د قرباني پریښودونکي فاسقان دي.

په پور قرباني کول

سوال: (۳۹) مال نه دی خرڅ شوی د قرباني کولو لپاره که قرض واخلم نو قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۴۸ھ)

ځواب: په قرض قرباني کولای شي.

د قرباني لپاره تاکلی پسه خرڅول څنګه دي؟

سوال: (۴۰) د قرباني لپاره چي کوم پسه وټاکل شي د هغه خرڅول څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۱۵۲۲ھ)

ځواب: ټاکلی پسه قرباني کول پکار دي مه خرڅوي. فقط

---

(۱) و رکنها: ذبح ما یجوز ذبحه من النعم لا غیر، فیکره ذبح دجاجة و دیک لانه تشبه بالمجوس و في الشامي: قوله: (فیکره ذبح دجاجة و دیک الخ) ای بنیة الاضحیة و الکراهة تحریمیة کما یدل علیه التعلیل (الدر و الرد ۲۲۰/۵ اوائل کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

د قرباني لپاره رانيولې وزګړې تنګول کوي خرڅول يې څنګه دي؟

سوال: (۴۱) يو سړي يو وزګړې رانيوی دا نيت يې وکړی چې په غټ اختر کي به يې حلال کړم مګر له دغه وزګړي ډير تنګ دی له پوچو او بولو په وجه په ټول کور کي پليتي او بوی وي او بد هم کوي آيا خرڅول يې صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۵۱۸هـ)

ځواب: که له رانيولو وروسته د قرباني نيت کړی ؤ نو خرڅول يې صحيح دي په در مختار کي راغلي دي: و فقير... شراها لها لوجوبها عليه بذلک حتی يمتنع عليه بيعها الخ و فی الشامي: قوله: (شراها لها) فلو کانت فی ملکه فنوی ان يضحی بها او اشتراها و لم ينو الاضحية وقت الشراء ثم نوی بعدذلک لا يجب لان النية لم تقارن الشراء فلا تعتبر بدائع(۱) (شامی) د در مختار د عبارت حاصل دا دی چي پر چا قرباني واجب نه وي که هغه د قرباني په نيت پسه واخلي نو د هغه پسه حلالول واجبيږي خرڅول د هغه منع دي او د شامي د عبارت حاصل دا دی چي که د رانيولو پر مهال د قرباني نيت ونکړي بلکه له رانيولو وروسته د قرباني نيت وکړي نو خرڅول يې صحيح دي او هغه پسه د قرباني لپاره متعين نه شو او دا حکم د هغه سړي دی چي ورباندي قرباني واجب نه وه او پر چا چي قرباني واجب وه د هغه حکم دا دی چي که هغه د قرباني لپاره کوم پسه واخيستی نو هغه حيوان د قرباني لپاره متعين نه شو دا خرڅولای په بل حيوان بدلولای شي. فقط

مالدار د حج اکبر په ورځ مفلس شو اود ده د قرباني لپاره
اخيستی پسه ګوډ شو نو...

سوال: (۴۲) يو مالدار سړي د قرباني لپاره حيوان رانيوی له اختر څخه مخکي بيا د حج اکبر(له اختر څخه مخکي ورځ) په ورځ دی مفلس

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار ۲۲۶/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

شو او کوم حیوان چي ده اخیستی ؤ هغه ګوډ شو د دې څه حکم دی؟(۱۹۹۳/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: قال فی الشامي: لا ان ارتدا و اعسر او سافر فی آخره(۱) و فی الدر المختار: و لو اشتراها سلیمة ثم تعیبت بعیب مانع کما مر فعلیه اقامة غیرها مقامها ان کان غنیا و ان کان فقیرا اجزاءه ذلک الخ(۲) و فیه: لا بالعمیاءو العوراء و العجفاء:المهزولة التی لا مخ فی عظامها، والعرجاء التی لا تمشی الی المنسک الخ قال فی الشامی: قوله: (و العرجاء) ای التی لا یمکنها المشی برجلها العرجاء انماتمشی بثلاث قوائم حتی لوکانت تضع الرابعة علی الارض و تستعین بها جاز عنایة(۳) له دغه روایتونو څخه معلوم شو چي د دغه سړي لپاره همدغه حیوان قرباني کول کافي دي.

د قرباني په نیت رانیولی حیوان قرباني پر غریب ولي ضروري ده؟ او پر مالداروليي نه ده؟

سوال: (۴۳) ... (الف) په بهشتي زیور کي راغلي دي چي د قربانی لپاره پسه رانیوی هغه ورک شو بیا یې بل رانیوی اوس هغه لومړی هم پیدا شو که سړی مالدار دی نو یو حیوان به حلالوي او که مسکین دی هغه به دواړه حلالوي(۴) دا ولي؟

(ب) او په دې مسئله هم نه شوم پوه چي د رانیولو پر مهال مي د تولي غوانیت ؤ اوس مي نورراسره شریکان کړل نو مالدار سړی داسي کولای شي او مسکین یې نشي کولای (۵) (۱۳۳۸/۴۹۲ھ)

ځواب: (الف - ب) دا مسئله د فقهي په کتابونو کي داغه رانګه لیکل شوې ده په در مختار کتاب الاضحیة کي راغلي دي: و لو ضلت او سرقت فشری اخری فظهرت، فعلی الغنی احداهما و علی الفقیر کلاهما

---

(۱) رد المحتار ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدرمع الرد ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الرد ۲۲۷/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۴) اختری بهشتي زیور ۳۹/۳ مسئله: ۱۲ باب: ۱۹ د قرباني بیان

(۵) اختری بهشتي زیور ۳۹/۳ مسئله: ۱۵، باب: ۱۹ د قرباني بیان

الخ(۱) او وجه دا ده چي د مسکین د قرباني په ورځو کي پسه د قرباني لپاره رانیول د نذر په رنګه دی او په نذر منلو د هغه پوره کول لازمیږي نو مسکین چي کله دوه پسونه د قرباني په ورځو کي رانیول نو ګوا ده د دوو پسونو نذر ومانی نو پوره کول وربانديٍ لازم دي لیکن مالدار داسي نه دی پر ده خو له مخکي څخه لا قرباني واجب ده نو د ده د قرباني لپاره پسه اخیستل د نذر په رنګه نه دی همدغه جواب د (ب) د مسئلې دی چي فقیر چي کله پوره غوا د قرباني کولو په نیت رانیوله نو د دغه رانیولو په وجه د دې قرباني کول یعني د ټولي غوا قرباني کول لازم شو لکه چي په در مختار کي راغلي دي:
و فقیر... شراها لها لوجوبها علیه بذلک حتی یمتنع علیه بیعها الخ و فی الشامی: قوله: (بـــذلک) ای بالشراء و هذا ظاهر الروایة لان شراءه لها یجری مجری الایجاب و هو النذر بالتضحیة عرفـــا کما فی البدائع و وقع فی التاترخانیة: التعبیر بقوله شراها لها ایام النحر و ظاهره انه لو شراها لها قبلها لا تجب الخ. (۲)

د مړي له طرفه قرباني کول

سوال: (۴۴) زید وايي چي د مړي له طرفه د ثواب د ایصال لپاره قرباني کول ناروا ده او دا فائده نه کوي آیا د زید دا وینا صحیح ده؟(۱۳۳۷/۲۰۷۹هـ)

ځواب: دا قول د ده غلط دی د مړي له طرفه قرباني کول صحیح ده، ده ته ثواب رسيږي کذا فی الشامي. (۳)

سوال: (۴۵) د مړي له طرفه قرباني کول جائز ده او کنه؟(۱۳۴۱/۲۹۴۱هـ)

ځواب: د مړي له طرفه قرباني کول جائز ده په حدیث او فقه ثابت دي او د سلفو او

(۱) الدرمع الرد ۲۲۷/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الشامی ۲۲٦/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۳) قال فی البدائع: لان الموت لا یمنع التقرب عن المیت بدلیل انه یجوز ان یتصدق عنه. و یذبح عنه و قـــد صح ان رسول الله صلی الله علیه وسلم ضحی بکبشین احدهما عن نفسه و الاخر عمن لم یذبح منامتـــه و ان کان منهم من قد مات قبل ان یذبح ... فرع: من ضحی عن المیت یصنع کما یصنع فی اضحیة نفســـه مـــن التصدق و الاکل و الاجر للمیت الخ(رد المحتار ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

خلفو همداسي راروان عمل راغلی دی چي د مړو له طرفه به قرباني کولې او کوي یې.
او په دې کي هیڅ اختلاف نشته. فقط

د مړي له طرفه د قرباني کولو طریقه

سوال: (۴۶) د مړي له طرفه د قرباني کولو ښه طریقه کومه ده؟ (۲۱۳۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: قرباني وکړه ثواب یې مړي ته وبخښه یا داسي ووایه چي دا قرباني د فلاني له طرفه کوم مثلاً داسي ووایه: اللهم تقبل عن فلان.

سوال: (۴۷) یو سړی د نصاب مالک دی دی صرف یوه ونډه په قرباني کي نیسي خو په دغه ونډه کي هم دا غواړي چي د یو مړي په نوم دی وشي آیا دی دوی ونډې ونیسي که په همدغه یوه ونډه دواړه کاره کیدلای شي؟ یعني فرض هم ادا شي او مړي ته هم ثواب ورسي. (۹۵۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: که دی د مړي له طرفه هم قرباني کول غواړي نو دوې ونډې باید ونیسي یوه خپله او یوه د مړي له طرفه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه قرباني کول

سوال: (۴۸) د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه قرباني کول جائز دي او کنه؟ (۲۲۵۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه د الله په نوم قرباني کول صحیح دي ثواب و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسي او قرباني د الله لپاره ده د همده په نوم کول پکار ده. (۱)

یوه غوا د ټولو مؤمنانو له طرفه قرباني کول

سوال: (۴۹) زید د ځان له طرفه یو پسه او د ټولو مؤمنانو له طرفه یوه غوا

---

(۱) عن حنش رحمة الله علیه قال رایت علیا رضی الله عنه یضحی بکبشین، فقلت له: ماهذا؟ فقال: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصانی ان اضحی عنه فانا اضحی عنه رواه ابو داؤد و روی الترمذی نحوه(مشكاة المصابیح ص: ۱۲۸ کتاب الصلاة، باب فی الاضحیة، الفصل الثانی)

قرباني کړه داسي کول څنګه دي؟(۱۳۴۰/۱۲۳۱هـ)

ځواب: صحیح دي.(۱)

د څو مړو له طرفه یوه قرباني کول

سوال: (۵۰) د څو مړو له طرفه د قرباني یو پسه یا یوه ونډه کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۳۴۵هـ)

ځواب: که د یو مړي له طرفه قرباني کوي نو پوره قرباني وکړه او که صرف ثواب ور رسول غواړې نو څو مړو ته هم سړی د یوې قربانۍ ثواب بخښلای شي قرباني به د ده وي او ثواب څو مړو ته بخښلای شي.

سوال: (۵۱) د څو مړو له طرفه یوه ونډه په غوا کي سړی نیولای شي او کنه؟ یعني په یوه غوا کي شپږ کسان ونډه لري یوه ونډه پاته شوه هغه یو سړی د څو کسانو له طرفه واخیسته نو داسي صحیح دي او کنه؟(۱۳۳۰-۲۹/۳۰۳هـ)

ځواب: یوه ونډه د څو کسانو له طرفه کول خو صحیح ده مګر نفلي برخه د خپل طرفه وکړه د هغه ثواب چي هر څومره کسانو ته بخښي بخښلای شي.

سوال: (۵۲) د قربانۍ په یوه ونډه کي د څو مړو د ایصال ثواب نیت کول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۷/۲۷۷۵هـ)

ځواب: یوه ونډه د قرباني که وکړي او ثواب څو مړو ته وبخښي نو داسي کول صحیح دي لکه چي په شامي کي راغلي دي: و قد صح ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ضحى بكبشين احدهما عن نفسه والآخر عمن لم يذبح من امته، و ان كان منهم من قد مات قبل ان يذبح اهــ (۲) فقط

---

(۱) و قد صح ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ضحى بكبشين احدهما عن نفسه و الآخر عمن لم يذبح من امته، و ان كان منهم من قد مات قبل ان يذبح اهــ (رد المحتار ۲۲۹/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۲) رد المحتار ۲۲۹/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

په یوه غوا کې د ژوندي او مړي دوارو ونډه نیول

سوال: (۵۳) مثلاً په یوه غوا کې د ژوندي او مړي دوارو له طرفه ونډه اخیستل جائز دي او کنه؟ ثواب خو به نه کمیږي؟ (۱۳۴۵/۱۰۰۸ھ)

ځواب: داسي جائز دي په ثواب کي هیڅ کمي نه راځي من ضحی عن المیت یصنع کما یصنع فی اضحیة نفسه الخ (۱) (شامی)

د وفات شویو بچیانو د قربانۍ کولو وس که سړی ونلري؟

سوال: (۵۴) که څوک د مړي له طرفه قرباني وکړي نو خوراک ځني جائز دی او کنه؟ د یو سړي دوه بچیان وفات شوي دي دی صرف د دوو ونډو نیولو د قرباني لپاره وس لري او درېیمه ونډه د ځان لپاره د نیولو وس نلري نو څه کول پکار دي؟ (۱۳۳۷/۲۲۸۵ھ)

ځواب: که د کوم مړي له طرفه بې د ده له وصیته قرباني وکړي یا په قرباني کي ونډه ونیسي نو قرباني صحیح ده ثواب هغه ته رسي او دی یې پخپله هم خوړلای شي او که مړی وصیت کړی و نو بیا دي د هغه د برخي غوښه خیرات کړي پخپله به نه خوري او کله چي دا سړی دومره وس نلري چي د وفات شویو بچیانو له طرفه هم قرباني وکړي او خپله هم وکړي نو دی باید خپله وکړي له وفات شویو بچیانو له طرفه کولو ضرورت نشته د دوی په قرباني کولو خپله قرباني نه ادا کیږي. فقط

بې له وصیت کولو د مړي قرباني نه واجبیږي

سوال: (۵۵) که د داسي مړي ونډه سړی په اوښ یا غوا یه کي ونیسي چي

---

(۱) الشامی ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

قرباني ورباندي واجب وه ليكن ده وصيت نه ؤ كړى آيا د مړي واجب به ادا شي كه به نفلي قرباني شي؟ لنډه دا چي قرباني خو به ناروا نه وي؟ (۱۳۴۱/۲۳هـ)

ځواب: ببله وصيت كولو واجب قرباني نه ادا كيږي نفلي ګرځي او په قرباني كي هيڅ خلل نه راځي كذا فى الدر المختار و الشامى. (۱) فقط

د وفات شوي مالدار سړي له طرفه هر كال قرباني كول لازم نه دي

سوال: (۵۶) يو سړى وفات شو وارثان او ډير مال يې پاته شو د ده له طرفه هر كال قرباني واجبيږي او كنه؟ (۱۳۳۵/۱۵۷۴هـ)

ځواب: بې د مړي له وصيت كولو پرْ وارثانو هر كال د ده قرباني نه لازميږي تبرعًا او استحبابًا كه وكړي نو صحيح دي او كه مړى وصيت كړى دى او مال يې پريښى دى نو د ده قرباني كول ضروري دي. (۱) فقط

د وفات شوي خاوند يا ښځي له طرفه قرباني كول

سوال: (۵۷) كه ښځه مړه شي نو د دې له طرفه خاوند يا خاوند مړ شي نو د ده له طرفه ښځه په قرباني كي ونډه اخيستلاى شي او كنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۴۷هـ)

ځواب: دا سي صحيح دي.

---

(۱) و اما دين الله تعالى فان اوصى به وجب تنفيذه من ثلث الباقى و فى الشامى قوله: (و اما دين الله تعالى الخ) محترز قوله: من جهة العباد، و ذلک كالزكاة و الكفارات و نحوها قال الزيلعى: فانها تسقط بالموت فلا يلزم الورثة اداءها الا اذا اوصى بها او تبرعوا بها هم من عندهم لان الركن فى العبادات نية المكلف و فعله و قد فات بموته فلا يتصور بقاء الواجب... اقول: و ظاهر التعليل ان الورثة لو تبرعوا بها لا يسقط الواجب عنه لعدم النية منه و لان فعلهم لا يقوم مقام فعله بدون اذنه(الدر مع الرد ۵۳۶/۵ كتاب الفرائض. ط رشيديه)

د مور او پلار له طرفه قرباني لپاره غوا رانیونکی مړشو نو...

سوال: (۵۸) زید یوه غوا د مور او پلار له طرفه قرباني کولو لپاره رانیوه او له قرباني کولو مخکي زید وفات شو نو اوس په غوا څه وکړو؟ (۵۸/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: دغه غوا د زید د وارثانو شوه که وارثان د زید د نیت سره سم عمل وکړي نو ښه دي کنې چي خوښه وي هغه دي په وکړي د دوی ملک دی.

د ایام نحر ثبوت په قرآن او حدیث

سوال: (۵۹) ما په اخبار(ورځپانه) کي ولید چي لیکونکی سید احمد حسن شوکت میرټهوال دی دی لیکي چي که څوک ماته د اختر په دریو ورځو کي د قرباني کولو حکم په قرآن راثابت کړي نو هغه ته پنځلس زره روپۍ انعام ورکوم او د ورځپاني له خپرونکي څخه هم ور اخلم کني دغه په لکونو حیوانان ضائع کول بې ګټي دي د دي منع زه په قرآن ثابتوم خیر انعام او نور خو یو لالچ ورکول دي لیکن په قران مجید د قربانۍ حکم نه کیدل دا څنګه ثابتیدلای شي؟ لهذا مهرباني وکړي د قرآن شریف هغه آیت راته ولیکئ چي د قربانۍ حکم پکښي وي د سورة حج په آیت: [و لکل امة جعلنا منسکا لیذکروا اسم الله] الآیة (سورة حج، آیت: ۳۴) کي د قربانۍ حکم خو شته لیکن له ترجمي څخه حکم نه معلومیږي. (۵۹/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: څرګندونه دي وي چي په قرآن شریف د لمانځه، زکاة، روژې، حج قربانۍ او نورو احکام اجمالاً ثابت دی په قرآن شریف کي دا تفصیل د لمانځه په اړه هم نشته چي د ماپښین څو رکعته دي او د ماښام ماخوستن او سهار څومره رکعتونه؟ د ټولو حکمونو تفصیل د قرآن شریف شرح په حدیثو ثابت دي او په قرآن شریف کي راغلي دي: [و ما اتکم الرسول فخذوه و ما نهاکم عنه فانتهوا] (سورة حشر، آیت: ۷) نو کومه تشریح او تفصیل چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه، زکاة، روژې، حج او قربانۍ کړی دی هغه په حقیقت کي د قرآن شریف حکم دی او څوک چي داسي وایي چي مونږ بس یواځي قرآن

منو د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث نه منو هغه نه لمونځ کولای شي نه زکوة ورکولای شي نه بل کوم شرعي حکم ادا کولای شي ځکه چي تفصیل د ټولو احکامو په حدیثو ثابت دی په قرآن شریف کي خو صرف دومره راغلي دي چي لمونځ وکړي، زکوة ورکړئ او نور، لیکن دا چي لمونځ څه ته وايي؟ په دې کي کوم کوم فرض دی؟ او څومره رکعتونه په کوم لمانځه کي دي؟ او د زکاة څه حساب دی؟ دا ټولي خبري بس په حدیثو معلومیدلای شي لهذا کوم خلک چي حدیث نه مني هغوی په قرآن شریف په هیڅ حال کي عمل نه شي کولای و من ادعی فعلیه البیان.

دغه کومه ډله چي ځان ته اهل قرآن وايي ګمراه ډله ده او باطله ده د دوی په اړه په حدیث شریف کي وعید راغلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي څوک دي دا نه وايي چي کوم څه په قرآن کي دي زه بس صرف هغه منم حدیث نه منم ځانونه خبر کړئ چي کوم امر او نهی ما کړي دي هغه هم د قرآن په رنګه دي الحدیث(۱) له دغه تمهید وروسته دي څرګند ونه وي چي قرباني هم د نورو فرضي او شرعي احکامو په رنګه ده چي اجمالا د دې حکم په قرآن ثابت دی لکه چي تاسو هم د یو ایت حواله راکړه نور تفصیل د دې او دا چي تر څو ورځو پوري قرباني کیدلای شي؟ په حدیثو او آثارو ثابت دي عن نافع ان ابن عمر رضی الله عنهما قال: الاضحی یومان بعد یوم الاضحی رواه مالک و قال: و بلغنی عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه مثله(۲) وګوره جلیل القدر صحابه لکه حضرت علي او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهم فرمايي چي قرباني له لسم تاریخ وروسته دوې ورځي ده په مرقات کي راغلي دي: و به اخذ ابو حنیفة و مالک و احمد(۳) او دا خبره هم منل شوې ده چي د صحابي قول د هغه کار په اړه چي د رایي سره

---

(۱) عن العرباض بن ساریة السلمی رضی الله عنه قال... ثم قام رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال: ایحسب احدکم متکئا علی اریکته قد یظن ان الله لم یحرم شیئا الا ما فی هذا القرآن؟ الا! و انی و الله! قد وعظت و امرت و نهیت عن اشیاء انها لمثل القرآن او اکثر الحدیث(سنن ابی داؤد ص: ۴۳۲ کتاب الخراج و الفئ و الامارة باب فی تعشیر اهل الذمة اذا اختلفو بالتجارة)

(۲) مشکاة المصابیح ص: ۱۲۹ کتاب الصلاة باب فی الاضحیة الفصل الثالث.

(۳) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ۳۱۳/۳ باب فی الاضحیة الفصل الثالث المطبوعة: مکتبه امدادیة ملتان؛ پاکستان

اره نلري د مرفوع حدیث په حکم کي وي(۱) لاندي یو حدیث رانقلوم چي ورڅخه به معلوم شي چي صحابه رضی الله عنهم هغه حکم چي په حدیث ثابت دی په قرآن د هغه ثبوت بیانوي او ګڼي یې عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: لعن الله الواشمات و المستوشمات و المتنمصات و المتفلجات للحسن المغیرات خلق الله فجاءته امراءة فقالت: انه بلغنی انک لعنت کیت و کیت؟ فقال: ما لی لا العن من لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم و من هو فی کتاب الله؟ فقالت: لقد قراءت ما بین اللوحین فما وجدت فیه ما تقول: قال: لئن کنت قراتیه لقد وجدتیه اما قراءت "ما اتکم الرسول فخذوه و ما نهکم عنه فانتهوا" قالت: بلی، قال: فانه قد نهی عنه. متفق علیه. (۲)

ترجمه دا ده چي حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي: چي الله لعنت کړی دی پر خال وهونکیو ښځو او پر هغو چي په بل پر خپل بدن خالونه وهي او پر وېښتانو کښونکیو او د ښایست لپاره غاښونه په سوهان سولونکیو باندي چي د الله تخلیق بدلوي پر دې یوې ښځي و حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته وویل چي زه خبره شوې یم چي ته پر فلانی فلانی ښځه لعنت وایې ده ورته وویل چي زه به څرنګه لعنت نه پر وایم پر هغه چا چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورباندي لعنت ویلی وي او پر هغه چا چي د الله په کلام کي ملعون دي؟ دې ښځي ورته وویل چي ما ټول قرآن شریف ویلی دی دا خبره خو مي نه ده پکي لیدلې کومه چي ته کوې حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ورته وفرمایل چي که تا قرآن ویلی وای نو تا به ضرور دا خبره پکي موندلې وای آیا تا په قرآن کي دا نه دي ویلي چي کوم څه تاسو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم درکړي هغه اخلئ او عمل باندي کړٔ او له کوم کار څخه چي مي دی منع کړي هغه پر برېږدئ هغه ښځي ورته وویل بېشک دا په قرآن کي شته حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وفرمایل چي بېشک رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې څخه منع کړې ده

(۱) و الرفع قد یکون صریحا و قد یکون حکما... و اما حکما فکان اخبار الصحابی الذی لم یخبر عن الکتب المتقدمة مالا مجال فیه للاجتهاد عن الاحوال الماضیة کاخبار الانبیاء او الآتیة کالملاحم و الفتن و اهوال یوم القیامة او عن ترتب ثواب مخصوص او عقاب مخصوص علی فعل فانه لا سبیل الیه الا السماع عن النبی صلی الله علیه وسلم (المقدمة للشیخ عبدالحق الدهلوی رحمه الله الباری فی اول مشکاة المصابیح ص:۳)

(۲) مشکاة المصابیح ص: ۳۸۱ کتاب اللباس، باب الترجل، الفصل الاول.

یعني له خالونو او نورو کارونو څخه دا روایت بخاري او مسلم رانقل کړی دی.

وګوره په دغه روایت فیصله وکړه چي کوم حکمونه په حدیثو کي دي هغه د قرآن احکام دي له دې څخه سیوا ځینو مفسرینو دا آیت: [لیشهدوا منافع لهم و یذکر وا اسم الله فی ایام معلومات علی ما رزقهم من بهیمة الانعام فکلوا منها واطعموا البائس الفقیر ثم لیقضــوا تفثهم و لیوفوا نذورهم و لیطوفوا بالبیت العتیق] (سورة حج، آیت: ۲۸-۲۹) څخه داغه راز له آیت: "و لیو فوا نذورهم" څخه د قرباني او نورو ذبح کول مراد اخیستی دی او له دې څخه مخکي "فکلوا منها " دی پر دې باندي د "ولیطوفوا بالبیت العتیق " عطف کول د دې خبري تقاضا کوي چي کومي ورځي د طواف زیارت دی هم هغه د قرباني ورځي دي او د طواف زیارت ورځي درې دي لس یوولس دوولس تاریخه د ذو الحجې لهذا د نحر ورځي هم دغه درې دي لکه چي په تفسیر احمدي کي راغلي دي: و بهذه الآیــة تمســک صاحب الهدایة فی ان وقت طواف الزیارة ایام النحر حیث قال: وقته ایام النحر لان الله تعــالی عطف الطواف علی الذبح حیث قال: فکلوا منها ثم قال: و لیطوفوا بالبیت العتیق فکان وقتهما واحدا النتهی(۱). فقط

په ښارکي د قرباني وخت

سوال: (۲۰) د قرباني وخت له خطبې وروسته څخه د ذوالحجې د دوولسمي تر ماخیګره پوري دی؟ (۱۳۳۸/۲۱۷هـ)

ځواب: د قرباني وخت په ښار کي د ذوالحجه په لسمه له لمانځه وروسته شروع کیږي او د ذو الحجه د دوولسو تاریخو تر ماښامه پوري وي.

که په ښارکي څو ځایه د اختر لمونځ کیږي نو قرباني به څه وخت کوي؟

سوال: (۲۱) په ښار کي له عیدګاه څخه سیوا په ځینو مسجدونو کي هم د اختر لمونځ کیږي زید د ښار په مسجد

---

(۱) التفسیرات الاحمدیة للشیخ العلامة احمد المعروف بملاجیون جونبوري ص: ۴۳۴ تحت قوله عز و جــل "ثم لیقضوا تفثهم و لیوفوا نذورهم و لیطوفوا بالبیت العتیق" (سورة الحج آیت: ۲۹) المطبوع: مطبع اخوان الصفا.

کي لمونځ وکړی او عمر او بکر به په عيدګاه کي کوي چي ناوخته کيږي او خالد بې لمانځه دی يو ځای يې هم نه کوي دوی ټول په يوه غوا سره شريکان دي آيا قرباني څه وخت وکړي چي د ټولو صحيح شي؟ (۱۳۴۳/۱۲۱۵ھ)

ځواب: په ښار کي تر ټولو مخکي د اختر له لمانځه وروسته د ټولو قرباني صحيح ده و اول وقتها بعد الصلاة ان ذبح فی مصر ای بعد اسبق صلاة عيد الخ. (۱) (در مختار)

په کلي کي قرباني کولو وروسته ښار ته د لمانځه لپاره تلل صحيح دي

سوال: (۲۲) په کلي کي له قرباني کولو وروسته د لمانځه لپاره ښار ته تلل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۳ھ)

ځواب: په کلي کي قرباني د اختر له لمانځه مخکي جائز ده او بيا ښار ته د لمانځه لپاره راتلل صحيح دي فقط

د اختر له لمانځه مخکي قرباني کول

سوال: (۲۳) د اختر له لمانځه مخکي قرباني کول صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۷۲ھ)

ځواب: په ښارونو کي صحيح نه ده او کليو کي چيري چي د اخترانو لمونځ نه کيږي هلته صحيح دي کذا فی کتب الفقه په در مختار کي راغلي دي: و اول وقتها بعد الصلاة ان ذبح فی مصر الخ و بعد طلوع فجر يوم النحر ان ذبح فی غيره الخ و فی الشامی قوله: (ان ذبح فی غيره) ای غير المصر. (۲)

سوال: (۲۴) چيري چي د جمعي او اخترونو لمونځ صحيح دی هلته د اختر له لمانځه مخکي قرباني کيدلای شي او کنه؟ او د بل ځای قرباني دلته ذبح کيدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۱۴۴ھ)

ځواب: ښار او ښارګوټي چيري چي د جمعي او اخترونو لمونځ صحيح دی هلته د

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۲۳/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

(۲) الدر و الرد ۲۲٤/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

اختر له لمانځه مخکي قرباني کول جائزنه دي که د هغه ځای وي یا یې د کلي راوستی وي او په کلي کي چیري چي د جمعې او اخترونو لمونځ نه کیږي هلته له صبح صادق وروسته قرباني کول صحیح دي.

په کلي کي د اختر له لمانځه مخکي قرباني کول صحیح دي

سوال: (۲۵) زمونږ په کلي کي همیشه په غټ اختر کي سهار وختي خلک پسونه حلالوي اوس یو سلفي ملا حدیث بیانوي او فتوی ورکوي چي د اختر له لمانځه مخکي قرباني صحیح نه ده او څوک چي کوي هغه د حدیث په خلاف کوي اوس پوښتنه دا ده چي په کلي کي له لمانځه مخکي د قرباني د جواز احکام سره د کتاب د حوالې راته بیان کړئ (۲۳/۱۱۰۲-۱۳۳۴ھ)

ځواب: په کلي کي چیري چي د جمعې او اختر لمونځ نه صحیح کیږي د سهار له سپیدو وروسته د قرباني د جائز والي هم هغه حدیثونه دي چي پکي له لمانځه څخه مخکي د ذبح منع راغلې ده ځکه چي د قبل الصلوة له قید څخه معلوم شو چي هلته لمونځ کیږي نو په کوم ځای کي چي د اختر لمونځ کیږي یعني په ښارونو کي هلته تر لمانځه مخکي قرباني کول منع او باطل دي او چیري چي لمونځ نه کیږي لکه کلي هغه په دغه ممانعت کي داخل نه دي کما یظهر من تعلیل صاحب الهدایة. (۱)

سوال: (۲۶) چیري چي د عید الاضحی لمونځ نه کیږي هلته د اختر تر لمانځه مخکي قرباني کول جائز دي او کنه؟ (۳۵/۱۹۴-۱۳۳۲ھ)

ځواب: په کوم کلي کي چي د اختر لمونځ نه کیږي هلته قرباني له سهاره صحیح ده یعني په ښار کي که څه هم لا تر اوسه لمونځ نه وي شوی په کلي کي تر لمانځه مخکي قرباني صحیح ده.

سوال: (۲۷) یو کلی چي پکي نژدې څلور سوه نفوسه آبادي ده یو حنفي د اختر په ورځ د سهار لمونځ وکړی چي کله لمر راوخاتی پسه یې حلال کړی لیکن نور حنفیان د هغه ځای وربانديي اعتراض کوي

---

(۱) الا انه لا یجوز لاهل الامصار الذبح حتی یصلی الامام العید فاما اهل السواد فیذبحون بعدالفجر و الا صل فیه قوله علیه الصلاة و السلام: من ذبح قبل لاصلوة فلیعد ذبیحه و من ذبح بعدالصلاة فقد تم نسکه و اصاب سنة المسلمین و قال علیه السلام: ان اول نسکنا فی هذا الیوم الصلاة ثم الاضحیة غیر ان هذا الشرط فی حق من علیه الصلاة و هو المصری دون اهل السواد (الهدایة ۴/۴۴۵ کتاب الاضحیة)

چي ستا قرباني ادا نه شوه په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۳۷/۴۳۱هـ)

ځواب: په کوم کلي کي چي د څلور سوه نفوسو ابادي وي هغه بېشکه قريه صغيره ده او په قريه صغيره کي د جمعې او اخترونو لمونځ عند الحنفيه نه صحيح کيږي كما فى الشامي: و فيما ذكرنا اشارة الى انه لا تجوز فى الصغيرة التى ليس فيها قاض و منبر و خطيب الخ. (۱) نو په داسي کلي کي د سهار له لمانځه وروسته قرباني کول صحيح دي كما هو حكم القرى الصغيرة. (۲) فقط

که څلک په کلي کي د اختر لمونځ کوي نو تر لمانځه مخکي قرباني څنګه ده؟

سوال: (۲۸) کليوال چي کلي کي د اختر لمونځ کوي د دوی لپاره تر لمانځه مخکي قرباني کول صحيح دي او کنه؟(۱۳۳۳-۳۲/۸۹۲هـ)

ځواب: کله چي په کلي کي شرعًا د اختر لمونځ جائز نه دی نو له لمانځه مخکي قرباني کول صحيح دي فى الدر المختار و اول وقتها بعد الصلاة ان ذبح فى مصر الخ فاول وقتها فى حق المصرى و القروى طلوع الفجر الا انه شرط للمصرى تقديم الصلاة عليها الخ.(۳) (شامى)

د عذر په وجه که د اختر لمونځ ونشي نو له زوال وروسته قرباني کولای شي

سوال: (۲۹) د لوی اختر الله تکبرونه بايد امام او مقتدي جهرًا ووايي که په صرف امام وايي؟

---

(۱) ردالمحتار ۵۹۰/۱ كتاب الصلاة باب الجمعة قبل مطلب فى صحة الجمعة بمسجد المرجة و الصالحية فى دمشق. ط رشيديه

(۲) فاول وقتها فى حق المصرى والقروى طلوع الفجر الا انه شرط للمصرى تقديم الصلاة عليها فعدم الجوازلفقد الشرط لا لعدم الوقت (رد المحتار ۲۲۳/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه) و قد قال قاضى خان: فاما اهل السواد و القرى و الرباطات عندنا يجوزلهم التضحية بعدطلوع الفجر (الشامى ۲۲٤/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۳) الدر و الرد ۲۲۳/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

د اختر په ورځ د قرباني وخت بېله دې لحاظ کولو چې د اختر لمونځ شوی یا د کوم عذر په وجه په ټول ښار کې نه دی شوی له زوال څخه پس شروع کېږي که مشروط بالصلاة دی؟ د اختر په درېیمه د اختر لمونځ کېدلای شي او کنه؟ (۱۵۳/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: جهر په تکبیرونو (زوائدو) کې خاص د امام لپاره دی د مقتدیانو لپاره جهر نشته او د قرباني وخت د ذو الحجې په لسم تاریخ له زوال وروسته شروع کېږي که د اختر لمونځ په دغه ورځ کړی وي که د کوم عذر په وجه ځنډېدلی وي کما فی الدر المختار: و بعد مضی وقتهالو لم یصلوا لعذر(۱) او د لوی اختر لمونځ د اختر تر درېیمه د عذر په وجه ځنډېدلای شي له دې وروسته نه دی صحیح. (۲) فقط

د اختر په څلورمه که څوک قرباني وکړي نو...

سوال: (۷۰) څه فرمایي علماء او مفتیان د شرعي په دغه مسئله کې چې که یو سړی د اختر په څلورمه قرباني وکړه نو دغه قرباني په حنفي مذهب کې صحیح شوه او کنه؟ د کتابونو په حواله جواب راکړئ که نه وي صحیح شوی نو راګرځونه واجب ده او کنه؟ که راګرځول واجب وي نو څه وخت؟ آیا راروان کال که بهٔ اوس قیمت خیرات وي؟ (۱۹۹۳/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: که د میاشتې لیدلو سره سم دا د اختر څلورمه وه نو عند الحنفیه قرباني ادا نه شوه ځکه چې د احنافو په نیزد د قرباني آخري وخت د درېیمې تر لمر لوېدو دی نو پر ده د یو پسه قیمت چې قرباني یې کېدلای شي صدقه کول واجب دي و تصدق بقیمتها غنی شراها اولا الخ فالمراد بالقیمة قیمة شاة تجزی فیها الخ(۳) نو د راروان کال انتظار دې نه کوي اوس دې قیمت صدقه کړي. فقط والله تعالی اعلم

او که د هغه ځای د میاشتې لیدنې په اعتبار د اختر درېیمه ده که څه هم د نورو ځایونو د لیدنې په اعتبار څلورمه وي نو بیا قرباني اداشوه لکه چې شامي څرګندونه په کړې ده په کتاب الصوم کې راغلي دي: لان اختلاف المطالع انما لم یعتبر فی الصوم لتعلقه بمطلق الرؤیة و هذا بخلاف الاضحیة فالظاهر انها

---

(۱) الدر مع الشامی ۲۲٤/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) و تؤخر صلوة عیدالاضحی بعذر الی ثلاثة ایام (الطحاوی علی مراقی الفلاح ص: ۵۳۸ کتاب الصلاة، باب احکام العیدین)

(۳) الدر مع الشامی ۲۲٦/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

كاوقات الصلوة يلزم كل قوم العمل بما عندهم فتجزى الاضحية فى اليوم الثالث عشر و ان كان على رؤيا غيرهم هو الرابع عشر و الله اعلم(۱) او دا بناء دی پر دې باندي چي اختلاف د مطالع په دې کي معتبر دی. فقط

د قضاء شوي قرباني څخه د غاړي خلاصولو طريقه

سوال: (۷۱) که چا څو کاله قرباني نه وي کړې او س هغه له دغه فرض څخه غاړې خلاصول غواړي نو څه وکړي؟ (۱۳۳۵/۱۳۳هـ)

ځواب: دا سړی به د هر کال قرباني په بدله د يو پسه قيمت صدقه کوي كما فى الدر المختار: و تصدق بقيمتها غنى شراها او لا لتعلقها بذمته شراها او لا فالمراد بالقيمة قيمة شاة تجزى فيها. (۲) فقط

سوال: (۷۲) ما له اوو کلونو راهيسي زکوة او قرباني نه دي ادا کړي اوس يې ادا کوم ادا کيږي او کنه؟ او قضاء قرباني به څنګه ادا شي؟ که د کال د حسابه په شپږ روپيو کي دوې روپۍ په کال کي يعني د رېيمه برخه خيرات کړم نو قرباني به ادا شي او کنه؟ او سرسايه هم دا ډول ادا کيږي او کنه؟ (۱۰۹/۳۹-۱۳۴۰هـ)

ځواب: زکاة او قرباني ادا کول پکار دي د زکاة حساب خو ښکاره دی چي د هر کال چي څومره زکوة واجب دی هغه ادا کړه او د قرباني په هکله دا حکم دی چي د هر کال د قرباني لپاره د يو درميانه وزګړي، وزې يا ميږې او نورو قيمت و مسکينانو ته ورکړه او سرسايه د هر سړي د کاله نيم پاؤ يو نيم سير غنم يا د هغه قيمت دی.

سوال: (۷۳) د يو سړي څخه يو کال قرباني پاته شوه نو دا بل کال دوې قرباني وکړي که يوه؟ (۱۳۳۷/۲۲۴۷هس)

ځواب: که پر ده قرباني واجب وه نو د هغه کال د قرباني قيمت به صدقه کوي او

---

(۱) الشامى ۱۰٤/۲ كتاب الصوم مطلب فى اختلاف المطالع. ط رشيديه

(۲) الدر المختار مع الشامى ۲۲٦/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

د راروان کال قرباني به کوي

د قضا قرباني قيمت په روژه مات کي مصرفول صحيح نه دی

سوال: (۷۴) پر يو سړي د تېر کال قرباني پاته ده دا په روژه ماتي کي مصرفولای شي او کنه؟ (۳۳۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: پر فقيرانو د قيمت صدقه کول واجب دي

د قرباني نه کولو په صورت د پسه قيمت واجبيږي

سوال: (۷۵) يو سړی د ناجوړی په وجه قرباني نکړای شوه اوس د ټول پسه قيمت د مسجد په تعمير کي لګولای شي او کنه؟ (۲۱۹۸/۱۳۳۸هـ)

ځواب: پر کوم چا چي قرباني واجب وي او هغه په کومه وجه قرباني په ورځو د قرباني کي ونکړي نو پر ده لازم دي چي د پسه قيمت به خيراتوي د يو درميانه وزې يا مږ او نورو قيمت به فقيرانو ته ورکوي (۱) په مسجد کي مصرفول جائز نه دي (۲) فقط

که د قرباني حيوان ورک شو؟

سوال: (۷۶) کوم پسه چي د قرباني لپاره رانيولی ؤ هغه ورک شو ايا وجوب د قرباني ورباندي پاته شو او کنه؟ که غريب وي او که مالدار؟ (۲۱۱/۱۳۴۱هـ)

ځواب: پر مالدار وجوب د قرباني شته پر غريب وجوب نشته او پر ده باندي بله بدلول هم

(۱) و لو تركت التضحية و مضت ايامها... و تصدق بقيمتها غني شراها اولا... فالمراد بالقيمة قيمة شاة تجزى فيها (الدر المختار مع الرد ۲۲۵/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۲) و يشترط ان يكون الصرف تمليكا لا اباحة كمامر لا يصرف الى بناء نحو مسجد و لا الى كفن ميت و قضاء دينه (الدر مع الرد ۲۸/۲ كتاب الزكاة؛ باب المصرف. ط رشيديه)

ضروري نه ده.

د اختر وروسته ورک حیوان پیدا شو

سوال: (۷۷) یو سړي د قرباني لپاره غوا رانیوله هغه ورکه شوه د اختر په څلورمه پیدا شوه او په دې وجه چې کوم مسکین نهٔ هغه غوا یې د نصاب و مالک ته ورکړه هغو د اختر په څلورمه حلاله کړه غوښه پر مسکینانو ووېشله داسي قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۸۸۳ھ)

ځواب: حکم دا دی چي که د قرباني وخت تېر شي او وروسته د قرباني حیوان پیدا شي نو ژوندی دي صدقه کړي او دغه صدقه واجب ده لهذا و غني ته په ورکولو نه ادا کیږي نو د دغه سړي قرباني په دغه صورت کي ادا نه شوه پر ده باندي د قیمت صدقه کول واجب دي چي فقیرانو ته به ورکوي في البدائع: ان الصحیح ان الشاة المشتراة للاضحیة اذا لم یضح بها حتی مضی الوقت یتصدق الموسر بعینها حیة کالفقیر بلاخلاف بین اصحابنا الخ(۱) (شامي) فقط

له قرباني کولو وروسته ورک حیوان پیدا شو

سوال: (۷۸) یوه غوا مي د قرباني لپاره رانیوله د اختر په ورځ باندي خلاصه شوه ولاړه ورکه شوه مجبورًا مي بله غوا رانیوه قرباني مي کړه دوې څلور ورځي وروسته هغه غوا پیدا شوه څه کول پکار دي؟ که مي د رار‌وان کال لپاره وساتله او برالبه شوه نو څه کول پکار دي؟ (۱۳۴۳/۱۱۵ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: ضلت او سرقت فاشتری اخری ثم وجدها فالافضل ذبحهما و ان ذبح الاولی جاز و کذا الثانیة الخ و قال بعضهم: ان وجبت عن یسار فکذا الجواب الخ(۲) نو حاصل د جواب دا دی چي دغه سړی قرباني کونکی که د نصاب مالک ؤ او قرباني ورباندي واجب وه نو د دوهمي غوا قرباني صحیح شوه او لومړی غوا پخپله ساتلای شي. فقط

سوال: (۷۹) د قرباني حیوان وتښتېدی په عوض کي بل حیوان حلال کړی له اختر وروسته

---

(۱) رد المحتار ۲۲۶/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدر مع الرد ۲۲۷/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

ورک پیدا شو نو اوس څه کول پکار دي؟(۱۳۳۸/۴۹۳هـ)

ځواب: هغه ساتلی شي.

د قرباني حیوان که پر مرګ شي نو...

سوال: (۸۰) ... (الف) یو سړي د قرباني لپاره حیوان رانیوی هغه ناجوړه شو پر مرګ دی دی باید څه وکړي؟

(ب) یو سړی د قرباني لپاره حیوان رانیوی هغه ناجوړه شو ده حلال کړی پر بنګیانو باندي خرڅ کړی تر څو په قیمت باندي بل حیوان رانیسي دا جائز دي او کنه؟ (۱۸۵۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: (الف) که هغه حیوان مړ شو یا د قریب المرګ کیدو په وجه د قرباني له وخت څخه مخکي حلال کړی نو که دا سړی غني دی نو بل حیوان به حلالوي او که فقیر دی نو د بل حیوان قرباني پر ده لازمه نه ده مګر د ذبح کولو په صورت صدقه کول پر ده واجب دي و کذا لو ماتت فعلی الغنی غیرها لا الفقیر الخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

(ب) که رانیونکی فقیر ؤ نو خرڅول د ده لپاره جائز نه ؤ بلکه صدقه کول پکار ؤ کما فی الدر المختار: و لو ذبحها تصدق بلحمها (۲) لیکن کله چي خرڅ کړی نو اوس دي قیمت صدقه کړي او که دا سړی غني ؤ نو د قرباني لپاره دي بل حیوان واخلي. فقط و الله تعالی اعلم

خپل پسه پخپله حلالول غوره دي

سوال: (۸۱) څوک چي خپله قرباني په بل حلالوي پخپله نه حلالوي وایي مونږ امیان ؤ څنګه ذبح کړو په دې صورت کي څه حکم دی؟ (۱۴۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا څه پروا نلري چي خپل پسه په بل حلال کړي لیکن غوره دا

---

(۱) الدر مع الرد ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامی ۲۲۵/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

دي چي که په ذبح پوهيږي نو تکبير دي پر وو ايي پخپله دي حلال کړي نور علم ورته ضروري نه دی. (۱) فقط

سوال: (۸۲) که قرباني کونکی پخپله پسه حلال کړي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۵۲۱ھ)

ځواب: قرباني کونکی که پخپله حلال کړي نو ښه دی او ثواب پکي ډير دی.

د قرباني حيوان حلالولو پر مهال د شريکانو نوم اخيستل ضروري نه دی

سوال: (۸۳) د ذبح پر مهال د حلالونکي تکبير کافي دی که به ټول شريکان تکبير وايي؟ او د شريکانو نوم اخيستل ضروري دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۲۵ھ)

ځواب: صرف د ذبح کونکي تکبير کافي دی د دوی نوم اخيستل ضروري نه دی صرف نيت کافي دی.

سوال: (۸۴) اوو کسانو په ګډه د قرباني غوا رانيوله نو د حلالولو پر مهال به د اوو سره په نوم حلالوي که د يو په نامه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۵۸ھ)

ځواب: حلالونکی دي په زړه کي د ټولو نيت وکړي د چا و نوم اخيستلو ته ضرورت نشته که د ټولو نومونه واخلي نو دا ښه دي مګر ضروري نه دي دا دي چي نيت به د ټولو وي.

د قرباني رانيولو يا حلالولو پر مهال د ټولو شريکانو وجود ضروري نه دی

سوال: (۸۵) د غوا رانيولو پر مهال به ټول شريکان موجود وي که يو سړی رانيسي او د حلالولو پر مهال ټول موجود وي؟ (۱۳۳۲-۳۵/۱۰۲ھ)

ځواب: د ټولو شريکانو موجوديت هيڅ وخت هم شرط نه دی نه د غوا رانيولو پر مهال او نه د حلالولو پر وخت بلکه که ټول شريکان يو سړي ته اجازه ورکړي او هغه وکيل کړي نو د ټولو له طرفه دی حلالولای شي. فقط

---

(۱) و ندب... ان يذبح بيده ان علم ذلک و الا يعلمه شهدها بنفسه و يامر غيره بالذبح کی لا يجعلها ميتة (الدر مع الشامی ۵/۲۳۱ کتاب الاضحية. ط رشيديه)

که د شریکانو د نیتونو حال معلوم نه وي نو...؟

سوال: (۸۶) په قرباني کي که د یو شریک هم نیت فاسد وي نو د ټولو د قربانۍ نه قبلېدل دا خو ظاهر دي لیکن کله چي نیت معلوم نه وي نو څه حکم دی؟ او په نیت خو خدای خبر دی د قربانۍ له پوست څخه د اوبو راکښلو لپاره سولاغه جوړول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۶-۳۵/۲۲۸هـ)

ځواب: کله چي په شریکانو کي د یو شریک نیت هم صرف د غوښو خوړلو نه وي او چا داسي خبره نه وي ښکاره کړې نو د ټولو قرباني صحیح ده اعتبار د شریکانو و وینا ته دی په همدې سره د نیت حال ظاهرېدلای شي نو کله چي ټول شریکان دا وایي چي زمونږ نیت د قربانۍ دی یا د عقیقې نو بیا پر دوی دا ګمان مه کوئ چي د ده نیت به خلاف وي او د قربانۍ له څرمني د اوبو راکښلو لپاره سولاغه جوړول صحیح او جائز دي. فقط

اللهم تقبل من فلان کله ویل پکار دي؟

سوال: (۸۷) د لوی اختر په قرباني کي اللهم تقبل من فلان تر ذبح مخکي ویل پکار دي که تر ذبحو وروسته ووایي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۹۴۱هـ)

ځواب: فقهاء په دې اړه اختیار ورکړی دی چي دا دول دعاګاني که تر ذبح مخکي وایي او که وروسته وایي لیکن که تر ذبح مخکي وایي نو تر تسمیه به هم مخکي وایي تر څو په تسمیه او ذبح کي فصل نه راشي په در مختار کي راغلي دي: کالدعاء قبل الاضجاع والدعاء قبل التسمية او بعد الذبح لا باس به الخ و فی الشامی: قوله: (لا باس به) ای لا یکره لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: بعد الذبح: "اللهم تقبل هذا عن امة محمد ممن شهد لک بالوحدانیة و لی بالبلاغ" وکان علیه الصلاة و السلام اذا اراد ان یذبح قال: اللهم هذا منک و لک ان صلاتی و نسکی و محیای و مماتی لله رب العالمین لا شریک له و بذلک امرت و انا من المسلمین بسم الله و الله اکبر ثم ذبح و هکذا روی عن علی کرم الله وجهه زیلعی

وغیره(۱) اما مناسب دا دی چي دعاء "اللهم تقبل الخ" له ذبح وروسته ووايي کما مر عن الحدیث او که له ذبح مخکي او له تسمیې مخکي ووايي بيا هم څه پروا نلري کما جاء في روایة اخری اذا اراد ان یذبح قال: الحدیث.

سوال: (۸۸) اللهم تقبل من فلان د قرباني د حیوان تر حلالولو مخکي باید وویل شي که د حلالولو پر مهال او که تر حلالولو وروسته اولی څرنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۷۷۷هـ)

ځواب: هر وخت صحیح دی لیکن تر ذبح کولو وروسته ویل اولی دي. فقط

که د پسه پښې نیونکی تکبیر ونه وایي؟

سوال: (۸۹) ... (الف) دغوا یا پسه ذبځ کولو پر مهال ذبح کونکی خو تکبیر ووايو لیکن کومو کسانو چي پښې ورته نیولي وې هغوی تکبیر نه دی ویلی نو داسي ذبیحه څنګه شوه؟ غوښه خوړل پکار ده او که نه؟ او که په لوی اختر کي داسي وشول نو قرباني څرنګه شوه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۸هـ)

(ب) د عید الاضحی په قرباني کي همکاري کونکي باندي تکبیر ویل واجب دي که مستحب؟ او په نورو ذبیحو کي همکاري کونکیو باندي تکبیر ویل څنګه دي؟

ځواب: (الف) بسم الله الله اکبر ویل صرف د ذبځ کونکي کافي دي د پښو نیونکي لپاره بسم الله ویل ضروري نه دي ذبیحه حلاله ده قرباني صحیح شوه.

(ب) د ورو ذبیحو یو حکم دی که د قرباني وي که بله ذبیحه پر نیونکي باندي د بسم الله ویل ضروري نه دي صرف پر ذبح کونکي ضروري ده نیونکی که ووايي نو ښه دی که نه ووايي نو هیڅ پروا نلري فقط

د قرباني حیوان بدلول

سوال: (۹۰) که سړی د قرباني په نیت غوا رانیسي وروسته شک شي چي دا خو برالبه ده نو د دې

---

(۱) الدر مع الشامي ۲۱۱/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

خرڅول او بله غوا رانیول د قرباني کولو لپاره جائز دي او کنه؟ (۱۴۸۷/۱۳۳۷هـ)

ځواب: که د قربانۍ په ورځو کي رانیوله او دی د نصاب مالک نه دی نو بدلول یې صحیح نه دي او که د قربانۍ تر ورځو مخکي رانیوله یعني د اختر تر لومړۍ ورځي مخکي یا رانیونکي غني دی نو بیا د دې خرڅول او د قربانۍ لپاره بله رانیول صحیح دي حلالولای شي کذا فی الدر المختار. (۱) فقط

سوال: (۹۱) یو سړي شیدوره وزه رانیوله اوس ده فکر وکړی چي دا خو شیدې کوي د دې په بدله کي په بل پسه رانیسم قرباني به کړم آیا شرعًا داسي جائز دي او کنه؟ بینوا توجروا (۳۳۴۸/۱۳۴۱هـ)

ځواب: کوم چي د قرباني لپاره اخیستی ؤ هغه دي پرېږدي او د بل قرباني دي وکړي جائزدي پر فقیر باندي چي قرباني واجب نه ده هغه یې نشي بدلولای په شامي کي راغلي دي مراد له دې څخه دا دی چي که د قرباني په ورځو کي رانیوله ده یعني د اختر په لومړۍ، دوهمه او دریمه ورځ نو نه شي بدلولای او که مخکي رانیولې ده نو بدلولای شي.

امی سړی په تکبیر سره ذبح د قربانۍ کولای شي

سوال: (۹۲) یو سړي څه نه دي ویلي امي دی قرباني کول غواړي آیا دا جائز دي چي د قرباني نیت بل څوک ورښیي او دی پخپل لاس قرباني وکړي؟ (۷۹/۱۳۴۱هـ)

ځواب: جائز دي.

د قرباني کونکي لپاره وېښتان او نوکان د میاشتي له لومړی نه وهل مستحب دي

سوال: (۹۳) د لوی اختر په ورځ چي کوم خلک قرباني کوي او کوم خلک چي قرباني نه کوي دا

---

(۱) فقیر... شراها لها لوجوبها علیه بذلک حتی یمتنع علیه بیعها و فی الشامی قوله: (لوجوبهاعلیه بذلک) ای بالشراء و هذا ظاهر الروایة لان شراءه لها یجری مجری الایجاب و هو النذر بالتضحیة عرفا کما فی البدائع و وقع فی التاتارخانیة: التعبیر بقوله شراها لها ایام النحرو ظاهره انه لو شراها لها قبلها لا تجب (الدر والرد ۲۲٦/۵ کتاب الاضحیة.ط رشیدیه)

دواړه تر لمانځه مخکي یا له لمانځه وروسته که نوکان او وېښتان ووهي؟ (۱۳۳۷/۷۱۸ھ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي چي کوم سړی د قرباني اراده لري هغه دي له قرباني څخه مخکي په لسو ورځو کي نوکان او وېښتان نه وهي لهذا د قرباني کونکي لپاره مستحب دي چي د ذو الحجې په لومړیو لسو ورځو کي نوکان او وېښتان او نور نه ووهي اوکوم څوک چي قرباني نه کوي د هغه لپاره دا مستحب نه دي ځکه چي استحباب خاص د قرباني کونکي لپاره دی. فقط

سوال: (۹۴) کوم څوک چي پر خپل کور قرباني کوي دی د حج د قرباني د اصولو پابند دی او کنه؟ مثلاً حجامت کول نوکان پرې کول د ذو الحجې په لسو ورځو کي جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۳۱۹ھ)

ځواب: کوم څوک چي قرباني کوي د هغه لپاره مستحب دي چي د ذو الحجې په لومړیو لسو ورځو کي تر قرباني مخکي نوکان او وېښته ونه وهي لیکن که دا سي وکړو نو هیڅ ګناه ورباندي نشته ځکه چي د مستحب فعل په ترک ګناه نه وي په حدیث شریف کي راغلي دي: اذا دخل العشر و اراد بعضکم ان یضحی فلا یاخذن شعرا و لا یقلمن ظفرا(۱) قـال ف الشامی: فهذا محمول علی الندب دون الوجوب بالاجماع(۲) د دې حاصل دا دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي کله د ذو الحجې عشره راشي او په تاسو کي د ځینو خلګو د قرباني کولو اراده وي نو هغه دي په دغه عشره کي وېښته نه وهي او نوکان دي نه پرې کوي علامه شامي فرمايي چي دا حکم استحبابي دی وجوبي نه دی. فقط

سوال: (۹۵) قوله علیه الصلاة و السلام: من اراد ان یضحی منکم فـلا یاخــذن شــعره و اظفاره شیئا(۳) په دې اړه د امام صاحب رحمة الله علیه مذهب څه دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۰۷۲ھ)

---

(۱) عن ام سلمة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا دخل العشر و اراد بعضکم ان یضحی فلا یمس من شعره و بشره شیئا و فی روایة: فلا یاخذن شعرًا و لا یقلمن ظفرا و فی روایة: من رای هلال ذی الحجة و اراد ان یضحی فلا یاخذ من شعره و لا من اظفاره رواه مسلم(مشکاة المصابیح ص: ۱۲۷ کتاب الصلاة باب فی الاضحیة)

(۲) رد المحتار ۶۲۱/۱ کتاب الصلاة باب العیدین مطلب فی ازالة الشعر و الظفر فی عشر ذی الحجة قبیل باب الکسوف. ط رشیدیه

(۳) عن ام سلمة رضی الله عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: اذا دخلت العشر و اراد احدکم ان یضحی فلا یمس من شعره و بشره شـیئا (الصحیح لمسلم ۱۶۰/۲ کتاب الاضحی باب نهی من دخل علیه عشر ذی الحجة و هو یرید التضحیة ان یاخذ من شعره و اظفاره شیئا)

ځواب: علامه شامي رحمه الله د غه حدیث د صحیح مسلم په روایت لیکلی دی(۱) فهذا محمول على الندب دون الوجوب بالاجماع (الى ان قال) الا ان نفي الوجوب لاينافي الاستحباب فيكون مستحبا الخ(۲) نو معلوم شو چي احناف هم د دې د استحباب قول کوي چي کوم څوک اراده لري د قرباني کولو هغه دي د ذو الحجې په لومړیو لسو ورځو کي وېښته او نوکان نه پرې کوي لیکن دا واجب نه دي بلکه مستحب دي او بیان شوی حدیث پر استحباب حمل دی فقط

سوال: (۹۶) د لوی اختر تر میاشتي لیدلو وروسته د اختر تر ورځي پوري چي کوم څوک د قرباني اراده لري مستحب دا دي چي هغه به خپل وېښتان نه وهي آیا دا صحیح دي که بدعت؟ زید وایي چي بدعت دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۳۲۹هـ)

ځواب: حق خبره دا ده چي دا مستحب دی بدعت ورته ویل بدعت دي فقط و الله تعالی اعلم

د غوا قرباني د اسلام له شعائرو څخه ده

سوال: (۹۷) ... (الف) د غوا حلالول په هندوستان کي د اسلام له شعائرو څخه دي او کنه؟ لکه چي حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په مکتوب هشتاد ویکم جلد اول ص: ۱۰۲ کي لیکي: ذبح بقره در هندوستان از اعظم شعار اسلام است(۳) او که کوم ځای هندوان مسلمانان منع کوي او مسلمانان پر ذبح قدرت لري نو د مسلمانانو لپاره څه حکم دی؟

(ب) په داسي وخت کي چي کوم مسلمان د پسه قرباني پرېږدي زیاتره صرف د غوا قرباني کول اختیار کړي یا په عامو ورځو کي د پسه د غوښو پر ځای د غوا غوښه خوري نو پر دغه فعل به ثواب ور کول کیږي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۵۸هـ)

---

(۱) مخکنی حواله

(۲) ردالمحتار ۶۲۱/۱ كتاب الصلاة باب العيدين مطلب في ازالة الشعر و الظفر في عشر ذي الحجة قبيل باب الكسوف. ط رشيديه

(۳) مکتوبات امام ربانی از حضرت علامه شیخ احمد سرهندی مجدد الف ثانی رحمه الله: مکتوب هشتاد و یکم ذبح بقر در هندوستان از اعظم شعار اسلام است (حصه دوم از دفتر اول، ص: ۷۵-۷۶ مجددی امرتسر)

ځواب: (الف - ب) په دې اړه لکه څنګه چي حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله لیکلي دي(۱) هم هغه حق دي ذبح د بقر په هندوستان کي خصوصًا په هغه زمانه د کفر د غلبې کي شعائر اسلامؤ او دی لهذا مسلمانان باید د غه شرعي حکم او مذهبي شعار پرې نږدي او د هندوانو په خیال ساتلو پکي تساهل نه دي کول پکار او د شعائر الله د قائمولو د سنتو د اتباع او د شرعي حکم د پیروي په نیت د غوا په قرباني او حلالولو کي بیله شکه ثواب شته فقط

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو بي بي ګانو له طرفه د غوا قرباني کول

سوال: (۹۸) د غوا قرباني رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو بي بي ګانو یا د کور د کوم بل فرد له طرفه کړې ده او کنه؟ که کړې ده نو په مکه کي که په مدینه منوره کي؟ (۱۳۴۰/۲۴هـ)

ځواب: د بي بي ګانو له طرفه د غوا قرباني کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثو کي راغلي دي او دا واقعه د هجرت وروسته ده یعني د حجة الوداع. عن جابر رضی الله عنه قال ذبح رسول الله صلی الله علیه وسلم عن عائشة رضی الله عنها بقرة یوم النحر رواه مسلم: و عنه قال: نحر النبي صلی الله علیه وسلم عن نسائه بقرة في حجته رواه مسلم(۲) له دوغو روایتونو څخه معلوم شو چي د غه ذبح د بقر د بي بي ګانو له طرفه په مکه مکرمه کي شوې ده.

د غوا قرباني په قرآن او حدیثو ثابته ده

سوال: (۹۹) یو سړی وایي چي د غوا د قرباني حکم نه په قرآن کي راغلی دی او نه په حدیث کي مسلمانان یې د هندوانو د ضده کوي د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ او قرباني د غوا جائزده او کنه؟ (۱۳۳۶-۳۵/۲۱۲هـ)

ځواب: دغوا قرباني جائز ده څوک چي دا پر ضد حمل کوي هغه ډیر جاهل او ګنهکار دی د غوا قرباني په قرآن او حدیث ثابته ده رسول الله صلی الله علیه وسلم د غوا

---

(۱) مخکنی حواله

(۲) مشکاة المصابیح ص: ۲۳۱ کتاب المناسک، باب الهدی الفصل الاول.

قرباني کړې ده(۱) او په قرآن شریف کي راغلي دي: [و من الابل اثنين و من البقر اثنين قل ء الذكرين حرم ام الانثيين] (سورة انعام، آیت: ۱۴۴)

د میږي او مړ قرباني صحیح ده

سوال: (۱۰۰) د میږي قرباني صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۵۵هـ)

ځواب: د میږي قرباني صحیح ده قال فى رد المحتار: و ان كان لها الية صغيرة مثل الذنب خلقة جاز (اى بالاتفاق) و اما على قول ابى حنيفة عليه الرحمة: فظاهر، لان عنده لو لم يكن لها اذن اصلا و لا الية جاز و اما على قول محمد عليه الرحمة: صغيرة الاذنين جائزة(اى و كذا صغيرة الالية) الخ. (۲)

سوال: (۱۰۱) د میږي او مړ قرباني شرعًا صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۲۸هـ)

ځواب: د میږي او مړ قرباني شرعًا صحیح ده كذا فى الدر المختار. (۳) و الشامى(۴)

د ګامیښي قرباني جائز ده

سوال: (۱۰۲) د ګامیښي قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۲۵هـ)

ځواب: جائز دی. (۵)

---

(۱) مخکنۍ حواله

(۲) رد المحتار ۲۲۸/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۳) و صح الجزع ذو ستة اشهر من الضان ان كان بحيث لو خلط بالثنايا لا يمكن التميز من بعد و صح الثنى فصاعدا من الثلاثة و الثنى هو ابن خمس من الابل و حولين من البقر و الجاموس و حول من الشاة و المعز (الدر المختار مع الشامى ۲۲٦/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(٤) و ان كان لها الية صغيرة الخ(رد المحتار ۲۲۸/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(٥) و صح الثنى فصاعدا من الثلاثة و الثنى: هو ابن خمس من الابل و حولين من البقر و الجاموس و حول من الشاة و فى الشامى قوله: (و الجاموس) نوع من البقر(الدر و الرد ۲۲٦/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه) الاضحية تجوز من اربع من الحيوان... و كذلک الجاموس لانه نوع من البقر الاهلى (فتاوى قاضى خان على هامش الفتاوى العالمغيرية ۳٤۸/۳ كتاب الاضحية فصل فيما يجوز فى الضحايا)

د غوا قرباني افضله ده که د پسه؟

سوال: (۱۰۳) د غوا په قرباني کي ثواب ډیر دی که د پسه په قرباني کي؟ که زید د ضد په وجه د غوا قرباني کوي او افضل پرېږدي نو د افضل د عمل کونکي په مقابل د ثواب څه حکم دی؟ په داسي وخت کي کله چي هندوان د مسلمانانو په مذهبي کارونو کي همکاري کوي نو د دوی سره اتحاد کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۸۲هـ)

ځواب: د هندوانو د خیال ساتلو په وجه د غوا قرباني نه ده پرېښودل پکار د دنیا په چارو کي د هندوانو سره موافقه او د یو بل مرسته کول پروا نلري لیکن د مذهب په کارونو کي د کفارو خیال ساتل مناسب نه دی نو لکه څنګه چي مسلمانانو له مخکي څخه د غوا قرباني کوله اوس دي هم کوي په دې کي دي د چا خیال نه ساتي او نه دي هندوان پر دې تېنګار کوي لنډ ؤدا چي کوم څوک د پسه قرباني کول غواړي هغه دي د پسه قرباني کوي او څوک چي د غوا قرباني کول غواړي هغه دي وکړي مسلمانان باید یو بل ته پیغور او بد رد ونه وايي لکه څنګه چي په شریعت کي په دې اړه آزادي ده په هغه آزادي سره دي مسلمانان خپل مذهبي فرض ادا کوي (۱) فقط

سوال: (۱۰۴) د غوا قرباني افضله ده که د پسه؟ (۱۳۳۸/۲۱۴۸هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي چي د پسه قرباني افضله ده او په شامي کي راغلي دي چي که د غوا په ونډه کي

---

(۱) د غوا په اوومه ونډه او وزې او مږ کي چي د چا قیمت زیات وي د هغه قرباني کول افضل دی او که په قیمت کي سره برابر وي نو په کوم کي چي غوښه زیاته وي د هغه قرباني کول افضل دي او که په دې کي هم دواړه برابر وي نو د کوم یو غوښه چي ښه بلله کیږي د هغه قرباني افضله او ثواب پکي ډیر دی.

فروع: و الشاة افضل من سبع البقرة اذا استویا فی القیمة و اللحم و فی الشامی: قوله: (اذا استویا الخ) فان کان سبع البقرة اکثر لحما فهو افضل و الاصل فی هذا اذا استویا فی اللحم و القیمة فاطیبهما لحما افضل و اذا اختلفا فیهما فالفاضل اولی تتارخانیة(الدر المختار و رد المحتار ۲۲۶/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

و فیه ایضا: ضحی بشتین فالاضحیة کلاهما و قیل: الزائد لحم و الافضل الاکثر قیمة فان استویا فالاکثر لحما فان استویا فاطیبهما و فی الشامی: قوله: (و الافضل الخ) ای الاکثر ثوابا و قد منا الکلام علیه(الدر و الرد ۲۲٤/۵ کتاب الاضحیة قبیل کتاب الحظر و الاباحة. ط رشیدیه)

غوښه ډیره راغله نو هغه افضله د. (۱) فقط

سوال: (۱۰۵) د غوا د قرباني پر ځای و وزې ته ترجیح ورکول څنګه دي؟ (۲۱۴۹/۱۳۳۸ھ)

ځواب: قرباني د دواړو ښه ده او جائز ده یوه هم نه کول نه دي پکار. فقط

د هر ډول خصي قرباني جائز ده

سوال: (۱۰۶) په مظاهر حق کي د خصي حیوان د قرباني په هکله چي دا لیکلي دي چي په پورته حدیث کي چي د خصي کوم لفظ راغلی دی له دې څخه مراد هغه خصي دی چي مښوول شوی وي نو آیا هغه خصي چي یو مخ یې خصیتین ځني کښلي وي هغه صحیح دی او کنه؟ حالانکه نن صبا زیاتره دا ډول کیږي؟ (۲۲۵۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و يضحى بالجماء و الخصى(۲) له دې څخه معلوم شو چي د هر ډول خصي قرباني صحیح ده که ور مښوولې وي او که ځیني ایستلې وي نور نو په مظاهر حق کي چي دا لیکلي دي هغه په دې جه دې چي په حدیث کي چي لفظ د "موجوئین" راغلی دی او موجؤ هغه خصي چي مښوولی وي او ځینو په منزوع الخصیتین سره هم ترجمه کړې د ه مظاهره حق خود مشکوة شریف ترجمه ده په هغه کي لغوي ترجمه کړې ده مسئله یې نه ده ښودلې مسئله دا ده چي د هر ډول خصي قرباني جائز ده په شامي کي لیکلي دي چي د مقطوع الذکر قرباني هم جائز ده حیث قال: تجوز التضحية بالمجبوب العاجز عن الجماع(۳) او په قاموس کي د خصي معنی لیکلې ده چي خصیتین یې ځني ایستلي وي(۴) پس مذهب همدغه معلومیږي چي د هر ډول خصي قرباني جائز ده د هدایې په شرح عیني کي راغلي دي: قوله: (و يجوز ان يضحى... بالخصى) و هو منزوع الخصيتين الخ(۵)

---

(۱) مخکنی حواله

(۲) الدر المختار مع الرد ۲۲۷/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

(۳) الشامى ۲۲۹/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

(٤) الخصى و الخصية ... ج: خصى، و خصاء خصاء: سل خصييه (القاموس المحيط للشيخ مجد الدين محمد بن يعقوب الفيروز آبادي ص: ۸۷۳ باب الواو و الياء فصل الخاء المطبوعة: ممبئى)

(٥) البناية فى شرح الهداية المشهور بعينى شرح الهداية ۱۸۲/٤ کتاب الاضحية.

سوال: (۱۰۷) د خصي قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۷۳هـ)

ځواب: د خصي قرباني جائز بلکه افضله ده في الهداية: قد صح ان النبي صلى الله عليه وسلم ضحى بكبشين املحين موجوئين(۱) قال الشامي: و الوجاء على وزن فعال: نوع من الخصاء الخ(۲) و في الدر المختار: و يضحى بالجماء و الخصي الخ(۳) فقط

د پکي وزې قرباني صحيح ده

سوال: (۱۰۸) د پکي وزې قرباني صحيح ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۷۵۵هـ)

ځواب: پکه وزه چې پر سر باندي ويښتان نه وي د دې قرباني صحيح ده.

د وچ (شنډ) حيوان قرباني صحيح ده

سوال: (۱۰۹) د وچ او ښکر ماتي حيوان قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۳۹۳هـ)

ځواب: د وچ او ښکر ماتي حيوان قرباني صحيح ده په دې شرط چې ښکر يې د بيخه نه وي راوتی. فقط

ولنګواله ته نژدې برالبي غوا قرباني مکروه ده

سوال: (۱۱۰) د برالبي (حاملې) غوا قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۱۲۰هـ)

ځواب: حامله وزه يا غوا قصداً ذبح کول جائز دي ليکن که حامله قريب الولادة وي نو ذبح کول يې مکروه دي في الكفاية: ان تقاربت الولادة يكره ذبحها(۴) (شامي: ۵ کتاب الذبائح) فقط و الله تعالى اعلم

---

(۱) الهداية ۴۴۸/۴ كتاب الاضحية.

(۲) الشامي ۲۳۳/۵ كتاب الاضحية قبيل كتاب الحظر و الاباحة. ط رشيديه

(۳) الدر مع الرد ۲۲۷/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۴) رد المحتار ۲۱۴/۵ كتاب الذبائح. ط رشيديه

سوال: (۱۱۱) یو سړي د قربانۍ په نیت غوا رانیوله وروسته معلوم شو چي غوا حامله ده نو اوس د دغه غوا د قربانۍ څه حکم دی؟ (۵۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د برالبي شوي حیوان قرباني صحیح ده نو که ذبح کړی هیڅ پروا نلري او که غوا رانیونکی غني دی نو دا هم صحیح دي چي دغه حامله ځان ته راوګرځوي او د دې پر ځای د بلي قرباني وکړي مګر په شامي کي له کفایه څخه رانقل کړي دي چي کوم حیون لنګواله ته نژدې وي د هغه ذبح کول مکروه دي لنډه دا چي قرباني ادا کیږي.

سوال: (۱۱۲) د برالبي غوا قرباني صحیح کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۷۲هـ)

ځواب: د برالبي شوي حیوان قرباني صحیح ده لیکن په شامي کي له کفایه څخه رانقل کړي دي چي کوم حیوان لنګواله ته نژدې وي د هغه ذبح کول مکروه دي قرباني بیا هم صحیح ده قال في الشامي: لکن في الکفایة: ان تقاربت الولادة یکره ذبحها الخ. (۱) فقط

برالبه وزه د قربانۍ لپاره رانیولای شي

سوال: (۱۱۳) ... (الف) یو سړي د قربانۍ لپاره وزه رانیوله لیکن وروسته معلوم شو چي دا خو برالبه ده اوس د برالبي قرباني کولای شي او کنه؟

(ب) او که برالبوالی له رانیولو مخکي معلوم شي چي حامله ده نو هغه د قرباني لپاره رانیولای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۴۸هـ)

ځواب: (الف) د حاملې قرباني صحیح ده.

(ب) رانیولای شي که و لنګواله ته نژدې وي نو په قرباني او نورو کي حلالول مکروه دي مګر قرباني صحیح ده.

په خیټه کي دانه لرونکي وزګړي قرباني صحیح ده

سوال: (۱۱۴) یو وزګړی مي د قربانۍ لپاره رانیوی اوس چي مي وکاته نو خیټه

(۱) رد المحتار ۲۱٤/٥ کتاب الذبائح. ط رشیدیه

رسولي(غټه دانه) ده بل هیڅ عیب پکي نشته چاغ دی ښه خوراک کوي د داني په وجه به خو قرباني څه پروا نلري؟(۱۳۴۵-۴۴/۹۴۵هـ)

ځواب: د دغه وزګړي قرباني کول کله چيٰ کال ته رسیدلی وي جائز ده د دغه داني په وجه په قرباني کي څه تاوان نه راځي. فقط والله تعالی اعلم

ټوخی کونکی او عمل وراتلونکي غوا قرباني جائز ده

سوال: (۱۱۵) په کومه غوا کي چي دننه زخم وي چي ورڅخه ټوخی کیږي او خوشایه یې نري یعني عملونه کیږي د دې قرباني جائز ده او کنه؟(۱۳۳۸/۱۰۴۱هـ)

ځواب: جائز ده.

د ناجوړي غوا قرباني څنګه ده؟

سوال: (۱۱۲) یو سړی د قربانی لپاره غوا رانیوله اووه کسان پکي شریکان شول ځیني غنیان او ځیني فقیران وروسته غوا ناجوړه شوه خو شریکانو د اختر په ورځ حلاله کړه حال دا چي ناجوړه وه نو قرباني ادا شوه او کنه؟که ادا شوه نو د مالدار او غریب دواړو له خوا که پر چا اعاده واجب ده؟(۱۳۴۰/۱۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي په در مختار کي لیکلي دي چي که دا غوا داسي مریضه وه چي مرض یې یو مخ ظاهر ؤ نود غني قرباني نه شوه ادا دی باید د اختر په ورځو کي قرباني راوګرځوي او د اختر له ورځو وروسته د قیمت صدقه کول واجب دي او په مسئوله صورت کي د فقیر قرباني ادا شوه په در مختار کي راغلي دي: و لـو اشـتـراها سليمة ثم تعيبت بعيب مانع كما مر فعليه اقامة غيرها مقامها ان كان غنيا و ان كان فقيرا اجزاءه ذلک۔(۱)

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

که د حیوان غوږونه کوچني وي نو قرباني څرنګه ده؟

سوال: (۱۱۷) وزه او مږ چي غوږونه خلقةً کوچني وي د دوی قرباني جائز ده او کنه؟ (۲۴۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: صحیح ده فلو لها اذن صغیرة خلقة اجزاءت، زیلعي. (۱)

له دریمي څخه کم غوږ پرې شوي حیوان قرباني صحیح ده

سوال: (۱۱۸) که د یوې وزې د غوږ د دوو ګوتو په قدر پرې شوی وي نو د دې قرباني جائز ده او کنه؟ (۲۰۲۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: له دریمي څخه کم غوږ پرې شوي حیوان قرباني صحیح ده. فقط و الله تعالی اعلم

که د حیوان غوږ سوری وي یا څیري وي نو قرباني یې څنګه ده؟

سوال: (۱۱۹) د کوم حیوان د دواړو غوږونو سرونه که پرې شوي وي یا یې غوږونه څیري وي یا یې په غوږ کي د روپۍ په اندازه سوری وي د داسي حیوان قرباني جائز ده او کنه؟ (۲۲۶۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د غوږ سر که تر دریمه کم پرې وي نو قرباني یې صحیح ده داغه راز چي غوږ یې څیري وي یا پکي د روپۍ په اندازه سوری وي د هغه قرباني هم صحیح ده قال في الشامي: روی محمد عنه في الاصل و الجامع الصغیر ان المانع ذهاب اکثر من الثلث الخ(۲) بیا یې همدې ته ظاهر الروایة ویلي دي او په خانیه کي همدې ته صحیح ویلي دي او داغه راز په شامي کي راغلي دي. و في البدائع: و تجزی الشرقاء: مشقوقة الاذن طولا و الخرقاء: مثقوبة الاذن و المقابلة: ما قطع من مقدم اذنها شیٔ و ترک معلقا و المدابرة: ما فعل ذلک بمؤخر الاذن من الشاة و النهی الوارد محمول

(۱) الدر مع رد ۲۲۸/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) رد المحتار ۲۲۷/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

على الندب الخ و قد منا ان ما جوز هنا جوز مع الكراهة لانه خلاف المستحب الخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي قرباني د داسي حيوانانو جائز ده ليكن د اولى خلاف ده يعني تنزيهي مكروه ده غوره دا دي چي قرباني له داسي عيبونو هم پاكه وي. فقط

د كوم غوايه پوزه چي سورى وي د هغه قرباني صحيح ده

سوال: (۱۲۰) د غوايه قرباني چي پوزه سورى وي جائز ده او كنه؟ (۲۱۳۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: غويي چي پزه سورى وي د ده قرباني صحيح ده.

دهغه حيوان قرباني څنګه ده چي ستركه يې معيوبه وي

سوال: (۱۲۱) يو سړي غوا پر ستركه ووهله چي له امله سپينه پرده د ستركي پرې شوه اميددى چي ښه به شي قرباني په كيدلاى شي او كنه؟ (۲۲۲۰/۱۳۴۱هـ)

ځواب: كه په دغه ستركه هم ديد كوي يعني پهويني نو قرباني يې صحيح ده.

چي زياتره غاښونه لري نو قرباني يې صحيح ده

سوال: (۱۲۲) يو سړى د قرباني لپاره يو مړ پاللى دى ناخاپه د وهلو په وجه د مخ د غاښ پاؤ كم برخه ماته شوه يعني له ووريو څخه پورته چي كوم غاښ معلوميږي د هغه درې برخي ماتي شوي اوس څلورمه برخه پاته ده آيا په دغه صورت كي د دغه حيوان قرباني صحيح ده او كنه؟ (۲۲۱۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د يو غاښ په څلورمه برخه ماتيدو د ده په قرباني كي هيڅ تاوان نه راځي قرباني يې صحيح ده په در مختار كي راغلي دي: چي كه د حيوان زياتره غاښونه پاته دي نو قرباني د ده صحيح ده. (۲) فقط

---

(۱) الشامى ۲۲۹/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۲) و لا تجوز بالهتماء التي لا اسنان لها و يكفي بقاء الاكثر (الدر المختار مع الشامى ۲۲۸/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

ښکر نلرونکې قرباني څنګه ده؟

سوال: (۱۲۳) درې کلنه غوا چې تر او سه ښکر راښکاره شوي نه دي قرباني يې روا ده که نارو ا؟ (۱۳۳۸/۲۳۲۲هـ)

ځواب: قرباني يې صحيح ده. (۱)فقط

که د حیوان ښکر مات وي نو...؟

سوال: (۱۲۴) که د کوم حيوان ښکر په بېخ کي يا تر څلورمه برخه زيات مات شوی وي د داسي حيوان قرباني شرعًا جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۰۲هـ)

ځواب: په در مختار کتاب الاضحية کي راغلي دي: و يضحى بالجماء و الخصى الخ په شامي کي دي: قوله: (الجماء) هى التى لا قرن لها و كذا العظماء التى ذهب بعض قرنها بالكسر او غيره فان بلغ الكسر الى المخ لم يجز قهستانى و فى البدائع: ان بلغ الكسر المشاش لا يجزى و المشاش رؤس العظام الخ(۲) له دغه بدائع او نورو له روايت څخه معلوم شو چي که د کوم حيوان ښکر په بېخ کي مات شي نو قرباني يې جائز نه ده او که سربېره خور ځني واوړي او مغز يې پاته شي نو قرباني يې صحيح ده.

سوال: (۱۲۵) قربانی کردن از گاؤ شاخ شکسته جائز است یا نه؟ (۱۳۳۹/۱۰۴۱هـ)

ځواب: در کتب فقه این تفصیل فرموده اند که اگر بعض قرن جانور شکسته است قربانی آن جائز است و اگر کسر تا مغز رسیده است ناجائز است قال فى الشامي: قوله: (و يضحى بالجماء) هى التى لا قرن لها خلقة و كذا العظماء التى ذهب بعض قرنها بالكسر او غيره فان بلغ الكسر الى المخ لم يجز قهستانى و فى البدائع ان بلغ الكسر المشاش لا يجزئ و المشاش رؤوس العظام. (۳) فقط

---

(۱) قوله: (و يضحى بالجماء) هى التى لا قرن لها (رد المختار ۲۲۷/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۲) الدر و الرد ۲۲۷/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۳) رد المحتار ۲۲۷/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

سوال: (۱۲۵) ترجمه: د کومي غوا چي ښکرمات وي د هغې قرباني جائز ده او کنه؟

ځواب: د فقهي په کتابونو کي دا تفصيل دی چي که د حيوان د ښکر څه برخه ماته شوې وي نو د ده قرباني جائز ده او که ماتوالی تر مغزو رسيدلی وي نو ناجائز دی.

سوال: (۱۲۶) د کوم حيوان ښکر چي تر درېيمي برخي زيات مات شوی وي د هغه قرباني جائز ده که ناجائز؟ (۱۳۳۸/۸۰ھ)

ځواب: که د هډوکو و سرو ته نه وي رسيدلي نو قرباني د ده صحيح ده. (۱)

د قرباني لپاره رانيولی حيوان معيوب شو

سوال: (۱۲۷) ما يو ورى له يو کال څخه ساتلی ؤ ليکن اوس د ده يو ښکر مات شو يوه مياشته تقريبًا کيږي هغه هم ډير غټ نه ؤ په وړيو کي دننه پټ ؤ او ما چي کوم وخت رانيولی ؤ له هغه وخته مي د قرباني نيت کړی ؤ اوس زه د ده قرباني وکړم او کنه؟
(۱۳۳۴-۳۳/۲۰۳۱ھ)

ځواب: په درمختار کي راغلي دي: و لو اشتراها سليمة ثم تعيبت بعيب مانع كما مر فعليه اقامة غيرها مقامها ان كان غنيا و ان كان فقيرًا اجزاه ذلك (۲) له دغه عبارت څخه معلوميږي چي که غني کوم حيوان د قرباني په نيت رانيوی بيا هغه معيوب شو نو غني به د دغه حيوان پر ځای بل حيوان د قرباني لپاره اخلي او که فقير يعني چي ورباندي قرباني فرض نه ده ده رانيوی نو هم هغه معيوبه حيوان دي حلال کړي. (۳) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۸) د قرباني حيوان له رانيولو وروسته ګوډ شو يا يې يوه يا دواړي سترګي ړندي شوې نو د ده قرباني څنګه ده؟ (۱۳۳۸/۴۹۳ھ)

ځواب: صحيح نه ده او د فقير لپاره صحيح ده.

---

(۱) في البدائع: ان بلغ الكسر المشاش لا يجزى و المشاش رؤوس العظام (ردالمحتار ۲۲۷/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۲) الدر المختار مع الشامي ۲۲۹/۵ کتاب الاضحية. ط رشيديه

(۳) که ښکر په ښخ کي پرې شوی دی نو دا حکم دی کنې د ده قرباني په هر حال کي صحيح ده.

چې د یوښکر نیم خوریې اوښتی وي دهغه قرباني صحیح ده

سوال: (۱۲۹) د غوا یو ښکر خو صحیح دی لیکن د دوهم ښکر خور تر نیمایه پوري اوښتی دی مات شوی نه دی د داسي غوا قرباني جائز ده او کنه؟(۱۳۴۵/۳۰۷۰هـ)

ځواب: د فقهي په کتابونو کي څرګندونه ده چي جماء یعني هغه حیوان چي خلقةً ښکر نلري او عظماء یعني چي د ښکر څه برخه ماته شوې وي د هغه قرباني جائز ده د مکسور القرن قرباني کي څه کراهیت نشته په دې شرط چي ماتوالی ببخ ته نه وي رسیدلی. قوله: (و یضحی بالجماء) هی التی لا قرن لها خلقة و کذا العظماء التی ذهب بعض قرنها بالکسر او غیره فان بلغ الکسر الی المخ لم یجزء قهستانی(۱) (شامی) لان القرن لا یتعلق به مقصود الخ(۲) (هدایة)

د حلالولو پر مهال که د حیوان ښکر مات شي

سوال: (۱۳۰) کله چي د حلالولو لپاره غوا پر ځمکه راپرې ایسته د دې تقریبًا یو ښکر نیم مات شو اوس یې قرباني څنګه ده؟(۱۳۳۳-۳۲/۷۸۲هـ)

ځواب: قرباني د دې صحیح ده و لا یضر تعیبها من اضطرابها عندالـذبح الخ. (۳) (در مختار)

دداغلي حیوان قرباني صحیح ده

سوال: (۱۳۱) کوم حیوان چي پر ورانه او نورو په ګرمه اوسپنه داغ شوی وي دهغه قرباني صحیح ده او

---

(۱) رد المحتار ۲۲۷/۵ کتاب الاضحیة ط رشیدیه
(۲) الهدایة ۴۴۸/۴ کتاب الاضحیة
(۳) الدر المختار مع الشامی ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة ط رشیدیه

کنه؟ او د څمکه ماتونکیو غویانو پر کناټیو د وهلو په وجه ټپونه وي د هغو قرباني هم صحيح ده او کنه؟ بينوا توجروا (۱۳۳۵/۵۹۵هـ)

ځواب: قرباني د دغه دواړو صحيح ده مګر غوره دا دي چې په قرباني کي کوم ظاهري عيب نه وي کما في الشامي: و اعلمان الكل لا يخلو عن عيب و المستحب ان يكون سليما عن العيوب الظاهرة فما جوز ههنا جوز مع الكراهة. (۱) فقط

د ځنګلي حيوان او مرغانو قرباني صحيح نه ده

سوال: (۱۳۲) د صحرا، غرونو او ځنګلونو حيوانانو قرباني لکه سوی، وسی د غره مږ، غرنۍ غواوي او مرغان لکه کوتره سيمرمرغه سارکه، ايلۍ، سرخاب او نورو جائز ده او کنه؟ که ناجائز ده نو ولي؟ (۱۳۳۷/۱۵۳۲هـ)

ځواب: قرباني د دغه حيوانانو صحيح نه ده لما ورد في الاحاديث. (۲)

سوال: (۱۳۳) له کوچني والي ساتلي ځنګلي حيوانان لکه وسی د غره مږ غرنۍ غوا او نورو حلالو حيوانانو قرباني جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۳۳۴هـ)

ځواب: ځنګلي حيوان لکه وسی د غره غوا د غره مږ او نورو قرباني صحيح نه ده که څه هم د دغه حيوانانو روزنه له کوچنيوالي په کور کي شوې وي کذا في كتب الفقه. (۳) فقط

سوال: (۱۳۴) ... (الف) د وسی، غرنۍ غوا د غره مږ او نورو ځنګلي حيوانانو قرباني جائز

---

(۱) الشامي ۲۲۷/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۲) و في الهداية: قال: و الاضحية من الابل و البقر و الغنم لانها عرفت شرعا و لم يتنقل التضحية بغيرها من النبي عليه الصلاة و السلام و لا من الصحابة رضى الله عنهم (الهداية ۴۴۸/۴ كتاب الاضحية)

(۳) و لا يجوز في الاضاحي شئ من الوحشي (الفتاوى الهندية ۲۹۷/۵ كتاب الاضحية. الباب الخامس في بيان محل اقامة الواجب)

ده او کنه؟

(ب) د ځنګلي حیوان بچی که سړی و پالي نو پالونکی مالک دی او کنه؟ او د ده قرباني جائز ده او کنه؟ (۴۲/۷۹۴ ۱۳۴۷هـ)

ځواب: (الف) د دغه حیوانانو قرباني صحیح نه ده په قرباني کي اوښ. غوا. وزه، مږ او نور ذبح کول ضروري دي

(ب) دغه بچی د پالونکي ملک دی او قرباني د دغه حیوان جائز نه ده قرباني د اوښ غوا او وزې د اقسامو سره په شریعت کي خاص ده. (۱) فقط

سوال: (۱۳۵) د ځنګلي حیوانانو قرباني لکه وسی او نورو صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۸هـ)

ځواب: قرباني د وسی او نورو ځنګلي حیوانانو صحیح نه ده. (۲) فقط

د خنثی حیوان قرباني څنګه ده؟

سوال: (۱۳۶) د خنثی وزې قرباني جائز ده او کنه؟ په لومړي صورت کي په فتاوی عالمګیري کي چي راغلي دي: لا تجوز التضحية بالشاة الخنثى لان لحمها لا ينضج(۳) له دغه عبارت څخه څه ثابتیږي؟ او څه تاویل دی؟ (۱۳۳۵/۱۰۱هـ)

ځواب: لکه څرنګه چي د عالمګیري په عبارت ثابت دي دا غه راز په در مختار کي هم راغلي دي: و لا بالخنثى لان لحمها لا ينضج پر دې علامه شامي رحمة الله لیکي: قوله: (لان لحمها لا ينضج) من باب سمع و بهذا التعليل اندفع ما اورده ابن وهبان من انها لا تخلو اما ان تكون ذكرا او انثى و على كل تجوز(۴)

---

(۱) و الاضحية من الابل و البقر و الغنم لانها عرفت شرعا و لم تنقل التضحية بغيرها من النبى عليه السلام و لا من الصحابة رضى الله عنهم (الهداية ٤٤٨/٤ كتاب الاضحية)

(۲) و لا يجوز فى الاضاحى شئ من الوحشى(الفتاوى الهندية ٢٩٧/٥ كتاب الاضحية الباب الخامس فى بيان محل اقامة الواجب)

(۳) الفتاوى الهندية ٢٢٩/٥ كتاب الاضحية الباب الخامس فى بيان محل اقامة الواجب.

(٤) الدر و الرد ٢٢٨/٥ كتاب الاضحية. ط رشيديه

یعنی کله چي علت د خنثی حیوان د قرباني د عدم جواز عدم نضج لحم دی نو د ابن وهبان دغه شبه ساقطه شوه چي د خنثی قرباني باید جائز شي ځکه چي هغه یا مذکر دی یا مؤنث او د دواړو قرباني صحیح ده بیا د خنثی د قرباني د عدم جواز څه وجه ده؟ نو د دې جواب دا ورکول شوی دی چي د عدم جواز علت عدم نضج لحم دی(۱) په قاموس کي راغلي دي چي نضج التمر و اللحم کسمع نضجا ونضجا: ادرک(۲) یعنی د نضج معنی د پخیدو ده. فقط

سوال: (۱۳۷) که د قرباني د حیوان په نر او ماده کیدو کي اشتباه وي نو قرباني یې روا ده که ناروا؟ (۱۳۳۷/۲۵۲۳هـ)

ځواب: د خنثی حیوان قرباني صحیح نه ده.

دکومي غوا چي دوه تي چي شیدې نه کوي د هغې قرباني صحیح نه ده

سوال: (۱۳۸) د داسي غوا قرباني یو سړي وکړه چي صرف تر دوو تیو یې شیدې راتلې آیا داسي قرباني صحیح ده او کنه؟ (۹۲۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د تاترخانیة روایت دی چي د کومي غوا دوه تیه شیدې نه کوي د هغې قرباني نه ده صحیح او په شامي کي له خلاصه څخه منقول دي چي که بېله کوم مرضه شیدې بندې شي نو د دې قرباني صحیح ده(۳) نو بناءًا علی روایة التاترخانیة قرباني د هغې غوا چي له دوو تیو څخه شیدې نه راځي صحیح نه ده ځکه نو اوس چي کله د قرباني وخت تیر شوی دی د یو پسه

---

(۱) نو که د خنثی غوښه په بخاردیګ او نورو ښه پخه شي نو قرباني صحیح کیږي په امداد الفتاوی (۵۷۱/۳) کي راغلي دي: لان لحمها الخ علت دی حکمت نه دی او ښکاره ده چي د علت په ارتفاع سره حکم مرتفع کیږي نو کله چي غوښه ښه پخه شوه نو قرباني صحیح کیږي مګر د خنثی غوښه پخیږي او کنه؟ دا خبره به وروسته معلومه شي ځکه په دغه فتوی کي او په فتاوی رحیمیه قدیم (۳۲۵/۹) کي د خنثی د قرباني د عدم جواز فتوی ورکوله شوه. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۲) القاموس المحیط، ص: ۱۱۹ باب الجیم فصل النون المطبوعة: ممبئی

(۳) و ذکر فیها جواز التي لا ینزل لها لبن من غیر علة و فی التاترخانیة: و الشطور لا تجزی و هی من الشاة ما قطع اللبن عن احدی ضرعیها و من الابل و البقر ما قطع ضرعیها لان لکل واحد منهما اربع اضرع(الشامي ۲۲۸/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

قیمت دې مسکینانو ته ورکړي. فقط و الله تعالی اعلم

کومې وزې چې د ښځې شیدې رودلې وي د هغې د قربانۍ او غوښې حکم

سوال: (۱۳۹) د یوې ښځې د تې کوچنی مړ شو د شیدو د ډیرښت په وجه تیو درد کاوی دې و مرغومې ته تی ورکړی او س له پالنې وروسته په دغه مرغومې قربانې کیدلای شي؟ او د ده غوښه څوک خوړلای شي؟ (۱۳۴۱/۳۱۵هـ)

ځواب: له پالنې وروسته که دغه مرغومی د یو کال وي نو قربانې یې صحیح ده او د نورو حیوانانو په رنګه د دغه غوښه ټول خوړلای شي.

کومې میږې چې د خنزیر غوښه خوړلې وي د هغه قرباني جائز ده

سوال: (۱۴۰) په کومه میږه چې د خنزیر غوښه او ښوروا خوړله شوې وي د هغې قرباني څنګه ده؟ (۱۳۳۸/۱۱۱۷هـ)

ځواب: قرباني کول د دې او خوړل د دې جائز او حلال دي. (۱)

د یو کلنې وزې قرباني دائمه په اتفاق سره صحیح ده

سوال: (۱۴۱) یو سلفي سړي پر دې خبره ټینګار کوي چې د قربانې وزه به دوه کلنه وي په دلیل کې دا حدیث بیانوي: عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تذبحوا الا مسنة الا ان یعسر علیکم فتذبحوا جذعة من الضان رواه مسلم(۲) آیا یو کلنه یا له کال څخه میاشت دوې میاشتې زیات عمر وزې یا وزګړی لائق د قربانې دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۹۳هـ)

(۱) روی ان جدیا غذی بلبن الخنزیر لا باس باکله لان لحمه لا یتغیر و ما غذی به یصیر مستهلکا لا یبقی له اثر(فتاوی قاضی خان علی هامش الفتاوی العالمغیریة ۳۵۹/۳ کتاب الصید و الذبائح)

(۲) مشکاة المصابیح ص: ۱۲۷ کتاب الصلاة باب فی الاضحیة الفصل الاول.

ځواب: وزه چي د يو کال شي په اتفاق د ائمه سره قرباني صحيح ده او د حضرت جابر رضى الله عنه په حديث کي چي دا الفاظ راغلي دي: لا تذبحوا الا مسنة له دې ځخه مراد ثنی دی او ثنی په وزو کي هغه ته ويل کيږي چي د يو کال وي او په او ښانو کي هغه دي چي پنځه کاله پوره شوي وي او په غوا، غوايه، گاميښه کي هغه دي چي دوه کاله پوره شوي وي كما في شرح المشكاة للشيخ الدهلوى رحمه الله تعالى. قوله: "لا تذبحوا الا مسنة" ... يجوز من جميع هذه الاقسام الثنى و هو المراد من المسنة و هو من الابل ما استكمل خمس سنين و طعن في السادسة و من البقر ما استكمل سنتين و من الغنم ضانا كان او معزا ما استكمل سنة(١) نو له دې څخه معلوم شو چي په غنم کي ثنی هغه دي چي پوره د يو کال شي لنډه دا چي د يو کلنی وزې قرباني بېله شکه صحيح ده او که تر دې زياته وي بيا هم غوره دي او د سلفي دا وينا چي تر دوه کاله کمي وزې قرباني نه کيږي غلطه ده د حضرت جابر رضى الله عنه د حديث دا مفهوم نه دی کوم چي دی بيانوي کما مر عن شرح الشيخ الدهلوي او په در مختار کي راغلي دي چي په حنفي فقه کي معتبر کتاب دی و صح الثنى فصاعدا من الثلاثة و الثنى هو ابن خمس من الابل و حولين من البقر و الجاموس و حول من الشاة الخ (٢)

وزه، مېږاو مږيه د قرباني لپاره د څو عمر وي؟

سوال: (١٤٢) د قرباني لپاره به وزه، مېږ او مږ د څو عمر وي؟ (١٣٣٧/٢٢٣٣هـ)

ځواب: مسئله دا ده چي وزه وزګری چي د يو کال وي نو قرباني په کيدلای شي که له يو کال څخه کم وي نو قرباني نه ده په صحيح ليکن مېږه او مږ يعني مږيې که تر شپږو مياشتو زيات وي که څه هم تر کال کم وي مګر چاغ داسي وي چي د کال معلومېږي نو قرباني د ده صحيح ده لکه چي په حديث شريف کي راغلي دي: فتذبحوا جذعة من الضان الحديث(٣) (مشکوة شريف) او په در مختار کي راغلي دي: و صح الجذع ذو

---

(١) الحاشية على المشكاة ص: ١٢٧ كتاب الصلاة باب فى الاضحية رقم الحاشية٩.

(٢)الدر مع الرد ٢٢٦/٥ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(٣) عن جابر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تذبحوا الا مسنة الا ان يعسر عليكم تذبحوا جذعة من الضان رواه مسلم(مشكاة المصابيح ص: ١٢٧ كتاب الصلاة باب فى الاضحية. الفصل الاول)

ستة اشهر من الضان ان کان بحیث لو خلط بالثنایا لا یمکن التمیز من بعد الخ. (۱) فقط

سوال: (۱۴۳) په قرباني کي میږ باید د څومره عمر وي؟ او وزه د څو میاشتو؟ او مږ د څومره عمر؟ په مږ او میږ کي فرق شته او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۱۷۰هـ)

ځواب: د قربانۍ لپاره د وزې او وزګړي لپاره پوره یو کال ضروري دی او میږ او مږ که تر شپږو میاشتو اوښتی وي نو بیې هم قرباني صحیح ده په دې شرط چي غټ او چاغ وي چي د یو کال معلومیږي او په اوچکول مږ او میږ کي هیڅ فرق نشته د ټولو حکم یو دی.

د شپږو میاشتو وري او ورۍ قرباني څنګه ده؟

سوال: (۱۴۴) د ورۍ او وري چي د شپږو میاشتو وي قرباني څنګه ده؟ (۱۳۳۸/۲۲۲۲هـ)

ځواب: ورۍ او ورى دواړه ضان دي د دواړو قرباني کله چي تر شپږ میاشتي اوښتي وي په دې شرط چي چاغ وي او د کال معلومیږي صحیح ده اما وزه او وزګړی به د پوره کال وي په در مختار او شامي کي تفصیل موجود دی د در مختار عبارت دا دی: و صح الجذع ذو ستة اشهر من الضان ان کان بحیث لو خلط بالثنایا لا یمکن التمیز من بعد الخ په شامي کي راغلي دي: قوله: (من الضان) هو ما له الیة منح قید به لانه لا یجوز الجذع من المعز وغیره بلا خلاف(۲) و ذکر فی الاصل عن ابی حنیفة رحمه الله تعالی انه یجوز خانیة ثم قال: و ان کان لها الیة صغیرة مثل الذنب خلقة جاز اما علی قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی فظاهر لان عنده لو لم یکن لها اذن اصلا و لا الیة جاز الخ(۳) (شامي ۴۰۷/۵) نو معلوم شو چي میږ چي صرف لکۍ لري لم نلري هغه هم صحیح ده او ضان دواړو ته شامل دی او تفسیر د دې په ماله الیة سره د اکثر په اعتبار او د اکثري عادت دی او د شامي له عبارت څخه معلوم شو چي د ماله الیة

---

(۱) الدر مع الرد ۲۲۶/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدر و الرد ۲۲۶/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۳) رد المحتار ۲۲۸/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

قید د وزې د اخراج لپاره دی له میږې څخه احتراز کولو لپاره نه دی.

سوال: (۱۴۵) لم لرونکي میږې بچي چې د شپږو میاشتو وي په قرباني او عقیقه کي حلالول څنګه دي او د بې لمه میږې د شپږو میاشتو بچي په قرباني او عقیقه کي حلالول څنګه دي؟ (۱۹۴۷/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: د لم لرونکي او نه لرونکي دواړو میږو حکم یو دی چي شپږ میاشتي پوره شي او ومه شروع شي نو قرباني یې صحیح ده مګر شرط دا دی چي داسي به چاغ وي چي په کتلو د کال معلومیږي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۶) لم لرونکي او نه لرونکي میږ که تر شپږ میاشتي اوښتي وي نو داسي چاغه وي چي د کال معلومیږي نو قرباني یې صحیح ده قال فی الدر المختار و صح الجذع ذو ستة اشهر من الضان ان کان بحیث لو خلط بالثنایا لا یمکن التمییز من بعد الخ(۱) و فی الشامي: و ان کان لها الیة صغیرة مثل الذنب خلقة جاز(۲) (شامي) او حضرت شاه رفیع الدین دهلوي قدس سره د "من الضان اثنین" ترجمه دا کړې ده: له میږو څخه دوي الخ(۳) فقط

وزه یا وزګړی که تر کال کم وي نو قرباني نه په صحیح کیږي

سوال: (۱۴۷) د شپږو یا اتو میاشتو چاغه وزه یا وزګړي قرباني صحیح ده او کنه؟ (۱۷۰۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: تر یو کال کم وزې او وزګړي قرباني صحیح نه ده اما میږ او وری که تر کال کم له شپږو میاشتو څخه زیات وي مثلاً د اوو اتو میاشتو وي مګر چاغ وي د کال معلومیږي د هغه

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ۲۲٦/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) رد المحتار ۲۲۸/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۳) قرآن مجید مترجم معه فوائد موضح القرآن ص: ۱۹۳ سورة انعام، آیت: ۱۴۳.

قرباني صحیح ده په در مختار کي راغلي دي: و صح الجذع ذو ستة اشهر من الضان ان کان بحیث لو خلط بالثنایا لا یمکن التمیز من بعد قال فی الشامی: قوله: (من الضان الخ) قید به لانه لا یجوز الجذع من المعز وغیره بلا خلاف الخ. (۱)

وزه که تر کال یوه ورځ هم کمه وي نو قرباني یې نه کیږي

سوال: (۱۴۸) وزه که تر کال اته ورځي کمه وي او بنهٔ چاغه وي چي د کال تر نورو وزو افضله او چاغه وي په داسي صورت کي قرباني کیدلای شي او کنه؟ (۱۱/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: وزه که تر کال دوې څلور ورځي کمه وي بیا یې هم قرباني جائز نه ده ځکه چي پر دې د ټولو اتفاق دی چي وزه وزګړی چي تر کال کم وي قرباني نه په صحیح کیږي په وړیانو او مږ کي حکم دا دی چي که هغه چاغ وي د کال معلومیږي نو که تر کال کم وي بیا هم صحیح دی قال فی الدر المختار: و صح الثنی فصاعدا من الثلاثة و الثنی هو ابن خمس من الابل،و حولین من البقرو الجاموس و حول من الشاة و المعز الخ(۱) و فیه ایضا قبیله: و صح الجذع الخ من الضان (۱) و فی الشامی قوله: (من الضان) هو ماله الیة منح قیدبه لانه لا یجوز الجذع من المعز و غیره بلا خلاف الخ(۱) (شامي) فقط

سوال: (۱۴۹) د یوې وزې تر کال پوره کیدو پنځلس ورځي کمي دي لیکن چاغه داسي ده چي د دوو کلونو معلومیږي د دې قرباني څنګه ده؟ (۱۳۳۷/۲۴۴۲هـ)

ځواب: که د اختر ورځي ته د دې کال پوره شي نو قرباني یې صحیح ده او که تر کال پوره کیدو څخه یوه ورځ هم کمه وه نو قرباني یې نه صحیح کیږي کذا فی کتب الفقه(۱) فقط

د لوی اختر په څلورمه پیدا شوي مرغومي قرباني راروان کال نه صحیح کیږي

سوال: (۱۵۰) کوم مرغومي چي د ذو الحجې په دیارلسمه پیدا شي د ده قرباني راروان کال صحیح ده او کنه؟ (۱۲۱۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

(۱) الدر و الرد ۲۲٦/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

ځواب: په قرباني کي چي د وزې لپاره کوم یو کال شرط دی مراد له هغه څخه قمري کال دی نو کوم مرغومی چي د لوی اختر په څلورمه پیدا شو د ده قرباني راروان کال نه صحیح کیږي.

د اختر په دوهمه پیدا شوي مرغومي قرباني راروان کال د اختر په دریمه صحیح ده

سوال: (۱۵۱) یو مرغومی د لوی اختر په دوهمه پیدا شو نو راروان کال د لوی اختر په دریمه د ده کال پوره کیږي.ایا د ده قرباني به صحیح وي؟ (۴۱۱/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: قرباني صحیح کیږي.

سوال: (۱۵۲) یو سړی ښه چاغ او تکړه وزګړی راوستی د کور ساتلي ؤ څکه داسي معلومیدی لکه چي د یو نیم کال وي مګر مالک وایي چي ما کله واخیستی نو اندازًا د دوو دوونیمو میاشتو ؤ له چا څخه چي مي واخیستی د هغه تاریخ او ورځ په یاد نه ؤ د رانیولو تقریبًا نهه لس میاشتي کیږي لنډه دا چي دا خبره یقیني نه ده چي کال به پوره وي د داسي وزګړي قرباني څنګه ده؟ (۲۵۲۴/۱۳۳۷ھ)

ځواب: که تر کال پوره کیدو یوه ورځه هم کمه وي نو قرباني د ده نه صحیح کیږي او کله چي د وزګړي د څیریدني تاریخ معلوم نه دی نو که په غالب ګمان دی د کال پوره معلومیږي نو قرباني د ده صحیح ده کنې نه ده صحیح.

د قرباني له حیوان څخه استفاده کول

سوال: (۱۵۳) د قرباني له حیوان څخه استفاده کول مثلاً شیدې یې خوړل او نور جائز دي او کنه؟ (۸۲/۱۳۴۱ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و یکره الانتفاع بلبنها قبله کما فی الصوف(۱) یعني له قرباني څخه مخکي د ده له شیدو څخه استفاده کول مکروه دي و منهم من اجازهما للغنی لوجوبها فی الذمة فلا تتعین الخ(۱) او ځینو فقهاء د غني لپاره له شیدو او وړیو څخه استفاده کول جائز فرمایلي دي مګر په شامي کي فرمایلي دي چي صحیح دا دي چي جائز نه دي(۲) نو که شیدې ولوشي نو هغه دي صدقه کړي. (۳)

د قرباني او نذر لپاره مقرر کړي حیوان بچی وزیږاوی

سوال: (۱۵۴) یو سړي نذر ومانی چي فلانی معلومه غوا به د لوی اختر په ورځ حلالوم یا که زما فلانی کار وشو نو فی سبیل الله به ذبح کوم اوس که دغه غوا لنګه شوه نو د دې په بچي او شیدو به څه کوي؟(۱۲۰۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په داسي صورت کي دغه د غوا بچی هم باید ذبح کړي او شیدې یې صدقه کول ضروري دي کله چي ده د معلومي غوا نذر یا په هغه کي د قرباني نیت کړی دی نو د هغې هر هر جز معین شو په فتاوی قاضي خان کي راغلي دي: اضحیة خرج من بطنها و لد حی قال عامة العلماء رحمهم الله تعالی: یفعل بالولد ما یفعل بالام فان لم یذبحه حتی مضت ایام النحر یتصدق به حیا الخ(۴) (قاضی خان ۳۴۹/۳)

د قرباني د مړوړي سګستل

سوال: (۱۵۵) کوم سړی چي مړ او نور د قرباني په نیت رانیسي یا یې وپالي وروسته د خپلي طمع لپاره

---

(۱) الدر المختار مع الرد ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) فی الشامی: قوله: (لوجوبها فی الذمة فلا تتعین) و الوجوب ان المشتراة للاضحیة متعینة للقربة الی ان یقام غیرها مقامها فلا یحل له الانتفاع بها ما دامت متعینة و لهذا لا یحل له لحمها اذا ذبحها قبل وقتها (الشامی ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

(۳) فان کانت التضحیة قریبة نضح ضرعها بالماء البارد و الا حلبه و تصدق به(رد المحتار ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

(٤) الفتاوی الخانیة مع الفتاوی الهندیة ۳۵۰/۳ کتاب الاضحیة فصل فیما یجوز فی الضحایا و ما لا یجوز.

وری، وروسکستي بنائست يې ورخراب کړي آيا د داسي مړ قرباني صحيح ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۴۰هـ)

ځواب: د قربانۍ په ورځو کي چي کوم مړ د قربانۍ لپاره رانيول شو يا د قربانۍ لپاره نذر کړل شو د ده ورۍ له سکستلو وروسته پخپل کار راوړل يا خرخول صحيح نه دي د دې صدقه کول لازم دي(۱) او قرباني صحيح ده ليکن بېله دغه وړيو يا د دې د قيمت صدقه کولو به په قرباني کي نقصان وي.

د قربانۍ د حيوان د خوراک اخور صدقه کول ضروري نه دي

سوال: (۱۵۶) د قربانۍ لپاره چي کوم حيوان دوې مياشتي مخکي رانيول شي هغه ته چي په کوم لوښي کي خوراک او نور ورکول کيږي د هغه لوښي صدقه کول ضروري دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۹۴۲هـ)

ځواب: دغه اخور او نور صدقه کول ضروري نه دي.

که د قربانۍ د حيوان په خيټه کي ژوندی بچی ؤنو...

سوال: (۱۵۷) د کوم حيوان په خيټه کي چي ژوندی بچی وي او سړی مخکي په خبر نه وي چي دا برالبه ده نو په دغه بچي څه وکړي؟ او قرباني صحيح کيږي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۴۸هـ)

ځواب: دغه بچی دي هم د قرباني سره حلال کړي قرباني صحيح ده.

په يوه قرباني کي څو کسان ونډه اخيستلای شي

سوال: (۱۵۸) په يوه قرباني کي په يو ځای څو کسان ونډه اخيستلای شي؟ (۱۳۴۰/۱۲۴۷هـ)

ځواب: په قرباني په مېږ او وزه يعني په پسه کي يو کس او په اوښ غوا او ګاميښه کي اووه ونډي وي د يوه سړي له طرفه يوه غوا هم کيدلای شي او له اوو ونډو څخه چي څومره ونډي

---

(۱) ر کره جز صوفها قبل الذبح ينتفع به فان جزه تصدق به(الدر مع الشامی ۵/۲۳۱ کتاب الاضحية. ط رشيديه)

ږغواړي کولای شي او اووه کسان هم یکي ونډه نیولای شي.

سوال: (۱۵۹) د غوا یا اوښ په قرباني کي اووه کسان ونډه اخیستلای شي د دې څه دلیل دی؟ (۱۳۴۰/۲۴هـ)

ځواب: په حدیثو کي داسي راغلي دي. (۱)

سوال: (۱۲۰) اووه چي په یوه غوا کي د قرباني ونډه اخیستلای شي کوم چي په حدیثو کي راغلي دي دا اووه کسان به د یو کوروي که د بیلو بیلو کورونو؟ (۱۳۳۷/۱۳۹۳هـ)

ځواب: که د یو کور او سیدونکي وي او که د جلا جلا کورونو اووه ونډي په غوا کي په هر صورت کیدلای شي.

په یوه غوا کي ونډه نیونکی له اوو څخه کم کیدلای شي

سوال: (۱۲۱) په یوه غوا دوه کسان شریکان دي که دوی دواړه نیم په نیمه غوښه او نور تقسیم کړي نو داسي څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۹۳۱هـ)

ځواب: صحیح دي. فقط

سوال: (۱۲۲) د قرباني په غوا کي ونډه نیونکي درې برخي یا څلور برخي یا پنځه برخي مثلاً برابري کړي نو صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۱۵هـ)

ځواب: که درې یا څلور یا پنځه یا شپږ کسان مثلاً په یوه غوا شریکان شي قرباني وکړي او مثلاً پنځه یا څلور برخي برابري کړي نو په دغه صورت کي قرباني صحیح ده په در مختار کي راغلي دي: و تجزي عما دون

---

(۱) عن جابر رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: البقرة عن سبعة و الجزور عن سبعة رواه مسلم و ابو داؤد و اللفظ له(مشكاة المصابيح ص: ۱۲۷ كتاب الصلاة باب فی الاضحیة الفصل الاول) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما قال: حججنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فنحرنا البعیر عن سبعة و البقرة عن سبعة و عنه رضی الله عنه قال: كنا نتمتع مع رسول الله صلی الله علیه وسلم بالعمرة فنذبح البقرة عن سبعة نشترک فیها (الصحیح لمسلم ۴۲۴/۱ كتاب الحج، باب جواز الاشتراک فی الهدی و اجزاء البدنة و البقرة كل واحدة منهما عن سبعة)

سبعة بالاولی(۱) یعني که له اوو کسانو څخه کم د یوې غوا قرباني وکړي نو بالاولی جائز ده. فقط

سوال: (۱۲۳) پنځه یا شپږ کسانو په ګډه یوه غوا په برابرو برخو قرباني کړه نو جائز ده او کنه؟(۱۳۴۲/۲۲هـ)

ځواب: اقول و بالله التوفیق: په در مختار کې راغلي دي: و تجزی عما دون سبعة بالاولی (۲) نو معلوم شو چې که په یوه غوا کې له اوو کسانو څخه کم یعني څلورو پنځو یا شپږو کسانو ونډه ونیوله او ټول برابر غوښه تقسیم کړي نو دا سې جائزدي هیڅ کراهیت پکې نشته او د اولی خلاف نه دی بلکه د در مختار د لفظ بالاولی څخه معلومیږي چې په دې کې زیات ثواب دی او قیاس همدا دی ځکه چې اجر په قدر د عمل دی. فقط

په یوه غوا کې تر اووه زیات شریکان نشي کیدلای

سوال: (۱۲۴) د یوې غوا په قرباني کې اووه کسان شریکیدلای شي که تر اوو کسانو کم په یوه قرباني شریکان شي نو څنګه دي؟(۱۳۳۳-۳۲/۷۹۳هـ)

ځواب: په یوه غوا کې تر اووه څخه زیات ونډه نشي اخیستلای مګر کم صحیح دي درې څلور کسان پوره غوا کولای شي. (۳)

په یوه غوا کې اووه ونډه نیونکي وي نو د قیمت په تقسیم برابري ضروري ده او کنه؟

سوال: (۱۲۵) اووه کسان په یوه غوا د قربانۍ په نیت شریکان شول د غوا قیمت لس روپۍ دی که د دې په برخو کې د مساوات فی التقسیم خیال وساتل شي نو د کسر مشکل پکې راځي باید څه ډول تقسیم وشي؟(۱۳۳۴-۳۳/۲۱۱۵هـ)

---

(۱) الدرالمختار مع الشامی ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) مخکنی حواله

(۳) و لو لاحدهم اقل من سبع لم یجز عن احد، و تجزی عما دون سبعة بالاولی(الدر المختار مع الشامی ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

ځواب: که کوم شریک د آنې په حساب پیسې ورکړي کومې پیسې چې زیاتې وي هغه دي د غوا مالک یعني بائع ته ورکړي نو دا هیڅ پروا نلري او که یو شریک د بل له طرفه څه پیسې زیاتې ورکړي نو دا هم څه پروا نلري.

سوال: (۱۲۶) اوو کسانو په دوولس روپۍ غوا رانیوه او قرباني یې وکړه د هر یو په برخ یوه روپۍ پاؤ باندي یوولس آنې او نیمه پیسه راغلو یوه نیمه پیسه پر سر پاته شوه چې حساب یې نه سمیږي که یو شریک ورکړي و نوور ته ور وبخښي نو د ټولو قرباني صحیح او جائزده کنه؟ (۱۳۴۱/۷۳۸هـ)

ځواب: په دغه صورت کې د ټولو قرباني صحیح ده. فقط

په یوه غوا شریکان پنځه دي نو برخي څنګه تقسیم کړي؟

سوال: (۱۲۷) یو سړی وایي چې که په یوه غوا پنځه کسان شریکان وي نو دوه کسان دي دوې دوې برخي او درې کسان دي یوه یوه برخه واخلي او قیمت دي هم په دغه حساب ورکړي. (۹۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: پنځه یا څلور یا زیات او کم که یوه غوا قرباني کوي نو که ټول برابره تقسیم کړي او برابر قیمت ورکړي دا صحیح دي او که یو شریک دوې ونډې غواړي هغه دي دوې واخلي او قیمت دي زیات ورکړي لنډه دا چې که شریکان پنځه دي نو د اوو برخو کولو ضرورت نشته د دې تصریح په در مختار او نورو فقهي کتابونو کې راغلې ده. (۱)

حیوان خرڅونکی په قرباني کې شریکول

سوال: (۱۲۸) د یو سړي خپله غوا وه شپږو کسانو ورته ویول چې زمونږ څخه شپاړس روپۍ واخله مونږ او ته به سره شریکان شو څکه ده ته شپاړس روپۍ ورکړې ټولو په ګډه قرباني وکړه دا سې کول څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۹۲۲هـ)

---

(۱) و تجزی عما دون سبعة بالاولی (الدر مع الرد ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه) و تجوز عن خمسة او ستة او ثلاثة ذکر محمد رحمه الله فی الاصل لانه لما جاز عن سبعة فعمن دونهم اولی (الهدایة ٤٤٤/٤ کتاب الاضحیة)

ځواب: په دغه صورت کي قرباني صحيح ده.

له قرباني کولو وروسته د غائب شريک پر ځای بل څوک شريکول

سوال: (۱۲۹) په يوه غوا اووه کسان د قربانۍ په نيت شريکان شول چي کله حلالو له نو يو شريک موجود نه ؤ نورو شريکانو تر ډيره ورته انتظار وکړی خود ده په نه موجوديت کي غوا حلاله کړه کله چي د غوښي اووه برخي جوړي کړې خو دی موجود نه ؤ ځکه نورو شريکانو تر ډير انتظار وروسته يو بل سړی شريک کړی هغه برخه وهغه سړي ته ورکړه اوس ملايان وايي چي له ذبح وروسته چي کوم سړی شريک شو د هغه په وجه د دې نورو کسانو قرباني هم صحيح نه شوه دا خبره صحيح ده او کنه؟ په دوی کي يو شريک وايي چي زه به ودغه نوي شريک ته روپۍ بيرته ورکړم اوزما به دوې ونډې شي. (۱۳۴۷-۴۲/۷۷هـ)

ځواب: کله چي د ذبح پر مهال د دغه غايب شريک د قرباني نيت ؤ او د نورو حاضرو د خپلو خپلو برخو د قربانۍ نيت ؤ نو قرباني د ټولو صحيح شوه په در مختار کي راغلي دي: کما لو ضحی اضحية غيره بغير امره(۱) نو معلوم شو چي قرباني په دغه صورت کي د ټولو حاضرينو صحيح شوه اوس که هغه غائب سړی يو مخ نه راغلی او نه ده د خپلي برخي قيمت ادا کړی نو دغه قيمت که ټول شريکان ادا کړي او که يو شريک ادا کړي صحيح دي لنډه دا چي د قربانۍ په صحيح کيدو کي هيڅ شک نشته اما له ذبح وروسته چي کوم سړی شريک کړی او د غائب برخه ده ته ورکړه دا صحيح نه وشول د ده قرباني نه ده شوې چي له ذبح وروسته شريک شو ليکن د دغه غوا قرباني صحيح شوه او د حاضرو شريکانو قرباني هم صحيح شوه او که هغه غائب سړی راشي هغه ته هم ووايا ست چي ستا قرباني هم په دغه غوا کي صحيح شوه ته د خپلي ونډې قيمت راکړه و فی اوائل القاعدة الاولی من الاشباه: لو شراها بنية الاضحية فذبحها غيره بلا اذنه فان اخذها مذبوحة و لم يضمنه اجزاته و ان ضمنه

---

(۱) الدر مع الرد ۵/ ۲۳۰ کتاب الاضحية. ط رشيديه

لا تجزئه و هذا اذا ذبحها عن نفسه اما اذا ذبحها عن مالکها فلا ضمان علیه. (۱) فقط

له قربانۍ وروسته خپله وندړه خرڅول صحیح نه دي

سوال: (۱۷۰) اوو کسانو خپله غوا حلاله کړه له غوښو وېشلو وروسته یو سړی راغلی وې ویل چي یوه برخه ماته راکړي یوه شریک قیمت ځني واخیستی خپله برخه یې ورکړه داسي کول څنګه دي؟ (۲۰۸/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د قربانۍ له ذبح وروسته بیا برخه بدلول صحیح نه دي باید قیمت بیرته ورکړي. فقط

که په یوه وندړه څو کسان شریکان وي نو د هیچا قرباني نه صحیح کیږي

سوال: (۱۷۱) که د قربانۍ په یوه وندړه دوه درې کسان شریکان شي نو د دوی واجب قرباني به ادا شي او کنه؟ (۲۵۵۵/۱۳۳۵ھ)

ځواب: د غوا یوه وندړه د یو سړي له طرفه صحیح ده د زیاتو له طرفه صحیح نه ده نو که په یوه برخه کي څو کسان شریکان شول نو په دوی کي د هیچا هم قرباني صحیح نه شوه. (۲)

په غوا کي اوومه وندړه د نبي علیه الصلاة و السلام له طرفه نیول

سوال: (۱۷۲) شپږ کسانو د قربانۍ لپاره غوا رانیوله د هر یو له طرفه یوه برخه او یوه برخه په ټولو د نبي علیه الصلاة و السلام له طرفه ونیوه په دې صورت کي قرباني صحیح کیږي او کنه؟ او د اوومي برخي په اړه څه حکم دی؟ او د دغه برخي قرباني د نبي علیه الصلاة و السلام له طرفه صحیح کیږي او کنه؟ (۲۷۸/۳۵-۱۳۳۶ھ)

---

(۱) الدر مع الشامی ۲۳۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) و لو لاحدهم اقل من سبع لم یجز عن احد(الدر المختار مع الشامی ۲۲۲/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و تجزی عما دون سبعة بالاولی(۱) له دغه روايت ځخه معلوم شو چي که شپږ شريکان په يوه غوا وي نو قرباني د دوی صحيح ده د دغه شپږو کسانو قرباني صحيح کيږي(۲) او هغه چي د هر يو له برخي ځخه ځه زياتوب راغلی هغه د هيڅا له طرفه هم مستقله قرباني نشي کيدلای.

سوال: (۱۷۳) که په قرباني کي اوومه برخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه پنځه يا شپږ شريکان ونيسي نو ځنګه دي؟ (۲۰۱۰/۱۳۳۸ھ)

ځواب: يوه برخه په څو کسانو نه کيږي د نبي عليه الصلاة و السلام له طرفه که څوک کوي پوره حصه دي وکړي.

د مړي د قرباني کولو لپاره چنده کول

سوال: (۱۷۴) د مړي له طرفه قرباني کولو لپاره که څو کسان چنده سره وکړي نو څنګه دي؟ (۹۵۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: يوه ونډه بايد د يو وارث په روپيو وي ځکه قرباني به د ده له طرفه شي ثواب به د مړي شي په دې کي د چندې صورت صحيح نه دی.

يوه ونډه د نبي عليه الصلاة و السلام يوه د قرباني کونکي او پنځه د ده د مړو خپلوانو

سوال: (۱۷۵) که په يوه غوا کي قرباني دا ډول وکړي چي يوه ونډه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او

---

(۱) الدر مع الرد ۲۲۲/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۲) دا حکم هغه وخت دی کله چي شپږو شريکانو يا په شپږو شريکانو کي بعضو د اوومي برخي قرباني د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه کړې وي ځکه چي په دغه صورت کي د يو شريک برخه هم له اوومي برخه ځخه نه کيږي زياتوب کيږي ليکن که اوومه برخه له شپږو شريکانو ځخه سيوا څو کسان رانيسي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه قرباني وکړي نو د هيڅا قرباني نه صحيح کيږي ځکه چي په دغه صورت کي د ځينو برخه تر اوومه کمه راځي او مسئله دا ده چي په شريکانو کي به د چا برخه تر اوومه کمه نه وي په هدايه کي راغلي دي و كذا اذا كان نصيب احدهم اقل من السبع لا يجوز عن الكل لا نعدام و صف القربة فى البعض(۴۲۹/٤ كتاب الاضحية)

پنځه برخي د خپلو پنځو نورو مړو خپلوانو او یوه ونډه خپله وي نو جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۳۴هـ)

ځواب: دا ډول قرباني کول صحیح دي. فقط

یوه غوا د ځان او وفات شویو مور او پلار له طرفه قرباني کول

سوال: (۱۷۶) د یوې غوا قرباني د اوو پر ځای د دریو له طرفه کیدلای شي او کنه؟ یعني زما مور او پلار چي وفات شوي او زه پخپله زما اراده د یوې غوا قرباني کولو ده په دې صورت کي څه حکم دی. (۱۳۳۷/۲۵۰۷هـ)

ځواب: د یوې غوا قرباني د دریو کسانو له طرفه هم کیدلای شي نو کوم صورت چي تاسو لیکلی دی چي ته یوه غوا د ځان او خپل مور او پلار له طرفه قرباني کوي دا جائز او د ثواب کار دی. فقط

د ټول کوروالو له طرفه یوه وزه قرباني کول صحیح نه دي

سوال: (۱۷۷) په کوم حدیث کي دا روایت راغلی دی او کنه؟ چي یوه وزه د یوې ډلي له طرفه قرباني کیدلای شي که راغلي دي نو په کوم حدیث کي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۳۴۲هـ)

ځواب: په حدیثو هم دا ثابتدي چي د یوې وزې قرباني د یو کس له طرفه کیدلای شي همدغه د احنافو مذهب دی(۱) که له کوم روایت څخه په ظاهره دا معلومیږي چي د ټول کور والو له طرفه یوه قرباني کافي ده نو د هغه مطلب دا دی چي قرباني د یو کس له طرفه وي او خوړونکي ټول وي.

سوال: (۱۷۸) سلفیان وایي چي پر سړي سر یوه وزه قرباني کول ضروري نه دي بلکه د ټول کوروالو له طرفه یوه وزه کافي ده ځکه چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي همدا سي ؤ. (۱۳۳۰-۲۹/۲۰۱۲هـ)

---

(۱) و یذبح عن کل واحد منهم شاة او یذبح بقرة او بدنة عن سبعة والقیاس ان لا تجوز الا عن واحد لان الاراقة واحدة و هی القربةالا انا ترکناه بالاثر و هو ما روی عن جابر رضی الله عنه انه قال: نحرنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم البقرة عن سبعة و البدنة عن سبعة و لا نص فی الشاة فبقی علی اصل القیاس(الهدایة ٤/٤٤٤ کتاب الاضحیة)

ځواب: په کور کي چي کله يو کس د نصاب مالک دی لکه چي زياتره داسي وي چي د کور مشر د نصاب مالک وي نور ټول د ده عيال وي نو په داسي صورت کي يوه قرباني کول واجب دي نوري نفلي دي او دا هم محمل دي د دغه روايت چي پکي دا راغلي دي چي ځينو صحابؤ پخپل کور کي يوه قرباني کوله او کله چي په کور کي څو کسان د نصاب مالکان وي نو پر هر يو باندي قرباني کول واجب ده. فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۱۷۹) د يو سړي له طرفه د يوې قرباني کولو حکم دی که يوه قرباني د ټول کور والو له طرفه وکړي شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۳۹/۲۹۴۸هـ)

ځواب: د يو پسه قرباني د يو سړي له طرفه کيدلای شي که په کور کي څو کسان د نصاب مالکان وي نو د هر يو له طرفه جلا جلا قرباني کول پکار ده. فقط

له حلالولو مخکي برخي معلومول ضروري دي

سوال: (۱۸۰) د ټولو شريکانو د برخو تعين په وخت د قربانۍ د رانيولو لازم دی؟ که د رانيولو پر مهال يو برخه زياته وي نو داسي ويل چي که څوک پيدا شو شريک به کړو؟ (۱۳۳۸/۲۱۷هـ)

ځواب: په دې کي دا تفصيل دی چي له ذبح څخه مخکي مخکي د برخو تعين کيدلای شي د رانيولو پر مهال د ټولو شريکانو د برخي تعين ضروري نه دی.

په يوه قرباني کي ځيني ونډې د ژوند يو او ځيني د مړونيول

سوال: (۱۸۱) په غوا کي ځيني ونډې د ژوندیو له طرفه او ځيني د مړو له طرفه وي جايزدي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۱۳۲هـ)

ځواب: صحيح دي

غني له ذبح مخکي خپله برخه خرڅولای شي

سوال: (۱۸۲) زید په قرباني کي يوه برخه اخيستې وه له ذبح مخکي په رضا خپله برخه و بکر ته ورکړه او د خپلي برخي بيه واخيسته بل ځای يې په قرباني کي ونه ونيوله آيا په دغه صورت کي د دواړو قرباني صحيح شوه؟ او که تر ذبح وروسته سړی داسي وکړي بيا هم جائز دي او کنه؟ او د نورو شريکانو قرباني هم صحيح شوه او کنه؟ (۹۵۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: تر ذبح مخکي داسي کول صحيح دي او د دواړو قرباني صحيح ده تر ذبح وروسته داسي کول صحيح نه دي او د نورو شريکانو قرباني صحيح ده.

نصاب نه لرونکي په قرباني کي شريکول

سوال: (۱۸۳) اوو کسانو يو حيوان د قربانۍ لپاره رانيوی په دوی کي شپږ د نصاب خاوندان دي او يو ناوسه د نصاب خاوند نه دی نو د ده په شراکت د ټولو قرباني صحيح کيږي او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۰۷۳هـ)

ځواب: د قرباني صحيح کيدو لپاره شرط دا ده چي د اوو سره شريکانو نيت د ثواب وي نو که په اوو شريکانو کي يو شريک د نصاب مالک نه وي او دی نفلي د الله د رضا لپاره قرباني کوي نو د ټولو قرباني صحيح ده د قربت د وجوب يا تطوع يا د قربت د جهت په اختلاف پر قرباني کوم اثر نه لويږي په فتاوی هنديه کي راغلي دي: و لو ارادوا القربة الاضحية او غيرها من القرب اجزاهم سواء كانت القربة واجبة او تطوعا او وجب على البعض دون البعض و سواء اتفقت جهات القربة او اختلفت الخ (۱) و فی الحديث عن جابر رضی الله عنه قال: نحرنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم عام الحديبية البدنة البقرة عن سبعة رواه مسلم(۲) و هو باطلاقه تشمل الكل. فقط

(۱) الفتاوی الهندية ۳۰٤/٥ كتاب الاضحية الباب الثامن فيما يتعلق بالشركة فی الضحايا.

(۲) مشكاة المصابيح ص: ۲۳۱ كتاب المناسک باب الهدی.

زنانی په قربانی کی شریکول صحیح دی

سوال: (۱۸۴) ... (الف) ځینی ښځی په قربانی کی برخه اخلی مګر ځینی کسان وایی چی ښځی شرک ډیر کوی دوی باید په قربانی کی شریکی نه کړل شي آیا د دوی شریکول څنګه دي؟

(ب) یو سړی چی قربانی پر واجب ده دی خپله برخه خو کوی مګر د ځان سره د خپلی ښځی ونډه هم په قربانی کی نیسی دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۴۷هـ)

ځواب: (الف) د مسلمانو ښځو په قربانی کی برخه اخیستل صحیح دي په داسی توهماتو په قربانی کی هیڅ تاوان نه راځي.

(ب) صحیح دي

په قربانی فاسق شریکول

سوال: (۱۸۵) د متقي لپاره د فاسق سره په قربانی کی شراکت کول جائز دي او کنه؟ غوره څه دي؟ (۱۳۳۷/۲۲۱۷هـ)

ځواب: قربانی صحیح کیږي مګر غوره دا دي چي د صلحاء سره شراکت وکړي

سوال: (۱۸۶) د لمونځ ګزاره سړي لپاره د بې لمانځه او سود خوره سره په قربانی کي شرکت کول جائز دي او کنه؟ که د سود خور روپۍ حلالي هم وي؟ (۱۳۴۰/۲۲۲۵هـ)

ځواب: په دغه صورت کي قرباني ادا کیږي.

سوال: (۱۸۷) اووه کسان په یوه غوا په نیت د قربانۍ شریکان شول چي پکي یو سړی سود کونکی هم شته مګر په قرباني کي د سود روپۍ نه دي ورکړي په داسي صورت کي به قرباني څنګه وي؟ (۱۳۴۳/۹۲۲هـ)

ځواب: په دغه صورت کي قرباني د ټولو جائز ده. فقط

سوال: (۱۸۸) د سود خور رشوت خور او د دوی سره شریکیدونکیو کسانو

قرباني صحيح کيږي او کنه؟(۲۱۰۰/۴۶-۱۳۴۷ھ)

ځواب: قرباني د دغه خلګو ادا کيږي او څوک چي د دوی سره په قرباني شريکان وي د هغوی قرباني هم ادا کيږي.

په قرباني کي شيعه شريکول

سوال: (۱۸۹) په لوی اختر کي په قرباني کي شيعه شريکول کله چي ذبح کونکی سني وي څنګه دي؟ او که ذبح کونکی شيعه ؤ نو څنګه دي؟(۹۲۱/۱۳۳۷ھ)

ځواب: په دواړو صورتونو کي د شيعه له شراکته ځان ساتنه غوره ده.

په قرباني کي قادياني شريکول

سوال: (۱۹۰) شپږ کسان په يوه قرباني شريکان وي اووم کس د مرزائي ډلي ورسره شريک شو داسي قرباني څنګه ده؟(۱۰۴۱/۱۳۳۸ھ)

ځواب: په دغه صورت کي قرباني صحيح نه ده ځکه چي پر قادياني د کفر فتوی لګېدلې ده.

که يو شريک جلا شي؟

سوال: (۱۹۱) په يوه غوا څو کسان شريکان دي که په دوی کي يو شريک جلا کيدل وغواړي نو جائز دي او کنه؟(۹۸۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: جائز دي. فقط و الله تعالی اعلم

و مسکين ته په خيرات کي ورکړی حيوان د قرباني لپاره رانيول

سوال: (۱۹۲) زيد د خپل ځان په بدل يو حيوان و عمر ته په خيرات کي ورکړی او علی وجه الکمال يې مالک جوړ کړی آيا اوس زيد دغه حيوان له عمر څخه په بيه د قرباني کولو يا صدقه کولو لپاره اخيستلای شي او کنه؟ داغه راز بل څوک يې د عمر څخه د قربانۍ او نورو لپاره په بيه اخيستلای شي او کنه؟(۱۱۸۹/۱۳۳۷ھ)

ځواب: د فقهي په قاعده دغه خیرات کړی حیوان د قرباني کولو لپاره رانیولای شي ځکه چي کله متصدق علیه د دې مالک شو نو پر هر چا پاندي خرڅولای شي او د [الا ان تکون تجارة عن تراض منکم] (سورة نساء، آیت ۲۹) په حکم مشتري د دې مالک ګرځي او مشتري عام دی که لومړی صدقه کونکی او که بل څوک و هذا لا خفاء فیه او لیکن د حضرت عمر رضی الله عنه حدیث چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د صدقه کړي شي له رانیولو منع کړې ده(۱) هغه محمول پر اولویت او تنزیهیه دی و التحقیق فی کتب الحدیث و الفقه(۲) او د قرباني لپاره د دریم سړي څخه رانیولو جواز په اولی او اتمه درجه له پورته تقریر څخه معلوم دی فقط

د قربانی لپاره په بیع فاسد پسه رانیول

سوال: (۱۹۳) یو سړي د قربانی لپاره پسه له قصاب څخه رانیوی په دې شرط باندي چي که مي خلور روپی بیه درکړې نو پسه زما دی قصاب ورته وویل چي قیمت زه ستا څخه درې روپی. مګر خرمن به ماته راکوې دا ډول د قرباني لپاره پسه رانیول شرعًا جائز دی او قرباني صحیح کیږي او کنه؟ (۱۳۴۰/۵۸۴هـ)

ځواب: دا ډول بیع فاسده ده نو که قرباني وکړه نو ادا شوه بیا دي داسي نه کوي فقط

---

(۱) عن زید بن اسلم عن ابیه قال سمعت عمر رضی الله عنهم یقول: حملت علی فرس فی سبیل الله فاضاعه الذی کان عنده فاردت ان اشتریه و ظننت انه یبیعه برخص فسالت النبی صلی الله علیه وسلم فقال: لا تشتره و لا تعد فی صدقتک و ان اعطاکه بدرهم فان العائد فی صدقته کالعائد فی قیئه(صحیح البخاری ۲۰۲/۱ کتاب الزکاة باب هل یشتری صدقته و لا باس ان یشتری صدقة غیره الخ)

(۲) و الاکثرون علی انها کراهة تنزیه لکون القبح فیه لغیره و هو ان المتصدق علیه ربما یسامح المتصدق فی الثمن بسبب تقدم احسانه فیکون کالعائد فی صدقته فی ذلک المقدار الذی سومح (مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ۲۲۸/٤ کتاب الزکاة باب من لا یعود فی الصدقة)

په فاسد شراکت یعني ونډه پاللي حیوان قرباني څنګه ده؟

سوال: (۱۹۴) پر ونډه باندي چي د پاللو لپاره کوم حیوان ورکول کیږي د هغه قرباني جائز ده که ناجائز؟ او که د حیوان مالک او پالونکی دواړه کافران وي نو هم جائز دي او کنه؟ (۲۲۳۸/۱۳۳۷هـ)

ځواب: دغه صورت شامي په فاسد کي شرکت کي لیکلي دي: و علی هذا اذا دفع البقرة بالعلف لیکون الحادث بینهما نصفین فما حدث فهو لصاحب البقرة و للآخر مثل علفه و اجر مثله(۱) نو که مسلمان داسي معامله وکړي که د مسلمان سره وکړي او که د کافر سره نو دا معامله فاسده ده او دغه حیوان او د ده بچیان ټول د حیوان د مالک دي او پالونکي ته به اجرت مثل ورکوي او که دواړه معامله کونکي کافران دي نو دوی د دغو فروعاتو مکلف نه دي په دوی کي د هر یوه حیوان د هغه بل په رضا موجود او مملوک وي له هغه شخه که کوم مسلمان د قربانۍ لپاره رانیسي نو صحیح دي او د رانیونکي لپاره خو له مسلمان شخه د قرباني لپاره رانیول صحیح دي ځکه چي که څه هم د مسلمان معامله فاسده وي لیکن تر قبضه کولو وروسته دی مالک شو له ده شخه رانیونکي قرباني کولای شي. فقط

د موروثي ځمکي په حاصل قرباني کول

سوال: (۱۹۵) د موروثي ځمکي(۲) په حاصل قرباني کول صحیح دي او کنه؟ (۳۱۸/۱۳۴۵هـ)

ځواب: قرباني صحیح کیږي.

د حرام مال قرباني قبوله ده او کنه؟

سوال: (۱۹۶) یو سړي د سود کاغذونه لیکي که دی زکوة، یا قرباني، او حج یا بل

---

(۱) رد المحتار ۳۸۳/۳ کتاب الشرکة فصل فی الشرکة الفاسدة مطلب یرجح القیاس. ط رشیدیه

(۲) موروثي ځمکه هغه ده چي بزګر یې په جبر او زور قبضه کړي نو دا ډول ځمکه قبضه کول حرام دي د موروثي ځمکي د تفصیل لپاره وګورئ کتاب الغصب سوال(۱۳-۲۲)

خیرات وکړي نو قبول دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۸ھ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: و لا یقبل الله الا الطیب(۱) یعني الله تعالی نه قبلوي مګر د حلال او پاک مال صدقه نو د دغه سړي د قرباني او نورو حکم له دغه حدیث څخه ښکاره دي مسلمان باید قرباني، حج او نور په حلال مال وکړي. فقط

جبرًا د چا په پسه قرباني کول

سوال: (۱۹۷) یو سړي زمونږ په څمکه کي پسونه څروي ده د کاله د یو پسه راکولو راسره وعده کړې ده مګر ده د وعدې خلافو کړو پسه یې رانکړی ما جبرًا پسه څني بوتلی دا ډول جبرًا څني پسه اخیستل او قرباني په کول جائز دي او کنه؟
(۱۳۳۴-۳۳/۲۵ھ)

ځواب: دا ډول معامله کول شرعًا صحیح نه ده او جبرًا پسه څني اخیستل صحیح نه دي او قرباني یې روا نه ده. فقط

د حکومت له قید خانې رانیولي حیوان قرباني صحیح ده

سوال: (۱۹۸) یو حیوان د حکومت په قید خانه کي لس پنځلس ورځي ؤ د مالک نه پیدا کیدو په وجه حکومت لیلام کړی د حکومت قانون دا دی چي که تر شپږ میاشتو پوري څوک مالک راغلی نو مصرف څني راوګرځوي نوري روپۍ ورکوي له شپږو میاشتو وروسته نه روپۍ ورکوي او نه حیوان که تر شپږ میاشتي وروسته مالک راشي نو له مشتري څخه تاوان اخیستلای شي او کنه؟ او د داسي حیوان رانیول جائز دي او کنه؟ او قرباني کول د دغه حیوان صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۷۷۳ھ)

ځواب: رانیول د ده صحیح دي او رانیونکی مالک شو کوم تصرف چي پکي وغواړي ودي کړي قرباني هم کولای شي ځکه چي کله حاکم ته د بیع کولو اجازه ده نو معلوم شو چي رانیول

---

(۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تصدق بعد تمرة من كسب طيب و لا يقبل الله الا الطيب فان الله يتقبلها بيمينه ثم يربيها لصاحبها كما يربى احدكم فلوه حتى تكون مثل الجبل(الجامع للبخارى ۱۸۹/۱ كتاب الزكاة باب الصدقة من كسب طيب)

بې صحیح دي و ان لم یکن نفع باعها القاضی و حفظ ثمنها الخ(۱) له دغه روایت څخه د مشتری د رانیولو جواز معلوم شو کما هو ظاهر او د مالک چي کومه غوښتنه ده هغه له حکومت څخه ده فقط

سوال: (۱۹۹) کوم لیلام چي د حکومتي قید خانې له طرفه کیږي چي طریقه یې مشهوره ده د مسلمان لپاره د داسي حیوان رانیول او قرباني په کول صحیح دي او کنه؟ یعني په لیلام کي رانیول (۱۳۳۷/۲۳۰۲هـ)

ځواب: په دغه لیلام کي د دغه حیوان رانیونکی مالک د حیوان ګرځي لهذا قرباني هم صحیح ده نور نو دا خبره ور ورسوي که مالک پیدا شي او که مالک پیدا نشي نو بیا باید و مسکینانو ته ورکړي فقط

سوال: (۲۰۰) په سورت اولسوالي کله ناکله غوا یا بل حیوان د مالک له حفاظت ووزي او په ورځ کي د نورو خلګو تاوان کوي چي له امله خلګ و نیسي د حکومت په کور کي بندي کړي که تر اتو ورځو پوري مالک پسي رانغلی نو بیا حکومت داسي حیوانان لیلاموي وروسته که په ټاکلې موده کي مالک ثبوت راوړی نو په لیلام کي چي څومره قیمت راغلی ؤ هغه مالک ته ورکړي او تر ټاکلي مودې وروسته مالک راغلی نو ده ته هیڅ شی نه ورکوي داسي حیوان په لیلام کي رانیول او له ذبح کولو وروسته غوښه خوړل حلال دي او که حرام؟ او د داسي حیوانانو قرباني کول جائز دي که ناجائز؟ (۱۳۳۸/۲۰۰هـ)

ځواب: کله چي حکومت متسلط شي دا خرڅوي نو د رانیونکي لپاره دا صحیح او حلال دي او قرباني یې هم جائز ده کما هو حکم تسلط الکفار(۲) او ځیني صورتونه په دې کي د لقطې هم وي په داسي صورت کي چي د حکومت له طرفه کوم لیلام کیږي صحیح او د رانیونکي په هکله حلال او قرباني یې هم جائز ده. فقط

---

(۱) الدر المختار مع الشامی ۳۵۳/۳ کتاب اللقطه، قبل مطلب فیمن علیه دیون. ط رشیدیه

(۲) و ان غلبوا علی اموالناو لو عبدًا مؤمنا و احرزوها بدراهم ملکوها و فی الشامی: قوله: (ملکوها) ... فیحل الاکل والوطی لمن اشتراه منهم کما فی الفتح لقوله تعالی: [و للفقراء المهاجرین] (سورة الحشر: الآیة: ۸) سماهم فقراء فدل علی ان الکفار ملکوا اموالهم التی هاجروا عنها(الدر المختار و ردالمحتار ۲۶۷/۳ کتاب الجهاد باب استیلاء الکفار مطلب: یلحق بدارالحرب المفازة و البحر الملح. ط رشیدیه)

له ګدي نشين څخه د قرباني لپاره حیوان رانیول

سوال: (۲۰۱) زمونږ په وطن کي يو بزرګ تېر شوی دی د هغه بچيان موجود دي هر کال دوی داسي کوي چي د ايصال ثواب په توګه خيرات کوي ډير فقيران او مسکينان راجمع شي بدعتونه او نوريو مخ پکي نه وي ډير شيان جمع شي اوړه. غنم. مالګه. مرچک، غوايه، غوايي. ميږي، وزې او نور حيوانان راجمع شي د ورکونکو دا خيال وي چي مصرف به شي او چي څه پاته شي هغه به ګدي نشين واخلي ځکه ګدي نشين څه حيوانان حلال کړي چي پاته شي هغه خرڅوي آيا د ګدي نشين لپاره د غه پاته شوي شيان خرڅول جائز دي او کنه؟ او څوک چي له ده څخه رانيسي هغه مالک ګرځي او کنه؟ او قرباني په روا ده که ناروا؟ (۱۳۳۷/۲۷۰۱هـ)

ځواب: په دغه صورت کي دغه حيوانان او شيان پاته شوي د ګدي نشين ملک دی د دې خرڅول صحيح دي او د رانيونکي لپاره رانيول جائز دي او قرباني په کول صحيح دي فقط

له شراب خرڅونکي څخه د قرباني لپاره پسه اخيستل

سوال: (۲۰۲) له شراب خرڅونکي څخه پسه رانيول او قرباني په کول او د هغه غوښه خوړل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۷۰هـ)

ځواب: د ده قرباني جائزده قرباني ادا کيږي خوراک يې صحيح دی. فقط

په پور رانيولي وزې پر ځای په غوا کي ونډه نيول

سوال: (۲۰۳) د يو سړي د ښځي سره وزه وه د دې صرف د پالني لپاره راخيستي وه د قرباني لپاره نه وه اخيستي خو ورځي وروسته خاوند ورته وويل چي دا وزه ماته د قرباني لپاره راکړه چي کله ما پيسي پيدا کړې زه به در کړم دې ورته وويل صحيح دي پروا نلري اوس چي اختر رانژدې شو او د خاوند سره روپۍ نشته ايا په دغه صورت کي به دی د دغه وزې قرباني کوي که په غوا کي ونډه واخلي؟ (۱۳۳۷/۲۵۷۲هـ)

ځواب: په دغه صورت کي دده خوښه ده که وزه د ښځي ځخه اخلي قرباني کوي او که په غوا کي ونډه نیسي خوښه دا دي چي د وزې قرباني وکړي ځکه چي مسئله دا ده چي د چا قیمت زیات وي د هغه قرباني افضله ده. فقط

ځيني شريکان د کوروالو د زړه لپاره قرباني کوي

سوال: (۲۰۴) په قرباني کي چي کله اووه کسان ونډه ولري نو په دوی کي د ځينو نیت صرف د الله د رضا لپاره وي کنې زیاتره د رواج پوره کولو یا د کوروالو او کوچنیانو دزړه او خوشحالۍ لپاره وي په داسي صورت کي د ټولو قرباني او ټولو ثواب ورکول کیږي او کنه؟ (۹۱۰/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: په دغه صورت کي د ټولو قرباني صحیح کیږي او ټولو ته ثواب ورکول کیږي.

د مصلحت په خاطر د غوا قرباني نه کول

سوال: (۲۰۵) سږکال د خلافت د مصلحت په خاطر د غوا قربانۍ ونکړو که څنګه؟ (۱۳۳۸/۲۰۸۳ھ)

ځواب: د بیان شوي مصلحت په خاطر د غوا قرباني مه پرېږدئ ځکه چي دا شرعي مسئله ده په دې کي بدلون څوک کولای شي؟ فقط

سوال: (۲۰۲) هندوان د خلافت په مسئله کي د مسلمانانو همکاري کوي د دوی دزړونو د تالیف او د دوی سره اتحاد قائم ساتلو لپاره که د غوا قرباني یا په عامه توګه ذبح ونکړله شي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۸۷ھ)

ځواب: د هندوانو سره موافقه او رعایت تر همدې حده صحیح دی چي په مذهبي ازادي کي فرق نشي را اود غواد قرباني په پرېښودلو کي د کفارود خیال ساتلو په وجه د مذهب په آزادۍ کي مداخلت دی او دا شرعي قاعده ده چي کوم فعل شرعًا جائز او مستحب وي د هغه سره داسي معامله مه کوئ چي په وجه ممنوع الاستعمال وګرځي لنډه دا چي د همیشه د معمول سره سم هر ډول قرباني وکړي د غوا ، وزو ، میږو او نورو اود چا د مخالفت پروا مه کوئ. فقط

سوال: (۲۰۷) ... (الف) د هندوانو سره د اتحاد پیدا کولو لپاره د غوا قرباني پرېښودل جائز ده او کنه؟

(ب) د غوا د قربانۍ د بندولو لپاره چي کومي جلسي کیږي په هغه کي برخه اخیستل جائز دي او کنه؟

(ج) کوم مسلمان چي نور مسلمانان جبرًا د غوا له قربانۍ څخه منع کوي د ده په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۲۱۷۴هـ)

ځواب: (الف) جائز نه دي.

(ب) جائز نه دي.

(ج) ګنهکار دی. فقط

هندوانو د قربانۍ غوښه په ځمکه کي ښخه کړه

سوال: (۲۰۸) یو سړي هندوانو ته راپور ورکړی چي فلاني مسلمان قرباني کړې ده هندوانو قرباني کونکی ډېر سپک کړی او غوښه ځني واخیسته په ځنګل کي په ځمکه کي ښخه کړه نو قرباني ادا شوه او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۳۳۵هـ)

ځواب: ښکاره خبره ده چي دغه خبر ورکونکی سړی ډېر ګنهکار او فاسق شو او خومره سپکاوی او تاوان چي د قرباني کونکي وشو په هغه د دغه مخبر غاړي بندي دي او د قرباني کونکي قرباني ادا شوه او ده ته ثواب ورکول شو. فقط

په درواغو رانیولي غوا قرباني څنګه ده؟

سوال: (۲۰۹) یو سړي د قربانۍ لپآره له هندو څخه غوا رانیوله او د بائع د اطمینان لپاره ورته وویل چي زه قصاب نه یم دذبح کولو لپاره نه رانیسم لیکن اصلاً نیت یې د قرباني کولو ؤ ایا مشتري د دې مالک شو او قرباني د دې صحیح ده او کنه؟

(۱۳۳۸/۲۰۲۷هـ)

ځواب: قرباني د دغه غوا صحيح ده مشتري د دغه غوا مالک شو. فقط

د قرباني لپاره رانيولې حيوان بدلول

سوال: (۲۱۰) يو سړي د قرباني په نيت غوا رانيوله چي څه وخت به وساتم سخوندر به راوګرځوم او غوا به په اختر کي حلاله کړم له رانيولو وروسته هغه اوس ډيري شيدې کوي اوس صرف د شيدې څخه د استفادې په غرض دا اراده لري چي دا به راوګرځوم او بله به د همدغه قيمت يا تر دې ګرانه رانيسم حلاله به کړم نو دا صورت جائز دی که به هغه غوا حلالوي؟ (۲۰۱۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا صورت صحيح دی د غني لپاره خو جواز د دې صحيح دی ځکه چي ښکاره ده چي پر غني باندي د رانيولو د دغه حيوان تعين نه راځي او فقير که د اختر په ورځو کي د قربانۍ په نيت کوم حيوان رانيسي هغه متعين شي د قرباني لپاره ليکن د اختر په ورځو کي نه ؤ بلکه تر اختر مخکي رانيوی نو د دواړو لپاره بدلول جائز دي کما في الشامي: و وقع في التاترخانية التعبير بقوله شراها لها ايام النحر و ظاهره انه لو شراها لها قبلها لا تجب الخ(۱) لهذا په دغه صورت کي ددواړو لپاره جائز دي.

واجب او نفل قرباني په يو حيوانکي جمع کول

سوال: (۲۱۱) اوښ يا غوا چي پکي اووه ونډې وي که خاوند د نصاب يوه برخه خپله او نوري برخي د عيال له طرفه وکړي نو داسي شراکت څنګه دی؟ ځکه پر عيال د نه وجوب په وجه د واجب او نفل جمع لازميږي. (۲۰۴۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دغه شراکت هيڅ تاوان نه راځي او قرباني د ټولو ښيله کراهيته ادا کيږي په درمختار کي راغلي دي: و كذا (اى يجوز) لو اراد بعضهم العقيقة عن ولد قد ولد له من قبل الخ(۲) بناء عليه واجب او نفل په يو محل کي جمع کول د عدم جواز باعث نه دی. فقط

---

(۱) الشامی ۲۲٦/٥ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۲) الشامی ۲۲۹/٥ كتاب الاضحية. ط رشيديه

د اهل و عيال د قرباني کولو په صورت ثواب د چا دی؟

سوال: (۲۱۲) پر خاوند د نصاب خو قرباني واجب ده مګر د اهل و عيال له طرفه هم پر ده قرباني واجب ده او کنه؟ که د نصاب مالک د خپل عيال له طرفه قرباني وکړي نو ثواب به د چا وي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۰۴۹ھ)

ځواب: که د ده اهل و عيال د نصاب مالکان نه دي نو پر هغوی قرباني واجب نه ده که دی د اهل و عيال له طرفه کوم چي د نصاب مالکان نه دي قرباني وکړي نو ثواب يې د ده دی. (۱)

د مور د قرباني کولو پر ځای د ضرورت مند مرسته کول

سوال: (۲۱۳) عبد الله غيرتمند سړی هميشه به د خپلي مور له طرفه قرباني کوله سږ کال د مجبوری په وجه د ده ورور عبد الرحمن د خلافت په وجه بندي شو د ده خيال دی سږ کال د قرباني چي څومره قيمت دی دا به د عبد الرحمن و بچيانو ته ورکړم او ثواب به و خپلي مور او نورو ته وبخښم. (۱۳۴۱/۲۲۵۱ھ)

ځواب: په داسي حالت کي د عبد الرحمن و بچيانو ته ورکول جائز دي نور زيات ثواب دی.

د قرباني هډونه ماتول صحيح دي

سوال: (۲۱۴) د قرباني او عقيقي هډونه مه ماتوئ او مه يې غورځوي بلکه ښخ يې کړي دا صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۲۱۳ھ)

---

(۱) يعني قرباني کونکي ته هم ثواب ورکول کيږي په حديث کي راغلي دي چي په حجة الوداع کي يوې ښځي چي پر اوښ سپره وه خپل بچی له کجاوي څخه راوکښی و نبي عليه الصلاة و السلام ته ورښکاره کړی او پوښتنه وکړه: الهذا حج؟ نبي عليه الصلاة و السلام ورته وفرمايل: نعم و لک اجـر (مسلم شريف ۱/۴۳۱-۴۳۲ کتاب الحج باب صحة حج الصبي و اجر من حج به) نو د اهل و عيال له طرفه قرباني کونکي ته هم ثواب دی او اهل و عيال ته هم دی لکه چي د مړي له طرفه قرباني کوي نو مړي ته هم ثواب رسيږي او قرباني کونکي ته هم او په دغه فتوی کي "دده" مطلب دا دی چي قرباني کونکي ته هم ثواب دی ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

ځواب: دا ضروري نه دي د هډونو ماتول صحيح دي. (۱)

د قربانۍ هډونه اونور ښخول ضروري نه دي

سوال: (۲۱۵) آيا د قربانۍ هډونه ښخول پكار دي؟ (۱۳۳۷/۲۷۲۵هـ)

ځواب: د قربانۍ د هډونو كوم خاص حكم نشته لكه څنګه چي د عام وذبيحود هډونو حال او حكم دی هم هغه د قربانۍ د هډونو دی.

سوال: (۲۱۶) د قرباني لرى، هډونه، ښكر او فضلات او نور له كلي څخه دباندي ښخولو كي د قربانۍ احترام شته؟ (۱۳۳۸/۲۱۷هـ)

ځواب: د دغه شيانو د ښخولو شرعًا حكم نشته.

د مسجد په چاردېوالي كي قرباني كول

سوال: (۲۱۷) د مسجد چار دېوالي كه پراخه وي نو قرباني پكي صحيح ده او كنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۳۷۷هـ)

ځواب: د مسجد چاردېوالي كه پراخه ده چي پكي قرباني كولو خلكو ته تكليف نه وي نو د مسجد والو په رضا پكي قرباني كول صحيح دي كنې مناسب دا دي چي له مسجد څخه بېل په بل ځای كي قرباني وشي. فقط

د خيرات په حيوان كي د قرباني شرطونه كيدل ضروري نه دي

سوال: (۲۱۸) د خيرات د پسه حكم د قربانۍ په رنګه دی او كنه؟ (۱۳۳۸/۱۹۰هـ)

ځواب: د نفلي خيرات په حيوان كي د قربانۍ شرطونه ضروري نه دي.

---

(۱) و هي شاة تصلح للاضحية تذبح للذكر و الانثى و سواءفرق لحمها نيئا او طبخه بحموضة او بدونها مع كسر عظمها اولا(رد المحتار على الدر المختار ۲۳٦/۵ آخر كتاب الاضحية. ط رشيديه)

د قربانۍ د غوښو او څرمنو مصارف او احکام

د خپلي قربانۍ غوښه خوړل مستحب دي

سوال: (۲۱۹) د قرباني کونکي لپاره له قربانۍ څخه غوښه خوړل په قرآن ثابت دي او کنه؟ که په قرآن خوړل ثابت نه دي نو په حديث شريف به ضرور ثابت وي مګر زياتره حاجيان وايي چي په مکه مکرمه کي زياتره قرباني کيږي قرباني کونکی غوښه نه خوري د دي څه سبب دی؟ دلته خو قرباني کونکی د خپلي قربانۍ غوښه خوري؟ بينوا توجروا (۲۹/۲۱۸/۳-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د قربانۍ غوښه د قرباني کونکي لپاره خوړل په قرآن، حديثو او فقه ثابت دي په قرآن شريف کي راغلي دي: [فكلوا منها و اطعموا البآئس الفقير] (سورة حج، آيت: ۲۸) ترجمه: پس خورئ تاسو د قربانۍ له غوښي څخه او پر باندي وخوروئ وږي فقيران او په حديث شريف کي راغلي دي: فكلوا و ادخروا او كما قال صلى الله عليه وسلم الحديث(۱) لنډه دا چي د قرباني کونکي لپاره د خپلي قربانۍ له غوښو څخه خوراک جائز بلکه مستحب دی نور نو دا خبره چي په مکه مکرمه کي حاجيان د قربانۍ غوښه نه خوري صحيح نه ده ډير حاجيان د خپلي قرباني غوښه لري او ډيره خوري

(۱) عن عبد الله بن واقد رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن اكل لحوم الضحايا بعد ثلاث ... فقال: نهيتكم من اجل الدافة التي دفت فكلوا و ادخروا و تصدقوا (الصحيح لمسلم ۱۵۸/۲ كتاب الاضاحي باب بيان ما كان من النهي عن اكل لحوم الاضاحي بعد ثلاث في اول الاسلام و بيان نسخه و اباحته الى متى شاء)

او که څوک په څه وجه نه خوري نو دا دلیل د ناجائز والي نشي کیدلای په در مختار او نورو د فقهي په کتابونو کي راغلي دي: و یاکل من لحم الاضحیة و یؤکل غنیا و یدخر الخ و فی الشامی عن البدائع: و یستحب ان یاکل منها الخ(۱) فقط

د خپلي قرباني ټوله غوښه پخپله خوړل

سوال: (۲۲۰) که سړی ټوله غوښه پخپله راوګرځوي درې برخي نکړي بیا هم صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۹۸هـ)

ځواب: دریمه برخه د غوښو پوره و مسکینانو ته ورکول ضروري نه دي که د ضرورت په خاطر ټوله غوښه راوګرځوي او وې خوري یا یې خپلوانو ته ورکړي دا هم صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

فقیر له خپلي قرباني څخه پخپله هم خوراک کولای شي او غنیانو ته هم ورکولای شي

سوال: (۲۲۱) لومړی دا چي فقیر د قرباني د ثواب په نیت د غنیانو سره په غوا کي ونډه واخیسته دوهم دا چي فقیر پخپله د قرباني په نیت پسه واخیستی او په اختر کي حلال کړی دریم دا چي د دغه فقیر سره په کور کي ساتلی پسه ؤ ده اراده کړې وه چي په اختر کي به حلالوم او په اختر کي حلال کړی په دغه درې سره حالته کي د فقیر لپاره له خپلي قرباني څخه خوراک کول او غنیان په خورول صحیح دي او کنه؟ او دغه فقیر چي د غنیانو سره ونډه ونیوله په دې سره خو به د غنیانو په قرباني تاوان نه وي راغلی؟ او د اختر پسه په رانیولو پر فقیر قرباني واجبیږي او دا وجوب په مثل د نذر شو او له نذر څخه پخپله خوړل او غنیان په خورول صحیح نه دي دا دلیل صحیح دی او کنه؟

(۱۳۳۳-۳۲/۱۳۲۷هـ)

ځواب: په درې سره حالته کي د فقیر لپاره له خپلي قرباني څخه خوړل او غنیان په خورول صحیح دي او د ده په شراکت د غنیانو په قرباني کي هیڅ تاوان نه راځي پاته شو دا دلیل چي پر فقیر باندي په رانیولو اضحیه واجبیږي او اضحیه د منذوره په مثل شي او له نذر څخه پخپله خوړل او غنیان په

---

(۱) الدر و الرد ۲۳۰/۵ کتاب الاضحیة. ط رشدیه

خوړول صحیح نه دي الخ دغه دلیل په شامي کي له ځینو علماء څخه رانقل شوی دی لیکن راجح او ظاهر دا دی چي د فقیر لپاره له دي څخه خوړل او غنیان په خوړول صحیح دي ځکه چي په حقیقت کي دا نذر نه دی او د منذور په مثل کیدل په ټولو احکامو کي د منذور کیدل لازم نه دي فی الشامي: ثم ظاهر کلامه ان الواجبة علی الفقیر بالشراء له الاکل منها الخ و فی التتارخانیة: سئل القاضی بدیع الدین عن الفقیر اذا اشتری شاة لها هل یحل له الاکل؟ قال: نعم الخ(۱)

د قربانۍ غوښه پخه د وریجو او ډوډۍ سره و خلکو ته ورکول

سوال: (۲۲۲) د قربانۍ غوښه زیاتره خلک او مه ویشي که پخه کړې ډوډۍ سره خلک په وخوړو نو څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۸۴۹هـ)

ځواب: د قربانۍ غوښه که پخه کړي د ډوډۍ سره خلک په وخوروي نو نور هم ښه او زیات ثواب دی.

سوال: (۲۲۳) د قربانۍ غوښه که پخه کړي د ډوډۍ یا وریجو سره خلک په وخوروي نو څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۷۴۰هـ)

ځواب: دا هم صحیح دي

د قربانۍ غوښه وچول

سوال: (۲۲۴) کله چي د ذبیحې غوښه حلاله ده نو د دي غوښه وچول او څه موده وروسته پخول او خوړل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۱۹۴۷هـ)

ځواب: صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د قرباني کونګیو کره غوښه ورلیږل

سوال: (۲۲۵) کومو خلکو چي اختر کړی وي د هغوی کره هم غوښه ورلیږل پکار ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۳۲هـ)

ځواب: دا سي هیڅ پروا نلري. فقط

(۱) رد المحتار ۵/۲۳۰ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

د قرباني غوښه و سید ته ورکول جائز ده

سوال: (۲۲۶) د قربانۍ او عقیقې له غوښې څخه و سید ته ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۰۲۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: جائز ده. فقط

د قربانۍ غوښه و نامسلمانوته ورکول غوره دي

سوال: (۲۲۷) کوم ځای چې مسلمانان ډیر وي هلته د قربانۍ غوښه و کافرانو ته ورکول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۸۵هـ)

ځواب: د قربانۍ غوښه و کافرانو لکه بنګیان او نورو ته ورکول صحیح دي لیکن غوره دا دي چې مسلمانانو ته ورکړي او که کافر ته هم ورکړي نو څه پروا نلري. فقط

سوال: (۲۲۸) د قربانۍ غوښه و بنګیانو او هندوانو ته ورکول جائز ده او کنه؟ که سړی ورکړي نو په قرباني کي خو به تاوان نه راځي؟ (۱۳۳۸/۲۰۵۸هـ)

ځواب: و بنګي او نورو ته د قرباني غوښه ورکول صحیح دي په دې سره په قرباني کي څه تاوان نه راځي. فقط

د قربانۍ او عقیقې غوښه و نامسلمان ته ورکول جائز ده

سوال: (۲۲۹) کوم عام خلګ چې قرباني او عقیقه کوي نو دغه د قربانۍ او عقیقې غوښه و هندوانو او بنګیانو ته ورکول جائز دي او کنه؟ (۲۹/۳۹۴-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د قربانۍ او عقیقې غوښه و هندوانو او بنګیانو ته ورکول صحیح دي. (۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) و للمضحی أن یهب کل ذلک او یتصدق به او یهدیه لغنی او فقیر مسلم او کافر(اعلاء السنن ۲۶۲/۱۷ کتاب الاضاحي، باب بیع جلد الاضحیة)

داغه راز دالله رب العزت ارشاد دی: [لا ینهاکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین و لم یخرجوکم من دیارکم ان تبروهم و اقسطوا الیهم ان الله یحب المقسطین] (سورة الممتحنة، آیت: ۸) ترجمه: نه منع کوي تاسو لره الله تعالی د هغه کسانو څخه چې نه دي کړي جنګ تاسو سره په دین اسلام کي او نه یې ایستلي یاست تاسو د کورونو ستاسو څخه چې نیکي کوي تاسو د هغوی سره او ورکوئ حق په انصاف سره هغوی ته یقیناً الله تعالی مینه کوي د انصاف کونکو سره.

سوال: (۲۳۰) د قرباني غوښه و هندوانو او نورو نه ورکولای شو او کنه؟ (۳۲/۷۲۷-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د قرباني غوښه و هندوانو او نورو ته په خیرات کي ورکولای شي. (۱)

سوال: (۲۳۱) زید وایي چي د قرباني غوښه و کافر بنګي او نورو ته ورکول جائز دي خالد وایي چي جائز نه دي د چا خبره صحیح ده؟ (۳۳/۱۹۹-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د قرباني غوښه و کافر بنګي او نورو ته ورکول صحیح دي د زید خبره په دې اړه صحیح ده او د خالد خبره صحیح نه ده. فقط

سوال: (۲۳۲) د قرباني پخه یا اومه غوښه چي کافرانو او بنګیانو ته ورکوي چي یکي ځیني غنیان هم وي او څرمن خرڅ کړي د هغه په بیه وریجي و اخلي هغه پخي کړي مسکینان په خوروي داسي جائز دي او کنه؟ (۳۵/۱۱۷-۱۳۳۶هـ)

ځواب: د قرباني غوښه اومه یا پخه و نورو قومونو لکه کافر بنګي او نورو ته ورکول صحیح دي او څرمن که خرڅه کړه نو د هغه د قیمت پر فقیرانو صدقه کول واجب دي پخپله نشي مصرفولای.

د قرباني غوښه و دوبي او نایي ته ورکول

سوال: (۲۳۳) د قرباني سر او غوښه و هندو دوبي او نائي ته ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۲۰هـ)

ځواب: د دوبي او نائي په دې کي هیڅ حق نشته د لازم حق ګڼلو په توګه ورکول صحیح نه دي داغسي په هدیه او خیرات لکه سړی چي و نورو خپلوانو ته غوښه ورکوي و دوی ته هم غوښه او نور ورکول څه پروا نلري. فقط

سوال: (۲۳۴) په قرباني کي سر او پښې و نائي او دوبي ته ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۱۰هـ)

ځواب: د دوی هیڅ حق نشته په حق ګڼلو مه ورکوئ داغسي که ورکړي نو څه پروا نلري

و قصاب ته غوښه ورکول څنګه دي؟

سوال: (۲۳۵) و غوښه پرې کونکي ته د قرباني غوښه ورکول څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۲۰۸۲هـ)

---

(۱) ځکه چي واجب صدقه نه ده بلکه نفلي صدقه ده او نفلي صدقه و نامسلمان ته ورکول صحیح ده.

ځواب: و قصاب غوښه پرې کونکي ته په اجرت کي غوښه د قربانۍ ورکول صحیح نه دي مقرر اجرت ده ته جلا ورکړئ او داغسي د خیرات په توګه لکه سړی چي نورو خپلوانو او دوستانو ته غوښه ورکوي داغه راز که و قصاب ته هم څۀ غوښه په خیرات کي ورکړئ نو څه پروا نلري. فقط

د قربانۍ اووه سره ونډي د خپل کوروي نو په تاله تقسیم یې ضروري نه دی

سوال: (۲۳۶) د قربانۍ په یو حیوان کي که څوک کسه ونډه ولري نو د دوی په هکله حکم دی چي غوښه اونور به په اندازه نه تقسیموي بلکه په وزن او تول به پوره پوره تقسیموي اوس که یو سړی خپله د خپلي ښځي خپلو بچیانو او څو مړو له طرفه قرباني وکړي او ده ته د هر یو له طرفه هر ډول اجازه او اختیار وي نو د داسي سړي لپاره هم د ټولو برخي جلا جلا تقسیمول واجب دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۵۳۶هـ)

ځواب: په داسي صورت کي و تقسیم ته ضرورت نشته. (۱)

زیاتوب غوښه په اندازه وېشل

سوال: (۲۳۷) اوو کسانو په ګډه یوه غوا قرباني کړه له غوښو وېشلو مخکي څه غوښه جلا کړه تر څو که په کومه برخه کي کمي راغله هغه به په پوره کړو اووه سره برخي وتللي پوره شوې نو دغه زیاتوب غوښه که په اندازه تقسیم کړي نو جائز دي که په تول تقسیم کړي؟ (۳۵/۴۷-۱۳۳۶هـ)

ځواب: دغه زیاتوب هم باید په تاله تقسیم کړي لاحتمال الربا. (۲)

---

(۱) قوله: (و یقسم اللحم) انظر هل هذه القسمة متعینة اولا؟ حتی لو اشتری لنفسه و لزوجته و اولاده الکبار بدنة و لم یقسموها تجزیهم او لا؟ و الظاهر انها لا تشترط لان المقصود منها الاراقة و قد حصلت(الشامی ۲۲۳/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

(۲) و یقسم اللحم وزنا لا جزافا الا اذا ضم معه من الاکارع او الجلد صرفا للجنس لخلاف جنسه(الدر المختار مع الشامی ۲۲۳/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

پنځه کسان که د اوښ او نورو قرباني وکړي نو تقسیم به څرنګه کوي؟

سوال: (۲۳۸) د اوښ، غوا، ګامیښې په قرباني کې پنځه کسان شریکان شي نو غوښه به پنځه برخې کوي که څنګه؟ (۲۱۷۰/۳۲-۱۳۳۰هـ)

ځواب: باید پنځه برخې کړي د پنځو سره قرباني صحیح ده.

د نبی علیه الصلاة والسلام له طرفه کړې قربانۍ د غوښې حکم

سوال: (۲۳۹) د نبی علیه الصلاة و السلام له طرفه چې کومه قرباني وشي هغه ټوله نذرًا لله و خلګو ته ورکړو که درې برخې کړو؟ (۸۱۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: حکم ددې د خپلې قرباني په رنګه دی د ټولې صدقه کول ضروري نه دي استحبابًا دې درې برخې کړي

سوال: (۲۴۰) که د نبی علیه الصلاة و السلام له طرفه قرباني وشي نو د هغه غوښه ټول خلک خوړلای شي؟ (۱۱۵۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د دې حکم هم هغه دی کوم چې بېله وصیته د مړي له طرفه د قرباني کولو حکم دی یعني د خپلې قرباني په رنګه پخپله هم وخوره نور هم په وخوروه. فقط

سوال: (۲۴۱) که د نبی علیه الصلاة و السلام له طرفه سړی قرباني وکړي آیا غوښه به خیراتوي که به د نورو قربانیو په رنګه مصرفوي؟ (۲۰۲۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: کومه قرباني چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه وشي هغه د خپلې قرباني په رنګه مصرفولای شي یعني که د فقهاء د تصریح سره سم درې برخې په طریقه د استحباب کوي که ټوله غوښه پخپله او خپلو بچیانو خوري.

د مړي له طرفه کړې قرباني د غوښې حکم

سوال: (۲۴۲) کومه قرباني چې د مړي له طرفه وشي د هغه غوښه وارثانو ته ورکول حلال دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۲۰۲ھ)

ځواب: که د مړي د امر او وصيت سره سمه دا قرباني د ده له طرفه شوې ده نو خيراتول پکار ده پخپله مه خوري او که مړي وصيت نه ؤ کړی بلکه وارث پخپله تبرعًا د ده له طرفه قرباني کړې ده نو بيا يې پخپله هم خوړلای شي په شامي کې راغلي دي: و المختار انه ان بامر الميت لا ياكل منها و الا ياكل الخ(۱) و فيه ايضا: اى لو ضحى عن ميت وارثه بامره لزمه التصدق بها و عدم الاكل منها و ان تبرع بها عنه له الاكل الخ.(۲) فقط

سوال: (۲۴۳) د مړي له طرفه قرباني کول څنګه دي؟ که صحيح ده نو غوښه به څه په کؤ؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۱۵۸ھ)

ځواب: د مړو له طرفه قرباني کول صحيح دي که بې د مړي له امر او وصيته ده نو د دې خوراک د قرباني کونکي او نورو ټولو لپاره جائز دي د دې حکم د خپلې قربانۍ په رنګه دی او که د مړي په امر او وصيت قرباني کړې ده نو دا به ټول خيراتوي پخپله به نه خوري په شامي کې راغلي دي: من ضحى عن الميت يصنع كما يصنع فى اضحية نفسه من التصدق و الاكل و الاجر للميت و الملک للذابح قال الصدر: والمختار انه ان بامر الميت لا ياكل منها و الا ياكل بزازية.(۳) (شامی)

سوال: (۲۴۴) که څوک د مړي لپاره قرباني وکړي له هغه څخه پخپله خوراک کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۲۳ھ)

ځواب: که بې د مړي له وصيت کولو د ځانه و مړي ته ثواب رسولو په نيت سړی قرباني وکړي نو پخپله هم ځنې خوراک کولای شي او نور هم په خوړولای شي كذا فى الدر المختار.(۴)

---

(۱) رد المحتار ۲۲۹/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۲) الشامى ۲۳٦/۵ كتاب الاضحية قبيل كتاب الحظر و الاباحة. ط رشيديه

(۳) ردالمحتار ۲۲۹/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

(۴) مخکنۍ حواله

د مور او پلار له طرفه کړې قرباني د غوښې حکم

سوال: (۲۴۵) که چا د خپل وفات شویو مور او پلار له طرفه قرباني وکړه نو غوښه څوک خوړلای شي؟ د کور کسان يې هم خوړلای شي که به خاص و ناوسو او مسکينانو ته ورکوي؟ (۵۸/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: که يې د مور او پلار له وصيت کولو د دوی له طرفه قرباني کوي نو لکه څنګه چې خپله قرباني وي هم هغه عمل دې د دې سره وکړي يعني پخپله دې هم وخوري بچيانو ته دې هم ورکړي خيرات دې هم کړي او خپلوانو دوستانو ته دې هم ورکړي كما فى الشامى: من ضحى عن الميت يصنع كما يصنع فى اضحية نفسه من التصدق والاكل الخ. (۱) فقط

سوال: (۲۴۶) يو سړي د خپل مور او پلار له طرفه دوې ونډې د قربانۍ ونيولې غوښه ټوله و مسکينانو ته ورکړي که درې برخې کړي يوه و مسکينانو ته بله و خپلوانو ته او دريمه پخپله وخوري؟ (۲۱/۱۳۳۸هـ)

ځواب: که يې د مور او پلار له وصيت کولو د دوی له طرفه قرباني کړې ده نو د دې حکم همداسې دی لکه د قرباني يعنې مستحب دا دی چې درې برخې کړي يوه برخه مسکينانو ته بله و خپلوانو او بله پخپله واخلي.

د قربانۍ غوښه په واده کې استعمالول

سوال: (۲۴۷) که د قربانۍ غوښه په واده کې مصرف کړي نو په قرباني کې خو به تاوان نه راځي؟ (۲۰۸۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: په قرباني کې هيڅ تاوان نه راځي که پوره غوا قرباني کوي او که ونډه يکې نيسي.

د قربانۍ غوښه خرڅول يا غلا کول

سوال: (۲۴۸) د قربانۍ غوښه که شريکان غلا کړي يا يې خرڅه کړي نو پر قرباني به

---

(۱) الشامى ۲۲۹/۵ كتاب الأضحية. ط رشيديه

د دې څه اثر وي او دا څنګه ګناه ده؟(۱۳۴۵-۴۴/۹۸۳هـ)

ځواب: له قرباني کیدلو وروسته که کوم شریک غلا وکړه یا یو شریک له خپلې برخې څخه څه غوښه خرڅه کړه نو په دې سره پر قرباني هیڅ اثر نه لویږي قرباني صحیح شوه په دې شرط چې له مخکې څخه د ده نیت د خرڅولو نه وي او خرڅونکی چې څومره غوښه خرڅه کړه د هغه قیمت خیراتول ورباندې ضروري دي او پر غلا کونکي توبه کول او له نورو شریکانو څخه معافي غوښتل لازم دي فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه. (۱)

سوال: (۲۴۹) که د قربانۍ له غوښې څخه چا څه غوښه یا وازګه غلا کړه نو قرباني څنګه شوه؟(۱۳۳۴-۳۳/۲۰۹۲هـ)

ځواب: که چا غوښه وازګه غلا کړه نو ګنهکار دی په قرباني کې تاوان نه راځي.

سوال: (۲۵۰) که په څه وجه سړی د قربانۍ غوښه خرڅه کړي نو د قیمت صدقه کول یې د څرمنې د قیمت په رنګه واجب دی او کنه؟(۱۳۳۲-۳۵/۳۵۱هـ)

ځواب: صدقه کول یې واجب دي کما فی الدر المختار: فان بیع اللحم او الجلد به الخ تصدق ثمنه الخ. (۲)

د خپلې قربانۍ څرمن استعمالول

سوال: (۲۵۱) قرباني کونکی که څرمن د قرباني پخپل استعمال کې راولي نو جائز دي او کنه؟(۱۳۳۰-۲۹/۳۰۲هـ)

ځواب: د قربانۍ څرمن له خرڅولو مخکې په خپل استعمال کې راوستلای شي او استعمال کیدونکي شیان ځني جوړولای شي مګر له خرڅولو وروسته قیمت پخپل کار کې نشي استعمالولای. (۳)

---

(۱) الدر مع الرد ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الرد ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة . ط رشیدیه

(۳) و یتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال و جراب و قربة و سفرة ودلو او یبدله بما ینتفع به باقیا... لا بمستهلک کخل و لحم و نحوه کدراهم فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه (الدر المختار مع الرد ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

د قربانۍ له څرمني ځخه سولاغه، دسترخوان او نور جوړول

سوال: (۲۵۲) د قربانۍ په پوست بېله خرڅولو کوم کوم کارونه کېدلای شي؟

ځواب: مخکي تر خرڅولو سولاغه، سرخوان او نور ځني جوړول صحیح دي.

د خیراتولو په نیت د قربانۍ پوست خرڅول جائز دي

سوال: (۲۵۳) ... (الف) فروخت کردن چرم قربانی جائز است یا مکروه؟

(ب) فروخت کردن چرم قربانی باین طور کہ صاحب چرم مشتری را چرم بدہد و مشتری قیمت بدہد مثلا سه روپیه

دریں صورت قیمت مقرر شد یا نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۵۳۸ھ)

ځواب: (الف) فروخت کردن چرم قربانی به غرض تصدق جائز است بلا کراہت و فی العالمغیریة: و لو باعها بالدراهم لیتصدق بها جاز لانه قربة کالتصدق کذا فی التبیین. (۱)

(ب) دریں صورت قیمت پوست قربانی محقق شد باید که آں سه روپیه را صدقه کند بر فقراء کما فی الدر المختار: فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه. (۲)

سوال: (۲۵۳) ... (الف) ترجمه: د قرباني پوست خرڅول جائز دی که مکروه؟

(ب) د قربانۍ څرمن دا ډول خرڅول چي د څرمني مالک و مشتری ته پوست ورکړي او مشتری قیمت مثلاً درې روپۍ په دغه صورت کي قیمت ثابت شو او کنه؟

جواب: (الف) د قربانۍ څرمن د خیراتولو په غرض خرڅول بېله کرهیته جائز دی.

(ب) په دغه صورت کي د پوست قیمت ثابتیږي چي دغه درې روپۍ به و مسکینانو ته ورکوي.

سوال: (۲۵۴) د قربانۍ څرمن خرڅول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۸۰ھ)

---

(۱) الفتاوی العالمغیریة ۳۰۱/۵ کتاب الاضحیة الباب السادس فی بیان ما یستحب فی الاضحیة و الانتفاع بها.

(۲) الدر مع الرد ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

ځواب: په عالمګیري کي يو روايت دی چي که د خيراتولو په نيت څرمن خرڅه کړه نو صحيح دي و لو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لانه قربة كالتصدق كذا فى التبيين (١) فقط

د قرباني د څرمني او د هغه د قيمت غوره مصرف

سوال: (٢٥٥) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرع متين په لاندي مسئله کي الله رب العزت دي تاسو ته اجر عظم درکړي.

خلګ چي له هميشه د اختر پوستونه په کلي کي و کونډو، مسکينانو او خپلو قريبانو مسکينانو او د مسجد و مولوي صاحب او مؤذن ته چي خاص په دغه آمدني يا د کوچني اختر يا نکاح تړلو باندي ګزاره وي په دې اړه چي د مدرسو له طرفه اعلان او اشتهار وي چي پکي دا خبره وي چي څرمني دلته ټول خلګ د مدرسې د تعليم او نورو اړتيا لپاره راوليږي په دې کي به مي ډير ثواب وي د مسجد و ملا او نورو ته ورکول مناسب نه دي خو زمونږ خيال دی چي تر بل ځی ليږلو زمونږ خپل کلی زيات مستحق دی دا مي هم اوريدلي دي چي تر څو پوري پخپل ښار کي حق داران موجود وي د زکوة روپۍ بل ځای ته مه ليږئ نو کله چي د زکاة دا حکم دی نو د قرباني څرمني هم د ده په رنګه دي د دوی په اړه ولي ترغيب ورکول کيږي چي بهر ته وليږئ؟ او کوم څوک چي له هميشه څخه حقداران دي او د دغه وخت په انتظار دي دوی ولي محروم کړو؟ نو آيا په دې اړه به زمونږ څخه پوښتنه نه کيږي؟ مونږ خو خالص اميان او جاهلان يو ځکه ستاسو و حضور ته د خپل خلاصيون لپاره مراجعه کؤ چي عند الله د شرعي سره سم حکم راکړئ تر څو زمونږ اطمينان وشي او زمونږ غاړي نشي بندي. (١٩٤٧/٢٩-١٣٣٠هـ)

ځواب: د قرباني د څرمني حکم دا دی چي که پخپله استعمالوي او که و کوم غني ته ورکوي يا و فقير ته ليکن قيمت د قرباني د پوست خيراتول او فقير د هغه مالک جوړول واجب دي د مسجد و امام او مؤذن ته

---

(١) الفتاوی العالمغيرية ٣٠١/٥ كتاب الاضحية.

د اذان او امامت په بدل کې ورکول جائز نه دي او دا ښکاره ده چې امام او مؤذن دا خپل حق بولي که دوی ته نکړي ورنو دوی امامت او اذان نه کوي له دې څخه ښکاره ده چې دا دوی عوض او حق بولي نورنو د امام او مؤذن څخه پرته د کلي و کونډو. يتيمانو .ناوسو او خپلوانو مسکينانو ته ورکول ډير ښه دي او باعث د ثواب دي و ديني مدرسو ته په ورکولو کې زيات ثواب ځکه دی چې په دې کې د علم او دين خدمت او مرسته ده ځکه د دې ترغيب ورکول کيږي او نن صبا تر ټولو مقدم مصارف د ترک د مجروحينو مرسته ده هلته ليږل پکار دي ځکه په دې اړه يوه فتوی او يو اشتهار چاپ شوی دی هغه درليږم. فقط

د اختر د پوست حقدار څوک دی؟

سوال: (۲۵۲) عند الشرع د قربانۍ د څرمني حقداران څوک دي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۳۸۷هـ)

ځواب: د قربانۍ پوست چې تر څو خرڅ نکړي تر هغه وخته پخپله قرباني کونکی هم استعمالولای شي او بل چاته هم د استعمال لپاره ورکولای شي که هغه غنيان وي او که فقيران او له خرڅولو وروسته قيمت واجب التصدق دی يعنې دا حق د فقيرانو دی و فقيرانو او مسکينانو ته ورکول پکار دي که د يو ديني مدرسې و مسکينانو طالبانو ته ورکوي او که نور مسکينانو ته ورکوي. فقط و الله تعالی اعلم

د قربانۍ د پوست د قيمت حقدار څوک دی؟

سوال: (۱۵۷) د قربانۍ د څرمني د قيمت حق د چا چا دی؟ بنو هاشم دا قيمت اخيستلای شي او کنه؟ بنو هاشم يې له بنو هاشم څخه اخيستلای شي او کنه؟ د نورو مذهبو د سوالګرو څه حکم دی؟ بينوا توجروا (۱۳۳۰-۲۹/۲۳۴هـ)

ځواب: د قربانۍ د څرمني قيمت له واجب صدقو څخه دی دا هم په مصارفو کې صرف کړي کوم چې مصارف د زکوة دي و بنو هاشم ته زکاة ورکول او قيمت د قرباني د څرمني ورکول صحيح نه دي و نامذهبو

نه هم قیمت د څرمني ورکول صحیح نه دي او غوښه د قرباني ورکول صحیح دي او نه بنو هاشم ته قیمت د څرمني ورکولای شي. د غوښي ورکول و تولو ته صحیح دي. فقط والله تعالی اعلم

د قرباني د څرمني قیمت صدقه کول واجب دي

سؤال: (۱۵۸) قیمت چرم قربانی حکم صدقات فریضه دارد یا نافله؟ (۳۲/۲۴۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: حکم صدقات واجبه دارد. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۵۸) ترجمه: د قرباني د څرمني قیمت د واجب صدقو حکم لري که د نفلي؟

ځواب: د واجب صدقو حکم لري. فقط و الله تعالی اعلم

په پور کړي قرباني د څرمني قیمت هم صدقه کول ضروري دي

سوال: (۲۵۹) که مالدار قرباني وکړه او د څرمني قیمت یې پخپله استعمال کړی نو د مسکینانو په حق وهلو په قیامت کي دده غاړي بندي او په ثواب کي کمي راځي او کنه؟ او څوک چي په پور قرباني وکړي هغه د څرمني قیمت پخپله استعمالولای شي او کنه؟ (۱۳۳۹/۹۱ھ)

ځواب: د ده لپاره د څرمني قیمت له ځانه و ناوسو ته ورکول ضروري دی کنې غاړي به بندي وي او کوم څوک چي په پور قرباني وکړي د هغه لپاره هم د قرباني د څرمني قیمت صدقه کول ضروري دی پخپله خوړل صحیح نه دی.

د قرباني څرمن تر خرڅولو مخکي واجب التصدق نه ده

سوال: (۲۶۰) زید وایي چي د قرباني پوست تر څو سړی خرڅ نکړي د هغه خیراتول واجب نه دي له استهلاک یعني خرڅولو وروسته په نورو کارونو کي نشي مصرفولای خیرات کول یې واجب دي او و مدرسه یا بلي د خیر و اداري ته ورکول جائز دي هغه مدرسه او اداره یې پخپلو ملازمینو مهتممانو او نورو کارونو کي مصرفولای شي دزید دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۳۲/۲۲۷-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و یتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب الخ

لا بمستهلک الخ فان بيع اللحم او الجلد به اى بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنـــه الخ(۱) نو د زيد دا وينا صحيح ده چي د قربانۍ څرمن تر خرڅولو مخکي واجب التصدق نه ده او له خرڅولو وروسته واجب التصدق ده او د مدرسې يا بلې اداري و مهتمم ته ورکولو مطلب دا دى چي مهتمم يا متولي وکيل جوړوي چي ته خرڅ کړه بيا يې صدقه کړه نو لکه څنګه چي پخپله له خرڅولو وروسته و ملازمانو ته په تنخواه کي نشي ورکولای داغه راز مهتمم يې هم و استاذانو او مدرسانو ته په تنخواه کي نشي ورکولای و طالبانو ته ورکولای شي نو صرف طالبانو ته دغه قيمت ورکول پکار دي و ملازمانو ته په تنخواه کي نه دي ورکول پکار ځکه چي ښکاره خبره ده چي و مهتمم او متولي ته د دغه څرمنو مالک جوړول مقصود نه دي بلکه دوى صرف په حيث د امين او وکيل دي په خرڅولو او مصرف لګولو کي. فقط

د غني او فقير د قربانۍ د څرمني حکم يو دى

سوال: (۳۲۱) وسيد ته د قربانۍ څرمن ورکول جائز دي او کنه؟ د غني او فقير د قربانۍ په څرمن کي فرق شته او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۹۱۲هـ)

ځواب: څرمن که تر خرڅولو مخکي ده ته ورکول شي نو صحيح دى او د غني او ناغني په حکم کي څه فرق نشته

د قربانۍ پوست و مؤذن ته ورکول يا په مسجد کي مصرفول

سوال: (۳۲۲) زيد وايي چي د قرباني څرمن په مسجد کي لګول پکار ده او عمر وايي چي مؤذن يا کوم يتيم ته ورکړي دلته له هميشه څخه د قربانۍ څرمن و مؤذن ته ورکول کيده سږ کال ځينو خلګو خرڅه کړه او د مسجد په تعميرکي د لګولو خيال دى اوس پوښتنه دا ده چي دا د چا حق دى؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۵۰هـ)

ځواب: د قربانۍ څرمن و مؤذن ته د اذان او د مسجد د خدمت په اجرت کي ورکول او د مسجد په تعمير او ضرورتونو کي لګول صحيح نه دي بلکه کله چي څرمن خرڅه کړه نو د قيمت صدقه کول يې واجب شو او

(۱) الدر مع الرد ۲۳۱/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه

د دې په هم هغه مصرفونو کي لګول ضروري شو کوم چي د زکاة مصارف دي نو و مؤذن ته د مسجد د خدمت په عوض او د اذان په اجرت کي ورکول صحيح نه دي او په مسجد کي هم د دې مصرفول صحيح نه دي قال فی الدر المختار: لا یصرف الی بناء نحو مسجد الخ قال فی الشامی: قوله: (نحو مسجد) کبناء القناطر و السقایات و اصلاح الطرقات و کری الانهار و الحج و الجهاد و کل مالا تملیک فیه(۱) نو په مسئوله صورت کي نه قول د زید صحیح دی او نه د عمر اما که په مسجد کي ضرورت د ی نو دغه د پوست قیمت و یو مسکین چي سید نه وي ورکړي مالک يې جوړ کړي بیا د مسجد په ضروریاتو کي لګیدلای شي بېله دغه طریقې صحیح نه دی کتبه: الاحقر رشید احمد عفی عنه(۲)

الجواب صحیح بنده عزیز الرحمن، مفتی مدرسه

سوال: (۲۲۳) د قربانۍ د څرمني په روپیو مسجد جوړول جائز دي او کنه؟ او داغه راز د مسجد شیان په رانیول جائز دي او کنه؟ د کتاب په حواله جواب راکړئ (۱۰۱/۱۳۴۱ھ)

ځواب: د قربانۍ د څرمني قیمت صدقه کول واجب دی او له خرڅولو وروسته د دې حکم د زکاة په رنګه دی او په شامي کي راغلي دي چي د واجب صدقو مصرف هم هغه دی کوم چي د زکاة مصرف دی (۳) لهذا د قربانۍ د څرمني په قیمت د مسجد تعمیر او ترمیم او د مسجد سامان رانیول صحیح نه دی کذا فی الدر المختار: لا یصرف الی بناء نحو مسجد. (۴) فقط

وغني امام ته د قربانۍ څرمن ورکول یا له خرڅولو وروسته و مسکین ته ډوډۍ په ورکول

سوال: (۲۲۴) څه فرمايي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کي:

---

(۱) الدر و الرد ۶۸/۲ کتاب الزکاة، باب المصرف. ط رشیدیه

(۲) دا حضرت مولانا رشید احمد صاحب ګنګوهي قدس سره نه دی بلکه کوم ناقل د فتاوی دی د کال ۲۹-۱۳۳۰ھ د فتاواو د رجستر پر لومړي مخ دا یادونه لیکل شوې ده: رشید احمد صاحب چي پر زیاتره فتاواو باندي دستخط شته کوم ناقل د فتاوی دی.

(۳) قوله: (ای مصرف الزکاة و العشر) ... و هو مصرف ایضا لصدقة الفطر و الکفارة و النذر و غیر ذلک من الصدقات الواجبة(الشامی ۶٤/۲ کتاب الزکاة اوائل باب المصرف. ط رشیدیه)

(٤) الدر مع الرد ۶۸/۲ کتاب الزکاة، باب المصرف. ط رشیدیه

(۱)د قربانۍ څرمن و مصرف ته د زکاة لله ورکول صحیح ده او کنه؟ کوم امام د مسجد چي مصرف د زکاة وي د هغه څه حکم دی؟

(۲)که قرباني کونکی د قرباني څرمن خرڅه کړي و مسکینانو ته ډوډۍ یا جامې په ور اخیستلای شي او کنه؟(۲۹/۲۸۰-۱۳۳۰هـ)

ځواب:(۱)د قربانۍ څرمن د امام صاحب چي مصرف د زکاة وي لپاره اخیستل صحیح دي مگر بنه نه دي او د امامت په عوض کي اخیستل صحیح نه دي لنډه دا چي امام ته مه ورکوئ

(۲)و مسکین ته ډوډۍ او جامې ورپه اخیستل صحیح دي په دې شرط چي ده ته په ملک کي ورکړي (۱)

سوال:(۲۲۵) د مسجد امامته چي غني دي په اختر کي پوستونه ورکول جائز دي او کنه؟(۲۹/۳۷۰-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د مسجد و امام ته د قربانۍ څرمني ورکول په دې وجه چي دی امام دی د ده حق دي ناجائز دی فقط والله تعالی اعلم

و مقروض امامته د قربانۍ د څرمني قيمت ورکول

سوال:(۲۲۶) یو سړی په مسجد کي امام دی پر ده باندي شپږ سوه اووه سوه روپۍ قرض دی و ده ته د قربانۍ څرمني قیمت ورکول جائز دي او کنه؟(۳۲/۸۰۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: و امام او مؤذن ته د اختر د پوستونو ورکولو مطلب دا وي چي دا عوض د ده د امامت دی او دلیل د دې دا دی چي که ورنکړي نو نه دي پاتیږي نو ځکه و امام او مؤذن ته د قربانۍ څرمني ورکول صحیح نه دي ځکه چي د قربانۍ د څرمني په عوض ورکول صحیح نه دي اما د دې د جواز حیله دا ده کومه چي د فقهي په کتابونو کي لیکلې ده چي لومړی دي په کلي کي بل چاته چي د نصاب مالک نه وي د قربانۍ د څرمني قیمت دي ورکړي هغه دي مالک جوړ کړي بیا دي هغه له خپل طرفه و دغه امام او مؤذن ته ورکړي تر څو هغه خپل قرض په ادا کړي یا یې پخپل بل کار کي ولګوي فقط

---

(۱) و يشترط ان يكون الصرف تمليكا لا اباحة كما مر و في الشامي: قوله: (تمليكا) فلا يكفي فيها الا طعام الا بطريق التمليك و لو اطعمه عنده ناويا الزكاة لا تكفي(الدر المختار و الشامي۲/۶۸ كتاب الزكاة باب المصرف. ط رشيديه)

د قربانۍ د پوست قیمت و امام ته په عوض کي ورکول

سوال: (۲۲۷) د مسجد مولوي صاحب د اختر د پوستونو څخه پرته بل یو صورت د ګټي نلري او نه تنخوا لري پخوا به خلګو د قربانۍ څرمني و مولوي صاحب ته ورکولې مولوي اشرف علي تهانوي رحمه الله په بهشتي زیور کي منع لیکلي دي چي امامته څرمن مه ورکوئ(۱) په داسي صورت کي څه حکم دی؟ (۳۲/۸۸۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: معروف دا دي چي امام پوستونه د قربانۍ یا قیمت د قربانۍ د څرمنو د ده د امامت په وجه ورکوي ځکه که ورنکړي نو دی ځي دا دلیل دی چي امام ته پوستونه د ده د امامت په عوض کي ورکول کیږي نو داسي صحیح نه دي ځکه چي د قربانۍ د پوست د یو شي په عوض کي ورکول صحیح نه دي لکه چي زکوة د یو شي په عوض کي ورکول صحیح نه دي په دې سره زکوة نه ادا کیږي داغه راز په قرباني کي هم نقصان راځي او پر قرباني کونکي دومره قیمت د الله لپاره صدقه کول ضروري دي نو د امام د تنخوا او ضروریاتو کوم بل بندوبست وشي سرسایه او د اختر پوستونه و ده ته مه ورکوي. فقط

د قربانۍ د څرمني قیمت و محتاج امام ته ورکول

سوال: (۲۲۸) د مسجد مولوي صاحب که مسکین وي او د مسجد په تنخوا د ده ګزاره نه کیږي نو که ده د اختر پوستونه ورکړو تر څو د ده معاش برابر شي نو هم څه پروا لري او کنه؟ یعني ده ته ورکولای شو؟ بینوا توجروا (۳۳/۳۳۱-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د مسجد و امام ته په هیڅ حال کي هم د امامت په عوض د قربانۍ د څرمني قیمت، زکاة او سرسایه مه ورکوئ که مسکین وي او که نه وي ځکه چي د دغه شیانو په عوض کي ورکول صحیح نه دي او امام ته ورکول خاص د امامت په وجه وي او داسي صحیح نه دي ځکه و ده ته ورکول قطعي منع دي. فقط*

---

(۱) د قربانۍ د پوست قیمت و چاته په اجرت کي ورکول جائز نه دی ځکه چي د دې خیراتول ضروري دي (اختری بهشتي زیور ۴۲/۳ د قربانۍ بیان مسئله: ۴۱)

د قربانۍ پوست و قاضي ته د ده په حق ګڼلو ورکول صحيح نه دي

سوال: (۲۶۹) د قربانۍ څرمن و قاضي ته د ده په حق ګڼلو ورکول او د غني قاضي لپاره اخيستل څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د قربانۍ پوست د امام يا قاضي حق نه دی د ده په حق ګڼلو ورکول او د قاضي لپاره اخيستل جائز نه دي

مسکين د قربانۍ د څرمني قيمت په مسجد کي مصرفولای شي

سوال: (۲۷۰) د زيد پلار د نصاب مالک دی مګر زيد هيڅ شی نلري په داسي صورت کي زيد د قربانۍ څرمن په مسجد مصرفولای شي او کنه؟ (۲۰۹۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په مسجد يا مدرسه کي د قربانۍ د څرمني قيمت مصرفول صحيح نه دي بلکه صدقه کول يې واجب دي که زيد پخپله د نصاب مالک نه دی او بالغ دی نو دی د دې مصرف دی دی دې پخپله قبولي کړي بيا له خانه په مسجد يا مدرسه مصرفولای شي.

د مجبورۍ پر مهال د قرباني د څرمني قيمت په مسجد کي لګيدلای شي او کنه؟

سوال: (۲۷۱) په يو ځای کي پخوانی زوړ مسجد دی چي پنځه وخته لمونځ پکي کيږي اوس يې د مغرب و طرف ته يوه برخه شهيده شوې ده اوس خوندي نه دی حيوانان ورځي پکي پچي بولي کوي څو واره د کلي مسلمانانو ته وويل شو خو دوی ډير ايمان ضعيفه دي دې طرف ته خيال هم نه کوي بيا هم مي فکر وکړی چي د قربانۍ د څرمنو قيمت به راجمع کړم د مسجد دغه کار به په وکړم نورنو که مسلمانانو څه کومک کولای شو پکي وبه لګو اوس پوښتنه دا ده چي د قرباني د څرمنو په قيمت دغه مسجد جوړلای شو او کنه؟ (۲۱۰۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا صحيح دی چي د قربانۍ د څرمني قيمت و ناوسو ته ورکول لازم دي د مسجد په ترميم کي صرفول صحيح نه دي ليکن که د مسجد د تعمير او ترميم کوم بل صورت نه وي نو په دې حيله سره د قربانۍ د څرمني قيمت

په مسجد کي صرفولای شي چي داسي د مسجد خیرخواه ته چي په مسجد مصرف کول غواړي او غني نه وي هغه ته دغه قیمت د څرمني ورکړي هغه مالک جوړ کړي نو قرباني ادا شوه او صدقه پوره شوه بیا چي هغه سړی له ځانه په مسجد ولګوي نو داسي جائز دي فقط و الله تعالی اعلم

داختر پوستونه و متولیانو ته د مسجد جوړول لپاره ورکول صحیح نه دي

سوال: (۲۷۲) د قرباني څرمني چي خرڅي شي نو قیمت یې په څه ډول صدقه کي شمیرل کیږي؟ او مصارف یې څه دي؟ د مسجدونو په تعمیر او نورو کي لګول شرعًا جائز دي او کنه؟ او که دغه څرمني د مسجد و متولیانو یا د مسجد امام ته د مسجد جوړولو لپاره ورکول شي چي دوی په خرڅ کړي بیا به د مسجد په تعمیر کي ولګوي داسي شرعًا څنګه دي؟ (۲۱۵۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د قرباني د څرمنو قیمت د دوی له خرڅولو وروسته د شرعي له مخه په واجب صدقو کي داخل شو کما فی الهدایة: و لو باع الجلد او اللحم بالدراهم او بما لا ینتفع به الا بعد استهلاکه تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الی بدله(۱) او په عیني د هدایې په شرح کي راغلي دي: فاذا تمولته بالبیع وجب التصدق لان هذا الثمن حصل بفعل مکروه فیکون خبیثا فیجب التصدق(۲) او په کافي د هدایې په شرح کي راغلي دي: قوله تصدق بثمنه لان معنی التمول سقط عن الاضحیة فاذا تمولها بالبیع انتقلت القربة الی بدله فوجب التصدق(۳)

له پورته عبارتونو څخه دا خبره ثابته شوه چي د قرباني څرمني له خرڅولو وروسته د زکوة او نورو په رنګه دي چي قیمت یې صدقه کول واجب دي لهذا د دوی مصارف هم د زکاة مصارف دي او

---

(۱) الهدایة ٤/٤٥٠ کتاب الاضحیة.

(۲) البنایة فی شرح الهدایة المشهور به عینی شرح الهدایة ٤/١٩٠ کتاب الاضحیة المطبوعة: المطبع العالی نول کشور لکهنؤ.

(۳) الحاشیة علی الهدایة ٤/٤٥٠ کتاب الاضحیة رقم الحاشیة: ٧.

کله چي په زکاة او په نورو واجب صدقو کي تمليک شرط دی ځکه دا: مسجد په تعمير او نورو کي صرفول هيڅکله جائز نه دي ځکه چي په تعمير د مسجد کي تمليک نه راځي كما في الدر المختار: لا يصرف الى بناء نحومسجد و لا الى كفن ميت و قضاء دينه . لعدم التمليك و هو الركن(۱) هكذا في فتح القدير و هداية و شرح الوقاية و غيره حضرت حکیم الامت مولانا شاه اشرف علی صاحب مدظلهم العالی په فتاوی اشرفيه کي ليکي: "چي خرمن خرڅه کړ نو د هغه قيمت صدقه کول واجب دي او د تصدق په ماهيت کي تمليک مـ خوذ دی دا خو واجب صدقه ده ځکه د دې مصارف د زکاة د مصارفو په رنګه دي "(۲) که خرمن د مسجد و متوليانو يا د مسجد و امامته د مسجد جوړولو لپاره ورکول شي چي دوی د دې قيمت د مسجد په تعمير کي ولګوي دا هم نه دي جائز ځکه چي دلته هم شرط د تمليک کوم چي رکن دی موجود نه دی ځکه چي د تمليک معنی دا ده چي څوک مالک جوړ کړي چي له مالک جوړيدو وروسته دده اختيار وي هر څه چي په کوي او په بيان شوي صورت کي دا دول مالک نه جوړوي بلکه ورکونکی ځکه ورکوي چي دا روپۍ د مسجد په تعمير کي ولګوي دا تمليک نه بلکه سرترپايه توکيل دی و قرباني کونکي ته لکه څنګه چي اجازه نشته چي د خرمني قيمت د مسجد په تعمير کي ولګوي داغه راز دوی ته دا هم اجازه نشته چي کوم بل څوک په مسجد او نورو کي لګولو وکيل جوړ کړي ځکه چي د کوم تصرف پخپله و مؤکل ته اجازه نشته د هغه لپاره بل څوک وکيل جوړول هم جائز نه دي لکه چي په هدايه کتاب الوكالة کي راغلي دي: من شرط الوكالة ان يكون الموكل ممن يملك التصرف و يلزمه الاحكام لان الوكيل يملك التصرف من جهة الموكل فلا بد من ان يكون الموكل مالكا ليملكه من غيره(۳) خلاصه دا ده چي د قربانۍ خرمن چي کله خرڅه شوه بيا د هغه قيمت په مسجدونو او نور کي مصرفول شرعًا منع دی او نه دا و بل ځانته د دې لپاره ورکول جائز دي چي له خرڅولو وروسته د دې قيمت د مسجد په تعمير کي صرف کړه. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱)الدر المختار مع الشامي ۶۸/۲ كتاب الزكاة باب المصرف. ط رشيديه

(۲) امداد الفتاوی ۵۳۶/۳ كتاب الذبائح والاضحية و الصيد و العقيقة سوال.(۵۶۷)ط . زکريا ديوبند.

(۳) الهداية ۱۷۹/۳ كتاب الوكالة.

د قربانۍ د څرمنو قیمت د مسجد په اړتیاؤ کي کارول

سوال: (۲۷۳) د قربانۍ د پوست تر خرڅولو وروسته قیمت په مسجد کي ورکول د مسجد لپاره سولاغه، رسۍ او نور شیان اخیستل صحیح دي او که نه؟ (۱۳۳۷/۳۷هـ)

ځواب: شرعي حکم دا دی چي د قربانۍ څرمني تر خرڅولو وروسته د هغه قیمت صدقه کول واجبېږي او د واجب صدقو مصرف فقیران او مسکینان دي د مسجد په تعمیر ترمیم او نورو اړتیاؤ لکه سولاغه، صفونه، رسۍ او نورو شیانو کي مصرفول صحیح نه دي، ځکه چي په واجب صدقه کي د فقیر مالک جوړول ضروري وي او په دغو شیانو کي په لګولو کي د چا تملیک نه ګرځي. په درمختار کي راغلي دي: (فان بیع اللحم او الجلد به... او بدراهم تصدق بثمنه الخ(۱) فقط.

د قربانۍ د څرمني په قیمت د مسجد لپاره ټاټ اخیستل

سوال: (۲۷۴) د قربانۍ د څرمني په قیمت د مسجد لپاره ټاټ اخیستلای شي او که نه؟ (۱۳۴۱/۲۸۷۱هـ)

ځواب: د اختر پوست چي خرڅ کړي نو د قیمت صدقه کول یې واجبېږي پکښې تملیک شرط دی، لهذا د مسجد لپاره ټاټ او نور په اخیستل صحیح نه دي. اما حیله د تملیک که وکړي نو صحیح دی د هغه صورت دا دی چي دغه د قربانۍ د څرمني قیمت ویوه داسي سړي ته په ملک ورکړي چي د نصاب مالک نه وي هغه بیا له ځانه مسجد ته ټاټ راوړي نو دا صحیح دی کذا في الدر المختار فقط.

که څوک په مسئله خبر نه وي د قربانۍ د څرمني په قیمت د مسجد او نورو لپاره ښتني رانیسي

سوال: (۲۷۵) د مسافرخاني او مسجد او نورو د ترمیم لپاره له مسئلي څخه د ناخبرتیا په وجه د قربانۍ د څرمني په قیمت

---

(۱) الدر مع الرد ۵/۲۳۱ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

خښتي رانیول شوې، نو اوس د دغو خښتو استعمال څنګه دی؟ (۱۳۴۵/۵۴۷هـ)

ځواب: اوس د جواز صورت دا کیدلای شي چې څومره خښتي چې مې د قرباني د څرمني په قیمت رانیولي دي هغومره قیمت فقیر ته د قرباني د څرمني په نیت ورکړي.
بیا دغه خښتي او نور د مسجد او مسافر خاني لپاره خاص کړي پکښي ولګوي

د قرباني د څرمني په قیمت د مسجد دوکانونو پور ادا کول

سوال: (۲۷۲) د یو مسجد په نوم موږ پور واخیستی چې دوکانونه په تعمیر کړوو او یو بل مسجد ته د چنديې ضرورت دی، لهذا د قرباني د څرمني قیمت په دغو کارونو کي لګول جائز دي او که نه؟ که جائز دي، نو په لومړي صورت کي صرفول اولی دي که په دوهم صورت کي؟ (۱۳۳۳/۷۸۸هـ)

ځواب: د قرباني د پوست په قیمت نه د مسجد د دوکانونو قرض ادا کیدلای شي او نه د بل مسجد په چنده کي ورکول صحیح دي ځکه چې د قرباني د څرمني قیمت صدقه کول واجبيږي او مصرف د دې د زکاة د مصرف په رنګه دی چې پکښي فقیر مالک جوړول شرط دی، خو حیله په داسي کارونو کي د لګولو فقهاوو دا لیکلي دي چې لومړی یې کوم فقیر ته په ملک ورکړي بیا د ده له خوا بیان شوي کارونه کیدلای شي، نو د تملیک له حیلي وروسته دواړه کاره جائز دی که فقیر په لومړي کار کي لګوي او که په دوهم کي. فقط

پوستونه مدرسې ته وکول او له قیمت څخه استاذانو ته تنخوا ورکول

سوال: (۲۷۷) د قرباني څرمني چې مدرسې ته ورکړي دوی یې د استاذانو په تنخواوو کي مصرفوي او په څیني ځایونو کي دا رواج دي چې څو غواوي جمع کړي او وندې معلومي کړي بیا وندې اخیستونکیو ته ووایي چې دا غواوي به ستاسو له خوا حلالي کړې په دې شرط چې څرمني به فلانی مدرسې ته ورکوې یا به په فلاني کار کي مصرفوې چې پورته بیان شول

۱: د مهتمم لپاره ملازمانو ته په تنخوا کي ورکول

۲: د استاذانو لپاره تنخوا اخیستلو سره د دې چې دوی په خبر وي چې مهتمم صاحب دا تنخوا د قرباني له څرمنو راکوي.

۳: د حجرې په تعمیر او نور کارونو کي د قرباني د څرمني مصرفول.

دا پورته کارونه ټول صحیح دي او که نه؟ او قرباني جائز کیدلای شي او که نه؟ (۲۲۱/۲۹-۱۳۳۰)

ځواب: د قربانۍ د پوست قیمت واجب التصدق دی، ملازمانو ته په تنخواه کي ورکول یا د مسجد او مدرسي په تعمیر او نورو کي مصرفول صحیح نه دي.

۱: د مدرسي د مهتمم لپاره بې له تملیک له حیلې ملازمانو ته د قربانۍ د څرمني قیمت ورکول ناجائز دی.

۲: د مدرسانو لپاره سره د خبرتیا په تنخوا کي اخیستل ناروا دي.

۳: د حجرې او نورو په تعمیر کي بېله تملیک له حیلې مصرفول ناجائز دي.

دا ټول کارونه ناروا دي د دې په وجه په قرباني کي نقص راځي او د داسي کارونو کوونکی ګناهګار دی.

قال في الدر المختار: في باب الاضحية: فان بيع اللحم او الجلد به اى بمستهلک او بلدراهم تصدق بثمنه.(۱)

وفيه ايضا في باب مصرف الزكوة: وقد منا ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره بفعل هذه الاشياء.(۲) فقط

سوال: (۲۷۸) له څلورو کلونو راهیسي د مدرسې مصرف له چندې او د قربانۍ په څرمنو وو او یو دم چنده ورکوونکیو چنده بنده کړه او په څرمن کي مسئله بیان کړه چي د قربانۍ په څرمن د مدرسې مرسته کول ناجائز دي، که مدرسې ته د قربانۍ څرمني ورنه کړي، نو د مسکینانو زامن به جاهلان پاته شي، څه حکم دی؟ (۷۱۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د قربانۍ د څرمني شرعًا حکم دا دی چي د خرڅولو وروسته قیمت صدقه کول واجب دي او مسکینان د دې مالکان جوړول ضروري دي او د قربانۍ د څرمني له خرڅولو وروسته د زکوة حکم ګرځي چي د فقیرانو پکښي مالکان جوړول ضروري وي، نو د قربانۍ د څرمني قیمت پر طالبانو مصرفیدلای شي، خو د مدرسانو په تنخوا کي ورکول جائز نه دي، د دې لپاره د فقهي په کتابونو کي دا حیله لیکلې ده چي کوم محتاج د دې مالک جوړ کړي هغه دې له ځانه مدرسې ته ورکړي،

---

(۱) الدر مع الشامي ۲۳۱/۵ كتاب الاضحية ط رشيدية.

(۲) الدر المختار مع الشامي ۶۹/۲ كتاب الزكاة باب المصرف قبل مطلب في جهاز المراة هل تصير به غنية، ط رشيدية.

نو بیا د استاذانو او نورو په تنخواه کې صرفیدلای شي (۱) نو تاسو هم د خپلې مدرسې لپاره دا حیله کوئ (۲) یا دا چې د مدرسانو او ملازمانو تنخواوې له کومې بلې چندې څخه ورکوئ او د طالبانو په خوراک او جامو کې د قربانۍ د څرمنو قیمت مصرفوئ فقط

سوال: (۲۷۹) د اختر پوستونه په مدرسو او مسجدونو کې لګول جائز دي او که نه؟ (۱۳۳۹/۵۸۵هـ)

ځواب: د قربانۍ د څرمنو صدقه کول پر مسکینانو غریبانو ضروري دي د زکوة په رنګه لکه چې د شامي په دوهم ټوک کتاب الزکاة کې چې راغلي دي چې کوم مصرف د زکوة دی هم هغه مصرف د واجب صدقو دی (۳)

---

(۱) ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره بفعل هذه الاشياء (الدر مع الر ۶۹/۲ كتاب الزكاة باب المصرف، قبل مطلب في جهاز المراة هل تصير به غنية؟)

وحيلة التكفين بها التصدق على الفقير ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما وكذا في تعمير المسجد وتمامه في حيل الاشياء (الدر مع الشامي ۶/۲ كتاب الزكاة، مطلب في زكاة ثمن المبيع وفاء قبيل باب السائمة)

(۲) د تمليک د حیلې شرعي حیثیت: د دغه باب په فتواو کې څو وار د تمليک د حیلې بیان راغلی، دا حیله یوه واقعي خبره ده په حاشیو د شامي او نورو حوالې دي، خو په فتاوی رحیمیه کې راغلي دي چې "د تمليک لپاره ظاهري اړول را اړول کافي نه دي (۲/۸-۹ قدیم) حیله د تمليک هغه وخت حیله ده کله چې واقعتًا تمليک مقصود وي، کنې هغه له سره حیله نه ده او نن سبا چې مدرسو والا کومه حیله کوي په دې کې واقعتًا تمليک نه وي، صرف ظاهرًا یې وکوم طالب او مسکین ته ورکړي بیا یې بیرته ځیني واخلي او که طالب او فقیر له ځانه سره وړي، نو په زور یې ځیني اخلي دا قطعًا حیله د تمليک نه ده په داسي حیلو سره کوم حلت نه پیدا کیږي

او حیله که واقعتًا وي یعني پکښې واقعتًا تمليک مقصود وي، نو هم په دې سره د ددنیا په احکامو کې حلت پیدا کیږي. په دیاناتو یعني فیما بین العبد وبین الله هیڅ حلت نه پیدا کیږي، په امداد الفتاوی کې چیرې چې د تراویحو د اجرت مسئله راغلي ده. حضرت تهانوي رحمه الله لیکلي دي چې حیل په دیاناتو د واقعي حلت فائده نه کوي (۴۸۴/۱-۴۸۵ زکریا) نو له واقعي حیلو څخه هم پرهیز کول ضروري دی واجب التمليک روپۍ په خپلو مصارفو کې ولګوي، هیڅ حیله حواله مه کوئ سعید احمد پالن پوري

(۳) قوله: (اى مصرف الزكاة والعشر)... وهو مصرف ايضاً لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلك من الصدقات الواجبة (الشامي ۶۴/۲ كتاب الزكاة، اوائل باب المصرف، ط رشيديه)

او د قرباني د څرمني قيمت له خرڅولو وروسته واجب التصدق وي او کله چي په دې کي د فقير مالک جوړول شرط دی ځکه قيمت په مسجد مصرفول جائز نه دي او په مدرسو کي په مسکينانو طالبانو مصرفول جائز دي.

سوال: (۲۸۰) د قرباني څرمني مدرسې ته ورکول جائز دي او که نه؟ او د نصاب مالک مهتمم که واخلي مدرسانو ته په تنخواه کي ورکول جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۳/۲۸۴ھ)

ځواب: د مدرسې مهتمم چي د مدرسې له خوا د وکيل په حيث د قرباني څرمني واخلي د مدرسې په اړتياوو کي مصرفولای شي که څه هم مهتمم صاحب د نصاب وي، خو د نوموړي مهتمم لپاره ضروري دي چي له خرڅولو وروسته د څرمنو قيمت پر مسکينو طالبانو مصرف کړي يا يې د تمليک له حيلې وروسته د مدرسې د استاذانو په تنخواوو کتابونو او نورو اړتياوو کي ولګوي، ځکه چي د قرباني د څرمني له خرڅولو وروسته د هغه د قيمت پر فقيرانو صدقه کول واجب دي او د واجب صدقو مصرفونه هم هغه دي کوم چي د زکوة دی او د زکاة روپۍ و مدرسانو ته په تنخوا کي ورکول بې د تمليک له حيلې صحيح نه دي، دا غه رنګه د مدرسې، مسجد او نورو په تعمير کي هم بې د تمليک له حيلې صرفول د زکوة او واجب صدقو لکه سرسايه، د قرباني د څرمنو قيمت او نذر او کفاره او نورو جائز نه دي په درمختار کتاب الاضحية کي راغلي دي: فان بيع اللحم او الجلد به او بدراهم تصدق بثمنه الخ ملخصا(۱) وفي باب مصرف الزكاة من رد المحتار للشامي وهو مصرف ايضاً لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلك من الصدقات الواجبة كما في القهستاني(۲) وفي الدر المختار من الزكاة: وحيلة التكفين بها التصدق على الفقير ثم هو يكفن الخ وكذا في تعمير المسجد وتمامه في حيل الاشباه(۳) فقط.

د قرباني د څرمنو له قيمت څخه محتاجه مدرسانو ته تنخوا ورکول

سوال: (۲۸۱) د قرباني له څرمنو څخه مدرسانو ته تنخوا ورکول جائز دي او که نه؟ کله چي مدرس محتاج وي او دی په دې خبروي چي دغه تنخواه ما ته د قرباني له څرمنو څخه راکوی (۱۳۳۰-۲۹/۳۸۷ھ)

---

(۱) الدر مع الرد ۲۳۱/۵ كتاب الاضحية ط رشيدية.

(۲) الشامي ۶۴/۲ كتاب الزكاة، اوائل باب المصرف ط رشيدية.

(۳) الدر مع الرد ۶/۲ كتاب الزكاة مطلب في زكاة ثمن المبيع وفاء ط رشيدية.

ځواب: د قربانۍ د څرمني قیمت واجب التصدق دی، بیله عوضه محتاجو ته ورکول لازم دي، مدرسانو ته په تنخواه کي ورکول جائز نه دي او نه د دوی لپاره اخیستل جائز دي، مدرسان که مسکینان وي او که غنیان و دوی ته په تنخواه کي ورکول د قربانۍ د څرمني قیمت په هیڅ ډول صحیح نه دی، خو د تملیک په حیله چي دغه قیمت د پوست یو مسکین ته ورکړي، بیا دي هغه له ځانه مدرسانو ته په تنخواه کي د ورکولو لپاره درکړي. فقط.

د قربانۍ د څرمنو له قیمت څخه غنیانو مدرسانو ته تنخواه ورکول

سوال: (۲۸۲) د قربانۍ د څرمنو له قیمت څخه غنیانو مدرسانو ته تنخوا ورکول جائز دي او که نه؟ داغه راز که څرمن بې د چا له ملک جوړولو مدرسې ته ورکول شو دا ډول څرمن ورکول هم جائز دي که تملیک شرط دی؟ او که څرمن په خپله مالک خرڅه کړي قیمت یې خیرات کړي داسي جائز دي او که نه؟ او د څرمن قیمت بېله تملیکه د مسجد په تعمیر کي ورکول جائز دي او که نه؟ (۲۹/۲۱۷-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د قربانۍ د پوست له قیمت څخه مدرس ته تنخواه ورکول جائز نه دي که مدرس د نصاب مالک وي او که نه وي، د څرمني په مدرسه کي ورکول صحیح دي د مدرسې مهتمم ګواکي د مالک له خوا د ملک جوړولو وکیل دی، دی دي تملیک وکړي بیا دي مصرف کړي، که پوست په خپله مالک خرڅ کړي قیمت یې خیرات کړي، نو صحیح دی، ګواکي دا خرڅول په نیت د تصدق دی ځکه صحیح دی، د څرمنو قیمت بیله تملیکه په مسجد کي لګول صحیح نه دي او ورکول هم صحیح نه دي، خو په داسي طریقه چي متولي او د مسجد مهتمم ته ورکړي چي ته تملیک وکړه په مسجد کي صرف کړه داسي صحیح دي. فقط.

د قربانۍ د څرمني په قیمت د وقف کولو لپاره کتابونه رانیول

سوال: (۲۸۳) د قربانۍ څرمن مسجد یا مدرسې ته ورکول یا یې په قیمت کتابونه رانیول په مدرسه کي وقف کول، داسي جائز دي او که نه؟ (۳۴۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د قربانۍ د څرمني له خرڅولو وروسته قیمت واجب التصدق ګرځي او د دې مصرف د زکوة په ډول دی تملیک پکښي شرط دی، د مسجد په تعمیر او ترمیم او نورو اړتیاوو کي صرفول د

دې صحیح نه دي. خو د تملیک له حیلې وروسته یعني چې کوم محتاج د دې مالک کړي هغه یې په مسجد کي ولګوي، نو صحیح دی او په مدرسه کي که پر طالبانو مصرف کړي، نو بیله حیلې صحیح دی او که کتاب رانیسي وقف یې کړي یا یې مدرسانو ته په تنخواه کي ورکوي، نو د تملیک حیله وکړه لکه چي مخکې ولیکل شوه. فقط والله تعالی اعلم.

د قرباني د څرمنو په قیمت طالبانو ته کتابونه ورانیول

سوال: (۲۸۴) په اسلامیه مدرسه کي چي کوم د غریبانو مسلمانانو بچیان سبقونه وایي د دوی د کتاب بیه او دا ډول د مدرس تنخواه د قرباني له څرمنو څخه ورکول جائز دي او که نه؟ او کتابونه راغوښتل کیدلای شي او که نه؟ د مدرسې په تعمیر کي مصرفیدلای شي او که نه؟ (۱۳۳۷/۲۳۴۰هـ)

ځواب: د اختر د پوست قیمت مدرسانو ته په تنخواه کي ورکول او د مدرسې په تعمیر کي صرفول صحیح نه دي او د طالبانو په اړتیاوو کي مصرفول صحیح دي مثلاً د طالبانو په خوراک او جامو کي ورکول صحیح دي او که طالبانو ته ملکیتًا کتابونه ور رانیسي نو دا هم صحیح دي لنډه دا چي تملیک پکښي ضروري دي او که په مدرسې کي د ایښودلو لپاره دیني کتابونه راوغواړي، نو پکښي حیله د تملیک وکړي لکه چي د زکاة په حکم کي دي. یعني د قرباني د څرمني قیمت یو داسي سړي ته ورکړي چي د نصاب مالک نه دی، بیا دي هغه سړی له ځانه دیني کتابونه راوغواړي مدرسې ته دي ورکړي یا دي د مدرسانو ته په تنخواه او د مدرسې په تعمیر کي ولګوي له تملیک وروسته دغه ټول کارونه صحیح دي. فقط.

د قرباني د څرمنو له قیمت څخه طالبانو ته معاش ورکول

سوال: (۲۸۵) په داسي مدرسې کي چي د طالبانو د معاش او خوراک څښاک انتظام وي د اختر پوستونه او سرسایه ورکولای شي او که نه؟ (۱۳۳۵/۱۴۵۴هـ)

ځواب: طالبانو ته معاش د قرباني د پوستونو له قیمت څخه سرسایه او زکوة ورکولای شي، خو مدرسانو او ملازمانو ته په تنخواه کي ورکول صحیح نه دي.

د اختر د پوست قیمت په مکتب (سکول) کې مصرفول

سوال: (۲۸۶) علماء کبار وفضلاء نامدار رحمکم الله تعالی په دې اړه څه فرمايي چې د اختر پوستونه خرڅ کړي روپۍ يې په مدرسه، عيدګاه يا مدرسه او اسکول او نور د خير په کارونو کې مصرفول او مدرسانو او معلمانو ته تنخواوي ځيني ورکول شرعًا جائز دي او که نه؟ که ناجائز وي نو حرام دی که تحريمي او که تنزيهي مکروه؟ او حکم د دې د واجب صدقې دی او که نه؟ او څوک چې داسې کار کوي او خلګ دې ته ترغيبوي د هغه په هکله شرعًا څه حکم دی؟ بينوا بالبرهان وتوجروا عند الرحمان

(۱۷۲۵/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: د اختر د پوست قيمت د مدرسې، مکتب، عيدګاه او مسجد په تعمير او نورو کې مصرفول صحيح نه دي او مدرسانو او معلمانو ته تنخواوي ځيني ورکول جائز نه دي، بلکې حرام دي ځکه چې د قربانۍ د څرمني قيمت واجب التصدق دی او د فقراء تمليک پکښې د زکوة په ډول ضروري دی، نو د واجب ترک حرام وي په درمختار کې راغلي دي: فان بيع اللحم او الجلد به اى بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه(۱) (درمختار، کتاب الاضحية) وفي باب المصرف منه: باب المصرف اى مصرف الزكاة والعشر الخ هو فقير وفي الشامي قوله: (اى مصرف الزكاة) والعشر.... وهو مصرف ايضاً لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلک من الصدقات الواجبة كما في القهستاني(۲) فقط والله اعلم

نو معلوم شو چې د قربانۍ د څرمنو د قيمت، سرسايي او نورو واجب صدقو حکم د زکوة په ډول دی چې د فقير تمليک پکښې ضروري دی، څوک چې جائز ورته وايي او خلګو ته ترغيب ورکوي هغه جاهل او ناخبره دی فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم

د قربانۍ د څرمني قيمت په مسافر خانه کې مصرفول

سوال: (۲۸۷) په مسافر خانه د قربانۍ څرمني صرفول جائز دي او که نه؟

(۵۴۷/۱۳۴۵ھ)

---

(۱): الدر المختار مع الشامي ۲۳۱/۵ كتاب الاضحية ط رشيدية.

(۲): الدر والرد ۶۴/۲ كتاب الزكاة، باب المصرف ط رشيدية.

ځواب: د قربانۍ د څرمنو قیمت پکښې مصرفول جائز نه دي، ځکه چې له خرڅولو وروسته د قربانۍ د څرمنې قیمت واجب التصدق ګرځي او حکم يې د زکاة د حکم په ډول شي د فقراء تملیک پکښې ضروري دی.

د قربانۍ د څرمنو قیمت په مذهبي اړتیاوو کې مصرفول

سوال: (۲۸۸) زموږ په خوا کې یوه ډله وايي چې د اختر د پوستونو بیه به راجمع کوو د مسجدونو ترمیم، مذهبي اړتیاوو د مدرسانو په تنخواوو کې به مصرفوو دا جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۰۵۲هـ)

ځواب: په حنفي کتابونو کې تصریح ده چې د قربانۍ څرمنې له خرڅولو وروسته واجب التصدق ګرځي، یعني قیمت يې مسکینانو ته ورکول واجبيږي او په شامي باب مصرف الزکاة کې تصریح راغلې ده چې کوم مصرف د زکاة دی هم هغه د واجب صدقو دی، له دې څخه معلوم شو چې د قربانۍ د څرمنو د قیمت حکم د زکاة په ډول دی چې د فقراوو تملیک مجاناً پکښې ضروري او واجب دی. په مسجدونو د مدرسانو او نورو په تنخواوو کې او د مدرسو، مسجدونو په تعمیر او په نورو مذهبي او نا مذهبي اړتیاوو کې بې د تملیکه له حیلې د دې لګول جائز نه دي اما که د قربانۍ پوستونه یو سړي ته تملیکا ورکړي بیا د هغه خوښه ده که په خپله له پوسته څخه کار اخلي او که خرڅوي روپۍ بې په خپله استعمالوي یا يې په کوم بل نیک کار د مسجد، مدرسې په تعمیر او نورو کې لګوي. فقط.

د قربانۍ د څرمنو بیه د اسلام په تبلیغ مصرفول

سوال: (۲۸۹) د قربانۍ د څرمنو قیمت په اسلامي مدرسه، په تبلیغ او جمعیة علماء هند مصرفول جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۳/۳۱هـ)

ځواب: د اختر پوستونه تر خرڅولو وروسته د هغه قیمت فقیرانو ته ورکول واجبيږي او د دې حکم د زکوة په ډول ګرځي او د فقراء پکښې مالکان جوړول ضروري وي لهذا که د اسلام په تبلیغ او خپرونه او نورو کې د مصرفولو ضرورت وي، نو لومړی به د تملیک حیله کوي. فقط.

د قربانۍ د څرمنو قیمت په عام د خیر په کارونو کې مصرفول

سوال: (۲۹۰) د یو کلي خلک په اتفاق سره که د قربانۍ پوستونه خرڅ کړي د کلي د ګټې لپاره کوم شي واخلي لکه دیګ، ټاټ او بل شی داسي به څنګه وي؟ (۲۹/۳۰۲-۱۳۳۰ھ)

ځواب: جائز نه دي، بلکي له خرڅولو وروسته قیمت فقراء ته ورکول ضروري دي د قربانۍ د څرمنو قیمت صدقه کول ضروري دي.

د اختر پوستونو په بیه په کلي کي فانوس بلول

سوال: (۲۹۱) د راندید په نګینه کلي کي به مسلمانانو د خپل کلي څرمني راغونډې کړي، یو سړي ته به هبه کړي دغه سړي به دا څرمني خرڅي کړي په کلي به د لاري د رڼا لپاره فانوس بل کړي او د جواز دغه صورت مولوي غلام محمد صاحب مرحوم راښودلي وو، له ډېري مودې د رڼا کار د څرمنو په بیه کیدای. خو سږ کال بیا یو چا شک پکښي واچاوي چي دا صورت جائز نه دی ځکه پوښتنه کوو چي نوموړي مولوي صحاب دغه صورت د جواز د شریعت سره سم راښودلی وو که د شریعت خلاف؟ (۱۳۳۵/۱ھ)

ځواب: دغه صورت چي مولوي غلام محمد صاحب درښودلی وو صحیح دی په درمختار کي همداسي لیکلي دي(۱) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۹۲) که یو سړی په دې شرط د قربانۍ د څرمنو مالک وګرځول شي چي ته به له مالک جوړېدو وروسته د دې په قیمت په کلي کي د رڼا انتظام کوې او دا هم راته بیان کړئ چي د قربانۍ د څرمنو بیه په کومه صدقه کي داخله ده؟ هیله کوم چي شرعي حکم په دې اړه څه دی؟ (۱۳۳۵/۱۱۷ھ)

ځواب: د اختر پوستونه تر خرڅولو وروسته حاصل شوی قیمت فقراء او مساکینو ته ورکول واجب دي او د هغه مصارف د زکوة په ډول دي د فقراوو تملیک پکښي ضروري دی کذا في

---

(۱) ان الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء (الدر مع الرد ۶۹/۲ کتاب الزکاة، بـاب المصرف ط رشیدیة)

الشامي او داهم د فقهي په کتابونو کي مصرح دي چي زکوة او نوري واجبي صدقې چي پکښي د اختر د پوستونو قیمت هم داخل دی. د مسجد په تعمیر. رڼا او نورو اړتیاوو کي نه شي مصرفولای او دا حیله هم د فقهي په کتابونو کي لیکلې ده چي یو مسکین او فقیر لومړی د دې مالک ورګځوه بیا هغه ته ووایه چي ته له ځانه دغه روپۍ د مسجد یا نورو په رڼا او نورو اړتیاوو کي مصرف کړه، خو د ورکولو پر مهال دا شرط مه پر ایږده، بلکي له ورکړي وروسته ورته ووایه(۱) لنډه دا چي په دغه حیله سره په رڼا او نورو کي مصرفولای شي. فقط. والله اعلم.

سوال: (۲۹۳) چي د اختر پوست خرڅ کړي پر قیمت یې د محلې لپاره رڼا کول جائز دي او که نه؟ (۱۲۲/۳۵-۱۳۳۶هـ)

ځواب: د قربانۍ د څرمني قیمت صدقه کول واجب دي د محلې رڼا په کول صحیح نه دي، کما في الدر المختار فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه(۲) فقط.

د قربانۍ د څرمنو په قیمت سړک جوړول

سوال: (۲۹۴) زید او بکر په قربانۍ کي له ځان سره وفات شوي مور او پلار هم شریکان کول غواړي جائز دي که ناجائز؟ او د قربانۍ د څرمني په قیمت سړک جوړولای شو او که نه؟ (۱۹۸۸/۴۲-۱۳۴۷)

ځواب: په دغه صورت کي زید او بکر دواړه د خپلو ځانونو او مور و پلار له خوا یوه غوا قرباني کولای شي. شرعاً په دې کي کوم څه حرج نه شته، په در مختار کي راغلي دي: وصح اشتراک میتة في بدنة(۳) او د قربانۍ د څرمنو په قیمت لار او سړک جوړول صحیح نه دي، بلکي د څرمني قیمت صدقه کول ضروري دي، لهذا په داسي کارونو کي صرفول چي پکښي تملیک د فقیر نه وي جائز نه دي. فقط.

---

(۱) وقد منا ان الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء وفي الشامي قوله: (ثم یامره الخ)... وفي التعبیر ب ثم اشارة الی انه لو امره اولا لایجزي (الدر والرد ۶۹/۲ کتاب الزکاة، باب المصرف ط رشیدیة.)

(۲): الدر مع الرد ۲۳۱/۵ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

(۳): الدر مع الشامي ۲۲۳/۵ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

د قرباني د څرمني په قيمت د بې وارثه مړي کفن دفن کول

سوال: (۲۹۵) د قرباني د څرمني په قيمت د مړي کفن دفن کول يا ديگ دسترخوان او نور رانيول صحيح دي او که نه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۸۲هـ)

ځواب: د قرباني د څرمنو په قيمت د غه دواړه کارونه صحيح نه دي د جواز صورت يې دا ليکلی دی چي يو محتاج ته ورکړي هغه يې مالک وګرځوي بيا که هغه له خپل طرفه په دغه کارونو کي ولګوي نو داسي صحيح دی. فقط.

سوال: (۲۹۶) د قرباني د څرمنو قيمت د لاوارثه مړو په کفن دفن د مسلمانانو د خير په کارونو او د قبرونو په جوړولو کي صرفول څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۱۲هـ)

ځواب: د مړو په کفن دفن، د مسجد، مدرسې او مقبرې په تعمير او نورو د خير په کارونو کي مصرفول صحيح نه دي، په دې کي د محتاجه مالک جوړول د زکوة په ډول ضروري دي، مسکينانو طالبانو او د مسکينانو بچيانو جامې او ډوډۍ په ورکولای شي خو داسي جامې او ډوډۍ په دغو مسکينانو ته په ملک ورکوي(۱) او يو د خير په اداره او مدرسو کي د دغه قيمت په دې غرض جمع کول چي په جائز مصرف کي به ولګوي، صحيح دی. فقط.

غنيانو ته د اختر پوستونه يا د هغه قيمت ورکول

سوال: (۲۹۷) د قرباني د څرمني له خرڅولو وروسته قيمت صدقه کول ضروري دی او که نه؟ او غنيانو ته ورکول څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۹۷هـ)

ځواب: د قرباني د څرمنو قيمت واجب التصدق دی فقيرانو ته په ملک ورکول ضروري دي، د زکوة په ډول او غنيانو ته ورکول صحيح نه دي او د غه حکم د وجوب صدقې تر خرڅولو وروسته دی،

(۱) ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لا اباحة وفي الشامي قوله: (تمليكا) فلا يكفي فيها الا طعام الا بطريق التمليك (الدر والرد ۶۸/۲ كتاب الزكاة، باب المصرف ط رشيدية.)

تر خرخولو مخکي لکه څنګه چي په خپله په کوم کار کي سړی استعمالولای شي، یعني سولاغه او نور ځیني جوړولای شي، بل چا ته هم ورکولای شي که څه هم هغه غنیان وي.

سوال: (۲۹۸) د قرباني څرمن سړي غني ته ورکولای شي او که نه؟(۲۹/۲۷۵-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د قرباني څرمن په خپله هم استعمالولای شي او غني ته هم هبه کولای شي. فقط والله اعلم.

د قرباني څرمن یا د هغې قیمت خپل بالغ مسکین زوی ته ورکول

سوال: (۲۹۹) زید غني دی او قرباني کوي د ده یو زوی بالغ مسکین دی، زید دغه زوی ته د قرباني څرمن یا د هغه قیمت ورکولای شي او که نه؟(۱۳۵۱/۳۹-۱۳۴۰هـ)

ځواب: د څرمني ورکول جائز دي او د قرباني د څرمني قیمت ورکول صحیح نه دي د زکوة په ډول. فقط.

د قرباني څرمن او غوښه سید ته ورکول

سوال: (۳۰۰) د قرباني غوښه او څرمن سید ته ورکول جائز دي او که نه؟
(۲۹/۳۴۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د قرباني غوښه او پوست سید ته ورکول صحیح دي خو که څرمن خرڅه کړي، نو قیمت یې سید ته ورکول صحیح نه دي ځکه چي قیمت صدقه کول یې واجب وي او سید ته واجب صدقه ورکول صحیح نه دي. فقط والله تعالی اعلم.

د قرباني پوست سقاو ته ورکول

سوال: (۳۰۱) د قرباني څرمن او نور چي عمومًا وسقاو (اوبه راوړونکي) یا امام ته ورکول کیږي په دې نیت چي د دوی حق دی په داسي صورت کي په قرباني کي کوم نقص راځي او که نه؟(۲۲۷۴/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: سقاو، مؤذن او امام ته د حق الخدمت او عوض په توګه د قرباني څرمن یا د هغه قیمت ورکول صحیح نه دی او دومره قیمت صدقه کول لازم دي کنې په قرباني کي نقص راځي. فقط.

سوال: (۳۰۲) د قرباني یا عقیقې څرمن یا د هغه قیمت سقاو او نورو ته ورکول جائز دي او که نه؟(۵۱۷/۱۳۳۵هـ)

ځواب: دوی ته ورکول صحیح نه دي، مسکین ته بېله عوضه ورکړي. فقط.

قصاب ته د قربانۍ غوښه یا د پوست قیمت ورکول

سوال: (۳۰۳) د قربانۍ په اجرت کې غوښه یا د قربانۍ د څرمنې قیمت ورکول جائز دي او که نه؟ (۳۵/۹۸-۱۳۳۲ھ)

ځواب: جائز نه دي، کذا في الدر المختار وغیره من کتاب الفقه(۱) فقط.

سوال: (۳۰۴) د قصاب اجرت له دغو څرمنو څخه ورکول څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۲۱ھ)

ځواب: جائز نه دي. فقط.

د قربانۍ د پوست قیمت نامسلمان ته ورکول صحیح نه دي

سوال: (۳۰۵) د قربانۍ د پوست قیمت نامسلمان ته ورکول جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۵/۲۹۲۱ھ)

ځواب: تر خرڅولو وروسته د دغه قیمت حکم د زکوة په ډول دی مسلمانانو فقیرانو ته ورکول ضروري دي، نامسلمان ته ورکول صحیح نه دي.

د قربانۍ په پوست، سر، لرۍ او نورو کې د چا حق نشته

سوال: (۳۰۶) زموږ په کلي کې رواج دی چې په اختر کې د پسه سر نائي ته لرۍ بنګي ته او پوست د مسجد مولوي صاحب ته ورکوي او دوی دا خپل حق بولي آیا داسې حقوق مقررول جائز دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۰۱ھ)

ځواب: د قربانۍ څرمن د امام حق بلل غلط دی د قربانۍ تر څرمنې خرڅولو وروسته قیمت صدقه کول په کار دی، د مسجد مولوي صاحب ته د امامت په بدل کې ورکول جائز نه دي، بلکې مسکینانو ته ورکول په کار دي او

(۱) ولا یعطي اجر الجزار من الاضحیة لقوله علیه الصلاة والسلام لعلي رضی الله عنه تصدق بجلالها وخطامها، ولا تعط اجر الجزار منها شیئاً (الهدایة ۴/۴۵۰ کتاب الاضحیة قبیل کتاب الکراهیة وکذا في الشامي ۵/۲۳۱ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.)

په سر او لري کي هم د چا شخصي حق نه شته چا ته چي وغواړي ور دي کړي. د لري خوړل خو مکروه دي (یعني طبعاً ناخوښه دی) ځکه دا خو به یو څوک نه یو څوک وړي او سر که په خپله نه خوري، بل چا ته دي ورکړي که نائي او سقاو ته ورکړي. خو د ده حق بي ونه بولي، نو دا هم صحیح دی مثلاً لکه څرنګه چي نائي او سقاو ته د مسلمان بللو په حیث غوښه ورکول صحیح دي. د سر ورکول هم صحیح دي، خو حق د هیچا هم په هیڅ شي کي نه شته علی هذا القیاس امام او مؤذن که مسکینان وي او دوی ته د مسکین والي په وجه د قربانۍ څرمن ورکړي نه په دې وجه چي د دوی د امامت په وجه د دوی حق دی، نو صحیح دی.

مسکین ته په دې نیت څه روپۍ ورکول چي د قربانۍ د څرمني قیمت به زه راوګرځوم

سوال: (۳۰۷) که یو سړی د قربانۍ څرمن خرڅه کړې وه قیمت لا ځیني اخیستی نه و چي یو سړی سوال وکړي دې سړي دغه سائل ته په دې نیت څه روپۍ ورکړې چي که د پوست روپۍ راغلې هغه زه راوګرځوم. داسي کول جائز دي او که نه؟ (۱۳۳۹/۴۵۰هـ)

ځواب: که د قربانۍ د څرمني بیه لا تر اوسه لاس ته کړي نه وه او له ځانه یو محتاج ته روپۍ ورکړې په دې اراده چي کله د قربانۍ د څرمني قیمت راشي له هغه څخه به دا روپۍ راوګرځوم، نو داسي صحیح دی ځکه چي په داسي ځایونو کي په دراهمو او دینارو کي تعیین نه وي. فقط.

که تر دباغت وروسته د قربانۍ څرمن خرڅه کړي، نو د دباغت مصرف ځیني راګرځول څنګه دي؟

سوال: (۳۰۸) یو سړي د قربانۍ څرمن له پخولو (دباغت) څخه مخکي نه ده خرڅه کړې چي په کم قیمت خرڅه شوې وای، بلکي تر دباغت وروسته خرڅه کړه او پر دباغت دوې روپۍ مصرف راغلې تر خرڅولو وروسته دغه دوې روپۍ ځیني راګرځولای شي که به ټولي صدقه کوي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۰۲۲هـ)

ځواب: ټول قیمت صدقه کول واجب دي، کما هو قضیة الاطلاق: فـان بیـع اللحـم

و خندنه ی تسهدک و ... هم تصدق ... (۱) ...

د قربانی د پوستکي قیمت پر بله احمر یوری په ثور کی استودل

سوال: (۳۰۹) که د قربانی د څرمنې قیمت ... په ... کی ... ده که نه دی (۲۱ د ۱۳۳۵هـ)

ځواب: د دی څرمې اول مصرف ... دی ... څو هغه ... و س دی صدقه کړی فقط

د څینو شریکانو د قربانی د څرمنې قیمت بې ځایه مصرفول

سوال: (۳۱۰) اوو کسانو په ګډه قربانی وکړه. څرمن یې خرڅه کړه د ... څومره قیمت او روپۍ یې سره وویشلې. څلورو کسانو د غه روپۍ ... کې مصرف کړې په داسې صورت کې د چا قربانی صحیح شوه او د چا قربانی نه ده صحیح (۲۲۹ ۳۵ ۱۳۳۲هـ)

ځواب: قربانی د ټولو وشوه. خو چا چې د خپلې برخې د څرمنې قیمت بې ځایه مصرف کړی پر ده واجب دي چې هغومره روپۍ به صدقه کوي. که ونه کړي نو د ده په قربانی کې به نقص وي

افسران د اختر پوستونه په زور غواړي

سوال: (۳۱۱) ... (الف) په یو کلي کې دوه افسران چې مال نه لري دوی د کلي نه خلکو څخه د اختر پوستونه قهراً او جبراً اخلي او په خلک یې راټولوي. ایا د دوی د دوی په خلکو راټول او د خلکو لپاره د دوی لپاره راټول عند الشرع جائز دي او که نه؟

(ب) زیاتره هغه خلک چې قربانی کوي د دوی په خپلوانو کې کونډې او یتیمان شته. د دوی کوم غمخور نشته چې د نفقې او نورو بندوبست یې وکړي. له دغو خلکو څخه هم د غه د کلي افسران په زور پوستونه اخلي که د غه خلک خپلوانو کونډو او یتیمانو ته ورکړي

---

(۱) الدر مع الرد ۵ ۲۳۱ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

او دغه افسرانو ته کوم چي د مدرسې لپاره غواړي ورنه کړي، نو جائز دي او که نه؟
(۳۸۷/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: (الف) په جبر او قهر باندي د پوستونو اخيستل صحيح نه دي، قرباني کوونکيو ته اختيار دی چي دوی که په خپله دباغت ورکړي، سولاغه، ګوډۍ، دسترخوان او نور شيان ځيني جوړ کړي او که خرڅ کړي، نو قيمت دي پر مسکينانو تقسيم کړي يا دي د مدرسې طالبانو ته ورکړي. د افسرانو او غنيانو لپاره داسي صحيح نه دي چي جبراً د اختر پوستونه اخلي.

(ب) د قربانۍ کوونکيو خوښه ده چي د قربانۍ پوست تر خرڅولو وروسته قيمت دوی خپلو کونډو، يتيمانو او مسکينانو ته ورکوي يا يې د مدرسو طالبانو ته ورکوي جبر پر دوی کول صحيح نه دي، په حديث شريف کي راغلي دي: الا لا تظلموا، الا لا يحل مال امرئ الا بطيب نفسه. (۱)

---

(۱): مشکاة المصابيح ص۲۵۵ کتاب البيوع، باب الغصب والعارية.

باب العقیقة

د عقیقې بیان

عقیقه کول مستحب دي

سوال: (۳۱۲) عقیقه در مذهب حنفیه سنت است یا واجب یا مستحب یا مباح؟ (۱۳۳۵/۱۲۸هـ)

ځواب: صحیح این است که عقیقه در مذهب حنفیه مستحب است نه سنت، کما في الشامي: یستحب لمن ولد له ولد ان یسمیه یوم اسبوعه، ویحلق راسه، ویتصدق عند الائمة الثلاثة بذنة شعره فضة او ذهبا ثم یعق عند الحلق عقیقة الخ(۱) فقط والله اعلم

سوال: (۳۱۲) ترجمه: په حنفي مذهب کي عقیقه سنت ده که واجب، که مستحب او که مباح؟

ځواب: صحیح خبره دا ده چي په حنفي مذهب کي عقیقه مستحب ده نه سنت، لکه چي په شامي کي راغلي دي.

سوال: (۳۱۳) عقیقه کول مستحب دي که سنت؟ (۱۳۴۰/۳۵هـ)

ځواب: عند الاحناف عقیقه کول جائز او مستحب دي او پکښي ثواب دی. فقط

د عقیقې ځواحکام

سوال: (۳۱۴) د عقیقې څه حکم دی د قربانۍ په ډول ده؟ په یوه غوا کې د اوو هلکانو دا کیدلای شي؟

(۱): الشامي ۲۳٦/۵ آخر کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

او دې ته دي هم پام وي چي انجوني او هلکان ټول اووه دي. د عقیقې حکم دی چي د زیږیدني د ورځو خیال به ساتئ، نو چي څو مره ورځې تیري شي. کله چي دومره هلکان پیدا شي، نو د ورځو خیال ساتل څه شو؟ بلکي د پیدا کیدو ورځې به بیلي بیلي وي او په حدیث کي چي راغلي دي چي د هلک لپاره دوه پسونه او د انجلۍ لپاره یو وی(۱) کله چي په غوا کي د هلک او انجلۍ عقیقه کوي، نو څنګه به کوي؟

د عقیقې غوښه د بچي مور پلار نیکګان او اناګاني خوړلای شي او که نه؟ د عقیقې هډونه ماتول جائز دي او که نه؟ او غوښه باید څنګه تقسیم شي؟ که اهل او عیال ډیر وي، نو نیم راګرځول او نور تقسیمول جائز دي او که نه؟(۳۴۱/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: په یوه غوا کي اووه ونډې د عقیقې کیدلای شي د هلک لپاره دوې او د انجلۍ لپاره یوه او که هلکان په یوه ورځ پیدا شوي وي، نو د دوی عقیقه په یوه ورځ کیږي اجتماع کیدلای شي او که د پیدا کیدو ورځې بیلي بیلي دي، نو که له سنت سره سم اوومه ورځ عقیقه کول غواړي، نو د هر یوه دي جلا وکړي او که پسه نه وي نو په پوره غوا هم عقیقه کیدلای شي، د احنافو په نیزد هډونه ماتول هم جائز دي(۲) او نیکګانو، اناګانو او ټولو خپلوانو لپاره خوړل جائز دي او غوښه که ټوله راوګرځوي یا ټوله تقسیم کړي دواړه صحیح دي. والله تعالی اعلم. فقط

په عقیقه نه کولو ګناه نه شته

سوال: (۳۱۵) عقیقه نه کوونکي ګناهګار دی او که نه؟ (۱۵۳۹/۱۳۴۰ھ)

ځواب: عقیقه واجب نه ده نه کوونکی ګناهګار نه دی، بلکي که وکړي نو غوره ده او پکښي ثواب دی او که و نه کړي، نو ګناه پکښي نه شته او غوره دا دي چي عقیقه په اوومه ورځ وکړي او که اوومه ورځ نه وي، نو څوارلسمه یا یوویشتمه ورځ بې وکړي، بیا چي کله زړه وغواړي و دي کړي

---

(۱) عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله عنه قال: سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن العقيقة... عن الغلام شاتین وعن الجارية شاة، رواه ابو داؤد والنسائي (مشكوة المصابيح ص:۳۶۳ كتاب الاطعمة، باب العقيقة، الفصل الثاني)

(۲) سواء فرق لحمها نيئا او طبخه، بحموضة او بدونها مع كسر عظمها اولا (الشامي ۲۳۶/۵ آخر كتاب الاضحية ط رشيدية)

سوال: (۳۱۶) ایا عقیقه نه کول ګناه ده؟ (۱۱۷۵/۱۳۴۵ھ)

ځواب: عقیقه مستحب ده چي پر ترک باندي مواخذه نه شته په تیره بیا د وس نه درلودلو په صورت خو یو مخ ساقطه ده.

دوې میاشتي وروسته عقیقه کول

سوال: (۳۱۷) یو هلک اوس د دوو میاشتو دی د ده عقیقه څرنګه وکړو؟ که اوس عقیقه کول فضول دي؟ مخکي په دې دوکه شوم چي کله مي زړه وغواړي وبه کړم اوس راته معلوم شو چي تر یو ویشت ورځو پوري کول سنت و اوس کوم غوره صورت کیدلای شي؟ (۲۲۷/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: دوې میاشتي وروسته عقیقه کول ښه دي، فضول نه دي بلل پکار. نو یې د ورځي او تاریخ له قیده چي په کومه ورځ د هلک عقیقه کوي دوه پسونه حلال کړي فقط.

د عقیقې وخت او د هغه د غوښي هډونه ماتول

سوال: (۳۱۸) عقیقه څو ورځي پس کول په کار ده آخري موده تر څو ورځو پوري ده؟ د عقیقې د غوښي هډونه مات کړو او که نه؟ د مور او پلار لپاره د عقیقې غوښه خوړل جائز دي او که نه؟ (۱۹۰۳/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د پیدا کیدو په اوومه ورځ عقیقه مستحب ده که دا وخت ونه شي نو غوره دي چي په څورلسمه ورځ یا یوویشتمه ورځ یې وکړي کنې چي هر کله وکړي ښه دی هیڅ پروا نه لري او د هډونو ماتول صحیح دي د مور او پلار لپاره خوړل صحیح دي. په شامي کي راغلي دي: مع کسر عظمها اولا، واتخاذه دعوة اولا الخ(۱)

سوال: (۳۱۹) د عقیقې د غوښو هډونه مات کړو که جلا جلا پر بندونو یې کړو؟ (۲۵۲۸/۱۳۳۷ھ)

---

(۱): الشامي ۲۳۶/۵ آخر کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

ځواب: د هډونو ماتول صحیح دي، خو نه ماتول غوره دي لکه چي په ځينو روايتونو کي راغلي دي(۱)

سوال: (۳۲۰) د عقيقې د حيوان هډونه ماتول جائز دي او که نه؟ (۲۰۲/۱۳۴۲هـ)

ځواب: هډونه ماتول صحيح دي او که مات يې نه کړې نو دا ښه دي او غوره دي دا هم څه پروا نه لري لنډه دا چي دا کار يعني د هډونو نه ماتول مستحب دي ضروري نه دي. فقط

د هلک په عقيقه کي دوه او د انجلۍ په عقيقه کي يو پسه حلالول مستحب دی

سوال: (۳۲۱) د هلک او نجلۍ په عقيقه کي يو پسه حلال کړو که د هلک په عقيقه کي دوه او د نجلۍ په عقيقه کي يو او عقيقه له زيږيدني څو ورځي وروسته بايد وشي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۹)

ځواب: د هلک په عقيقه کي دوه او د انجلۍ په عقيقه کي يو پسه حلال کړئ دا مستحب دي، خو که د دواړو په عقيقه کي يو يو پسه حلال کړئ بيا هم څه پروا نه لري، ثواب په دې کي هم شته او عقيقه د زيږيدني په اوومه ورځ مستحب ده که په دا ورځ ونه شوه نو په څورلسمه يا يويشتمه ورځ يې وکړي کنې هر کله چي وشي ښه دی هيڅ پروا نه لري. فقط

د عقيقې غوښه درې برخي کول ضروري نه دي

سوال: (۳۲۲) د عقيقې غوښه څو برخي کړو؟ انجلۍ د جمعې په ورځ ۲ صفر ۱۳۴۲هـ پيدا شوه آيا په عقيقه کي د کوم تاريخ يا ورځي قيد شته او که نه؟ (۲۲۱/۱۳۴۳هـ)

---

(۱): عن عطاء عن ام كرزو ابي كرز قال: نذرت امراة من آل عبدالرحمن بن ابي بكر ان ولدت امراة عبد الرحمن نحرنا جزورا، فقالت عائشة: لا بل السنة افضل عن الغلام شاتان مكافئتان وعن الجارية شاة تقطع جدولا و لا يكسر لها عظم. فياكل ويطعم ويتصدق ولكن ذاک يوم السابع فان لم يكن ففي اربعة عشر، فان لم يكن ففي احدى وعشرين، هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه (اعلاء السنن ۱۷/۱۱۴-۱۱۵ كتاب الذبائح. باب افضلية ذبح الشاة في العقيقة)

ځواب: په عقیقه کي د غوښو د برخو کولو ضرورت نه شته، که ټوله په خپله پخوي او دوستان خپلوان په خوروي او که ټوله غوښه پر خپلوانو دوستانو ویشي. دا تفصیل په دې کي نه شته چي څومره به ویشي او څومره به راګرځوي او که د قربانۍ په ډول وکړي چي یوه دریمه مسکینانو ته ورکړي او یوه دریمه خپلوانو او دوستانو ته او یوه دریمه په خپله راوګرځوي، نو داسي هم صحیح دي، خو دا ضروري نه دي په دې کي هر ډول اختیار دی او عقیقه که د پیدا کیدو له ورځي څخه یوه ورځ مخکي وکړي. نو دا ښه دي، نور نو چي په کومه ورځ یې هم وکړي صحیح ده عقیقه ادا کیږي. اصلاً عقیقه له پیدا کیدو څخه په اوومه ورځ ده بیا څورلسمه ورځ بیا یوویشتمه ورځ له دې وروسته چي کومه ورځ وغواړي ودي کړي هیڅ تعیین نه شته. خو که له پیدا کیدو څخه یوه ورځ مخکي وکړي، نو دا ښه دي. مثلاً که د جمعې په ورځ بچی پیدا شو، نو د جمعرات په ورځ دي عقیقه وکړي او دا هم ضروري نه دي. فقط.

په کوم حیوان چي قرباني صحیح کیږي په هغه عقیقه هم صحیح کیږي

سوال: (۳۲۳) د عقیقې څه شرطونه او څه تعریف دی؟ په حلق او ذبح کي معیت شرط دی او که نه؟ (۱۳۴۱/۲۰۴۲ھ)

ځواب: د عقیقې احکام هم هغه دي کوم چي د قربانۍ دي یعني کوم حیوان چي په قربانۍ کي ذبح کیدلای شي په عقیقه کي هم کیدلای شي. د عقیقې مطلب یوازي دا دی چي د ده ماشوم سرور وخریاست او پسه حلال کړئ معیت په حلق او ذبح کي شرط نه دی. فقط

د قربانۍ په غوا کي د عقیقې ونډه نیول

سوال: (۳۲۴) د قربانۍ په غوا کي د عقیقې ونډه نیول صحیح دي او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۵۰۲ھ)

ځواب: د عقیقې لپاره ونډه نیول په دغه غوا کي صحیح ده. فقط

سوال: (۳۲۵) د قربانۍ له ونډو سره د عقیقې ونډه ملګرې کول صحیح دي او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۸۲ھ)

ځواب: د قرباني له ونډو سره د عقيقې ونډه ملګرې کول صحيح ده. (۱)

اوښ، غوا، او ګاميښ په عقيقه کې حلالول صحيح دي

سوال: (۳۲۶) که په عقيقه کې د خصي سيرلی پر ځای غوا، ګاميښه، غويی او نور حلال کړي نو څنګه دي؟ (۹۰۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: غوا، ګاميښه او غويی په عقيقه کې حلالول صحيح دي او عقيقه په دې سره ادا کيږي او تر اوو پورې شراکت کول په دغه حيوانانو کې صحيح دي كما جاء في الحديث: عن ابن عباس رضی الله تعالى عنهما... فاشتركنا في البقرة سبعة وفي البعير عشرة (۲) وفي بعض الروايات البقرة عن سبعة والجزور عن سبعة (۳) او كما قال صلى الله عليه وسلم، وهو المعمول به عند الاحناف. فقط

سوال: (۳۲۷) په عقيقه کې غوا، ګاميښه، اوښ، غويی او نور هم له پسه څخه پرته صحيح کيږي او که نه؟ (۱۲۲۰/۱۳۳۷هـ)

ځواب: په عقيقه کې غوا، ګاميښه، اوښ، غويی او نور هم صحيح کيږي.

سوال: (۳۲۸) عقيقه په غوا هم کيږي او که نه؟ او د قرباني په ډول پکښې اووه کسان شريکان کيدلای شي او که نه؟ (۱۳۴۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: عقيقه په غوا هم صحيح ده او اووه برخې د قرباني په ډول پکښې صحيح کيدلای شي. فقط

سوال: (۳۲۹)... (الف) له وزې څخه پرته په عقيقه کې د کوم بل حيوان حلالول له رسول الله صلی الله عليه وسلم يا صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه ثابت دي او که نه؟ او د عقيقې حيوان بايد څنګه دی؟

(ب) د غوا، ګاميښې او اوښ که په عقيقه کې حلالول جائز دي، نو يوه غوا، يا ګاميښه يا اوښ

---

(۱) و كذا لو اراد بعضهم العقيقة عن ولد قد ولد له من قبل، لان ذلك جهة التقرب بالشكر على نعمة الولد (الشامي ۲۲۹/۵ كتاب الاضحية ط رشيدية)

(۲): مشكاة المصابيح ص۱۲۸ كتاب الصلاة، باب في الاضحية الفصل الثاني.

(۳): مشكاة المصابيح ص ۱۲۷ كتاب الصلاة، باب في الاضحية الفصل الاول.

د اوو کسانو لپاره کافي کیدلای شي او که نه؟ او په دا سي صورت کي به د لور او زوی څه احکام وي؟ (۲۲۸۷/۱۳۴۱هـ)

ځواب: (الف-ب) د عقیقي زیاتره احکام د قرباني په ډول دي، نو د کوم حیوان حلالول چي په قرباني کي صحیح دي په عقیقه کي هم صحیح دي، غوا، ګامیښه، اوښ او نور هم په عقیقه کي حلالول صحیح دي لکه چي په قرباني کي صحیح دي او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د کبش ذبح کول په روایاتو کي راغلي دي(۱) نو تخصیص د کبش مراد نه دی بلکي ټول هغه حیوانان چي په قرباني کي ذبح کیدلای شي په عقیقه کي هم کیدلای شي لکه چي په شامي کي تصریح راغلې ده چي که په غوا یا اوښ کي ځیني شریکان د قرباني نیت وکړي او ځیني د عقیقي نو صحیح دي وکذا لو اراد بعضهم العقیقه عن ولـد الخ(۲) او د زوی لپاره خو دوه پسونه ذبح کول مستحب دي نو که په غوا کي ونډه نیسي، نو دوې ونډې دي ونیسي او د لور لپاره یوه کافي ده او دا مخکي لیکل شوي دي چي پوره غوا او نور هم په یوه عقیقه کي ذبح کولای شي. فقط

سوال: (۳۳۰) د غوا عقیقه جائز ده، نو په کوم حدیث؟ (۵۱۸/۱۳۴۲هـ)

ځواب: په حدیث کي په عقیقه کي د غوا حلالول نه دي راغلي بلکي مږ، وزه او نور راغلي دي، خو فقهاء د عقیقه حکم د حیوان په حلالولو کي د قرباني په ډول لیکلي دي او د قرباني سره د عقیقي شراکت هم صحیح بللی دی او په قرباني کي غوا، اوښ او وزه ټول صحیح دي له دې څخه معلوم شو چي په عقیقه کي هم دا ټول صحیح دي، په شامي کي راغلي دي: قد علم ان الشرط قصد القربة من الکل (الی ان قال) وکذا لو اراد بعضهم العقیقة عن ولد قد ولد له من قبل(۳) فقط

په اوښ، غوا او ګامیښه کي اووه عقیقي کیدلای شي

سوال: (۳۳۱) پـه عقیقـه کـي د غـوا او اوښ حلالـول صـحیح دي او کـه نـه؟ او کـه د جمهـور پـه قـول جائـز دی، نـو یـوه

---

(۱): عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم عق عن الحسن والحسین کبشا کبشا رواه ابو داؤد (مشکوة المصابیح ص ۳۶۳ کتاب الاطعمة باب العقیقة الفصل الثاني)

(۲): الشامي ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

(۳):الشامي ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

غوا یا یو اوښ د اوو عقیقو لپاره کافي دي او که نه؟
یادونه: یو مولوي صاحب دا ځواب لیکلی و چي یوه غوا او یو اوښ د اوو عقیقو لپاره نه شي کافي کیدلای. (١٤٣٢/٣٢-١٣٣٣هـ)

ځواب: وعن جابر رضی الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم قال: البقرة عن سبعة والجزور عن سبعة رواه مسلم(١) له دې حدیث څخه معلوم شو چي یوه غوا او یو اوښ د اوو له خوا کافي دی او د شریعت له قاعدې او د حدیثونو له تصریح څخه دا ثابت دي چي اوومه د بدنې هم ضرور کافي ده او کله چي په قرباني کي کومه چي وجب ده اوومه د بدنې کافي ده، نو عقیقه چي واجب هم نه ده څنګه به پکښي کافي نه وي؟ او قیاس د فقهاوو او مجتهدینو معتبر دی او یو حجت دی په دین کي کما فصل في موضه(٢) نو کله چي د فقهاء تصریح ده چي په عقیقه کي هم هغه حکم دی کوم چي په قرباني کي دی چي اوومه د بدنې کافي ده او دا قیاس مستنبط عن الاحادیث دی، نو بیا انکار د دې کول تعنت دی. په شامي کي راغلي دي: تنبیه: قد علم ان الشرط قصد القربة من الکل، وشمل ما لو کان احدهم مریدا للاضحیة عن عامه واصحابه عن الماضي الخ وشمل ما لو کانت القربة واجبة علی الکل او البعض اتفقت جهاتها اولا: کاضحیة واحصار الخ وکذا اراد بعضهم العقیقة عن ولد قد ولد له من قبل لان ذلک جهة التقرب بالشکر علی نعمة الولد ذکره محمد رحمه الله(٣) (٢٠٧/٥) فقط

پوره کټي په عقیقه کي ذبح کول

سوال: (٣٣٢) په عقیقه کي غوا یا کټي (د ګامیښي نر بچی) کیدلای شي او که نه؟ او د قرباني په ډول اووه برخي کړو که پوره وکړو؟ (١٣٤١/١٠٥٢هـ)

---

(١): مشکوة المصابیح ص١٢٧ کتاب الصلاة، باب في الاضحیة، الفصل الاول.

(٢): القیاس حجة من حجج الشرع یجب العمل به عند انعدام ما فوقه من الدلیل في الحادثة وقد ورد في ذلک الاخبار والاثار (اصول الشاشي ص ٢٠٠ البحث الرابع في القیاس، فصل في حجیة القیاس: مکتبة البشری کراتشي باکستان)

(٣): رد المحتار ٢٢٩/٥ کتاب الاضحیة ط رشیدیة.

ځواب: په عقیقه کي غوا، کټي او ګامیښه ذبح کولای شي او اووه برخي پکښي کېدلای شي خو که پوره غوا او نور په یوه عقیقه کي ذبح کړي، نو دا هم صحیح دي فقط

په یوه غوا د درو هلکانو عقیقه کول

سوال: (۳۳۳)... (الف) پر زید قرباني واجب ده او دی د خپلو درو زامنو عقیقه کول غواړي که په اختر کي یوه غوا حلاله کړي چي د درو زامنو عقیقه او خپله قرباني پکښي وکړي داسي څنګه دي؟

(ب) په یوه غوا د درو هلکانو عقیقه کېدلای شي او که نه؟ (۱۳۳۵/۱۲۵۴هـ)

ځواب: (الف-ب) په یوه غوا کي د قرباني برخه او د عقیقې برخي کېدلای شي قرباني او عقیقه ادا کېږي په دوهم صورت کي هم عقیقه صحیح ده په یوه غوا کي دوې درې څلور تر اوو پوري عقیقې کېدلای شي. فقط

د قرباني په ورځو کي که د عقیقې ورځي نه وي نو...

سوال: (۳۳۴) په غوا به عقیقه کېدلای شي او که نه؟ په یو غویي کي عقیقه او قرباني کېدلای شي؟ که د اختر په درو ورځو کي یوه ورځ هم د عقیقې نه وي بیا هم عقیقه کېدلای شي او که نه؟ نیت څه ډول وکړي؟ (۱۳۴۲/۲۸۸۲هـ)

ځواب: په عقیقه کي غوا غویی ذبح کول جائز دي او عقیقه په یوه غوا، غوایي او اوښ کي جائز دي او که د اختر په درو ورځو کي د عقیقې مستحب ورځ را نه شي مثلاً اوومه، څورلسمه یا یوویشتمه ورځ، نو عقیقه بیا هم صحیح کېږي او نیت دی د دواړو وکړي مثلاً په شپږ برخو کي دي د قرباني نیت وکړي او په یوه برخه کي دي د عقیقې نیت وکړي. فقط

که د زیږدني تاریخ په یاد نه وي نو عقیقه به څرنګه کوي؟

سوال: (۳۳۵) که د پیدا کېدو ورځ یو مخ په یاد نه وي نو کومه ورځ عقیقه وکړي؟ (۱۳۳۷/۲۷۴۴هـ)

ځواب: کومه ورځ چي وغواړي ودي کړي د ولادت د ورځي یادولو کوشش دي وکړي له هغه څخه دي یوه ورځ مخکي وکړي

سوال: (۳۳۶) د بچي د پیدا کیدو ورځ د ولي په یاد نه ده اوس عقیقه څه ډول وکړي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۵۰۶)

ځواب: چي کومه ورځ یې خوښه وي ودي کړي. فقط

په بېلابېلو ورځو کي پیدا شویو ماشومانو عقیقه په یوه ورځ کول

سوال: (۳۳۷) که یوه غوا د اوو کسانو لپاره عقیقه کړو خو د پیدائش ورځي د ټولو بیلي بیلي دي څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۲۷۴۴هـ)

ځواب: عقیقه صحیح کیږي په اوومه ورځ کیدل افضل دي که داسي ونه شول مخ او شاته شول بیا هم عقیقه وشوه.

د قربانۍ په نیت پاللې وزه په عقیقه کي حلالول

سوال: (۳۳۸) د زید کره یوه وزه ده چي پوره د یو کال ده کله چي پیدا شوه نو ده دا نیت کړی ؤ چي دا به په لوی اختر کي حلالوم آیا اوس د دې په عقیقه کي ذبح کول جائز دي؟ (۱۳۴۳/۷۸۵هـ)

ځواب: صرف په نیت او اراده نذر نه ثابتیږي لهذا د دغه وزې حلالول په قرباني کي لازم نه دي بلکه په عقیقه کي هم ذبح کولای شي. فقط

د حیوان په قیمت صدقه کولو عقیقه نه ادا کیږي

سوال: (۳۳۹) که د عقیقې د حیوان قیمت صدقه کړي نو عقیقه ادا کیږي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۴هـ)

ځواب: لله په قيمت ورکولو د عقيقې سنت نه ادا کيږي

د عقيقې پسه يا د هغه قيمت و مدرسې ته ورکول

سوال: (۳۴۰) د عقيقې د پسه قيمت و اسلامي مدرسې يا بلې خيراتي اداره کې يا پخپله پسه ورکولو عقيقه ادا کيږي او کنه؟ (۱۳۴۱/۴۰۳ھ)

ځواب: په دې عقيقه نه ادا کيږي عقيقه او قرباني د حيوان په حلالولو ادا کيږي فقط

له عقيقې څخه مخکې وفات شوي ماشوم د مور او پلار شفاعت کولای شي

سوال: (۳۴۱) د کوم هلک چې عقيقه نه وي شوې نو مور او پلار د ده له طرفه قرباني کولای شي او کنه؟ که قرباني وکړې نو عقيقه ته ضرورت شته او کنه؟ او په حديث شريف کې راغلي دي چې د کوم هلک عقيقه نه وي شوې هغه د مور او پلار شفاعت نشي کولای د دغه حديث څه مطلب دی؟ کوم هلک چې په ماشوم والي ببله عقيقې مړ شي هغه د مور او پلار شفاعت کولای شي او کنه؟ بينوا توجروا (۱۳۳۴-۳۳/۳۵۳ھ)

ځواب: قرباني هم کولای شي او د عقيقې پکې نيت هم کولای شي او په حديث شريف کې د مرهون لفظ راغلی دی(۱) د هغه په معنی کې اختلاف دی ځينو علماؤ دا معنی هم بيان کړې ده چې د مور او پلار له شفاعته منع شوی دی (۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن الحسن عن سمرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الغلام مرتهن بعقيقته تذبح عنه يوم السابع و يسمى و يحلق راسه رواه احمد و الترمذى و ابو داؤد و النسائى لكن فى روايتهما رهينة بدل مرتهن (مشكاة المصابيح ص: ۳۶۲ كتاب الاطعمة باب العقيقة الفصل الثانى)

(۲) قوله: (مرتهن) بضم الميم و فتح الهاء اى مرهون (بعقيقته) يعنى انه محبوس سلامته عن الآفات بها او انه كالشئ المرهون... و قيل: معناه انه معلق شفاعته لها، لا يشفع لهما ان مات طفلا و لم يعق عنه (مرقاة المفاتيح ۱۵۶/۸ كتاب الاطعمة باب العقيقة شرح "الغلام مرتهن بعقيقته")

سوال: (۳۴۲) د ماشوم عقیقه مې په اوومه ورځ ونکړه وروسته هغه مړ شو اوس په عقیقه کولو کي ثواب شته او کنه؟ او داسي ماشوم به شفاعت کوي او کنه؟ (۱۹۳/۱۳۳۹ھ)

ځواب: د ماشوم تر مرګ وروسته عقیقه مستحب نه شوه پاته او د عقیقې وخت نه شو پاته او د ماشوم د خپل مور او پلار شفاعت کول پر عقیقه موقوف نه دي. فقط

سوال: (۳۴۳) نابالغ هلک تر عقیقې مخکي وفات شو نو دی د مور او پلار شفیع کیدلای شي او کنه؟ او د شفاعت په هیله که تر وفات وروسته عقیقه وکړو نو عند الله به مقبوله وي او کنه؟ (۲۲۲/۱۳۴۰ھ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: الغلام مرهن بعقیقته(۱) په مرقات کي راغلي دي: و المعنی انه کالشئ المرهون لا یتم الانتفاع و الاستمتاع به دون فکه و النعمة انما تتم علی المنعم علیه بقیامه بالشکر وظیفة الشکر فی هذه النعمة ما سنه نبی الله صلی الله علیه وسلم و هو ان یعق عن المولود شکرا لله تعالی و طلب لسلامة المولد و یحتمل انه اراد بذلک ان سلامة و نشوه علی النعت المحبوب رهینة بالعقیقة و هذا هو المعنی(۲) نو د دغه حدیث عمده معنی دا ده کومه چي په مرقات کي بیان کړه او ځینو د دغه حدیث دا مطلب اخیستی دی چي هلک بېله عقیقې د مور او پلار له شفاعته منع شوی دی مګر دا صحیح نه دي او په تیره بیا چي کله احناف د سنت والي د نسخ وینا کوي(۳) نو بیا د عقیقې په پرېښودلو د شفاعت نفي نه صحیح کېږي لنډه دا چي د ماشوم په ژوند

---

(۱) د دغه حدیث شریف تخریج د سوال (۳۴۱) په جواب کي وګورئ.

(۲) "ماشوم د خپلي عقیقې په بدل ګرو دی" د دغه نبوي ارشاد معنی دا ده چي ماشوم د ګرو شي په رنګه دی بې د هغه له راخلاصولو له هغه شخه استفاده کول نه تامیږي او د نعمت په شکر ادا کولو په منعم علیه نعمت تامیږي او د دغه نعمت د شکر ادا کولو طریقه هم هغه ده کومه چي د الله نبی صلی الله علیه وسلم تجویز کړه او هغه طریقه دا ده چي د الله د شکر ادا کولو او د ماشوم سلامي غوښتلو په غرض د ماشوم له طرفه عقیقه وشي او احتمال شته چي رسول الله صلی الله علیه وسلم له دغه ارشاد شخه دا معنی اخیستې وي چي د ماشوم سلامتیا او په ښه طریقه وده د عقیقې سره تړل دي او هم دغه معنی مراد ده(مرقاة المفاتیح ۵۷/۸ کتاب الاطعمة باب العقیقة شرح "الغلام مرتهن بعقیقته")

(۳) عن ابی حنیفة عن رجل عن محمد بن الحنیفة ان العقیقة کانت فی الجاهلیة فلما جاء الاسلام رفضت رواه ایضا محمد فی کتاب الآثار ص: ۱۱۶ و قال: به ناخذ و هو قول ابی حنیفة=

کي د ماشوم د حفاظت لپاره د ده له طرفه عقيقه کيږي نو کله چي ماشوم وفات شو نو دده عقيقه باقي نه شوه پاته دا غسي که پسه حلال کړي غوښه وويشي يا يې وخوري نو هيڅ پروا نلري ليکن دا مسنونه عقيقه نه ده. فقط

د عقيقې د حيوان حلالولو لپاره کوم وخت اوکوم شخص غوره دی؟

سوال: (۳۴۴) عقيقه فرض ده که واجب که سنت او که مستحب؟ له پيدا کيدو څخه بيا تر کوم وخته پوري کيدل جائز دي؟ د عقيقې غوښه د مور او پلار لپاره خوړل څنګه دي؟ ودايه او نورو ته خومره ورکړو؟ نامسلمان په خوړول څنګه دي؟ په شپه او ورځ کي کوم وخت متعين شته که چي کوم وخت وغواړي قرباني کولای شئ؟ د حلالولو لپاره اولي څوک دی؟ (۹۵۵/۱۳۳۸ھ)

ځواب: عقيقه مستحب ده فرض او واجب نه ده او مستحب وخت يې د پيدا کيدو اوومه ورځ ده او که په اوومه ورځ ونه شي نو څورلسمه يا يوويشتمه ورځ دي اوکړي او که داسي هم ونه شي نو بيا چي کله وغواړي ودي کړي او د مور او پلار لپاره خوړل صحيح دي(۱) او ودايه، نائی ته له دې څخه ورکول څه ضروري نه دي نه غوښه او نه سر او پښې او که ورکړي نو څه پروا نلري غوره دي خومره چي غواړي ور دي کړي او د ذبح کولو لپاره کوم وخت مقرر نشته که شپه وي او که ورځ وي او څوک چي حلالوي حلال دي کړي د چا تخصيص نشته او ناوسه نامسلمان ته ورکول هم صحيح دي. فقط

= قال: الشيخ ظفر احمدالعثمانى رحمه الله: اقول: نص الروايات ظاهر فى ان مذهب ابى حنيفة رحمه الله هو ان العقيقة منسوخة و غير مشروعة بعد و مانقله الشامى عن جامع المحبوبى انها مباحة و شرح الطحاوى انها مستحبة ليس بنقل للمذهب بل هور اى منهما رآياه لما ورد لى ذلک من الاخبار(اعلاء السنن ۱۰۱/۱۷ کتاب الذبائح کشف الحقيقة عن احكام العقيقة باب العقيقة)

(۱) و انه يستحب الاكل منها و الاطعام و التصدق كما فى الاضحية فما اشتهر على السنة العوام ان اصول المولود لا ياكلون منها لا اصل له(اعلاء السنن ۱۱۷/۱۷ كتاب الذبائح باب الفضلية ذبح الشاة فى العقيقة)

د نبي علیه الصلاة والسلام په نوم عقیقه کول

سوال: (۳۴۵) یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نوم عقیقه او قرباني وکړه آیا دواړه جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۰۷۵هـ)

ځواب: د مړي له طرفه قرباني کول سنت دي او عقیقه تر پیدا کیدو وروسته سنت ده له مرګه وروسته نه ده نو قرباني صحیح ده او عقیقه صحیح نه شوه لیکن که له عقیقې څخه مقصد ایصال د ثواب وي نو ثواب ور رسي په شامي کي راغلي دي: من ضحی عن المیت الخ(۱) او په مشکوة شریف کي راغلي دي: عن بریدة رضی الله عنه قال: کنا فی الجاهلیة اذا ولد لاحدنا غلام ذبح شاة(۲)

د عقیقې د حیوان حلالولو پر مهال کومه دعا ویل پکار ده؟

سوال: (۳۴۶) د عقیقې پسه حلالولو پر وخت کومه دعا باید وویله شي؟ او د پسه سر او پښې د چا حق جوړیږي؟ (۱۳۳۷/۱۲۴۹هـ)

ځواب: که عقیقه وي او که قرباني صرف په بسم الله الله اکبر ویلو سره ذبح کړې کافي دي بیا که قرباني ده نو د قرباني نیت په زړه کي وکړه او که عقیقه ده نو د عقیقې نیت وکړه او که دا دعا ان صلاتی و نسکی و محیای و مماتی لله رب العالمین الخ(۳) ووایي نو دا هم ښه دي

---

(۱) الشامی ۲۲۹/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

(۲) عن بریدة رضی الله عنه قال: کنا فی الجاهلیة اذا ولد لاحدنا غلام ذبح شاة و لطخ راسه بدمها فلما جاء الاسلام کنا نذبح الشاة یوم السابع و نحلق راسه و نلطخه بزعفران رواه ابو داؤد و زاد رزین: ونسمیه (مشکاة المصابیح ص: ۳۶۳ کتاب الاطعمة باب العقیقة الفصل الثالث)

(۳) و الدعاء قبل التسمیة او بعد الذبح لا بأس به لعدم القرآن اصلا و فی الشامی: قوله: (لا بأس به) ای لا یکره لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال بعد الذبح: اللهم تقبل هذا عن امة محمد ممن شهد لک بالوحدانیة و لی بالبلاغ و کان علیه الصلاة و السلام اذا اراد ان یذبح قال: اللهم هذا منک و لک ان صلاتی و نسکی و محیای و مماتی لله رب العالمین لا شریک له=

او د عقیقې د پسه سر او پښې د کوم خاص چا حق نه دی چې ځانه وغواړي ورډي کړي لنډه دا چې د عقیقې حکم د قربانۍ په رنګه دی.

د عقیقې کولو په ځای کې د ماشوم وجود ضروري نه دی

سوال: (۳۴۷) د زید زوی بل ځای پیدا شو زید پخپل کول کې عقیقه وکړه په همدغه ورځ یې د هلک سر هلته وروخرایی داسې عقیقه جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۱۴۷ھ)

ځواب: په عقیقه کې مستحب صرف دا دي چې کله د ماشوم وېښتان لرې شي هغه وخت یا څه مخکې یا وروسته د عقیقې حیوان حلال کړی د ماشوم هلته وجود یا مخامخ کیدل شرط نه دی کما قال فی ردالمحتار: ثم یعق عند الحلق عقیقة اباحة... او تطوعا انتهی ملخصا. (۱) فقط

سوال: (۳۴۸) آیا دا صورت د عقیقې جائز دی چې ماشوم بل ځای وي چې هغه وخت حاضرول یې مشکل وي نو د داسې ماشوم په نوم عقیقه که بل ځای وشي او چیرې چې ماشوم وي هلته له مخکې خخه ولیکل شي چې په فلانی فلانی تاریخ به مونږ به فلاني ځای کې پسه حلالؤ تاسو دلته د ماشوم سر وروخروئ وېښتان یې د سپینو زرو سره اندازه کړئ هغومره خیرات کړي. بینوا توجروا (۱۳۴۱/۱۱۴۷ھ)

ځواب: دا صورت جائز دی. فقط

په یو وخت د عقیقې حیوان حلالول او سر خریل ضروري نه دی

سوال: (۳۴۹) زید وایي چې په عقیقه کې په یوه وخت سر خریل او ذبح کول ضروري نه دي له حیوان ذبح کولو وروسته که سر وخروي نو څه پروا نلري بکر وایي چې دواړه باید په یو وخت وي؟ (۱۳۳۵/۱۵۱۲ھ)

=و بذلک امرت و انا اول المسلمین بسم الله و الله اکبر ثم ذبح و هکذا روی عن علی کرم الله وجهه زیلعی و غیره(الدر و الشامی ۲۱۱/۵ کتاب الذبائح. ط رشیدیه)

(۱) الشامی ۲۳۶/۵ آخر کتاب الاضحیة. ط رشیدیه

ځواب: داسي يو ځاى والى ضروري نه دى كوم چي مشهور دى چي دلته د سر خريلو لپاره پر سر چاړه كښيږدي او هلته د حيوان پر غاړه چاړه كښيږدي لږ مخته او شاته كيدل ځه پروا نلري او د لمعات عبارت چي ورباندي دليل نيول شوى دى هغه هم پر دې دلالت كوي چي حقيقي معيت نه دى مراد ځكه چي په دې سره تقدم ذبح على الحلق ثابت دى كما هو ظاهر او بيا دا له مستحب كارونو ځخه دى په هغه كي و نزاع ته ضرورت نشته حتى الوسع د "عند " خيال وساتي او ځه لږ مخكي او شاوالى مانع مه بولي هذا هو القول الفيصل.

سوال: (۳۵۰) په عقيقه د ذبح پر مهال پر سر چاړه راتيرول مستحب دي كذا فى الشامي(۱) كه مخكي او شاته كيدلاى شي؟ (۱۲۲۲/۱۳۳۵هـ)

ځواب: تحقيق دا دى چي پوره معيت ضروري نه دى او مراد هم نه دى لږ تقدم او تاخر ځه پروا نلري.

د عقيقې كولو پر وخت د زيږېدني د وخت وېښتانو په قدر سره زر، سپين زر صدقه كول غوره دي

سوال: (۳۵۱) د عقيقې غوښه ټول قريبان او خپلوان خوړلاى شي او كنه؟ او د ځرمني ځه حكم دى؟ او د وېښتانو په برابر سره زر سپين زر وركول ځنګه دي؟ (۲۲۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دغه غوښه ټول قريبان او خپلوان خوړلاى شي او د هډونو ماتول ځه پروا نلري او د وېښتانو په برابر سپين زر يا سره زر و مسكينانو ته وركول مستحب دي(۲) او ځرمن پخپله په سولاغه، ګډى او نورو كي استعمالولاى شي. (۳)

---

(۱) يستحب لمن ولد له ولد ان يسميه يوماسبوعه و يحلق راسه... ثم يعق عند الحلق عقيقة اباحة على ما فى الجامع المحبوبى او تطوعا على ما فى شرح الطحاوى(الشامى ۲۳۶/۵ آخر كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۲) خاتمة: يستحب لمن ولد له ولدان يسميه يوم اسبوعه و يحلق راسه و يتصدق عندالايمة الثلاثة بذنة شعره فضة او ذهبا... مع كسر عظمها اولا (رد المحتار ۲۳۶/۵ آخر كتاب الاضحية. ط رشيديه)

(۳) و يتصدق بجلدها او يعمل منه نحو غربال، و جراب و قربة و سفرة و دلو(الدر المختار مع الشامى ۲۳۱/۵ كتاب الاضحية. ط رشيديه)

سوال: (۳۵۲) ... (الف) کله چې ډیره موده وروسته عقیقه کیږي نو هغه وخت د پیدا کیدو وېښتان غټ شوي وي نو دا وخت د هلک پر سر موجود وېښتانو په قدر سره زر یا سپین زر خیرات کړو که دا حکم د پیدا کیدو پر مهال وېښتانو سره اړه لري؟
(ب) کله چې د هلک عقیقه کوو نو آیا له عقیقې څخه مخکې د ده وېښتان ور صفا نکړو؟ (۱۳۴۱/۹۴۲هـ)

ځواب: (الف - ب) دا حکم د پیدا کیدو پر مهال وېښتانو لپاره دی کله چې د پیدائش د مهال وېښتان ورلري کړي د دغه وېښتانو په اندازه سره زر یا سپین زر صدقه کول غوره دي او که ونکړو نو څه پروا نلري او غوره دي چې کله عقیقه وکړي هغه وخت سر وروخروي او که د ضرورت په وجه وېښتان مخکې ورلري کړي او عقیقه وروسته وي نو دا هم څه پروا نلري مګر غوره او مستحب دا دي چې د حیوان حلالولو پر مهال سر وروخروي.

په نهم کال عقیقې په صورت به د کومو وېښتانو په قدر سره زر یا سپین زر صدقه کوي؟

سوال: (۳۵۳) یو سړی د خپل زوی عقیقه په نهم کال وکړه او له ماشوم والي تر اوسه پورې ټول وېښتان د سر جمع دي نو د ټولو وېښتانو په قدر سپین زر صدقه کړي یا چې هغه وخت څومره وېښان پر سر وو؟ (۱۳۴۰/۱۹۵۷هـ)

ځواب: په داسې صورت کې اختیار دی که د ټولو وېښتانو په عوض صدقه کوي یا که د هغومره وېښتانو په اندازه کوي کوم چې هغه وخت پر سر وو په دې کې شرعًا څه زیات تاکید نشته که وکړي نو غوره دي او که ونکړي نو هیڅ ګناه پکې نشته فقط

په غټ عمر کې هم عقیقه کول د ثواب کار دی او پیغله ښځه دي

د عقیقې پر مهال د سر وېښتان نه خروي

سوال: (۳۵۴) زما عمر دیرش کاله او زما د ښځې عمر به شل کاله وي مونږ دواړه اراده لرو چې

عقیقه وکړو په دغه عمر کي عقیقه مستحب ده او کنه؟ او د سر وېښتان که د عقیقې پر مهال خریل مستحب دي نو کله چي د عقیقه کونکي میرمني عمر شل کاله دی نو څه کول پکار دي؟ او د وېښتانو په اندازه سپین زر خیراتولو څه حکم دی؟ او مشهوره ده چي د ذبیحه یو ورون د دایي دی د دې په اړه څه حکم دی؟ (۳۲۴/۱۳۴۳هـ)

ځواب: عقیقه اصلاً د ماشوم د پیدا کیدو په اوومه یا څورلسمه یا یویشتمه ورځ کول مستحب دي بیا چي څه وخت وکړي ښه دی او په غټ عمر کي عقیقه کول هم څه پروا نلري بلکه د ثواب کار دی لیکن که د ځواني پیغلي ښځي عقیقه وي نو د سر وېښتان به نه خروي چي دا حرام دي او د وېښتانو په قدر د سپینو زرو ورکولو استحباب هغه وخت دی چي سر وخرول شي او د بالغي ښځي خو نه خورول کیږي ځکه د دې لپاره د وېښتانو په قدر سپین زر صدقه کول هم نشته دا غسي که په اندازه څه خیرات کړي نو څه پروا نلري او و دایه ته ورون ورکول ضروري نه دی.

سوال: (۳۵۵) که د سړي خپله د پیدا کیدو ورځ په یاد نه وي نو عقیقه څنګه وکړي؟ او ښځه که خپله عقیقه وکړي نو د سر وېښتان وخروي او کنه؟ (۴۵۵/۱۳۴۳هـ)

ځواب: که د پیدا کیدو ورځ په یاد نه وي کله چي وغواړي عقیقه دي وکړي او ښځه دي د سر وېښتان نه خروي دا د دې لپاره منع دي. فقط

د وفات شویو بچیانو عقیقه کول مستحب نه ده

سوال: (۳۵۶) د کومي ښځي بچیان چي وفات شوي وي د هغوی عقیقه کول څنګه دي؟ دې ته زړه وایي چي د خپلو زامنو عقیقه وکړم که وکړي نو څو پسونه حلال کړي که اووه بچیان وي نو یوه غوا څنګه ده؟ فقط بینوا توجروا (۱۷۷/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د بچیانو عقیقه کول مستحب دي او دا استحباب د دوی په ژوند پوري اړه لري د بچیانو د وفات کیدو وروسته ضرورت نشته لیکن که کوم نر یا ښځه دا سي وکړي نو صحیح دي که اووه بچیان وي نو یوه غوا ذبح کول صحیح ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۳۵۷) د بچي تر وفات وروسته عقیقه صحیح ده او کنه؟ (۹۹۷/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د ماشوم له وفات کیدو وروسته مسنونه عقیقه نشته یعني دې ته عقیقه نه ویل کیږي نور نو د حیوان حلالول خیراتول خلک په خورول او خوړل صحیح دي څه پروا نلري کله چي وکړي صحیح دي لیکن دې ته مسنونه عقیقه نه ویل کیږي ځکه چي عقیقه خو د ماشوم د پیدا کیدو له اوومي ورځي څخه کیږي نه د مرګ پر مهال قال علیه الصلاة و السلام: من ولد له ولد فاحب ان ینسک عنه فلینسک عن الغلام شاتین و عن الجاریة شاة رواه ابو داؤد و النسائی. (۱) فقط

سوال: (۳۵۸) د زید دوه بچیان د دوه نیم دریو کلونو وفات شو لیکن ده یې عقیقه نه وه کړې اوس څه وکړي؟ (۱۳۳۷/۸۹۰هـ)

ځواب: عقیقه څه فرض او واجب نه وه لهذا اوس هیڅ نه دي کول پکار.

سوال: (۳۵۹) ... (الف) د مړي له طرفه عقیقه کیدلای شي او کنه؟ ځیني علماء وایي چي د مړي له طرفه قرباني کول صحیح دي لهذا عقیقه هم صحیح ده دا خبره څنګه ده؟ (۱۳۳۷/۱۲۴۳هـ)

(ب) په یوه غوا د دریو څلورو هلکانو عقیقه کیدلای شي او کنه؟ او که د یوې غوا له غوښي څخه دوې برخي واخلو د یو هلک عقیقه یې کړو نو څنګه دي؟ که بچی له عقیقه کیدو څخه مخکي مړ شو نو څه حکم دی؟

ځواب: (الف) د مړي له طرفه قرباني صحیح ده د عقیقې حکم د مړي له طرفه نشته

(ب) په یوه غوا د څو هلکانو عقیقه کیدلای شي که دوې برخي د هلک او یوه د انجلۍ کړي نو په پوره غوا کي د دریو هلکانو او یوې انجلۍ عقیقه کیږي او که د یو یا دوو یا دریو هلکانو په عقیقه کي پوره غوا حلاله کړي دا هم صحیح دي او د غوا په دوو برخو کي د هلک عقیقه کیدلای شي او کوم ماشوم چي مړ شو عقیقه یې نه وه شوې نو بیا د هغه عقیقه نشته فقط

سوال: (۳۶۰) که کوم ماشوم له عقیقه کیدو څخه مخکي مړ شي نو د ده عقیقه کول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۷۷۹هـ)

ځواب: د ماشوم تر مرګ وروسته عقیقه مستحب او سنت نه پاتیږي که وکړي نو څه پروا هم نلري لیکن تر مرګ وروسته عقیقه سنت او مستحب نه پاتیږي.

---

(۱) مشکاة المصابیح ص: ۳۶۳ کتاب الاطعمة باب العقیقة الفصل الثانی.

سوال: (۳۲۱) د زید د پنځو کالو لور وفات شوه اوس یې عقیقه کول پکار دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۷۸۷هـ)

ځواب: د ماشوم تر وفات وروسته عقیقه مشروع نه ده لهذا تر وفات کیدو وروسته و عقیقه کولو ته ضرورت نشته او کوم کیفیت او طریقه چې د عقیقې ده هغه تر مرګ وروسته متحقق او متصور نشي کیدلای ځکه چې په مشروع عقیقه کې دا حکم دی چې ماشوم سرور وخروي او د ده د سر د وېښتانو په قدر سپین زر یا سره زر صدقه کیږي او همدا وخت پسه حلال کړي نو معلوم شو چې مشروع عقیقه د ماشوم په ژوند کې کیدلای شي نور نو داغسي که څوک حیوان حلال کړي د هغه غوښه خیرات کړي نو څه پروا نلري. فقط

که د عقیقې له سامان راوړلو وروسته ماشوم وفات شو نو...

سوال: (۳۲۲) ... (الف) د یو سړي زوی یا لور پیدا شوه ده د عقیقې سامان سره راتیار کړی چې ماشوم وفات شو اوس دغه سامان د عقیقې د عقیقې په توګه مصرف کړي که څنګه؟

(ب) دغه سامان په بل د خیر په کار کې مصرفول څنګه دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۲۲هـ)

ځواب: (الف - ب) عقیقه د ده ساقطه شوه داغسي که د الله په نوم دغه سامان صدقه کړي څه پروا نلري مګر ضروري نه دي خپله خوښه ده که پخپله استعمالوي او که صدقه کوي یا یې د کوم خیر په کار کې لګوي. فقط

سوال: (۳۲۳) زید د خپل زوی د عقیقې په نیت پسه واخیستی اوس یوولس میاشتي وروسته هلک وفات شو اوس زید د دغه پسه قرباني وکړي که صدقه کړي؟ (۱۳۴۲/۲۸۹۵هـ)

ځواب: تر مرګ وروسته عقیقه مشروع نه شوه پاتې لهذا اوس د ده خوښه ده که په اختر کې حلالوي که صدقه کوي او که کوم بل کار په کوي. فقط

د مړ پیدا شوي ماشوم عقیقه ضروري نه ده

سوال: (۳۲۴) د مړ پیدا شوي بچي عقیقه هم شته او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۳۱ھ)

ځواب: د ده عقیقه نشته فقط

په نبي علیه الصلاة والسلام پسې خیرات د عقیقې حیوان حلالول

سوال: (۳۲۵) زید د خپل زوی د عقیقې لپاره دوه مړونه رانیوٌ عمر چي یو جاهل عابد دی ورته وویل چي د غه مړونه ماته راکړه چي د کال په پوره کیدو چي په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسي کوم خیرات کیږي زه به حلال کړم ستا عقیقه صحیح کیږي په داسي طریقه د زید عقیقه صحیح کیږي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۰۹۲ھ)

ځواب: عقیقه هغه وخت صحیح کیږي چي زید یې د خپل زوی په عقیقه کي حلال کړي او که زید دواړه مړونه و عمر ته ورکړي او عمر یې په بل نیت حلال کړي نو عقیقه به څرنګه صحیح شي لنډه دا چي دا ډول عقیقه نه ادا کیږي

د عقیقې د غوښې حکم

سوال: (۳۲۶) د عقیقې غوښه مور پلار، زوی لور، انا نیکه، لمسی او لمسۍ خوړلای شي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۴ھ)

ځواب: د احنافو په نیزد د عقیقې د غوښو حکم د قربانۍ په رنګه دی لکه چي د قربانۍ غوښه ټول کور وال خوړلای شي داغه راز د عقیقې غوښه ټول خوړلای شي مور پلار انا نیکه او ټول یې خوړلای شي. فقط

سوال: (۳۲۷) ... (الف) که د عقیقه کونکي د کور کسان ډیر وي او ټوله غوښه پخپله وخوري بل چاته ورنکړي نو څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۲۷۴۴ھ)

(ب) د عقیقې غوښه ټول یعني مور پلار نیکه انا ماما مامي اکا ترورې او نور

خوړلای شي او کنه؟ (۲۷۴۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: (الف) دا هم جائز دي (۱)

(ب) خوړلای شي. (۲) فقط

د عقیقې غوښه و دایي ته ورکول ضروري نه ده او کافر ته ورکول جائز دي

سوال: (۳۶۸) د عقیقې غوښه و دایي ته ورکول ضروري ده او کنه؟ او ومشرکه کافره ته ورکولای شو او کنه؟ (۲۹/۷۲۰-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د عقیقې له غوښې څخه و دایي ته ورکول ضروري نه دي لیکن جائز دي د احنافو په نیز د عقیقې د غوښې حکم د قربانۍ د غوښو په شانګه دی و هندو او مشرک ته ورکول جائز دي. هکذا هذا فقط

د عقیقې د څرمنې او سر او پښو حکم

سوال: (۳۶۹) د عقیقې د حیوان څرمن چې سړی خرڅه کړي قیمت یې و مسکینانو ته ورکړي ښه به وي که څرمن او سر او پښې په ځمکه کې ښخ کړي؟ (۳۲/۱۳۶۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د عقیقې څرمن سر او پښې په ځمکه کې ښخول استفاده نه ځني کول نا جائز دي د څرمنې حکم دا دی چې یا خو دي د استعمال شی لکه ګډی او نور جوړ کړي یا دي خرڅ کړي قیمت دي و مسکینانو ته ورکړي او سر او پښې دي پخپله وخوري یا دي بل چا ته ورکړي ضائع کوي دي نه. فقط

د ژباړې پای ته رسیدو نیټه

۱۳ ربیع الثانی ۱۴۳۵هـ بمطابق ۱۴ فروري ۲۰۱۴ء د جمعې ورځ

د دعا محتاج محمد ابراهیم خلیل عفی عنه

کمپوز: حبیب الرحمن "منیب" 0307-7926838

05 :39 pm ، 20/07/2014

---

(۱) فی البدائع: و الافضل ان یتصدق بالثلث و یتخذ الثلث ضیافة لاقربائه و اصدقائه و یدخر الثلث و یستحب ان یاکل منها لو حبس الکل لنفسه جاز (الشامی ۲۳۰/۵ کتاب الاضحیة. ط رشیدیه)

(۲) و انه یستحب الاکل منها و الاطعام و التصدق کما فی الاضحیة فما اشتهر علی السنة العوام ان اصول المولود لا یاکلون منها لا اصل له (اعلاء السنن ۱۱۷/۱۷ کتاب الذبائح باب الفضلة ذبح الشاة فی العقیقة)